Download from:aghalibrary

له پیر روښانه

تر باچا خان پورې

د پښتنو ملي مبارزې ته کتنه

مولف

علي خان محسود

له پیر روښانه

تر باچا خان پورې

د پښتنو ملي مبارزې ته کتنه

Download from:aghalibrary

مولف

علي خان محسود

بسم الله الرحمن الرحيم

کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم :: له پیر روښانه تر باچا خان پورې د پښتو ملي مبارزې ته کتنه.

لیکوال :: علي خان محسود

خطاط :: سید محي الدین هاشمي

شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

بیه :: ٤۰۰ روپۍ

چاپچاري:

د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه

قصه خوانی بازار، پېښور Tel/Fax:091-2564513

E-mail:danish2k2000@yahoo.com

Download from:aghalibrary

فهرست

عنوان	مخ
سریزه (ډاکټر جلال الدین)	لومړے
ځما څو خبرے (دلیکوال سریزه)	دریم
دپښتو لنډ تاریخي پس منظر	۱
زموږ خاوره	۱۷
دمغلو او صفویانو خلاف دپښتنو مشرانو هلې ځلې	۳۳
دروښانیانو او مغلو ترمینځ لومړی جګړه	۴۸
اخوند درویزه څوک ؤ ؟	۵۱
پیر سید علي ترمذي (پیر بابا بونیر) څوک ؤ ؟	۵۴
دمغلو خلاف دایل خان، دریاخان اپریدے او خوشحال خان ختک هلې ځلې	۶۴
میرویس خان هوتکي او صفویان	۸۴
طهماسب قلي خان، نادر افشار یا نادرشاه	۱۰۸

Download from:aghalibrary

عنوان	مخ
د ډیورنډ کرښې خلاف د عمران خان ملا پیونده	۳۲۴
د ملا پاونده هلې ځلې	۳۲۵
د باچا خان زیږیدنه، ماشومولی او تعلیم	۳۴۶
دهغې وخت سیاسي، اقتصادي او معاشرتي حالات	۳۵۱
د باچا خان اولنۍ هلې ځلې او اول ځل قید	۳۶۲
د ریم افغاني پرنګي جنګ	۳۶۹
په جبل سراج باندې شین تنګر	۳۸۱
د خلافت تحریک او باچا خان	۳۸۴
د باچا خان تعلیمي او اصلاحي هلې ځلې	۴۰۵
د باچا خان رهایي، «فخر افغان» لقب او د حج سفر	۴۲۶
پښتو او د پښتون اخبار بنسټ	۴۳۶
د «خدائي خدمګاري» بنسټ کېښودل	۴۵۶
د باچا خان د خدمت مقصدونه	۴۷۷
د باچا خان ملګري	۴۹۳
د باچا خان کفایت شعاری	۵۰۵
د عدم تشدد لارو او د پښتنو مرضونه	۵۲۶
د خدائي خدمګارو او کانګرس کګدکار	۵۴۷
مسلم لیګیان او د سر سید احمد خان	۵۵۷

Download from:aghalibrary

عنوان	مخ
د روسیانو په افغانستان باندې یرغل	۸۷۰
د روسیانو افغانستان ته راتګ په وجه د	۸۹۱
جولائی ۱۹۸۱ کښې حامد میرمنې د باچا خان سره په کابل کښې ملاقات	۸۰۵
د لوی بابا سره آخیري ملاقات	۹۱۷
د لوی بابا په نړۍ تیریدل	۹۲۴
د بی بی سی (B.B.C) تبصره	۹۴۸
د آل انډیا راډیو ماښام په شپږبجې تبصره	۹۵۲
باچا خان د لویو خلکو په نظر کښې	۹۵۵

Download from:aghalibrary

عنوان	مخ
باچاخان او نورهندي مسلمانان مشران	۵۹۱
دهند دساتنې دپاره دپرنګيانو هلوځلو باندې يو نظر	۶۰۵
دهند ويش، دپرنګي سياست، دکانګرس غداري	۶۴۴
حاجي ميرزا علي خان (فقير آيپي)	۶۶۴
په وزيرستان کښې دفقير صاحب خلاف	۶۷۲
پاکستان او دباچاخان قيد	۶۸۸
ون يونټ او باچاخان	۶۹۶
دايوب خان مارشل لاء او دباچاخان جمهوري جدوجهد	۷۱۴
باچاخان په افغانستان کښې	۷۲۳
په ۱۹۷۱ کښې دباچاخان سره زما ملاقات او دسبر کښې	۷۴۸
مئ ۱۹۷۲ کښې د (NAP) صوبائي حکومتونه	۷۶۵
دراولپنډۍ لياقت باغ مرګ ژوبله	۷۷۴
داجمل خټک صيب افغانستان ته تګ	۷۸۲
دپښتون ستوډنټ فيډريشن دبهتو خلاف	۷۸۶
زما او دافرا سياف خټک نيول	۸۱۰
دحيدرآباد سازش دنسيم بي بي هلې ځلې	۸۳۴
افغانستان کښې دباچاخان بيا استوګنه	۸۴۵
دخلقيانو او پرچميانو بزګشي، تره کی او ببرک کارمل	۸۵۹

Download from:aghalibrary

عنوان	مخ
احمد شاه بابا - افغانستان جوړيږي	۱۱۳
د پاني پت دريم جنګ	۱۳۵
د مرهټي مشر له خوا د روڼي جوړې پيشکش	۱۴۲
د درانيانو فوجي جوړښت	۱۴۵
د نوي کندهار د تاداؤ ايښودل	۱۵۸
په پنجاب کښې د سکهانو فسادونه	۱۶۱
د احمد شاه بابا خوځښت	۱۷۹
تيمور شاه او د افغاني شهزدګانو کورڼي جګړې	۱۸۴
شاه زمان	۱۸۸
شاه محمود، شاه شجاع، سکهان	۲۰۲
سکهان او احمد شاه شهيد بريلوي	۲۱۳
سيد احمد شاه شهيد بريلوي	۲۱۹
د سکهانو او پرنګيانو جګړې او لاندې پښتانه	۲۴۸
د امير دوست محمد خان بيا امارت	۲۵۲
د امير شير علي خان وخت او دويم پرنګي افغاني جنګ	۲۶۰
د ميوند جنګ يا غزا او شهزاده ايوب خان غازي	۲۸۲
د ۱۸۴۹ نه تر ۱۸۹۰ پورې د کوزې پښتو نخوا حالات	۳۰۲
د ديورنډ کرښه او پښتنو مشرانو هلې ځلې	۳۱۰

Download from:aghalibrary

ډاکټر جلال الدین
اسلامیه کالج پېښور

سریزه

دهرلیکوال دپاره دغه ګرانه وي چې سریزه دکوم ځای نه شروع کړي. دغسې زه هم حق حیران یم چې سریزه دکوم ځای نه شروع کړم. خوبیا هم دیو ځای نه شروع کول پکار دی. زه دسریزې ابتدا دلیکوال دژوند دیوې لنډې قیصې نه کوم:

دکتاب «دپښتنو تاریخ له بایزید روښانه تر باچاخانه» د لیکوال تعلق د منځنۍ پښتونخوا قطبي وزیرستان دپښتونو محسود قبیلې سره دے. دوی دمئ دمیاشتې په لسمه نیټه کال ۱۹۴۹م کښې دقطبي وزیرستان په شاهور تنګي کلي کښې زیږیدلے دے، دوئ خپل ابتدائي سبق دکلي دپرائمري اولسم جماعت دګورنمنټ هائي سکول ټانک نه پاس کړے دے. څوارلسم جماعت یې دګورنمنټ کالج ډیره اسماعیل خان نه کړیدے. بیا ورستوئ دسیاسیاتو په څانګه پېښور پوهنتون کښې داخله واخیسته په کال ۱۹۷۲م کښې ئې په سیاسیاتو کښې شپاړسم اوکړو، او بیا سمدستي په خیبرلاء کالج کښې داخل شو. په کال ۱۹۷۵م کښې یې دلاء کالج نه ایل ایل.بي اوکړه. دابتدا نه دپښتونخوا په سیاسي هلوځلو کښې یوځلنده مقام لري.

دښاغلي د لیکلو په هکله به دا ووایو چې په وینا او لیکلو دواړو کښې یو رفتار لري دوی په ر و مبی کتاب «جرمنیان بیا یوشول» باندې ډېره زیاته خواري کړې ده، اولوستونکو ته یې هغه کتاب وړاندې کړے دے چې ډېر ښه ښه لیکوالې نه شي کولے. دغسې په دې دویم کتاب «دپښتنو تاریخ له بایزید روښانه تر باچاخان» کښې دوئ دپښتنو په تاریخ ډېر په یو زړه را ښکونکي انداز کښې را ځنګښې کړي دی. دپښتنو په تاریخ کتابونه لیکلی شوي دي، خو دغه کتاب د تیر شویو کتابونو نه ډېر مختلف دے او هغه معلومات پکښې موجود دي چې په ځنګښینو کښې نشته. زه د لیکوال سره ډېر نژدې پېژندګے یم، ما ډېر څه د هغوی نه زده کړي دي. د لیکوال د سواغ او فکر د ډوبوالي اندازه هغوی سره د ناسټې نه لګي.

زه د لیکوال په یوارخ د دې احسان مندیم چې هغوی د سرېزې دلیکلو دغه سهره ځاغاړې ته را واچوله او بل ارخ ته د دې احسان مندیم چې هغوی لوستونکو ته د علم نه ډک او خوندور لیکونه وړاندې کوي. په اخر کښې د لاندینو شعرونو سره خپله سرېزه سرته رسوم:

خاوندې ته و دانه کړې زمونږ دیووالي حجره
یوځای پکښې دځانه کړې دپښتنو ډله خوره
یوزړه یوسایوشاګ کړې دې بیل اوبیل پښتون لره
دیو وجود په شان کړې یا خدایه دا زړه زړه
په مونږ لار اسانه کړې
چې مونږ یوسو کل سره

ځما خو خبرې

(سریزه)

که څه هم د دې کتاب نوم د پیر روښان نه تر باچاخان پورې دے مګر حقیقت کښې دغه نور تش سرپګې یعنې سرسري یاد شوي دي، د دې زیار ژوره برخه باچاخان دے. دغه نور هم په دې خیال ورسره مل کړي دي، چې لږ تر لږ دپښتون ملت ملي غورځنګونه دعام لوستونکي دپاره د پوهې وړ شي، هغه خاصه طبقه لوستونکي چې د پښتون اولس د ژوند ژواک او تاریخ متعلق ژوره مطالعه لري کیدایشي، د دوئ علمي او معلوماتي تنده په سمه توګه ماته نه کړي، لیکن هغه کسان چې سرسري معلومات لري، د دوئ په پوهه کښې به ربط او پیاوړتیا رامینځ ته کړي. ما دغه ته د (CHRONOLOGY) شکل ځکه ورکړے دے، چې د ۱۵۲۶ نه تر ۲ جنوري ۱۹۸۸ پورې حالاتو باندې یو نظر اچولو موقع په لاس ورشي، او دغه تاریخي تسلسل د دوئ په مغزو کښې تر څه حده پاتې شي، چې دې منځ

کښې پښتون ملت سره څه شوي او وشول، د دې دور - سیاسي، فوجي، او اقتصادي وجوهات څه وو، او زمونږ ناکامۍ او کامیابۍ څه وې ؟

بحثې ملت ځمونږ ه هلې ځلې منظمې د مغلو خلاف د روښاني غورځنګ تر جنګې لاندې پیل شوې وې. لږ وخت دپاره شیر شاه بابا دغه ډیوه په هند کښې بله کړه، مګر روښاني تحریک د مغلو مقابله په اصلي تاتوبي لویه پښتونخوا کښې وکړه، که څه هم دغه غورځنګ اول مذهبي جامه کښې و، مګر وروسته سوچه ملي خوئ یې خپل کړو، دغه غورځنګ نه صرف فوجي او سیاسي هلې ځلې کړي دي، بلکې ثبوت ته رسیدلیو دلا ئیلو په بنسټ اول ملي غورځنګ دے، چې دوئ پښتو ژبې ته شعوري پام وکړو، د - RESISTANCE LARATURE - تا داو یې کښود، دغه اول غورځنګ دے چې پښتو ژبې ته یې لیکلے شکل ورکړو، که څه هم پټه خزانه یادیږي، مګر پټه خزانه روستو هوتکي دور کښې لیکلے شوې ده. شعرونه یې د پخواني وخت پکښې راغونډ شوي دي، خو د اصلي او شلخي شکونو نه د پیرو بنان او ددوئ دمرید انو شاعري او نثري وتلي دي، دحقیقت نه یې څوک هم انکار نه کوي.

د پښتون ټولنه کښې نن هم سوچه " SECULAR "

سیکولر سیاست او هلې ځلې د مخالفت سره مخامخ کیږي، نوځکه ځمونږ ملي مشرانو د پیر روښان نه تر باچا خان پورې دې شي ته شعورې متوجې وو، د بابا د غورځنګ نوم خدائ. خدمتګار په دې پس منظر کښې کتل پکار دي، دا ځکه چې مونږه همیشه د ښمن د دین موبین په نوم جنګولي او غولولي یوو، هم دغه حال د پیر روښان ؤ، چې د پیر بابا او اخوند درویزه د پاره بې دینه او د اسلام نه باغي او مرتد او د ښوي، دین الهی باني اکبر مغل باچا پاک وو، مګر پیر روښان چې سوچه او خالص مسلمان ؤ، د دوئ د پاره ملعون ؤ، دا ځکه چې دلته ربړه حقیقت کښې مذهبي نه وه، بلکې سیاسي وه، نو ځکه دوئ مذهبي جامه کښې سوچه سیاسي ربړه پټه کړه، د خپل ملي مشر او غورځنګ خلاف یې د اسلام په نوم پښتانه بې اتفاقه او بیا سره وجنګول. د مذهب په نوم کافر پرنګي غازي امان الله خان جلا وطنۍ ته اړ کړو، او د باچا خان پسې څه څه درامې د مذهب په نوم ونه شوې.

خوشحال بابا هم د دې نه خلاص نه وو، یوه سوانې، د اخوند درویزه لمسی میانور د شیعه دیوې فرقې تور په لګولی و، چونکه خوشحال بابا د یوې مضبوطې قبیلې رهبر وو، نوځکه مغلو د ده خلاف د مذهب په ځائ د پیسو او منصبو نه کار واخیست. بابا ته یې خپل اولاد او پښتانه په لاس

کښې وينول ، مګر بابا اول جوت پښتون مشر دے . چې پښتو ژبه يې نه صرف ادبي معيار ته ورسوله ، بلکې ژبه يې دښمن خلاف اولځل دپاره ديوې وسلې په طور استعمال کړه.

ميرويس نيکه ته هم دغه د پښتون ملت کمزوري - معلومه وه ، نوځکه يې د صفويانو خلاف دپاڅون نه مخکښې ج وکړو ، دمکې شريفې او مدينې دعالمانو نه يې فتوې اخيستې وه ، داځکه چې ده ته شعوري د پښتون ملت دمذهب په نوم دغولولوکمزوري معلومه وه ، پدې خاطر يې دغه کار کړے وو ، چې څوک دښمن پښتانه راته عين ميدان جنګ کښې د مذهب په نوم تير نه باسي ، چې صفويان مسلمانان دي ، دد وئ خلاف پاڅون غږ شري دے.

دلوئ بابا احمد شاه ابدالي شاعري هم دروحانيت - ترجماني کوي ،

په افغانستان کښې د تره کي ، آمين او ببرک او ورسره دروئ استاذانو روسيانو د ناکامیو بوه غټه وجه دغه وه ، چې دوئ خپل ملت ونه پيژانده ، بې ضرورته يې د دوئ - مذهبي احساسات زخمي کړل ، چې نتيجه يې ځمونږه اوستاسې په مخکښې پرته ده ، چې نه صرف ددوئ دقبرونو درک نه لګي ، بلکې افغانستان په کنډ واله بدل شو ، اوسابق سوويت يونين دړي وړي شو ، دوئ ځان تباه کړو ، او

افغانستان هم ، دا ځکه چې باچاخان افغاني مشرانو ته وئيلي وو، چې د مذهب سره چهير مه کړئ ، د ملت سره تشدد مه کړئ ، حکومت د توپ ، جهاز او ټينګ په زور په افغانانو څوک نه شي کولے ، دغه کار تاسو په مينه او ورورولۍ کولے شئ ، افغان ملت څوک په زور جنت ته نه شي بوتلے ، مګر په رضا او په مينه دوزخ ته ځي .

«داجمل خټک دوينا مطابق دافغاني کمونستي خلقي مشرانو باچاخان ته دغه ځواب ورکړے وو ، چې څوک دا سې خبرې مونږ ته کوي ، هغه مونږه د ديوال ته دراوو ، چارماري کاوو يې» . چې کوم تشدد افغاني او روسي کمیونستانو پيل کړے و ، دوئ په خپله پکښې دوره شول . داسلام نه ګټه افغان ملت نه بلکې امريکې برطانيه او يورپ واخيسته ، افغان ملت دوئ د خپلو ګټو دپاره داسلام په نوم د خپل ازلي دښمن روس خلاف وجنګولو ، چې خپل کار يې په افغاني اسلامي مشرانو وکړو ، بيا په نيمه ګهنټه کښې د ننه د ننه C.I.A او M.I.C اوموساد خفيه جاسوسي ادارو د دوئ نه داره مار ، د هشت ګرد او " Terrorist " جوړ کړل ، تش په نوم اسلامي مشرانو دافغان ملت سره هغه تشدد وکړو ، چې دکابل ښاريان يې د ډاکټر نجيب الله پسې ارماني کړل ، دوئ

هم دکمیونستانو غوندې خپل ملت ونه پیژانده، تشدد یې وکړو، خپل کلي او ښارونه یې په توپونو اوراکټونو وویشتل، او دکابل بنایسته او تاریخي ښار یې د ځمکې سره سم کړو، هم ددې تشدد وجه وه چې افغان ملت د طالب غورځنګ سره ملګري شول، د اسلام تهیکدارانو نن سبا ژورو کښې شپې کوي.

که د باچا خان فلسفه عدم تشدد باندې عمل وشي، نو ځما یقین دے چې، ځمونږ د ټول مسائل حل کیدای شي.

باید پښتون نوے نسل که هغه پښتون یا قندهارکښې وي، د افغان ملت دیوالي او سمسورتیا دپاره د خپل افغان رور سره د عدم تشدد تر اصولو لاندې چلن وکړي. نن ځمونږه خاوره بیا د "The Great Game" په حلقه کښې راغلې ده، د امریکي او یورپ، چین او هند او نوے روس دعربو ایرانیانو او مرکزي ایشیا د تیلو په چینو بزکشي ښه په توندې سره روانه ده، دغه د راتلونکي پیړۍ د اقتصادي پیاوړتیا دپاره، یو ښسته رول لوبوي، نن په نړۍ کښې درې غټ اقتصادي ZONS جوړ یږي، چې هغه دوالرین-او یورو ذونونه یعنې حلقې دي، د درې واړو، سترګې په تیل اوګیس دي، ځمونږ خاوره هم دلته پرته ده، باید لرا و بر افغانان او په خاص توګه سیاسي اوحکومتي -

مشران اوکوندونه په دې لویه لوبه کښې ویده اوغافله نشي،
باید دکور دننه دیوبل سره مینه او رورولي، دښمن دپاره اتفاق
جرګه، اوصلاح مشوره وي، دغه یویشته پیړۍ دتیکنالوجي
اومعلوماتو پیړۍ ده. چې څوک ویده شول هغه د
همیشه دپاره لاړل، باید موږ ته خپل ملت داسلامي اصولو
سره سره دنوي زماني تعلیم او تیکنالوجۍ په لاره سم کړو،
اوس جنګ او تجارت دجنګ بدل او جنګ اُحد دوخت نه
ډېر فرق لري، کوم قومونه اویا مذهبي جماعتونه چې په
زړه زانګو زنګیدل غواړي، نه به صرف دوئ دنوې زماني
تیزه اقتصادي او تیکنالوجي او کمپیوټرۍ سیلۍ پورته او
نیست ونابود کړي، بلکې ورسره به افغان لر او بر ملت تباه کړي،
دپښتون کور همیشه دپاره تشدد وران کړي دے.
دغه تشدد باید دعلم تشدد په ذریعه دمنځه لاړ شي،
ترڅو چې لر او بر افغان ملت خپله انرجي بچت کړي، دملي
غربت اوپس ماندګۍ اوبې علمۍ خلاف جهاد وکړي، هر
هغه قوم چې په خپله موږ نه وي، او په جامه پټ نه وي
او دکور اوخوني خاوند نه وي، په حقیقت کښې آزاد نده.
داځکه چې نن سبا غلامي دتیرو پیړیو نه فرق لري، نن سبا
سامراجي نړۍ دعسکرو په ذریعه دچا په هیواد قبضه
نه کوي، نن سبا لارډ صاحب واشنګټن اونیویارک، لندن

برلن، پیرس کښې ناست دے، دخپل اقتصادي قوت په ذریعه د نورو هیوادونو وینې څښې، اوچې وغواړي په لږ وخت کښې دیو هیواد اقتصاد تباکولے شي، بغیر د دې نه چې یو ډز وربانديې وکړي، نن ورلډ بنک او I.M.F دوه غټې ادارې د سامراجي نړۍ په لاس کښې دي، د دې په ذریعه نړۍ په اقتصادي توګه غلامه ساتي، روس نن هم دومره اتیمي بمونه او مزائیل لري چې دغه نړۍ دې ځله پرې تباه کولے شي، مګر دوئ په افغانستان بغیر د دقیقي منصوبې نه ورننوتل، اقتصادي اړخ ته یې خیال نه ؤ، افغاني بزګشۍ کښې یې اقتصادي ملا داسې ماته شوه، چې د مغرب په لنګر کښې اوس وګوړ په تیټې سترګې خوري.

دغه دهغې تشدد نتیجه ده چې دوئ د غریب افغان اولس سره وکړه، چې نن درویزه ته سیخ شول.

نو د باچاخان عدم تشدد بنسټي مقصد دغه وو، چې داسې افغان وروزي چې ګټه کولے او بیا یې سمبالولے هم شي، په خپله موږ، په جامه پټ او په سر یې چهت وي، تشدد د شوروي اتحاد (سابق سویټ یونین) غوندې هیواد د نظریې سره پوپنا کړو، نو موږ خو یو ورکوټی اوبې اتفاق قوم یو، نو موږ ته خو د ټولو نه ضروري ده، چې د تشدد نه ډډه وکړو، خپلې قومې ګټې ته موخیال وي، نور قومونه

ځمونږ د اسلام سره سوچه مینه نه غلطه فایده اخلي، چې خپل کار په مونږ وکړي، بیا مونږه داسې پرېږدي، لکه تر سبا افغانستان، تر ځمونږ کلي تباه، ښارونه تباه او نهرونه او ویلې پرنګې او هیواد د بارودو ماینونو نه ډک، ټوله نړۍ د مهاجرِ افغانستان دکونډو یتیمانو معیوبینو نه ډکه دهلے.

تر هغه خلک چرته لاړل چې مونږ یې په شا ټپولوچې جهاد وکړئ، پرون مو ولیدل چې امریکې د افغانستان په خوست ولایت باندې راکټونه وویشتل، د سوړ ښامار نه د افغانانو په قربانیو خلاص شول، اوس د شکرئ له پاره مزائیل ولې. مونږ ته پکار دي چې ملت او دین د دواړو حفاظت وکړو، د ملت حفاظت د ټولو نه ضروري دے، داځکه اسلام د انډونشیا نه راواخله تر مراکش پورې خور دے، تش ځمونږه ټهیکه نده. باید دغه نوري هم غم وکړي، پښتانه تر ټولو نه سم مسلمانان دي، خو پښتنو ته د شاباسي په ځای دغه نور عربي او عجمي مسلمانان بدرد وايي، تر یوه افغان ته د مزدورې د پاره شتمن عربي ملکونه ویزه قدرې نه ورکوي، داخر نګې مسلماني ده، باید مونږ ویښ شو، د لوئ بابا په لارروان شو، خپل کور او قوم اول جوړ کړو، کور کښې اتفاق، مینه او ورورولي راولو، دغه تش په نوم اسلامي ورورولي خو

مو ولیده چې دوئ مزې کوي ، دافغانانو په وینه یې بنګلې ـ
جوړې کړې .

راځئ چې په یوه چغه دې مرام ته روان شو :

چې یا یو کیږو ، کنې ورکیږو . په درنوای .

د پښتو لنډ تاریخي پس منظر

د یو قوم تاریخ لیکل ډېر ګران کار دے - دغه کار پوهه او ذریعې غواړي. له دې کبله چې نن سبا د ثابتولو له پاره سوچه او رښتینې تاریخي حوالې پکار دي. په مفروضاتو باندې تاریخ نهٔ جوړېږي، بلکه یو رومان یا قیصه ورته ویلے شي. دیوې علمه قوم تاریخ نورهم مشکل شي، دا ځکه چې دوئ په لیکلې توګه خپل زرغونتوب نه وي خوندي کړے او سینه په سینه له یوې پېړۍ یا یو نسل نه بل ته اوړي. او خاصکر دهغو قومونو تاریخ نورهم مشکل شي چې دوئ لویو لویو لارو او دروکښې آباد وي. چې هغو دروو او لارو باندې مستقل تګ راتګ وي، لکه د پښتونخوا درې او لارې چې د معلوم تاریخ نه د انسانی لږدنی او خوځېدنې لارې پاتې شوے دی،

چونکه هند کښې اقتصادي کشش و ، نو وږي تږي
نسلونه او قومونه زمونږ په لارو هندته تللي دی.
زمونږ دوطن مثال دهغې لګاړ یعنې خوړ دے چې
هر وخت تږ پاني او بهٔ د پاسه نه ښکته په بهېږي
او هر وار د ځان سره نوي کاڼي راوړي او زاړه
پټ کړي. نو د دې خوړ اصلي ټل معلومول ډېره
خواري غواړي. همدغه شان زمونږ په دوو داسې
انسانی سیلابونه راغلي او هندته تللي دي او په مخه
چې څهٔ ورغلي دي د ځانه سره یې وړي دي. مګر
د دروې نه اخوا دیخوا خلک د سیلابونو نه خوندي
پاتې شوي دي.
او بله مسئله زمونږ د تاریخ دغه هم ده چې زمونږ پهٔ
وطن کښې قسماقسم رسم الخطونه راغلي دي او بیاورک
شوي دي. پښتو ضروري نه ده چې نن سبا یې مونږ
لیکو همدغسې پخوانۍ زمانه کښې لیکلې شوې وي. دغه
نن سبا لیکدود خو د اسلام وجه ده. له اسلام نه مخکښې
هندی، سنسکرت، یوناني لیکو او خروشطي لیک و، او
میخي لیک و، نو کیدای شي چې په هغو وختونو کښې پښتنو
په رواجي لیک باندې لیکنې کړې وي او مونږ نه خوندي
وي. مګر مونږ پهٔ داسې لاره کښې پراته یو چې مستقل

د جنګ حالات دے او زمونږ ه ټول سوچ اوکړۀ وړه لښکري شوی دي . د هرڅۀ فیصله زرغواړو - تا ر بیخي بنسټونه لټول صبر او ذرایعي غواړي . په دغه نمونه کارونه پوهنتونونه، اکیډمی او د آثار قدیمه ادارې کولے شي . د بد مرغۍ نه مونږ تر اوسه پورې د خپل پښتون واک لاندې داسې ادارے نه لرو چې دغه کار اوکړي . خو د دې باوجود د پښتنو د اصل متعلق دوے نظریې موجود دي . یوه دعوی کوي چې مونږ ه سامي الاصله اسرایلیان یو. هغه بله وایي چې مونږ آرین یو. ګورو چې دواړه ډلې څۀ وایي .

د پښتنو مشهور تاریخ دان خدای بخښلے قاضي عطا الله خان په خپل کتاب د پښتنو تاریخ جلد اول کښې داسې نقل کوي : « د پښتنو د اصل نسل متعلق مختلف روایتونه دي . مستشرقین یورپ د هغوی اصل نسل متعلق مختلفې رایې لري. او هم په دغه وجه په یوه خاصه فیصله کن نتیجه نه دي رسیدلي . د دې برخلاف د پښتنو خپلو مؤرخینو د بیان کړے دے چې پښتون قوم په اصل کښې د یهود یانو د هغه لسو قبیلو اولاد دے کوم چې بخت نصر په بیت المقدس باندې د حملې کولو په وخت د هغوی د قول مطابق وسط ایشیا ته راغلي،

او د غور پهٔ غرونو کښې آباد ې شوې او څه عربو ته لاړې ، د مکې شریفې په شاوخوا کښې آباد ې شوې. د دې لسو قبیلو د ښکهٔ نوم د مؤرخینو مطابق افغانه وو، او په دې وجه د هغهٔ اولاد د افغان په نوم مشهور شو.

په دوئ کښې بعضې مؤرخین وایي چې دا افغانه د حضرت ابراهیم علیه السلام د بې بې هاجرې په نمسو کښې یو نمسے دے او د حضرت اسمٰعیل علیه السلام د اولاد نه و. مګر بعضې دا وایي چې افغانه د آرمیا زوئ و او آرمیا د طالوت علیه السلام ، چې د بنی اسرائیلو بادشاو... او په قرآن کښې هم په دویمه سیپاره سورهٔ بقره کښې د هغې ذکر شوی دے ، زوئ و.

د ا قبیلې د رسول کریم صلی الله علیه وسلم تر مبعوث کېدو پورې بدستور په خپل زوړ مذهب یهودیت باندې قائمې وې. حضرت خالد (رض) چې یو مشهور صحابي و، هغه هم د دې افغان قبیلې نه کښلے شي.

چنانچه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې هرکله خالد رضی الله عنه مسلمان شو، نو هغه خپلو عزیزانو ته چې د غور په غرونو کښې د قدیم الایام نه آباد وو ، د اسلام قبلولو دعوت ورکړو. ولې دوئ د اسلام قبلولو نه رومبئ یوجرګه د قیس نومې یو پښتون

د مشرق د لاندې د اسلام دین د مطالعې او په هغه باندې د پوهېدلو د پاره د دربار رسالت ته ولېږله.
رسول کریم صلی الله وسلم د دې جرګې ډېر قدر او عزت اوکړو او قیس له یې د «ملک عبد الرشید» خطاب ورکړو. دې ټولې جرګه هم په هغه ځای کښې اسلام قبول کړو او رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوئ ته ډېره دُعا وکړه او یو څو عرب مبلغین یې ورسره د تبلیغ د پاره واستول، او تقریباً په څلوېښت کاله کښې دا ټولې قبیلې مسلمانې شوې.»

کېدای شي چې دغه رښتیا وي، مګر تاریخ ثبوتونه غواړي. آیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حدیثونو کښې دا سې حدیث شته چې د دې جرګې موجودیت پکښې وي، یا په قرآن کریم کښې یې ذکر وي. تر څو پورې چې ما ته معلوم دی دا سې شئ نشته. اوله بله دغور وړ خبره دغه ده چې د اسرائیلی قبیلو شړلو او د رسول خدا د راتګ پورې په وخت تېرشوے دے. دغه د مکې یهودیانو او د غور یهودیانو په مینځ کښې دغه رابطه څرنګه ټوټه وساتل شوه. (۲۰۰۰ ق.م) د حضرت ابراهیم علیه السلام کورنۍ د اور (UR) (عراق د علاقې نه کنعان ته لېږدنه اوکړه چې بیا ئې اولاد مصر ته لاړل، د فرعون غلامان شول. او بیا حضرت موسیٰ علیه السلام (۱۵۰۰ ق م) کې بېرته کنعان ته راوستل.

اسرایلیانو ۱۰۰۰ ق م کې یوه مضبوطه یا د شاهی جوړه کړه، ۹۲۲ ق م کې حضرت سلیمان علیه السلام وفات شو. په ۷۲۲ ق م کښې شمالي اسرائیلی سلطنت د اسیر په قبضه کښې ورغی. د اسور بادشاه زارغون لیکي چې ما ۲۷۲۹۰ وګړې اسرائیلی د سامارییا نه قیدیان بوتلل او د پنځوس جنګی ګاډې مې د اسرائیلو نه قبضه کړل او شاهي فوج ته مې وسپارل. لیکي چې زه سامریا به له اول نه ښه جوړه کړم. او دې کښې به زه هغه خلک آباد وم چې کوم ما مخکښې فتح کړي دي.

په ۵۸۷ ق، م کښې د بابیلون بادشاه بخت نصر د یهودیانو سلطنت درې وړې کړو او د یروشلم ښاریان یې بابیلون ته قیدیان بوتلل. د دوئ شمېر تقریباً دوه لکه و. مګر په ۵۳۹ ق م کښې ایراني بادشاه بابل تباه کړو او اسرائیلیان یې د قید نه آزاد کړل، او دوئ ته یې خپل وطن ته د تګ اجازت ورکړو، یعنی د دوئ صرف ۴۸ کاله غلامی تېره کړه چې دغه ډېر وخت نه دے، چې د دوئ نه دې خپل وطن هېر شوے وے.

ځینې اور (۱۸۳) کښې پاتې شول. د ایران یوګورنر چې نوم یې (SESSBASAR) سیسباسر وو، دوئ ته ډېرې پیسې ورکړې. د بیت المقدس جوړولو

دَپاره یې دېر کومکونه ورسره او کړل . اوس داسې کتل پکار دي چې رسولِ خدا حضرت محمدص، دظهور اودیهودیانو دتباهۍ او شړلو سائیسی وخت معلوم کړو. دوئ پۀ ۵۸۷ ق.م کښې بخت نصر شړلي وو یا یې بندیان کړي وو. په ۵۳۹ ق م کښې د ایران پاچا دوئ د بابیلون د غلامۍ نه آزاد کړل . دوئ خپلې خپل وطن کنعان ته لاړل او ځینې اور (۱۱۲) کښې پاتې شول . په همدې وخت کښې زمونږ مشران وایي چې ځینې یهودي قبیلې غورته لاړې آبادې شوې. رسول خدای حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په ۵۷۰ م کال زیږ بدلے دے د خلوینت کالۍ نه پس وحي پرې راغلې ده، یعنې ۶۱۰ م کال کښې . او په ۶۲۲ م کال کښې یې هجرت کړے دے. او په ۶۳۳ م کال کښې وفات شوے دے ، نو دد ۀ په ژوند کښې دغه جرګه تللې وه یعنې ۶۱۰ م نه ۶۳۲ م په مینځ کښې . ۵۸۷ ق،م نه تر ۶۳۲ م کال پورې ۱۲۱۹ کاله موده تېره شوې وه ، دغه دومره اوږده موده کښې حضرت خالد بن ولید او د قیس په منځ کښې رابطه څرنګې ژوندۍ وه . په بله معنا د مکې یهودیانو او دغور یهودیانو چې (۱۲۱۹) کاله اوږده دیو بل نه درې زره میله لرې اوسېدل څرنګې قایمه پاتې شوه

چې د رسول خدا له ظهور سره حضرت خالد بن ولید ته خپل خپلوان ورياد شول او دوئ ته يې خبر ورکړو . د دې خبرې ثبوت ته رسول ډېر ګران او ډېر آسان کار هم دے .

ګران په دې دے چې مونږ سره هيڅ ليکلی ثبوتونه نشته ، تشې قيصې دي . آسان په دې دے چې مونږ ته يوه لار پاتې ده چې هغه آرکيالوجي ده . چې د دولس سوو کالو د تېرېدو با وجود حضرت خالد بن وليد ته د غور د خپلوانو درک و . نو د دې نه معلومېږي چې د دوئ په مينځ کښې به ډېرې ژوندئ رابطې او تګ راتګ موجود و . او مکې يهوديانو او د غور يهوديانو په مينځ کښې به ضرور ودونه هم شوي وي او تجارت او تخفې به هم د يو بل سره بدل شوي وي . خوريان او ماما کان به وو . د مکې ناوې به ضرور غور ته ګاڼه ، د خوراک لوښي هم راوړي وي . همدغسې به د غور ناوې به د غور مېنګې او کنډالونه هلته وړي وي او که چېرې د غور زمکه وکنډله شي ، همدغسې د مکې يا پروشلم زمکه هم ، نو ېز ضرور به د زړې زمانې د غور لوښي هلته او د دوئ لوښي به په غور کښې مات کو د ړي پراتې وي . او که دا وموندل شول او ۵۸۷ ق م نه ۶۳۲ م پورې وختونو سره يې سموت

وخوړ، نو موږ ته د پښتنو د یهو د یا نو د نسل تیوري theory تر د پړه څنډه پورې حقیقت ته ورسوله. اوکه دَ غور لوښي کو دي او د مکې پروشلم لوښي کو دي دیو بل سره سمون نه خوري، نو دغه theory یا قیصه دَ تاریخ د نقطه نظره سمه نه ده، چې پښتانه اسرائیل النسل دي.

دویمه قیصه قاضي صاحب د نادر افشار او دیوسفزو لیکلې ده. لیکي: «بعضې مؤرخین د پښتنو د یهودي النسل کېدو دا واقعه هم بیا نوي چې څه وخت نادر افشار (شاه ایران) په هندوستان باندې د حملې کولو په غرض پیشاور ته ورسېدو، نو د یوسفزو مشرانو هغه ته د تورات یوه نسخه چې په عبراني ژبه لیکلې شوې وه پیش کړه، او نورهم داسې څیزونه یې ورته ښکاره کړل چې کوم د رومبۍ زمانې یهودیانو په خپلو عبادتونو کښې استعمالول. چنانچه کوم یهودیان چې د نادر افشار په فوځ کښې شامل وو، هغوی دا ټول څیزونه وپېژندل او د هغوی یهودي النسل کېدل یې تسلیم کړل»

دلته قاضي صاحب د څه خاص تاریخي کتابي حواله نه ده ورکړې. ما ته دغه ټوله د هجرې خبره ښکاري، دا ځکه چې نادر افشار خو د تاریخ د نقطه نظره پرون

تېرشوے دے ؛ یعنې ۱۷۳۹م کال کښې پېښور ته را
کوز شوے وو. کېدا ے شي د یوسفزو مشرانو تورات
ورته پیش کړے وي ، خو دغه د پښتنو د خوی خصلت
نه برخلافه خبره ده . دا ځکه چې قبایلي معاشره کښې
کتاب ته څوک اهمیت نه ورکوي او عموماً مېلمه ته
ګډ یا ګډان پیش کوي . او بل تورات خو آسماني
کتاب و ، د دې کتاب سره نسل اووینه هېڅ تعلق نه
لري . د یو مغل په کور کښې قران شریف موندل کېدل
د دې دغه مطلب نه دے چې هغه نسلاً عرب شو.
یو مسلمان کېدا ے شي . او بله د توکې خبره خو دغه ده
چې د یوسفز و مشرانو یوغل ، بد معاش جاهل ترکمن
قلي خان ته تورات پیش کولو او خپل عالم ، لیکوال
او پوه زوم بابر ته یې نه ښکاره کولو چې خپله ترک بابري
کښې لیکلی وای. او بل نادر افشار خو شوکمار وه، هغه په
جواهراتو پسې ګرځېدو ، کتابونه یې څه کول ، او څه د
آثار قدیمه د انګریزانو خو ندو، چې د زړې زمانې انتیکونه
یې ټولول. زما خپل خیال دا سې دے چې د حسن ابدال نه
تر پېښاور پورې به یوسفزو جارتي قافلې لوټلې ، مغلو
به په دوی حملې کولې او ورو سته یې ورته ختک واچول ،
مګر دغه لار د اورنګ زیب په آخیري وختونو کښې ګډوډه

وه ، خو چې په ۱۷۰۷م کال اورنګزیب مړشو، نو د مغلو بادشاهۍ آخرۍ سلګۍ وهلې . ماته داسې معلومېږي چې هغه وختونو کښې د کابل- بخارا- مشهد او دهلي او پېښاور کښې کاروباري یهودیان وو . دوئ خپلې تجارتي قافلې د بخارا نه دتر دهلي پورې بوتلې. په همدې قافلو کښې به مذهبي یهودیان هم وو، چې توراة او نور مذهبي شیان به په سفر کښې ورسره وو، داسې معلومېږي چې د اټک اوچچ په مینځ کښې یوسفزو دغه قافله لوټلې ده. دغه چې توراة بندلی په سور و، دغه کچرهم د یوسفزو په لاس ورغلې ده نو دوئ چې واپس راغلي دي ، نوکېدای شي دغو یوسفزو غلو دکتاب (توراة) خپل دکلي خان ته ورکړې وي او په دې شپو ورځو کښې نادرهم راغلے وي ، نو د هغه بادشاه ته ورکړے وي. کښې بله منطقي لار ماته نشي لیدے.

اول داچې د دوئ په قول ۶۳۲م کښې ټول پښتانه مسلمانان شول. اوبل ۱۷۳۹م کال پورې توراة دځان سره ساتې او یوجاهل اوغل بادشاه تې چې د دې په قدر نه پوهېږي ، پیشن کوي دغه راته افسانه ښکاري.

دویمه ډله دعوئ کوي چې پښتانه آرین دي

دي ، قاضي صاحب دغه نظر دا سي نقل کوي : " دَپښتنو دا صل نسل متعلق یوه بله نظریه د افغانستان مشهور تاریخ نویس احمدعلی کهزاد پهٔ خپل تاریخ (تاریخ افغانستان جلد اول) کښې رابنکاره کړې ده، چې پښتانهٔ په حقیقت کښې د آریا نسل یوه قبیله ده ، چې تقریباً شپږ اوه زره کاله د مسیح د پیدائیش نه ړومبئ اول خو د خپل اصلي وطن (وسط ایشیا) نه باختر ته چې ، د دریاي آمو او سردریاب په مینځ کښې پوله یا علاقه ده ، راکوز شول . او د زرګونو کلونو استوګنې نه پس هغوئ بیا دهغې علاقې نه نولس سوه یا دوه زره کاله قبم د موجوده افغانستان - فارس او دره سند لوري ته په ټولو ټولو کښې په ډېره موده کښې وړو وړو خوریدل ، دې علاقې ته یې (آریانا) (ریګ ویدا) ایریانه ویجه (اوستا) ویل .

د آثار قدیمه ټول عالمان د ورو ستني یو نیم سل کاله تحقیقات نه پس پهٔ دې خبر، متفق شوي دي چې هم دَ دې {باختری آریا} نسل به ښاي د باختر نه د قبلې په طرف اول اول په قطبي یورپ کښې سکنډے نیویا ، سویډن، ناروے فن لینډ ، جرمني، د ډینیوب سند په دره کښې د بحیره اسود په قطبي علاقه ، په جنوبي روس او سایبریا کښې آباد شوي دي-او د نن ورځې د یورپ قومونو په اصطلاح

کښې [اینډو یورپین] په نوم بللے شي .

د یورپ مدققین او محققین وایي چې دې کښې هیڅ شک نشته چې (آریا) نسل عموماً د هندوستان نه چې واخلې نو عین تر مغربي یورپ پورې، په دې ټولو وطنونو کښې (ما سیوا د مشرق اوسطیٰ او عربستان نه چې په هغه علاقه کې د سامي نسل خلق اوسېږي) خوارۀ شوي دي . او که څه هم د دې نسل بېل بېل قومونه اوس بېلې بېلې ژبې وایي ، ولې په حقیقت کښې که چېرې د دې مختلفو ژبو په ژور والي سره مطالعه او کړے شي نو سړے په دې نتیجه رسیدے شي چې دا ټولې ژبې یو تر بله مشابهت لري . دا مدققین رائے لري چې دا ټولې مختلفې ژبې چې په (انډو یورپین) قومونو کښې ویلے شي د (سانسکرټ) یا د (زند) ژبې نه راوتې دي . د دې نه ثابتېږي چې همدغه دوه ژبې دي چې آریا نسل په خپل وطن یعنې باختر کښې ویلے شوې »

د دې نظریې تائید مرحوم پوهاند (پروفیسر) حبیبي صاحب هم کوي او افغاني ټول عالمان وایي چې پښتانه سامي نه دي، بلکه آرین دي ، داځکه چې پښتو ژبه آریایي ژبه ده . د یورپ او خاصکر جرمني عالمان پښتانۀ آریا نسل ګڼي. یوه بله وجه د آریا دا هم کېدے شي چې په ننني وخت کښې

آریایي یورپي قومونه ترقي یافته دي ، نو دوئ د مال دولت اوعلم په ذریعه ډېر ژور تحقیقات اوکړل او په دې ټول یوه خوله دي چې د آریا زوړ ټا ټوبے باختروئ چې دوی ډېر شول ، نو ځینې دکوملې، خیبر ،کرمې او بولان په لاره هندته لاړل. او د مقامي دراوړخلک یې جنوب دهندته وشړل. اوځینې د ایشایي کوچک په لاره یورپ ته لاړل اوځینې مورني وطن کښې پاتې شول ، چې نن-سبا پښتانهٔ، تاجک ،بلوچ پاتې دي . هزاره-ترکمن ازبک دغه اریا نه دي، بلکه دغه ترک یا مغل نسل دی .
د آریا د نظریې طرفدار مشهور تاریخ دان ظفرشاه کاکاخیل هم دے. مګر پښتنو کښې د اسې عالمان هم شته چې هغه دا نهٔ مني چې پښتانهٔ آرین دي . حقیقت دغه دے چې د یهودی نظریه زړه او د آریانسل نظریه نوې ده . مګرتاریخ ثبوتونه غواړي . زړې اونوې ته نه ګوري . د آریا نسل تحقیق په علمي اوساینټفیک طریقې سره شوے دے . او د یهودی نسل نظریه زیاته په روایاتو باندې ولاړه ده. دغه حقیقت دی چې زمونږ ژبه آرین ده . دغه هم کېدے شي چې پښتنو به آریایي ژبه پښتو زده کړې وي ، لکه نن سبا د افریقې په ټول په امریکه کښې مورنۍ ژبه انګریزی ده ، چې دغه یوه آریایي ژبه ده . د دې مطلب دغه نه شو

چې تود امریکایان آرین شول . دغه هم حقیقت دے چې
کومې درې او سیندونه په ویدي سندرو کښې یاد شوي
دي ، زمونږ په وطن کښې دي ، مګر دغه هم یو سند
نهٔ دے . دا ځکه چې د پاکستان د جوړېدو نه مخکښې ډېر
هندوان ، وکیلان او دکانداران په پېښور کښې او سېدل
نن دهغوئ کورونو او بالاخانو کښې پښتانهٔ آباد دي ،
د دې مطلب دغه نهٔ دے چې ننني پښتون وکیل دپرونې
پېړے لال په بالاخانه کښې ناست دے ، دپېړے لال
وارث یا خپلوان شو. په هم دغه شان د آریا په وطن کښې
مونږ ه اوسو چې مونږ به آرین شو. مګر بیا هم د سامي
نسل نه زیات آریا نسل د عوه کوونکي عالمانو تله، د
تاریخي - علاقایي او ژبني دلایلونو په ذریعه درنه
ده. دا ځکه چې زړه تاریخ دانانو په یو شکل یا بل
شکل د پښتون قبیلې نوم اخیستے دے. ژبه مو
آرین ده، علاقه مو آرین ده . حقیقت دغه دے
چې مونږ پښتانهٔ یو، ژبه مو پښتو ده. دغه نن
چې څهٔ یو د دې د شته کولو کوشش پکار دے. نن
سبا سوچه نسل یا ذات یوځای هم نشته . دغه
ممکن دے زمونږ ه خاوره کښې د دې انساني سیلابونو
نښې نښانې پاتې وي ، دا ځکه چې محسود وکښې داسې

هندوان دوکانداران وو چې دوی اسلام قبول کړو ،
نن سبا دغه کورنۍ په شیخانو مشهور دی ، اوس د
د محسود و برخه جوړ شوې دي .
زما والد صاحب دوئ پېژني ، د دوئ نیکۀ هندو
مړ شوے و . نن سبا خوئ بوئ نه د دوئ او محسود
فرق نۀ شي کېدا ے . هغوئ نمونه مېلمه پال اوښاغلی
دي ، لکه دغه نور محسود . نو دغه شان زمونږ د
پښتنو سره دغسې لوبه کېدا ے شي ، خو اکثریت اقلیت
خوري ، نو د وخت په تېرېدو سره دغه نور خلک پښتانۀ
شوي وي .

[۲]
زمونږ خاوره

زمونږ د خاورې نن سبا واضح پولې دغه دي: د مرکزي ایشیا (تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان) سره د آمو سیند او د پامیر غرونه دي. د هرات، فراه او قندهار صوبې د ایران سره په برید پټه ده. د واخان او چترال په لاره د چیني مسلمان سیکیاک سره لګیدلي یو، د مشرق اړخ ته د پنجاب خاوره ده، جنوب کښې د بلوچو سره پوله ده. د مارګلې نه تر چارسدې، پېښور، ننګرهار کابل، کاپیسا، بامیان، بلخ پورې علاقه په بودایي دور کښې د لوئ تهذیب مرکز و او د کندهاري تهذیب په نوم پېژندلے شوے دے، چې په کندهارا آرټ مشهور دے. زمونږ ه دغه خاوره د هند په دروازه کښې پرته ده. د هند د پوال او دروازې زمونږ ه غرونه او درې دي. چې چا هم زمونږ زور مات کړے دے بیا هند ته نیغ رسیدلے دے. داګکه چې زمونږ د وطنه ښکته د هند قدرتي دفاعي کمربند نشته

تر پورې قومونو نه مخکښې تولې حملې په هند باندې شمال مغرب نه شوې دي. يو اړخ ته قدرتي دفاعي هماليه دېوال دے - بل اړخ د سمندر سره دے او بل اړخ ته يې د ايران او بلوچستان ريګستاني زمکه ده، چې هيڅ اقتصادي کشش هم نه لري.. همدغه وجه وه چې د هند د نيولو يوه لار وه، چې هغه زمونږ خاوره وه.

دې خاوره باندې رنګ په رنګ تهذيبونه، قومونه، نسلونه او حکومتونه تېر شوي دي. په دې درو اوغړو کښې د آريا سندرې اوريدلے شوې دي. د هُن د اسپو دکې پار، خيبر، کُرم او کومل شاهدې دي. دلته شاهپور ايراني نوکر شاهي پالتې شوې ده او ساسانې د بدبه يې ليدلې ده. دې خاوره کښې ډېرې تهذيبي خزانې پرتې دي.

زمونږ ه په خاوره بلخ کښې حضرت زرتشتره زېږېدلے دے چې پارسي مذهب ترنن پورې موجود دے، که څه هم تعداد کښې لږ وي. د دې پېغمبر د تبليغ په وجه ايران د ترقۍ لوړې پوړه ته ختلے و. او بل بدهبت زمونږ ه په خاوره باندې د عدم تشدد دين د حضرت ګوتهم بدهه د ظهور سره خور شو، چې د دې مذهب ديني اثرات نن هم کاپيسا، ټيکسلا، پښاور، چارسده، تخت بهائي

اړه (جلال آباد) او سوات کښې لیدل کېږي، اولوئ مرکز یې بامیان ، خو هډو دپټولو او ورکولو نه دے. دې مذهب یعنې دین منونکیو زمونږ خاورې نه دعلم ، تهذیب او انسانیت مرکز جوړ کړو . هم دَدوئ په برکت دغه دین چین ، منګولیا، مرکزي ایشیا ، تیبت او د ټول مشرق بعید هېواد ونو قبول کړو ، چې تر نن ورځې پورې پکښې ژوندے دے . بیا دغه دعدمِ تشدد دین ، دمینې او انسانیت نه ډک مذهب د خود سرو اولیوانو تشدد پسند هندي بومبرانو د لاسه تباه شو اوچې څه لږ پاتې و، هغه مرکزي ایشیا او افغانستان کښې اسلامي سیلاب په وجه تباه شو. چونکه اسلام د بت پرستۍ خلاف مذهب و، نو ځکه د بدهـ د مذهب قیمتي بُتان اوعبادت خانې مولاکانو وسوزولې . دو مره مذهبي لیونتوب وچې حد یې نۀ و. هغه وخت خو پر بږده ، پرون د جلال آباد دا ډې اثرات مولیٰ کانو مات رامات کړل ، چې دغه زمونږه ثقافتي میراث دغو لیونو خراب تراب کړو، او دیورپ په سوداګرو یې خپل اثرات دپیسې په خاطر خرڅ کړل ، نو دهغو اسلامي لښکرو نه به څۀ ګیله او کړې چې دوئ اول سرکښې زمونږ خاورې ته راننوتې وو. مولاچې نه تعمیري کارنۀ شی کولے ،چې کوم وطن یاهېواد کښې مذهبي جنون وي هغه هېواد اوخلک

هیڅ کله ترقی نۀ شي کولے ؛ دا ځکه چې مذهبي جنون د منطق لاره بنده وي او بغیر منطق نه ترقي نۀ شي کېدلے .

زمونږ خاوره د معلوم تاریخ نه د جنګ او جدل میدان ګرځېدلے دے . دې خاورې قسما قسمه نومه موندلي ده یو وخت یې نوم "آریانا" بیا "باختر" ، بیا "خراسان" بیا "پښتونخوا" او نن سبا "افغانستان" او مقبوظه "افغانستان" دے (یعنی کوزه پښتونخوا)

د مقدونیه سکندر اعظم نه یې را واخله (۳۲۳-۳۳۲ ق م) تر پرون روسي یلغار (دسمبر ۱۹۷۹ء) پورې ډېرولو بغاوې ، خپلې جنګي لوبې زمونږ په خاوره کړې دي ، خو څوک هم په دې کامیاب شوي نۀ دي چې د دې خاورې او سېدونکي (پښتانۀ) ورک کړي . نن نه سا سانی ایرانی شته ، نه سکندر اعظم یونانی - او هن چنګیز ، مغل او صفوی ، پرنګی او روسی شته . دوی وار په وار زمونږ خاوره اولس د خپلې توري او نېزې ، توپې ، جهاز ، میزائیلو - نشان جوړ کړے دے . مګر دوی نن ورک دي - مونږ په خپل ټا ټوبې باندې آباد یو .

د سکندر اعظم متعلق ډېرې قیصې مشهورې دي . د پښتنو د بهادرۍ او بې اتفاقۍ یوه قیصه دلته لیکم :

وايي چې څه وخت سکندر اعظم د ايران خلاف جنګ شروع کړو ، نو ايراني پوځونو شکست پسې شکست خوړلو. په هغو وختونوکښې زمونږ خاوره د ايراني سلطنت برخه وه ، چې څۀ وخت سکندر زمونږ خاورې ته راغے ، نو د سختې مقابلې سره مخامخ شو . د لته اول ځل د پاره زخمي شو . پښتنو قبائلو نه هغه مخکښې هند ته پرېښود او نه روستو يونان ته . تقريبًا دوه دونيم کاله د غه کبډې روانه وه . دده مور ډېره سياست دانه ښځه وه . دې سکندر ته قاصد راولېږلو چې څۀ چل دے، چې ټول فارس دې ونيولو، دلته يوکوټ کښې ښکېل يې . قيصه کېږي چې د ه مورته خط وليکلو چې داسې نمونه خلقو سره مخامخ يم چې دورځې او دشپې مو په آرام نه پرېږدي . د ورځې غوندې دې نيول يې مشکل دي . وايي چې مور يې بيل قاصد ورولېږلو ، د سکندر اعظم نه يې پښتانه قيديان غوښتي وو، چې مونږه د دوئ د نفسيانو او عادتونو د يوناني عالمانو په ذريعه مطالعه اوکړو، چې د غه کومه نمونه مخلوق دے.

په هغه زمانه کښې يونان ډېر رسېدلے ملک و ، د عالمانو او فلاسفه ؤ ته ډک و . وايي چې سکندر ورته شپږ کسه پښتانۀ قيديان واستول. يو نانيانو ورته

یو ه وړه خاصه کوټه جوړه کړې وه، چې هغې کښې شپږ غارونه یعنې تاکوونه وو، چې هر تاک کښې (پړغار کښې) به یو عالم ناست وه، د دوئ ټولو د ناستو پاستو، خبرو اترو او حرکتونو مطالعه یې کوله. د دې تاکوونه داسې جوړ وو چې دوی نه لیدل چې څوک به یې څرکنی کوی.

قیصه کیږی چې یونانی عالمانو به هره ورځ د سکندر مورته دهغې ورځې رپوټونه ورکول. یوه ورځ عالمانو جرګه وکړه چې نن شپه د دوئ اتفاق ګورو چې دې خلق کښې څومره اتفاق دے.

قیصه کیږي چې دوئ ته یې یو پلنګ راوړو. ترجمان ورته وویل په تاسو کښې چې څوک مشر وي هغه به پکښې ویدهٔ شي. دوئ ورته وویل چې ډېره ښه ده. چې د خوب وخت راغلے دے، اول یو پښتون پلنګ ته ورختلے دے، چې زه مشریم، هغهٔ پسې بل ورپورته شوے دے د پلنګ نه یې راګوزار کړے دے چې ستا پلار مشر وو څه؟ دغه شان د دوئ په دې اتفاق را نغلو چې څوک د پلنګ حقدار دے په دے پلان یعنې جګړه جهګړه کښې یې پلنګ مات کړو، خو د دوئ مشر معلوم نهٔ شو.

صبا چې د سکندر مورته لاړل د ټولو عالمانو په اتفاق سره دغه فیصله وه چې دغه خلک ډېر خودسره دي

هر یو ځان مشر اولیدر کښې . له دوئ نه دخلاصیدو یوه لاره شته هغه دغه ده چې سکندر د دوئ جرګه راوغواړي د ټولو سره دې داسې سلوک وشي چې چا ته ځان تیت محسوس نه شي .

قیصه کښې چې سکندر په دې عمل اوکړو، د پښتنو جرګه یې راوغوښته ، دوئ سره یې د برابرۍ په اصول عمل اوکړو روغه وشوه ، سکندر اعظم بیا سکینې نومې پښتنې پېغلې سره واده هم اوکړو. همدغه شان یو نانیانو د پښتنو، نه نه صرف ځان خلاص کړو، بلکه ورسره لښکر شول ، راجه پورس یې ورته وړ باولو .

یوه بله قیصه کښې وائي چې نه پلنګ ندو، یونانیانو د پښتونخوا نه څه اندازه خاوره راوړې وه ، نو عالمانو دغه تهمت کولو چې قصور پښتنو کښې دے اوکه د دوئ په خاوره کښې . نو بهر په دوی سره ډېر خوابدۀ وو، خو یوه ورځ عالمانو دغه د پښتونخوا نه راوړې خاوره د دوئ په کوټه کښې وشیند له ، چې څه رنګې دوئ کوټې ته داخل شوي وو یو دبل سره په جنګ شوي وو .

که پالنګ وو او که خاوره ، خو تر من ورځې پورې مونږ د خود سرۍ او بې اتفاقۍ د مرض نه خلاص نشو .

بله یوه درد ناکه قیصه د چنګیز خان متعلق مشهوره ده .

هغه داسې چې چنګیزخان د پښتنو په کلیو حمله کړې وه .
مغل ډېر ظالمان وو . پښتنو د مغلو سخته مقابله وکړه ، مګر
مغلي سیلاب ته ټینګ نه شول . دَ دوئ بال و بچ غرو او درو
کښې خوندي شوے وو ، خو مغلي جاسوسانو معلوم کړې وو.
چنګیزخان مغلي لښکر ته حکم ورکړو چې دوئ قتل کړي .
مغلي سوارو د پښتنو سنګوا و ماشومانو قتل عام شروع
کړو . هیڅوک یې ژوندي پرېے نښودل . چې فوج واپس
شوے و ، نو د شپې چنګیزخان د عسکرونه تپوسونه کول ، چې
د چا په چا رحم راغلے دے . وایې چې یو مغل سپاهي ورته
وویل ، چې هو خان صاحب زما راغلے دے . خان ورته وویل
چې هغه څهٔ رنګے ؟ مغل سپاهي ورته قیصه شروع کړه ، چې
نن موږ ته د افغانانو سنګار کولو ، نو یو ځائ کښې سنګه مړه
کړاے شوې وه ، مګر ماشوم ژوندے و . د مور په تیوسنو
باندې یې خوله تپوله ، دَ رودلو کوشش یې کولو ، ما یې
تماشه کوله . بیا مې د نېزې په سر د ماشوم خولهٔ د تیې
نه لرې کړه . ماشوم د نېزې سر په خوله کښې ونیوه ، چې شاید
د غه پیړ راکړي . د څه وخت د پاره ماشوم نېزه اورودله .
بیا ما په نېزه زور وکړلو ، د ماشوم سرمې وچوخړ اولو . په
دې مې لږ ترس راغلو .
وایې چې چنګیز خان سخت پهٔ غوسه شوه او مغل سپاهي ته

ته یې وویل چې ته ډېر نرم زړه یې. ته مغل نشې کېدای
چې د پښتون ماشوم په دې نمونه مرګ باندې د ستا زړه
رحم کړه و. سپاهي یې هم هلته قتل کړو.

زمونږ خاورې او هېواد د زمانې ډېرې سړې تودې لیدلې
دي. که چرې خیبر، کرمې او ګومل خبرې کولای شوې
نو دوی به څه څه نه ویل.

زمونږ خاورې دې مشهورو مذهبونو ته په خپله سینه
کښې ځای ورکړے دے. چې اول آتش پرست و. دویم
بدهپرست و، او ورپسې اسلام چې تر نن پورې موجود وو. زمونږ
په خاورې سپین هن "speen Han" یونانیان، کوشانیان، ایرانیان،
عرب، ترک، مغل، صفویان، پرنګیان وروسیان او نور سلګونه
او قومونه تلي راغلي دی. د اسلام نه مخکښې د کوشانیانو د
زوال نه پس زمونږ وطن په تاریخی لحاظ په تیاره کښې پاتې
شوے دے. چې څه وخت اسلام راغے نو اول سر کښې د عربو
غالبه وه، مګر په ژباني توګه د دوئ مونږ عرب نه کړاے شو.
لکه څرنګه د دوئ مصر، شام او د افریقې د خلکو ژبه ورکه
کړه او په فوجي توګه هم د دوئ ډېر مېړني نه وو. مګر مذهب
زمونږ د بدهه نه اسلام شو، چې تر نن ورځې پورې پرمونږ
باندې د سا هي مذهب غلبه ده. اسلام مونږ تش سرسرے
منلے دے، چې کوم ځای کښې پښتونوالے او اسلام تضاد

راځي ، نو اسلام دپښتونوالي مقابله نشي کولے . اوخاصکر اقتصادي مسايلو کښې پښتون دسره اسلام نه مني ، په خولۀ اسلام- اسلام کوي ، مګر عمل کښې د اسلام بيخ او باسي .
پښتون مونځ ، روژه اوغزا دَ ټولو مسلمانانو نه سبه کوي ، دا ځکه چې مونځ او روژه باندې څۀ پيسې نه خرڅ کيږي ، مګر په کوم ځای چې اسلام دپښتون نه د اقتصادي قربانۍ غوښتنه کړې ده ، لکه زکواة ، سرسايه اوخور لور ته حق ، دلته بيا پښتون پوند شي . غزا ځکه کوي چې غزا کښې پيسې دي ، مالِ غنيمت دے . ډېر خلک وايي چې اسلام پښتنو په جمع منلے دے او پښتانۀ ټول مسلمانان دي . زما خيال دے چې د اسلام او پښتنو ډېرخويونه سره نږدې دي . اسلام يو قبائيلي مذهب دے ، سيده ساده دعام سړي ورته عقل رسي . او بل پښتنو به د اسلام نه ځکښې هم شوکې کولې . کېدا ے شي چې د بدهه مذهب کښې غزا کانې نۀ وې ، عربو قبائيلو هم لوټ مار کولو ، اسلام ورله دغه لوټ مار اسلامي کړو او د مال غنيمت نوم يې ورکړو . نو پښتنو خيال اوکړو چې دغه نو ډېر ښه مذهب دے . مونږ هسې هم لوټ مار کاوو ، چې صرف مسلمان شئ نو دغه لوټ مار دغزا نوم لاندې جاري سانل پکار دي . چې کاميياب شې نو غازي او د مالِ غنيمت خاوند شوے او که مړ شوے ، نو شهيد شوې

همدغه وجه ماته ښکاري چې په جمع اسلام قبول کړو. او بل په اودس، روژې او مونځ باندې خو يې خرڅ نه کېدو، نو دوئ خيال اوکړو چې مونږ خو جذبه عربو ته ورکوو، ښه به داوي چې مسلمانان شوو، زکواة او سرسايه خو د خدائ کار دے - که څه بې پرهيزې او شيخم نو خدائ مهربان دے. تر نن ورځې پورې پښتون خپل خپلوان په دې نه دے مړ کړے چې د رواغ وايي، غله کوي يا زکواة نه ورکوي، يا د خور لور حق خوري. مګر اقتصادي مسئله يې چې راشي د خپل مورنۍ ورور د مرګ نه سترګه نه کوي. او بل په پښتنو کښې د جرګې سيستم و، همدغه سيستم په عرب قبائيلو کښې هم و. رسولِ خدا ستوري ورته اسلامي کړه. همدغسې زمونږ جرګه ومنلے شوه، خو پښتون اسلام صرف هلته مني چې اقتصادي تاوان ورته نه وي يا د پښتونوالي سره په ټکر کښې نه راځي. چې څه وخت رياست دير په ۱۹٦۹ء کښې پاکستان کښې ورکړ کړاے شو د سياسي ګوند ونو اجازت ورکړے شو، نو تاريخ کښې د غه اول ځل و چې دير والو د ووټ حق واخيستو، نو خلکو کښې ډېر شوق و، نوے شئ و، نو ډېر خلک په جماعت اسلامي کښې شامل شول. زمونږ د پښتنو مشر جناب خان عبدالولي خان به ويل چې ما ديو بوډا سړي نه پوښتل

په لاس جنګ وکړو، د جنرال رابرټ فوج دومره وارخطاء شو چې دوئ نه صرف ماتې وخوړله، بلکې افغاني مجاهدینو نه په منډه شول، روستو جنرال محمد جان وردګ وروپسې ؤ، جنرال رابرټ ځینې په منډه د (SHERPOOR) چهاونۍ ته ننوتو، او پناه یې واخیسته ددی واقع نه د تیلی ګراف په ذریعه هندي حکومت خبر کړاے شو، چې کابل کښې دغه حال دے، نو واشرائ فوراً د قندهار نه جنرال (stewart) تر او د جلال اباد نه نورو قوجونو ته حکم ورکړاے شو، چې د جنرال رابرټ کمک ته فوراً ورسي، پرنګ فوج په شیرپور چهاونۍ کښې قلعه بند ؤ، او افغاني مجاهدینو قلعه بند کړي او محاصره کړي وو او نږدې وه چې د دوئ هغه حشر شوے وائ چې کم جنوري ۱۸۴۲ د جنرال الفنسټن د فوج شوي وو، مګر دوئ د قتل عام نه بچ کړاے شول، د قندهار نه جنرال (stewart) او د جلال اباد نه برطانوي فوج راغئ، دوئ یې بچ کړل، ټول افغانستان ورته سور اور شوے ؤ، نو دوئ کوشش کولو چې ځوک افغاني شهزاده پیدا کړي، او دوئ زر ته زړه د افغانستان نه ووزي، او له منسوبه د پرنګیانو ناکامه شوه، چې افغانستان په وړو وړو امارتونو تقسیم، د دوئ خیال وچې هغه خبرې لاړې، اوس پکار دي چې موږ هند ته روغ لاړ شو، نو د عبدالرحمن خان سره یې رابطه جوړه کړه، هغه دبخارا نه راغئ،

اوکړو چې بابا نورې پارتې خود برې دې نو تاسې ولې
جماعت اسلامي کښې شامل شوي يئ ؟
ولي خان ويل چې بابا راته خواب را کړو چې ځکه پکښې
شامل شوم چې صاحبه هم جماعت دے هم اسلام . نو
زما خيال دغه دے چې پښتون ځکه مسلمان شوے دے چې
هم غزا شوه ، هم مالِ غنيمت ، هم شهادت شته هم غازيتوب
نقصان د سره پکښې نشته.
بيا افغانستان کښې قومونه روبرو د بغدادي خليفه کانو
خلاف را پورته کېدل او مرکزي ايشيا کښې دوی اول دولت
جوړ شو . د عربو زور او اقتدار رو-رو مقامی WARLORDS
خپل کړو. په دې کښې ځنې ترک غلامان وو ، چې دوی وروستو
د پښتنو په زور د غزنوي دولت بنسټ کېښود . چونکه غزني
د پښتنو اصلي ټاټوبی "غور" ته نږدې و ، نو ځکه د غزنوي
دولت فوځي چارو کښې د پښتنو ډېر لاس و. مګر دربار
باندې د ساساني د اسلام نه راتښتېدلي نوکر شاهي قبضه
وه . همدغه وجه وه چې فارسي په موجوده ايران کښې نه
بلکې افغانستان کښې غټه شوه چې "شاهنامه" يې ښه مثال
دے . افغانستان کښې د اسلام واک د عربو په ځای د ترکو
پښتنو او پارسيبانو په لاس ورغے . که څه هم عربو اول
سر کښې د محمد بن قاسم فتح سندهه ذريعه غوښتل

چه هند ته اسلام خور کړي ، مګر دوئ په دې کښې کامیاب نهٔ شول . صرف د هند د سمندر دغاړې غاړې خلک د عربو سمندري سوداګرو په ذریعه د اسلام نه لږ لږ خبر شول مګر د محمود غزنوي تر راتګه پورې اسلام د هند په معاشرتي سیاسي او فوجي ژوند کښې رول نهٔ درلود . ولې په دې چې د غزنۍ سره جخته علاقه کابل ، لوګر ، ننګرهار ګندهارا کښې د پال خاندان حکومت و . دوئ د محمود غزنوي سره ډېر جنګونه کړي دي . خو آخیري او فیصله کن جنګ (۱۰۰۹ع کال) کښې د پښاور جنګ و ، چې راجه جي پال ماتې اوخوړه او بیا محمود غزنوي مشهورې حملې په هند وکړې . هندوان د بې اتفاقۍ په مرض اخته وو ، نو ځکه دوئ ته ټینګ نشول ، مګر با وجود د دې حملو محمود غزنوي اسلام هند ته راکوز نهٔ کړه شو . په وطن کښې د پښتنو فوجي بیوراکراسي او پارسیبانه سول بیوراکراسي په مینځ کښې شک او بې اعتبارۍ وه او پارسي نوکرشاهي په دې بره شوه چې غزنویان په زور پښتانهٔ د دربارنه اوباسي ، چونکه پښتانهٔ غور کښې ورته ناست وو ، دوئ څهٔ نه څهٔ د تجربه حاصله کړې وه ، نو د غور پښتون مشر بابا باندې د داسې سلوک ډېر سخت ردِ عمل اوشو . او نتیجه یې دا شوه چې شهاب الدین محمد غوري د غزنوي دولت لوټه په لوټه پرې نښوده

او دوئ تر یې «جهان سوز لقب ورکړو. دا ځکه چې
ده د ترک غلامانو او پارسیانو د مزې او چړچې
جهان "غزني" وران کړو. پکار خو دغه وو چې ورته
«غزني سوز» یې ویلي وای. د دې تباهۍ ذمه وار
پخپله غزنوي شاهي کورنۍ او ورسره ترلې پارسیانو
نوکرشاهي وه، چې دوئ د پښتنو سره سیک چالان
شروع کړو. با وجود د دې چې پښتنو د محمود غزنوي
د سلطنت پرتینګولو او ستره ولوکښې بنسټي کردار
اداء کړے و. همدغه غوري پښتانهٔ وو چې دوئ هند
فتح کړو او ډهلی یې ناستون وګرځاوه، چې د پرنګی
تر راتګ پورې ډهلی د هندي مسلمانانو په لاس کښې
پاتې شو او د غوریانو، غلامانو، سیدانو، غلجیانو،
لودهیانو په لاس کښې و. مګر بیا د ۱۲۰۰م کال نه تر ۱۲۲۶م
کال پورې چنګیزي سیلاب زمونږ پر اصلي خاوره راغلو،
زمونږ اصلي ټاټوبئ (غور) مغلو تباه کړو. د پښتنو
قتل عام یې وکړو او تر نن ورځې پورې د غور علاقه زمونږ
په لاس کښې را نغله. نن هم پکښې د چنګیز مغلي خپلوان
(هزاره) اوسېږي. غور د پښتنو د پاره داسې دے لکه
د یهودو د پاره خپل زوړ وطن فلسطین دے. چې دوئ
ورته ساماریه او وجودیه وایي.

دغوریانو نه پس بیاتر لود هیانو پورې دپښتنو سیاسي، اقتصادي او فوجي میدان هندوستان و. زمونږ په خاوره باندې ترک ـ مغل په یو شکل او یا بل شکل کښې واکدارانې پاتې شول، مګر دپښتنو زور دبې اتفاقۍ مرض په وجه مونږ ه په ۱۵۲۶م کښې د هند واکداري هم وبایلله. دا ځکه چې دولت خان لودهي والي پنجاب لاهور او زمونږ بادشاه ابراهیم لودهی دبې اتفاقۍ دا نتیجه شوه چې مغلي بابر په پاني پت کښې دَ پښتون قوت د پښتون په زور مات کړو. مونږ په پاني پت کښې مات سرونه پراته وو او مغل تخت باندې کښیناستل. دبابر فوج د موجوده پښتونخوا او افغانستان په خلکو مشتمل و او هندي فوج کښې هندي پښتانه وو. مغل بابر دواړه وجنګول، ځان یې بادشاه کړو. بابر چې دیوسفز و زوم وو، ورته پته وه چې دهٔ بادشاهي دچا نه اودچا په زور اخیستې ده. د ده عمر ډېر نهٔ و، مړ شو. وروسته یې زوی همایون بادشاه شو. مګر دې وخت کښې هندي پښتنو کښې د فرید خان غوندې با همته او مغرور افغانان ژوندي وو. دَدهٔ دعقل او سیاست په زور هندي پښتنو خپله غلطي محسوسه کړه. د دوئ مشرکرۍ لاندې راغونډ شول، هندي مغل یې دَهند نه وشړل او دپښتنو عزت یې پر ځای کړو.

او همایون را ته ایران کښې مفرور کښینا ستو ، دو خت انتظار يې کاوه . د پښتنو بدمرغي وه چې شېر شا ه بابا په ۱۵٤۵ء کښې دیوې ناکهاني چو د نې په ذر یعه زمونږ نه لاړو . دَ دوئ د ټک نه پس پښتانهٔ بیا رچینجو غوندې یو په بل اخته شول . چې دوئ خبر پدل همایون مغل بېرته ډ هلئ اخیستے و .

چې کوم قوم کښې ورور ولي ، اتفاق او محبت پاتې نهٔ شي نو خدای ځهخه ذ لیلوي . هم دغه لوبه زمونږ سره وشوه اوس زمونږ ازلي دښمن مغل هم کابل او هم ډهلئ هند کښې زمونږ واکدار شو . د غلامۍ او ذلالت یونه ختمېدونکے دور شروع شو . د دې عذاب سره سره زمونږ هرات او قندهار دَ مغلو او صفویانو د غوبل میدان جوړشو ، چې کله به دَ یو په لاس کښې و اوکله د بل . زمونږ ه مورنۍ خاوره اوس دوه دولتونو کښې تقسیم شوه ، چې هغه یو مغل او بل صفوي و .

د مغلو او صفویانو خلاف
د پښتنو مشرانو هلې ځلې

چې څه وخت ۱۵۲۶ء کښې پانی پت کښې پښتو لودهیانو د مغلي بابر نه ماتې وخوړه، ابراهیم لودهي شهنشاه هند میدان جنګ کښې ساه ورکړه، نو دَ دې سره د پښتنو عزت اقتدار او پت هرڅهٔ کړو وړ شول. که څهٔ هم شېرشاه بابا دلږ وخت دپاره دَ افغان د اقتدار ډیوه بله کړه. مګر دَ دوئ د وفات نه وروستو د مغلي او ایراني سازش په وجه هندي اقتدار زموږ د لاسه د همېشه دپاره ووت.

دویم ځل چې مغلو خپلې پنجې په هند کښې ښخې کړې، نو ډېر وخت پورې یې په هند اقتدار پاتې شو. نو دوئ اول کار دغه وکړو چې هندي افغاني نوابانو، صوبیدارانو، رئیسانو او شتمنو پسې یې راوا خیسته. دوئ یې څوک غلامۍ ته مجبور کړل او ورسره ملګري شول. او ځینې یې په فوجي، اقتصادي او سیاسي توګه باندې برباد او تباه کړل.

هغه لوبې يې په کړلې چې د مغل ډېرۀ او ټټر په يخبدو .
د هند پښتنو باندې د خدای (ج) قهر را نازل شو. در په
در سر په خاورې شول. پۀ دې غوبل کښې د مشهور پښتون
مبارز حضرت بايزيد انصاريؒ (پيرروښان) کورنۍ هم
متاثره شوه ، چې دوی جالندهر کښې ميشتۀ وو. بايزيد
لا ورکوټې وو چې خپل وطن کابل ګرم وزيرستان ته راغلو.
د شېرشاه متعلق مشهوره ده چې دۀ څه وخت همايون
د هند نه وشړلو ، نوخلکو به ورته ويل چې همايون بيا درباندې
حمله ونۀ کړي. نو دۀ ورته هغه وخت يو ه خبره کړې وه ،
چې ډېره مشهوره شوې او د کابل کرښه جوړه شوې وه .
بابا ورته ويلی وو: «چرګ چې کوم ميدان کښې يوځل وتښتي
که چرې هغه بيا جنګ ته راوستے شي ، نو هغه با نګونړ حق کوي
و لې جنګ نۀ کوی .»
(کتاب «پښتانۀ د تاريخ په رڼا کښې» په ٥٤٦ مخ کښې)
د شېرشاهؒ ناګهاني مرګ نه پس څوک دا سې افغان پاتې نۀ شو
چې دَ مغلو او ايراني سازش مقابله يې کړے واے. مونږ ته
ټولو نه زيات نقصان ان پر جلال الدين اکبر را رسولی دے.
اکبر خپله بادشاهي په هغه خاکه جوړه کړه چې کومه د زيرک
سياست دان ، فوجي ماهر، د اقتصاد نه خبر او لوئ فوجي او
سول انجنير شېرشاه سوري نه پاتې وه ، چې روستو پرنګيانو

هم د شېر شاه بابا د سړکونو کوم جال خوړ کړے و د هغو سره
څنګ په څنګ د ریل اولاری سړکې جوړې او پاپچې کړې .
د مالیه نظام چې شېر شاه سوري نافذ کړے و، د حیرانۍ خبره
ده چې هغه وخت کښې څومره صحیح د زمکې پیمایش او د
هغې په حاصل باندې د نن سبا په څېر زراعتي ټیکس لګولے و
د شېر شاه بابا ډاک سیستم د ننني پاکستان سیستم نه ډېر
کړندے اوکړه و. د هغې وخت مسافرو د پاره د هر سړک
په غاړه د مناسبې فاصلې سره کوهئ او د پولیسو چوکۍ
او آرام سرائے جوړول د حیرانتیا وړ خبره ده. د جهلم
قلعه روهتاس خو نن هم د شېر شاه بابا د انجنیرۍ بله
ډیوه ده . په دومره لنډ حکومت کښې دومره لوئ لوئ کارونه
کول د عقل منلو خبره نهٔ ده. د ګډ هاګې نه تر پېښاور پورې
سړک خو ما هم لیدلے و، چې د اسلامیه کالج سره جوخت
تېر پدو، مګر بیا وروستو د بې غورۍ ښکار شو او زما خیال
دے چې د جمرود سړک د پلنے کېدو سره ورک شو، او حلته
یې کوهئ هم و. د نن سبا صدران په دومره جدید ټکنالوجۍ
سره دوئ هغه کارونه نشي کولاے، چې کوم شېر شاه بابا
د خپل حکومت لنډه موده کښې کړي وو. د هند وستانیانو
او خاصکر د پښتنو بد بختي وه چې دومره قابل پادشاه
زمونږ نه ډېر زر لاړو. که چېرې دے پاتې وئے نو کېدلے

شوه چې هند په صنعتي او فوجي توګه دومره مضبوط شوې وې چې روستو به د یورپي قومونو د مقابلې وې ، دا ځکه چې شېرشاه بابا ؒ د علم، صنعت او کسب قدردان و. او دهٔ کښې انصاف و. د هندو او مسلمان د تعصب نه ازاد و . یو مثال ما اوریدلے دے چې د ددهٔ زوئ یوه ورځ په هاتی سوار و، دا چې د هندو سنګه باندې د ګلابو یو ګل اچولے و . هغې هندو شېرشاه بابا ؒ ته شکایت اوکړو . شېرشاه بابا ؒ فوراً زوئ ته ویلي وو چې دغه تا زیاتے کړے دے . د رباري چاپلوسانو ډېر منتونه ورته کړي وو ، مګر بابا ؒ حکم ورکړے و چې زما نږدې باندې به د غه هندو د هاتې د شا نه ګل ولي . دغه ته انصاف وايي . همدغه وجه وه چې روستو اکبر د دین الهی پروګرام لاندې د هندو او مسلمان د فرق ورکولو کوشش کړے و . مګر شېرشاه بابا ؒ ثابته کړې وه چې د انصاف د پاره نوے دین ضروري نهٔ دے؛ بلکې اسلام کښې د ننه د ننه د خپل رعایا سره انصاف کېدلے شي . د هغې وخت نړۍ کښې بادشاهانو دا نمونه سوچونه لرل ، مګر شېرشاه بابا ؒ ډېر لرې کتو نکے انسان و. د هغې وخت بادشاهانو که هغه په یورپ کښې وو یا ایشیا کښې وو ، د هغوی یو شغل و . یعنې عیاشي . همدغه وجه وه چې روستو پر نګیانو د پښتنو نه ډېر خار خوړو . د وئ ته پته وه چې د وئ کښې څوک نه پیدا کېږي ، چې پیدا

شي بيا د شېرشاه په خبر نا بغه پيدا کېږي.

مغلوته پته وه چې د دوئ د چا نه حکومت اخيستے دے، هم دغه ورته پته وه چې که د دوی لښهم د پښتنو د کړو وړ نه بې خبره شول، نو څه نتيجه به يې وي، نو ځکه دوئ يو د ښمن او Rival وو. اول سرکښې هندي پښتانهٔ چې د دوئ لوے لوے خلق وو، د دوئ د مغلود تشدد او چالبازۍ ښکار شول، دوئ يې وار په وار ختم کړل. بله خطره دوئ ته د پښتنو قبائيلو نه وه، چې د ډهلي او کابل په مينځ کښې پراتهٔ وو. دا ځکه چې هندي افغانې کورنۍ د پښتونخوا نه تلې وې. هغه تريې لوے لوے بادشاهۍ جوړې کړې وې، نو مغل د دې نه يرېدل چې بيا د اسې ونه شي چې پښتونخوا نه څوک راپورته شي، مونږه هند او خراسان کښې ختم کړي، نو دوئ چې هندي افغانانو نه بې غمه شول، نو غر بيخ پښتنو پسې يې راواخيسته، چې د دې سياست بانې او چلوونکے ان پر جلال الدين اکبر و. چې مغلو د پښتنو د څارلو او کنټرول کولو د پاره د اټک قلعه ورته جوړه کړه. دا ځکه چې د دې ځائ نه به دوئ ديوسفزو پښتنو خلاف وخت په وخت عمليات کول - دا ځکه چې ديوسفز واو مغلو د ښمني ډېره پخوانۍ وه، که څهٔ هم بابر د دوئ زوم هم و، مګر قومي مفادات بابر ته ډېر ګران وو. بنيسب سخرکانۍ د مغلو

تکړه نه تکړا جرنیلانو د یوسفزو نه ماتې خوړلے وه چې
سنه مثال یې د اکبر متعمد بیریل دے، چې هډوکې یې یوسف
نامې کښې وراسته شول. مغلو ولیدل چې په فوجي ټرګه د وئ
افغان قبایل نشي سمولے، نو د وئ دپیسې لالچ او مذهب نه
سیاسي فایده اوچتولو نه سترګه ونه کړه. د پښتنو قبایلو په
مینځ کښې یې د بې اتفاقۍ تخم اوکرلو. یوسفزي اوختک یې
سره د ښمنان کړل، چې دې کښې قصور د ختکوؤ مغل ورته
تماشګیر وو. د مذهبي احساساتو نه یې فایده واخیسته.
افغاني قبایلو کښې یې مذهبي جاموکښې پیران او مولیٰ ګان
ځائ په ځائ کړل، چې سنه مثال یې د پیربابا بونیر او مولا
اخوند درویزه وو، چې وروستو دوی په کار وراغلل. دوی
دواړه د مغلو دخفیه اداري خلک وو.

د پښتنو لوے مشر پیر روښان خلاف مغلوله دوئ نه
کاروا خیست او د پښتنو ملي غورځنګ یې شنډ کړو.

پیر روښان، یعني بایزید انصاري ۱۵۲۵ء - ۱۵۷۲ء مطابق
۹۳۱ - ۹۸۰ هجري پورې ژوندګړے و. د دوئ مبارزه دان پر
جلال الدین اکبر په وخت کښې وه. د اکبر د بادشاهي وخت د
۱۵۵۶ء نه تر ۱۶۰۵ء پورې و.

که څه هم پیر روښان چې د ښمنانو به ورته پیرتاریک
وایه د اول نه د رښتیا په غوښتلو اوپلټلو پسې ؤ. ذهني

رحجان يې تجسس اړخ ته ؤ، اوخپل چاپېريال يې لوستو. هرڅهٔ يې په منطقي پيمانه ناپ کولو. هم دَدې پهٔ وجه دَدهٔ مذهبي لاره ډېره ژوره وه او دعامو خلقو دپوهې نه ډېره لرې وه. اوځنو ملاګانو دَحسد نه ورته بد رد ويل، چې پېر هغوکښې ملا زنګي اواخوند درويزه ډېر مشهور دي. پېر روښان پهٔ تصوف Tasawoof کښې نوے لاره جوړه کړه، او دَدې کامل کېدو دپاره يې اتهٔ(۸) پړاوه جوړ کړل. په حقيقت کښې ځوان بايزيد دروايتي مسلمانانو مذهبي مشرانو نه زړهٔ ښه نه ؤ، داځکه چې دوئ اسلامي لارې او عملي ژوند کښې منافقت کولو. دقاضي نه را واخله او تر پېر مولا پورې ټول دمنافقت ښکار شوي وو. رشوت، دروغ، چغل خوري، ظلم، زيات هرڅهٔ تردَنيا پېٔ مفاد دانتو دپاره تيار وو. ويل به يې يوڅهٔ اوکول به يې بل څهٔ. دغه دوه ډوله ژوند د بايزيد دپاره دمنلو وړ نه و، ځکه دَدهٔ او دَدهٔ د والد صاحب ترمينځ اختلافات راغلل. دپلار مقصد يې دغه ؤ چې بايد دے روايتي د منافقت دوه ډوله ژوند اختيار کړي. مګر بايزيد دبلڅهٔ په تلاش کښې و، چې دَدهٔ پلار ترآخيره پورې خپل زوئ و نهٔ پېژاند ؤ. ده مذهبي تحريک د خپل پيدايشي شهر کاڼي ګرم جنوبي وزيرستان نه شروع کړو او ډېرزد پښتنو قبايلو کښې د نوي پېر اوازه شوه او دهٔ هم هر اړخ ته خپل

پیغامونه ولیږل، او ورته «معارفت الحق» دعوت یې ورکړو.

ددې تحریک د ښکاره کېدو سره مغلي ګورنران او واکداران وارخطا شول. دا ځکه چې دغه پیر په داسې خلقو کښې و چې دوئ ځنې د هند بادشاهي اخستې وه. د پیر روښان مثال د عیسیٰ علیه السلام و. چې څه وخت دوئ د پیغمبرۍ دعوې وکړه نو رومیانو ته پکښې سیاسي چېل ولیدے شو. دا ځکه چې رومیانو هم د مغلو په څېر د یهودیانو نه حکومت اخستے و. نو دَ دوئ خیال ؤ چې عیسیٰ علیه السلام په مذهبي جامه کښې د یهودیانو اقتدار بېرته اخلي، نو ځکه یې پهانسي کړو. هم دغه شان هوبا هو خطره د مغلو سره پیدا شوه چې که د دې سړي ته مو وخت ورکړو، نو افغان قبائیل به منظم کړي او زمونږ نه به واک واخلي. او د جاسوسانو په ذریعه ورته دغه درک هم لګېدلے ؤ چې د پیر روښان کورنۍ هم مغلي ظلمونه په هند کښې لیدلي وو. نو دَ دوئ خیال ؤ چې دغه سړے مذهبي جامه کښې د بدل په نګل کښې دے. چې د مغلو دغه خیال ډېر غلط هم نه ؤ.

دَ پیر وخلقو خیال دے چې د پیر روښان په ژوند باندې د قندهار واقعې ډېر اثر کړے ؤ. هغه داسې وو چې دوئ څه ملګري د تجارت دپاره قندهار ته تللي وو. چې دې دوران

کښې والی (گورنر) قندهار بهرام خان سره د دوی د سامان پنځه برخې مال دوئ ځنې اخستے و. او یوه حصه یې سوداگرو ته ورکړے وه. او د بایزید نه یې ۲/۳ حصې اخستے و او ۱/۳ حصه یې ورته پرېښې وه. نو د کاروان ملګري سره جمع شول، بشمول بایزید روښان گورنر قندهار بهرام خان ته ورغلل، چې د بې انصافۍ خلاف ورته عرض اوکړي. مګر درباري خلق دوی مجبور کړل چې والی (گورنر) ته به تېښتېږئ او سلام به ورته کوئ. بهرام خان ورسره وعده وکړه، مګر دروغجن ثابت شو. دوئ ته خپل مال واپس نشو. نو بایزید باندې دې ډېر بد اثر وکړو، چې د دنیاوي مال د پاره د موردار والي ته تېښتېدل او سلام کول سبۀ کار نه ؤ. او بل دۀ وعده وکړه چې دے به بیا داسان په مخکښې د دنیای غرض د پاره تېښت نۀ شي. او بل ورته د مغلو رویه او سلوک معلوم شو چې مغلو د پښتنو سره کولو. همدغه وجه وه چې بایزید د منافقت نه سخته نفرت کولو او دَهغې وخت مذهبي او سیاسي منافقت په خلاف یې تبلیغ کولو. چې د دې په وجه د مخالفینو په لاس پلمه ورغله او پرېپیګنده یې پسې شروع کړه چې بایزید د پیرانو، ټیکانو، بزرګانو او ولیانو ټولو مخالف دے او صرف ځان ورته رښتیونے شکاري او نور ټول ورته منافق او کافر لیدل

کېږي . پهٔ دې باندې کانې ګرام کښې خلق دوه ډلې شول چې يوه ډله يې مخالفه او بله ملګرې وه .

دپير صاحب و الدصاحب عبد الله او ميرانې ورور يعقوب يې هم مخالف وو . مګر دَدهٔ يو تر بور چې محمد نومېدهٔ شمالي وزيرستان داوړ کښې او سېدې . دپير روښان په ډله و دپير صاحب نه يې طريقه اوکړه، او پير صاحب شمالي وزيرستان داوړو کښې خپل خليفه مقرر کړو او کامل خطاب يې ورکړو . چې د خليفه محمد کامل په نوم مشهور شو . پس دپير صاحب د لارې ځينې محسود، وزير او اورمړ ملګري اوځنې مخالف شول . د خليفه کامل په ذريعه دپير صاحب تبليغ داوړو او وزيرو ته ورسېدو . دکانې ګرم KANIGURM علما يې سخت مخالف وو . دوئ خلکو ته وئيل چې مړ يې کړئ يا يې دوطنه وشړئ او هجرت ته يې مجبور کړئ . چې دوئ کښې عثمان، مولانا ذکريا پېر سرکښې وو . مولانا ذکريا به خلقو ته ويل چې دغه څرنګه پير دے چې دخپل پلار او ورور يعقوب خبرو نه مني ؟ دپير صاحب ځواب دغه و چې پلار او ورور مې راته وايي چې دنيا وي کارو کښې بوخت شه . زهٔ دغه نهٔ غواړم . مولانا ذکريا ورته خپل پلار او لودهي خاندان مشران ګرم کړل چې زندان ته يې واچاوئ . مګر دپير صاحب پيروکارو بچ کړو . مګر کانې ګرم جنوبي وزيرستان کښې

زمکه پهٔ تنګه شوه او هجرت ته یې مجبور کړو. داسې
سازش جوړ شوے وچې د شیخ آوریا اسپه د څر په وخت
مړه شوې وه ، خلقو په علي شېر چې د پیر صاحب مرید و ،
دعویٰ وکړه. علي شېر انکار وکړو چې ما نه ده مړه کړې.
په دې باندې د کاڼي ګرم سنګار اووه (۷) قبیلې برکی جرګه
شول. د شپږو فیصله دغه وه چې بایزید به د دې سنګار
نه اوځي. یو شیخ فرید یې مخالف و. مګر هغه یو ؤ.
بس پیر صاحب مجبور شو چې وطن نه هجرت وکړي.
بس د دوئ خپله مېرمن بي بي شمسو ، زوی شیخ عمر او
لور کمال خاتون بشمول روان شول. خلقو یې پلار یعنې
عبدالله ته ډېر منتونه وکړل ، خو هغه نه منل. د خپلو
خپلوانو پسې ژړا ګانې وې. پیر صاحب څو ورځو سفر نه
پس خپل تربور خلیفه محمد کامل ته دوړو ته ورغے. خلک
چې خبر شول ، نو ټولې ټولې د دوئ مریدان شو. د کاڼي
ګرام مخالفینو د اوړو کښې هم ورته اور بل کړے و. او
ځنې بد معاشان یې د پیر صاحب مرګ ته تیار کړي وو.
خدائ (ج) ځنې اوساتو. د برکي قبیلې خلکو به افغانستان
او هندوستان کښې تجارتونه کول ، هم پهٔ دې وجه د
پیر صاحب آوازه ترهند او کابله پورې لاړه او مولانا
ارزاني یې مرید شو. د هند نه خلیفه ما دود چې ترین

پښتون و، هند کښې، سرهند کښې آباد و. ورته راغئ، د پیر روښان نه یې طریقه وکړه او مرید یې شو، او د خلیفه لقب یې ورکړو او دهٔ ته یې اجازت ورکړو چې هند کښې خلکو ته طریقې ورکاوه او ورته وایه چې د توحید لاره دې وینسي. هند کښې د غو دوو کسانو، یعنې مولانا زاهد او خلیفه مادود دواړه ښهٔ عالمان وو. د پیر صاحب مشن یې مخ په وړاندې بوت.

په دې وخت کښې پیر صاحب ته د پېښور د سار بڼ او تیراه نه بلنه راغله چې دوئ دې راشي او مونږ ته دې سمه لاره اوښايي. پیر صاحب خپل یو داوړ خلیفه چې د هغې نوم هم بایزید ؤ، دوی ته ولېږلو، او پېغام یې ورکړو چې زر تر زره به درشم. یهٔ دې شپو او ورځو کښې د پیر صاحب قیام بنګښو کښې ؤ. هلته عالمان او شېخان راجمع وو، مناظرې وې. پیر صاحب خپله صفایي اوکړه، بیا یې ټول بنګښان مریدان شول. او ورپسې آفریدي، اورکزي او تیرایي یې هم مریدان شول. په دې وختو نو کښې د پیر صاحب استاذ بایزید داوړ د مغلو د فوجیانو د لاسه شهید شو، چې دې خبر په پیر صاحب باندې بد اثر اوکړو. پیر صاحب چې تیراه ته ورسېدو، دلته ورسره حاجي کاداي، چې د خلیلو د قبیلې نه وه ملاو شو، او مرید یې شو، او

پیرصاحب ته یې دعوت ورکړو. پیرصاحب د تیراه نه پېښور ته راکوز شو او خلیلو ته ورغے او شاني په کور کښې متل شو. شاني د خلیلو مشر و. د دې کره یې خلیل مریدان شول او اسحاق مهمند زئ یې هم مرید شو. دغه ډېر پوه او عالم سړے و. پیرصاحب ورته د خلیفه مرتبه ورکړه. همدغسې مهمند زیو او داؤد زیو د پیرصاحب په حلقه کښې داخلېدل شروع کړل. چې څه وخت دوې قبایلو حریصو پیرانو او مولاګانو اولیدل چې د دوئ مریدان دېره دېره د پیر روښان په حلقه کښې داخلېږي، نو دوئ وارخطا شول. د علاج منصوبې یې شروع کړې. دوی حبیب خلیل ته راغلل چې دغه مسافر سړے خو خلک دلارې نه خطا کوي، د دې علاج پکار دے. حبیب ورته جواب ورکړو چې تاسو فکر مه کوئ. هسې هم حبیب د پیر صاحب نه خفه ؤ. چې دوی د شاني په کورکښې میلمانه وو. حبیب د شاني سره د خلیلو په مټ کړئ باندې رسه کشې وه حبیب خلیل اول د پېښور کونر جانس خان ته ورغئ او دوئ (۱۲) زره روپۍ رشوت یې ورته ومنلو، که چرې کورنر دغه پیر روښان مړ کړي. مګر جانس خان شریف سړے ؤ، د حبیب خلیل خواهش یې ونه منلو. بیا حبیب خلیل کابل ته لاړو، د مرزا حکیم وزیر ته یې رشوت ورکړو او بایزید

خلاف يې ولمساؤ . ميرزا حکيم دپوښتنې دپاره پير صاحب کابل ته راوغوښتو . ميرزا حکيم ورته دپوښتنې دپاره قاضي خان مقرر کړ. قاضي خان هغه ټولې پوښتنې ځنې وکړې چې دپير صاحب خلاف خلکو او دښمنانو مشهورې کړې وې . دقاضي صاحب تسلي وشوه ، بلکه ميرزا حکيم ته يې مشوره ورکړه چې ددهٔ نه بيعت پکار دے. مګر ميرزا حکيم وروستو هغې وزير مشکوک کړو چې کوم حبيب خليل پهٔ رشوت اخستے وُ . وزير ورته وويل چې که چرې تاسو ددوئ مريدان شوئ نو بيا دافغانانو نه ماليه اخستل به ګران شي. بيا تاسو دوئ جرم کولے نه شئ . دا ځکه چې بايزيد پخپله هم افغان دے او پير صاحب به خپل مريد ته دا سې اجازت ورنه کړي.

ميرزا حکيم دخپل وزير مشوره قبوله کړه ، دپير صاحب نه يې طريقه ونه کړه . مګر دپير صاحب قدر يې وکړو او پښور ته دبېر ته تګ اجازت يې ورکړو.

دکابل نه چې واپس شو،نو دپښور ګورنر جانسن خان په ځای معصوم خان مقرر شوے و . دپير صاحب دښمنانو ورته ګورنر لمساو لو ، هم پهٔ دې وجه پير صاحب بيا محمد زيو هشتنغر ته لاړو . دوئ يې ډېر قدر اوکړو ښه مزيدار کور او دکور دخرچې بندوبست يې ورته اوکړو.

چې څه وخت پیر صاحب د مهمند زیو دغه مینه او سړیتوب ولیدو، نو خپله لور کمال خاتون یې د مهمند زیو د مشر پاینده خان زوی علی خان ته ورکړه. او د یو بل مشر بهادر خان لور یې خپل زوئ عمر ته واده کړه. پیر صاحب خپله یوه محمدزی مریده چې دلانې نومیده، واده کړه. بس هشنغر د روښانې تحریک مرکز شو.

پیر صاحب خپل خلیفه ګان په مختلفو طرفونو ولېږل چې خلیفه مادو یې قندهار ته ولېږه، چې دهٔ کاسي، محمدزي او شینواري قبایل مریدان کړل. بیا خلیفه صاحب بلوچستان او سندهر ته لاړو، هلته یې د پیر صاحب پیغام خور کړو.

خلیفه دولت خان یې جلال الدین اکبر بادشاه هند ته د خپل کتاب «صراط التوحید» سره ولېږلو. او بل خلیفه یې، چې یوسف نومېدو، د بدخشان حکمران ته ولېږلی، او خپل کتاب «فخر الطالبین» یې ورکړو. او خلیفه ارزاني یې هند ته ولېږلو، چې هلته خلکو ته د توحید دعوت ورکړي. او ځنې خلیفه ګان یې بلخ، بخارا او سمرقند ته ولېږل. هم په دې شان پیر روښان هرلوري ترخپل خپل خلک د مشن د پاره ولېږل. مګر دغه لېږل بې ګټه

کوړې کوړې نه وو . د ښمنان يې ويده نه ؤوو، مغل يې ورته لمسولي و و.

د روښانيانو او مغلو ترمنځ لومړے جنګ

چې څۀ وخت بايزيد (پير روښان) د پېښور نه کابل ته تلو، نو په لاره کښې توئ Tini قبيلې د پير روښان په لاس بيعت اوکړو. دوی د دنيا يې کار نه لاس واخست او توحيد د پاره يې عبادت او تبليغ شروع کړو. اوچې چا به د دنيا يې کار کولو، دوئ به ځنې نفرت کولو. هم په دې وخت کښې يوه تجارتي قافله د دوئ په علاقه تېرېده. دوئ ته غوصه ورغله چې دغه خلک د آخرت سوچ نۀ کوي او صرف د دنيا وي کارو کښې بوخت دي. دوئ ته سزا ورکول پکار دي. دوئ قافله لوټ کړه. سامان يې مات رامات کړو. د پاسه يې اسپې په وښوروې، قافلې واله دغه مهال فرمان روا کابل ميرزا حکيم ته اطلاع ورکړه چې افغاني قبايلو مونږ لوټ کړو، چې دغه ټول د پير روښان خلک دي. پۀ دې باندې ميرزا حکيم يو مغلي فوج د دې قبايلو خلاف ولېږ لو. سړي يې مړۀ او تباه کړل، ښځې او

ماشومان پې بند یوان کړل. پۀ دې باندې پیر صاحب حکمران کابل ته لیک ولیږلو او په هغې کښې یې د ښځو او ماشومانو د خوشې کېدو غوښتنه کړې وه، چې دوئ بې قصوره دي، چې چا قصور کړے ؤ هغو ته تاسو سزا ورکړ.

په دې لیک باندې میرزا حکیم په غوصه شو فوراً یې د پیښور ګورنر ماسوم خان ته خط ولیکلو چې پیر ګرفتار کړه او که خان نه ؤ درکوې مړ یې کړه.

د ګورنر سره په دې وخت کښې پاینده خان او بهادر خان مهمندزي وو. دوی پیر صاحب پټ خبر کړو. د دې خبر سره پیر صاحب یوسفزو اړخ ته روان شو. مګر د مغلو رنر ماسوم خان فوجیان ورپسې وو. چې څۀ وخت پیر صاحب د مغلو فوج ولیدو، نو دوئ کوشش وکړو چې غرو ته لګ شي، مګر مغلو د دوئ لاره بنده کړه او دوئ یې په ګیره کښې واخیستل. په دې وخت کښې د پیر صاحب صرف ۳۱۳ تنه ملګري وو. د مغلو د فوج رهبري ګورنر ماسوم خان کوله. چې څه وخت جنګ شروع شو، نو د پیر صاحب مریدان داسې په جوش وجنګېدل چې مغلي فوج نه یې وارپار خطا کړو. د سخت جنګ نه پس مغلو د پښتنو نه ماتې اوخوړه. د پاتې فوج سره

کرزنه ماسوم خان په منډا پېښور تر لاړو.

پیر روښان د دې ځای نوم « آغان پور » کښېښود.

بیا پیر صاحب دخه وخت دپاره تیراه ته لاړو. د تیراه نه

د بنیر یوسفزو ته راغلو او ۱۵۷۲ء کښې وفات شو او

خاورو ته وسپارلے شو. (حالنامه)

د پیر صاحب د مخالفینو نه یو اخوند درویزه ؤ.

هغه لیکي چې پیر روښان خپل مریدان جمع کړل او ننګرهار

ته لاړو او "بړو" باندې یې حمله وکړه. په دې باندې

محسن خان د جلال آباد نه فوج ورپسې روان کړو. روښانیانو

ماتې اوخوړه. پیر صاحب غرو ته وختو. په بد حال ؤ.

څپلې یې نه وې، ډېرے، تږے د هشنغر اړخ ته روان

شو. ډېر ستړے او ستومان کلپا ښې ته راورسېدو او

وفات شو. په هشنغر کښې یې ښخ کړو، مګر اخوند درویزه

دا نه ؤ دې لیکلي چې دغه خبره چا ورته کړې ده. څوک ورسره

وو چې د پیر صاحب څپلې او لوږه تنده یې لیدلې وه.

او بیا تر کلپا ښې پورې ورسره ملګرے ؤ.

دغه یاد ساتل پکار دی چې اخوند درویزه د پیر صاحب

سخت دښمن و.

د هغوی د وفات نه پس د دوئ زوی شیخ عمر د

روښانیانو مشر شو.

اخوند درویزه څوك ؤ؟

اخون په ترکي ژبه کښې مولانا ته وايي. اخون درویزه پخپله پښتون نه ؤ. البته د دوی کورنۍ په یوسفزو کښې میشته وه. د ځیل شجرۀ نسب داسې بیانوي: د پلار د اړخه تاجک دے او د مور له طرفه یونانې دے. او خپل شجره نسب د سکندر اعظم یونانې پورې تړي. یعنې د پلار له طرفه تاتاري مغل او د مور له طرفه یونانې دے، چې دغه پخپله تضاد ی خبرې دي. تاجک آرین دے او ترک مغل ځانته انساني ذات دی. چې دغه یو بل سره سمون نه خوري. او بل د سکندر اعظم ۳۳۲ ق.م کښې پښتونخوا ته راغلے ؤ. او اخون درویزه ۱۹۶۸ کاله وروسته پیدا شوے دے، د اسې معلومېږي چې اخوند درویزه په دروغه د هغې وخت دوه نامو ر نسلونو نه ځان جوړ کړے دے. او خون نه د ترک او تاجک پته هم نه لګېږي او خپل اصلي نوم هم نه لیکي. دهٔ د ۱۵۳۳ء نه تر ۱۶۳۸ء کال پورې ژوند کړے دے. د تذکرة الابرار کتاب مطابق د آخون اجداد جبون بن جفتی د لغمان نه ننګرهار ته لاړو او هلته یې د مهمندو

سره واړول. روستو يې د مهمند و سره اختلافات راغلل
سلاطين بلخ ته يې شکايت وکړو. بادشاه په مهمندو باندې
لښکرکشي وکړه. د جبون اووهٔ زامن وو، په دوی کښې
ديو نوم سته ؤ، ددهٔ ديو زوئ نوم احمدو، د احمد
د زوئ نوم درغان ؤ. دغه درغان د مهمندو نه لاړو
اول بره علاقه يوسفزو کښې داخل شو او بيا موضع پاپين
کښې ميشت شو. په هغې وخت کښې يوسفزو چې سوات
باندې خپل اقتدار ټينګولو د درغان زوی سعدی د دوئ
سره ؤ، چې څهٔ وخت چې شيخ ملي د علاقې ويش کولو
نو سعدي ته يې سره د دبر شو کسانو نورو کورنۍ والو
سره د قبيله ملی زئ يوسفزو سره يوځای زمکه ورکړه.
سعدي په دې علاقه کښې مشهور شو. ليکن څه وخت چې
د يوسفزو خلاف مغلو لښکرکشئ کولې، داخون په قول
لښکريانو د عدم واقفيت په وجه سعدي قتل کړو. او دغه
سعدی زوی ګدائ چې ؤ د آخوند بابا پلار ؤ، د
نورو خلقو سره ګرفتار شول. مګر څه وخت چې د حاکم
وخت د لښکريانو نه د سعدي تپوس اوکړو حاکم صاحب
ته پته و لګيده چې هغه قتل شوے دے. ډېر ډېر
افسوس يې وکړو، اوس يې څهٔ کولے شول، بغير دې
نه چې قيديان خلاص کړي. د دې نه انداز ه لګي چې

چې آخون بابا کورنۍ د مغلوسره خومره ژوندۍ رابطه وه. (تاریخ یوسفزی پټهان)

اخون د روبزه د پښتو د پښتو خدمت کړه دے، دا ځکه چې پیر روښان پښتون و او پښتو ژبه کښې روښانې تحریک لیکنې کولې، همدغه وجه وه چې مخالف ډلې یعنې آخون د روبزه هم په پښتو باندې لیکل شروع کړل. چې پهٔ دې سره زمونږ ژبې پښتو ته فایده ورسیده. دے ډېر Fanatic مولا ؤ. هر یو مخالف یې کافر کړے دے. همدغه وجه کېدله شي چې د یوسفزو د علاقې نه وشړلے شو. او پېښور کښې آباد شو. پښتنو ته خاصکر یوسفزو ته کنځل کوي. دے پېښاور کښې مړ شو او هډلته ښخ شو، چې مزار یې نن هم موجود دے. دا سے معلومېږي چې آخون بابا د پښتنو په سکالوجۍ باندې ښه پوهېدؤ د هټلر د پروپیګنډې وزیر گوبل په څېر پروپیګنډه چې ؤ دوئ به په پیر صاحب پسې قسما قسم خبرې کولې، چې یو د مثال په توګه دلته بیانوم:

دوئ په پښتنو ته ویل چې دغه پیر روښان نهٔ دے بلکه پیر تاریک دے. هغه دا سې چې پیر تاریک وایی بچې خو په ګڑو لږ دلے وي او په ویاله پورې کېږي، د بار نه یوه ګاڑه چیکړو کښې ولوېږي، نو سړے هغه یوه

ګاځره وینځی دېتول خرڅ د و بینځلو ضرورت نشته. هغه مثال د سنجۍ او خاوند ورکوي چې دوئ هم بستري وکړي نو د ېتول وجود وینځلو ته ضرورت نشته، صرف دې هماغه حصه ومینځي چې کومه ګنده شوې وي.

پښتنو به غوږ ونه نیول او توبې به یې ایستلې. دد ې تپوس یې نه کړو چې دغه رسنتیا دي اوکه دروغ او دځانه جوړه شوې قیصه.

په دې وسیله به دوئ د پیر روښان خلاف دپښتنو قبایلو په مینځ کښې د نفرت اوکرکې تخم کرلو. بلکه نن هم زمونږ دغه حال دے. چې باچاخان مو نه او نه پېژاندو، چې مسلمان ؤاوکه هندو، چې جناح ته ټکے لمونځ هم نه ورتلو نن سبا اولیاء دے.

پیر سید علی ترمذي (پیر بابا بونېر) څوک ؤ؟

دوئ د آخون بابا په قول کتاب "تذکرة الابرار والاشرار" چې د حضرت سید علي تعلق د ترمذ سادات کورنۍ سره ؤ، او وطن یې قندوز - بدخشان یا دکړے دے. د دوئ موږ محترمه دمغلیه خاندان، امیر تیمور، همایون خورنه وه او د دوئ والد صاحب سید قنبر علي

تر په مغلیه دربار کښې د قدر او عزت په سترګه کتلے شول او د امیر نظر بهادر خطاب یې ورکړے و. د عهد همایون په اولنۍ اقتدار ای وخت کښې دوئ، یعنې حضرت پیر بابا د تعلیم د پاره د کوره راووت، اول پانی پت ته لاړو، بیا مختلفو ځایونو ته لاړو، بیا اجمیر شریف ته لاړو، هلته د سپدو سره حضرت سالار رومي حلقه مریدان کښې شامل شو. په دې دوران کښې دګیګیانې قبیلې دوه کسان حاجی سیف الله او ملک ګدائی خان چې دوئ همایون د ځان سره د پیښاور نه هندوستان ته بوتلي وو، د پیر صاحب نه یې لاس نیوے یعنې بیعت وکړو."

چې څهٔ وخت همایون د شیرشاه افغان نه شکست وخوړو او په منډه و، نو دې فراري ملګر وکښې ورسره د پیر بابا پلار نظر بهادر هم ؤ. دهٔ زوی ته وویل چې پیښاور ته لاړ شه. دهٔ پیښاور کښې د ملک حاجی سیف الله خان او ملک ګدائی سره ملاقات وکړو. اول "دوابې" ته لاړ و، د لته چا پیر صاحب ته وویل چې علاقه یوسفزو کښې دوه پیران دي، چې دیو نوم پیر طیب غلزئ او هغه بل پیر ولي بړیخ دے. دوئ خلکو کښې ځان ځان لره ټولي جوړوي. مغاو ځنې خواهش وکړو چې تاسو

ملته لاړ شئ ، د دغو دوو پیرانو اثرات ختم کړئ .
ځکه نو دوئ د علاقه دوابه نه علاقه یوسفزئ ته لاړو
او علاقه سدهم کښې مبشت شو.
دلته دهٔ خپل میشن Mission شروع کړو او دولت
خان ملی زے یوسفزئ خور بی بی مریم ۵ یې واده
وکړو. اوخدای ددې نه اولاد ورکړو. دوه زامن او
درې لوڼه. سیدعبدالله اوسید قاسم - سیدهٔ رحیمه،
سیده کریمه او سیده زینبه .
د پیر بابا متعلق مشهوره ده چې څوک یې زیارت
وکړي ، خدائے د هغه د شرکهٔ حیات یعنې مېړ من
ورکوي . چې څه وخت پیر روښان مخ په وړ اندی روان
وُ ، نو مغلو ورته د پیرۍ په جامه کښې خپل خپلوان
سید علي کښېنولو اود مولا ګیرۍ په جامه کښې یې ورته
اخون درویزه . چونکه دوی د پښتنو په نفسیاتو سبه
پوه وو ، نو یو دوه ځله داکار رښتیا شوے دے.
هغه داسې چې مغل خو د هند او افغانستان واکدارن
وو ، - - وی حرمونو کښې بزنسنتې د پرې سنځې وې
کنیزې (غلامې) او وینځې به وې ، نو دوئ د پښتنو
د غولولو د پاره او د پیربابا پوزیشن د مضبوطولو
د پاره داسې کارونه کول. د پیر صاحب مریدان به

په کلیو کې ځېدل او خبره به یې کوله چې څوک د پیر بابا د دیدن وکړي، خدائ (ج) ښځه ورکوي. د مغلو جاسوسانو به پیرصاحب مخکښې خبر کړو چې پلانے سړے د پلانې کلي او قبیلې نه درځي، د ښځې سوال درنه کوي. چې سړے به ورغے، نو پیرصاحب خو به د اول نه خبرو لاس به یې پورته کړل د دعا وکړی چې د دې سړي کور خدائے ودان کړي او د خدائے نه مې ورته په لاره کښې ښځه غوښتې ده، چې خدائے یې ورکړي. دغه د ریې وینځه به یو خاص ځائ کښې جاسوسانو کښېنولې وه. دغه ساده پښتون به چې د پیرصاحب د ملاقات او دعا نه پس راتلو، نو وروستو به ښځه ورپسې روانه شوه. وینځه به جاسوسانو پوهه کړې وه، پښتون ته خو به هسې هم هر بولے او تېره ښځه کېدله. بیا دې ښځې به ژغ پرې وکړو چې ځوانه ما خوب کښې پیر صاحب لیدلے ؤ، زما نکاح د تاسو سره شوې ده. وایي چې "پوند د خدائے نه څه غواړي، دوه سترګې" د پښتون به د غه وینځه ښځه شوه.

داسې کارونه دوه درې ځله شوي وو، پس څه وو چې نور نن ورځې پورې پښتانه د پیرماما نه ښځې غواړي، چې د غه ټول د مغلو یوچل و، چې د پیرروښان قدر

يې ورکولو. دوئ يعنې پير بابا او اخون د مغلي دربار خلک وو، او د روښاني تحريک د بدنامولو ذمه يې اخيستې وه.

چې څۀ وخت د پيرروښان پيغام پير بابا ته ورسېدو نو ،څه وويل چې په افغانانو باندې طاقتوره بلا نازله شوې ده. چې څۀ وخت پير بابا هشنغر کښې د پيرروښان سره ملاقات وکړو، نو پيرروښان ورته وويل چې کمزور علاقه کښې چې تاسو متل يئ، هلته خو پير پهلوان، پيرولی طيب موجود دے، دوئ سره د مقابلې نه بغير ماسره زور آزمايي ښه کار نه دے. چې څۀ وخت پير بابا پيرروښان قانع نه کړے شو، نو پير بابا فرمايلی وو چې ظاهري هلاکت د بادشاهانو په ذريعه کېدے شي او دلته بادشاه نشته. خو پير بابا ورته مغل تيار کړل، دا ځکه چې د پيرئ او عالمي جامه کښې دوئ د پيرروښان مقابله اونه کړے شوه.

اخوند درويزه ليکي چې بايزيد ته هيڅوک په مناظره کښې ټينګېدلای نه شول. او ليکي چې دوی، يعنې پير تاريک يو شيطاني صفت عالم و. د مکر او فريب سره به يې ټول شرعي اعمال کول.

بوبل ځاے ليکي چې په ظاهره خو په شريعت يې عمل کولو مګر په باطن کښې يې په کفر عمل کولو.

دې ته ګوره چې اخوند د باطن نه هم خبرو. حقیقت دغه وُچې اخوند د مُغلي جاسوسي اداري سړے و، ځکه يې هر روا او ناروا حرکت کولو. عالمان پخپله دغه حدیث بیانوي چې چرته یو کافر کلمه وپلي وه او حضرت علي قتل کړے ؤ، نو حضرت رسول خدا د ناراضګي اظهار کړے و، او ورته يې ویلي وو، چې تاسو ته ددې د باطن حال څه معلوم ؤ. مګر دلته اخوند درویزه د مغلو جاسوس د باطن نه هم ځان خبرکړي چې پخپله دغه غیر اسلامي عمل دے او کفر دے. خو خوار درویزه څۀ کړي وای. دغې ته مجبور و، او خپله خبثه به يې پۀ څۀ ساتله.

د پیر روښان خلاف د پیر بابا پیري، د مغلو پیسې او د اخوند کچره خولۀ یوځائې شول، یوسفزي يې په دوه ډلو تقسیم کړل. آخري او فیصله کن جنګ د روښانیانو خلاف یوسف نامه کښې وشو. چې د روښانی کیمپ کلئ باجا - مینی او کوټه کښې و او د اخوند درویزه او ملک حمزه خان اکوزي لښکر کلئ جهنډه او بوقه کښې وو.

د اخوند دلیک مطابق اول جنګ موضع سرکاوی او دویم جنګ موضع مینی کښې وشو. په دې دواړو جنګونو کې روښانیان کامیاب شول او دریم جنګ موضع باړه کښې وشو، دلته روښانیانو ماتې وخوړه.

دروبزه لیکي چې د ماڼۍ نه پس د بایزید دوه زامن شیخ عمر او خیرالدین د تربیلې سره آباسین ته ټوپ کړل، د علاقه هزارې اړخ ته پورې وتل. نمر په پرېوتو ؤ. چې دوئ دواړه د دله زاکو قبیلې د لاسه قتل کړے شول. دریم زوی یې نورالدین په منده د هشنغر علاقې ته لاړو، هلته د محمد زیانو د لاسه قتل شو. اوبل زوی یې چې لا تنکے هلک و، یعنې جلال الدین چې په جلاله مشهور و، زخمي شو او اباسین ته یې ټوپ کړل. د دښمنانو په لاس ورغے دے به خوارلس کلن و، ډېر ښایسته و. دوی د مغلو نه د انعام کټلو په خاطر مړ نه کړو، ژوندے یې اکبر بادشاه ته پیش کړو. په دې وخت کښې اکبر بادشاه اټک کښې میشت و.

د حضرت بایزید روښان جوسه به مریدانو د تبارک دپاره د ځان سره کرځوله. د دښمنانو په لاس ورغله. د اخون درویزه په فتوئ دوی د پیر صاحب لاش د تابوت نه وایستو او اورته یې واچولو.

د پیر صاحب ښځه چې د لودهي ښښتنو خاندان سره یې تعلق لرلو، د اخون درویزه په هدایت له یو ډم سره یې نکاح وکړه او دغه واقعه اخوند درویزه په ډېر فخر سره لیکي، او ذکر یې کوي. او دغه ټوله لوبه د اسلام په نوم وشوه.

په ۱۵۸۱ء کښې جلاله اکبر باچا ته پیش کړے شو. دے

ډېر ښايسته ځوان ؤ ، نو اکبر قتل نه کړو. دځان سره يې درباں کښې وساتو. مګر د موقع سره جلاله د مغلو نه فرار ي، شو او د تيراه اپريدو ته لاړو ، د خپل پلار ميشن يې جاري و ساتلو.

يوځل بيا پښتانهٔ قبايل په جلال الدين راجمع شول او اکبر ورته د اټک قلا په جوړولو شروع وکړه.

روښاني تحريک په پښتنو کښې اولنے تحريک ؤ چې پښتانهٔ پکښې بحيث قوم شامل وو. ددې تحريک په ذريعه پښتانهٔ په کلونو کلونو د مغلو خلاف جنګېدل او د غلامۍ نه يې ځان ساتلے و. همدغه وجه وه او ده چې پيرنګي هم پښتانه سم نه کړلے شول. خو زمونږ بدبختی دغه ده چې ددې تحريک سپکاوے نن هم ژوندے دے او ښه کاروته يې ورک دي.

د پيرروښان دغه د آزادۍ ډيوه تر ډېر وخته بلې وه. روښانيانو بيا جلال الدين خپل خليفه مقرر کړو. د ده خلافت د ۱۵۹۱ء نه تر ۱۶۰۳ء پورې ؤ. د ده د مغلو خلاف خپل مُهم جاري وساتلو. مګر په ۱۶۰۳ء کال کښې د مغلو هزاروو د لاسه د افغانستان په غزني کښې قتل شو. هزاره کانو د دوی سر اکبر باچا ته پيش کړو.

د دوی د شهادت نه پس روښانيانو بيا احداد خپل خليفه مقرر کړو. که څه هم دوی روحاني شخصيت ؤو ، مګر د مغلو

اور روښانیانو بدي دومره زیاته شوې وه چې دهٔ هم توره واخیسته. خو خوځله یې مغل ګډوډ کړي وو او د کابل محاصره یې هم کړې وه. په هغه وخت کښې د کابل حکمران شاه بیګ خان ؤ، د احداد او د دهٔ د فوجیانو په مینځ کښې سخت جنګ وشو. روښانیانو ماتې وخوړه. احداد د خټکو علاقې ته را په ختې شو. لوا غر غړهٔ کښې میشت شو. دلته د روښانې او لاد خپل منځي زړهٔ بدګي راغله او مغلو هغې ته لمن ووهله. د دې نتیجه دا شوه چې د جلال الدین زوی رشید خان بادشاه جهانګیر ته تسلیم شو. جهانګیر یې ډېر قدر وکړو او د ۵۰۰۰ فوځ کمنډر (قوماندان) یې مقرر کړو. روستو بیا شاه جهان ورته شمس آباد کښې لوی جاګیر ورکړ.

چې مغلو ته پته ولګېده چې په روښانیانو کښې بې اتفاقي راغله، نو د کابل کورنر ظفر خان، خلیفه احداد دلوا غر په غړو کښې محاصره کړو. د بهادرئ جنګ یې وکړو او د ۱۶۲۲ء کال مقابله کښې شهید شو. د دهٔ نه پس د روښانیانو خلیفه عبدالقادر شو (۱۶۲۴ء - ۱۶۲۲ء).

چې څهٔ وخت د عبدالقادر پلار شهید شو، نو د دهٔ عمر دولس کاله و. د سخت غمخوارۍ نه پس د مغلو نه خلاص شو، تیراه ته را ورسېد. د دوئ ترڅهٔ وخته پورې پټ وو، دا ځکه چې مغل د دوی په تلاش کښې وو، مګر

چې څه وخت عبدالقادر ته پته ولګېده چې مغل پېښور ته واپس شول، دا ځکه چې د بادشاه د دوو زامنو په مینځ کښې ناچاقی جوړه شوې وه، چې د یو نوم خسرو او د هغه بل پرویز و دهٔ په ځان باندې بیا پښتانهٔ راټول کړل او په پېښور باندې یې حمله وکړه. او سخته محاصرې یې وکړه. مګر دلته د دهٔ او دَدهٔ تره کریمداد په مینځ کښې اختلافات راغلل محاصره یې اوچته کړه تیره ته په څټ لاړو.

په دې وخت کښې روښاني کورنۍ کښې بې اتفاقي زیاته شوې و دوئ وار په وار مغلو ته ورغلل، انعامونه او منصبونه یې قبول کړل.

خودغې تحریک چې کومه د آزادۍ دیوه بله کړې و هغه د پښتنو په زړونو کښې د خدای خدمتګار تحریک پوځ په یو شکل او بل شکل بله وه.

د مغلو خلاف د ایمل خان، د ریا خان اپریدي او خوشحال خان خټک هلې ځلې

لکه چې بار بار لیکلي دي چې د پاني پټ د جنګ نه روستو مغل چې چا ته ځیر وو هغه صرف افغانان وو. دوی ځنې دار بدل. دا ځکه چې د دوی شیرشاه بابا او روښاني تحریک په یاد وو. او بل افغانان جغرافیایي موقعیت د اسې وو چې د مغلو اصلي ټاټوبی یعنې مرکزي ایشیا او هندیه مینځ کښې پراته وو هر وخت ځنې خطره وه. او بل روښان کرخه هم جنو بسي وزیرستان کښې زیږیدلے وُ، مګر سیاسي میدان یې ګندهار او ننګرهار پاتې شوے و، نو دې پښتنو قبایلو کښې یې سپین کي (سپرغی) پاتې وو. که څه هم مغلو پښتانه ډېر خراب کړي وو، په پیسو او منصبونو باندې یې عادت کړي وو، مګر بیا هم د مغلو او پښتنو هډوکی سره مات وو. نو د دوی نزدېښت نه دبدی امکانات زیات وو. دیوې محمولي واقع نه به هم د دځنګل اور جوړ شو.

همدا سې یوه واقعه د سنا تور محمد امین خوګیانی بیانوي:

خوشحال بابا د ایمل خان مومند متعلق شعر کښې وایي :

دایمل فتور آغاز شو د مومندهم عنان شو

سنا تورصاحب لیکي : د دې قیصې آغاز داسې وشو؛ «کومه یوه کوجره وه ، دې کوجرې مستې راوړې وې په کونړ کښې . هغه یې خرڅولې په څوکه کښې . یو سپاهي دا کوجره وسکونډله . هغه ساعت کښې ساپې ولاړوو، دا سپاهیان یې ووهل . ساپیان لاړۀ کلي ته . کلی په کلی به کرځېدې چلم به یې څکۀ ، ویل به یې په تاسو مو ننګ خوړلے دے ، په کوجره . هغوی ورسره یو ځاے شول، تانه یې ووهله د پښتنو او مغلو ترمنځ لوے جنګ جوړ شو. په تاتره باندې څلوسښت زره مغل تار په تار شول. کډې یې بندې پاتې شوې ایمل خان د مغلو سره ډېر جنګونه وکړل . په هغه جنګ کښې ایمل خان پاچاشو په څرمن باندې یې مهر وواهه.»

لکړچې پښتانۀ متل کوي : « د لمدو خټو لړې او بۀ دارو (کافي) وي » همدغه حال د مغلو او د پښتنو وو چې دوی د مرګ او پیشو لوبه روانه کړې وه . ایمل خان سره دریا خان اپریدے هم مل شو. نو دوی مغل وډبول . دغه داسې وخت وچې دَڅۀ هم داسې طمع نه کېدله ، دا ځکه چې پښتانۀ مغلو ویدۀ کړي وو. د ملکه نشه ځنې تلې وه، صرف

د مغلو پړ تال یه ګرځېدل، نو د اسې نا اُمیده وخت کښې د ایمل خان او دریا خان غوندې خلک پیدا کیدل د قوم پرستو د پاره لویه ډاډګېرنه وه، چې د خوشحال غوندې حساس سړي باندې یې ډېر اثر وکړو.

له دې جګړو نه مخکښې مُغلي ګورنر خانی، لوی بابا خوشحال خان بې ګناه نیولے و. څوک وایي چې بادشاه اورنګ زیب د اټک مالیه مسوخه کړې وه، په دې باندې اکوړیان خفه وو. مګر حقیقت د غه وُو چې د غه صرف مالیه نه وه بلکې نور ډېر علتونه یې وو. صرف یو خوشحال خفه نه وو، بلکې ډېر پښتانهٔ مشران د دې مالیه په وجه خفه وو.

امیر خان خوانی اورنګ زیب ته ویلی وو چې ستاسو په فرمان ځکه عمل نه کېږي چې ستاسو ډېر لوی لوی خلک پکښې دي. بادشاه ورته اجازت ورکړے و، نو ګورنر خپل دښمن خوشحال خان نظر بند کړے و، چې د غه نور به وډاروي. چې دې کښې د خوشحال بابا خپله کورنۍ هم ګناه کاره وه. حقیقت د غه و چې خوانی ډېر پښتون د ښمنه سړے و، او د خوشحال نه ورته خطره وه. ځکه چې خوشحال په دربار کښې ډېر ملګري لرل. مګر بیا هم مغلي ګورنر ویده پښتون وبښښ کړو او د وئ یې جنوری ۱۶۶۴ء کښې پښاور کښې ونیولو. اپریل کښې ډهلي ته بېړو کښې ورسېدو. لنډ میاشتې ډهلي

کښې و. بیا ئې جنوري شروع کښې (۱۶۶۵ء) رتهمبور ته ولېږلو هلته قلعه کښې شاهي قیدي شو. دې میخ کښې د بابا ملکري دربار کښې په دې برشول چې بابا بې قصوره د بادشاه مخ کښې ثابت کړي او مې ۱۶۶۶ء کښې یې د نظربندۍ نه خلاص کړو اود دري کاله نظربندۍ نه پس اګست ۱۶۶۸ء کښې پښتونخوا ته واپس راغلو.

اوس بابا وینې شوے ؤ. د مغلو نه یې زړه شین وا که څه هم مغلي کوندان یې ځنې ملګري وو او د بابا درهایۍ یې کوشش کړے و. مګر د بابا زړه د اسې مات و چې د مغلو د پاره بېرته د خدمت جذبه ګرانه وه. او بل روایتي دښمنان یعنې یوسفزو او اوس د اسې د پښتو او پټ کارونه کړي وو چې د بابا د پاره مشکله وه چې د مغلو د پاره د یوسفزو خلاف بیا توره پورته کړي. چې د لنګرکوټ مخالفت یې څرګند مثال دے.

د لنګرکوټ متعلق بابا وایي:

لنګرکوټ مغلو ساز کړو

زۀ په ننګ بیا د افغان شوم

که یوسف وو که مندړ وو

زۀ د وارو نګهبان شوم

ځینې خلک وایي چې د خیبر په جګړه کښې خوشحال خان

د مغلو ملګرتیا او بدرګه کړې وه . که سړے ورته د هغې وختو حالاتو او خوشحال باباسره د نواب امین خان ګورنر کابل بنګړې په نظر کښې ونیسي ، نو بیا به د بابا بدرګه یاورسره ښکه به ور معلوم شي .

د بابا د مغلو خلاف دښمني اول سرکښي ذاتي او شخصي وه . ولې پیدې چې د دوئ د مغلو نسلونه نسلونه خدمتګارے و ، د د اسې بدلې خیال یې نه و چې د مالیې په پلمه به بادشاه او ددهٔ ګورنر داسې کارونه کوي چې خپل روایتي دوستان اکوریان به داسې بې عزته کوي .

د راهدارۍ متعلق د بابا لمسے ښاغلے افضل خان خټک "تاریخ مرصع" کښې داسې لیکي :

« مطلب د امیرخان هم داؤ چې که یو لوے سړے قید کړم ، چې نور پرې وویروم چې راهداری منع کړم او که نه په بل رنګ به پښتانه داګار ونه مني . »

بل ځاے لیکي : « بادشاه له چې ورغے ، بادشاه ورته ووے چې رهداري دې منع کړے ده . ورته یې التماس وکړو ، چې راهداری هسې نه منع کیږي ، څو د زبردستۍ عمل ونه کړم . بادشاه ورته ووے چې نه ولے د زبردستۍ عمل نه کوې . وے وے ، په دا سبب چې د تا عمده زمیندار دے بې د تا د حکم په هغو زبردستۍ کولے نه شم . بادشاه ورته ووې ؛ ما حکم درکړے دے ، هر طور چې

د تا کار کېږي هسې کوه. په داشان مبهم عرض يې اوکړو
جواب يې بيا موندہ ،،

د دې نه صفا معلومېږي چې گورنر امیرخان خوانی
اورنگ زیب تہ د خپل د شمن خوشحال بابا خلاف دکارروائۍ
سپروا نہ واخیستہ. مگر بابا دومرہ ورکوټے سپے نۍ
چې امیرخان خوانی او د دۀ ملگرو هضم کړے وائ. دوه
درې کاله خو يې بابا پۀ عذاب کړو، مگر د دې سره د مغلو
خلاف چې کوم توپان راپورته شو د هغې اثرات مونږ ويني.
بابا اوس وينې شوے ؤ، د ذاتي مفاد اتو په ځائ يې ملي
سوچ اړخ تہ پام شوے ؤ او دسترگو پرد ې يې خلاصې شوې
وې او د مغلو په هريو کار يې سوچ کولو، نو زد ورتہ د دوئ
پټې ناکړے معلومې شوې. روستو مغلوکوشش کولو
چې د دې نقصان تدارک وکړي، مگر اوس ناوخت ؤ.
که څه هم بابا يکدم بغاوت ونه کړو مگر passive عمل
يې شروع کړو. يعنې د مغلو بېرتہ خدمت نه تو به.

د يوسفزو متعلق سوچ او پښتون او مغل دښمنۍ
تہ يې اوس په بله سترگه کتل شروع کړل. د خيبر اوتاترې
جگړې متعلق بابا پخپله وائي چې:

« يوصافي جينۍ د کونړ فوجدار حسن بيگ خان
د عسکرو له خوا بې عزته شوې وه، په دې باندې د صافي

قوم خلقو عسکر مړۀ کړل او فوجدار حسن بیګ خان حملې هم ناکامې شوې، په دې باندې د صافیانو، اپریدو، مومندو او شینوارو د مغلو خلاف تړون جوړ شو.

په دې وخت کښې د صوبه کابل صوبدار ګورنر ښاغلی مهابت خان په ځای ښاغلی محمد امین مقرر کړے شوے و، چې مهابت خان او محمد امین خان دواړو د بابا د خلاصون کوشش کړے وو.

بابا وائي:

آفرین د میر جمله په زړه باندې
چې نن دے د میر بخشي په استقلال
کۀ هزار توري جمدر غشي وریږي
دۀ نیولے دے زما په سر خپل ډال

او افضل خان لیکي: "دے د محمد امین خان په تلاش د رنتبور له کوټ نه د خدای په عنایت خلاص شۀ"

نو ځکه بابا هم د محمد امین چې اوس د صوبه کابل ګورنر ؤ، د دۀ بنګړې یې پۀ زړۀ وې، ددې مطلب قطعاً دغه نه ؤ چې د بابا زړه د مغلو سره ښه ؤ. دلته صرف محمد امین خان ګورنر خپل شخصیت و. چونکه د صوبه کابل ګورنر صوبیدار به اوړي کښې کابل اوژمي کښې پېښور کښې ؤ، صوبیدار نواب محمد امین خان په سپرلي ۱۶۷۲ء کښې د کابل دپاره روان شو،

چې ورسره د خلیل مومندو اربابان، ځنې اوکزي مشران او نانړه خوشحال خان بابا ملګري وو. د مغلو خلاف د پښتنو لښکرمشرګیري ایمل خان مومند او دریا خا اپریدی په لاس کښې وه. دوئ مغلو ته خیبر اولواړګئ (لنډي کوتل) نیولے و.

افضل خان ددې متعلق لیکي: "چې څۀ وخت د محمد امین کوچ بشۀ، شنواری او مهمند چې د خیبر حد حدود د دوئ په جمع یې لښکر وکړ په خیبر کښې د غریب خانې غاښې ونیوه، نور پښتون هم کم کم ورسره وو. محمد امین خبر شۀ، ملک مستجاب ارباب دیپښور او نور سرداران د پښتنو دافریدو د اورکزو چې ورسره وو واړه یې مصلحت و پښتبدل، په سبب د محمد امین د غرور عالم واړه راضي وۀ چې که چشم زخم دۀ ته ورسي او له ملاحظې هم هغۀ وویل چې د دۀ د مرضي موافق وو، پس تر یې خان علین مکان تنها خلوت ته وباله، پو سبتنه یې وکړه چې څه مصلحت دے - هغه اوان کښې چې خان علین مکان قید وه محمد امین نیکي ورسره کړې وه په دا صوبه کښې چې وه په سبب د شرم دست ګرفتګی رعایت یې ورسره کولو، ځنې راضي وۀ دا یې ورته وویل ؎ بیت

که با هیچ ناداشت کشتی میگر
فریبے فرستش که طاعت کنه

ستاشان د دیو سره د مقابلې نه دے، نه بویه - د دوئ

سهل عالم دے ، دا ساعت یې وغلوه چې له لاری تفرقه شی
چې بیا تر خیبر تیر شي هغه چې پوهېږي هغه کړه . بیا اراده
دالهی څوک جاریستے شي . د دهٔ په زړه دا تدبیر بد ولګېد
بیت : چو بخشش نگون بود در کاف دگن
نه گر آنچه نیکانش گفتند گن

ورته یې ووے چې خوشحاله یو سړے و چې سر دے وهلے
مار یې توبر ه کښې واچوهٔ ، چې گرم شهٔ، بیا هغه سړے یې
وچیچه چې مادِ تاسره نیکی کړې وه - تر ما وتر دا هسې
مصلحت بښیے. زه به بادشاه تر څه خواب کوم، چې له دې
هسې بد سګانو هراس وکړم . دے هم له خپله هراسه له
هغه خبرې واوښت - له د هشته یې ورته وویل چې هرګاه
تهٔ پهٔ دا راضي یې ، زهٔ دوپاندې ته را پسې - آخر یې کوچ
وکړ ،،

د دې نه معلومېږي چې بابا رښتیا ورته ویلي وو
او په صوبیدار یې زړه خوږ بدهٔ ، مګر مغلی گورنر د بابا
د مصلحت نه بالکل بل څهٔ مطلب اخستے ؤ. نو ځکه یې بابا
تر د مار مثال ورکړے و. که چرې صوبیدار تر بابا ویلی
وے ، چې پروا مه کړه پې ورځه ، نو دغه به د بابا باوفایي
وه . مګر بابا ورته سپیرهٔ حقیقت وویلو. نو ځکه نواب محمد
امین خان گورنر صوبه کابل د اسې وهل یې وخوړل چې هرڅهٔ

عزت، ناموس، پت، دولت، حیثیت هرڅۀ یې وبایلل.

چې څه وخت گورنر په خیبر ورمارچ شو، نو د هغه لښکر څلویښت زرو نفرو باندې مشتمل و. اول ارباب مستجاب مومند لښکر یاتو ته ورغلے و، او د رنگاولو یې وړته ویلي وو چې لښکر پنگ کړي، مگر ایمل خان او دریا خان دې ته تیار نه وو. آخر د مغلو د پوج او پښتنو ترمینځ لنډۍ کوتل کښې (خیبرکښې) خونړے جنگ شروع شو. پښتانهٔ داسې په مېړانه وجنگېدل چې د مغلو فوج یې تار په تار کړو. د صوبیدار لوړه، زامن، ښځې حرم، زومان هرڅۀ دلاسه ورکړل. څوک مړۀ شول، څوک د پښتنو قیدیان شول. د مغلو بیگمانو خیبر کښې کوکې وهلې، څوک نه وو چې دوئ یې خلاص کړي وای. مغلو یوه پښتنه صافه بې عزته کړې وه د هغې په بدل کښې پښتنو په هزارها مغلې بیگمانې ونیولې. په مغلو باندې د خدای قهر نازل شو. څوک وایي چې مغلي څلویښت زره فوځ مړ شو. ځینې ربړ پوهنه وایي چې نه دَدوئ ټول تعداد څلویښت زره ؤ. د دې جنگ عینی شاهد خوشحال بابا داسې خپله روزنامچه کښې لیکي "چې په غره د محرم سنه زر درې اتیا لښکر د محمد امین خان په خیبر کښې ډوب شۀ، زه او مستجاب د واړه ورسره وو. د تهترو په لارې راووتو، پشاور لره راغلو. محمد امین د څو سورو سره

دعلی مسجد په لاري پشاور لره راغلو. تمامه خیلخانه حشم
يې پاتې شول. مورې خورې لورې خادمان واړه بندي شول.
عورته يې ومړه، زوے او اخښئے يې ومړل. زه سخت
بیمار وم. دتهتر و پرغرونو کښې کله پلے کله سور راتلم.
ډېر په ځان شوم - اشرف خان م محمد امین لره واستوهٔ
خوار زار حیران ناست وهٔ، اشرف خان نه يې پوښتنه وکړه
ورتر يې ووې چې دِ ما سلام هم پلار تر وو ایه چې ښه چې
روغ راغلې. له بیماری د ې خدائے صحت درکا - که څه طاقت
لرې تر ما پورې راشه. ورنه راغلم، پرکټ باندې پروت وم
اشرف خان هم رور ترکوره رسولم - په نوشهره کښې په بسیرۍ کینا ستم
عالم سره برهم درهم شهٔ. دمغل پښتانهٔ سره اعتبار ولاړ.
قصیده په هغه وخت داوه:

بیت چې دانا تر نادان لاوژ نې بتر
مګر نه دے داژوندون څهٔ معتبر

مستجاب وتر م په خیبر تهتر وکښې ووے چې زوراور
کار پیش شهٔ یو مصلحت سره اوکړو - دا ناقباحت مهم وهٔ -
دا يې وویل چې ښه بیا به سره وکړو. دا بیت په آخر ددې
قصیدې دے:

بیت مستجاب مُهمند که چرګه دمُغل ده
زهٔ خوشحال خټک خو بان یم ځائے مې غر

د بابا د ډاټرۍ نه معلومېږي چې پښتنو په مغلو باندې کوم حال جوړ کړے و. مګر دلته هم مستجاب ارباب د مغلو د حلوا تال په طمع و. بابا سره يې هيڅ مصلحت نه کولو. دا سې معلومېږي چې بابا د مُغلو نه خفه و، خو يو خاص پلان يې تردې وخته نه لرلو. او يا په بله معنیٰ د سرکارۍ پښتنو د خپل اولس نه هيڅ دا سې طمعه نه وه چې دا سې کارونه به په مغلو کوي. دغه کار ناڅاپي شوے دے. ايمل خان او دريا خان خو فوجي برے وموندہ، مګر د پرپاګته يې حئني وانه حنسته، دا ځکه چې دوئ د جنګ نه پس به څه کوي؟ دا پلان ورسره نه و.

خوشحال بابا مخکښې ليکي: «نور که هر څو مغلو بلم نه ورتلم، ورته مې وويل چې د ما اولس هم واقعه طلبدے چې به فساد وکا. د خپل ولس په بند وبست مشغول يم. اشرف خان دوه ځله پښاور ته ورغلے وۀ، محمد امين خان بنډېره مهربانۍ پرې کوله. زۀ په نظام پورکښې ناست وم. په دا ميځ کښې فدائی خان خزانه راوړه - د ما اولس ته وويل چې خزانه به وهو. ماوته وويل چې د مغل پښتا نۀ خو اعتبار يا تو نه شۀ - زۀ اول هم د مغلو داغونه په زړه کړم چې بې تقصيره يې په قيد کړم - ولې نمک حرامۍ کېږي - څلويښت پنځويشت کاله څلور پنځه پښته ما د مغلو نمک خوړلے دے،

خزانه یه وهم . القیصه فدائی خان لره اشرف خان داتګر سینده پوري ورغی . خزانه یې ورسره پوري کړه . پښاورته ته ورسیده د اشرف خان تلق یې ډېر وکړ ، سرو پاے یې ورکړو ، را رخصت یې کړو . چې فدایي خان پښاور لره ورغی ، مستجاب یې وواژه ، ملکان د مهمند و مالره راغلهٔ بازید خان ددهٔ ترهٔ ورسره و ، ما هم پهٔ تنګ د پښتانهٔ زاهو زاد له سرایه راووست نظام پور لره م راووست . قصه م داتګ دنیوو وکړه ، چې اتګ به ونیسم ، لار به د پښاور بنده کړم . مغل به خود هلاک شي . په دا مینځ مهمند واړه بیا مغل لره ورغلل چې اوس بوچه خان د مستجاب ترهٔ په خدمت د دولتخواهي د مغلو ملاوتړ له . زهٔ حیران شوم . مهابت خان صوبه بیاموندہ ، د دهلي نه را روان شهٔ پیا پے مالره یې کښل راستول چې زه خو د تا په ملکري نازبږم مالره په مخه راشه چې د ملک بندوبست مصلحت سره وکړو . ما خو یوه پهٔ زړهٔ کښې نیولې وه . د مغل د نوکرئ مزے م په زړهٔ کښې شلولے و . ورته م هرچې راست درست وو وکښل او دا رباعی م ورته په فارسي کښې وکښه :

گفتم که مغل شوم به شمشیر زدن افغان را کز بس بریدم گردن
آخر نشدم همان افغانم حیف است به کس کوشش بی جا کردن

محمد امین خان هندوستان لره روان شهٔ ـ ملاحظه یې
وپره کوله چې ورته ویل چې خټک به دې د اټک په ګودرکښې
تالان کاندي ، اما دِ ما پهٔ نړه کښې بې له نیکۍ د دهٔ سره
نور هیڅ نه وو. په داسبب چې زهٔ داورنګ زیب په قید کښې
وم ، احسان یې راسره کړے وهٔ. د خیبر په تلو مِ نصیحت ورته
کاوهٔ ، هغه ورځ چې د پښاور لرښهر یې کوچ وکړ ، په باغ
بادشاهی کښې دېره شهٔ . زهٔ یې خلوت لره د بلم ، پو ښتنه
یې را ځنې وکړه . ما ورته عرض وکړو په هرشان چې شي
د پښتنو سره مخالفت مه کړه ، دا زمان په هر رنګ آشتی
ترمیان کړه چې دې جنګ په خیبر کښې ونه شي ، هغه عالم
د تا د مقابلې نهٔ دے . که ما ورته ښه نصیحت وکړو مګر دهٔ
راته مثل وکړو چې خوشحاله یوکس وهٔ چې ماد یې ساړهٔ وهلے
په توبره کښې واچوه ، چې ګرم شهٔ بیا یې هغه سړے وچیچهٔ .
له تاسره ماینګي وکړه ته ماته داهسې بدراهی ښیئ ، بادشاه به
ماته څهٔ وایي چې دے پښتنو ډېر ووېروهٔ . نورچې دا
یې وویل دِ ما هلاحظه وشوه ، ورتهِ وویل چې هرګاه
نواب جنګ بهتر کښې اول زهٔ پسې نواب . وې نه مانهٔ
ولاړ شهٔ ـ په ازل ورسېدل وو ورسېدهٔ ، ګنه ما د
نیکخواهۍ تقصیر ونهٔ کړو.
غرض کښل مِ ورته اوکړهٔ چې نواب دې خاطرجمع لري په اټک

به هیڅ آسیب نۀ وي. راغے تر اټک پورې ووت پېر انتظار يې وکړ چې يو زوئ دتا راشي چې راسره وو بينو، څه به ورته ووايم. د اشرف خان رضاوه که ما ورواستوي، ولې د ما ملاحظه کېده، نه م ورستاوۀ. سعادت و ته م ووے - هغه ځان بيچاره کړۀ - بهرام بد فرجام وته م ووے محمد امين تر سينده پورې وتلے وۀ. به هرحال ولاړشۀ،

د خوشحال بابا د ليکنې نه دا ثابته شوه چې نواب محمد امين سره دوئ ولې تلي وو. دغه صرف او صرف د نواب صاحب د نښېګړې په ځای کول وو چې د هند دبند په دوران کښې يې د بابا سره کړې وه. مګر خوشحال بابا د مغلو خلاف و، مګر دا سے کار وينو ته چمتو نه و، لکه خزانه لوټل او يا خپل پخوانے يار نواب امين تالا کول. خوشحال خان يو نوبل Noble د ښمن و. د روښانی عبدالقادر محاصره د پښاور او بيا د خيبر اولوارګی جنګ په مينځ کښې پېر وخت نه ؤ تېر شوے. د عبدالقادر د خلافت وخت ۱۶۲۲ء نه تر ۱۶۳٤ء پورے ؤ، دا سې ښکاري چې که څه هم په نوم روښانی تحريک پاتې نه ؤ، مګر پښتو کښې د روښانی تحريک جذبه يا مړانه وه. کېدا ے شي چې د پښاور محاصرې خلک هم په دې جنګ کښې وو، چې دوی به هغه وخت نوي نوي ځوانان شوي وو ولې په دې چې دغه جنګ ۱۸-۱۹ او ۲۰ اپريل ۱۶۷۲ کښې شوے وو.

دلته بیا خوشحال بابا لیکي:

« یوځمدامین خان په واحد صورت هغو پښتنو جمعدارانو دخیبر په لارې روان کړو، پښاورته یې ورساوه، نور مالونه خزانې حشم خدم، فرزندان، محلونه هرچې ورسره وو، داوړه دتمام لښکر پاتو شول.»

هُم دغه لوبه په ۱۸٤۲ء کښې په پر نګیانو وشوه چې یو ډاکټر برائیډن نیم ژوبل حالت کښې ځنې پاتې شوے و.

اوس دپښتنو او مغلو په منځ کښې اعتبار پاتې شوے نړۍ، یو بل د موقع پهٔ تلاش کښې وو. دریا خاو ایمل خان خپلو کارروایو تر دوام ورکړو، بس څه وو یو نه ختمیدونکے لام دمغلو او پښتنو تر منځ شروع شو. که څه هم مغلو خپل تجربه کار سړے مهابت خان بېرتر دکابل دصوبې ګورنر کړو. دبابا ملګرے هم و، مګر بابا اعتبار نه پهٔ کولو. دا ځکه چې یو خو بابا په رسښتیا د مغلو مخالف شوے و او بل دمستجاب مومند ارباب انجام یې لیدلے و. بس اوس خوشحال بابا ذهني دې نه تیار و او ځکه یې ځان دملي غورځنګ سره ملګرے کړے و. که څهٔ هم دغه غورځنګ دهٔ نړۍ شروع کړے. مګر دغه دپښتنو خوش قسمتي وه چې بابا دغه وخت مغل دښمن شوے و، او زمونږه تاریخ یې روښان کړو. که بابا دلته دَ اخون درویزه لول لوبولے وائے، نو کیدائے شوه چې دایمل خان

او د ریاخان دغه خوانمردی په یو بل شکل کښې تاریخ ترور سپارلے شوے وائ . دا ځکه چې ددوی دغه واقعات پخپله نهٔ دي لیکلي او نه یې لیکلا ے شول۔ نو دغه به تیارو کښې پاتې شوی وائ، مګر ددوئ خوش قسمتی وه چې لوی نابغه خوشحال بابا دوئ ژوندي کړل او ددوئ په بهادری فخر کوی :

ایمل خان دریا خان دواړه مړک یې مه وائ
هیڅ تقصیر دواړو ونه کړو وار په وار

د خیبر دره یې سره کړله بیو بینو
په کړ په یې هم روان کړو د ندوکار

پنځه مشهورې جګړې شوې دي چې (۱) د تاترې جنګ (۲) د وابې جنګ (۳) د نوښار جنګ (٤) د کنداب او یاکړې جنګ (۵) خاپوښ جنګ دے .

خوشحال بابا وایي :

روم بے جنګ دلوړې شا د تهترو ؤ
چې څلوینبت زره مغل شول تار په تار

د پښتنو خوش قسمتي دغه وه چې دې پاڅون کښې چې څومره جګړې شوې دي د لوی پښتون خوشحال بابا له خوا لیکلې شوې دي . د نظم او یا د نثر شکل کښې . ګڼې

خداے خبر چې د مغلو د باري تاريخ دانو به څه ليکل،
په دې ټولو جګړو کښې مشهور جنګ د علي مسجد د خيبر درې
و، چې د پښتنو مشر ګيري ايمل خان مومند او د دريا خان
اپريدي کوله. د مغلو له اړخه د کابل ګورنر مظفر حسين
چې د فدايي خان پې لقب و، کوله. اورنګ زيب مجبور
شو چې د دکن نه شمال اړخ ته راشي او حسن ابدال کښې پې
ډېرې واچولې او د پښتنو خلاف فوجي مهمانو رهنمايي
پې کوله. اورنګ زيب مظفر حسين (فدايي خان) ته حکم
ورکړو چې خيبر دره خلاصه کړه، چې علي مسجد باندې
ورته د پښتنو لښکر ؤ او دره پښتنو بنده کړې وه، ولې
په دې چې مغلو دلته ماتې خوړلې وه. (نواب امين ګورنر
کابل) دلته بيا مظفر حسين ماتې وخوړله. مغل د دره
خيبر په ځائې د بازار او ځاځوبې په لاره لاړل. د ځاپوش
په جګړه کښې مغلو ذليل ترينه ماتې د ايمل خان د لاسه
وخوړله. چې د مغلو د پوځ کمانډران مکرم خان او
شمشېر خان وو. د غه جنګ جون ۱۶۷۵ء کښې شوے و.
چې څه وخت د مغلو فوج پښتنو تيت پرک کړو، نو
د دريا خان جنرال شمشېر خان قتل کړو او مکرم خان
درې ځايه سخت زخمي شوے ؤ، د باجوړ په لاره
وتښتېدو، چې څه وخت د دې Disaster تباهۍ خبر

اورنګزیب بادشاه ته حسن ابدال کښې ورسېدو، نو
ډېر وار خطا شو. همدغه شان خوشحال بابا د اپریدو
او خټکو په کومک په نوښار حمله وکړه چې مغلو او ددهٔ
باغي زوئ بهرام لښکر ته یې ډېر تاوان ورساوه. پهدې
دوران کښې د دریاخان افریدي ورور تاتارخان په مشر
ګیرۍ قوم پرستو پښتنو په کوهاټ حمله وکړه. چې
دې جنګ کښې بنګښو د مغلو طرفداري وکړه، قوم
پرستو ماتې وخوړه. تاتارخان د شیرمحمد بنګښ د غداري
په وجه شهید شو، مګر د اخور دري یوبل جنګ کښې
اپریدو د مغلو او خټکو مشترکه قوج ته ماتې ورکړه،
چې اشرف خان خټک، د خوشحال بابا مشر زوئ د مغلو او
خټکو د فوج مشر ګیري کوله. همدغه وجه وه چې خوشحال
بابا خپل اولاد، خاصکر بهرام خان او اشرف خان خپلو نظمونو
کښې کنځلې اوغندلے دی.

د پښتو نخوا خاوره اوږمکه د مغلو د پاره نوده تیغه
جوړه شوې وه. هرځاے په مغلو حملې وې. ستمبر ۱۶۷۵ء
کښې اورنګزیب بادشاه تر حسن ابدال کښې یوبل زړه ماتې خبر ورسیدو
د ځګدلک تابنی مشر هازبرخان او ددهٔ زوئ او وړسره نټول
فوځ یې د پښتنو د لاسه مړ شوی و. دلته په مغلو باندې غلجي
پښتنو قبایلو سره ورځ نوره شپه کړې وه. د جلال آباد-

کند مک اوجګدلک کښې سخته جګړې روانې وې، چې مغلو باندې تندر پریوتے و. او بادشاه ډېر وارخطا ؤ.
خوشحال بابا غلځوبو ته ډېره شاباسي وايي او خاصکر هغه میړانه چې دوئ دجګدلك تاپې ته مغل ندوو پرې ایښې او دوی یې وار په وار په شاتمبولي اومړۀ کړي وو.
یوه بله جګړه دګوم بت وه چې شېرمحمدخان بنګښ خوشحال ته ماتې ورکړې وه، مګرزرې خپل بدل واخیستو بنګښانو ته یې ماتې ورکړه او د بنګښو ډېر کوټونه یې ړنګ کړل.
دغه کار په ۱۶۷۶ء کښې شوے ؤ.
دقوم پرستو پښتنو آخري فتح په مغلو او د دوئ دوستانو پښتنو باندې په دو آبه کښې په ۱۶۸۰ء کښې شوې وه. څۀ وخت چې اورنګ زیب ولیده چې دخوشحال خان او دده د ملګرو فوجي مقابله ګرانه ده، دروا یمتی پښتنو دکمزورو نه فایده واخسته، یعنې دولت، رشوت او منصب یې ورسم کړل. اوبل د دریاخان او ایمل خان مرګ هم دغه قومي تحریک ته ډېر زیان ورساوه. خوشحال بابا بوډا ؤ اودخپلو فوجي جنرالانو دمرګ په وجه یوازې پاتې شو. چې بل اړخ ته ورته دښمن مغل او بې خونده سرکاري یا مُغلی پښتانۀ وو. دې لوے پښتون په سنه ۱۶۸۹ء کښې حسن خیل افریدي د امباړه موسیٰ دره کښې دجمعې په ورځ ساه ورکړه.

ژوستو اولاد د بابا مړے اکوړي ته ړوړو. اسوری با لا ، چې د اکوړي نه شپږ کیلومتره لرې يې خاوروته وسپارلو.

دغه لوے پښتون چې اوس په بله اتوب کښې انقلابی شوے و، د نیمګړو ارمانونو سره زړه ماتے خاوروته لاړو. د شمالي پښتونخوا د پښتنو هلې ځلې د یوملي حکومت جوړولو او مغلو د ژغ نه د ځان خلاصولو قسمت يې نه ؤ. دغه بخت او نیکمرغي د جنوبي پښتونخوا د پښتنو په قسمت کښې وو، چې دوئ نه صرف د صفوي د ژغ نه ځان خلاص کړو، بلکې د یو ملي حکومت بنسټ يې کیښودو، چې روستو دغه حرکت د افغانستان د جوړولو موجب شو.

اوس بډ پیښور په ځای قندهار ته راشو او د میرویس نیکه په ملي او ولسي غورځنګ په بحث وکړو:

میرویس خان هوتکي او صفویان

لکه څرنګه چې معلومه ده چې شیر بابا همایون د هند نه فراري کړو، نو ایران کښې همسایه شو، نو بیا ورو سته يې د هند تخت د ایران په کومک بیا واخستو. کیدای شي چې د دوی تر مینځ څه لوظونه شوي وي. اول سرکښې مغلو د قندهار نه تر کابله پورې علاقې خپله عملداری کښې شاملې کړې. په ۱۶۲۲ء کښې ټوله د قندهار- کابل اوغزني

علاقې ما سوای د هرات نه د مغلو په قبضه کښې وې.
د شهنشاه جهانګیر په وخت کښې د دې ګورنر شاه بیګ
دې سړي دیوسفزو، مومندو پښتنو خلاف ډېر جنګونه کړي
وو. د دې بدل کښې مغلو د دې علاقې واکدار کړو. اکبر
بادشاه د کندهار اوغزني والي کړو. په ۱۶۰۵ء کښې اکبر مړ
شو، د دهٔ زوئ جهانګیر شاه بیګ په خپل ځائ پرېښود و.
۱۶۰۲ء کښې د بیمارۍ په وجه مستعفي شو. او اشرف خان نومے
د کندهار ګورنر شو. (۱۶۲۲ء) خوشحال بابا وايي:

بیا دې څهٔ فتنې آغازې کړې آسمانه!
چې عباس دې راروان کړو لهٔ ایرانه

په ۱۶۲۲ء کښې شاه عباس صفوی پخپله دیولوئ فوج سره
د کندهار د فتح کولو په غرض راروان شو. د کندهار والي (ګورنر)
اشرف خان د بادشاه جهانګیر نه مدد د خواست وکړو. د
ملتان ګورنر تیار ؤ، مګر جهانګیر منع کړو، وے ویل
چې د بادشاه مقابله به بادشاه کوي. چې دے د هند نه
راتلو شاه عباس قندهار فتح کړو. دغه شان زمونږ
غلجی او ابدالي پښتانهٔ د مغلو په ځائے د صفوی ترعلداری
لاندې راغلل. د شاه عباس د کامیابۍ وجه یوه دغه هم
وه چې د پښتنو خیال ؤ چې د مغلو د ذلیل سلوک نه به د
ایرانیانو چلن د دوئ سره د برابرۍ په اصول وي. چې

د شاه عباس په وخت کښې په دې پوره پوره عمل کېد و، مګر د ایران ګورنر رو ستو د دوئ سره هغه مغلي سلوک شروع کړو. دوئ یوه جرګه شاه عباس ته بوتله او ورته یې شکایت وکړو. شاه عباس د دوئ درخواست منظور کړو. د دوئ خپل مشران یې حاکمان مقرر کړل چې د یو نوم سدو (د سدوزونیکهٔ) و. د هغه بل نوم محمد ؤ چې د بارکزي قبیلې نه یې تعلق درلوده.

د شاه عباس پهٔ زمانه کښې پښتانهٔ په آرام وو. مګر د دهٔ د مرګ نه پس ۱۶۳۷ء کښې د دهٔ نمسے شاه صفوي په تخت کیناستو. دا بادشاه ظالم، سخت ګیر او غیر مستقل مزاجه ؤ. په دې وخت کښې جهانګیر هم مړشو، د دهٔ زوئ شاه جهان (اکتوبر ۱۶۳۷ء) تر نوم لاندې د هند بادشاه شو.

شاه صفوي یو حریص پاچا ؤ، دهٔ به د خپلو حاکمانو نه ډېر په ذلیله طریقه دولت را ټولولو. پهٔ څهٔ پلمه به یې دربار ته وغوښتل، بیا به یې ځنې دولت واخیستو او دوئ به یې مړهٔ کړل. همدغه شان دوئ دکندهار ګورنر علي مردان ته دربار ته د حاضرېد وخبر ولېږلو. علي مردان ته خو پته وه چې دے څومره ذلیل بادشاه دے، نو په ځائ د دې چې ایران ته لاړشي په پټه یې د هند بادشاه شاه جهان سره خط وکتابت شروع کړو. همدغه شان د

ایران په ځائې هندته لاړو. کندهار یې مغلو ته وسپارو. شاه جهان د دوئ ډېر قدر وکړو. په ۱٦٤۱ء کال شاه صفوي مړشو او د هغهٔ زوئ شاه عباس ثاني په تخت کښېنا ستون د ماشوم والي نه یې د کندهار دبېرته فتح کولو اراده وه، او بل پښتانهٔ د مغلو نه خفه وو. نو دئ پخپله راغے د پښتنو ملک قندهار یې بېرته د مغلونه قبضه کړو. کهٔ څهٔ هم شهزاده اورنګ زیب ډېر کوښښ وکړوچې قندهار قبضه کړي، مګر پښتنو او ایرانیانو د مغلو منصوبې پهٔ کډه شنډې کړې. شاه جهان د اورنګ زیب په ځائې یو بل زوئ دارا شکوه کندهار ته ولېږلو. د دهٔ سره لوئ فوج وُ. دې فوج بېرقندهار حمله وکړه، مګر د ایرانیانو او پښتنو لښکر ته دَشهزاده دارا شکوه فوج ټینګ نهٔ شو. کابل ته بېرته ستون شو.

مغلو د قندهار د نیولو اراده پر ښبوده. ایرانے بادشاه د پښتنو نه ډېر خوشحال و. دوئ ته یې انعامونه ورکړل او سالانه خراج یې هم نیم کړو او داخلي خود مختاري یې ورکړه.

د شاه عباس ثاني په وخت کښې قندهار کښې امن و. مګر کال ۱٦٦٦ء کښې بادشاه وفات شو او شاه سلیمان د هغهٔ پهٔ ځائې بادشاه شو. دغه هم شریف بادشاه وُ. دَ پښتنو سره یې رو یه ډېره ښه وه، مګر دے هم په ۱٦٩٤ء کښې وفات شو. دَ دهٔ زوئ سلطان حسین د ایران پاچا شو. دغه ډېر سخت متعصب،

وهمي او آرام پسند و. دَدهٔ پټل واک دملايانو او خواجه ګانو سره ؤ. بادشاه دشيعه ملايانو په لمسون دپښتنو سره زيات شروع کړو. ايراني افسرانو پښتنو ته سپک کتل شروع کړل، رشوتونه اوظلمونه يې راواخستل. پهٔ دې باندې پښتنو يوه جرګه بادشاه ته ولېږله چې دهٔ ته دخپل نيکونو سلوک پښتنو سره وريادکړي. مګر بادشاه ډېر کمزورے و چې دَ درباريانو په لاس کښې ؤ. عيش اوعشرت کښې غرق ؤ. دَ پښتنو دجرګې دقدر کولو په ځائ يې دوی ولټا سپک کړل چې دَدې سلوک په وجه ايله پښتانهٔ وينې شول او ايراني حکومت او بادشاهي دَپاره دتباهۍ ذريعه جوړ شول. دا ځکه چې اوس بادشاه پښتانهٔ دمحبت په ځائ په دار سمول غوښتل. چې دغه مشوره ورته خپلو مقامي افسرانو او متعصبو شيعه ملايانو ورکړې وه چې دپښتنو ملي تحريک داوس نه ختمول پکار دي. نو بادشاه دلوئ فوج سره دستالين خپلوان ګورګين کندهار ته راولېږلو. دے په اصل کښې دګرجستان يعنې جارجيا يوعيسوي وه، چې دې وخت کښې جارجيا هم دايران يوه صوبه وه. دايران خلاف جارجي قوم پرستو چې کوم بغاوت کړے و په هغو کښې ګرګين هم ؤ. دے دايراني فوج دَلاسه قيدي شو، ځان يې دمرګه پهٔ دې خلاص کړو چې دې ويل چې زهٔ مسلمان کېږم اودبادشاه

په فوج کښې نوکس کېږم . چونکه د غه یو ظالم اوزړه ور انسان و، نو ځکه ایراني بادشاه د پښتنو د ټکولو د پاره ورته جرنیلي ورکړه او د پښتنو په قتل عام پسې ایرانیا نو راولېږلو. د مسلمانېدو نوم یې شاه نوازخان ؤ. او په ۱۷۰۲ء کښې یې د قندهار واک واخیست. د پښتنو د علاقو حاکم شو. داسې ظلمونه یې را واخیستل چې په تېرو سلو کالو کښې پښتنو د مغلو او ایرانیانو تر نه وو لیدلي . د پښتنو مال او عزت باندې یې حملې شروع کړې . د کورګین (شاه نوازخان) د فوجیانو د ظلم د لاسه ، واړه ـ زاړه هیڅوک په امن یاتې نه شول. د ده عسکرو به په زور ښځې بې عزته کولې، کورونه یې ورانول ، څاروي به یې په زور حلالول ، یعنې داسې ظلمونه یې شروع کړل چې حد یې نه ؤ.

د پښتنو د غه امید نه و چې د شاه عباس اولاد به مونږ سره د خپل یو ظالم په مکر مسلمان شوی عیسوی کورنیز په واسطه د غسې ناروا سلوک کوي. د کورګین خلاف یې بادشاه ته زاری وکړې مګر بادشاه د پښتنو یوه غوښتنه هم و نه منله. د وئ بادشاه ته وریاد کړل چې مغل د رسره مونږ په ګډه ووهل. مګر بادشاه باندې د غو خبرو هیڅ اثر و نه کړو.

چونکه د قندهار په قبضه کولو باندې د مغلو او صفویانو سیالي وه، خو پښتنو د ایرانیانو پرهٔ کړې وه. کورګین

ویل چې پښتانهٔ ډېر مغرور دي، نه ځنې باد وګټا سم.

بادشاه تر دشکایت دپاره د ریم ځل دپاره ۱۷۰۶ء کښې د پښتنو یوه بله جرګه اصفهان ته ولېږله. مګر دغه هم سپکه اوناکامه شوه. بادشاه د ګورګین خلاف هیڅ نه منل. اوس ګورګین اوده بادشاه د پښتنو کونډته سوار واچول دوئ راوینې شول او ډېر لږ وخت کښې ګرګین او بادشاه دخپل ظلم او تکبر میوه وخوړه او هغه داسې چې:

دجنوبي پښتنو قسمت ښه ؤ چې دې وخت کښې خدای جل جلاله ورله یو داسې سوړ دماغ او هوښیار مشر ورکړې ؤ. دده په عقل او صبر باندې دایرانی ګورګانی دظلم جام داسې نسکور شو چې بیا دپښتنو نه بغیر ترنګ ورځې پورې بل چا په قندهار کښې حکومت ونه کړے شو.

دګرګین نه مخکښې میرویس بابا دلته پخپله علاقه کښې حاکم و چې ورته یې "کلانتر" ویلو. افسرئ نه علاوه په غلجیو پښتنو کښې ډېر مقبول و. دا ځکه چې بابا د پښتنو په خوئ خصلت ښه خبر و. نهایت زیرک، بهادر، تجربه کار او ښه قوم پرست و. دوخت سړو او تودو نه ښه خبر ؤ. او دخپلې قبیلې ځوانان یې د جذباتي کارونو نه منع کول او ورته ویل یې چې دداسې کارونو په ذریعه موږ ګورګین ته دنور ظلم کولو موقع برابروو. لکه څرنګې چې امیرخان

خوانی دخوشحال د سیاست او تجربې نه ډاریدو، همدغه شان دګورګین به سترګو کښې میرویس بابا ؤ. دا ځکه چې میرویس بابا دبې سوې دماغې او لرې کتونکے سیاستدان ؤ او خپل خلک یې دبې فایدې بغاوت نه منع کول. پې دغه نمونه کارونه دګرګین خوښ نه ؤو.

دګرګین سیاست دغه ؤ چې پښتانهٔ بې منصوبې راپاڅوم او زهٔ یې ښه وډبوم. ددوئ دولت او عزت لوټ کړم، چې ځان بادشاه ته وفادار ثابت کړم. مګر پهٔ دې کښې میرویس بابا اړم ؤ. میرویس بابا دیو داسې پاڅون پهٔ تلاش کښې ؤ چې نه صرف ګرګین ختم کړي، بلکې دایران دغلامۍ نه پښتانه دهمیش دپاره خلاص کړي. دخپل کور او واک خاوندان یې کړي. دغه نمونه منصوبې وخت، صبر او دوور اندیشې غواړي او دغه صفتونه زمونږ بابا کښې وو. چې دګرګین چل ول په میرویس بابا برنهٔ شول، نو آخري حربه یې استعمال کړه. پهٔ بابا اوځینې نورو پښتنو مشرانو باندې یې تور و لګاوهٔ چې دوئ دایران دعمادارۍ خلاف پاڅون جوړولو. دوئ یې ونیول او دایران شاهي دربار ته ولیږل. چې څهٔ

وخت میرویس نیکهٔ دربارته ورسېدو، نو دباري کمزوري ورمعلومې شوې. دخپل سیاست او سخاوت په ذریعه یې دربارکښې ځانته ډله جوړه کړه، بیا ددوئ په ذریعه یې دبادشاه سره ملاقاتونه وشول. دګوګین منصوبې یې بادشاه ته ورپه ګوته کړې او خپل ځان یې ورته بې ګناه ثابت کړو او میرویس بابا ته ډېره زړه ورمعلومه شوه چې د سلطنت بنسټ وروست دے. صرف د زوړ وخت د بدبه باندې روان دے. نور د اسې ځوک نشته چې د حکومت کولو صلاحیت پکې وي. او دربار خو د غرضیانو نه ډک و. او یورپي خاصکر روسي اثرانو دمرک هم ورته ولګېدو. او ایرانیان په اخلاقي طور باندې غورځېدلي وو.

بابا ته معلومه شوه چې پښتانهٔ له دوئ نه ډېر ممتاز دي، خو دبې اتفاقۍ او تربور ولۍ په مرض کښې اخته دي. پکار دي چې دغو مرضونو ځینې لرې کړم. نو دایرانیانو نه آزادي اخیستل ګران کار نه دے. نو بابا کلکه اراده وکړه او دپښتنو آزادۍ اوخپلواکۍ بې خپل مقصد وګرځولو اومنته غفلت یې لویه ګناه شمارلو. شپه او ورځ یې منصوبې جوړولې

او خپل مقصد ته درسېدلو لاره یې یه پړاوونو تقسیم کړه . پښتانهٔ ژبه سمه نه وهي ځانته بلاکانی جوړی کړي . میرویس بابا په ژبه خوښ او په عمل کښې ترخ و . یعنې دَ زړه حال صرف دهٔ ته معلوم وُ، دخولې برغولے یې پوري کړے وُ .

چې میرویس بابا ته به ځوانان ورغلل او دګرګین د ظلمونو قیصې به یې ورته وکړې ، نو دَ بابا ځواب به دغه وُ چې صبر وکړئ . ګورګین پټول کارونه دَ ستا سو دَ پاره کوي . په دې به ځوانان نه پوهېدل . بابا به ورته ساده معلومېدو ، چې هغه مونږه ټالاکوي او بابا وایي چې دا زمونږه دپاره کوي .

دَ بابا مقصد دغه وُ چې دغه سنهٔ دے چې پرظلمونه وکړي او د پښتنو کونډته نسوار واچوي ، نو دوئ به هلته خپله بې اتفاقي او ورور وژنه پرېږدي . دغه کار ګورګین پېرپه سنه طریقه روان کړے وُ .

میرویس بابا ته چې د بادشاه او دربار کمزوري ورمعلومې شوې ، نو تر منصوبې لاندې او ژبې لاندې یې دګرګین خلاف کار شروع کړو . د مثال په توګه ویل به یې چې ګرګین جورجبا کښې د لږ اختیار او توان مالک وُ نو د شاه نه یې بغاوت وکړو او بیا چې ګرفتار شو

نو د ځان د خلاصه د پاره د عیسایي مذهب نه مسلمان شو. او نن صبا د دې صوبې واکمن دے او دغه سړے باندې اعتبار کول او دومره واک ورکول، زما په فکر او خیال د نیکمرغۍ لاره نه ده. او دغه سړے ځان ته ملګرے جوړوي. زه پوه نه یم چې آخر به د دې نتیجه څه وي.

د رو رو میرویس بابا د بادشاه غوږ ونه د ګرګین خلاف ډک کړل، مګر دغه کار د ۀ پخپله نه کاوه. د بل چا پۀ ذریعه به یې داسې نمونه خبرې د بادشاه غوږ ونو ته رسېدے. بلکه بادشاه پۀ دې پوه شو چې ګورګین میرویس ځکه لرې کړو چې د دۀ د آزادۍ او بغاوت په مخکښې خنډ ؤ. چې بابا ته دغه ور معلومه شوه چې د دۀ سیاست کامیاب شو او بادشاه د ګورګین نه بدظنه شو، نو بابا د باشاه نه د کندهار ته د تګ په ځائ حج ته د تلو اجازت وغوښتو.

میرویس نیکۀ حج ته لاړو، هغه نور پښتانۀ خپل ملک ته راغلل، پښتنو کښې یې د اتفاق د پاره کار شروع کړو. میرویس بابا دومره ځیرک او هوښیار و چې څۀ وخت مکې او مدینې ته ورسېدو، نو د دې ځایونو عالمانو نه یې فتوئ واخیسته چې هغې کښې د پښتنو پاڅون د شیعه ایران خلاف جایز کښلے ؤ. دا ځکه چې د بابا سره ډارؤ چې عین د پاڅون په دوران کښې ملایان خلق د اسلام پۀ نوم

ونه غولوي، چې د مسلمان حکومت خلاف بغاوت غیرشرعی دے.

د فتوئ سوالونه دا سې وو:

(۱) آیا مسلمانانو له دا جایز دے چې هر کله یې هغوئ باندې د خپلو مذهبي فرائضو په ادایګی باندې ظلم او زیاتے کېږي، چې هغوئ د خپل ځان د آزادی له پاره د حکومت برخلاف وسله او چته کړي؟

(۲) که چرې د یوې قبیلې مشرانو نه د یو کافر بادشاه په اطاعت باندې بیعت په زور اخستے شوے وي او هغه بادشاه د خپل قول او اقرار نه وجاروځي نو د هغې قبیلې خلق د یې د هغه د بیعت نه آزاد شي او که نه؟

د دې دواړو سوالونو ځواب د مکې او مدینې علماوو په (هو) کښې ورکړے و.

میرویس بابا دروغ نه ویل. حقیقت دغه ؤ چې ایرانی بادشاه د متعصبو شیعه ملایانو په لمسون په پښتنو باندې ظلمونه کول او دوئ یې شیعه مذهب ته اړولو باندې مجبورول. او دغه کار یې د ګورګین په ذریعه کولو. او بل ایرانی حکومت هغه لوزونه ټول مات کړي وو چې کوم د شاه عباس د زمانې نه د پښتنو سره کړي وو.

د حج نه پس بابا بیرته اصفهان ته راغے، د بادشاه

پهٔ خدمت کښې حاضر شو، او خاصکر د وزیر اعظم سره یې تعلقات ډېر خوږهٔ کړل، تر دې حده چې بادشاه میرویس بابا د نظربندۍ نه خلاص کړو، بلکه هغه یې بېرته پخپله عهده کلانتر (ښاروال) باندې مقرر کړو او بېرته دکندهار د ټګ اجازت یې ورکړو او ورته یې هدایت وکړ چې دګورګین په ناستو پاستو خیال ساته. همدغه د بابا آرزو وه او په دې شپږو ورځو کښې روسی زار Peter the great یو آرمنی شهزاده روسي سفیر په ایران کښې مقرر کړے ؤ، او راروان ؤ، حکومت زاري روس دې سفیرته مکمل واک ورکړے و، نو دهٔ دځان سره بې شماره عسکر نوکران او دولت راخستے و. ایرانی بادشاه د روسیانو نه یرېده او دوئ سره غم ؤ چې پهٔ دې طریقه عیسایي روسی زار د ایران د نیولو منصوبه جوړوي. او دربار کښې ډېره وارخطایي وه، نو دې سلسله کښې بادشاه د میرویس نیکۍ نه صلاح وا- خیسته. بابا ورته وویل چې وګوره دغه عیسایي سفیر د ایراني قانون هیڅ خیال نه ساتي، ځلکو کښې دولت ویشي او راتلونکی وخت د پاره ځانته ملګري جوړوي. او بل اړخ ته جارجي عیسایي ګورګین چې په مکر مسلمان شوے دے، داسې معلومېږي چې یو وخت به دغه دواړه عیسایي یو لاس کېږي او د پاره به د ایران خلاف بغاوت کوي. په دې باندې بادشاه

نور هم په میرویس نیکۍ اعتبار ي شو او د ګورګین خلاف
يې مکمل واک ورکړو.

د د بار په وجه بابا د دوئ د کمزورئ نه خبر شو
او بل د زاري روس د منصوبونه هم خبر شو. په یورپي
او ایشایی سیاسي مسایلو يې نور هم سرخلاص شو،
یعني د هغه وخت جهاني سیاست نه خبر شو، او خپله
منصوبه يې داسې جوړه کړه چې هرڅه يې په نظر کښې
ونیول. بابا اوس تش د غلجیو مشر نهٔ و، بلکې د ټول
پښتون قام غم يې کولو او سیاسي بلاغت يې سنه پوخ شوے
و. چې څهٔ وخت واپس راغے، نو صرف نه آزاد شو، بلکه
هغه عهده بادشاه ببرته ورکړه، چې کومه يې د جلاوطنۍ
نه مخکښې وه.

ګورګین سور اوروٚ چې دا څهٔ وشول چې په بېړۍ کښې
يې شاهي قیدي لېږلے و، اوس دغه دے واپس افسر
راغے. هغه هم ډېر چالاک ؤ د وخت تالاش کښې ؤ او بابا
هم اوس د جهاني او درباري سیاست لوبغاړے ؤ. بابا
په پښتنو کښې دورورولئ او اتفاق کار شروع کړو، مګر
ګورګین ته دغه چېرته منظوره وه. د بابا د سپکاوي د پاره
يې د بابا نه لور د خپل حرم د پاره د وینځې په طور وغوښته.
بابا دې ته برابر نه و، نو دلور په ځائ يې بوه ښکلې نوکره

دګورګین په واک کښې ورکړه ، خوددې هیڅ نه پته نۀ وه او نوکره د ومره مېړنه وه چې هغې حال نه وایو.
دګورګین خیال ؤ چې زۀ اوس د مېرویس زوم شوم ، یو کال د واده یې تېر شوے نه ؤ چې د پښتین ترینو د ټیکس ورکولو نه انکار کړے و. ګورګین د خپل جارجي فوج ډېره حصه په هغې پسې ولېږله - او بیا روستو بابا ګورګین مېلمه کړو. دګورګین خیال ؤ چې زه د سحرګنۍ مېلمه یم ، مګر د مېرویس بابا هغه پښتانۀ ماشومان ، کونډې رنډې وریا دې وې چې دګورګین دلاسه تباه شوي وو. بابا په ګورګین او د دۀ په عسکرو باندې ښه شرا ب وڅکل. ټول نشه شوي وو. بابا ډېر ښه په تد بیر سره اول د دوئ جامې وایستې او بیا یې په تیغ تېرکړل. دۀ پخپله دګورګین جامې واغوستې ، نورو پښتنو د عسکرو. دوئ د قندهار قلعه ته ورغلل. د پاتې جارجي عسکرو خیال و چې ګورګین دے. بابا د خپلو عسکرو سره جارجي عسکر د دروازې د خلاصولو سره ختم کړل. قندهار یې واخېستو او پښتانۀ یې متحد کړل. باقي جارجي فوجیان چې د پښتین نه په لارې وو ، هغه پښتنو مړۀ کړل. صرف اتلس کسان ایرانی دربار ته خلاص شوي وو او بادشاه یې خبر کړو. ایرانی بادشاه او درباریان ډېر متکبر وو

د دوئ دا خیال هم نۀ وو چې میر ویس بابا کوم کار وکړ. چې کندهار به د همیشه د پاره د دوی د عملداری نه وځي. او یا دغه پښتانۀ به ایران لوټه په لوټه ولي.

دغه واقعه په ۱۷۰۹ء کښې پېښه شوه. بابا پښتنو ته یو زورور تقریر وکړو: «که چرې تاسو کښې داسې خلق هم وي چې د آزادۍ د بیش بها جوهر د قدر کولو جراءت نه لري، هغه جوهر چې کوم خداوند کریم مونږ ته په خپل لوی فضل او احسان مُفت په لاس راکړے دے، نو هغوئ دې دا وخت ځان بیکاره کړي، زمونږ د جرګې نه دې واوځي. مونږ به هغوی ته هیڅ قسم تکلیف یا ګزند نه رسوو. ولې هغوئ دې په خوښۍ د یو نوي ظالم مالک په تلاش کښې د پښتنو د دې پاک او آزاد وطن نه ووځي.»

(د پښتنو تاریخ، قاضی عطاء الله خان، اول جلد)

مګر پښتانۀ اوس د ګورګین ظلمونو وینې کړي وو، دوئ په یو ژغ بابا ته تر مرګه پورې د ملا تړ آواز ورکړو. او بل د میر ویس بابا قسمت په دې ښۀ وُچې دے خدائ ج، په داسې وخت کښې په پښتنو کښې پیدا کړے و چې ایرانې او مغلي هندي سلطنتونه په زوال وو. په ۱۷۰۷ کال کښې اورنګ زیب مړ شوے وُ، هند کښې ګډوډي وه. دوئ دې پوزیشن کښې نه وو چې د ایران د آزادۍ نه پس

کندهار خپله مغلي هندي عملداري کښې شامل کړي .
دوئ د ځان په غم وو. ایراني باچا میرویس بابا ته
یو استاځئ راولېږلو او د ټولو خوږ و او ترخو نه یې خبر
کړو . میرویس بابا دغه استاځے چې جانی خان نومېدو
بندي کړو. د دې دپاره چې دهٔ ته داوخت په لاس وړئ
چې فوج جوړ کړي او بادشاه به په طمع وي چې نن دے
که سبا ځواب راځي . او بل یې دغه ورته جوړتول چې
پښتانهٔ نوره غلامي نه مني . چې سفیر دومره وځنډېدهٔ
نو بادشاه یو بل سفیر (استاځے) راولېږلو، چې دغه د
هرات کورنر ؤ، د میرویس بابا دوست او نوم یې محمد خان ؤ.
میرویس بابا خپل دوست ته وویل چې ته هیڅ حق نه لرې
چې ماته داسې ذلیل تجویزونه وړاندې کوې . که چرې ته
زما ذاتي دوست نه وائے ، نو بل عمل به مې درسره کړے ؤ.
نورڅه درته نه وایو ، مګر په کندهار کښې به ترهغه زما
د میلمه په څېر ایسار وې ، ترڅو چې مونږ ه ایران فتح
کړے او بادشاه مو د تخته غورځولے نه وي .

اوس د پښتنو د بدل اخېستو وخت راغے . د دې سره
۱۷۱۰ء کښې ایراني باچا د میرویس نیکهٔ خلاف فوج ولېږلو،
باباهم ورته تیار وو. چې جنګ وشو ایراني فوج ماتې وخوړله
د اتلسو میاشتو په دوران کښې څلور ځله ایرانے فوج راغے

او هرځل یې ماتې وخوړه. په دې ماتو باندې ایرانې بادشاه پښتنو ته اوخاصکر بابا ته ډېر په غضب اوغوسه کښې و ، نو د بابا خلاف یې د جارجې کورګین وراره خسروخان سره خبره وکړه او هغه د کندهار د فتح کولو او د خپل ترهٔ د بدل اخیستو په نیت را روان شو . د هلمند سره د دوئ په مینځ کې جنګ وشو . خسروخان سره ۳۰۰۰۰ ایرانی او دولس زره جارجي فوج و. پښتانه ډېر په مېړانه وجنګېدل ، مګر د بابا لښکر ماتې وخوړله. خسروخان زر د هلمند د سیند نه را پورې وتو او په کال (۱۱ - ۱۷۱۲ء) کښې یې کندهار محاصره کړ. که څه هم بابا ماتې خوړلې وه ، مګر میدان یې نه وپرېښې. بابا کوښښ کولو چې د خسروخان د فوجیانو د رسد لارې بندې کړي . بل اړخ ته د خسروخان عسکرو له خلقو سره هغه ناروا سلوک وکړو چې کندهاریان یې د تسلیم کېدو په ځای د عزت مرګ ته تیار شول . دوئ د تسلیمېدو په ځای مقابله کوله او باهر میرویس بابا د عسکرو راشن وهلو. نو خسرو ډېر تنګ شو ، نو مجبوراً یې محاصره وچته کړه ، مګر اوس وخت له وخته تېر وو ، چې څهٔ وخت خسروخان د ایران اړخ ته روان شو ، نو د شا نه میرویس خان بابا د شپاړس زر (۱۶۰۰۰) پښتنو سره د بلې په څېر پسې را ورسېدو ، بابا ایرانی فوج جنګ ته مجبوره کړو .

خسروخان قتل شو او ایرانی فوج تار په تار شو. بابا بیا فتح ومونده له، او له ټول فوج نه صرف (۱۰۰) کسان ژوندي پاتې شوي وو. او دغه جنګ په ۱۷۱۳ء کښې شوے و. په ۱۷۱٤ء کښې ایراني بادشاه دیو بل جنرال په کمانډ کښې چې محمد رستم خان نومېدهٔ، په واک کښې فوج ورکړو. دې جنرال د بابا سره څو ځله جنګونه وکړل، مګر نتیجه یې دا شوه چې خپل سر یې خلاص کړو، په منډه ایران ته لاړو. د دې نه پس د بابا په لاس کښې ټول کندهار او د دهٔ شمالي او جنوبي برخې په لاس ورغلې. د ایراني یو بل یرغل په خلاف یې د پښتنو منظم کول شروع کړل. همدغه شان بابا هغه کار وکړو چې د روښانیانو، خوشحال خان خټک، ایمل خان مومند او دریاخان ایریدي نه سرته نه ورسېدلے یعنې د پښتنو د ملي حکومت بنسټ. بس بابا خداے دیته متل کړے ؤ چې پښتانهٔ آزاد کړي. دغه لوے بابا د نومبر میاشت ۱۷۱۵ء کښې په دنیا تېر شو. د بابا نه دوه زامن پاتې شول، چې دیو نوم شیرمحمود او بل نوم میرحسین وو. دوئ دواړه ډېر تکړه ځوانان وو، نو قومي جرګې د باباکشر ورور میرعبد الله خپل مشر او باچا وټاکه. دغه ډېر بې خونده بې کاره او بې همته سړے وخوت. پټ په پټه یې د ایران خوشامندے شروع کړې. د میرویس بابا کټلي یې په او بو یوړل. چې څه وخت پښتانهٔ زلمي خبر شول، نو دوی د میرویس بابا زوئ میرمحمود

په مشرکیږی کښې راپورته شول، بادشاه یې د تخته کوز او قتل یې کړو. د ده بې خونده د له ټوله میراته شوه. دغه کار په ۱۷۱۶ء کښې وشو. میرمحمود د پښتنو بادشاه شو. دهٔ د خپل پلار په شان د بهادرۍ او سخاوت خویونه لرل. تر دې وخته پورې د هرات پښتانهٔ ابدالي د ایران د حکم لاندې وو، مګر دې شپو ورځو کې هراتي ایرانی ګورنر، د یو پښتون زلمی سره زیاتې اوکړه چې نوم یې اسد الله ؤ. دغه یې څو ورځې په زور ایسار کړ و، بیا په چل ځنې خلاص شو، نو خپل ابدالي مشران یې خبر کړل، هغوئ د بدل نیت وکړو. د ایراني فوج او ابدالي پښتنو تر مینځ جنګ وشو. ایرانی فوجیانو شکست وخوړو او دغه ګورنر اسدالله په خپل لاس حلال کړو چې چا ورسره تبر اوزیاتې کړے و. په ابدالیانو پسې ایران یو بل فوج چې شمېر یې ۳۵ زره ؤ، صافی قلی خان تر مشرکیږی لاندې راولېږلو، دې فوج هم ماتې وخوړله، صافی قلي خان قتل شو، اسد الله فوراً د فراه محاصره وکړه، په دې باندې میرمحمود وارخطا شو، د اسدالله د قوت د ختمولو فیصله یې وکړه. د دوی په مینځ کښې جنګ وشو، ابدالیانو ماتې وخوړه او اسدالله شهید شو. د دې سره میرمحمود د ایران فتح کولو د پاره لاړو، مګر شکست یې وخوړو. کندهار ته په رسېدو سره یې د ایران د فتح کولو د پاره فوج منظم کولو باندې کار شروع کړو.

دویم ځل جنوری ۱۷۲۲ع د ایران د فتح کولو په نیت وو تو.
د ایران د دواړو اوغتو ښارو نو علاوه د ملک دارالحکومت
اصفهان یې محاصره کړو. د ایران سلطنت وروستۍ، شاهي
درباریانو په پټه توله حال میرمحمود ته ویلو. بادشاه پخپله
ډیر توهم پرست او کاهل و. محمدخان قلی خان وزیراعظم
خیال دغه ؤ چې باید فوج د ښارنه ورچاڼ ووځي او خندقونه
وکنې. مګر بادشاه بې وقوف ؤ. د عربستان د صوبې ګورنر
په میرمحمود باندې د فوراً برید کولو مشوره ورکړې وه، مګر
بادشاه دا ګمان نه. بادشاه جرګه راوغوښته، چې ملایان هم
پکښې ناست وو. د هغوئ د ډلې مشر جرنیل فتح علي خان قاچار
و، دغه ډیره توهم پرست او ساده شوه قوجي ؤ. بادشاه
ته یې دغه خبره کړې وه چې ماته داسترآباد یوه بوډۍ ښځې
چې په هغې باندې ښاپیرې ناست دي، دا خبره کړې ده چې که
دپسۀ دوه پښې سره ددرې سوو پنځویشتو مړو پلوو ایشولے
شي او په هغې باندې یوه پیغله ناوادۀ کړې جینۍ دولس سوه
ځله "لا اله الا الله" ولولي، نو هرچا چې هغه شوروا وچښله
نو هغه سړے به د خلقو په نظر نۀ راځي. (قاضی عطاء الله د پښتو تاریخ، اول ټوک)
بې وقوف بادشاه په دې عمل وکړو او د ډیرو مشورو نه پس
بادشاه دا حکم ورکړو چې شوروا دې په فوجیانو وچښله شي.
آخری ۷ مارچ، ۱۷۲۲ع کال دغو پنځوس زرو عسکرو په شوروا

لړلي خولې په پښتنو پسې راووتل. د دوئ خیال ؤ چې مو ستن ځوک نه وینې او لوئ لوئ تو پان ورسره و. د دوئ او پښتنو په مینځ کښې جنګ جوړ شو. ایرانیانو شکست وخوړو. پنځویشت زره قتل شول. باقي فوج خپلې خپلې صوبې ته وتښتېدل. رستم جنرال او احمدخان جنرال دواړه قتل شول. ایرانې بادشاه اوس کدوړ ؤ، آخر یې پښتنو ته د تسلیمۍ سرتیټ کړ. په ۲۲ اکتوبر ۱۷۲۲ع کښې یې خپل تخت او تاج د میرمحمود په سر کېښود.

میر محمود شاه حسین ته خطاب شو، چې بادشاهي د خدای (ج) امانت دے چې چا ته یې ورکوي او چا نه یې اخلي. ته زما د پلار په ځای یې، د ستا سره به ښه چلن کېږي، دُعا وشوه. صفوی شاهي ختمه شوه او د پښتنو غلجیو بادشاهي جوړه شوه، میر محمود د ټول ایران بادشاه شو. ملک کښې یې نظام ټینګ کړو، مګر دلږ وخت نه پس ځۀ داسې چل وشو چې سود ایې او شکمن مزاجه شو او ډېر په معمولي خبره به یې وژنې کولې. ډېر لوے لوے پښتانۀ مشران یې مړۀ کړل او د ایرانیانو خوحساب نه و. داسې لېونے شاننه شو. ځوک وا یې چې مور مړ کړو چې د دې عذاب نه خلاص شي. مګر په ۱۷۲۵ع کال په خپل محل کښې مړ کړے شو.

د دۀ نه پس پښتنو میر اشرف بادشاه کړو. میراشرف کوشش شروع کړو چې هغه زخمونه جوړ کړي کوم چې د میرمحمود

دوجې نه جوړ شوي وو . د خلکو سره يې نرم سلوک شروع کړو . د ايرانيانو د زړه ګټلو دپاره يې ډېر اقدامات وکړل . مګر دلته بيا پښتنو کښې هغه زوړ مرض يعنې بې اتفاقي څرګنده شوه . هغه داسې چې جرنيل امان الله خان يوه ډېر تکړه فوجي و . ده شهزاده طهماسب سره پټ د ميراشرف خلاف خط کتابت شروع کړل ، دا ځکه چې دوئ د ميراشرف په بادشاه کېدو خوابدي وو . دغه سازش ښکاره شو . امان الله خان مړ کړے شو ، مګر د پښتنو په ليکو کښې بې اتفاقي ښکاره شوه ، چې ايراني نوکرشاهي ددې نه فايده واخيسته ، ملک ګډوډ و . ګاونډي ملکونو سترګې په ايران لګولې وې .

روسيان او ترکان لګياوو د ايران د قبضه کولو هڅې يې کولې . دهٔ کوشش کولو چې د ترکي سلطان سره ښه تعلقات جوړ کړي ، مګر ترکانو دغه ددهٔ کمزوري شمار کړه . سلطان ترک د بغداد ګورنر احمد پاشا ، د موصل صوبې ګورنر حسين پاشا ته حکم ورکړو چې ميراشرف باندې حمله وکړي ، که چېرې هغه د ايران پرېښودو ته تيار نه وي . ميراشرف ورته چرته ايران بې ډز بې ډوز ه پرېښودو . د روغې ډېر کوشش يې وکړو او ترکانو ته يې خبر ورکړو ، چې بايد د مسلمان وينه د مسلمان د لاسه توېه نه شي . بايد چې موږ ه د عيسايي دښمن روسيې خلاف سره لاسونه يو کړو ، چې دا د دواړو دپاره خطرناک دے .

مګر کم عقلو ترکانو د جنګ فیصله وکړه . میر اشرف مجبور شو د ترکانو او پښتنو تر مینځ جنګ جوړ شو. تر ډېره وخته پورې د ماتې او بري درک نه لګېدو، مګر په آخر کښې ترکانو ماتې وخوړه، دولس زره عسکر یې قتل شول او پنځوس درې توپې میدان جنګ کښې پاتې شوې . د دې ټولو باوجود میر اشرف د ترکانو سره نرم سلوک وکړو.

میر اشرف ایران کښې د دښمنانو خلاف لګیا ؤ ، دلته کور کندهار کښې ورته بله بلا جوړه شوه ، چې د میر محمود ورور میرحسین هوتکی د خپل آزاد حکومت اعلان وکړو. میر اشرف د خپل مورنی وطن نه کټ شو ، ایران کښې ګډوډي وه ، روسیانو د ګیلان صوبه نیولې وه او مازندران او تهران کښې ورته طهماسب ؤ. په دې شپو ورځو کښې په جنګي میدان کښې یو بل لوبغاړے راځرګند شو چې نه صرف د پښتنو حکومت یې په ایران کښې ختم کړو، بلکې جنوبي او شمالي پښتونخوا یې سره یو کړل ، مغل یې هند کښې و ړبول او آخرکار دغه افشاري توپان د افغانستان د زېږېدو موجب شو.

طهماسب قلي خان، نادر افشار
يا
نادر شاه

دوی اندازاً ۱۶۸۸ع کال کښې خراسان صوبه کښې وزېږېدو. ددهٔ پلار شپون او کډېږ ؤ. دهٔ هم په هلکوالۍ کښې کډبانې کوله، چې ځوان شو، نو د غلو ملګرے شو او ډېر زر ددوئ سردار او مشر شو. لارې به يې وهلې او ددهٔ ځوانۍ تقريباً ټوله په غلا، شوکې او داړه ماری کښې تېره شوه.

چونکه ايران کښې ګډوډي وه، نو ځکه دهٔ ددې نه فايده واخيسته. ډېر خلک د شوکې ډاره ورسره ملګري شو او د ګوريلا يې جنګونو يې ډېره تجربه حاصله کړه او پخپله ډېر ظالم، بدخوئ او سرکش انسان و. ددهٔ آوازې خورې شوې، نو طهماسب ته د داسې يو سړي ضرورت ؤ. شهزاده هغه د خپل فوج مشر کړو او د ميرا شرف خلاف يې ولمساوو. د ډېرو جنګونو نه پس دهٔ پښتانهٔ د ايران نه داسې وايستل، لکه دوئ چې ايرانيان د خپل ملک نه ايستلي وو. ميرا شرف د خپل وطن نه کټ ؤ او ايران ورته دښمن شوے ؤ. مالې پسې يې ماتې خوړله. آخر کار يوازې په بدحال، وږے - تږے مړ شو. هدغه

شان د پښتنو بادشاهي په ایران کښې خلاصه شوه.

طهماسب قلي خان د دې کامیابۍ نه پس طهماسب یوې ډېرې ترکې او پخپله د نادرشاه تر نوم لاندې د ایران بادشاه شو. اوس د ده په فوج کښې د ایرانیانو نه علاوه یورپین هم وو، چې د توپخانې مشران یې فرانسویان وو. په ۲۶ فروری ۱۷۳۶ع کال کښې تخت نشین شو. بس پښتنو پسې یې راواخیسته. د ایران د حدودو نه یې لرې کړل. اوس هرات او کندهار ورته پاتې وو، چې هرات کښې ابدالي پښتانه وو او کندهار کښې د میرویس بابا زوی شاه حسین بادشاه ؤ. تقریباً ۲۶ کاله د آزادۍ په وجه د کندهار خلک او علاقې اسوده شوې وې. د وئ آزاد وو. د میرحسین زمانه چې د ۱۷۲۲ع نه شروع وه د کندهار یانو د پاره د نیکمرغۍ زمانه وه. اول نادرشاه هرات فتح کړو او ابدالیان ورسره یوځای شول، بیا یې د کندهار نیت وکړو. پښتنو تقریباً یو نیم کال د نادرشاه مقابله وکړه او د کندهار محاصره یې کړې وه، مګر روستو نادرشاه ځینې غونډې ونیولې چې د هغوئ نه یې ښار وبیشته. د پښتنو بهادرۍ په نادر افشار باندې ډېر اثر وکړو او د جنګ په ځائ یې د سیاست نه کار واخیست. میرحسین ورسره روغه وکړه او نادرشاه د کندهار خپل ګورنر مقرر کړو او خپل فوج کښې یې غلجي پښتانه بهرتي کړل چې د دولس زر ۱۲۰۰۰ ه

ابدالیان اوغلجیان و او ددوئ مشرپي نورمحمد خان علی زئ مقرر کړو . هم دغه شان ۱۷۳۷ع کښې کندهار خپله خود مختاري د لاسه ورکړه . اوس ایرانې او افغاني فوج د نادرشاه په کمان کښې د هند د فتح دپاره روان شو . د کابل او پیښور مغلی کورنۍ مقابله وکړه مګر شکست یې وخوړو، دا ځکه چې مغلو اپریدو ته موجوده نه وو ورکړي ، نو دوئ خفه وو. دوئ نادر افشار نه پیسې وغوښتې ، نادر افشار انکار وکړو او په زور په خیبر ورننوتو. یوه مکمله میاشت اپریدو ایسار کړے و، آخري عقل ورغے، اپریدو ته یې بونګه ورکړه . که غلجیان او ابدالیان نه وے ، نادري فوجونه په خیبر کښې د اپریدو د لاسه تالاشوي وو. چې څومره به د پښتو لخوا ورته مشکلات جوړېدل ، دومره به یې ده باندې پښتانه ګرانېدل . چونکه دے پخپله یو بهادر او پیاوړے سړے ؤ نو ځکه یې دا نمونه خلک خوښ وو. په ډېرو مسئلو کښې به یې د نورمحمدخان علی زئ نه مشورې اخیستې ، چې دې باندې ایرانیان ورته وریته ناست وو.

د پیښور نه پس یې لاهور او جهلم هم فتح کړل ، بیا په دهلی ورغے . د مخکښې نه مغلي درباریانو پټه په پټه د ده سره خط وکتابت کړے و او د مغلو بادشاه محمدشاه

رنګیلا ؤ، چې هسې نمایشي جګړه یې وکړو. نادرشاه
۱۳ فروري ۱۷۳۹ع کال کښې دکرنال سره نږدې مغلي فوج
ته ماتې ورکړه او ډهلي ته ورننوتو. دمغلو بې له شمنې یې
دځان سره ایران ته یوړه، چې دکوه نور نه تر تخت طاووس
پورې وو. د سرو او سپینو خو حساب نه ؤ.

نادر په واپسۍ کښې په خیبر کښې بیا اپریدو راګېر کړو،
دا ځل هوښیار شوے ؤ. اپریدو ته یې لنډ لکه روپۍ
ورکړې، ځان یې خلاص کړو. د ایران اړخ ته لاړو.
دبلې په خېبر راغلے ؤ دبلې په خېبر لاړو ورک شو، خو
پښتونخوا یې سره یوه کړه.

دده په فوج کښې دجنوبي او شمالي پښتونخوا ډېر و
پښتنو سره وپېژندل، چې دغه ډول ملګر تیاوی او
رابطې د افغانستان په جوړښت کښې ډېر مدد ګار یې
ثابتې شوې.

نادرشاه دخپل ایرانی فوج ډلاسه ۹ جون ۱۷۴۷ع کال
کښې قتل شو او پښتانه دخپل مشر نورمحمدخان علیزي په
مشرګیرۍ خپل وطن ته واپس راغلل. اوس دپښتنو قسمت یو
ځل بیا وپښې شو، خدای (ج) ورله ځوان احمدخان ورکړو،
چې دوئ یې دهېواد، عزت، نوم، پت او تاریخ خاوندان
کړل.

احمد شاه بابا

افغانستان جوړېږي

(اکتوبر - ۱۷٤۷ء)

کله سړے ورته ځیر شي ، نو خوشحال خان د ګورنر خوافي د لاسه هند کښې شاهي قیدی شوے ؤ، او حاجي میرویس خان د جارجي نسل ګورنر د لاسه اصفهان ایران کښې شاهي قیدی شوے و. خوشحال خان شاعر او لیکوال و ، خپل حالات یې پخپله ولیکل. مګر د قید په دوران کښې د خپل ذاتي خفګان نه علاوه د مغلو خلاف یې څه خاص پلان نه ؤ جوړ کړے ، مګر میرویس نیکۍ په برعملي سړے ؤ. خپل مقصد ته د رسېدو پوخ پلان یې جوړ کړے و. چې د قید نه واپس قندهار ته راغے، نو قدم په قدم یې عمل وکړو ، چې نتیجه یې د پښتنو آزادي شوه . مګر دغه آزادي مکمله نه وه ، د نادر افشار په یرغل ګډه وډه شوه. مګر قندهاري مشرانو یو شئ نه ده کړو چې هغه د دشمن زور د دوئ د غلامۍ سبب نه ؤ ، بلکه د دوئ بې اتفاقي وه. چې څه وخت دوئ د ایران نه واپس راغلل، نو د دوئ پرديې پوه شوي وو چې نور دچا غلامي نه منو . دوئ کندهار کښې راغونډ شول او د خپل بادشاه د خوښولو جرګه یې پیل کړه . دغه قدر یې خبره

ده چې بادشاهي دچا نه ده خوښه . نو د دوئ اتفاق نه راتلو. وايي چې دوئ نهه ځله جرګه شول ، خوپه چاپې اتفاق نه راتلو. حاجي جمال خان محمد زی ډېر کوشش کولو مګر د دهٔ مخالف ډېر وو. وايي چې همدا سې جرګې روانې وې . پهٔ دې ټولو جرګو کښې احمدخان ګډون درلود او پخپله چوپ ناست ؤ .

احمد خان ځوان ؤ، مګر د خبرونه او ناستې پاستې نه ډېر درونده ؤ او د ده په شخصيت کې درنښت ؤ. آخر کار د يوې داسې جرګې په دوران کښې يو ملنګ راپورته شو او پښتونه مخاطب شو، چې تاسو په بادشاهۍ د څهٔ د پاره جرګې کوئ ، خدائے تاسو له بادشاه درکړے دے . د غه احمدخان ناست دے . چې د بادشاهۍ ټول صفتونه خدائے پکښې اچولي دي . په دې باندې لاس پورته کړئ د خير دُعا وکړئ .

وايي چې پهٔ دې باندې حاجي جمال خان نوم واپس واخيستو. ملنګ د دهٔ په لونګي کښې يو ډکے (دغنو يا وربشو وربے) و ټوم مبه، چې د غه د ده تاج شو.

پښتنو مشرانو احمدخان خپل بادشاه جوړ کړو. د غه پېښه (واقعه) اکتوبر ۱۷٤۷ع کښې پېښه شوې وه . همدغه شان د پښتنو تاريخ کښې مونږ په جمهوري طريقه د جرګې له خوا خپل بادشاه جوړ کړو، او د خپل هېواد بنياد مو په خپله خاوره کښې کښېود .

څوک وايي چې پښتنو مشرانو ځکه احمدخان قبول کړو چې دے

دزوره ورې قبیلې نه نهٔ و. سدوزي د ډېر والي په وجه د محمدزو نه زورور نه وو، نوکېد اے شي چې جمال خان خیل قسمت ازمایي دراتلونکي وخت دپاره پرېښې وي، چې تاریخ ثابته کړه. د سدو زو نه حکومت محمدزو بېرته واخیست، او تر ۱۹۷۸ع کال (۲۸ر اپریل) پورې یې وکړو.

زمونږ قسمت په دې سنهٔ وُ چې لوے احمد شاه بابا خپل ناستون ډهلي او یا ایران ته یو نه وړو. بلکه قندهار ته خپل ناستون وکړخاوه او بل یې زمونږ هېواد ته د نوې زمانې مطابق نوم ورکړو «افغانستان» او مونږ ته یې واضح هېوادي پولې (سرحدونه - بونډریز Boundries) وټاکلې. دا ځکه چې اوس احمد شاه بابا ته پته وه، اوس د دې وخت د ے چې ټول افغانان په یو مرکز راجمع کړم او دوئ ته یو تاریخي شناخت ورکړم. د غه شناخت زمونږ په خپله خاوره باندې د اول ځل دپاره په شعوري توګه د هېواد بنسټ کېښودل وو. که چېرې احمد شاه هم د هوتکیانو غوندې ایران کښې ناست وے، یا لودهیانو، سوریانو او غلجیانو غوندې ډهلی ته تلے وے نو مونږ به هیچېرې تر ننه پورې د یو ملی شناخت (هویت) خاوندان شوي نه وا ے. یا به ایران کښې ولے او یا به هندوستان کښې. په دې ټولو خبرو باندې احمد شاه بابا په شعوري ډول پوهېدهٔ نو ځکه یې پښتنو کښې د خپلې خاورې، کلتور او میراث سره د مینې پیدا

کولو کوشش کړے دے. د ده شعرونه ټول د دې شهادت ورکوي .

بابا داسې بادشاه نۀ چې ټولواک ؤ، دۀ تر دپښتنو کمزورۍ او بهادرۍ معلومې وې . د دوئ دخوبونو او عادتونو نه ښۀ واقف ؤ، دا ځکه چې دے پخپله د دوئ نه و. نو دۀ خپله بادشاهي په زورنه، بلکې دپښتنو قبایلي مشرانو په صلاح او مشوره پیل کړه.

وایي چې ده یو وزارتي کونسل جوړ کړے و، چې پکښې (۹) چیده چیده سرداران غړي وو. او د جنګ او امن وخت کښې به دوی بادشاه تر صلاحکانې ورکولے او دپښتنو داخلي خود مختارۍ سره یې هیڅ چېړ نۀ کولو، بلکې د هرې قبیلې مشر د مرکز په خوا د دوئ حاکم و. یعنې دوئ یې په داسې میړنګ نظام کښې راټول کړل چې د څۀ ساه نه پکښې تر بیتے ده او ډېر چل ول سره یې دوی نۀ ګیو ملیت احساس ورکړو چې کۀ تاسو پۀ اتفاق وئ، نو ستاسو بادشاهي به وي. او هرې قبیلې دا محسوس کوله چې د دوی خپله بادشاهي ده. دغه ټول ځکه ممکن وو چې احمدشاه بابا داسې ډاکټر ؤ چې د خپل قوم مرض هم ور معلوم ؤ، علاج او دارو یې هم ور معلوم وو.

چې څه وخت دوئ اکتوبر ۱۷٤۷ع کښې د احمدشاه بابا په مشرګیرۍ راضی شول او د افغانستان بنسټ کښېودل شو، نو دې مطلب دغه نۀ ؤ چې هرڅۀ ګوړې ګوړې وو. دپښتنو په واک کښې

تش کندهار او ورسره جوخته علاقې وې . هرات د ایران
په لاس کښې و. غزني، کابل، جلال آباد، بلخ، میمنه اوپیښور
دغه ټولې علاقې دپردو په لاس کښې وې .

احمدشاه چې د تاج پوشۍ د مراسمو نه فارغ شو، نو اول یې
دا اراده وکړه چې که چرې زهٔ د افغانانو بادشاه ووم، نو هغه
ټولې علاقې باید افغانستان کښې شاملې شي چې چرته پښتانهٔ اوسي.
نو دې سلسله کښې یې د کابل، غزني اوپیښاور گورنر ناصرخان
ته خط ولیږلو چې دغه علاقې د پښتنو دي، نو ما ته یې په
خوښې سره پرېږده. دغه ناصرخان د مغلو په وخت کښې هم
دلته گورنر و. چې څهٔ وخت د نادر افشار سره یې جنگ وکړو، بیا
یې ماتې وخوړه، د کابل نه پیښاور ته وتښتېدو، هلته یې د
نادرشاه نه معافي وغوښته. نادر هغه معاف کړو، بیا یې
په دې علاقو کښې نادرشاهي گورنر په حیث وگومارهٔ. نو دے
بیا داسې گورنر شوے وُ. مگر ناصرخان انکار وکړو او د
احمدشاه سره یې د جنگ اعلان وکړو. په هغه وخت کښې د
کابل بالاحصار کښې دولسزره قزلباش عسکر وو (یعنې د سرو
ټوپو والا) چې دوی ترک وو او د شاه اسماعیل په وخت کښې
شیعه مذهب شوي وو. دغه قزلباش ناصرخان نائب الحکومه
د جنگ د پاره تیار کړل. احمدشاه د غزني ارخ ته روان شو.
چونکه دغو علاقو کښې پښتانهٔ وو، نو دوئ د ناصرخان

پره ونه کړه . دَ احمدشاه سره یوځائ شول ، غزنی بغیر د مقابلې د احمد شاه په قبضه کښې راغئ . د کابل سره ئې ئې دې قزلباشو او ناصرخان معمولي مقابله وکړه ، بیا د پښتنو د فوج نه پېښور ته وتښتېدو . احمد شاه بابا کابل قبضه کړو او بیا ناصر خان پسې پېښور ته راغلو . د لته د احمد شاه بابا آوازې او د څمکنو میا صاحب په برکت پښتانئ ټول د احمد شاه راتګ ته په انتظار وو . ناصرخان په ځان پوه شو . د پېښور نه د هند غاړې ته وتښتېدو . احمد شاه بابا پېښورهم افغانستان کښې راګډ کړو . دغه ټوله کارروائي په ډېر لږ وخت کښې وشوه . یعنی اکتوبر ۱۷٤۷ع کښې تا جپوشي وشوه او دسمبر ۱۷٤۷ع کښې یې پیشاور او اټک ونیول . دومره لنډ وخت کښې له کندهار نه تر اټکه پورې علاقې نیول د دې خبرې علامت دے چې پښتنو د احمد شاه بابا تش سترګے مشی کړې دې . د لته نه اپریدی ، نه غلجي ، نه خټک او نه یوسفزی راپورته شوي دي . یعنې د پښتنو ملي بیداري راغلې وه ، کښې اپریدی صرف خیبر کښې نادرافشار یوه میاشت ایسار کړے ؤ . چې څه وخت احمد شاه پېښور ته راغئ ، د لته یې د پښتنو د قبیلو د مشرانو سره ملاقاتونه وکړل او ور سره یې د هند د نیولو مشورې وکړې او دوئ ته یې دا جوته کړه چې دا دکندهاریانو حکومت نه دے بلکه د ټولو په شریکه دے . د لته ډېر پښتانئ د بابا په فوج کښې بهرتی شول . بابا د پښتنو د مشرانو صلاح کاره جرګه وکړه . دوئ فیصله

وکړه چې په پنجاب ورننګ پکار دے. کاش چې خوشحال بابا ژوندے وے اولید لي یې وے چې دکومو زلمو دهٔ ارمان کړے ؤ هغه نن دپښتون بادشاه ترکمان راغونډ شوي وو، اوبهٔ پنجاب یې وردانګل.

بابا د سمبر کښې دپښاور نه روان شو، داټک نه پورې وتو په دې وخت کښې دپنجاب ګورنر حیات الله خان ؤ. احمدشاه بابا ۸ جنوري شاهدرې ته ورسېدو او په ۱۰ جنوري د راوي سیند نه پورې وتو او شالامار باغ کښې دېره شو. په ۱۱ جنوري ۱۷۴۸ء کښې مغلي فوجیانو او افغاني عسکرو تر منځ جنګ وشو. حیات الله خان مالې وخوړه، دهلي ته لاړو. د مغلو ټول مال اسباب د افغانانو په لاس ورغے. او بابا دلته جمعه خان قصوري خپل ګورنر ودراوهٔ. بیا بابا په دهلي ورروان شو. دلته مغلو دوه لکه فوج جمع کړے ؤ، چې په جدید یورپي اسلحه باندې مسلح وو. تر دهلي پورې د پښتنو داسې رعب وو چې مغلي فوجیانو چوکه خالي کړې وې، ټول مرکز دهلي ته تښتېدلي وو. دهلي کښې د مغلي لښکر کمان د وزیر اعظم قمرالدین خان په لاس کښې ؤ. ۲۵ فروري ۱۷۴۸ء کال کښې جنګ شروع شو. دپښتنو د توپې دیوې ګولۍ په ذریعه وزیراعظم قمرالدین خان ولګېدو، دمرګ نه مخکښې یې خپل زوے د فوج کمانډر مقرر کړو. پښتانهٔ احمد شاه بابا ډېر په هنر وجنګول او مغلي فوج ښرندے وو

چې ښتېدلے وے، مګر د دوی قسمت ښه ؤ. د پښتونو په ډېرو باندې اور ولګېدو، ډېر پښتانهٔ پکښې شهیدان شول. د دوے کټلے جنګ په ماتې بدل شو، خو مغل یې دومره وهلي ټکولي وو چې دوے جرأت ونکړے شو چې په پښتنو پسې لاړ شي.

احمدشاه بابا بېرته کندهار ته راغے، په دې وختو کښې ډېر فرانسوي، پرتګالي، پرنګیان او نور یورپي زرخرید عسکر د مغلو په فوج کښې وو. نوکېدا ے شي چې دغه ډېرو ترا ور اچول هم د دغو شیطانتوي. دا ځکه چې احمدشاه او پښتانهٔ د دوئ د پاره په هند کښې فوجي سیالان وو. اوس بابا د هند په ځاے د هرات خواته مخه کړه.

هرات چې د ابدالي قبیلې مرکز و، اپریل ۱۷٤۹ع پورې یا ایراني حکومت سره ؤ، اوس احمدشاه بابا دغه علاقه هم په افغانستان کښې شامله. مګر پټ دې وخت کښې یو د خفګان کار وشو، هغه دا سې چې، لکه زمونږه زوړ مرض دے چې څوک سړے راکښې پیدا شي، نو مونږه ورسره حسد شروع کړو او د ختمولو او بې عزته کولو کوشش یې کړو. همدغسې یو نامور پښتون دغه غلطي وکړه. یعنې نورمحمد خان علي زي چې د نادر د مرګ نه پس یې پښتانهٔ قندهار ته راوستي وو. نوکېدا ے شي چې د دهٔ په دا خیال و چې پښتانهٔ به د ے بادشاه کړي. چې دا سې

و نشول ، نو حسد يې راوا خيست . دخو نورو سردارانو
په شمول دوئ د احمدشاه بابا د مرګ سکيم جوړ کړو .
خو د خدا ے (ج) فضل ؤ تر عملي کېدو نه مخکښې د غه
(conspirac y) يعنې سازش جوت شو . دوئ د
جرګې له خوا سزا شول او مړه شول . دغه د پښتون بادشاه
د لاسه د پښتون جرنيل او لښکر مرګ ؤ .

احمد شاه بابا خپل فوج ته فوراً په هرات د حملې کولو
حکم ورکړو . د معمولي مقابلې نه پس هرات يې هم قبضه کړو
او د افغاني خاورې برخه شوه . او ورپسې يې بدخشان ، بلخ ،
تاشقرغان ، ميمنه ، خلم ، اندخوئ ، شبرغان او بامیان
علاقې هم فتح کړې او افغاني عملداري کښې يې شاملې کړې .
په ايران کښې پخپله ګډوډي وه . احمد شاه بابا مشهد هم
قبضه کړو ، مګر هغه يې په افغاني خاوره کښې شامل نه کړو .
بلکې د نادر افشار خپل خانه (يعنې شاه رخ مرزا) ته يې حکومت
حواله کړو او دوئ سره يې ډېره مهربانې وکړه .

بيا کال ۱۷۵۰ع کښې په نشاپور ورغئ ، دغه ښار يې هم
فتح کړو ، په ايران کښې يې ډېر برے وموند ، مګر لوئ
احمدشاه بابا به شعوري توګه په ايران قبضه نه کوله .
او د خپل طبيعت خلک يې هلته په قدرت ساتل غواړل .
او دے خپل د افغاني خاورې جدا حيثيت ساتل يې غټ مرام ؤ .

چونکه د پښتنو خاوره یعنې افغانستان د هندي اوپارسي سلطنتونو په منځ کښې وه ، نو ځکه احمد شاه بابا کاوندې کښې مضبوط حکومت نه برداشت کولو. ولې پدې چې زمونږ خاوره همیشه د هند او پارس نه تباه او غلامه شوې وه، نو بابا په ایران او هند کې داسې حکومتونه غوښتل چې دده ملګري وي او په فوجي توګه دومره زورور نه وي چې افغاني خاورې ته ځني خطره پیښیږي، همدغه وجه وه چې بابا ایران او هند وتکول، خو افغاني خاورې سره یې ګډ نه کړل.

دلته د احمد شاه بابا کارنامې په تفصیل سره بیانول کتابونه غواړي، مګر سرسري کار پکار دی، هسې خو خو ډېرې برې یې وړې دي. مګر چې په تاریخي لحاظ او د پښتنو له پاره تاریخي افتخار دے هغه د پاني پت دریم جنګ دے.

مونږ ته د دې وخت تاریخ ښائي، چې مسلمانان په زوال وو، روسي زاري فوجیانو د عثمانیه ترکي نه او ایران نه د میرویس بابا په وخت کښې ډېرې علاقې قبضې کړې وې، او مرکزي ایشیا کښې د زاري روس او مان چو چیني سلطنت په منځ کښې مقابله وه.

مان چو چینیانو مرکزي ایشیا کښې قازق او برروت

قبائل قبضه کړل تر اسحاک کول پورې دوئ شول. دکوکنډ خانان د دوی باجګذار شول. ۱۷۶۰ کښې پیکنګ پیړن برګ ته تجویز وړاندې کړو، چې مرکزي ایشا اسلامي خانان سره تقسیم کړو، روس انکار وکړ نو چیني جنرال «CH-IN-LUNG» خپل نیک په پشې کول چې نوم یې، جنرال «HANG-HSI» وُ، په ۱۷۶۲ کښې د تاشقند او سمرقند د نیولو فیصله وکړه. د ریاست نو-بیګان وړاندې یدل، احمد شاه بابا نه یې مدد وغوښتو او وړ سره یې د کوکنډ او قازک بادشاهانو د مدد سوال اوکړو، بابا په منډ ورغی د چیني جنرال خوب یې دخاورو سره خاورې کړو

او دوچوبي یعنې دایران او مرکزي ایشادغاړې دزارې روس نه خطره وه، او د مرکزي ایشاخانان کمزورې وو. بلکې دچین هم زړه کیدو چې مرکزي ایشا قبضه کړي، همداسې یوجنګ کښې احمد شاه بابا یوچیني جنرال ته شکست ورکړ، اومرکزي ایشا خانان کوکنډ، قازک، سمرقند تاشقند یې دچینیانو نه وژغورل. او هندکښې حالات داسې وو چې مغلي پادشاهي تشه په نوم وه.

تولو سمندري غاړو باندې یورپي سوداګر او سمندري غله ډاکوګان راجمع شوي وو، اوفرانسویان اوپرتګیان ورځ

په ورځ مضبوطیدل د موردارې د مرغانو غوندې یې د مغلوپه
په سلطنت سترګې لګولې وې، او بنګال کښې ابستې انډیا کمپنۍ
بالکل د بدمعاشۍ لوبې کولې او جنوب دهندکښې مرهټه
پورته شوې وو. داورنګزیب د وخت نه یې ګورپلانې
جنګونه کول. چې تر ځمکې لاندې ورته پرتګلیانو، هالنډیانو، پرګیانو
او فرانسویانو ورسره مدد کولو او اسلحې یې پرې خرڅولې.
پدې کښې زیات قصور د اورنګزیب په خپله وُ، چې دے ډېر
متعصب بادشاه وُ او دجاهلو درباریانو په خوله یې ځینې داسې
ناروا کارونه وکړل. چې ځان یې صرف د مسلمانانو بادشاه جاړ
کړو، بلکې نه د هندوستانیانو پدې باندې دهندوانو اکثریت آبادي
بد خوا شوه. او د مسلمانانو د ژغ نه یې دځان خلاصولو
کوښښ یې شروع کړ. چې دغه ته پورې قومونو لمن هم
وهله چې د دوئ خیال وُ، چې هندوستانیان یې انفاقه کړي
او کمزوري یې کړي، بیا به دوئ پول هند باندې خپته واچوي
د هندي مغلي عسکرو وینه دهند دآب وهوا په وجه سسته
شوې وه، په دوئ کښې همت او عسکري قوت په خلاصیدو وُ.
بل داسې څوک نه وُ، نادرشاه راځئ غل وُ دغلۀ کار یې وکړ.
هندوستان یې لوټ کړو، واپس لاړو، د مغلو کمزوري نوره
هم جبوته شوه، د دوئ دربار دسازش افسرانو نه ډک
وُ، چې ډېر یې یورپي سوداګرو کمنۍ په قیمت پکښې اخیستې وو.
"Campany"

لنډه داچې ډېره ګډوډي وه ، پنجاب کښې سیکانو مغلو دښمنان کړي وو. مرکزي هند کښې جټان وو. خو په دوئ کښې یو قوت هم ددې قابل نه وُ ، چې هند باندې حکومت وکړي او یا یې نظام سم کړي،او یو مضبوط مرکزي حکومت جوړ کړي ، پداسې وخت کښې دافغانستان زیږیدل ،اودپښتنو اتفاق او دزیرک احمدشاه ظهور دیورپیانو اوهندوانو او خاصکر دپرنګیانو له پاره ډېر خطرناک وو ، داځکه چې دغه تازه وطن ،تازه فوج اوځوان احمدشاه ، دغه ټولې خبرې دهند په مړاوجودکښې بیر ته دساه اچولو موجب کیدائ شي . او بل په هند کښې پخپله دپښتنو یو لوئ تعداد نوابان او رئسان، موجود وو ، چې دوئ دواک خاوندان وو ، نو دوئ سره دا وېره وه چې که مرهټه ، سیکه یاجټ او یا یورپیان هند قبضه کړي ، نو اول ددوئ خیر نه شته ، داځکه چې دوئ مسلمانان وو ،او بل افغانان وو ، چې دوئ به دمقابلې نه بغیر سرټیټ - کړے نه وُ . په داسې حال کښې خدائ احمدشاه را څرګندکړو. او شاولي والله غوندې خلقو لوئ بابا ته لیکنې وکړې ، چې هند مسلمانان دکفر دظلم نه خلاص کړه ، دغه غُل اورنګزیب کرلي وو ، نو دلوئ احمدشاه بابا په غاړه ډېرې ذمه وارۍ وې په دې وخت کې داسلام او افغان اولس یو امید وُ ، چې هغه احمدشاه وُ ، مګر داسلامي جذبې با وجود بابا ډېر حقیقت پسند

و . هغه مذهبی جذبه کښې هیڅېر ې خپل اصلي مقصد هېر کړی نه ؤ ، یعنې افغانیا خاوره ځان ته ساتل ، نه هند کښې ګډول او نه ایران کښې .

اوس د بابا په ذمه زښت ډېر کار و نه وو ، لکه څرنګه بیان شوی دی چې مرکزي ایشیا کښې د مان چوچیني سلطنت او زاري روسي سلطنت مقابله او سیالي وه ، د ایران مرکزیت ختم شوی ؤ ، ګډوډي وه ، د ایران دغاړې د روس د رانګ امکانات هم وو ، د مرکزي ایشیا دغاړې د روس او چین نه خطره وه ، که چېرې بابا ۱۷۶۲ کښې چینائي جنرال چین لونګ نه وی ډبولے ، نو د مرکزي ایشیا ترکیستاني د دریا ستونزو تیرولو نیت یې کړے ؤ ، مګر چنیان پښتنو داسې و ډبول ، چې بیا یې د ترکستان اړخ ته مټیازې هم و نه کړې .

پنجاب کښې سکهانو بد امني جوړه کړې وه ، چې د پرنګیانو و رسره لاس ؤ ، چې احمدشاه بابا د دهلي د نیولو نه مشغول وساتي ، جټان او مرهټه د و سره مست شول چې نه صرف دهلی یې وینوه ، بلکې شهزاده تیمور او مشهور پښتون جنرال جهان خان دوئ په دې مجبور شول ، چې لاهور خالي کړي ، ان تر اټکه راغلل ، نزدې وو چې پشاور ته راغلي واے . مګر اوس بابا په جلال کښې راغئ ، د مرهټانو ، جټانو ، او سکهانو د ټکولو یې پوخ نیت کړی ؤ .

دوئ په مرکزي هند او شمالي هند کښې په مسلمانانو باندې ظلمونه شروع کړل، د مغلو باچا ددوئ پرغمل ؤ. او هندي پښتانه لکه روهیله او نجیب الله خان غوندې خلك په خطره کښې وو. نو دوئ احمدشاه بابا ته په هند باندې دحملې لیکنې وکړې، په دې شپو ورځو کښې بابا بلوچستان کښې ؤ. ناصرخان بلوچ بغاوت کړے ؤ، مګر بابا ددهٔ د تیرو خدمتونو په وجه معاف کړو، نصیرخان احمدشاه بابا ته خپله ترله په نکاح ورکړه، چې دغه معامله ختمه شوه نو اوس بابا ټوله توجو دهند معلاتو ته ورکړه، باباچې کورنې حالات سم کړل، په ۱۷۵۹ ژمي کښې دلوئ فوج سره دکندهار نه د درې بولان په لاره د هند د فتح کولو په غرض روان شو، او دبلوچستان نه پښتنو، پښتنو کښې پېښور ته راغئ، اوو ټولې پښتنې قبیلې ورسره یوځای کېدلې.

دمرو نو مشر بیګوخان هم ورسره ؤ، دپېښور نه نیغ وزیرآباد ته لاړو، مرهټه چې خبر شوي وو نو دوئ دپنجاب نه دهلي ته واپس شوي وو، دلته بابا دیوبل پښتون جنرال سالارنورالدین سره یوځای شو، دپنجاب په هر یو ښار کښې یې بیرته حکومت بحال کړو، دشمالي پنجاب دسهانپور په خوا دجمنا سیند نه - پورې وتلو دلته دبابا سره هندې دروهیله پښتنو دمشرانو نومونه رحمت خان، دوندی خان، شاه دوله خان، فیض الله خان

فتح خان او ملا سردار خان بخش پښتانه مشران ملاؤ شول
چې نجیب الله خان حاکم سانپور او روهیلي پښتانه چې زیات
تعداد پکښې دیوسفزو وو، په دې ځائ کښې دا ویل پکار
دي، چې په ۱۷۵۳ کښې وزیر غازي الدین خپل مغل شاهنشاه
دهلي احمد شاه دتخت نه کوز کړو. او دهغه وارهٔ عالمګیر
ثاني یې په تخت کښېنولو، په کال ۱۷۶۰ کښې غازي عالمګیر ثاني
قتل کړو، او د مرهټو په ملګرتیا کښې یې دهند واک ترلاسه
کړ، چې په حقیقت کښې د مرهټو دلاس بوتانئ وُ، د دې
کړوړې په وجه صوبې د مرکز نه آزادې شوې، چې چیرته
څوک حاکم وُ د خودمختارۍ اعلان یې وکړ، او په دې وجه
ډېر پښتانه حاکمان خود مختار شول، دهلي بالکل
بې واکه شو، مرهټه دومره زور ور شول چې هند کښې یې
هرلورې ته یې تاراج روان کړے وُ. دوئ ډېر متعصب او کټاس
هندوان وو، دمسلمانانو ژوند یې دوزخي کړے وُ، دزر
کلنۍ غلامۍ بدل یې ځینې واخیستو، او هند کښې داسې څوک
نه وو چې د دوئ غوښ ونه یې تاو کړے وائ، بس یو احمد
شاه بابا ته سترګې وې، همدغه وجه وه چې څه وخت احمد
شاه بابا سهانپور ته راغلو، نو هندي پښتانه یې کچې خوشحاله
شول، او په منلوه دملاقات دپاره راغلل، احمد شاه بابا ته داسې
خلک پکار وو چې دهند دکوټ کوټ نه خبر وو، او ور سره

دولت هم ؤ ، دسهانپور سره نږدې دمرهټه فوج دد ته پټيل او جنکوجي ترکان لاندې ميشت وو ، مګر چې خومره به د افغانانو فوج راننږدې کېده ، نو دوئ به په شاتلل ، تر دې چې دهلي خواوشا تر ورسيدل ، دلته اولنی جنګ دپښتنو او مرهټيانو ترمنځ وشو ، هندوانو ماتې وخوړه او جنرال ده ته جي پټيل قتل شو ، احمد شاه بابا دهلي واخيستو . غازي الدين د دهلي نه وتښتيد ؤ . سورجمل جټ سره دکمپير چونړي کښې همسايا شو بابا څو ورځې په دهلي کښې ؤ . دلته يې لږ فوج پريښود ، او ده دګنګا اوجمنا ترمنځ د ټولې علاقې چې دوابه به ورته وايي فتح کړې ، او انوپ ښار پورې لاړو چې د دهلي نه ۷۳ ميله لرې ؤ . دلته باباخپل فوج راجمع کړ ، او دهندموسم برسات د تيرولو دپاره خيمه زنه شو ، هم دلته ورسره شجاعت الدوله چې د نواب وزير په نوم مشهور ؤ يوځای شو .

د پاني پت دلوې او فيصله کښې جګړې نه مخکښې نورې هم ډېرې جګړې د افغانانو او مرهټيانو ترمنځ کېدلې .

دلته د سکندرآباد جګړې دليکلو وړ دي ، پدې وخت کښې دنجيب الدوله د سيمې نه لس لاکه روپے د احمدشاه بابا دپاره راروانې وې ، هم پدې وخت کښې مرهټې سرداران ملهارا او هولکار سکندرآباد ته راورسيدل ، نو ۲۸ فروري ۱۷۶۰ باندې سکندرآباد لوټ کړ ، نو احمد شاه بابا سره ويره پيدا شوه ، چې دغه

خزانه دمرهټانو په لاس ورنه شي، نو بابا فوراً شاه پسند خان قلندر خان، او جهان خان ته امر وکړ چې د(۱۵۰۰) فوج سره زر سکندرآباد ته ولاړ شي، او پر مرهټانو برید وکړي، له دې نه مخکښې چې دوئ دکنګاګ علاقې ولوټلې او د روهیله علاقې چې بچ باتې شوې، د شاه دحکم سره سم افغاني مشران دجمنا دسیند نه پورې وتل او دملهار په مخکښې فوج باندې ناڅاپه راتوئ شول، او د دوئ اصلي هیله کوارټر نه اته میله لرې وو، چې افغانانو رایسار کړل، دوئ خو په هندي مغلوعادت وو، او ګور پلاټې جنګ یې ورسره کولو نو مرهټیان به هیشه کامیاب وو، مګر دوئ دافغانانو سره هم دغه چل کولو، مګر پښتانه خو مور زنده ګور پلاټې وو، ځیله مرهټیان د دوئ په جال کښې ښخ شول. روهیله او افغاني فوج دوئ داسې وارخطا کړل چې درک حیني ورک شو، دوئ درې څلور ساعته مقابله وکړه، مګر ماتې یې وخوړله، او په تیښته شول، پښتنو یې تر څلویښتو میلو پورې تعاقب وکړو، زښت ډېر یې مړه کړل، چې دغه درې جنرالان چې ډېر مشهور وو، وژلے شول: انندرام شتاجی خارادی او دده زوئ فقیرجی خارادی، د ومره وارخطا پرې راغلې وه چې ډېر بغیر ذین کړې آسونو باندې سواره وو، وتښتیدل، پدې باندې د دوئ سپه سالار د ومره وارخطا شو چې اتیا میله منډه یې په ۲٤ ګهنټو کښې وهلې وه او داګرې۔

غاړې ته تښتېدلے وُ، دغه تنده پر دوئ په ٤مارچ ١٧٦٠ پرېوتے وُ، چې
د دې اندازه دیو مرهټي سردار د لیک نه څرګندېږي. چې
له جانسي نه پشوا بالاجی راؤ ته د مارچ په دیارلسمه نیټه
د راجاکشار وراو لخوا لیکلي شوي وو.

ده ورته لیکلي وو، «لنډه دا چې ابدالي «احمدشاه درانی»
او روهیله ټول سره یوشوي دي، دوئ یوه ډېره ستره
قوه او توپخانې او ډېر سامان لري، نو دا ممکنه نهٔ ده چې
لهٔ دوئ سره غوڅه جګړه وشي، زمونږ وس اولاسو نه
دوئ ته رسیدلے نه شي. مود غولونکو تاکتیکونو په ترڅ کښې
ددکن له لورې د نوي فوج د رارسیدو لهٔپاره سترګې په
لار یو، کهٔ دغسې یو فوج او طاقت راورسیږي، نو مونږ
به ټول سره د بنمن ته یوځائ ماتې ورکړو. نجیب خان
اومهرا آباد بریلي علاقې او نور قبایل سره یو شوي، او د
ابدالي سره یوځائے شوي دي، دا سې ویل کیږي چې له
کابل نه نور تازه فوج د رانې ته راروان دی، که چیرې
ستاسې د خاندان کوم څوک دې خوا راځي نو مهرباني
وکړئ د هغهٔ سره یوځهٔ یورپي ټوپک او وسائل راولیږئ.
جټ ما دوستک، او شجاع الدوله ټول د د بنمن نه ویره کوي
داتاجی شندې داسې تښتې ته اړ شوي وو، چې د افغانانو
له خوا ووژل شول. له دې امله ابدالي او روهیله ډېر مغرور

دي، دويم داچې زمونږ خپل فوج هم د دوئ په مقابل کښې مقاومت کولے نه شي، ملهاراؤ هڅه کوي، چې په خپلو چلونو سره په دوئ برید وکړي، خو روهیله او ابدالیانو دهندي مغلو په خیر نه دي، دوئ په برید او جګړه کښې سخت زړور لوجنګیالي دي»

دغه وه دیو مرهټي سردار ژړا.

د احمدشاه دغه اول اوړے ؤ، چې هندکښې یې تیرولو د دوئ وزیر عظم شاولي خان ویل: چې موږ دوه دښمنان لرو، چې یو مرهټیان دي، او بله دهندګرمي ده. که خدائ ته منظور وه افغانان به د دغو دواړو په کامیابۍ سره مقابله کوي، دلته احمدشاه په قراره ناست نه ؤ، د مرهټیانو خلاف یې ځان ته ملګري جوړول د اودهه د نواب سره یې د نجیب الله روهیله په ذریعه خبرې کولې، او د بادشاه سره د ملاقات دپاره یې راضي کړو، خو هغه په دې کښې دوه زړائ وو، چې د احمدشاه سره یوځائے شي او که د مرهټیانو سره د ده کمزوري دغه وه، چې نواب د احمدشاه ملاقات ته راضي کړي، نواب شیعه ؤ، او احمدشاه سنی ؤ، دښمنانو نواب په دې هم دارولو، خو ده د احمدشاه سره د نجیب الله روهیله په اعتبار کتنه وکړه، احمدشاه ورته د زوئ خطاب ورکړو، او د وزیر عظمی چغه یې ورکړه، نواب ورو سته خندل چې د وزیر عظمی چغه لرم خو وزیر عظمی نه شته، احمدشاه-

د جتانو او مرهټیانو ترمینځ اختلافاتو ته لمن وهله، اوغازي-
الدین سره یې هم خبرې روانې وې، مطلب دغه دے، چې
د پاني پت جنګ نه مخکښې دوئ ځان ته ملګري جوړول، مرهټیان
هم ویده نهٔ وو، دوئ هم د هرچا سره د رښتیا او درغو
معاهدې کولې، احمدشاه راجپوتو راجاګانو سره هم لوظ-
نامې وکړې، احمدشاه دوئ سره خبرې پیل کړې چې د جنګ
نه بغیر یو فیصله ته ورسو، مګر مرهټیانو خبرې ختې کړې
دا ځکه چې د سا داشیو مشرګرې لاندې لوئ فوج راغئ له ده،
سره (د بشواس راؤ) د پشوا بالدجي راؤ لوولس کلن زوئ تش
په نوم د لوئ ګانلر په حیث ورسره ؤ، دوئ دهلی وینوو، او-
لوټ یې کړو، د شاه جهان بادشاه د وخت د یوان فاضل د سپینوزرو
جوړچت یې مات کړو، او روپۍ یې ځینې خوړې کړې، د هلي نه پس
مرهټیانو په نورو علاقو کښې لوټ مار جوړ کړو، دوئ سره د غلې
غم ؤ، ولې په دې چې دومره لوئ لښکر مړول د ټوکو خبره نه وه، نو دوئ
هرطرف ته غلې پسې وتل، دوئ لنج پور باندې حمله وکړه، دغه ځائ
د احمدشاه بابا اعتمادي عبدالصمد خان محمدزئ هشنغرې او میاقطب شاه
په لاس کښې ؤ، او دلته دغلې کو دامونه وو، مرهټیانو په ډېرلوئ شیرسره په
دوئ حمله وکړه، دوئ په نره وجنګیدل، عبدالصمد خان محمدزئ هشنغرې،
شهید شو او میاقطب شاه بندي شو، دا هغه عبدالصمد خان وچې څه وخت-
احمدشاه بابا کابل وینو، نو ناصرخان مغلي ګورنر پېښور ته راتښتیدلے ؤ،
دلته یې لښکرې ټولولې، او عبدالصمد خان هشنغرې پښتانه

دا حمد شاه بابا له پاره راجمع کړل، ناصرخان په ده حمله وکړه، دے تړې وختي ځني تللی ؤ او خیبرکښې داحمد شاه بابا ته ورغلے ؤ. داحمدشاه بابا ډېر اعتمادي سړے ؤ. نو مرهټیانو د احمدشاه بابا زړه ته کوټې ورورې. مرهټیانو دقطب شاه میا د راتاجی شنډ ؤاس د مرګ په بدل کښې پهانسي کړو، او د عبدالصمد خان محمدزي هشنغري او میا قطب شاه سرونه یې پریکړل او په تیزې کښې یې و تومبل او بازار کښې یې دفتح، په طور وګرزاول. چې څه وخت احمدشاه خبر شو، نو ډېر غمجن شو. سپه سالار جهان خان وزیر عظم شاولي خان، او روهیله نجیب الله خان او نور پښتانه مشران یې خپلې خیمې ته راغونډ کړل، او ورته یې وویل: « زه نوره دافغانانو داسې بې عزتي نشم قبلوے »

او دعبدالصمدخان محمدزي د شهادت خوندبه مرهټیان وڅکي، اوس د مرهټیانو او پښتنو د روغې جوړې خبرې لاړې. ددوئ فیصله په پاني پت کښې کېږي چې بنګال ایست کښې انډیا کمپنۍ ورته ډېر په بې چپئ سره انتظار کولو داځکه چې راپرټکلدئ ایست انډیا کمپنۍ ۱۷۵۷ کښې پداسې میدان کښې سراج الدوله ته دمیرجعفر په غداري سر ماتې ورکړې وه. دغه دپاني پت دریم جنګ ؤ، چې قدرتي خبره ده چې دریواړو کښې د پښتنو لاس ؤ. دغې درې جنګونو د هند د قسمت فیصله کړیده.

دوه، پښتنو کېلی او یو بایللی دي.

اول جنګ پاني پت د پرتهوی راج او دده ملګریو او پښتون شهاب الدین محمد غوري ترمنځ شوے ؤ چې غوري صاحب وګټلو.

دویم جنګ ۱۵۲۶ د ابراهیم لودهي او د بابر مغل ترمنځ شوے ؤ، چې پښتنو د خپلی بې اتفاقۍ له اړه وجه وبایله.

دا ځکه چې والي لاهور دولت خان لودهي او ابراهیم خان لودهي سره وران وو، نو بابر - دولت خان د کابل نه را دعوت کړو او د بابر فوج کښې زیات د غه د پښتون خوا پښتانه وو. نو ۱۵۲۶ کښې مغل بابر د پاني پت په میدان کښې ابراهیم لودهي شهید کړو، د افغانانو عزت، دولت او حکومت هرڅه لاړل.

اوس بیا دریم پاني پت جنګ دی، چې د هند د قسمت فیصله به کوي، په دې کښې بیا یو اړخ تر پښتانه دي، او بل اړخ مرهټیان د هند هندوان دي، راځئ چې وګورو چې څوک یې ګټي.

دپاني پټ دربم جنګ

جنوري ۱۷۶۱ء

کله چې سادا شیو دهلي ونیو په دې وخت کې احمدشاه درانی په انوپ ښار کښې دېره وه. دشجاع الدوله په ذریعه دمرهټیانو سره خبرې روانې وې، خو د مرهټیانو مشر د خپلو بریالیتوبونو په وجه دوئ ډېر غره وو، دسرې یتوب روغې ته تیار نه وو، داکتوبر دمیاشتې په پیل کښې د دهلي سره نږدې شاهدرې ته وخوځیدو، او د جمنا د سیلاب په وجه پورې نږدې شو.

شاه د (کنجپور) په لوټیدو او د خپلو خوراکي موادو په چور کیدو او د پښتنو دمشرانو سرونو نمائش بادشاه بې جوصلې کړو، نور صبرې نه کړو، د عبدالصمدخان او میا قطب شاه شهادت سخت غصه او غمجن کړے وه، نو ده افغاني مشرانو ته داسې وویل:

« ترهغه چې زه ژوندے یم دافغانانو دغسې بیکاوې زغملی نه شم.» تاریخ احمدشاه» لیکونکے داکنز کنداسنګه.

د مرهټیانو دغوښې و دتاوولو کلکه اراده یې وکړه. دلته

بابا دوه ورځې روژه ونیوله او نفلونه یې وکړه، چې خدائے برے ورکړي په ۲۰ اکتوبر دشمال اړخ نه روان شو. او مخکښې یې خلك لیږلي وو، چې نرخو داسې ګودر پیدا کړي چې دوئ په سین پورې وځي، دوئ دباغ پټ سره ګودر پیدا کړو. احمدشاه دخپل فوج سره سین ته ورکډه شو، او ۲۶ اکتوبر ۱۷۶۰ کښې ټول دسین نه پورې وتل دلته د مرهټیانو ګشتي فوج افغانانو تپټ پرک کړو، اوساداشیو دمذهبي غسل کولو (اشنان) له پاره ګنج پورته نه د ګورو کشترې اړخ ته لاړو، دلته ده یو زرګشتي فوج مقرر کړو، مګر شاپسند خان افغان په دوئ باندې ناڅاپه بریله وکړ. دوئ څوک مړه اوڅوک وتښتیدل، او ۲۷ اکتوبر بله پیښه کښې افغانانو د سرائ سمبالکا د مرهټیانو سره مقابله راغله، دلته هم افغانان پر زور ورشول، شاه درانی درې ورځې کانار کښې تم شو. او ۳۱ اکتوبر سمبالکا ته راورسیدو بله خوا ساده شیو په تاراوري کښې چې کله دشاه درانی دجمنا دسین دپورونو نه خبر شو، نو سمدستي دشاه مقابلې له پاره راوګرځیدو، او ۲۹ اکتوبر ۱۷۶۰ کښې پاني پټ ته راغلو، شاه درانی یکم نومبر باندې پاني پټ ته راغلو، دمرهټیانو نه یې پنځه میله لرې مورچه شو، بالاخره احمدشاه درانی اوساده شیو بهاؤ دپاني پټ په تاریخي میدان کښې سره مخامخ شول، دپاني پټ سره

جوخت دکشتره کښې د پانداورس اوکاوړا واس ترمنځ د-
مهابهارت جګړه شوې وه. دلته د شهاب الدین محمد غوري
دتوري شرنګار تیرشوے ؤ. همدلته د پښتون بادشاه
ابراهیم لودهي ۱۵۲۶ کښې د مغل بابر دلاسه وینې توے شوې
وې، احمد شاه درانی یو ډېر تکړه جرنیل ؤ، نو ده دا سې
کار وکړ، چې اول سرکښې پې ځان ډېر سمبال وساته، او
عسکرو ته حکم ؤ چې خوشې به نه ګرځي، د خپل
کیمپ نه به لرې نه درومي، دغه ټول چل احمد شاه درانی
ددې له پاره کړے ؤ. چې د مرهټیانو چل معلوم کړي
چې دوئ ددې نه څه اندازه اخلي، مرهټیانو خیال
وکړي، چې افغانان ځکه ورچاني نه ګرځي چې دوئ له
موږ نه ډاریږي، نو دوئ دغه پرهیز د افغانانو کمزوري
وګڼله، او د دوئ خیال وچې بادشاه موږ ته د کنج پرلوټولو
او د افغانانو د مرګ په وجه و ډارولو، نو دوئ په
دې کښې شول چې بادشاه به بیرته افغانستان ته تښتي،
نو دوئ ډېر زړور شول او بې احتیاطه به ګرځیدل
مګر مرهټیان دلته ډېر خفه شول، چې د دوئ جاسو-
سانو اطلاع وکړه چې افغانان په پټه خپل ځانو نه داوږدې
جګړې د پاره تیاروي، د تښتیدو او یا په ځټ کیدو نیت بې
نشته.

اوس د دواړو لخوا وړې وړې جګړې پیل شوې، چې دغه اکثره دګشتې دستو ترمنځ کېدلې، او دغسې به دوئ دیوبل فوجي چل زده کاوه، او دغو دوه میاشتو دوام وکړ، ۱۹ نومبر ۱۷۶۰ تاریخ باندې د ابراهیم خان کاردی ورور فتح علي خان چې دوئ مرهټیانو په طرف وو دشاه په کمپ باندې دشب خون دپاڼ راووت، اوحمله یې وکړه دے پدې بریالے شو چې څو توپې دافغانانو نه وتښتوي درې ورځو پس د سندهیا پوځونو وزیر عظم شاولي خان باندې برید وکړو، نوکه چیرې افغانان بیدار نه وی نو ډېر تاوان به ور سیدلے و. څلورمه شپه په خیر تېره شوه - ۷ دسمبر ۱۷۶۰ کښې مرهټیانو دخپلو توپو په ذریعه دروهیله پښتنو فوجي کمپ باندې بمباري اوګوله باري وکړه روهیله پښتنو دګوله باري حواب ورنه کړو، خپل وار یې مشپې ته پرېښود، د شپې دنجیب الله خان ورور سلطان خان دیوزر عسکرو سوارو او پنځه زره پیاده عسکرو سره پسې وروت د مرهټیانو په کیمپ یې حمله اوکړه، د توپکو په ذرو په ذریعه مرهټې پهرداران فوج ګډوډ شو او تښتې ته مجبور شو، او توپې ځنې پاتې شوې، خو په عین وخت کښې ابراهیم خان کاردی عسکرو په روهیله حمله وکړه چې ورسره بالوانت راو مهندل هم ملګری وو.

روهیله رو رو خپل کیمپ ته را په ځټکیدل او جنګیدل هم پدې لویه جګړه کښې مرهټیانو د روهیله ؤ نه ډېر مړي وکړل، مګر د مرهټیانو توپونه یې کیمپ ته راوړل، پدې جګړه کښې د مرهټیانو کمانډر بالوانت راو مهندل ووژل شو، ده دساده شیو بهایو ډېر باوري افسر ؤ د دهٔ مرګ د مرهټیانو دپاره لوئ زیان او شکست ؤ.

اوس احمدشا درانی د مرهټیانو د تنګولو او غصه کولو دپاره یو بل تکتیک غوره کړو، دهٔ به هره شپه پنځه زره، جنګیالي چې دوئ به په ترکي آسونو باندې سواره وو، د مرهټیانو خوراکي موادو دلوټولو دپاره لیږل، چې ددوئ مشري به تجربه کار افغاني جنرالانو کوله، لکه شاه پسند خان او، جهان خان، دوئ به د مرهټیانو قافلې لوټلې، او هغه کسان به یې ټول بندي کول، چې په پټه به دوئ د شپې په ځنګلو تو کښې لرګي او وا ښه کول، د ډهلي لوړ ته سویلي سرک اول ځل دپاره افغانانو په مرهټیانو بند کړ، پدې وخت کښې دلبر خان روهیله بیر ته د کنج پوره دغلې کودامونه وینول، اوس مرهټیان نور هم وار خطا شول، اوس ددوئ امید صرف د پنیالی سردار ده الا سنګهه ؤ، سنګهه دوئ ته پدې بحرانی وخت کښې شمال لویدیځ له اړخ نه خوراکي مواد رسول او په خپله پاني پت ښار کوهتي کښې دومره غلې چیر ته وې، دښار

خلك هسې هم د مرهټي او دراني د خبر سره تښتيدلي وو، او غلې يې دځانو سره وړې وې، دا ځکه چې د دوئ سنار فوجي درمن جوړ شوے ؤ.

۷ دسمبر کښې افغانانو ته اطلاع وشوه چې د مرهټيانو مالیه ټولونکے مشر گوو هند بالال د نجيب الله املاکۍ لوټ کړے دے، راروان دے، احمدشاه دراني سره غم شو، چې دغه خبر سره د دهٔ روهيله اتحاديان گډوډ نهٔ شي او د بې اراميۍ سبب نهٔ شي، نو شاه زر د کريم داد او او حاجي عطاخان په مشرۍ کښې دگوو نيند بالال خلاف د پنځه زرو سپاهيانو سره ولېږل، دباغ پت سره نږدې دوئ پهٔ جمنا سين پورې وتل، او د ډهلي پهٔ حدود کښې پهٔ شاهدرې باندې ناڅاپه ور ښکته شول، او دسپاړسم دسمبر پهٔ نيټه يې مازيگر د مرهټيانو چوکۍ او پوسټو نه د منځه يوړل، بل سحر دوئ عازی اباد پوځي ځای قبضه کړو او بيا يې په جلال اباد کښې په گوو هند بالدل باندې ناڅاپه حمله وکړه، چې دوه درې ورځې مخکښې دهٔ دغه ځاے لوټ کړے ؤ، دوئ د څهٔ مقابلې نه بغير و تښتيدل او گوو هند بالدل قتل شو.، او د دهٔ سرپر يکړاے شو، او د شاه، حفوظ متر وړاندې شو، دافغانانو په لاس کښې اوس د روهيله علاقه مکمله راغله، او د مرهټيانو نه يې پاکه کړه، د دې نه پس بادشاه

صبر شي او دخوراکي موادو دکمبوت خطره دهمیشه د پاره ورکه شوه، مګر افغانانو به هره شپه په دوئ باندې حملې کولې، ددوئ هرقسم مدد درسید و لارې بندې کړې وې، او سمه ناکه بندې یې ورپسې کړې وه، په دې باندې مرهټیان وارخطا وو، خو د شاه فوج کښې هم روهیله مشران بې صبره وو، دوئ دجنګ خبرې کولې احمد بابا دوئ ته وویل: «زه ستاسو هرقسم مشورې ته دقدر په سترګه ګورم. مګر دجنګ خبره تاسو ما ته پرېږدئ، جنګ کښې بې صبرې لوئ مرض دے، چې - وخت راشي زه به درته په خپله حکم وکړم، دباباچل دغه وُ، چې مرهټیان تنګ شي، دخپل سنګرو نه راووځي، او دوئ حمله وکړي، او یا فوجي غلطي وکړي، مګر روهیله وغو بنتل چې زر فیصله وشي چې دغه عموماً دپښتنو عادت دے. چې ترنن ورځې پورې مونږ ه ورک نه کړو، ځینې خلك ټوکې کوي، چې مونږ ه فټ بال اوهاکي کښې ښه لوبغاړي یو چې فیصله یې لنډه ده، مګر دکرکټ وخت اوږد دے نو ځکه مونږ دپاڅ دپې صبرې موجب شي.

د مرهټي مشرله خوا دروغې جوړې پېشکش

مرهټي لښکر بابا ډېر تنګ کړے وُ، خوراکي مواد يې پرې بند کړي وو، د سولو لرګي خلاص شوي وو. جنګلو نه کښې وتې پښتانه غلي وو، د څارو وابنه په خلاصيدو وو، او هره شپه به پښتنو پر دوئ باندې بريدونه کول، نو دوئ ډېر تنګ شول دکن او پو نالـرى وو. نو دوئ شجاع الدوله ته خواست وکړو، چې دے شاه روغې ته راضي کړي، د دوئ نوار خطا وو، د بادشاه هم او د افغانانو وهل يې هير شول، اوس د ځان په غم وُ هم دغه چل ورسره بابا کولو، چې دوئ تنګ شي، بې صبره شي، او غلطي وکړي، په افغانانو بريد وکړي، دغه هغه فوجي چل وُ، چې بابا د دوئ سره کولو، نو ځکه يې قصه د ومره اوږده کړې وه، ده په سپين کاغذ باندې خپله کته کوته ولګوله او شجاع الدوله ته يې مکمل واک ورکړے وُ، مګر اوس نجيب الله روهله د بابا په چل پوه شوے وُ، نو ده شاه ته وويل: چې دغه د کفارو چل دے، بايد موږ جنګ او جهاد وکړو فيصله به ميدان کوي، په دې باندې شاه د صلحې خبرې پرېښودلې د جګړې فيصله وشوه چې مرهټي سپه سالار ساده شيو

خبر شو چې شاه روغه نه کوي، نو دجنګ نیت یې وکړو دجنګ نه بغیر بله لاره پاتې نه وه، داځکه چې دوئ دلوېې مړه کېدل، نو مرهتي سردارانو ورته وویل: چې هسې هم مړو نو ولې د درانیانو سره جنګ ونه کړو، عسکر ډېر تنګ وو. دوئ ویل: چې موږ څه خوړلي نه دي وږي یو ایوسیر غنم نه پیداکیږي. بنهٔ به دغه وي چې دښمن سره جنګ وکړو چې قسمت ته څهٔ منظوره وي هغه به کیږي، پدې باندې ساده شیوراؤ پهٔ افغانانو باندې دحملې دپاره فوج ته دتیارۍ حکم ورکړو، چې بله ورځ به حمله کوي، ده په یو - اخیري خط کښې شجاع الدوله ته داسې لیکلي وو:

«اوس نو وروستی شیبه راغلې ده، کهٔ دې څه پهٔ وس کښې وي نو زرې ترسره کړه او یا ماته منفي ځواب راکړه، له دې وروسته به نور نو دلیک یا خبرو دمبادلې له پاره کوم فرصت پاتې نهٔ وي» «کتاب احمدشاه لیکونکی کندهاسنکهه»

ددې لیک سره سم شجاع الدوله بادشاه ته حاضر شو، بادشاه پوه شو، دخوب په جاموکښې وو، اوخپل مشهور اونامتو آس چې بابا به ورته «چوکی» وئیلو پر سور شو خپل فوج یې دجنګ له پاره تیار کړو، او دفوجیانو سره یې خبرې وکړې، او دوئ ته یې ډاډګیرنه ورکړه. مرهتیان اکثره دقطار دجنګ قابل نه وُ، دوئ خوګوریلایې

چل باندې ښه پوهیدل وخپل هیواد مهار شتر انه لرې وو، او درنې وسلې ورسره وې، او ماشومان او ښځې هم نو دوئ نه شول کولای چې حمله وکړي، بیا په څټ شي نو ساده شیوراو دیوې داسې جوړې په... کیناست چې افغانانو نه ګټل یې ګران وو، خو دې لومه کښې یې ځان پخپله ښخ کړے و.

د مینځ فوج کاندډه په خپله کوله، دکینې خوا مشرګري دا براهیم کار دے په لاس کښې و او د ښی لاس کمان ملهارا و، هولکار، جانکوجی شندی په غاړه واخیسته دبلې خوا احمد شاه په ډېر محنت سره جنګي پلان جوړ کړے و، د سرجادونات سرکار دقول مطابق و، ده دیو ذاتي جنرال په حیثیت دخپل ملي فوج نیمایي برخه (اتلس زره) په مینځ کښې د خپل وزیر ترکمان لاندې واچوله په داسې حال کښې چې دوه نورې ډلې سپاهیان چې هره یوه پنځه زره کسه کېدله، او زیاتره په پارسي غوړه آسانو سواره پوځیان وو، خپل ډېر وړاندې، کین او ښي اړخ ته ولیږل، پدې ډول د شاه هندي متحدین دپیاوړو درانې فوجونو په مینځ کښې راغلل، او دخندو په خوا کښې ددوئ دکم غفلت، چل ول، او تیښتې څخه محنیوے کېدلے شو، له بلې خوا دخندو د دښي او کینې خوا

قطار ونه »(یعنې لیکه دراني پوځیان ددې له پاره هم غوره شوي وو، چې هغوی کولے شول، د مرهټیانو له خوا په اړخونو (ښي اوکیڼه) باندې برید هم ناممکن شي، او په دې ډول به شاه د هندي متحدینو په منځ کښې د مرهټیانو له برید څخه خوندي وي، او دهغوئ زړور توب ته به زیان ونه رسیږي، «کتاب احمدشاه، لیکونکے ډاکټر کندا اسنګهم ترجمان منګل»

نجیب الدوله او شجاع الدوله د شاه پسند خان د کماند لاندې کیښې خوا ته ولیږل شو، او حافظ رحمت خان او دوندي خان ښي اړخ ته، شاه خپله جنګي قطار یعنې لیکه اووه میله اوږده کړله، داسې دائره یې جوړه کړه لکه نوې میاشت چې راوخیژي، غاښې یې د مرهټیانو لیکو ته ورلګو شول، نو دوئ ډېر په آسانۍ په مرهټیانو باندې برید کولے شو.

د درانیانو فوجي جوړښت

کیڼ اړخ: شاه پسند خان، نجیب الدوله او شجاع الدوله په مینځ کښې شاولي خان وزیر عظم.

ښي اړخ: حافظ رحمت خان او دوندی خان،

د مرهټیانو نقشه

کیڼ اړخ: ابراهیم خان کاردی، ——

داماجی کیکوار وتیتال شویو.

مینځ کښې : ساده شیوبهاؤ.

ښی اړخ : انتاجی منکشوار، ساتوجی جاداو وړو کپتانانو ډله، جسوانت راو پاوار، شمشر بهادرجانکو جبی، شندی، ملهار راوهولکار.

د جګړې پیل د مرهټیانو د توپې ډېرزور سره پیل شو لومړے برید ابراهیم کاردي وکړو، پداسې حال کښې په یوه لاس کښې یې جنډه وه، او په بل لاس کښې یې توپک ؤ. دهٔ دوه ډلو پوځیانو ته حکم ورکړو، چې د هغوافغانانو مخه ویشي چې برخوردار خان یې رهنمایي کوله او په غپله یې د ښي اړخ نه په روهیله حمله وکړه چې شاه هم دلته ؤ، سخته جګړه شروع شوه، ابراهیم خان کاردي د مرهټیانو د پاڅ جګیدو، اول سرکښې خوداسې حال جوړ شو چې خیال کېده، چې روهیله به ډېر ژر ماتې وخوري خو کاردي په مخامخ جګړه کښې ډېر ژر وار خطا شو پدې وخت کښې احمدشاه بابا د روهیله دکمک له پاره نوے تازه فوج راولیږه، او ده حکومونه ورکوله، په داسې چل یې وجنګول، چې دکاردي فوجیانو ماتې وخوړله په دې وخت کښې دابراهیم خان کاردي کمک له پاره د اماجی کیکوار راغی، خو دافغانانو حملې اوبرید وته دومره

تیز او سخت و، مرهټیان روهیله افغانانو نه ټینګ نه شول،
او ټبنتې ته اړ شول، هم پدې ډول د مرهټیانو کیڼ اړخ
ماتې سره مخامخ شو، ویشورن راو، او ساده شیو په
منځ باندې حمله وکړه چې مشري یې وزیر عظم شاه ولي
خان کوله، د دواړو خوا ډزې شروع شوې د افغانانو
سپکې توپې ګوله باري شروع کړه، په مقابل کښې یې د مرهټیانو
درنو توپو بمباري شروع کړه، افغاني توپې ډېرې پیاوړې
وې، داځکه چې دوئ دیو ځاے نه بل ځاے ته ډېر په
اسانه وړے شوې. مګر د مرهټیانو توپې ډېرې درنې
وې، وړل راوړل یې ګران وو، پدې درز غوبل کښې -
مرهټي فوځیان په شاولي خان ورتوئ شول، او د افغانانو
قطارونه ته ورنوتل، افغانان یې وار خطا کړل، د منډې
خیال یې وئ، خو شاولي خان ورته چیغې وهلې چې یارانو
چیرته منډې وهئ، وطن موډېر لرې دے، بیا افغانانو
ځانونه سمبال کړل، جنګ بیا په زور شور سره شروع شو
پښتو دګډې غوندې منډه کړې وه، مګر د زمرو په
په شان په واپس راغلل، شجاع نه شو کولے چې د حاجي
عطائي خان مدد وکړي، داځکه که ځاے یې پرېښوده،
نو د کینې خوا د جانکوجي، شندی، ملهار راؤ هولکار نه خطره
وه، مګر بیا هم مرهټیانو د دې ګډوډۍ نه فائده نه شوه اخیستلے

چې افغانان یې په مخه کړے وائ، داځکه چې دشاه افسرانو دا په څټ شوي افغانان بیا زر راغونډ کړل او شاه خپل با ډې کارد هم دشاولي خان دمددلړپاړ ولیږه، اوس افغانان بیر ته په غیرت راغلي وو، مر هټیان یې په شا و تمبول، مګر دساده شیو زړورو فوجیانو سخت جنګ ته دوام ورکړو، په ې جنګ کښې د پشواه زوئ د خپلو ساتونکو عسکرو سره په افغانانو ورټوپ کړو، مګر اوس دافغانانو وارخطائي ورکه وه، دده حملې څه خاص اثر ونه کړ، داځکه چې احمدشاه بابا پېرزه دافغانانو له پاڅ فوج راولیږلو، افغاني فوجیانو داحمدشاه په لارښود نه دمرهټي فوجیانو خلاف خپل خپل چلول شروع کړو، او دوئ یې درې اړخونه را ایسار کړل، یوه ډله دافغاني پوځیانو له ښي اړخ څخه راپورته شول، په دښمن یې په ټوپکو ډزو سره بله ډله دکیڼې خوا راغله په مرهټي عسکرو یې حمله وکړه، او زر ښي طرف ته لاړه، او دریمه ډله له مینځ څخه نه راپورته شوه، مخامخ یې پرې ډزې وکړې، او بیا په څټ شول، داسې چل ول په وجه یې مرهټي عسکر وارخطا کړل، دوئ ته د سمبالیدو وخت پیدا نه شو، همدغه نمونه چل ول به افغانانو بیا بیا کولو، ددې باوجود مرهټیانو په شاولي خان باندې درې ځله سخته حمله راوړه

خو دده ملګرو مورچې ټینګې کړې وې او ځانونه یې ټینګ کړل، په پاوباندې دوئ بجې دافغانانو دګولۍ په سبب ویشتوان راو ولګیدو مړ شو، دده مرګ د ساد شیو له پاره لویه صدمه وه، دهٔ ډېر سخت په قهر اوغصه اوغم کښې مرهټیان راجمع کړل، او پرافغانانو باندې یې سخت برید وکړو، په همدې دوران کښې دے په نیزه زخمي شو سمدستي پسې په ګولۍ هم ولګیدو، او داس نه راوغورځید و اوے پنجو دراتی عسکرو لخوا مړ شو. دوئ دده جوهرات او سرشاه ته یووړل، ساده شیو بیا دخپل شهرت په اوج دخپل قوم له پاره د سلطنتي خوبونو په لیدو سره دځان نه لاسونه ووینځل.

د شاه دکیڼ اړخ او د مرهټیانو د ښي اړخ فوځیانو تر منځ عملاً جنګ ونشو چونکه ملهار راؤ هولکار او جانکوجي شندي د پښتنو د توري خوند لیدلے وُ، نو دوئ تر اخره پورې دخپلو مرچلو نه راو نه وتل، چې نجیب الله خان ددوئ د بزدلۍ نه فایده واخیسته، په پټه ددوئ فوجي لیکو تر وړغے اوپر دوئ یې برید وکړ، د دې سره د ښي لاس او منځ اړخ لاړه خلاصه شوه، شاسید خان اونجیب الله خان په دوئ غبرګ برید وکړو، ددې سره ملهار راؤ لومړے وښتیدو، دده سره یو ځاے

د جانکوجي زیات شمیر لښکر لاړو، جانکوجي په خپله زخمي شو د زیاتو تلفاتو سره یې ماتې وخوړه.

په دې ډول مرهټیانو ماتې وخوړه، دوئ څوک مړه او څوک په منډه وو، چې پښتنو په دې کلاوډۍ کښې را ایسارول او وژل یې، بل حال ؤ، د پاني پت دریم جنګ پښتنو وګټلو، د هند د قیمت فیصله وشوه، پرکلکته کښې لاړو کلدئیو خوشحاله ؤ، دا ځکه چې مرهټیان او پښتانه دواړه د هند او ایشیا خلك وو، او د پرنګیانو له پاره دواړه خطرناك وو، مرهټیانو داسې وهل وخوړل، چې تر ډېره وخته پورې یې د خولې خونه سم نه شو.

د دښمن تلفات:

په دې جنګ کښې دومره ډېر مرهټیان مړه وو چې، د احمد شاه فوج د دوئ د مړیونه درې دیرش «۳۳» غټې ماڼۍ او ډهرئ جوړې کړې وې، او دوئ (۲۸۰۰۰) زره مړي، شمار کړل. دغه مړي په میدان او خندوقونو کښې پراتړوو. هغه په زرګونو مړي چې دیښتې په وخت دا افغانانو لخوا مړه شول، د هغو څه حساب نه ؤ، د شپې دیخنۍ په وجه پټ شوي زخمیان هم مړه شول. (۲۲۰۰۰) زره بنځې او ماشومان اوسول بهوراکریسی یرغمال، یعنې جنګي قیدیان شول، د برهمنو ښکلې بنځې یا پیغلې په لس لس روپۍ

افغانانو خرڅې کړې، نقدې روپۍ جواهراتو حسابانه ؤ، د ځناورو لکه اوښانو، آسانو او نورو خوحساب نه ؤ.

په کال ۱۷۶۱ د جنوري په ۱۵- شاه له بري نه یوه ورځ وروسته چې یوه شانداره شاهي چپنه (قبا) یې پرغاړه او دالماس په ګډون ځلیدونکي جواهرات یې پرغاړه وو د پاني پت ښار ته ننوت، او د شیخ بوعلي قلندر زیارت یې وکړ، د لته خووړځې پاتې شو، بیا دهلي ته روان شو، د دهلي نه شپاړس میله لرې د مغل بادشاه کنډې ښځې زینت محل او د هغې دلسي میرزاجوان بخت لخوا شاه ته تود هرکلي وشو. د دې سړه د مرهټو د لاسه ناست ګوربز شنکرپنډت د دهلي نه پټ وتښتید، هدا رنګه په شمال هند کښې د مرهټو زور باندې سخت ګوزار وشو د مغلو سلطنت د شاه په پښو کښې پر مخ پروت ؤ، مګر ده د بابر په شان په تخت او هند باندې قبضه ونکړه، د برخلك په دې عمل شاه ته ښه نه وایي، مګر د داسې نه کولو وجې د باباسړه د برې وې، چې یوڅو بې د بېلګې په ډول دلته ذکرکوو:

۱- بابا نه غوښتل چې خپله خاوره پرېږدي، دا ځکه چې ده د خپلې خاورې سړه بې کچه مینه لرله چې دا د ده د شعرونه ثابتیږي لکه چې وایي:

د دهلي تخت هیرومه چې رایاد کړم نرماد ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه

۲- بله وجه یې دغه وه چې د هند سړاول د برو وخت

نیو، دا ځکه چې په جنوب کښې مرهټیان پراته وو، د بنګال د غاړې ایست East. انډیا کمپنۍ ۱۷۵۷ کښې پلاسۍ جنګ کړلي وو، نو دوئ، هم په اسانه دهند نه لاس نه اخیسته.

۳- د بابا اصلي خاوره پښتونخوا وه او هند دهلي په منځ کښې د دښمن قوت وُ، یعنې سیکهان، د دوئ نه هر وخت خطره وه چې دوئ به د اصلي خاورې او دهلي تر منځ رابطه کټ کړي.

٤- بله وجه دا وه چې زار روس او چینیان لګیاوو مرکزي ایشیا یې نیوله، او ۱۷٦۲ کښې بابا چینایي جنرال وو بوه او تاشقند، سمرقند، خیوا، بخارا یې د چینایانو نه بچ کړه.

۵- په ایران کښې روروقاچاریانو قدرت نیو لو، نو دایران له اړخه هم اصلي خاورې ته خطره جوړیده.

٦- پښتانه که څه هم د بابا د مشرګرۍ لاندې تر ډېره حده پورې په اتفاق وو، مګر ددې ضمانت نهٔ وُ چې دوئ به همدغسې پاتې شي.

۷- او اصلي او بنیادي وجه دا وه چې بابا د پښتنو د قبیلونه یو قوم جوړول غوښتل، او په دوئ کښې یې یو ملي احساس پیدا کاوه، او دغه احساس بغیر د بادشاهۍ نه ممکن نهٔ وو، او داسې بادشاهي چې مرکز یې په خپله خاوره کښې وي، یعنې ایران یا هندکښې، مخکښې هم د پښتو بادشاهۍ

پاتې وې، مګر دوئ هلته ورک شول، نو ځکه بابا په دې پسې نه تلو، چې خو مره لويه بادشاهي ده، ده غوښتل چې افغانې، خاوره ته دنوې زمانې مطابق يو قانون حيثيت ورکړي، اوپښتنو ته خپلې پولې جوتې او خرګندې وتاکلې شي. او د دوئ د بادشاهۍ ځکه خپله ځکه او پايتخت يې په خپل کور کښې وي دا ځکه چې بابا په دې ټولو باندې شعورې يو هيلو.

که چيرې بابا هنه کښې پاتې شوے وائي نو نن به نه هند وے نه افغانستان، دا ځکه چې دغه افغانستان نوم پخپله د دې ثبوت دے چې بابا د خپل کور نوم کښود، د دې نه وړاندې داسې نوم نه ؤ. صوبه کابل پيښور، صوبه غزني صوبه هرات، قندهار نومونه وو. مګر بابا دغې ځمکې ته نوم او پيژندګلوي اوپولې ورکړې، چې ترنن ورځې پورې يې موږ لرو، او په موږ کښې تر يو حده پورې ملي اوهيوادي احساس پاتې شو، او موږ ته ديو مرکز خاوندان شوو، او افغانستان د دوه لويو سامراجي قومونو په منځ کښې ژوندے پاتې شو، که څه هم هغه افغانستان نه دے چې کوم بابا پريښې ؤ. مګر پښتون قوم بيخي ميرات نه شو، لکه د هند لوړ قومونه. موږ ته ترنن ورځې پورې يو "IDENTIFICATION" لرو، که څه هم د مرهټيانو او افغانانو د جنګ نه پرنګيانو فايده واخيسته، مګر دغه قصور د اورنګزيب ؤ، چې هندوان يې راګرم کړل او بيا قصور

دمرهټي برهمانو، چې دوئ کټاس هندوان او متعصب خلق وو، او آخير يې ځانونه دپاني پټ په ميدان کښې وشرمول، (بابا)

بابا د دې بري او فتح باوجود دپشواه سړ رابطه وساتله دده دزوئ او تربور يعنې ويشواه راؤ او ساد شيوراؤ، چې دوئ دمرهټي فوج رهبري کوله، په مرګ يې دپشواه سړ سرازي ښکاره کړه، بابا پيشوا ته وليکل چې د دې جنګ په ذريعه چې کومه بدبختي مرهټيو ته ور په غاړه شوه نه له تا سو سړ په دې غم کښې شريک يم، اما قصور صرف دساده شيوراؤ ؤ، چې دوئ هيڅ روغې جوړې ته چمتو نه وو، مونږ صرف خپله دفاع کړې ده، مونږ اميد لرو چې په راتلونکي وختو کښې به دداسې تباهي نه مونږه ځانونه ژغورو، زمونږ اوستاسې په منځ کښې چې کومې شخړې پيښې شوې دغه څه دنيکمرغۍ خبرې نه وې، زه اميدوارم، چې داسې بدبختۍ به نورې نه پيښيږي، دبابا دليک متن «پشوا بالاجي» داسې - دليل نشته چې ولې بايد زمونږ اوستاسې ترمنځ بدنيتي موجود وي. داربښتيا ده چې تاسې خپل زوئ او ورور په دغه بدمرغه جګړه کښې له لاسه ورکړ، خو دا کار کاملاً دبهاؤصاحب په لسون وشو، او مونږه له خپل ځان څخه ددفاع پرته کومه چاره نه درلودله، سړ ددې هم مونږ په دغو تلفاتو سړ سختخواشي

شوو، مونږ دې ته تیار یو، چې د دهلي د شاهي اداري مسئله ستاسو په واک کښې پرېږدو په دې شرط چې تاسو پنجاب د سلج تر رود پورې مونږ ته خوشې کړي او د امپراتور په توګه د شاه عالم ملاتړ وکړي، تاسې به ضرور هغه خواشینې پېښې هیروئ چې پېښې شوې، او له مونږ سره به یوه دوامداره دوستي ټینګوئ، داسې دوستي چې مونږ به په ډېره لیوالتیا د هغې غوښتونکي یو.» کتاب احمدشاه.»

وزیرعظم شاولي خان داسې نور خطونه او د سوغاتو سره د یعقوب علي خان په لاس ګوالیار پېشواه ته ورسول، د بل اړخ نه ګلراج د فروري په ۱۰ نیټه د پېشواه سره ملاقات وکړ، او د احمدشاه پیغام یې ورکړ، پېشواه هم د غسې د روغې جوړې ارزو څرګنده کړه، خو پېشواه دلته سخت بیمار شو، خو بیا هم د صلحې او روغې جوړې تفصیل له پاره او شرائط له پاره خپل سړي دهلي ته ولیږل، هرڅه تیار شوي وو صرف رسمي دستخطونه پاتې وو، چې په دې وخت کښې د پېشواه بیماري سخته شوه، هم دغه ۲۰ مارچ ۱۷۶۱ کښې پېشواه د دکن اړخ ته وخوځیده، د دې بیماري په باوجود پېشواه خپل وکیل هنګني ته ولیکل چې: «زه د شاه ابدالي او د ده د وزیر لیکونو ځوابونه استوم، چې ماته راغلي دي، او د دوئ د وکیل ګلراج له خوا راسپارل شوي دي، زه انور شاه خان او

حسین محمد خان شاه ته د سولې د خبرو له پاره لیږم، ما ملهارا او هولکا ته هم د دغسې موضوع د پریکړې صلاحیت ورکړے دے، تاسو به اوس له هولکار سره مستقیماً تماس ونیسئ. او د دې تصمیم ته به غاړه کیږدي، له تاسو څخه غواړم چې د دوه تنو سلاکارانو انور شاه او حسین محمد شاه سره به پوره سلا مشوره وکړي او د مذاکرو له پرختګ څخه به ما پوهوي له پسې توګه خبر وساتي».

همدغه شان شاه په ۲۹ جنوري ۱۷۶۱ شاعالم ثاني یې د دهلي په تخت کښېناوه، او د نیکمرغۍ دعایې ورته وکړه، مګر د شاعالم ثاني مور (زینت محل) بادشاه ته خواست وکړو، چې شاه ابدالي دے، د هند ټولو واکمنو شهزادګانو ته فرمانونه ولیږي، چې شاه عالم ثاني دوئ ومني، زینت محل د شاه مور د لاره کلایو متعلق ورته وویل: چې شاه دې هغې ته هم کلک ولیکي چې شاه عالم ثاني د ریښتني او حقدار شهنشاه په توګه وپیژني احمد شاه واک نجیب الله روهیله او شجاع تر ورکړو، چې دوئ به د شاه عالم سره کمک کوي، او بابا د مغلي بادشاه نه بیرته خپل وطن تر د راتلو اجازت واخیست، دغه شان بابا (۲۰) مارچ ۱۷۶۱ کښې د پښتونخوا لوري ته حرکت وکړو، او پشوله د خپلو اهلکارو له خوا خبر شو، مئ ۱۷۶۱ ملهار او هولکار پشواه ته داسې ولیکل: «سره د دې هم شاه له روانېدو

دمخه دهنګني په حضور کښې شجاع الدوله اودده روهيله
متحدينو ته په کلکه توګه لار ښوونه وکړه چې ده له پشواه
سره دومداره اوپخه سوله کړې ده اوتاسې ټول بايد
دپشواه صلاحيت او واک ته غاړه کيږدي ، له دغه واک څخه
په خپله دوئ ډېره ګټه اخيستلے شي »

دغه راز شاه يعقوب علي خان ته امر وکړ چې پوناکی
دپشواه حضور ته د معاهدې دلاسليک له پاره لاړ شي.
« احمد شاه ليکونکے ډاکټر ګنډاسنګه ترجمان منګل » باباخپل
کور ته راغلو دخپل وطن په چارو کښې بوخت شو دغسې
دپاني پت دريمه جګړه سر تر ورسيده و.

دنوي کندهار د تاداؤ ایښودل

احمد شاه بابا یو قوم پرست او وطن پرست پښتون ؤ، نو دهٔ نه غوښتل چې هغې ښار کښې ژوند وکړي، کوم چې نادر شاه (۱۷۳۸) کښې جوړ کړے ؤ، دغه دغلامی ښانه وه، او د پښتون قوم دغیرت او پت له پاره یو داغ ؤ، نو بابا فیصله وکړه چې د پښتنو خپل کندهار پکار دے چې د دوئ د شاه لخوا یې بنیاد ایښودلے وی، او بل د زور کندهار د نادر شاه دالوئ ښان ؤ، نو بابا چیر ته یو آزاد افغانستان کښې د پردي دلاسه اباد ښار کښې ژوند کولو، نو بابا د نوي کندهار پهٔ جوړولو باندې پیل وکړو، نو دهٔ د کندا وله کلي سره نږدې د ښار پهٔ ختیځ کښې یو ویالهٔ د دشتې خوا ته وکندله، په دې خاطر چې د دې ویالې پهٔ لویدیځ غاړه نوے ښار ودان کړي، دغه ځمکه دالکوزیو وه، ده دلته خپله مور هم ښخه کړه، او یوه روضه یې پرې جوړه کړه چې دغه کلے د روضې پهٔ نوم مشهور شو، دلته دوئ دیوې فوجي چاوڼۍ جوړولو فیصله هم وکړه، مګر دغه ځمکه د بارکزو، وه، دوئ انکار وکړ، بابا پهٔ زور کار نه کاوه، دیو بل ځاے پهٔ

تلاش کښې شو، چې په دې کښې پوپلزي ورته راغلل، احمدشاه ته يې وويل چې زموږ حکمه حاضره ده، چې بادشاه څه پکښې جوړول غواړي مانع نه شته، نو بابا دلته د نوي کنده هاريښت کښېنود چې کوم نن سبا يې موږ ونيو، دغه د بابا دلاس جوړ ښار دے. پس له بنسټ ايښودلو نه احمدشاه بابا د ټولو قبيلو خلک راوبلل او دلته دکورونو د ودانولو له پاره يې ورته ووېل، او ده ښاګرد چاپېره ديوال يې ترې تاؤ کړ، خو دومره لرې يې تاؤ کړو چې د راتلونکي وخت له پاره د ښار پراخيدو ته يې پېره علاقه ورته پرېښوده، د ښار ديوالونه او برجونه جوړول يې هنديې ميمارانو ته ورکړل، اول سرکښې هنديې انجينر د شپږو مياسټو له پاره ورک شو، کار وځنډيدو، يو بل ماندېس کار واخيست، مګر دغه ماندېس بيا راپيدا شو، باچا ورځنې پوښتنه وکړ چې چيرته تښتېدلے وې؟

ده ځواب ورکړ چې زه تښتيدلے نه وم دسوچ بچار له پاره تللے وم، دا ځکه چې دغه خوشاهي ښار جوړيږي او چې دې باندې ډېر سوچ بچار په کار دے، پس ما سوچ او نقشه جوړه کړه، اوس وخت راغلے دے، چې کار شروع کړو.

دغه شان شپږ مياشتې نه پس ښار باندې زورشور سره کار شروع شو، بابا يې هر وخت معائنه کوله، او چې څومره به ښار جوړيدو په دې به بابا خوشحاليدو، په ټاکلي

وخت کښې برجونه اوګنبدې جوړې شوې، کله چې دفاعي دیوال او دهغې مورچې او دولس برجونه مکمل شول، نو بابا شیخانو، سیدانو او دهیواد نورو متبرکو کسانو ته خیراتونه او سوغاتونه ورکړل، او ددوئ نه یې ددعا هیله وکړه، هدغه شان دبابا دزړهٔ ارمان پوره شو.

دغه ښار دارغنداب لو ترنګ سیندونو پهتر منځ کښې په سمه ځمکه پروت دے، شمال لویدیځ خواته یې یو ټیټ - غونډې غر دے، چې تقریباً زر فټه جګوالے به یې وي دښار ختدو قونه څلویښت فوټه سوره وره دي او لس فوټه ژوره وو، ددیوال سور یې په پیل کښې یویشت فوټه اوسرکښې څوارلس فوټه ؤ، او ددیوال جګوالے یې نهه ګزه یعني ۲۷ فوټه ؤ، څلور اصلي دروازې لري. د بر درانې او کابل دروازه، شکارپور دروازه، دهرات او توپ خانې دروازه او دعیدګاه دروازه، دغه ټولې د مورچلو نو په ذریعه ژغورلے شوي.

په پنجاب کښې د سکهانو فسادونه
او
د دوئ شاته د فرنګیانو لاسونه

احمد شاه بابا ټول عمر په دې کښې تیر کړ چې کله به ایران کښې ؤ، کله هند او کله مرکزي ایشیا کښې، خو بابا ته چې زیاته سر درد دي جوړه وه هغه د پنجاب سکهان وو، که څه هم دغه ازمې او رنګزیب کرلي وو، مګر د احمدشاه بابا په وخت کښې او بیا وروسته ز موږ ته د افغانانو له پاره سکهان د لوئ شر او بدبختۍ سبب شول، چې دوئ سره د یورپیانو لاس ؤ، چې ورسره فرانسویان او اټلیان یې فوج کښې وو، او د بنګال نه به د ایسټ انډیا کمپنۍ د جاسوسانو په ذریعه د لوئ بابا په خلاف لمسیدل، او لاري او ګودرې به ورته ښودلے شوې، دا ځکه چې په ۱۷۶۱ کښې د پانیپت په میدان کښې د بابا کامیابۍ ټوله ایشیا و رکاوله او یورپي سوداګرو باندې او خاصکر پرنګیانو باندې تبه راغله، دا ځکه چې دوئ سره خطره جوړه شوه چې د رانیان هند کښې راته تهم نشي نو دغه به نوې وینه او جذبه وي نو د دوئ نه هند اخیستل بګران شي، نو ځکه دوئ غو ښتل چې هند

کښې ګډوډي وي، اوخاصکر پنجاب کښې، دا ځکه چې، پرنګیان خبر وو چې د افغانستان افغانانو دهند دافغانانو په ملګرتیا مرهټیانو و ډبول په پا ني پت کښې. او که هندي افغانان افغاني شاه د دوئ خلاف ولمساوي، نو دوی به د بنګال نه لري کړي، نو پکار دي چې د شاه له پاره کور دننه او خاصکر پنجاب کښې بد امنی جوړه کړي. نو دده ټول عمر به د سکهانو سره په پرزولو باندې تیر شي او موږ ته به موقع په لاس راشي چې ځانونه رو رو مضبوط کړو او بله فائده به دغه وي چې د پنجاب د سکهانو په وجه به د هندي افغانانو او افغاني افغانانو ترمنځ به ډاډیرک رابطه قطع شي، نو ځکه دوئ سکهان لمسول، او دوئ ته یې جدید ټوپکې ورکولې. د مثال په توګه د لاهور په جګړه کښې چې نور محمد خان په خپله جګړه کښې ؤ داسې لیکي:

« خو مره غټ تاسف دے چې له لیرې څخه د کافرانو په واسطه غازیان شهیدان کیږي، کاشکې مخامخ جګړه وے نو دنیا به یو څه لو به لیدلې وائ (کتاب احمد شاه دا کتر ګنډا سنګه منګل)

بابا به هرمني کښې پنجاب ته را تلو او سکهان یې ټکول چې اوړي کښې به بیرته لاړ، دوئ به دغرونه راکوز شول او پنجاب کښې به یې د سړ غوبل جوړ کړو په دې سلسله کښې بابا ۱۷٦٦ کښې هند ته داتم ځل له پاره راکوز شو، اوس تش سکهان

نهٔ وو،بلکې د بنګال میرقاسم هم د بابا سره د پر نګیانو خلاف رابطه نیولې وه، او ده غوښتل چې د احمدشاه ابدالي په زور د مرشیدآباد په تخت بیرته کښېني چې پرنګیانو کوز کړے وُ.
احمدشاه ابدالي پنجاب کښې د سکهانو خلاف فوجي مهم ته دوام ورکړ، او ځینې سکهانو د سورج مل جټ د مدد له پاره د روهیله نجیب الله خان خلاف تللي وُو، هسې هم سکهانو مخامخ جنګ نهٔ شو کولاے. مګر چې دوئ نوې یورپي توپکې ترلاسه کړل نو دوئ د پر زړور شول، خو دوئ همیشه د احمدشاه بابا نه هروخت ماتې خوړله، پدې دوران کښې احمدشاه ابدالي پهٔ سکهانو پسې جلندر دواب ته لاړو، دلته دده احترام ته غټ غټ جاګردار راغلل، مګر دغه زمیندار خلک پهٔ پټه د سکهانو ملګري وو، او پهٔ ښکاره یې د شاه سندرې ویلې، د شاه دلته پهٔ راتګ باندې پرنګیان وارخطا شول، شاه د مارچ ۱۷٦۷ کښې د سیندستلج نه پوریوتو او د سویل خوا ته د دهلي په لور روان شو، بله خوا سکهانو د لاهور، راوي، او ستلج دریابونو ترمنځ علاقه باندې قبضه وکړه، آسماعیل اباد ته درسیدو سره سم روهیله نجیب الله خان د شاه حضور ته حاضر شو، په (۹) مارچ باندې شاه خپل حضور ته ومانه، شاه هندي مشرانو ته په قهر وُ، مګر نجیب الله خان روهیله سره یې چلن ډېر د ورور ولے وُ، هم-

دلته دشاه کیمپ ته د میرقاسم استازی د شاحضور ته حاضر شو، د دې په اوریدو سره پرنګیان نورهم بې آرامه شول، دوئ وویریدل د دې له پاره ښه دلیل هم ؤ، او هغه دا چې که چیرې شجاع الدوله وزیرعظم او شهنشاه شاعالم ثاني د احمدشاه دکیمپ سره پیوسته شي، نو هغه رابطې چې دوئ دواړو سره نیولې وې خرابې به شي، نو ځکه پرنګیانو وزیر شجاع الدوله او شهنشاه شاه عالم ته وویل: چې دشاه ابدالي په حضور کښې مه حاضرېږئ او دته کومې پیسې ونه لیږئ، او که شاه ابدالي د دهلي خواته راځي، نو تاسې یې مخالفت وکړئ، هم دغه رنګ پرنګیانو د جټانو، مرهټیانو او نورو هندي مشرانو ته وویل، چې دشاه ابدالي په مقابل کښې محاذ جوړ کړئ چې زمونږ کمپنۍ به درسره مدد کوي، مګر بل اړخ ته دپاني پت جنګ په وجه د بابا رعب په هندي مشرانو باندې دومره لویدلے ؤ چې دوئ دې کښې حق حیران وو چې دکمپنۍ په هدایت لاړ شو او که دشاه افغاني احترام ته حاضر شو، «To BE or Not To BE To BE or not To BE.» کښې ګیروو، دپاني پت دجنګ نه مخکښې دکمپنۍ سیاست دغه و، چې انتظار وکړئ او ورته ګورئ، مګر ۱۷۶۱ نه وروسته دوئ ډېر چټک شول، که څه هم کله چې میرجعفرعلي کمپنۍ له تخته کوز کړ، او دده زوم

میرقاسم یې د بنګال، بهار، اوړیسه نواب کړو، نو دغه خبر ښاغلي هنري واستارت افغان علي حضرت احمدشاه تر ورکړے ؤ، شاه دخپلې خوږه ته او میر-قاسم ته ویلي اوهیله یې څرګنده کړې وه، چې دوئ دواړه به د هندي مغلي شهنشاه شاه عالم ثاني - اطاعت وکړي، دوئ داسې ښکاره کړه چې دوئ به دغه حکم ومني چې څه وخت احمدشاه بابا پاني پت جګړه وګټله، نو شاه عالم ثاني د هند د بادشاه په توګه مقرر شو، نو احمدشاه د هند د ټولو شهزادګانو او واکمنانو ته فرمانونه لیږلي وو، چې دوئ یې په رسمیت وپیژني، خو احمدشاه بابا ته هنري واستارت یکم مارچ ۱۷۶۱ کښې داسې لیکلي وو:

«د علي حضرت دغه خدمتګار (یعنې دوئ پخپله) چې د ثابت جنګ (کرنل کلف) په ځائے ناست دے، د شاه عالم اوامرو او غوښتنو تر اطاعت لري، او له نومړي (شاه عالم) سره چې پټني چونی تر راوستل شوے دے هغه تیار دے چې تر دهلي بدرګه وکړي»

مګر دغه ټول د پرنګیانو چل ول ؤ، دوئ نه غوښتل چې شاه ابدالي غوسه کړي نو دوئ به د ډیره پسته د ډیلو ماتئ ته به استعمالوله تر دې چې وزیر عظم

شاولي خان ایسټ اینډیا کمپنۍ ته ولیکل، چې دشاه عالم ثاني په نوم دې سکه ووهي اوخطبه دې دده په نوم واوروي، دوئ د دې د ځمنه نه کار واخیست مګر شاولي خان پرې پوه شو، نو سخت لیک یې ورته ولیکه، پر دې باندې پرنګیان وویریدل، نو دوئ دغه کار وکړ، مګر زړه کښې یې نورې منصوبې وې. حالات هغه وخت نور هم خراب شول، چې د بکسر جګړه (۱۷٦٤) کښې له ماتې نه پس ایسټ اینډیا کمپنۍ ته شجاع الدوله تسلیم شو، او مغلي شهنشاه د پرنګیانو کیمپ ته سوالګر په ځیرلاړو، او دوئ یحنې پرنګیانو ته شاه هند ددې علاقو دیوانۍ ورکړه، د دې سره کمپنۍ مضبوطه شوه، اوس نو دهند د بادشاهۍ خوبونه نور هم جوت شول، اوس دوئ د هند په سیاست کښې دغوره رول د لوبولو قسط وکړ، نو دوئ داکو ښښ پیل کړچې زر تر زره دهلی قبضه کړي، داځکه چې د دهلي امیدواران ډېر وو، چې هغه مرهټیان، روهیله، سکهان اوابدالیان وو، مګر دوئ ته اول سړ کښې خطره د افغانانو د شاه نه وه، تر ۱۷٦۷ پورې سکهانو دومره بدامني جوړ کړې وه، چې د شاه اسره دومره وخت نه وه چې د ایسټ انډیا کمپنۍ غوښونه تاوکړي، نو دوئ د دې باوجود د شاه نه

دپر ډاریدلي وو، دوئ ته دمیرقاسم لخوا دشاه هند
ته درابللوا طلاع شوې وه، مګر شاه عالم ثاني ددوئ
ترخنجر لاندې وو او دغه داحمدشاه لخوا د هند منلے شوے
بادشاه ؤ، په جوته دوئ (پرنګیان) شاه هند ته وفاداري
کوله، خو په حقیقت کښې هغه ددوئ بندي اله آباد کښې
ساتلی ؤ، او عمل کښې دشاه هند حیثیت دوئ نه منلو، نو
هندي شاه اعتبارې سړے د هلي کښې میرالدوله ؤ، ده
احمدشاه بابا تر دشاه د خلاصولو او بیر ته د دهلي د
راوستلو متعلق ولیکل: چې علیحضرت ددوئ سره کمک
وکړي، او دهلي کښې دشاه هند مور زینب بیګم او
شهزاده جوان بخت دشاه ابدالي راتګ ته یې سترګې نیولې
وي، ددوئ پر احمدشاه بابا باندې باور ؤ، چې شاه عالم
ثاني به دپرنګیانو نه راخلاص کړي، جنوري ۱۷۶۷ کښې د
احمدشاه بابا آواز ګې په هند کښې ګډې وې چې حضور
راروان دے، نو پرنګیانو په ظاهره مغلي بادشاه ته ویل،
چې دا هرڅه چې کیږي دتیموري خاندان دښکرې له
پاره کیږي، مګر په حقیقت کښې دوئ لګیاوو، داحمدشاه
بابا خلاف یې محاذ جوړولو، نو سمدستي د مرهټیانو او
پرنګیانو تر منځ رابطه جوړه شوه، دوئ په چرت کښې
ولویدل، نو پرنګیانو د مرهټیانو مشر راغونات راؤ ته صلاح

ورکړه چې دوئ دې د تپور دجټ حکمران جوهرسنګه د(سورج مل زوئ) سره روغه وکړه ي، او دهند نور مشران او شهزادګان یې راغونډ کړل چې د درانیانو خلاف سره متحد شي او یو محاذ جوړ کړي نو دوئ ورته یقین ورکړو چې که شاه ابدالي دشاه جهان آباد نه راوړاندې کېدو، نو پرنګیان به دده یعنې احمدشاه خلاف خپل ټول قوت په کار اچوي، او ماتې به ورکړي، او بل چل پرنګیانو دغه وکړ، چې راغونات راؤ ته دجټانو سره دروغې جوړې نه وروسته وویل، چې هغه د ابدالي ملګري راجپوتو باندې حمله وکړه یعنې (جودپور، اوجیپور) مګر داسې معلومیږي چې احمدشاه بابا ددې ملعونې ټولې منصوبې نه خبر شوے و چې نواب او دهه، مرهټیان، او پرنګیان پټ، متحد شوي دي، او شاه ابدالي خلاف یې جال خو-رولو کښې لګیا دي او دده متحدین راجپوتي راجا-ګانو خلاف د راغونات راؤ دپرنګیانو دلمسون په ذریعه ټک باندې احمدشاه بابا د پنجاب نه راغونات ته یو سخت لیک ورولیږلو، او هغه یې له جګړې څخه په هغه صورت کښې ویرولو چې دے به دپانې پت د فتح له دستور او معاهدو په خلاف عمل وکړي، ددې

لیک د لیږولو سره مرهټي سرداران وارخطا شول نو داخاد نه ووتل او د راجپوتي راجاګانو خلاف یې خپل مهم ترک کړ، او داندوب لوري ته لاړل، مغلو دلته دوه مخې رول لوبوه دوئ احمدشاه بابا او پرنګیان جنګول، او په خپله یې د دهلي واکمني په سترګو کښې وه، نو داسې نمونه یو لیک یې د شاه هند وکیل منیرالدوله، پرنګي ورشت ته ولیکلو، دغه لیک د احمدشاه بابا متعلق و.

ده یعنې منیرالدوله د احمدشاه بابا متعلق ایست انډیا کمپنۍ ته د بابا د سیاست او حالات متعلق لیکي:

«د اوخت په هندوستان کښې د قدرت خاوند، تولو وکیلانو عرائض شاه ته رسولي دي، که څه هم (منیرالدوله) یقین لري، د شاه له پاره به د اګرانه وي، چې سبزکال د سیکهانو د مخالفت په سبب دهلي یا نورو ځایونو ته ځان ورسوي، سره له دې هم که د هندوستان قدرتونه له دهٔ سره مرسته وکړي، انګریزان به څه لاره ویسي»

د دې لیک نه صفا معلومیږي، چې مغلو پرنګیانو ته جاسوسي کوله، بلې غاړې نه شهزاده جوان بخت او زینت محل د بابا سره رابطې وې یعنې دوئ داویلي

دواړه غاړې خورل غوښتل.

بناغلی وارلسټ ۱۷۶۷ مې کښې ورته ولیکل: چې د مغلي بادشاه له پاڅ پایاته دغه د صلاح وړ خبره نه وي چې شاه درانی ته ولیکي یا تاسو (میرالدوله)، ابدالي حضور کښې حاضر شئ، د داسې کارونو به د پرې بدبختۍ جوړې شي او دهٔ ورته زیاته کړه چې زهٔ فکر نهٔ کوم چې جوړسنګه جټ، نجیب الله خان روهیله، او نور روهیله مشران ابدالي شاه ته لاړشي او خپلې علاقې دې هغوئ ته وسپاري، کهٔ چیرې، روهیله او جټان متحد شي، او سکهانو سره د شاه ابدالي خلاف کمک وکړي، نو داسې امکانات شته چې ابدالي شاه ماتې وخوري او سپک شي، دهٔ میرالدوله ته داد ګیر نه ورکړه چې دوئ یعنې پرنګیان دې ته تیار دي چې د هرقسم حالاتو مقابله وکړي او موږ به پنځه برګیده فوج د راجپور سرحد ته لیږلے دے، کهٔ ضرورت شي، دوئ به نور فوج هم ولیږي، هم پرنګیانو یوبل ملګرے شجاع الدوله ته یقین دهانې، ورکړه چې تاسې هیڅ فکر مهٔ کوئ د پرنګیانو فوج دومره زور ور دے، کهٔ چیرې د ابدالي شاه سره روهیله او جټان هم ملګري شي نو موږ به تولوته

ماتې ورکړو، خو لکه چې څرنګه نواب صاحب ته معلومه
ده چې پرنګي فوج پلي دي او دابدالیانو فوج دسورو
دے، نو تاسو به دآسونو بندوبست وکړئ، او دسوروفوج
جوړول به ستاسو پهٔ غاړه وي، یو بل ځائے منیرالدوله
پرنګیانو د بلیک میل کولو داسې کوشش کړے دے. ده ورته
(وارلسټ) ته ولیکل چې شاه عالم دا بدالي شاه سره
څهٔ خبرې کړې نه دي، مونږه ټوله معمله ستاسې
خوښې ته پریښې ده، اوس ورته د بله سر ښکارهٔ کوي
لیکي: «کهٔ شاه لکه چې نجیب الدوله ویلي دي، دوه یا
درې کاله په هند کښې پاتې شي، او کهٔ احمد خان (بنګښ)
او نور روهیله سرداران له هغهٔ سره پیوستون وموي
نتیجه به ډیره خرابه او دهغې چارهٔ به بیخي سخته شي»
منیرالدوله ورته زیاته کړه، چې وخت کم دے ولسرائ
دې مازر خبر کړي، چې ماته څهٔ حکم دے، چې زه عمل
پرې وکړم، او بله خبره دغه ده چې تاسې ته یې درجوته
وم چې میرقاسم اراده لري، چې شاه ابدالي ته
ورشي، او دهغهٔ وکیل زیات وخت کیږي چې دشاه ابدالي
په خدمت کښې حاضر شوے دے، دولسرائ او شاه هند
ترمنځ اتحاد به زمونږه دواړو خوا، پهٔ ګټه وي، اوزمونږه
د دښمنانو منصوبې اومشورې به شنډې شي.

او منیرالدوله ۱۶ - مارچ باندې یو بل خط واشرائ ته،
ولیکو، ځدغه راز له شاولي خان څخه دا لیکونه راغلي
دي، چې دوندي خان، ملاسردار، حافظ رحمت خان
فیض الله خان او احمدخان دې د شاه کیمپ ته لاړشي
میرقاسیم دغه کچه او بې عزته غوڅ تصمیم نیولے چې
شاه ته ځان ورسوي له زیات وخت راهیسې دده وکیل
دلسو لکوروپوسندو سره د شاه په پوځ کښې دے، او . . .
ژمنه یې ورسره کړې ده، دے په زړه کښې د شجاع-
الدوله سره ډېره لویه بدبیني او دښمني لري، که شاه
د ډهلي لور ته راوخیژي او (خدائ مه کړه) که روهیله
ورسره پیوستون ومومي، نو د شریرو او نادانو خلکو سلا
مشورې به غلیه ولري، او په نتیجه کښې به دے (شاه)
دې لور ته راوړاندې شي، نو په دې ډول، د بنارد دفاع
کول به ګران وي او خونړۍ جګړه به ونښلي، که له یوې خواشاه
په خپله په (الهآباد) راودانګي، او په هغه بله خوا روهیله
په لکهنوبارا و (اودهه) برید وکړي، نو د دواړو پوځونو سره
دغره وهل به ګران وي. په دې سبب دا به ډېره زیاته -
مصلحت منونکي خبره وي چې د دغه خطر مخنیوي په
په غرض له شاه سره د دوستۍ او ملګرتیا یو تړون وشي
خوکه چیرې له شاه سره د سولې په مناسبو شرائطو-

موافقه ترلاسه نه شي ، نو دانګريزانو او عليحضرت (شهنشاه هند) له پاره به داغوره وي ، چې د آله آباد او فيض آباد په سيمه کښې ځانو نه اخته نه کړي او بيرته پټنې ته را په څټ شي »

دا يسټ انډيا کمپنۍ سټريچي واشرائ ۲۷ مارچ شهنشاه هند ته په ځواب کښې وليکل « د شاه (ابدالي) د راتګ په باب اعليحضرت دکومې انديښنې اړتيا نه لري ، که چرې هغه - (شاه) دې خواته نه راځي ، نو مذاکرې ضروري نه دي ، خوکه راغې نو هغه (شاه) ترهغو چې پشکش وانه خلي قناعت نه کوي ، يو داسې سړي ته سره زر ورکول چې په ناحقه پدې هيواد برید وکړي ، اعليحضرت او د دهٔ وفادار متحدين - (پرنګيان) ته په يو شان سپکاوے ګڼل کيږي د راتلونکي په باب دې د اعليحضرت زړه بيخي له انديښنې څخه بې غمه وي ، په پټنه کښې پوځونو ته هدايت شوے چې لکهنو ته - وخوځيږي چې په دې ډول ټول هندوستان له اعليحضرت سره د انګريزانو د وفادارۍ په ټينګتيا باندې قناعت ومومي او هندوستانيان داو مني چې دوئ (انګريزان) د اعليحضرت د دښمنانو د ځپلو اراده لري او دهغه څخه په مقابل کښې تيار دي چې پښېدونکي بريښي .»

دغه ټول خط وکتابت دا يسټ انډيا کمپنۍ د مغلي

بادشاه او شجاع الدوله ترمینځ کېدو، چې مغلي بادشاه نه پوهېدو، چې دده خبره په د چا سره وي، دوئ کوښښ کړے دے، چې مغل او شیعه شجاع الدوله او ایستانډ کمپنۍ د پښتنو خلاف سره یو شي، او ددې باوجود مغلي دربار د احمد شاه بابا سره هم رابطه ساتله، د پرنګیانو دا کوښښ ؤ چې احمد شاه بابا ته د سکهانو په ذریعه دومره بدامني جوړه کړي، چې د دهلي یا دوئ خلاف چې قدم پورته کولو قابل پاتې نه شي. او بل دوئ مغل او شیعه شجاع الدوله دخان سره ملګرے کړل، چې دغه ملګرتیا د مرضۍ نه زیاته د زور په وجه وه، چې دوئ یعنې پرنګیانو - د ارول او ورته به یې غوري کولې، چې پرنګیانو به شاه ابدالي ته ماتې ورکړي، او دا یې ورته ښودله، چې تاسې خیر په دې کښې دے چې افغاني شاه په ځائې د کمپنۍ ملګرتیا وکړي، او بل احمد شاه بابا د هندي مشرانو د دروغجنو قولونو نه موړو، دوئ کښې دومره همت نه ؤ، چې خپل ځانو نه یې ساتلی وایي، نو بابا خوتل د دوئ چو- کیداري نشوه کولای، او بل د بابا د ښمنان کم نه وو، - سکهان، جټان، پرنګیان، مرهټیان او مذبذب مغل او د احمد شاه ملګري صرف هندي افغانان وو، چې دوئ کښې نامتو نجیب الله خان روهیله ؤ او د احمد شاه بابا د پرباورې

وو. یوځل احمد شاه پهٔ غصه کښې وویل: چې په ډهلي ورد انګام، نو ددې په اوریدو سره نجیب الله روهیله وار خطا شو، احمد شاه بابا ته ئې وویل: چې مخکښې ما مرکره نو بیا په ډهلي ورځه، دا ځکه چې نجیب الله خان - روهیله ته خو پرنګیانو او ددوئ د اتحادیانو لومه معلومه وه، نو دهٔ نه غوښتل چې احمد شاه بابا په غم کښې ګیرشي احمد شاه بابا هم پوه شه د ډهلي تګ یې پریښود، اوس د ګرمۍ د راتګ وخت هم وُ، او بل دریابونو کښې د سیلابونو راتلو خطره هم وه، او د ده په لارکښې سکهان هم و، اوبل داچې افغاني سرداران هم ټولې فرښتې نهٔ وې، دوئ به کله پهٔ جوته او کله پهٔ پټه بابا ته لندۍ جوړولې، د سکهانو او پرنګیانو رابطې څهٔ افسانوي خبرې نه دي، بلکې تاریخي ثبوتونه دي، دمثال پهٔ ډول د جنرال بارکر هغه لیک چې ده-۹- اګست ۱۷۷۱ کښې د سکهانو یو سردار جندا سنګهٔ ته لیکلي وو، «دا ښکاره ده چې ترڅو د خالصه فوج مراقبت لري، هیڅوک پهٔ هندوستان باندې آزادانه اوله مخالفت پرته راد نګلی نهٔ شي».

ددې نه څرګنده معلومیږي، چې پرنګیانو د سکهانو سره څومره ژوندۍ او ژوره رابطه لرله، نو بابا پدې

ټولو پوه وو، نوځکه یې دهند په کړکیچنو مسئلو کښې بې ضرورته ځان نه ښکېلاوه.

او بل د بابا د پوزې بیماری او د شکرې ناجوړتیا-یې ورځ په ورځ زیاتیدې، او بل بابا ته دخپل جانشین مسئله هم وه، که څه هم سلیمان شهزاده مشرو خو بابا خپل کشر زوئ شهزاده تیمور خپل جانشین وګماره پدې حیثیت پښتانه خفه وُ، خوبابا دوئ پوه کړل چې سلیمان دبادشاهۍ قابل نهٔ دے، روسته سردارانو ورسره ومنله، دغه څهٔ معمولي خبره نه وه،

هېڅارنګه د بابا صحت ورځ په ورځ کمزورے کیدو د دې نه ایستې انډیاکمپنۍ فایده وچته کړه، هند کښې یې ځان مضبوط کړو، هندي قومونه او مذهبونه یې دیو بل خلاف استعمال کړل، ځان نه یې د مغلو په کنډوالو باندې بادشاهي جوړه کړه، کهٔ څهٔ هم وروسته میرقاسم دې کوښښ کولو، چې د پرنګیانو خلاف اتحاد جوړ کړي. مګر دے ناکام شو، دهٔ مرهټیانو، سیکهانو او جټانو ته خواست وکړ چې د دهٔ مدد وکړي، مګر-دوئ کښې یوهم تیار نه وُ نو مارچ ۱۷۷۰ کښې ده دکن حیدرآباد نظام ته داسې لیکلی وو: «چې دے له احمدشاه ابدالي څخه پرته بل کوم دوست نه لري خوهغه پخپله

په افغانستان کښې په خپلو کورنیو مسئلو یو خت دے »
هغه مسلې دتیمور ولي عهد او د بابا بیماري وه، چې ده
دمیرقاسم مدد نه شو کولی، بلکې اخري وخت
کښې روهیله مشر نجیب الله خان هم ورته بلنه
ورکړې وه، او ټول خرچ هندي افغانانو په ځان منلے
وُ، لکه چې دمیرقاسم دلیک نه جاوتیږي، د بابا
آخري شپې ورځې وې د کور دسمبالولو په چرت
کښې وُ، مجبور وُ، د ګران ملګري نجیب الله خان روهیله
مدد یې نه شو کولای.
اوس دبابا بیماري زیاتیده د ۱۷۷۲ کال اوړي کښې دپوزې
مرض یې دومره خطرناک شو، چې بابا په مشکله خبرې کولے شوې
اوخوراک ورته ګران وُ. چې علاج یې ګران شو، نو دکیسی غرونو
کښې یوځائ چې په توبه مشهور دلاړو، چې دکندهار په نسبت
سوړ وُ، دغه ځائ د اخکزو په علاقه کښې وُ، بابا ددې ځایه
دحکومت اداره کوله، مګر بیماري یې زیاتیده، خبرې یې نورې
نه شوې کولے، ګنې اشارې به یې کولې، چې پدې باندې دبابا یاور سکرتري
یاقوت خان پوهیدو، مګر چې څه وخت یاقوت خان هم دبابا په
اشارو نه پوهیدو، بیا بابا ورته لیکل پیل کړل، په دې طرز به دبابا
شاهي چارې روانې وې، مګر اخري حالت دې ځائ ته راغئ
چې بابا د خبرو، لیکلو، او اشارو نه پریوتو، او دغه لوئ بابا د افغانستان

د هیواد جوړونکی اوجهاني تاریخ کښې پښتون ملت پت اوعزت ګټونکی بابا د جمعې په شپه ۲۲ د سمبر ۱۷۷۳ کال کښې د نړۍ نه د تل دپاره سترګې پټې کړې. (اِنَّا لله واِنَّا الیه راجعون) یاقوت خان د بابا د پراعتبارې سړی وُ، او پټ په پټه یې شهزاده تیمور ته خبر ورکړو، چې شهزاده پدې وخت کښې هرات کښې وُ.

یاقوت خان بابا دنارونځ کټ کښې واچوه، آوازه یې خوره کړه چې سخت ناجوړ دے، بیرته کندهار ته یې یوړ، یاقوت خان به د جنازې په دوران کښې کټ ته راتلو او بابا ته به نزدې شو، چې خلقو ته دغه تصور ورکړي، چې د بابا سړه پټې خبرې کوي، او څوک یې نه پرېښودل ورته، داځکه چې د به ویل چې د بابا دپاره تکلیف جوړ نه شي، همدغه شان د جنازې سړه ټوله خزانه وه مګر کندهار ته لږ مزل پاتې وُ، چې دیکښې شهزاده سلیمان خیل پلار ته راغې، دلته خبره جوته شوه، او د بابا د مړینې نه عام اولس کندهار کښې خبر شو، دغه ټول کار یاقوب خان د دې دپاره کړے وُ چې څوک د دې نه ناجایزه فایده واخلي، چې دغه نمونه سرداران لږ نه وو، او دغه لوئ پښتون - خپل قوم د کندهار لویدیځه برخه کښې خاورو ته وسپارل شو، او ښکلې روضې یې پرې جوړ کړه، چې تر نن ورځې پورې موجوده ده. دده په روضه پر یوه کتیبه داسې لیکل شوې:

"احمد شاه درانی یولوئ پاچا وُ، دده عدالت داسې ترپ وُ، چې کوزنه او زمرې په سوله کښې یوځائ سره وسیدل، دده د بریو په غږ سړه دده د دښمنانو غوږونه پرله پسې کانړه شوي وو".

"کتاب احمد شاه درانی، لیکونکے ډاکټر کندهار اسنګه، ترجمان مشکل".

د احمد شاه بابا
خوئ خصلت

بابا د خوئ نه ډېر نېک او پرهېزګار مسلمان ؤ، او ورسره ډېر پوخ پښتون هم ؤ، بابا د قوم او دین ترمنځ د نزاکتونو په ځېل ډېر ژاور پوه ؤ، نه د دوسره لیونی مسلمان ؤ، چې خپل قوم ځینې ورک ؤ، او نه د دومره لیونی قوم پرست ؤ، چې دین ته یې بلاوویل، پنځه وخته لمونځ یې کولو، د نیکو، خلکو قدردان ؤ، او ښه (EDUCATED) ؤ، لیکوال، شاعر، ملي مشر، شهنشاه او ورسره ملنګ او قومي جرنیل هم و.

احمد شاه بابا په ټولو پاچاهانو کښې په دې ممتاز دے، چې ده یو داسې وخت کښې پښتونو ته هیواد ورکړو چې قومونه لګیاو، دیوبل په خوراک وو، که چېرې بابا په دې وخت کښې افغانستان هیواد بنسټ نه وے ایښې، نو مونږه د قبائلو په ښکل کښې به موجود وے مګر د ملي سوچ او مرکز او هیواد نه به محروم وائ، او خپلې پولې به مونه لرلې، بابا اول پښتون دے چې خپل کور کښې د ننه یې حکومت جوړ کړو، او ټول پښتانه یې په

یو مرکز دتوري په زور نه بلکې دخپلې تجربې او
او د پښتنو د خوئ نه دخبرتیا په ذریعه را ټول کړل، اودوئ
ته یې یو ملي احساس ورکړ او بل یې موږ ته هیواد
او هیواد ته جوړې پولې او نوم ورکړ. چې درمانې
دقانون مطابق یو لیګل (Legale) بنګل یې اختیار کړو،
چې موږ ځینې محروم وو، موږ په هند او پارس
باندې بادشاهي کړې ده، مګر موږ ته هلته ډېر ژر روګ
شوي یو، د خپلې مورنۍ ځمکې نه د لرې کېدو په وجه
موږ کلتوري په دوئ کښې ورویلي شوي یو، او بیا مو
بال بچ تش په نوم پاتې وو، ژبه، خوئ خصلت به
ځینې تلے وُ، پدغو ټولو خبرو باندې احمدشاه بابا شعوري
پوهیدو، ځکه یې نه په ډهلي کښې حکومت جوړولو،
او نه اصفهان ایران کښې، دغه د بابا خواهش وُ، چې
پښتون قوم ته یو هیواد ورکړي، د غه هله ممکنه
وه چې پاتې تحت یې په پښتونخوا کښې وے، نو ځکه
ده موږ ته پولې وټاکلې چې دغه د ستاسو هیواد
دے. او دغه نورې علاقې پردۍ دي، ده نه غوښتل
چې پښتانه هندي او پارسي کلتور کښې ورک شي نو ده
شعوري شاعري پخپله ژبه پښتو کښې وکړه، ده د
پښتنو قبیلو سره چلن په ملي طرز کولو، ده چیرې هم

ځان په دوئ جګړ نه ګټلو، د اخګه چې دوئ ته پته وه، دغه لیونیان بل څوک په زور نه مني، په دوئ به په مینه کار کوي، د پښتنو د خوئ خصلت نه د خیریدو یو مثال کافي دے، لکه چې وایي:

یو ځائ چیرته د بابا فوج اړولي وو، یوه ورځ شاهي نوکران د تازو سپو په ذریعه یو میلو په مخه کړے و، میلو مخکښې سپي ورپسې، په ډاکښې میلو د خوګیانو په تمبو ورننوتی و، خوګیانو د عسکرو سپي او شاهي نوکران د میلو نه منع کړل، او ورته یې وویل، چې میلو زمونږه تمبو کښې پناه آخیستې ده، پدې باندې د خوګیانو او د شاهي نوکرانو تر منځ شور جوړ شوے دے، خوګیانو تورې پسې راویستې دي چې څوک زمونږ همسایه (میلو) ته تاوان ورسوي، فیصله به دغه توره کوي، او د دوئ وینې به توئ شي، وایي چې د دې نه احمد شاه بابا خبر شو خپله اویا چا خبر کړو، بابا فوراً راغئ او د جګړې نزاکت یې فوراً وپیژانده، او نتائج یې ورښکاره شول، نو زر احمد شاه بابا د خوګیانو تمبو ته ورننوت، علان یې وکړ، چې میلو تنګی د خوګیانو همسایه نه دے، بلکې زما هم دے، په دې ذریعه بابا د خپل فوج په منځ کښې خانرجنګي ورکه کړه.

که چیرې بابا دپښتونوالي نه خبر نه وے، نوشاهي حکم به یې کړے وُ، چې خوګیانو عسکري ونیسي، نو ځان ته به یې کار کتلے وُ، مګر بابا داسې وسنه کړل، داځکه چې ده ته پته وه چې پښتانه ضد نیولي دي را شه د ملي کټې له پاره بادشاهي حکم شاته کړه، او پښتونوالي یې وکړه، داځکه چې پښتونوالي کښې همسایه (میلو) بچ شو، او بابا لښکر د خانزجنګی نه وساته، ستو افغاني بادشاهانو چې څومره وهل خوړل، یوه غټه وجه دغه وه چې دوئ دخپل کلتور او قامولی نه لرې شوي وو.

بابا ټول کارونه دپښتو د مشرانو سره دجرګو په ذریعه کول او قبیلو باندې یې د دوئ خپل مشران مقرر کړي وو، او دو مره آزادي یې ورکړې وه، چې افغانستان کښې د دوئ ساه نه بندیده، او دوئ ته یې دغه احساس ورکړے وُ، چې دغه ستاسو خپل هیواد او حکومت دے.

بابا د ایشیا او هند او ایران په سیاست او ټول باندې پوره پوړ پوهیده، دو مره نوړه به یې په خوله کوله چې تیریدایې شي، ده چیري د حرص نه کار نه دے اخیستی، مستقل مزاج یې درلوده، او ډېر رحمدل او، مهربان وُ، دپاني پت جنګ کښې د پیشوا سره دده دزوئ

او تربور په مرګ ورسره دغم رازړه جوت مثال دے.
چې بابا یو نوبل او نجیب دښمن ؤ، هم دغه شان
دنادر شاه د اولاد سره سلوک او د مغلو سره سلوک
ښکاره مثالونه دي، او بل بابا ته معلومه وه چې پښتانه
باید مشغول وساتل شي، اوکه دوئ بې روزګاره پاتې شي.
نو یو بل ته به لوټي جوړوي، همدغه وجه وه، نو ځکه
بابا به کله په ایران، اوکله په هند و رخوشې کړي وو،
چې دوئ نیولي وې، کنې دوئ په کور دننه غوبل
جوړوي.

همدغه وجه وه چې افغاني سردارانو ته د بابا
په ټوند دومره وخت میلاؤ نه شو چې دوئ په کور
کښې سره لاندې وتي وايي، بابا دوئ داتفاق له پاره
همیشه یو خارجي دښمن ساتلے وو، او چې بابا سرپرکنه
کړو، سرداران بیا په کور کښې سره لاندې وتل، چې نتیجه
یې معلومه ده، د بابا شعوري کوښښ ؤ چې په موږ
کښې قاموسي راولي، او د دهٔ ټول کړه وړه د افغانیت
له پاره وو، چې د دهٔ ټک افغان ملت ته لوئ زیان ؤ، لویه
بادشاهي یې موږ ته پرېښوده، او نه د ده په اولاد کښې
او نه په موږ کښې داسې څوک پیدا شو، چې دغه د بابا
میراث مو د دښمنانو نه ساتلے وے، دده په ځائ شهزاده
تیمور پاچا شو مګر د بابا خوئ خصلت نه محرومه ؤ.

تیمور شاه

او د افغاني شهزادګانو کورني جګړه

د دهٔ د زېږېدو ځائې تاریخدان مشهد لیکي:

«چې د دسمبر ۱۷٤٦ کښې پیدا شوے دے، د احمدشاه آته زامن وو چې په دوئ کښې شهزاده سلیمان مشر وُ، او تیمور وړسې وُ، سلیمان د وزیرعظم شاولي خان د لور سره واده کړے وُ، تیمور نږدې عمر په هرات کښې او د فارسي بانو سره تیرکړے وُ، داځکه چې دے د هرات ګورنر هم وُ، تیمور د سلیمان په مقابل کښې هوښیار او نرم دل وُ، نو ځکه احمدشاه بابا د سلیمان پرځائے تیمور خپل جانشین مقرر کړ، چې بابا وفات شو، نو سلیمان په کندهار کښې وُ، دهٔ د خپل سخر شاولي خان په کوښښ ځان بادشاه اعلان کړو، د تیمور په رانګې سره سخر او زوم ګوشې پاتې شول، خلک او ددرانی سردارانو د احمدشاه بابا د وصیت مطابق د تیمور طرف ته ودریدل شاولي خان چې په ځان پوه شو، نو د تیمور حضور ته حاضر شو، پدې د بغاوت مقدمه وچلیده، سابقه افغاني

وزیر عظم تیمور شاه اعدام کړ، چې پهٔ دې باندې
ډېر درانې سردارانو خپه شول، دغه ن مونږه د بې
اتفاق لومړی خښته وه، چې د شاه ولي خان د مرګ پهٔ
وجه کېښودلے شوه. بله غلطی تیمور دغه وکړه چې د
کندهار پهٔ ځائے یې شاهي ناستون کابل ته یووړ، چې
د قزلباشانو په کلب ورننوتو، پهٔ دې باندې کندهار یې خپه
شول تیمور شاه به اته میاشتې کابل کښې او څلور میاشتې
پېښور کښې وُ، د دې سړ شاه په تاجکو او قزلباشو باندې
باور شروع کړو او پښتانه رو رو د حکومت له چارو نه
بې دخله کېدل. پهٔ کابل او پېښور کښې ورته مغلي نوکر-
شاهي ناسته وه، شاه یې په شرابو او ګډاګانو واړوه
د خپل کلتور، ژبې پښتونوالی نه یې جدا کړو، هم د دې
ورځې نه افغانستان تش په نوم د افغانانو وُ، مګر خوابې
یې ټول نور و خلقو خوړل، چې دغه لوبه تر نن ورځې،
پورې روانه ده، د سکهانو، پرنګیانو ربړے خو د احمد شاه
بابا په وخت کښې موجود یې وې مګر دومره د ناسور ښکل
یې اختیار کړے نهٔ وُ، د تیمور شاه په وخت کښې څه خاص
فتوحات نهٔ دي شوي، مګر د بابا په میراث باندې سکهان
لګیا وو، میاشت پهٔ میاشت او کال په کال یې قبضه کولو، سند
کښې تالپوري خانان لګیاوُ، ځانونه یې جدا کول، افغاني

بادشاه خبرو ته یې پوه غوږ ونه نه نیول اوکړه دتنه ورته تربور عبدالخالق خان راپوه تر شو، که څه هم هغه کامیاب نشو، مګر دافغاني سردارانو نیتونه معلوم شول،

په کال ۱۷۷۹ کښې دچمکنو صاحب زاده صاحب فیض الله خان او دخلیلو مشر ارسلاخان دبرو، مومندو مشر، دوئ د تیمور شاه دقتل او داحمدشاه بابا شپږم زوئ شهزاده سکندر شاه په تخت کیناستلو سازش وکړو، په دې وخت کښې تیمور شاه پېښور بالاحصار کښې و، فیض الله خان یولښکر داپریدو او شیوارو نه حبور کړے ؤ، او دشاه په حکم یې پنجاب برید کولو، مګر ده د پنجاب په ځاے خپل لښکر بالاحصار ته بوت چې زه یې شاه ته ورښایم، چې دوئ بالاحصار - دروازې ته نږدې شول، نول محافیضان یې مړه کړل لښکر قلعه ته ور داخل شو، غرمه وه خوشاه ویده نه ؤ، چې شور یې واورید، نو فوراً پوه شو، دے دمحل چت ته ختلے ؤ، شاهي بادي کارد ته یې پکړے خوازولی وه، دلته شاهي فوج او درانیان راغلل، جنګ وشو. فیض الله خان او دده زوئ ګرفتار شول اوقتل شول، دمیاصاحب دنیولو نه نورو سردارانو منع کړو چې دده نه لوئ مصیبت جوړ پږي ارسلاخان مومند ځني خلاص شو پاس غړ ته لاړ، ارسلاخان

مومند سړ قرآن وشو، چې څه به ورته نه وايي، چې څه وخت راغئ، بیاکله چې راغئ شاه خپله وعده ماته کړه، ارسلا خان یې قتل کړ، ددې په وجه په خلکو بد اثر وشو، چې بادشاه قرآن هم نه مني، مشهد ایران کښې بغاوت وُ دشمال دارخه ازبک راروان وُو، پنجاب کښې سکهان وو، کشمیر کښې افغاني سرداران سړ وران وُو، د پېښور او کابل دربارونه دسازشونو نه ډک وو، تیمور عیاش آرام پسند سړے وُو دده وخت ټول په دې کښې تیر شو.

کال ۱۷۹۳ کښې د پېښور گرمی نه کابل ته روان وُ، چې لاړ کښې ناجوړه شو، او ۲۰ مئ ۱۷۹۳ کښې مړ شو، یوتاریخ دان چې فیریر نومیږي داسې لیکي چې د هغه حکومت په افغانستان کښې د عدل او انصاف له پاړ مشهور دے، هغه رحمدل او تن آسانه بادشاه وُ، بلا وجه سختي کول د هغه طبیعت نه بالکل خلاف وُ، مگر هغه په ځاے د پښتنو د رواجونو او طرز زندگي ایراني طرز معاشرت له زیاته ترجیح ورکوله د پښتنو کوم رنگ چې احمدشاه په زمانه کښې حکومت ته حاصل وُ، هغه د ده په زمانه کښې بالکل بدل شو تر دې پورې چې د هغې نه پخپله او د هغه د سردارانو نه د پښتنو ژبه هم قریب، قریب هیره شوه، او فارسي ژبه د کابل په دربارکښې عروج حاصل کړو، هم تیمور شاه د زماني نه حکومت نه

دپښتنو زوال شروع شو، او دفتري ژبې په ځاے دپښتونه فارسي شوه،

فیریر « FERRIER » یو بل ځاے لیکي ه « په افغانستان کښې زما د سیاحت په دوران کښې ماته داسې دپروسردارانو سړ دخبرو کولو موقع حاصله شوې ده، چې څوک دتیمور شاه په دربار کښې د لویو لویو رښتوخاوندانو او دهغه دعادتونو خصلتونو نه په ښه شان سړ واقف وو، ددې سردارانو نه ماته معلومه شوه، چې تیمور شاه فراست او چاقوالے هم دومره زیات ووچې څومره دهغه بهادري او مستقل مزاجي، او داهم ددې صفاتونو وجه ده چې دهغه پلار هغه له په نورو زامنو ترجیح ورکړے وه.»

دتیمور شاه، دوه ویشت زامن وو،

شاګرمان

دا خو اوس معلومه خبره ده چې تیمور شاه دوه ویشت زامن وو چې دوئ مختلفو افغاني صوبو کښې کورنران وو، بل داچې تیمور شاه دخپل جانشین وصیت هم کړے نه وُ. دده په جنازه باندې افغاني سردارانو دلې دلې شول هر یو سردار ځان ته یو شهزاده خوښ کړے وُ، چې دافغانستان په تخت به یې کښېنوي، هغه دچا خبره چې (سل بیمارانو یو انار) په دې

ټولو سردارانو کښې پاتنده خان بارکزئ دحاجي جمال خان ـ
محمدزي زوئ زورور ؤ نو د شاه زمان مور دده سره لار
جوړه کړه ، دخپل زوئ د بادشاه کولو له پاره يې تيار کړو
او ددهٔ په دربار کښې نورهم ډېر تکړه سردارانملګري
وو ، لکه احمدخان نورزی، فتح الله خان سدوزی، نورمحمد-
خان ، امين ، امير اسلام خان، جوان شير ، محمدخان، او
امين الله خان لوګرے ، ددوئ په همايت د تيمور پنځم زوئ
زمان ميرزا د شاه زمان تر نوم لاندې په چل ول بادشاه
کړو، ددهٔ دحکومت دوره دپښتنو له پاره د لوئ ازمائش زمانه
وه ، په هند کښې پرتګيانو داحمدشاه بابا د مرګ نه فائده واخيسته
ديو زورور قوت په شکل ښکاره شول، پرتګيانو خپل رقيبات
يورپي قومونه لکه فرانسويان ، پرتګيان او هايلنډيان وار په وار
د هندوستان تر دعوئ ايستلی وو، مرهټيان هم بې اتفاقه
شوي وو، او کمزوري شوي وو ، جنوبي هند کښې حيدرعلي
يوازې دپرتګيانو سره لاس په ګريوان وو، پرتګيانو هند کښې د
دمسلمانانو صوبې او حکومتونه يو په بل پسې اخستو او پنجاب
کښې هغه زړه بيماري يعنې سيکهان وو ، مشهد باندې قاجاريان
راماتوو ، دشمال له اړخه ازبک په اموسين راپورې وتو ،
پدې حالاتو کښې زمان خان بادشاه شو ، مګر د کمزورئ باوجود
مرهټيانو دحکومت خوبونه ليدل ، او پرتګيان خو راغلی دې،

پښې وو ، د دې ټولو نه زمان شاه ښه خبر ؤ ، مګر دهٔ ته وخت پیدا نهٔ شو ، چې په هند باندې فیصله کن حمله وکړي دا ځکه چې ډېر وخت پورې دے د محمود تر لاسه په عذاب ؤ ، محمود هم کله په قندهار کښې د بادشاهۍ اعلان کړے او کله پهٔ هرات کښې ، پرنګیانو زمان خان ته خپل ورو نه ، ولمسول ، چې پهٔ کوم کښې ګیر وي ، چې د هندوستان د فتحې شوق یې پوړ نهٔ شي ، پښتانه ددهٔ پهٔ وخت کښې د بې اتفاقۍ په مرض پوړ پوړ ککړ شوي وو ، یو د بل پهٔ لاړ نه تلو ، او بله غلطي زمان شاه دغه وکړه چې دده د پلار نه پاتې قبایلي مشرانو اختیارات یې نور هم کم کړل ، او داسې خلک یې لوئ لوئ خلک کړل چې دوئ ملي بنسټ نه درلود تش د پادشاه پهٔ خوش امدۍ او چاپلوسۍ به ژوندي وو ، د زمان شاه خیال ؤ چې پهٔ دے چل به د خپل حکومت واکې ټینګې کړي ، مګر افغاني ټولنه قبایلي ده ، چې قبایلي مشران د رسړ نهٔ وي ، نو حکومت کول مشکل دي ، دده یو بل ورور همایون نه هم دے پهٔ عذاب ؤ ، د ډېرو جګړو نه پس هغه ګرفتار شو ، د شاه پهٔ حکم ړوند شو ، چې اوس پښتنو د مرګ نه علاوه یو بله ذلیله مغلي طریقه خپله کړه ، یعنې د سترګو ړندول ، چې دغه ډېره غیر انساني لاړ وه ، خو « چې څهٔ کړې هغه به ریبې » چې څه وخت زمان شاه ـ

د شاه محمود خلاف په جنګ کښې وُ، په دې وخت کښې افغاني ترکستان باندې د شمال نه اوزبکو حمله وکړه، بلخ یې قبضه کړه، مګر زمان شاه د بخارئ بادشاه ترسخت اولیکل، په دې باندې ازبکُ واپس لاړل. اوس زمان خان دهند فتحې لپاړ روان شو، د ۱۷۹۵ په اخیري کښې دپېښور نه روان شو، په اټک پورې شو، په روهتاس کښې یې په سیکهانو باندې حمله وکړه، دوئ ماتې وخوړله، غرونو ته لاړل، دلته یوه هفته تیره نهٔ وه چې خبر ورته راغئ، چې دایران باچا آغا محمد قاچار په مشهد باندې حمله کوي او راروان دے آغا محمد قاچار ډېر بې رحمه سړے وُ، ده مشهد فتح کړ، دنادرشاه هډوکي یې له قبر نه وایستل، او ده لماسې شاه مرزا ډېر بوډاوُ، هغه عاجز یې قتل کړو، زمان شاه دهند تګ وځنډوه دقاچار دغوښونو د تاوولو له پاړ دلوئ لښکر سره مشهد ته روان شو، مګر چې پېښور ته ورسیدو نو قاچار مشهد پرېښود او ایران ته واپس لاړو، شاه زمان بیا دهند په لورې مخه وکړه په ۳ جنوري ۱۷۹۷ کښې لاهور ته داخل شو او په هندوستان باندې دحملې تیارے یې وینو، چې په دیکښې بیا خبر راغی چې محمود بیا په هرات کښې بغاوت کړے دے شاه بیا دهند اراده ترکُ کړه، دکندهار ددفاع له پاړ لاړو، ده محمود بیا دهرات نه وشړلو، لاړ ایران کښې

همسایه شو. اوس شاه زمان بیا دهند دفتح کولو له پاره راروان شو-۲۵-اکتوبر ۱۷۹۸ کښې بیا لاهور ته ورسیدو، دلته ده دسیکهانو سره دوامداره روغه وکړه، او اکثره سیکهان سرداران ورته راغلل، چې په دوئ کښې رنجیت سنګهه هم ؤ، شاه زمان دے د پنجاب ګورنر مقرر کړو، په دې وخت کښې بیا ایرانیانو په مشهد باندې حمله وکړه داځل فتح علی شاه دهندوستان پرنګي حکومت وملسوه، داځکه چې دکمپنۍ هندوستاني پرنګي حکومت په زړه کښې دغه ډار پیدا کړے ؤ چې مابا ده شاه زمان خان دخپل نیکه (احمدشاه) په څیر هندوستان فتح نه کړي، نو دوئ ایراني بادشاه فتح علي شاه دې ته تیار کړ چې حمله وکړي، او دپرنګي پالیسي دغه وه چې شاه زمان د هند دحملې نه بل ځائے مشغول وساتي، نو پرنګیانو اصفهان ته یو سفارت ولیږلو، او ددې په ذریعه دوئ ایرانیان د افغانانو بدی ته ولمسول او دپرې وعدې یې ورسره وکړې ایرانیان په خپل مقصد کښې کامیاب نه شول، مګر دپرنګیانو مقصد پوره شو، او زمان شاه یوځل بیا دهند دحملې نه ایسار شو.

یو پرنګي لیکوال ایلفسټون لیکي: «دراني لښکر دې پیش قدمۍ او دهغوئ په لاهور باندې قبضې کولو په ټول هندوستان کښې یو هل چل پیدا کړے دے، مرهټه قوم پخپله کمزورے شوے ؤ، ځکه چې هغوئ دخپلې کورنۍ بې اتفاقیو

په وجه خپل پوځونه ټول جنوبي هند ته بوتللي وو، دنواب وزیر حکومت هم ډېر بې طاقته وو، او د هغه رعایا کښې اکثره خلک د هغه نه بغاوت کولو ته مائله و، د دې علاوه، د ټولو مسلمانانو دا خواهش وو، چې زموږ دین دې بیا خورشي.

یو بل ځائے لیکي: «د شاه زمان د پرې خلک هم هسې بې کاره ناست نهٔ وو، د هندوستان ډېرو حصو کښې سازشونه په دې غرض وشول، چې څرنګه به د شاه زمان په راتلونکي حمله کښې هغه سړه تعاون کېږي، د وهیله په ډېر شیر کښې سړدوسلې راجمع کېدل شروع شول، او هر مسلمان اعین تر دکن په دې امید کښې په انتظار شول چې کله به د اسلام علمبردار پېش قدمي کوي د خلکو امیدونه او توقعات د څهٔ وخت له پاره - خواره شول، هرکله چې د شاه زمان دا حمله پاتې شوه، مګر د دې حملې اثر د عامو خلکو په زړونو باندې مستقیل طور پاتې شو، څوکاله پس د مرهټو د زړهٔ نه د بل احمد شاه درانګا ګیدو ویره لاړه، او کوم انګریزي سفارت چې ایران ته په ۱۷۹۹ کښې تللي وو، د هغې غرض هم دا وچې د شاه زمان دا مجوزه حمله دې د دریو کالو پورې وځنډاولې شي.

هدار نګه یو بل پرنګ سر ولیم جان د دې حملې متعلق لیکي:

«په هندوستان کښې د حکومت برطانیه ټولو دښمنانو د معاندانه توقعاتو سړه د کابل په طرف سترګې نیولې وې.

دهغوئ دایقین ؤ چې د دې عجیب او غریب ملک دکوهستانو
درو نه به د جاهدینو یو داسې ټولے راوزي چې هغوئ
به اسلام د غاصبانو پرنګیانو د پنجې نه خلاص کړي، دهند-
وستان د مسلمانانو بادشاهانو وینه دجوش نه خوټکېدله
په قطب کښې د اودهه نه او سوهیل کښې د میسور نه دپښتانو
بادشاه ته دعوت نامې تللې وې، او د ډېرو مال او سړو امداد
وعدې یې ورسړ کړې وې، وزیر علی او سلطان ټیپو
ور ته لیکلې وو،: چې دمسلمانانو یولوئ لښکر دهندوستان
دا خپستو له پاسه راکوټکړه، نور کسان هم چې چا سړ دهغهٔ
دمذهب شرکت نه وو، هغه سړ دملکر تیا قول اقرار وکړو
د جونا ګړ راجا دالوظ وکړ، چې هرکله شاهي پوځونه
دهغهٔ پهٔ علاقه کښې قدم کیږدي، نو هغه به یولک روپیه
روزانه هغهٔ ته ورکوي.»

دغه وو دهندوستاني بادشاهانو او مشرانو احساسات
او توقعات، مګر ددې ټولو نه پرنګے خبر وو، نو دوئ ایران
دافغانستان خلاف استعمالولو چل جوړ کړے ؤ، پرنګي حکومت
دایراني حکومت سړ یو لوظنامه وکړه چې کیپټن مالکم دکمپنۍ
نماینده ګي کوله، دهغې لوظنامې دیو شرط نه یو اهم شرط دغه
وو،: چې که چیرې بیا دراني بادشاه په هندوستان باندې
دحملې کولو اراده وکړه، نو شاه ایران به ضرور دپښتو ملک

به په یو لوئی لښکر تباه او برباد وي ،او د پښتنو بادشاه سره به هغه بالکل روغه نه کوي ، تر څو پورې چې هغه داقرار نه وي کړے چې بیا به دا نګریزانو خلاف هیچیرې نه ګواښیږي ي .»

د پرنګي نه خوګیله نه شته ، خو افسوس د ایراني مسلمان بادشاه له پاسه دے ، چې دغه بې وقوف د پرنګي د مفادو ساتلو له پاسه تیار وُ .

کیپتن مالکم ۱۷۹۹ کښې ایران ته تلی وُ ، او ایران کښې یې دومره رشوتونه او روپۍ خوړې کړې وې چې ایرانیان یې په کرایه اخیستي وو ، .

نو دې ګورنر جنرال لارډ ولزلی ته اکتوبر ۱۸۰۰ کښې دا صفهان نه لیکي :

ترجمه :- تاسو مطمین اوسئ چې زمان شاه په هند کښې هیڅ نه شي کولئ ، تر څو پورې ۱۸۰۱ د برسات موسم وي ، دده سره وخت نه شته ، که طاقت هم ورسره وي ، چې داسې عمل وکړي ، د خدائ په مهربانۍ به دې د خوکالو د پاره د ګوټ کښې حصار پاتې شي او هیڅ غور او فکر به د بل ځائ ونکړائ شي .

دد ې نه اندازه لګي چې پرنګي د زمان شاه خلاف
څومره لرې، لرې پورې جال خور کړے ؤ، شا ته يې نه صرف
خپل کور د ننه غوبل جوړ کړے ؤ، بلکې ايران يې هم ورته
په کرايه اخيستی ؤ، د دې نه د پرنګيانو دور رسی منصوبو
نه پته لګي، چې دوئ دهندوستان د خوراک له پاره کومې
کومې لوبې نه کولې، همدغه وجه وه چې پرنګيانو تر ۱۹۴۷ پورې
پر پښتنو باندې خاص نظر ؤ، د باچا خان او خدائ خدمتګارو
تحريک ته په دې ائينه کښې کنل پکار دي، د پښتون او پرنګي
جګړه ډېره زړه ده، د احمد شاه بابا نه تر باچا خان پورې
يې دوام وکړو، اوس يو ځل بيا شهزاده محمود په هرات
حمله وکړه، دلته وفادار خان چالاکي ورسره وکړه د
دوئ ملګري يې يو په بل بې اعتباره کړل، محمود وويريده،
بخارا ته و تښتيدو، شاه زمان د بخارا بادشاه ته وليکل چې
شاه محمود باغي دے تاسې ته پکار نه دي چې زما خلاف
يې ساتئ. پدې باندې محمود خبر شو، محمود د بخارا د شاه
نه د حج له پاره اجازت وغوښتو، هغه اجازت ورکړ، محمود
د حج په بهانه ايران ته راغئ، د فتح علي خان قاچار په
خدمت کښې حاضر شو، د شاه زمان خلاف يې د ايرانيانو
او پرنګيانو سره ساز شونه پيل کړل. دلته د شاه زمان په دربار
کښې د سردارانو کشمکش هم ؤ، دوئ ديو بل پښې را ښکلې، د

شاه زمان دربار کښې پاینده خان زور ور سردار و دده
مخالف یو چالاک چاپلوس او بزدل سردار وفادار خان و، ده
غوښتل چې پاینده خان بې عزته کړي، وفادار خان پېر
چاپلوس او خوش امد سړی و، په دې ذریعه یې په شاه
زمان قبضه کړې وه، چاپلوسي او خوش امدي د شاه زمان
کمزورے وسے ددې نه وفادار خان فایده واخیسته، نو
شاه زمان یې دې ته ولمسولو، چې د قبائلي سردارانو
اختیارات کم کړي، او د دربار کښې ټول سردارانو د وفادار-
خان د ناکردو نه تر پوزې پورې راغلي وو، دوئ بار
بار شاه زمان ته احتجاج وکړو، مګر وفادار خان په
شاه زمان داسې دام چوف کړے و، چې هیڅ یې نه اوریدل.
نو په کال ۱۷۹۹ - کښې د پاینده خان تر مشرګرئ لاندې
دوئ د وفادار خان د قتلولو سازش وکړو، پاینده خان
د بارکزو قبیلې یو قابل سردار و، چې د بل نوم یې سرفراز-
خان و، دده سره محمد حکیم خان الکوزئ، امیر ارسلا خان
قزلباش (پارسي بان) او نور شریف منشي باشي یوسف علي خان
د خواجه سرا کانو مشر، سلطان خان نورزئ او رحیم خان
علي زئ، دوئ ټول د یو بزرګ سړي په کور کښې راجمع
شول، داځکه چې د وفادار خان جاسوسان هر ځاے وو،
نو دوئ قسم وکړو، چې وفادار خان به وژنو او شاه زمان

به له تخته کوزو، مګریو پارسیبان سردار دخپل لوز خلاف
شاه زمان او وفادارخان د سازش نه خبر کړل، دوئ
فوراً ته وتول ، سرداران وینول او دربار کښې یې پیش کړل
دوئ ورته وویل، چې موبږه خوخو ځله دوفادارخان
خلاف تاسې ته شکایت کړے وُ، مګر تاسو غوږ و نه په
کرولو، اوموږ قسم کړے وُ چې وفادار به وژنو اوتاسو
به صرف دتخته کوزو، د دې بیان نه پس شاه زمان
دقتل حکم ورکړو، د دوئ سرونه یې پیش کړل، اوس
دشاه زمان سره ویره پیدا شوه، چې اوس به بارکزئ
او محمدزي به دپائندخان بدل اخلي، نو ده د محمدز و
د سرد سر سردارانو د نیولو حکم ورکړو، چې پلدیکښې
ډېر ځینې وتښتیدل، بادشاه دفتح خان دپائنده خان دمشر
زوئ، د ګرفتارۍ ډېر کوښښ وکړ، مګر ناکام شو، فتح
خان ځینې خلاص شو، نو ډېر سرداران ایران ته لاړل،
د شهزاده محمود سره یوځاے شول، چې دخپلو وختونه پس،
فتح خان هم ورغئ، دپائنده خان دمرګ پهٔ وجه ډېر-
قبائلي سرداران د شاه زمان او ددهٔ چابلوس وزیر-
وفادار خلاف هم شول، همدارنګه بادشاه دکشمیر ګورنر
عبدالله خان الکوزئ هم سزاوار کړ، پهٔ دې باندې دده ورور
سید ال خان الکوزئ دخپلې قبیلې سره د محمود سره ودریدو

دیخوا فتح خان او دده ورنو دخپل پلار بدل اخیستلو تیاری شروع کړ، دوئ شهزاده محمود ته وویل چې د شاه زمان خلاف باید موږ ته پخپله پورته شو، د غیرو قومونه امداد نه نیسي د خپلو خلکو په کمک موږ ته شاه شړلے شو، همدغه صلاح شهزاده محمود ومنله، د ایران نه افغانستان ته روان شو، چې رو رو خلك ورسره یوځاے کېدل، په فراه کښې دوئ د وفادار خان او شاه زمان خلاف یو علان خور کړ، او افغانانو ته یې وویل: چې موږ تاسې د دوئ د ظلم نه خلاصوو،،

همدارنګه د محمود او فتح خان لښکر کندهار قبضه کړ، د شاه زمان کورنۍ یې وشړلو، پدې وروستو کښې شاه زمان په پېښور کښې وُ، په هند باندې د حملې تیاری یې کولو، د خبر داوریدو سره سم یې د هند حمله بل وخت ته پرېښوده او د کابل اړخ ته روان شو او پېښور یې خپل وروړ شجاع ملك ته پرېښوده، کابل کښې ورته معلومه شوه، چې د درانیانو نیتونه خیرن دي، نو ده د غلجیانو نه مدد وغوښته، اوس وفادار خان وار خطاوُ، د جنرال احمد خان او وفادار هم سره ورانه ده بادشاه د پرشن (۳۰) زره فوج سره د محمود مقابلې له پاره روان شو، او احمد خان یې مخکښې ولیږلو.

اوس دجنرال احمدخان وخت راغلی وُ، چې دوفادار
خان نه بدل واخلي، چې څه وخت فوجونه سره
مخامخ شول، نو جنرال احمد خان دفتح خان دې
اړخ ته ورغئ، وفادار خان او شاه زمان یې پرځای
پرېښودل، وفادار خان دومره وارخطا شو، چې
بغیر دمقابلې نه یې شاه کابل ته واپس کړو او وروسته
دفتح خان فوج و، دوئ کابل کښې ټینګ نه شول،
او دشرق غاړې ته و تښتیدل، دشنوارو علاقه
کښې یې پناه واخیسته یعنې پټ شول. دوئ د ملا
عاشق کره میلمانه شول، ملا په ظاهره دوئ خاطروکړ
مګر په پټه یې فتح خان خبرکړ، چې یاران دلته دي
او دوئ یې په قلعه کښې نظربند کړل، دوئ ملا
عاشق ته ډېر منتونه وکړل، پښتو او پښتونوالی
یې ورياد کړل، مګر ملا یوه هم ته منله، دوئ بیا
په زور دځانونو خلاصولو کوشش وکړ، مګر دملا
عاشق سره ناکام کړل، په اخرکې دوئ ځانونه خلائ
ته وسپارل. دقید په دوران کښې شاه زمان کوم
نور دلته پټه خوندي کړې وه، چې څهٔ وخت دهٔ
وروور شاه شجاع بادشاه شو، نو ده بیا راوویسته
چې څهٔ وخت د ملا عاشق سړي محمود ته وراغلل،

نو سمدستي يې د فتح خان وروړ اسد خان يې ،
ورپسې ورو لېږلو ، دوئ ټول يې دوفادارخان
سره کابل ته بوتلل ، د کابل د رسيدونه مخکښې
د شاه زمان سترګې پرانديې کړې شوې ، او کابل
کښې بندې کړے شو ، د محمود دور حکومت کښې
هغه بندې وُ ، وفادارخان او د دهٔ انديوالان يې
ټول قتل کړل ، همدغه شان د پرنګيانو لوئ دښمن
او د هندوستاني مسلمانانو او روهيله پښتنو اميد
شاه زمان د همېشه له پاره د اقتدار نه لرې کړے
شو ، او خپله بنائي او ديد يې له لاسه ورکړه .
د پرنګيانو يو بل خطرناک (Rival) له منځه
لاړو ، چې دغه وو دوفادارخان چې اصلي نوم يې
رحمت الله خان و د سياست نتائج ، چې نه صرف دهٔ
له خپل ځان نه لاسونه ومينځل ، بلکې ټول افغان اولس
يې د بدبختۍ کنديې ته د ځان سره وغورځولو ،
د تعجب خبره خو داده چې دغه اتفاقي کارو ، او که
سازش ، چې ايراني شيعه حکومت او هندي شيعه
د اوده نوابان ټول د پرنګي ملګري وو ، دوئ د پښتنو
حکومت ته ډېر زيات نقصان ورواړوه ، همدغه شان
د همايون سره شيعه ايران کمک وکړ ، د سوري خاندان

چې پښتانه وو، هند کښې حکومت ختم کړو، همدغه شان ایراني بادشاه د زمان شاه په وخت د پرنګیانو له پاره دیو دلال (Agent) کردار ادا کړ، چې نتیجه یې د پرنګي دلاسه د هند نیول و، او روسق نه صرف د افغانستان خلاف بلکې پخپله د ایران خلاف زهر ثابت شول.

شاه محمود، شاه شجاع، سکهان

شاه محمود د وزیر فتح خان په زور بادشاه شو، ۵ دے پخپله یو عایش او شرابي سړے وُ، دده سره افغاني دولت کښې بادشاه کی دې پیل شوه یعنې "PERMANENT DISORDER"

په دې وخت کښې روسان لګیاوو ایران یې په مخه کړے وُ، دوی یعنې ایرانیانو پرنګیانو ته هغه لوطنامه ورپاده کړه چې پرنګیانو او ایرانیانو د شاه زمان په وخت کښې سره کړې وه، چونکه اوس زمان شاه کوز شوے او پرونډشوے وُ، نو د پرنګیانو وړه پاتې نه وه، او بل دا چې افغان دولت په خانه جنګۍ کښې ډوب وُ، نو دوئ د ایران بادشاه استازي ته هیڅ اهمیت ورنه کړ، پرنګیانو او سیکهانو د افغاني بدبختۍ نه فائده واخیسته، سیکهان په پنجاب کښې او پرنګیانو په هند باندې خیټه واچوله.

او ترلدهیاڼ پورې علاقه یې د کمپنۍ تر عملدارۍ لاندې راوسته او روسانو د ایران صوبه جارجیا، آرمینیا او اذربائی جان او دغستان علاقې زاري روس کښې شاملې کړې وې، پرنګیانو د ایران هیڅ کمک ونه کړو د شاه محمود په دربار کښې هم هغه پخواني مرض یعنې د سردارانو بزکشي روانه وه، او شاه محمود خپلې مزې کولې، د بالاحصار د ساتونکو دوه زره قزلباشان وو، چې دوئ شیعه مذهبه وو، دوئ به شراب وخښل او بازار ته به ووتل کوروته او دوکانونه به یې لوټول، د کابل ښاریان چونکه سنیان وو، نو دوئ به ورسره ډېر زیاتې کولې، د دوئ د کور حیا او شرم د قزلباشي عسکرو له لاسه محفوظ نهٔ وُ، او بلې غاړې ته غلجیان را پورته شول، دوئ هم د افغانستان بادشاهي غوښتله د دوئ خیال وُ چې میرویس بابا اول پښتون وُ چې د افغانانو د ملي حکومت بنسټ یې کېښود، نو دوئ هم حقدار دي، دوئ درې جنګونه وکړل، مګر وزیر فتح خان د دوئ لښکرو ته ماتې ورکړه، د شاه محمود په وخت کښې د افغان دولت یوه صوبه هم داسې نه وه، چې بغاوت پکښې نه وُ ي، شاه شجاع د اپریدو او شینوارو په کمک د کابل دینولو قسط وکړ، مګر قبائلي لښکر د شاهي فوج نه ماتې وخوړه

شاه شجاع په تیرا کښې غلے شو ، در په در خاورې په سر
ګرځیدو ، دولت ور سره خلاص ؤ خپلې شاهي ملغلرې
یې خرڅولې ، او ګزاره یې پرې کوله د وئ په غرونو
غرونو کښې تر کویټې پورې ولاړل ، کندهار ته ورنږدې
شول ، چونکه خلك د شاه محمود دقزلباشي فوج نه په
تنګ وو ، نو د شاه شجاع له پاره د بادشاهۍ دګټلو ښه
موقع وه ، نو ده کوئټه کښې لښکر جوړکړ ، په کندهار
یې بریه وکړ ، خو د بد قسمتۍ نه یې ماتې وخوړه ، په
دې وخت کښې کابل کښې یوه واقع وشوه چې دیو سنې
له لاسه یو شیعه قزلباش عسکر مړ شو ، شاه محمود
د قزلباشو د لاس بوټا ئې ؤ ، نو قزلباشانو دغه سنې
سرئ پهانسي کړ ، او د دهٔ په جنازه قزلباشو ډزې
وکړې چې ډېر ښاریان په کښې مړه شول ، په دې باندې
د قزلباشانو او د کابل د ښاریانو تر منځ جنګ جوړ
شو ، هسې هم خلك د شاه محمود د عیاشۍ او دقزلباشي
عسکرود بد معاشۍ نه تنګ وو ، او د باري سردارانو کښې
هم ډېر داسې وو ، چې د قزلباشانو مخالف وو ، نو د وئ
خلك ولمسول ، په قزلباشانو باندې یې حمله وکړه ، نو
کوهستاني او لوګري سنې افغانان د کابل ښاریانو د ملګالې
پاره راغلل ، په د باري سردارانو کښې مختیارالدوله شاه شجاع

خبر کړ چې ښه موقع ده ، په کابل کښې وزیر فتح خان نه شته ، او د شاه محمود هم څوک خیرخواه پاتې نه دے ، د شیعه او سنیانو جګړه ده ، شاه شجاع د خدای نه هلغه موقع غوښتله ، نو کابل ته لاړو قزلباشو ماتې وخوړه ، شاه محمود په بالاحصار کښې ځان قلعه بند کړ ، په دې وخت کښې وزیر فتح خان په کندهار کښې دکابل د حادثې نه خبر شو . د نوی فوج سره دکابل اړخ ته روان شو ، د مقابلې له پاره مختیارالدوله او شاه شجاع ور ځکښې شول ، اول ځل خو د فتح خان فوج زورور شو ، مګر ورو سته دده دفوج یوه غټه برخه د شاه شجاع غاړې ته لاړه ، په دې باندې فتح خان ماتې وخوړه او دخپل ځان په غم شو ، شاه شجاع بالاحصار ته ننوتو ، شاه محمود بره چهت کښې پناه اخستې وه ، اول سرکښې د شاه شجاع خیال ؤ ، چې د شاه زمان چې دده ورور ؤ بدل کښې شاه پرونډ کړي مګر د مختیارالدوله په سفارش یې معاف کړ ، همدغسې د شاه محمود پرځاے شاه شجاع بادشاه شو ،

د شاه شجاع بادشاهي په داسې وخت کښې پیل شوه چې د درانې خندان روب دب د خانه جنګی په وجه له منځه تلے ؤ ، هغه تقدس پاتې نه ؤ ، د ملک اقتصاد کډوډ ؤ . که څه هم شاه شجاع پخپله سنه او شریف سړی ؤ ، مګر

دوئ پدې بر نه نشول چې د سردارانو په منځ کښې اتفاق، راولي. هر سردار د بل پښې وهلې، او بهرني دښمنان لکه ایران، پرنګیان او سیکهان یې له پاسه وو.

اول سر کښې شاه شجاع خپلو ملګرو سردارانوته ډېر امتیازات ورکړل، مګر چې پښې پې پرځکه وګکیدې، نو ده د سردارانو اختیارات بیرته په کمولو پیل وکړ، چې دغه کېدې شاشجاع د زوال باعث شوه، ده خپل ورور زمان شاه اول خلاص کړ، او ملا عاشق یې ګرفتار کړ، چا چې شاه زمان شاه محمود ته حواله کړی ؤ، قتل یې کړو، شاه شجاع وزیر فتح خان سره بنه سلوک ونه کړ، چې وروسته ورته دغه د مشکلاتو سبب شو، شاه شجاع د خپلو ورونو او وریرونو، سردارانو د لاسه په اور کښې ولاړ ؤ، چې یوځاے به یې بغاوت ختمولو هلته بل ځاے کښې به یې سر راښکاره کړے ؤ، پرنګیانو په قرار زړه هند نیوه،

د شاه زمان د پرند بدو او اقتدار نه د غورځیدو سره د پرنګیانو ډار ورکړ شو، دا ځکه چې د احمد شاه بابا اولاد په خپل کور کښې سره په خپلو منځونو کښې د چنجو غوندې یو په بل اخته وو، مګر پدې وخت کښې یو بل مرض پیدا شو، چې هغه د نپولین خطره وه

نپولین بونایارټ د فرانسوي انقلاب نه فایده واخیسته
دټول یورپ بادشاهان اوراجګان یې وټکول هرځاے
یې خپل خپلوان واکداران کړل، مګر جزیره برطانیه
ورته پاتې وه، اول ده کوښښ وکړ چې د سمندر دلارې
هند قبضه کړي، مګر په مصر کښې امیرالبحر نیلسن پرنګی له
خوا یې ماتې وخوړه، نو اوس هند ته یوه لاره وه
چې هغه هم دوچوبې لاره وه، نو نپولین دروسي زار
سره خبرې شروع کړې، چې په ګډه د روس، ایران
او افغانستان دلارې، پرنګیان له هند نه وباسي. اوس
د هند قبضه د مقامي شاه هانو په ځاے د بین الاقوامي
ډپلوماسي درمن وګرځیدو، نو پرنګیانو ته اوس د-
روس او نپولین په مقابله کښې، داتحادیانو ضرورت
ؤ، نو دوئ ته افغاني شاه وریادشو، په دې وخت
کښې افغاني دولت مشر یعنې واکدار شاه شجاع ؤ، مګر
ملک په خانه جنګی کښې ډوب ؤ، چې دې ټولوکښې د
پرنګیانو ښه مضبوط لاس ؤ. اوس دوئ سره غم شو،
چې افغانان د روسانو او فرانسویانو ملګرتیا ونکړي، نو
دوئ زر یو وفد لسم جنوري-۱۸۰۹- کښې د شاه شجاع
په خدمت کښې پېښور ته ولیږلو چې د دې وفد -
مشر کرنیل ښاغلي ستیورټ الفینسټون کوله تردې

وخته پورې پرنګیانو هندوستان ته تر لودهیانې پورې
نیولے ؤ. چونکه اوس ایرانیان د پرنګیانو نه خپه وو،
ولې پدې چې دوئ ورسره د روسانو خلاف مدد نه ؤکړی
د زمان شاه نه پس برطانیه د خپل لوظنامې نه د دوئ
د عادت مطابق انکاري شوے ؤ، نو ایرانیان ډېر زړه
بدي وو، اوس، پرنګیانو ته بیا خطره جوړه شوه، نو دوئ
ته بیا ایرانیان ور یاد شول مګر داخل ایرانیان د مالکم
سفارت رد کړو، هغه ناکام کلکتې ته واپس لاړو او د-
کمپنۍ ګورنر جنرل ته یې رپورټ ورکړو چې ایرانیان
پوره پوره د فرانسویانو تر اثر لاندې دي، نو پکار
دي چې د ایرانیانو خلاف کار روایي وشي چې دوئ
زوردوسئ ته برابر کړو. لاړ لا مینټو د دې سره اتفاق
بنګاره کړو، د پرنګیانو قسمت ښه ؤ، په دې وخت کښې
د روس او فرانس د ګډ کار روایه نه ایراني بادشاه خبر
شوے ؤ، نو دوئ فرانسوي او روسي دوستۍ باندې
شکمن شول، او بل داچې پرنګیانو ورته وویل چې که
روس او فرانس یوځل ایران ته راګډ شول نو دغه صرف
زمونږ له پاره په هند کښې خطره ده، بلکې، روس به ایران
او فرانس به هند قبضه کړې وؤ، نو سمه خبره دغه
ده چې دغه دواړه قوتونه د ایرانیانو او پرنګیانو دښمنان

دی باید چې موږ ورته اتفاق وکړو، نو ۱۲ مارچ ۱۸۰۰ کښې د جونز او وزیر عظم میرزا شفیع تر منځ یوه یوه لوظنامه وشوه، د دې لوظنامې مطابق به ایراني حکومت هیڅ یو یورپي قوم او حکومت ته د ایرانٌ دلارې په هند باندې د حملې کولو لاره نه وه رکوي، او که چیرې افغانستان او یا بل حکومت په هند باندې حمله وکړه، نو ایران به د هندوستان د حفاظت له پاره پوځونه لیږي او برطانیه به په ایران باندې د یورپي قومونو د حملې په صورت کښې فوجي مالي او سیاسي کمک کوي، نو د دوئ بل کار دغه وکړو چې متکاف یې د رنجیت سنګې دربار ته د دوستۍ له پاره راولیږلو. او ایلنفستون یې شاه شجاع ته او — "کپتان سټون" یې امیران سندهٔ ته راولیږلو، چې د دوئ ورسره د دوئ عهدنامې اوکړي، د ایلنفستون د سفارت په زمانه کښې د افغاني دولت وزیر عظم اکوم خان درانی و، او د دویم وزیر یې ابوالحسن خان ایراني ؤ، د دوئ په کمک شاه شجاع د پرنګي سره لوظنامه وکړه چې که چیرې بیروني طاقت د افغانستان په لار باندې په هندوستان فوج کشي کوي نو انګریزان به خپل پوځونه د حملې کونکي خلاف افغانستان ته راولي، شاه شجاع پېښور کښې ؤ، چې خبر شو، چې فتح خان بیا قندهار-

قبضه کړ، د یاد ساتلو له پاره، شاه محمود د زندان
نه تښتیدلے ؤ، نو فتح خان سره یو ځاے شو، دوئ بیا
په کابل حمله وکړه. د پېښور نه شاه شجاع وروان شو،
دګندو مکئ سره شاه شجاع فوجونو ماتې و خوړه
په مندره تیرا ته لاړو، شاه محمود یو ځل بیا بادشاه شو
اخري ځل شاه شجاع په ۱۸۱۱ کښې اکوړې سره یې ماتې
و خوړه، تر اټک پورې وتو، د کشمیر ګورنر بندې کړو، دد
نه مخکښې د ده بال بچ او شاه زمان لاهور کښې د رنجیت ـ
سنګهه سره پناه ګزین وو، په ۱۸۱۳ کښې ده ته هم اجازت
ورکړ شو، چې لاهور کښې د خپل سره بال بچ سره یو ځاے
شي. شاه زمان لدهیانې کښې د پرنګیانو سره پناه ګزین
وو، دا هغه زمان شاه ؤ چې دے به وخوځیدو، په
پرنګیانو باندې تېره راغله، نن دغه حال ووچې په ړندو
سترګو د پرنګیانو پناه ګزین ؤ، دغه د افغاني سردارانو
او بادشاهانو د بې اتفاقۍ او بدبختۍ نتیجه وه، او شاه ـ
شجاع د سنګهه پناه ګزین او همسایه شو، د احمد شاه بابا
په کورنۍ کښې د بې اتفاقۍ مرض لګېدلے ؤ، چې دوئ
نه صرف خپل ځانونه تباه کړل، بلکې پښتون اولس یې
د بدبختیو سره مخامخ کړو. دولت او عزت یې لاړو، د
دوئ د لاسه ناست رنجیت سنګهه په پنجاب کښې دومره

زور واخیست چې پنجاب خو پرېږده ان تر پېښور جمرود
ډېره اسماعیل خان، ملتان او بنو، کوهاټ پورې یې د
پښتنو په علاقو د خدائ قهر را نازل او تېټ کړو، کابلي
بزکشۍ کښې حکومت د سدوزي په ځائے حاجي جمال خان
محمدزي کورنۍ ته لاړو دوزیر فتح خان کشر ورور -
دوست محمد خان امیر شو . دا ځکه وشول چې شاه محمود
دایراني بادشاه په وینه په ۱۸۱۸ کښې دوزیر فتح خان سترګې
ړندې کړې ، دا ځکه چې فتح خان یو وطن پالونکی افغان
ؤ ، مګر ۱۸۰۱ کښې دپرنګي لوئ دښمن شاه زمان سترګې
هم دهٔ ړندې کړې وې ، دا ځکه چې شاه زمان د دهٔ
پلار پائنده خان وژلے ؤ ، د حیرانۍ خبره دغه ده
چې دغه دواړه په ملت مېئن افغانان وو ، او دواړه ړانده
او بې کاره شول ، بلکې وزیر فتح خان خو ډېر په درناکهٔ
طریقه سره شهید کړاے شو . د شهزاده کامران د
شاه محمود زوئ دده د مرګ حکم ورکړو . دهٔ د
وزیر فتح خان چې اوس ړوندؤ د درباري مخالف -
سردارانو ته دوژلو حکم ورکړو ، دغه واقع د کابل نه
اووه څلویښت (۴۷) میله لرې د سید اباد په مقام اوشوه
فتح خان یې را ووغوښت په منځ ګېکښې ودراوه ، سردارانو
حمله پرې وکړه دوئ وار په وار دژوندي فتح خان

اندامونه پریکړل ویې وژلو خو دوئ مات نه کړو،
ویل کیږي چې ده صرف کلمه طیبه او د قرآن کریم
ایاتونه یې ویل، ترخوله یې بل بزغ نه خوت، دغو
افغاني لیوانو سردارانو دغه لوئ افغان په دې طریقه
تکړې تکړې کړو، مګردوئ وزیر فتح خان ته ماتې ورکړه
همدغسې په نزه یې قصابي کړ، مګر د کمزورۍ احساس
یې ورنه کړ. وایي چې بیا چې دغه تکړې تکړې افغان فتح خان
یې یو بوجې کې راتول کړ، په غزني کښې یې بنخ کړ،
وزیر فتح خان دېر ورونه درلودل، دوئ په لویو، لویو
منصبونو باندې وو، دغه شان دوئ دخپل ورور بدل
واخیست د سدوزو په ځائ د محمدزو باچاهي شوه
شاه محمود او کلمران امیر دوست محمد هرات ته پرېوتل
کړل، فتح خان واحد افغان وُ، چې دایران، سکهو او پرنګي
ځنې خطره کېده، دغه چې لرې شو، افغانستان ګډوډ شو،
اوس افغان خاوره، د سیکهانو او ایرانیانو له پاره خوشې
پاتې شوه، افغانان په کورکښې سره نورهم اړم شول،
اوس جنګ احمد شاه بابا د لمسو په ځائ د دورو فبیلې ترمینځ
شو یعنې سدوزي او محمدزی.

سکهان او احمد شاه شهید بریلوی

رنجیت سنګهه اول سر کښې د شاه زمان له خوا د پنجاب والي یعنی ګورنر مقرر کړای شو، سیکهان د مغلو د وخت نه جنګونه کول. د احمد شاه په زمانه کښې هم لګیاؤ مګر دوئ منظم حکومت نه درلوده، خو داړه ماري یې به یې کوله. مګر ۱۷۹۷ کښې د رنجیت سنګهه والي توب د افغانانو له پاره د بدبختۍ سبب وګرځیدؤ، دغه ډېر چالاک او عیار پنجابئ وُ، په ظاهره به یې د افغانیا شاهانو چاپلوسي کوله، مګر په پټه لګیاؤ، خپل طاقت یې جوړولو، او له پرنګیانو سره یې خپلې اړیکې نورې هم ټینګې کړې، د افغانانو کورنې جنګئ ته په انتظار وُ، ده اول پنجاب او کشمیر کښې ځان مضبوط کړو، د وزیر فتح خان ۱۸۱۸ کښې د وژلو نه پس ده او ایراني باچا فتح علي شاه د پرنګیانو په لمسون افغاني خاورې باندې زور راوړو او رنجیت سنګهه نه پرنګیانو د فرنچ لیدر کار واخیستو، اوس یې سکهان او افغانان سره اړم کړل، او پرنګی ورته د خیر په غونډۍ ناست وُ، رنجیت سنګهه

اول په ملتان ورغئ جون ۱۸۱۸ کښې مظفر خان د ملتان والي وُ، مظفر خان سدوزے د سیکهانو سره مقابله وکړه، میدان جنګ کښې شهید شو، او س رنجیت سنګهرخ د پښتونو او خیرآباد خواته راوا ړاوه، ده اول د اټک قلعه و نیوله، او بیا په اباسین راپورې وتو، خیرآباد د خوشحال بابا کلئ یې قبضه کړو، او ورپسې یې پښتو قبضه کړو، مګر بیا روستو د وزیر فتح خان ورور یار محمد خان د رنجیت سنګهه مقرر کړے ګورنر جهانداد خان پښتو نه وشړلو، پښتونو یې بیرته قبضه کړو، او رنجیت سنګهه د اټک نه پیره جات افغاني صوبې ته مخ واړاوه په ۱۸۱۸ کښې دپره غازي خان او ۱۸۲۱ کښې دپره اسماعیل خان قبضه کړ، - ۱۸۲۲ کښې عظیم خان د کابل نه راکوز شو، چې رنجیت سنګهه د اټک نه وشړي، مګر دلته یار محمد خان د رنجیت سنګهه سره پټ ساز باز وکړل، رنجیت سنګهه بیرته لاړو، خو پاینده خان د زامنو بې اتفاقۍ ور معلومه شوه، چې دوئ د پړو میندو اولادوُ، یو بل ته غله وو، یار محمد، سلطان محمد او پیر محمد د پاینده خان زامن وو، چې ورو سته پښتو سردارانو مشهور شول.

د افغانستان آخري بادشاه محمد ظاهرشاه سلطان محمد د اولاد نه وو، دوئ د پرمشکوک رول لوبولے دے دوئ

رسکلانو او ورپسې د پرنګیانو دلالي کړې ده ،چې ۱۹۲۹ کښې
وطن دوست باچا غازي امان الله خان د پرنګي دلاسه جوړ
بغاوت په وجه لاړو، نو د پرنګیانو نادرخان د پېښورې
سردارانو اولاد بیرته په کابل افغانستان کښې په قدرت را-
وستو، داځکه چې دوئ د ټر نیکه د وخټو نه ډېر ښه
ایجنټان وو، د دې کورنۍ حکومت-۲۸- اپریل ۱۹۷۸ کښې
پائې ته ورسیدو، د نوښار جګړه ۱٤- مارچ ۱۸۲۳ کښې
عظیم خان چې خبر شو، چې یار محمد رنجیت سنګه ته
اسونه رسولي دي نو ډېر خپه شو، یار محمد خان
د عظیم خان له ډاره خیبر ته وتښتیده، نو ځکه عظیم خان
په ۱۸۲۳ کښې پېښور ته بیا راګوز شو، هلته رنجیت سنګه
۱۳ مارچ ۱۸۲۳ کښې دا باسین نه را پوریوت، ختک یوسفزئ
او د سیمې نور ټول افغان اولسي لښکر دا افغانستان د خاورې
د ژغورنې له پاره په نوښار «نوشهر» کښې دلنډۍ د دریائ
کابل» په کینه غاړه غونډیان ونیول، عظیم خان او افغان
حکومتي لښکر د کابل دسین په ښي اړخ وو، د افغان
یعنې پښتنو د اولسي لښکر او سکه خالصه فوج لاس
په لاس جنګ شروع شو، پښتانه داسې وجنګیدل چې
آکالي مشران یې مړه او ژوبل کړل، د رنجیت سنګه
باره ګورکا لښکر ورته ټینګ نه شو، د سیکه دلښکر کمندران

زیات تر فرانسویان ، اطالیان ، او پرتګیان وو ، دوی په
دغه ورځ د پښتنو داولسي لښکرنه سخته ماتې وخوړله.
چون دغه یو قبائیلي لښکر ؤ ، او منظم فوج نه ؤ ، افغاني
منظم فوج چې عظیم خان او دده درونو په لاس کښې ؤ ، د
پښتنو او سکهانو د جنګ تماشه یې کوله . چې د دې بزدلۍ
نه خالصه فوج فایده پورته کړه ، قبائیلي لښکر سره خوراک
څښاک ختم شو ؤ . ایمونیشن هم نه و ، دا ځکه چې غازیانو
خو د درې څلورو ورځو له پاره دځانونو سره (څوپړې)
یعنې خوراک جوار پوډې کاکوړې او سکوړې راوړی ؤ ، او
په . او ایمونشن هم ورسره نه ؤ . یورپیانو آوازه
ګډه کړې وه ، چې د عظیم خان خزانه دده کشر ورور
دوست محمد خان وتښتوله ، وایې چې پدې باندې عظیم خان
وار خطا شو ، شپه په شپه کابل ته وتښتیدو ، پښتانه یې
سکهانو ته ګوشې پریښودل ، پښتانه څو ورځې وجنګیدل ، مګر
دغازیانو سره خوراک او ایمونشن خلاص شو ، بل اړخ ته
منظم دیورپي افسرانو ترکمانو لاندې خالصه فوج ؤ .
غازیانو سروته ورکړل ، مګر خالصه فوج یې ایسار-
نکړے شو ، همدغه شان نوښار او پېښور د افغاني سردارانو
د غداری په وجه سکهانو قبضه کړل . سکهانو د پښتنو نه
دیدل اخیستو باندې لاس پورې کړ ، پوله علاقه یې تالاوالاکړه

واړه زاړه یې مړه کړل، کورونه، فصلونه اوباغونه یې و سوځول، د پېښور په ښاریانو یې د خدای قهر را نازل کړ. خلك به یې د مهابت خان جماعت د میناروونه ښکته راغورځول، رنجیت سنګهه خپل یار یعنې رنجنټ یار محمد خان قلانګی والي «ګورنر» د پېښور مقرر کړو، اوس سکهانو ټوله هغه علاقه قبضه کړه چې د خیبر اوآباسین ترمنځ وه، نن سبا د صوبه سرحد په نوم ده. یعنې د پېښور بنوں، کوهاټ، پېښور، هزاره، مردان، دلته د سکهانو څه دایمي حکومت نه ؤ، مالیه او نور حکومتي کارونه به د فوج کشۍ په زور کیدل، سزای ورته مستقیله جګړه وئیلای شي، چې پښتنو د سکهانو سره کوله، د مرو تو- علاقه ریاست منکره سره وه، نو رنجیت سنګهه د نواب ټول ریاست خپله عملداری کښې شامل کړو. نو دلکه خپل پخپله د سکهه شاهي لاندې راغلل. رنجیت سنګهه پخپله لکی ته قلنګ پسې راغلی ؤ، اول یې یولک روپۍ په- مرو تو ولګولې، بیا ورو سته د نواب صاحب (۲۰۰۰۰) زره روپۍ قلنګ منظور کړو، وایي چې د پر قلنګ وصول شو، نو رنجیت سنګهه وویل: «لکی نهیں. سونے دی چکی» (کتاب بنوں، وزیرستان تاریخ لیکونکی - محمد ایوب خان سیفی). بنوچو او وزیرو -

دسکهانو اطاعت نه منلو، دوئ ورسره په جنګ اخته شول، روستو مروتو هم مالیه نه ورکوله، دلته دسیکهانو حاکم فتح خان توانه و. دوئ یوه کچه قلعه په لکي کښې جوړه کړه، دلته مروتو کښې خپله ګوندونه وو، چې یوسپین ګوند و، او بل تور ګوند، سیکهانو به دوئ دیو بل خلاف استعمالول، د ګوندیانو ترمنځ نه پخلا - کېدونکي دښمنۍ وه، کله ناکله به مروتو په سیکهانو ناسا پي حمله وکړه دېر نقصان به یې ورور ساوه، دسیکهانو حکومت برای نام ؤ، دبنوچو دغه حال ؤ چې مالیه به یې نه ورکوله، هر وخت به جنګ ؤ، کله سیکهان او کله بنوچي وزیر کامیاب، په بنوں باندې کنور کهرک سنګه او سردار فتح سنګه حمله کړې وه، د بنوچو، وزیرو، مروتو قیادت بناغلي غازي دلاسه خان کولو. دسیکهانو فوج کښې توپچیان اکثره فرانسویان وو، یوبل ... چې تارا چند نومیده د دلاسه خان په کلي حمله وکړه، پښتنو سیکهان په ستاه و تمبول، توپچیان یې حیني مړه کړل، او تاراچند ناکام لاهور ته لاړو. غازي دلاسه خان سره بنوچي او مروت دواړه، وزیر او محسود وو، په یوه بله حمله کښې چې دسیکهانوں قیادت سردار سوجت سنګه کولو دلسو زرو خالصه عسکرو سره په

غازي دلاسه خان په کلي حمله وکړه ، بنوچي، مروت وزیر، او محسود تر سیکهانو بدل شول، سخته ماتې یې ورکړه، خو افسوس چې دغه ټولې لښکرې جګړې وې شاته یې منظم بادشاه او یا مشر نه وو، کنور او نهال سنګهه او راجه سوچیت سنګهه په بنوچو او مروتو باندې ډېر ظلمونه کړي دي. شمالي پښتونخوا کښې یوسفزیو سیکهانو ته سخت ګوزارونه ورکړیدي ، د جمرود جګړه کښې د اپریدو دلاسه سکهه جنرال مړ کړے شو. ډېرو او مردان پښتانه د سیکهانو سړ هر وخت لاس پرکړیوان وو ، چې دې وخت کښې احمد شاه شهید بریلوی راڅرګند شو .

سید احمد شاه شهید بریلوي

باچا خان په خپل کتاب زما ژوند او جهد وجهد، کښې لیکي : « او یا دغه وخت وُ چې د د رانو عیاشي بې-تدبیري ،په خلکو د زور زیاتي ، کورني اختلافونو او جنګونو په سبب پښتانه دومره پریوتل چې خپل کور کښې د سیکهانو د مقابلې نه وو. هغه د پلار نیکه کټلې خو پر ېږده ، خپله خاوړ تري سیکهانو لاندې کړه ، او په-

دوئ کښې دومره څوک نه وو چې پخپله خاوره اوناموس یې ننګ او غیرت کړی وے ، د سیکهانو د زور او ظلم په مقابله کښې یې سر اوچت کړے وے او د پښتنو غیرت او عظمت یې د دې ظلم نه بچ کړے وے ، د سیکهانو د بر ظالمانه حکومت ؤ ، زما د مور دا ړخه نیکه محمد دین خان به مونږ ته دا خبره کوله ، چې یوه ورځ زهٔ د شولګرې نه راتلم او په سند راپورې وتم ، چې په دې کښې یو سکهراغی ، ماته یې اشارت وکړو چې راوګرځه او ما په شاه پورې باسه ، محمد دین نیکه ورته وویل : چې زهٔ ناباري یم ، خو سکهه مجبور کړے دے ، او چې سکهه یې په شاه راسوړ کړے دے ، او د اوبو منځ ته رسیدلی نو توپ نه یې کړي دي ، او سکهه یې او بو په منځ کښې غورځولے دے ، او دے تړې تللی دے .»

یو بل ځائے لیکی : « د هندوستان د هغه سر نه سید احمد بریلوي او اسماعیل شهید پهٔ دوئ یعنې پښتنو باندې ننګ او غیرت کوي او د سیکهانو د مقابلې له پاره د پښتنو خاورې ته راځي ، د هغه وخت افغانستان له طرفه د ده سړ مرسته ونه شوه ، بلکې دیار محمد له خوا ورسړ جګړه وشوه لکه څنګه چې د پښتو د دې زړې چاربیتې نه څرګندیږي :

روان شو یار محمد سید او باسی د پنجتار ه
سید له بری ورکړې الهي پرورد ګار ه

همدارنګه یوبل ځاے باچا خان لیکي: «قصه داسې وه چې د تهکال ارباب بهرام چې د سید صاحب مرید وُ هغه به کال په کال د روژې په میاشت کښې بریلی ته تلو، د قرآنکریم ختم او تراویح به یې هلته د سید صاحب سړ کولې، پخوا د حمل او نقل ذریعې هم نه وې په آسونو روان وو چې ګوجرانوالې له راغلے دے. نو تږې شوې دې، په لاړه کښې کوهی وُ، ښځې ورله اوبو له راغلې وې، دے چې، کوهې ته ورنږدې شوے دے، نو د لاس په اشارې یې د ښځو نه اوبه وغوښتې، چې دې ښځو منګې ډکې کړل نو رې ټولې لاړې او دوه ښځې پاتې شوې نو دهٔ له یې اوبه یوړلې، چې دهٔ له یې اوبه ورکړې نو په ژړا شوې او ورته ویې ویل: چې مونږ پښتنې یو او سیکهانو په زور راوستې یو، او دوه دوه بچې موهم پیدا شوې دي. ارباب چې بریلي ته ورسید و نو هغه د هر زهیرو، سید صاحب ترینه پوښتنه وکړه، چې دا ته ولې زهیر یې؟ هغه ورته د ګوجرانوالې دا ټوله واقعه بیان کړه نو سید صاحب د جمعې په ورځ په میروخوت دا قصه یې بیان کړه او د جهاد اعلان یې وکړ.»

چې دغه نمونه کارونه سیکهانو د پښتنو سړ کړیدي په دې کښې زمونږ خپل قصور دے، چې احمدشاه بابا نه

ځمونږ خپل قصور دے، چې د احمد شاه بابا د مرګ نه پس مونږه په کور دننه سړ په جنګ شو، نتیجه یې باچاخان بیان کړه، هرهغه قوم قبیله یا ټبر چې بې اتفاقه او خود غرضه شي نو د پردو خلکو خوراک او خنده شي. هغه حال زمونږه جوړ شوے ؤ، چې افغاني شاهانو او سردارانو د یوبل سترګو ړندول یو شغل جوړ شوے ؤ د ورچانی د بنمن ته غافله وو، سید صاحب په رښتیا هم د پردغیرت کار کړے دے، دے یو عالم او مجاهد انسان ؤ دوئ د ریاست ټونک نواب امیر خان په افغان فوج کښې ؤ، د پنډاری تحریک دے ملګرے و، دې تحریک د پرنګیانو خلاف د پرې هلې ځلې کړیدې، خو د پرنګیانو پالیسي کامیابه شوه، نواب روغه وکړه دوئ یې بیرته د ټونک نواب کړو پدې باندې سید صاحب ځنی خپه شوه په دې وخت کښې سید صاحب به د سیکهانو د ظلمونو خبرې اوریدلې چې دوئ به د مسلمانانو سړ کولو.

نو څه دغه خبرې شوې، څه سید صاحب پخپله مجاهد و د اسلام خدمت یې تش ژباني نه کولو په عمله عالم او اسماعیل شهید غوندې لوئ عالم یې ملګرے ؤ دوئ اول د حج له پاړ مکې مکرمې او مدینې منورې ته لاړل، د سفر پر دوران کښې نوره هم د مسلمانانو زوال ور معلوم شو، د رې څلور کاله نه پس بیرته هند ته راغلو، اوس ذهني دې ته چمتوو

چې باید د خالص اسلام له پاره کار وکړي او د سیکهانو خلاف جهاد پکار دے، نو د ده سترګې په افغانستان پریوتې دوی د سند دلارې قندهار ته لاړل په دې وخت کښې افغانستان ننشه ډهانچه وُ، کورنې جنګونو تباه او برباد کړے وُ، د پائنده خان زښت ډېر زامن وو، چې دوئ دېپلو بېلو ماندیښو تخته وُو، نو دوئ افغانستان سره برخې برخې کړے وُ په کندهار کښې پردل خان وُ، چې دوئ د سید صاحب دکمک نه انکار یې شو، داځکه چې دوئ ته ترسیکهانه خپل رونه خطرناک وُ دوئ خود غرضه شوي وو، نو سید صاحب د پښتونو اړخ ونیو او یوسفزیو کښې ډېره شو، په دې شپو ورځو کښې یار محمد خان او د ده ورونه د سیکهانو باجګزار وو یار محمد خان به د سیکهانو له پاره د پښتنو سره جنګونه کول، یوسفزي ډېر په نړه د سیکهانو خلاف جنګېدل، مګر د دوئ لیډر نه وُ او س هغه هم پیدا شو، سید صاحب د یار محمد خان سره هم رابطه جوړه کړه نو یار محمد خان هم راضي شو، دوی داکوړي نوښار سره په سکهشاهي فوج باندې حمله وکړه، سیکهان یې ګډوډ کړل، مګر غدار یار محمد خان د خپل عادت نه مجبور وُ بیا یې دهوکه وکړه د میدان نه وتښتید و نو سید صاحب په دې ځاے وویل: چې دغه یار محمد نه دے بلکې

یار سنګهه دے ، یار محمدخان دسیکهانو په پره ودریدو ،
مګر دغه دله او ذلیل انسان په هیڅ نه شرمیدو . سیدصاحب
پېښور قبضه کړ ، او دپښتنو علاقه یې دسیکهانو نه آزاده
کړه ، یار محمدخان په یو جنګ کښې مړشو ، ترڅو پورې
عسکري او فوځي کاروایي وه ، پښتنو او خاصکر یوسفزو
دسید صاحب په ژغ لبیکۀ اووئیلو ، مګر چې څه وخت
سید صاحب او دده ملګرو اصلاحات شروع کړل ، دلته
مشکلات پیدا شول داځکه چې سید صاحب بنیادي انقلابي
او مجاهد انسان وۀ ، مګر دپښتنو دټولنې د جوړښت نه
پوره خبر نه وۀ . پښتانه ډېر ښه مسلمانان دي ، ترڅو پورې
ددوئ پښتو او اقتصادي ګټې په خطره کښې نه وي ، دوئ
اقتصادي اسلام نه مني ، سید صاحب ددوئ په اقتصاد
کښې ګوتې وهلې ، او دے مجاهد انسان پښتانه نه روپیژندلي
او خاصکر دده واړه واړه مولیګان خو ډېر بې وقوف
وو ، دوئ داسې اصلاحاتو ته لاس واچوه چې پښتانه په ذهني
طور ورته تیار نه وو ، سید صاحب په خپله عسکري کامیابي
، سیاسي کامیابي او ورپسې اصلاحاتي پروګرامونه کښې فرق
ونه کړاے شو دهۀ باندې پښتانه راجمع شول ، داځکه چې
دوئ سیاسي لیډر نه درلوده ، دوئ په عسکري توګه کامیاب
وجنګیدل داځکه چې دوئ پیدایشي جنګیالان وو ، نو دغه

دواړه کارو ته دوئ په ذهني طور تیار وو، نو دوئ پرکلکه دسید صاحب ملګرتیا وکړه، مګر دهغه اصلاحاتو ته پرذهني توګه تیار نه وو، نو ځکه غلط فهمیانې جوړې شوې، او بل داچې پېښورې سرداران او سیکهان هم په ارام نه وو ناست دوئ هم دسید صاحب دملګرو خلاف پروپیګنډې کولې، اوپر خود غرض خلک وو، دوئ اصلاحات نه غوښتل، لکه څرنګې چې مغلو پیربابا او اخون درویزه یوسفزي د پیر روښان دتحریک په خلاف تقسیم کړي وو، همدغه رنګې کار دسید صاحب خلاف هم وشو، چې نتیجه یې ددوئ شهادت وو، او د پښتو ذلالت، مګر سید صاحب مړ نه دے، دده خدمتونه او جهادونه به دهمیشه لپاره ژوندي وي، اخیردوئ بالاکوټ هزاره کښې په مئ ۱۸۳۱ کښې دسیکهانو دلاسه دشهادت لوړ مقام ته ورسیدل.

د-۱۸۳۱-نه تر اول افغاني پرنګي جنګ پورې ۴۲-۱۸۳۸ دغه حالات خو مو په تفصیل سره بیان کړل، چې دکومې پروجه اقتدار داحمدشاه بابا دکورنۍ نه دحاجي جمال خان کورنۍ ته لاړو، دحاجي جمال خان زوئ پاینده خان د زښت ډېر زامن وو، نو دوئ افغانستان سره خپلوکښې تقسیم کړو.

الف:۱- وزیرفتح خان ۲- محمد عظم خان، ۳- تیمورخان دغه دریواړه دیوې موره وو-

ب: ٤ پوردل خان ٥ شیردل خان ٦- کندل خان،
٧- رحمدل خان ٨- میردل خان دا پنځه واړه دبلې مورو.
ج: ٩- دوست محمد خان ١٠- امیر محمد خان ١١- جمال خان
دبلې مورو.
د: ١٢- سلطان محمد خان (١٣) یار محمد خان ١٤ پیر محمد خان
١٥ سید محمد خان دبلې مور نه وو.
ه: ١٦- نواب اسد خان ١٧- نواب صمد خان - ١٨
نواب جبار خان دبلې مورو.
و: ١٩- جمعه خان دبلې مورو.
دغه لښکر پاینده خان محمدزي شاته پریښے وو.
دشاه محمود او شهزاده کامران هرات ته دتښتیدونه
پس داسې څوک نه وو چې افغانستان یې سمبال کړے
وایی، فتح خان رو ندا و بیا وژلے شوے ؤ. نوده ورونو
په مختلفو صوبو قبضه وکړه، لکه محمد عظم خان کابل
کښې دوست محمد خان په غزني وو، پردل خان پرکندهار
ؤ، جبار خان سړ کشمیرو، او یار محمد خان دورو نوسړ
په پېښور ؤو. دغه نور هم په صوبو کښې افسران وو،
خو مسئله دغه وه چې دوئ یوبل تر غله ؤو. د دوئ
په مینځ کښې کار اشتراک نه ؤ. همدې نتیجه دغه شوه
چې سیکهانو اول دوئ پنجاب او کشمیر او ملتان نه ویستل

او وریسې دپیښور نه ، په حقیقت کښې دغه ټوله لویه پرنګیانو جوړه کړې وه ، سیکهان یې صرف استعمالول ، شاه شجاع او ړوند زمان شاه د پرنګي سړ پراریان وو، دخپل پلار نیکه تخت ګټلو له پاره یې هرڅه ته تیار ؤ . افغانستان کښې پاینده خان اولاد په اخلاقي توګه دبادشاهی لایق نه وو (داحمدشاه بابا لمسی شاه شجاع) نه افغانانو حقدار په سترګه کتل خو داحمدشاه بابا لمسی شاه شجاع یوه داسې جواري وکړه چې د دوئ دکورنۍ حکومت د همیشه له پاره لاړو او محمد زیانو هغه اخلاقی شرط هم پوره کړه ، دوئ د شاهي کورنۍ په طور ومنل شول هغه داسې ، چې اوس حالات داسې جوړ شوي وو ، چې د هند ، ایران ، افغانستان اومرکزی اسیا کښې دوه لوبغاړي پاتې شوي وو ، چې هغه یو برطانیه اوبل زاري روس ؤ ، چې دواړه عیسویان وو ، اول سړ کښې دزمان شاه په زمانه کښې اوبیا د نپولین د خطرې له وجې پرنګیانو دایراني بادشاه سړ سره تعلقات جوړ کړل . ایرانیان یې دخپل مقصد له پاره دافغانانو خلاف لمسول چې دافغانو کورو ران شو ، اود نپولین خطره ورکه شوه نو پرنګیانو دایران سړ تشه کاغذي رابطه ساتله ، پدې وخت کښې روس لګیاوو دایران حکمي یې نیولې ، دایران بادشاه خو څوځله پرنګیانو ته هغه لوظنامه وریادې کړې ، مګر

دوی به تش کاغذي کاروايي کوله دروس خلاف يې ورسره اوس امداد نه کولو، روس چې حيني ډېرې علاقې ونيولې، او ايران ورته معلوم شوچې هيڅ نه شي کولی، نو هغه کار چې دجنګ په ذريعه سرته رسېدو، هغه يې په خوازه شروع کړو ايراني دربار کښې يې خپل اثر درسوخ زيات کړل. ايراني بادشاه هم د پرنګيانو دې لوظنامې نه تنګ شوے ؤ، خير يې په دې کښې وليدو چې دروسانو سره د دښمنۍ په ځاے دوستي ښه ده، نو دروس شرطونه يې قبول ومنل، او پوله يې ورسره سيخه کړه اوس ايران د پرنګي پرځاے دروس ايجنټ شو، روسانو خپل خوب د ايرانيانو په ذريعه سرته رسولو، نو ايران ته يې جديده اسلحه ورکړه، او د فوج د تربيت له پاره يې فوجي استاذان ورکړل چې دوئ به فوجي تربيت وکړو او جاسوسي به يې هم کوله، روس دغه دوه مخې سياست روان کړو، ايرانيان اول د پرنګي په لمسه دافغانانو دښمنان وو، او اوس دروس په لمسه. په دې لوبه باندې پرنګيان وارخطا شول، نو دوئ دزاري روس په ايران کښې دښې نمونې سياست خلاف روسي حکومت ته احتجاج وکړو، مګر هغوئ به په ډپلوماتي ژبه پاسته پاسته ځوابونه

ورکول، اوس پرنګیانو ته دکابل په تخت دیو داسې سړی ضرورت ؤ چې هغه سل په سلوکښې د دوئ سړی وي، نو دوئ پټ په پټه ۱۸۳٤ خواوشا کښې شاه شجاع تیار کړو، چې قندهار باندې قبضه وکړي، په دې وخت کښې پردل خان دوئ په قندهار کښې په قدرت وو، نو شاه شجاع د یورپي افسرانو په کمک د قندهار محاصره وکړه، که څه هم د پاینده خان د زامنو په منځو کښې پرې جمبې وې، مګر بیا هم په دوئ ټولو کښې د دوست محمد خان چې اوس دکابل، غزني، ننګرهار حاکم ؤ هوښیار او زیرک سړے ؤ، نو د قندهاري ورونو د امداد له پاره لاړو، چې د ده زوئ اکبرخان هم ورسره ؤ، دوست محمدخان د خپل زوئ اکبرخان چې ورو سته په وزیر اکبر خان مشهور شو، شاه شجاع فوج ته یې ماتې ورکړه، شاه شجاع یوځل بیا د خدائے په قهر ککړ وبې تري لدهیانه ته بې ځان ورساوه، او پرنګیانو خانګ ته کښیناستو اوس پرنګیانو ته دوه خطرې پېښې شوې، یوه د روسي بله دغه چې د دوست محمد خان زور ورځ په ورځ په زیاتیدو خپل وطن کښې یې امن راوستو، او د پښتنو بیا امید پیدا شو، چې دغه سړی د قیادت لایق دے، هدغه

خطره د پرنګیانو او د دوئ دلالان سیکهانو سره هم پیدا شوه، د پرنګیانو سره دا ډاروئ چې افغانستان بیر ته دده تر مشرګرې لاندې سره یو نه کړي، مګر په حقیقت کښې د خپلو ورونو په منځ کښې سخته ناچاقي وه، د دوست محمد دقندهار دکامیابۍ نرپس خلکو مجبور کړ چې تاسوخان تر یو لقب اختیار کړئ. هله به افغانان دربانده تولیږي، نو دوئ دبادشاه په ځائے دامیرلقب خوښ کړ، نو دے امیر شو. نور پرنګیانو په زړونو کښې یو څه وو، او په ظاهره یې یو پرنګی ورولیږلو، چې د تجارت متعلق خبرې ورسره وکړي. پرنګی استاذ ی بناغلی سرالیکزنډر برنس او ورسره موهن لعل یوکشمیری پنډت هم وو، دوی د هند ایسټ انډیا کمپنۍ ګورنر جنرل بناغلی لارډ اکسالینډ یولیک دامیر دوست محمد خان په نوم یوړو چې زه یې دلته لیکم:

ترجمه: منجانب ارل اف اکسالنډ په خدمت کښې دامیر دوست محمد خان فورټ ولیم ۱۵ مئ ۱۸۳۷.

کوم خط چې تانه په ۲۲ اګست ۱۸۳۶ لیکلی وو په هغې کښې ما دا اراده ظاهره کړې وه، چې زه به یو افسر ددې غرض دپاره درلیږم چې تاسو د تجارت د

ترقي او دافغانستان او دهندوستان ترمنځه د-
سوداګرانو دپاره دګډ راګډ سهولیتونو پیدا کولو دپاره
خبرې اترې وکړي.

ستا روشن ضمیر نه دا خبره پټه نه ده چې
تجارت د هرقسم قومي دولت بنسټ یعنې بنیاد دے
او هم د تجارت په ذریعه یو قوم خپل ټول فالتو
پیداوار د بل قوم پیداوار سره بدلولای شي، دولت
جمع کولے شي او د مهذب ژوندون دارام اودنعمتونو
نه فایده وچتولے شي، په ګوندې قومونوکښې د دې
نعمتونو او ارمونو خوارول د حکومت د برطانیه عامه
مدعا ده، د هغوئ دا هرګز کوشش نه دے چې تش
هغوئ دے د دې نه مستفید شي بلکې د هغوئ دلی
خواهش دادی چې د اسیا په ټولو ملکونوکښې دے
امن او دولت قایم شي.

په همدې غرض حکومت برطانیه هغه ټول حکومتونه
چې د دریاب پر دواړو غاړو پراته دي په دې خبره
امده کړه چې د دریابي سند د ې د جهاز رانې له پاره
آزاد شي، او د دې حکومت ټول کوششونه همیش د دې
غرض د حاصلولو له پاره دی، زه اوس سرالیګزاندر-
برنس دې غرض له پاره درلیږم چې دا چیتې درله

درکړي او تاسره د هندوستان او افغانستان پرمینځ کښې تجارتي امد ورفت له پاره د سهولیتونو پیدا کولو بهترین تجویزونو باندې خبرې اترې وکړي، زما قوي امید دے، چې ته به هغه ته په خپل دربارکښې په دوستانه طریقه خوش امدید ووایې او تاسره به د هغه گفت، شنید هغه ټولې فایدې چې کوم زما په خیال کښې دي، حاصلې کړي، په اخیرکښې وغیره وغیره

رسخط اکسالینسي (قاضي عطاالله د پښتنو تاریخ جلد اول).

د دې میشن د رسیدو نه څو ورځې وروسته امیر دوست محمد خان د دوئ خپل حضور ته ومنل، موهن لعل د دوئ خبرې او سوال ځواب متعلق لیکي، چې امیرصاحب د برنس نه د پېښور د سیکهانو نه ده ته د ورکولو مطالبه وکړه، پرنګي سفیر ورته وویل: چې د پېښور علاقه د استا په عملداری کښې نه وه بلکې د ستاسو رونو سلطان محمد خان او پیر محمد خان سره وه، نن دوئ د دې علاقې د رنجیت سنګهه باجګزار دے، او دوئ ته یې جاګیر ونه ورکړي دي، او بل رنجیت سنګهه زمونږ وفادار اتحادي دے، طاقت او ډېر مال لري، چونکه د پېښور جمرود په حمله کښې د هغه سپه سالار هری سنګهه قتل شوے دے، مونږ به هغه د ستاسو خلاف مزید جار جانرکاروایو

منع کړو مونږ به را جه ته دا رایی ورکړو چې پېښور سلطان محمد خان تر پرېږ دي.

دوست محمد خان ورته ځواب کښې وویل: چې زما خو خیال وچې که چیرې زما په سراوس دململ پګړۍ ده، نو د انګریزانو د دوستۍ په وجه به هغه په شال بدله شي. مګر داشان معلومیږي چې انګریزان زما په سر باندې هم هغه دململ زړه پګړۍ سلتل غواړي او تش دومره اقرار راسره کول غواړي، چې تانه به دململ پګړۍ څوک نه کوزوي، زما په نزد د قسم اقرار هیڅ قدر نه لري، ځکه زما دا یقین دے چې دململ دا پګړۍ له مانه هیڅوک هم نه شي اخیستی.

بیا یې ورته وویل: چې که چیرې پېښور سلطان محمد خان ته ورکړے شي نو دا د انګریزانو هیڅ ښګړه نه ده له ماسره، بلکې زما د کابل حکومت ته په پدې نقصان ورسي، او اګرچې سلطان محمد خان زما ورور دے، مګر دهغه لږ او وړوکے لښکر زما له پاره دسیکهانو دیو لوے لښکر نه زیات خطرناک دے، سیکهان به زما ورور له روپیه ورکړي، او د مسلمانۍ په جامه کښې به د سیکهانو اثر او حکومت عین زما تر صد مقام پورې راولي، هغه داهم ورته وویل: چې سیکهانو

په پېښور په داسې وخت کښې قبضه وکړه چې زه دشاهجهان سړ په کندهار کښې په جنګ کښې بښتی وم ، حالانکه چې د سیکهانو په پېښور کښې نه چیرې څه قسم حقوق وُو، او نه اوس شته ، موهن لعل لیکي : اخر د ډېر بحث او مباحثې نه پس برنس د دوست محمد خان د دعوې په صداقت باندې قایل شو ، او ګورنر جنرل ته یې خبر ورکړ .

په دې باندې د کندهار سردارانو شک من شول د- دوئ خیال پیداشو چې دوست محمد خان د انګریزانو سړ دوستانه تعلقات جوړوي ، بیا به زمونږ جماعت کوي ، نو دوئ فوراً د ایران او قهران کښې روسي سفیر سړ رابطه جوړه کړه ، دوئ د زار روس او ایران سړ د اتحاد جوړولو له پاړ خطونه ولیږل ، روس خو هدې ته ناست وُ ، نو دوئ نو دوئ ژر د کندهار خان سړ د یوبل سره د امداد لوظنامه وکړه ، او روس خپل یو افسر کیپټن ویکوویچ کندهار ته- راولیږلو ، روسی چې کندهار ته راغلو ، نو ورمعلومه شوه چې دغه یوه کوچنۍ صوبه ده ، واګ ټول کابل کښې دے ، نو ده د زار روس یولیك د امیر دوست محمد خان په نوم کابل ته راوړو ، چې په ظاهر تجارتي خبرې وي ، مګر د پرنګیانو په خیر روسانو هم سیاسي اروزګانې درلودې ، دوئ دواړو د خپلو خپلو قومونو د سیاسي -

انژانتو زیاتولو کوشش کولو، برنس په کابل کښې وُ چې ویکوویچ راغی ده له دې نه بناغلے اکسالینډ خبرکړو، اوس کابل دروسي او پرنګی دغوبل مرکز وګرځیدو، اوبل اړخ ته، ایران خپله ناولې دنده دافغانانو خلاف روانه کړه دهرات دنیولو په منصوبه یې کار پیل کړ، اوس نو د مشرق له اړخه پرنګي سیکهان دافغاني خاورې د نیولو له پاره لمسول، او د مغرب له اړخه روسانو ایراني دافغاني تباهۍ تر تیار کړي وو، چې په حقیقت کښې دغه دزاري روس او دبرطانیه جنګ وُ، چې دوئ دایرانیانو، افغانانو اوسیکهانو په ذریعه مخکښې بوتلو ځکه په تاریخ کښې ورته " The great game " وائي.

۱۸۳۷ کښې پرنګیانو دبرکوشش وکړو چې ایران د هرات دحملې نه منع کړي، په دې وخت کښې ایراني باچا فتح علی شاه، قاچاري او دده زوی شهزاده عباس دواړه مړه وو، دده لمسی په قدرت وُ یعنی محمد مرزا، روسانو محمد مرزا قاچار ته لالچ ورکړ، چې دهرات علاقه پخوا هم دایراني حکومت برخه وه، باید چې اوس بیرته قبضه کړاے شي، دروسانو سیاست دغه وُ چې دوئ هند ته دایرانیانو تر څادر لاندې ورننوځي شي، چې دهرات پسې کندهار او ورپسې بلوچستان او

سند اوګرمو اوبو ته ځان رسول ؤ، نو محمد مرزا قاچار د څلور زره (٤٠٠٠) جدید فوج سره د روسي او فرانسوي افسرانو په کمک حمله وکړه د هرات افغانانو یې ۹ میاشتې د دوئ مقابله وکړه، ایرانیان او روسان افغاني همت ته ټینګ نه شول، ناکام لاړل، تر دې وخته پورې هرات د احمدشاه بابا د اولادې سره ؤ، چې د شهزاده کامران، حکومت ؤ. دوئ د هرات آباده علاقه شاته یو بربا ده علاقه پرېښوده، چې روسته دومره لوږه راغله چې افغانانو د لوږې اولادونه خرڅول.

اوس د هرات د ناکامۍ نه پس روسی په خپله مرکزي اسیا کښې په قماقم پالمو علاقې نیولو باندې لاس پورې کړو، او په تیزۍ سره د آموسین برید ته روان وو، بل اړخ ته پرنګیان په کلکته کښې ډېر بې ارامه وو، که څه هم امیر دوست محمد خان برنس ته د ګورنر جنرل په نوم ډېر دتسلۍ خطونه ورکړي وو، او د دوئ سره یې دوستي څرګنده کړې وه مګر د پرنګیانو اعتبار نه په راتلو، د اځکه چې پېښور نه بغیر امیر صاحب لیکلي لوظنامه د ته تیاره نه وو، نو د ده خلافت یې منصوبې جوړولې، چې په هغه کښې غوره منصوبه دغه وه چې شاه شجاع بیرته افغانستان کښې په قدرت راولي، نو-

دوئ سیکهان هم دې ته تیار کړل چې امیر دوست محمد خان
په یو وخت د سیکهانو ، شاه شجاع ، او پرنګیانو دښمن دے
نو داوس نه یې ختمول پکار دي،بس څه وو، دده خلاف
یې دغه پروپګنډې شروع کړه ، چې امیرصاحب د روسانو
سره پټ لاس لري ، غواړي چې په ګډه هندوستان کښې سیکهان
او د پرنګیانو واکداري ختمه کړي ، او د دوئ نه واک واخلي ،چې
په حقیقت کښې دوئ د ریوارو غوښتل چې امیر دوست محمد
خان له افغانستان څخه وباسي چې د ے ساز بازکښې د دوست-
محمدخان پښتاوري ورونه هم د دوئ ملګري وو ، دا ځکه چې
دوئ په حقیقت کښې د سیکهانو دلالان وو ، شاه شجاع او
راجه رنجت سنګهه د واړه پرنګیانو د ربړ مهر په طور استعمالول
او بل د پرنګي سیاست دغه ؤ چې سیکهان افغاني خاوره چې
څومره لېره لاندې کړي دوئ تر ښه ده ، دا ځکه چې دوئ
به روسته د دې وارثان شي ، په کابل کښې د برنس موجودګي
دهرات محاصره او هند اکسالنډ شمله کښې په برنس افغانستان
باندې د یرغمل منصوبه جوړه کړه ،دوئ د شملې غونډه کښې
داسیکم پاس کړو چې دانګریزانو نترلارښود نی لاندې
به راجه رنجت سنګهه په کابل حمله وکړی دده دکومک
له پاره د شجاع په مشرۍ کښې فوځ جوړ ېږي چې خرڅ
به یې پرنګیان ورکوي ، او یو اختیار لرونکی انګریز افسر ګاینډ

به ورسره وي چې لارښودنه او څاره به کوي، او دشاه شجاع دفوج کمانډران به پرنګیان وي، نوه دې سکیم ته لندن دعملي کولو اجازت ورکړ په ۱۸۳۸ مئ کښې د برطانیوي هند چیف سکرټري میکناټن لاهور کښې د راجه سنګهه سره ملاقات وکړ، او ورسره یې خبرې وکړې، شاه شجاع خو د اول نه تیار ناست وُ مګر دوستو د سیکهانو دفوج په ځاے پرنګي فوج کابل افغانستان ته لاړو، رنجت سنګهه ځان بچ کړ، پرنګیان یې ورڅخه کښې کړل دغه فوج فیروزپور نه رخصت کړو چې راجه په خپله موجود وُ، نو دوئ ۲۶ د جون ۱۸۳۸ کښې لاهور پنجاب کښې درې فریقي لوظنامه لاس لیک کړه (شاه شجاع، راجه رنجت سنګهه او انګریزانو) په ښکاره پرنګیانو د هرات د محاصرې چیغې وهلې، لیکن په حقیقت کښې دوئ په پټه نورې منصوبې درلودې، د لاهور د معاهدې مطابق به داسې ویش وُ، چې شاه شجاع به د افغاني صوبې د سیکهانو دلاسه نیولو ته یوقانوني شکل ورکوي، یعنې ډېره جات، پېښور، کشمیر او هزاره، ملتان او پرنګیانو ته به صوبه سندهه ورکړ کیږي، او افغانستان کښې به روټه پوره پوره حق وي. او مئ ۱۸۳۸ تر اګست ۱۸۳۸ پورې اکلینډ ګورنر جنرل په افغانستان باندې د حملې کارروائي مکمله کړه، او اکتوبر ۱۸۳۸ کښې یې د افغانستان سره د جنګ علان جاري

کړو، او داسې یې پکښې وئیلي او لیکلي وو، « زمونږ دختیځ د نیوکو ښه په دې کښې ده چې زمونږ په لویدیځ کښې دښمن دمطلع کونکو، او د بري او د ځان د پیاوړې کولو منصوبې جوړونکو پرځای، دجارحیت په مخنیوی او سکون جوړولو خوښې اتحاد وي »

« حواله کتاب انګریزي استعمار او افغانستان لیکونکی اولس یار - ۱۰۷ »

مګر پرنګیان پخپله مني چې دغه معقول دلیل نه دے، مګر دوئ په دې پسې نه ګرځیدل، د دوی مطلب دافغانستان نیول وو.

پس دوئ په افغانستان برید وکړ، د شاه شجاع دفوج مشر یو پرنګی وُ، او ورسره نور ډېر پرنګیان جنرالان او فوج وُ، دوی اول د قندهاري سرداران وشړل، او شاه شجاع یې قندهار کښې بادشاه کړو، او میکناتن یې (political ADVICER) سیاسي مشاور شو، او بیا پرنګي غزني، کابل، جلال اباد علاقې هم قبضه کړې، امیر دوست محمد خان مقابله وکړه، مګر افغاني سرداران ډېر ژر د شاه شجاع ډډې ته شول، نو دوست محمد خان ترکستان ته بخارا ته لاړو، او د ده زوئ اکبرخان وطن کښې پاتې شو، اول سر کښې خودپرنګیانو دغه سیاست کامیاب شو، چې خلقو کښې یې خوره کړه چې زمونږ مقصد خو صرف د احمدشاه بابا د کورنۍ حق پرځای کول وو، مونږ

نور غرض نه لـرو.

مگر دافغان اولس دومره ساده هم نه وو، دوئ ژر درک کړه چې شاه شجاع واك نه لري. بلکې ټول واك دپرنګي میکناټن او برنس سره دی. نو ورو ورو افغان ملت دمبارزې تیاری شروع کړو، چې دوئ کښې عبدالله خان اچکزی او آمین الله خان لوګری دپر مخکښی مخښکې وو، اوبل ملامزئ ؤ، چې دپکتیا دغاړې راغلی ؤ، لیږې سیل لیکې: چې ددې مولانر نه موږ دپر په عذاب ؤ، اول خلك په قندهار کښې پوټ شول، بیا کوهستان کښې. وروسته غزنې اوبیا په ټول افغانستان کښې، اولس لښکرې جمع کیدې، او هرځای به یې په پرنګیانو او دشاه شجاع په طرفدارانو حملې کولې. که څه هم امیر دوست محمد خان وروسته له بخارا نه راغی. ځان یې پرنګي ته حواله کړو، لاړو هندوستان کښې جلاوطن میشت شو، مگر دده زوئ وزیر اکبرخان داولس سره ودریدو، چې حالات دپر خراب شول، نو میکناټن بیاهم کوښښ کولو، چې افغاني سردارانو کښې بې اتفاقي واچوي دغلزي او درانې په نوم یې سره وجنګوي، مگر دې ځل دده ټولې چالاکۍ ناکامې شوې، ۱۸۴۱ کښې حالات تر دې ورسیدل چې افغاني مجاهدینو الیکسنډر برنس په خپل کورکښې قتل کړو، او ورسره یې ټول هندوستاني او-

او پرنګي سپا هیان هم ، اوس میکناتن کوښښ شروع کړو ، چې وزیراکبرخان تیرباسي ، نو دده سره یې لیدنې خواست او کړو، وزیراکبر خان خو اوس دا افغاني انقلابي اولس زورلیدلی وو. چې څه وخت دوی سره کښیناستل نو د اکبرخان او میکناتن خبرې سره ترخې شوې ، اکبرخان او سلطان جان خان لاس ورواچوه ملیکناتن یې تېنګ ونیوو، اوکش یې کړو، اوس میکناتن په ځان پوه شو ، چې اخري وخت یې دے ، نو یې خپل قومي عزت پټ ته هم نه ووکتل ، اکبرخان ته په خواستو شروع شو چې باربار به یې دغه نعره او ژړا کوله ، چې از برائی خدا ، از برای خدا یعنې دخدای له پاره ما مه وژنئ، مګر دې ځل وزیراکبرخان او سلطان جان فیصله کړې وه چې دغه پرنګی لومبړه به ژوندی نه پرېږدو، دده میرمن ته پرنګانو FIRST LADY وېل، اوافغانانو ورته خانم بزرګ ویله ، خانم بزرګ افغانانو کنده کړه ، وزیر اکبرخان څوڅو ځله هغه په وزیرۍ چاره ووهلو، میکناتن جامت یې وکړه، دده خیال ؤ چې، پرنګانې واسکوډګاما یم اوس به پرنګي تاریخ کښې زما نوم لیکه شي، چې میکناتن افغانستان لانډې کړو. مګر دده ټول خوبونه او پلانونه دکابل په خاورو کښې خاورې شول . اوس ژمی ؤ پرنګي فوج څوڅو ځله کوښښ وکړ، مګر هرځل به دوئ ماتې خوړله توپې او اسلحه یې مجاهدینو قبضه کوله. جنوري -



۱۸۴۲ کښې دوئ د وزیر اکبر خان سره معاهده وکړه، چې دوئ به د افغاني خاورې نه وځي، دوئ جنرال الفنټن په مشرۍ کښې د کابل نه روان شول، چې څرنګې باګرامۍ او خورد کابل ته ورسیدل د هر لورې افغاني مجاهدینو پرې حملې شروع کړې، د پرې ښځې او ماشومان وزیر اکبرخان سره یرغمل شول، چې لیډي سیل یعنې جنرال سر رابرټ تاسیل ښځه هم وه، هغه د وزیر اکبرخان د ښو اخلاقو ډېره صفت کوی، او د پرنګي افسرانو نه سر ټکوي، چې دوئ هغه باګلي ؤ، د پرنګي په فوج افغاني وزیر لیوان اوګیدر ماړه شول، صرف یو ډاکټر برائیډن نیم ژوند حالت کښې پاتې ؤ، پرنګیانو ته ده خبر ورکړو د دې سره ډاک لیسنلو فوکري هم خلاصه شوه. او لندن کښې دغه خبر د بم غوندې وچاودیده، چې ټول یورپ کښې یې آواز شوه چې افغانانو پرنګیان وډبول، د هغې وخت الماني عالمان ـ مارکس او انګل هم د دې متعلق لیکلي دي، او یو الماني شاعر او لیکوال هم دغه واقع په خپل شعر کښې بیان کړیده:

Afghanistan das Tor nach Indien Herbert Tichy

Afghanistan und besonders das duestere Khurd Kabul beschaeftigte sich fuer einige Zeit die Phantasie Europas Schriftsteller und Dichter, sie hatten einen dankbaren Stoff gefunden. Hier ein Gedicht (T. Fontanes) ueber afghanische Ereignisse:

Das Trauerspiel von Afghanistan – Theodor Fontane

1819-1898

1) Der Schnee lies staeubend von Himmel faellt,
Ein Reiter vor Dschellalbad haelt,
"Wer da?" ein britischer Reitermann
"Bringe Botschaft aus Afghanistan!"

2) Afghanistan! Er Sprach so matt,
Es umdraengt den Reiter die halbe Stadt.
Sir Robert Sale, der kommandant,
Hebst ihn vom Pferd mit eigner Hand.

3) Sie fuehren ins steinerne Wachhaus ihn,
Sie setzten ihn nieder an den Kamin
Wie waermt ihn das Feuer, wie lobt ihn das Licht,
Er atmet hoch auf und dankt und spricht

4) "Wir waren dreizehntausend Mann,
Von Kabul unser Zug began,
Soldaten, Fuehrer, Weib und Kind,
Erstart, erschlagen, verraten sind.

5) Zersprengt ist unser ganzes Heer,
Was lebt, irrt draussen in der Nacht umher,
Mir hat ein Gott die Rettung gegoennt,
Seht zu, ob den Rest ihr retten koennt."

6) Sir Robert stieg auf den Festungswall,
Offiziere, Soldaten folgten ihm all.
Sir Robert sprach: "Der Schnee faellt dicht,
Die uns suchen, sie koennen uns finden nicht.

7) Sie irren wie blinde und sind so nah,
So lasst sie's hoeren, dass wir da.
Stimme an ein Lied von Nacht und Haus,
Trompeter, blast in die Nacht hinaus!"

8) Da huben sie an, und wurden's nicht mued,
Durch die Nacht hin klang es, Lied um Lied,
Erst englische Lieder mit froehlichem Klang,
Dann Hochlandlieder wie Klanggesang.

9) Sie bliesen die Nacht und ueber den Tag,
Laut, wie nur Liebe zu rufen vermag.
Sie bliesen – es kam die zweite Nacht,
Umsonst, dass ihr ruft, umsonst, dass ihr Wacht

10) Die Hoeren sollen, die Hoeren nicht mehr,
Vernichtet ist das ganze Heer.
Mit dreizehntausend der Zug began,
Einer kam heim aus Afghanistan

نوټ: دغه نظم ښاغلی " THEODER FANTANES "
چې دے ښه لیکوال او شاعر دے د ۱۸٤۲ د پرنګي په -
" DISASTER " باندې لیکلي دي: چې پرنګیانو اول ځل اول
افغاني پرنګي جنګ کښې ماتې وخوړله او د دوئ اول فوج
عزت او رعب درب تباه شوے ؤ . ښاغلی شاعر په خپله
جرمنانئ یعنې المانی دے . خو انګلینډ کښې هم اوسیدلی
دے . نو ځکه دوی ته د پرنګیانو د تباهۍ ښه اندازه وه.
دهغې وخت اول یورپ شاعران او لیکوالان ددې واقع نه
متاثر شوي وو، دا ځکه چې پرنګیانو به ویل: چې زمونږ
په دایري کښې ماتې یعنې شکست نه شته، مګر دپښتنو دلاسه
دوئ وهل وخوړل نو دوئ ډېر ذائ وو.

د نظم ترجمه:
"دافغانستان په غم لړلي لوبه"

(۱) واوره وروره داسمانه وریده
چې یوسوار د جلال اباد سره ودریده
چا وویل چې داځوک دے هاں دغه برطانوی سوار دے
یو خبر یې دافغانستان نه راوړی دے
(۲) افغانستان! ډېر کمزوری آواز یې دے
په دې کښې پوره نیم ښار پرده راچاپیر شو
سر را برټ سیل د فوج کمانډر
په خپل لاسو یې د اسپې نه راکوز کړو

۳- دوی دکانونه جوړ ښودیهری تاپوتر بوتلو

او دوی یې دیوې انکهتې خواته کښیناوو

چې څرنګې او ر دئ کرم کړو او سترګې یې وغړیدې

نزیوه لویه ساه یې واخیسته اول یې تشکر وکړو وپرې کړیان شو

٤- مونږ دریالس زره مخلوق وو.

دکابل نه زمونږ کاروان راروان وو.

چې نجګی ماشومان، سپاهیان اوسرداران وو.

ټول قتل یحنی وچ کړي اولار یې غلطه کړی وی.

۵- زمونږ ارمي تباه شوه.

چې څه پاتې دي دشپې یې لاري ګودرې خطا کړی ورچانې ګرځي

او زه، اوزه دلوی خدائے په برکت ژوندے یم.

وګورئ که باقی تاسې چیرته بچ کولے شئ.

٦- سرابرت دقلعی په دیوال وختو.

ورپسې عسکر او ټول افسران ورو ختل.

سرابرت وویل: چې واوره دپره درنه لویږي.

چې څوک مونږه غواړي هغه مونږه نشی موندلے.

۷- دوی لاري خطا کړي دي دراننه په څیردي که څه هم مونږ ته نږدې دي

نو راځئ چې دوی زمونږه اواز ونه واوري چې مونږه یو.

نو راځئ چې سندرې ووایو، دشپې سندرې

نو دوئ بمی دشپې لخوا ورچانې وژانماولی.

۸- دوئ دپرې چیغې وکړې پوره شپه سترګې نه شول.

ټوله شپه یې دسندرې پسې سندره وویله
اول یې دانګریزۍ د خوشحالۍ سندرې وویلې
ورپسې یې غرائزۍ سندرې او بیا ورپسې دویر سندرې .
۹- دوی ټوله شپه او ورځې بجی وغږولې .
دومره پر زوره چې څومره یې مینې اجازت ورکاوو .
دوئ ژغاولې ژغاولې پدې کښې دویه شپه را غله
دوئ وویل چې موږ نه فضول چیغې وهو او فضول پیرۍ او څوکنۍ کوو
۱۰- چې څوک یې اورې هغه یې نه اورې .
راځکه چې ټوله ارمې تباه نست ونابود ده .
د دیارلس زرو کاروان وو .
صرف یوځینې د افغانستان نه کورته راغئ .
دلته اخرې څو پرګنیان چې پاتې شول نو ګندومک غونډې
سره ګولې ورخلاصې وې . نورې یې را ویستلې ټول مړه شول .
یو افغانانو ژوندے وینو ، هغه داسې چې یو جولدار ؤ ، دهغه
سره یو نین جیک بیرغ ؤ ، د پاسه یې ګرم کوټ په اغوستی ؤ ،
چې پښتنو څملو . د پاسه یې ګرم کوټ پر اغوستی ؤ ، چې
پښتنو څملولو او مړکولو یې ، نو دیکښې دوی دغه بیرغ ،
یې ولیده نو کوټ لاندې ، د دوئ خیال ؤ چې چیرته ډېرلوئ
پرنګی دے ، نو دوی مړ نه کړو ، دوزیر اکبرخان نه دانعام د
پاره یې ژوندے پرېښود ، نو دوئ پر دوکه شوې وو ، په

دې چل پرنګی سرجنټ ژوندے پاتې شو، ددې شکست،
سړ ددوی رعب هند کښې ډېر کمزورے شو، دوئ ددې،
کمزورے دپټولو له پاره روستو دکابل ښکلي پټ بازار په
بارودو والوزاوه. او غزني کښې کم کور نه يې د توت
دروازه د هندوانو دغولولو دپاره يوړه، هند کښې يې چې
وهلې چې دغه ده د سومنات دروازه مو راوړه، مګر
ددې ټولو ښکرو باوجود دکښې رعب دب ته ډېر زيان ورسېدو
هم داوجه وه چې روستو دويم افغاني پرنګي جنګ کښې
هم دغې غونډې باندې يعنې ګندومک لوظنامه په افغانانو وتپله
چې دوئ اول افغاني جنګ کښې شرمېدلي وُ، نو دبدل دپاره
يې دغه غونډې دلوظنامې دپاره وټاکلې، مګر دغه دويم ځل
هڅه يې هم په وينو ککړه شوه، دوئ دبدل نه پس امير
دوست محمد خان بيرتر کابل ته راپرېښو ګورنر جنرل اکلينډ نوکرې
خلاصه شوه، هند کښې نوے ګورنر جنرل مقرر شو، دوئ
ورپسې سندهه قبضه کړو، دسندهه اميران يې بې واکه کړل
نيپاليان يې وټکول، مرهټه يې بې خوټې کړل، اوس د
دوئ دوست رنجيت سنګهه مړ وُ، ده پخپله د دوئ ۱۸۴۲ -
تباهۍ نه وليده، دکشمير راجه ته يې دجلال اباد دنيولو ويلې
وُ، خو هغه دومره ليونے وُ، انکار يې وکړو، بس اوس،
سيکهانو ته يې سترګې نيولې وې، چې دوئ به څرنګې ختمه وو

افغانستان کښې شاه شجاع او دده اولاد ټول مړه کړاے شول،
اوس محمد زیان دافغانستان جائز حکمران دافغانانو لخوا
ومنل شول، دا ځکه چې شاه شجاع دپردو په اوږو سپور
راغلے ؤ. نو د افغانانو په سترګو کښې د وراثت حیثیت یې خلاص
شو.

د سکھانو او پرنګیانو جګړه او لاندې پښتانه

جولائ ۱۸۳۹ کښې راجه رنجیت سنګھ مړ شو او د ده زوئ کھرک سنګھ د پنجاب حکمران شو. دے د څه وخت دپاره، حکمران پاتې شو، بیا ژر خپل زوئ کنور نونهال سنګھ د تخته کوز کړو، او د پلار په ځائے پخپله حکمران شو، مګر قدرت ته دغه نه وه منظوره او دے ۵ نومبر ۱۸۴۱ په ورځ د خپل پلار یعنې کھرک سنګھ د جنازې نه پس واپس راروان ؤ چې د خصوري باغ یو لوئ چھت د ده په سر راپریوتو، او د څو ګھنټو نه پس مړ شو، د ده د مرګ نه پس څوځو شهزادګان او وزیران د پنجاب حکمران شول، یعنې با چا ګردي شوه دوئ اخیري د راجه رنجیت سنګھ یو ماشوم زوی دلیپ سنګھ د پنجاب، مهاراجه کړو، او د ده مور رانی چنده ن د ده سرپرسته مقرره شوه؛ او سردار لال سنګھ خالصه وزیر عظم مقرر شو، مګر داسې حال ؤ چې سیکھ فوج او سیکھ سرداران ټول خودسري شوي وو، او پرنګیانو داسې

دبې اتفاقۍ اولالچ اورپکښې اچولے ؤ، چې حد یې نه ؤ او بل دوئ خو دبادشاهۍ قابل نه ؤ د دهقانۍ نه بادشاهان جوړ شوی وو، او پوره پوره مهذب شوي نه وو. او بل پرنګیانو تریې نور ضرورت نه ؤ، دوئ پرخه پلمه خته ول، نو پرنګیانو دخپلو چلونو په ذریعه سیکهانو بې وقوفان (PROVOKE) یعنې په قهر کړل او د سپټمبر ۱۸٤۵ کښې ستلج دریاب چې د دوئ او دکښې بریدؤ عبورکړو او پرنګیانو خلاف یې علان جنګ وکړ، که څه هم پدې جنګ کښې پرنګیانو تر تاوان ورسیدو، مګر اخري شکست اوماتې دسکهانو په غاړه شوه. نو ۱۸٤٦ کښې معاهده لاهور وکړه د دې شرطونو په لاندې ډول وو:

۱- دوابه جالندهر علاقه سیکهانو پرنګیانو تر ورکړه.

۲- مهاراجه دلیپ سنګهه دپنجاب مهاراجه تسلیم شو.

۳- سرهنري لارنس سیکهه دربار کښې ریزیډنټ مقرر شو.

٤- سیکهانو یونیم کروړ روپۍ تاوان جنګ ومنلو. دسیکهانو سره ۵۰ لاکهه روپۍ وې، دیوکروړ په بدل کښې یې جموں اوکشمیر ورکړل، چې وروسته پرنګیانو په ګلاب سنګهه باندې په یوکروړ روپۍ خرڅ کړو.

۵- دسیکهانو دفوج تعداد کم کړاے شو اوفقط څلویښت زره (٤۰۰۰۰) پیاده او ۱۲۰۰۰ دولس زره سواره مقرر شول.

بیا وروسته دسیکهو دربار کاروبار ۸ - اته سردارانو جرګې
چلاوو چې د دوئ مشر پرنګی بناغلی سرهنری لارنس وُ د دې
کونسل یا جرګې معیاد تر ۱۸۵٤ پورې وه، چې دوئ د شهزاده
تر بلوغت پورې وو، او دې جرګې په مختلفو ضلعوکښې اسټنټ
ریذیډنټان کړل. او دغه پرنګیان وو، او د دوئ په لاس کښې
پوره پوره واک و، یعنې دسیکهانو د حکومت مثال دهغې ټرکۍ وُ چې
درایور او انجن یې د پرنګیانو سره وُ لو تشه بادې یې دسیکهانو سره
وه. دسیکهانو دې دور کښې د بنوں ضلع مشر بناغلی کرنل ایډوارډ
وُ، اوس سیکهان پوه شول چې اختیارات خو د پرنګیانو سره دے
دوی ګهسی کدوان دي. نو ګورنر جنرال ډلیوزی د دې میاشتې
لانه وې تیرې شوې چې دوسیکهانو دویم جنګ شروع شو.
دلاهور دربار د ملتان حاکم مول راج نه حساب کتاب وغوښتو
لیکن مول راج انکاري شو لارډ ګف ته حکم وشو، چې
مول راج باندې حمله وکړه، لیکن لارډ ګرمی په وجه سستي
وکړه، اوس د راج بغاوت یو خطرناک مشکل اختیار کړو، پدې
ورځو کښې کرنل ایډوارډ د بنوں ریذیډنټ وُ، نو هغه د ډیرو
اوبنوں پښتانه د مول راج خلاف بوتلل، پدې کښې د غزني خیلو ن
مروتو خانانو د پرنګی ملګ وکړو چې هغه کښې مشهور رقیب خان،
ولد پیر محمد خان غزني خیل وُ او د بنو چو دا ړخه درب خان،
دایډوارډ سره لاړو پښتنو د پرنګي د مشرګرۍ لاندې مول راج ته.

دوه ځله ماتې ورکړه او ملتان کښې یې محصور کړ، د لاهور دربار ایډورډ د مدد د پاره شیر سنګهه ولیږلو مګر هغه ملتان تر رسیدو، سره سم د مول راج ملګرے شو، چې څه وخت د دې نه لارډ ډلیوزی خبر شو، نو فوراً یې د سیکهانو خلاف علان جنګ حا او کړو، د دې نه د بنوں او ډیرو پښتانو فایده وچته کړه، د دوئ بنوں کښې په سیکهانو او پرنګیانو حمله وکړه ځان یې ځینی ازاد کړه او زر یې افغانستان تر خبر ورکړو، چې بنوں د سیکهانو نه او پرنګیانو نه خالي ده. تاسو یې قبضه کړئ، خو هغوئ غوږ نه په وګراولو د سردار شیرسنګهه او مول راج د ملګرتیا په وجه سخت جنګ شروع شو، خو بیا هم د سیکهانو په قسمت کښې ماتې وه، د دوئ د جلیانواله باغ سره سخته ماتې وخوړه، د دې سره پرنګیانو یعنې لارډ ډلیوزی ګورنر جنرل پنجاب سیکهو شاهي ختمه کړه. او د کښې علاقه یې اعلان کړه او مهاراجه دلیپ سنګهه تر یې پنځوس زره پونډه د کال پنشن مقرر کړ. هدغه شان کوزه - پښتونخوا مارچ میاشت ۱۸۴۹ د کښې تر عملداری لاندې راغله، او س پرنګیان د دریائ تسلج په ځاے جم (جمرود) پیښور، بنوں، کوهاټ او ډیرو کښې باقی افغانستان ته کښیناستل، او د افغانستان د ژمي، دارالخلافه، پیښور د پرنګیانو د استوګنی ځاے شو، او س د پرنګي او روسي په منځ کښې صرف باقي افغانستان پاتې شو، زاري روس هم ځان اموسیند تر رارسولے وو.

د امیر دوست محمد خان بیا امارت

د ۱۸۴۳ء نه تر ۱۸۶۳ء پورې حالات

که څه هم اوس پرنګی نه وُ، دوئ جنوری ۱۸۴۳ کښې - امیر دوست محمد خان بیرته خلاص کړاے شو او افغانستان ته راغلے وُ، مګر اوس هغه امیر دوست محمد خان نه وُ پاتې چې کوم مخکښې وُ چې زړه یې مات او بې خوصلې وُ، او بل افغانستان هغسې برخې برخې پروت وُ، قندهار کښې بیرته د . د لا - ورونه په قدرت وو، هرات کښې یار محمد خان وُ، قطبی افغانستان جدا جدا ویشلی شوے وُ، پېښور اول سیکهانو اوس د پرنګیانو سره وُ، اوس پرنګیانو د افغانستان د مکمل نیولو د پاره منصوبې جوړې کړې، دوئ کوزه پېنسټونخوا مارچ ۱۸۴۹- کښې ونیوله اوس د موجوده قبایلي علاقو د نیولو پروګرام یې جوړ کړو د غه اول قدم وُ، او د دې نه پس د دوئ مقصد اموسیند وُ، کویټه شال د دوئ قبضه کښې وُ، خانِ قلات یې بې واکه کړو، خارجه سیاست یې ځینې واخیستو، کورنۍ چارو کښې آزاد نه وو. افغانستان کښې سرداران یې دیو بل خلاف استعمالول،

او امیر دوست محمد خان یې دافغاني خاوري راټولولو ته نړیږنوړ دسیکهانو دربار په دوران کښې ځینې پرنګیانو وروزل شول، چې وروسته دوئ دپښتنو دپاره لوئ خطرناک او زهرجن ثابت شول. دمثال په توګه، دلارنس دوه رونه، جارج او جان لارنس ایبټ ایډوارډ، هډسن، نکلسن، لیومز ډن - سنډیمن، او بروس چې دافغاني خاوري نیولوکښې ددوئ ډېر لاس وُ، پنجاب کښې روزلے شوي وو،

پاس په پاتې افغانستان کښې امیر دوست محمد خان کوښښ کولو چې تجارت اوصنعت او زراعت بیرته برابر کړي، لاري او - ګودري دغلواوشوکمارو نه پاک کړي، خو دده په مخکښې ډېر خنډونه وو، اولاکار دغه وُ چې افغانستان کښې مرکزیت راولي ۱۸۵۱ کښې یې قطبي افغانستان بیرته قبضه کړو، او دمرکزلاندې یې راوستو په ۱۸۵۵ کښې یې قندهار قبضه کړو، (دل) رونه یې وشړل، ۱۸۶۳ کښې یې هرات هم قبضه کړ چې دې کال باندې امیرصاحب وفات شو، خو پاتې افغانستان یې سړ یوکړو، مګر پرنګیانو امیرصاحب چیرته په ارام پریښوده، نو پښتو لوظنامه مارچ ۱۸۵۵ کښې په منلی شوه په ۱۸۵٤ کښې ګورنر جنرل لارډ دلیوزي په هدایت دپښتو دپټي کمشنر ایډوارډ تهلارنس اوستو چې امیرصاحب سره رابطه جوړه کړي، په مارچ ۱۸۵۵ کښې د پنجاب چیف کمشنر او دامیر-

صاحب زوی غلام حیدر خان پېښور کښې سره ملاقات وکړو، او ۳۰ مارچ ۱۸۵۵ کښې دوئ پوه لوظنامه لاس لیک کړه چې دې کښې دغه لیکلی وو:

«چې امیر صاحب به د پرنګیانو د دښمنانو دښمن او د دوستانو به یې دوست وي» مګر دغه په پرنګیانو نه لاګو کیده که څه هم لوظنامه کښې ښکاره نه وو لیکلی شوی، چې دکوزې پښتونخوا نه دې امیر صاحب تیرشي مګر اشارتو کښې هرڅه وو، پرنګي دغه څلورېږې، د هند دپاره دومره ضروري ګڼلی، لکه څومره چې داسان دپاره خوراک دے. او بل امیر صاحب دومره ګمزورے شوے ؤ، چې هغه د ململو پګړۍ باندې رضاو، اوس - پوره پوره په راضي ؤ، د شال نه یې توبه کړې وه، او بل ۱۸۵۶ کښې ایران بیا په هرات حمله وکړه او پرنګیانو د امیر صاحب مشکلاتو نه فائده اخستلو نه سر نه غاړاوه دوی جنوري ۱۸۵۷ پېښور کښې یو بله معاهده په امیر صاحب ومنله، دلوظنامې نه پس پرنګیانو امیر صاحب ته دولس زره پونډه د فوج د ساتلو دپاره هره میاشت - ورکولې ترهغه وخته پورې ترڅو پورې چې امیر صاحب د ایران سره په جنګ کښې وي، انګریز افسرانو کولاے شول چې د دې پیسو د لګولو دپاره د کنټرول حساب وکتاب دپاره

کابل، قندهار او بلخ ته لاړ شي، مګر امیرصاحب که په فوجي توګه غریب او کمزورے ؤ، مګر بې وقوف نه ؤ. هغه په دې ښه پوهیده چې دغه افسران به جاسوسي کوي نو صرف یې قندهار ته دګلګ اجازت ورکړو، دحیرانۍ خبره دغه ده چې یو اړخ ته پرنګي ایران خلاف امیرصاحب ته فوجي امداد ورکولو او بل طرف ته یې هرات دنوم افغانستان نه جدا ساتلو، چې دغه لوظنامه وشوه نو بیا پرنګي دهرات بیرته دافغانستان سره دیوځاے کولو اجازت ورکړو، بل ٤ مارچ ۱۸۵۷- کښې پیرس لوظنامه کښې ایران دبرطانیه تولې مطالبې ومنلې، او دې لوظنامې کښې ایران لوظ کړې ؤ چې هغه به راتلونکي وخت کښې دافغانستان سره هره رابطه دکمپنۍ په ذریعه ساتي، هم غسې پرنګیانو لاس په افغانانو او ایرانیانو باندې دپاسه شو، دوئ مشر پرنګی شو، دپرنګي دخبرتیا نه بغیر دوئ دیوبل سره څه لوظنامه نه شوے کولے.

حیف خلک دتاریخي واقعاتو نه خبر نه وي، نو زر راتوپ کړي چې ۱۸۵۷ کښې افغاني امیر چرته ؤ، او دده پوزشن دغه ؤ چې دخپل ځان نه په غم پرنګي اخته کړے ؤ، د هند دازادۍ جنګ کښې یې هیڅ کمک نه شو کولے. دلته جنوري ۱۸۵۷ کښې امیرصاحب باندې لوظنامه وتپلې شوه هلته ۱۰ مې ۱۸۵۷ کښې دمیرټ په مقام داستعمار خلاف.

دهندوستان دخپلواکۍ لومړۍ لمبه پوړتر شوه، او ـ
ټول هند کښې اوربل شو، افغانانو په امیرصاحب باندې زړه
راوړو چې اوس وخت دے، چې پرنګي باندې ګزار وشي
دافغانانو د خطرې په وجه د پنجاب چیف کمشنرجان لارنس
هڅو فیصله وکړه چې تر اباسین پورې علاقه
امیر صاحب ته بیرتر ورکړي، مګر دګورنر جنرل لخوا
یې سخت مخالفت وشو، او ورته هدایت وشو چې پښتو
تر اخره ټینګ کړه. تر څو پورې چې دهند دازادعه
جنګ و، امیر صاحب نه پخپله اونړې افغان اولس دې ته پرېښود
چې پرنګي باندې ګزار وکړي او بل لیومزدن پرنګي شهزاده
غلام حیدرخان سړ ۱۸۵۷ کښې قندهار کښې ناست ؤ، دوئ
ته یې نصحت کولو چې دستاسو دکورنۍ خیر پدې کښې
دے، چې دهند دچارو نه ځان وساتئ. دغه جګړې باتي
پاسون دے ډېر زر به ختم شي، نو پرنګیانو په سره سینه
دپښتونخواه پښتانه او پنجابیان دهند د آزادۍ د جنګ
خلاف استعمال کړل، او بله وجه دغه وه، چې تازه تازه
دسیکهانو حکومت ختم شوے ؤ، چې دوی په پښتنو ډېر
ظلمونه کړي ؤ، او افغاني امیرانو ددوئ هیڅ کمک نه ؤ کړے
دهغوئ په مقابله کښې پرنګیان ډېر مهذب وو، داځکه چې
دهغې وخت پښتنو او پنجابي مشرانو خیر پدې کښې لیدو

چې د وحشي سیکهانو نه پرنګې ښه دے ، د پرنګیانو د حکومت
د پروخت نه ؤ ستوے ، نو ځکه دوئ ورځې تنګ نه و، د هندوستان
خلقو خو د پرنګي اصلي ظالم ښکل پیژاندلے ؤ ، او پښتنو او
پنجابیانو خو تازه تازه د تارا سنګهه د ونه خلاص شوی
وو ، او د پرنګي اصلي ښکل اولس یا نه ؤ پیژندلے ، او ځکه
د پرنګیانو خلاف اولسي پاڅون ونشو ، او بل پرنګیانو د سیکهانو
د وخت نه پښتو او پنجابیانو کښې کلکه ملګري جوړ
کړې وو ، بیا د مارچ ۱۸٤۹ نه تر ۱۸۵۷ پورې دوئ د پر
لوی لوی جاګیرداران او قبائلي سرداران خپل ایجنټان جوړ
کړي ؤ نو د دوئ د افغانستان نه هم زړه په قرار ؤ ، او
په خلاص مټ یې پښتانه او پنجابیان په دهلي وروا -
چول ، خو د کمال خبره دغه ده چې سیکهانو هم هیڅ
پر و نه خوځوه ، حالانکه د دوئ بادشاهي خو تازه تازه
ختمه شوې وه ، او بل دغه پاڅون څه منظم نه ؤ و ،
عسکرو بیا هغه پخوانی کاهل او ارام پسنده مغل په
تخت کښېناول چې دوئ نه عسکري هنر درلوده او نه
سیاسي تش کو دي پاتې وو ، او بل دې وخت کښې دخانی
او بوجهاز و نه وو ، د لندن او د برطانیه د نورو کالونیو
نه زر زر امداد رارسیدو ، ازادۍ غوښتونکی اولس ټینګ
ایمان درلوده ، خو څه خاص پروګرام نه وو ، او بل یورپ کښې

۱۸۳۵ نه ریل جاري شوے وُ، او پرنګیانو سړ ډېر دولت وُ، او بل روس هم ددې ګړېږ نه فایده وانخستله، خوکه روس راغلے هم وے، نو د هندوستانیانو دپاره پکښې څه خیر وُ.

بهرحال دغه جنګ هم هندي پښتنو کړے وُ، او مشر یې یو هندي پښتون وُ، چې شابسته خان نومیده ۸ جولائی ۱۸۵۸ پورې پرنګیانو هندي پاڅون مات کړ، مشران یې پهانسي شول، او د مغلو زوړ او پوندباچا ظفر شاه رنګون ته ولیږلے شو، او بچي یې ورتر دده په مخ کښې مړه کړل، دغسې د مغلو برائې نام حکومت پائے ته ورسیدو، او ورسره ورسره دکمپنۍ حکومت هم ختم شو، نومبر ۱۸۵۸ هند ډایریکټ دتاج برطانیه لاندې راغلو، او هندوستان ملکه وکټوریا دتاج او تخت برخه شوه، او دا ددې تر حکومت لاندې ینګ په نیغه راغلو دکمپنۍ وروستی ګورنر جنرال لارډ کیننګ له دې ورځې نه وائرائے هند شو، دغه جګړه چې په هندوستانو سوه شو. نو ۱۴ اګست ۱۹۴۷ پورې یې د هند کلتوري، سیاسي اقتصادي، ژباني ښه استحصال اوکړو، اوس لاندې پښتانه پاڅه د پرنګي تر پوندو لاندې شول، اوس دلته د پرنګي دوه ډوله سیاست شروع شو، چې یو سیاست یې دکوزې پښتونخوا دپاره وُ، او بل یې دپاتې افغانستان

دپاره ؤ کونړ پښتونخوا کښې ځینې علاقې یعنې ضلعې پرلس لاندې راوستې، او قبایلي علاقې یې د خپل فوجي مشق دپاره وساتلې، او د افغانستان سره دپولې پاخې پولې په تکل کښې شول امیر دوست محمد خان ستړے ستومانه او بلدا شوے ؤ، خو دمرګ نه مخکښې یې هرات واخیست او په ۲۷ جولای ۱۸۶۲ کښې یې ټول افغانستان سره یو کړو، یعنې پاچې افغانستان او امیر صاحب ۹ جون ۱۸۶۳ کښې هرات افغانستان کښې ساه ورکړه، ددې فاني نړۍ نه لاړو، او دده زوی شیرعلی خان چې روستو په امیر شیرعلي خان مشهور شو، دافغانستان امیر شو.

(۱۸۶۳ - ۱۸۷۸ء)

دامیر شیرعلي خان وخت او دویم پرنګی افغاني جنګ

دامیر دوست محمد خان دپر زامن وو، چې دوئ د مختلفو مانديو اولادونه، او بل که څه هم دامیر دوست محمد خان پر وخت کښې افغانستان سره یو شو، مګر مقامي خانان او ملکان یا سم شوي نه وو، اوس پرنګی هم لرې نه ؤ. یو د بسمن ورته په جمرود پیښور کښې ناست وو، بل ورته دامو سیند په غاړه سندرې وویلې.

پداسې وخت کښې شیرعلي خان امیر شو، او دخپلو ورنو په منځ کښې اتفاق او اعتماد نه ؤ، هر یو غوښتل چې امیرشي، نو ددې په وجه افضل خان، او عظم خان راپورته شول، یا چا راپورته کړل، د شیرعلي خان خلاف یې بغاوت وکړو، ددې سره بیا کورنی جنګ شروع شو، چې پرنګی او روسي ورته لمن وهله، دافغانستان د خوراک په بیت ناست ؤ، دپرنګیانو ډایریکټ لاس و پکښې، دوئ غوښتل چې افغانستان ښه کمزورے کړي چې ددوئ لاس ته ناست وي.

نو دغو دواړو وړاونو امیر شیرعلي خان د تخته وشړلو حکومت د دوئ په لاس ورغئ، مګر امیرشیرعلي خان همت نه باځلو، اخر ددوئ نه یې ۱۸٦۸ کښې بیرته کابل قبضه کړو، یو ځل بیا امیر شو، عبدالرحمن خان او عظیم خان دواړه وتښتیدل، عبدالرحمن خان ترکستان بخارا ته لاړو، دروسانو میلمه شو۔

کله چې امیرشیرعلي خان بیرامیر شو نو د هند واسرای، لارډ لارنس "Lard Laurence" ورته مبارکي ورکړه، دمبارکه لیک ترجمه:

نیټه ۱۲ اکتوبر ۱۸٦۸ "ماته ستاسو هغه لیک راورسیدو چې کوم کښې ستاسو د بیرته راتګ او دخپل پلرني بادشاهۍ، نیولو خبرو،

علی جاه! زه تاسوته په دې کامیابۍ مبارکي وایم، دغه کار صرف ستاسو د پیاوړتوب، لیاقت، حوصلې او دتینګې ارادې برکت ؤ، زه په رښتیا سړه یقین لرم چې تاسې به په خپل هیواد کښې امن او امان تر خپلې واکدارۍ لاندې ټینګ کړئ زه امید لرم چې تاسې به دخپلو مخالفینو سره نرم چلند وکړې، که څه هم دوئ د ستاسو له پاره د ډېرو بدبختیو سبب جوړ شوي وو، تاسو به دلوئ زړه مهربانې او دمینې نه کار واخلئ. ستاسو حضور به په خپل وطن کښې دمهربانۍ اوعزت روایات

ټینګ کړئ.

زه په دې خبره ډېر خفه او غمجن یم چې دپیاوړي مرحوم امیر دوست محمدخان اولاد په خپلو کښې سړ په جنګ وو. چې نتیجه یې کورنۍ جنګ ؤ، چې د دې سره زما بهادرهشر او په عامه توګه افغان هیواد او طاقت کمزورے شو، زه ستاسو په حضور باور لرم چې تاسو به د خپلې نیکۍ، مهربانۍ او لرې کتو په ذریعه به خپل هیواد کښې امن، صلح اوخوشالي راولي، زه صرف زباتي خبرې نه کووم. بلکې غواړم چې په عملي توګه هغه ټول روا بط چې زما اوستاسو د مرحوم، والد صاحب تر منځ موجود وو، نور هم پیاوړي اوراتینګ کړم، په دې کښې برطانوي حکومت هم ملګرے دے»

دغه وه د پرنګي ښکاره خبره چې څومره په خوښۍ ته به یې خط ورته لیکلے ؤ، کله چې سړے دغه د مبارکۍ لیک ولولي، نو داسې ورځني معلومیږي چې لارډ صاحب دامیر شیرعلي خان سکه ورور دے، مګر دغه ټول چالونه وو، د دې شاته زهر پراته وو، دا هغه وخت چې پرنګیا نو کښې دوه ډلې وې چې یوه ډله ته یې «BACKWORD-policy» ویله او بلې ډلې ته یې «FORWORD-policy» ویله پدې وخت کښې هندي برطانیه د افغانستان سړ په داسې برید مطمینه نه وه نو دوئ د «SCIENTIFIC Frontier»

په تکل کښې و د « BACKWORD-policy »، والو خیال او سوچ
ؤ، چې د هند د دفاع بهترینه لاره دغه ده چې اباسین
د هند أ . ف . ل . N وټاکي، داځکه چې دغه د افغانستان،
او هندوستان تر منځ قدرتي پوله ده، باید تر اباسین پورې
خاوره افغانستان ته ورکړې شي، او بل ۱۸۵۷ کښې امیر دوست محمد
خان کورنۍ زمونږ د مشکلاتو نه ناجایزه فایده نه واخیسته
چې د دې سیاست پلویان لارنس پخپله او بل ملګرے۔
« JAMES OUTRAM » وو، د دوئ خیال ؤ چې د
هند دفاع د پاره دغه یوه « GDEAL » پوله او بریدے۔
مګر د دې سیاست مخالفین چې د دوئ د مخ په وړاندې
سیاست پلویان وو، دوئ یې مخالف وو، دوئ غوښتل چې
افغانستان بیخي ختم کړي او آموسین د روس سره بریدکړي، د دې سیاست پلویان ښاغلی « لیتن » ډیورنډ،
بروس، او سنډیمن وو، او د دوئ د ملګرو برطانوی پارلمنټ
کښې کمی نه وا، د لارنس سیاست هله ماتې وخوړه چې د
هند وائسرائ « لارډ لیتن » مقرر شو، پدې وخت
کښې د برطانیه سټیټ کونسل یو غړے چې هنری راولسن،
نومیده، تجویز وړاندې کړو، (۱۸۶۸) کښې چې فارو د پالیسۍ
ته دې دوام ورکړې شي، موږ نه پکار دي چې کوټه
او دره بولان ونیسو امیر ته وظیفه مقرره کړو، کابل کښې

پرنګی نماینده کښېنه وواو روسانو په امو مقابله وکړو، ښاغلے لارنس د دې سیاست سخت مخالف ؤ، دوئ ویل چې څوک اول د افغان خاورې ته ورګډ شي یعنې حمله پرې وکړي، که هغه روسي وي یا موږ هغه د افغانانو دښمن دے، او هغه بل یې دوست دے. نو موږ ولې افغانان په مفت د ځان دښمنان کړو، پرېږدئ چې روسان حمله وکړي موږ به د هغوئ امداد وکړو. نو پدې طریقه د افغانانو اعتبار ګټلی شو، مګر د لارنس دغه سیاست د لارډ سالسبرۍ اولارډ لیټن د دې فیصلې په وجه ګډوډ شو، چې دوئ پریکړه وکړه چې موږ به افغانستان کورنۍ چارو کښې لاس وهو، او د هند سرحد به نور هم افغانستان خواته ورمخ ته کوو، او س د فارورډ پالیسۍ کښې درې خوښې وې « CHOICES » یوه دا چې افغانستان دې بیخي ختم شي، امو سین دی د هند پوله شي بل « CHOICE » دغه ؤ چې هندوکش دې پوله شي، او دریم دغه ؤ چې د پیورنلو لاین په ځاے دې کرښه تیره شي.

دغه خبرې داسې روانې وې، چې دې کښې امیر شیرعلي خان ۱۸۶۹ کښې د هند سفر وکړ او د انباله په مقام یې د وائسرائ هند « Lard May » سره وکتل، ده ورته وویل، چې غواړم د برطانوي هند حکومت سره نږدې کار وکړم، او

دروسانو خلاف ستاسو د مدد امیدواریم .

بل تجویز یې ورته دغه وړاندې کړ چې دوئ دې دده حُوان زوئ شهزاده عبدالله جان د ولي عهد په توګه ومني، که څه هم حق د یعقوب خان ؤ، دایوب خان او یعقوب خان دې مور دلال پورې مهمنده وه، او د عبدالله جان مور کندهاری وه، نو دغه ښځه په امیر شیرعلي خان زوروره وه، خپل زوئ یې پر ولي عهد کړو، که څه هم شهزاده یعقوب خان ډېر مشرؤ او حق یې ؤ .

مګر دغه دواړه خبرې وانسرائ هند رد کړې امیر صاحب خپه بیرتر خپل هیواد افغانستان ته راغی د پوځ په جوړولو یې پیل وکړ او تجدید طرز یې تربیت شروع کړو او نغدې تنخواګانې یې ورکولې، او د خانانو او سردارانو زوروسوخ یې په چل ول ترکنټرول لاندې راوستو، په دې وخت کښې روسان هم په قراره ناست نه وو، دوئ په ۱۸۶۵ کښې تاشقند، وریسې خوجند، سمرقند، فتح کړل، او روسي ولایت (صوبه) ترکستان یې جوړ کړو، چې د دې ګورنر جنرل ښاغلے کاف من (KAUF MAN) مقرر شو، نو د دې سره امیر صاحب نور هم بې قراره شو مګر کاف من پدې وخت کښې امیر صاحب ته یو خط ولیکو، چې

تاسې هیڅ خطره مه محسوسوئ، په دې لیک باندې پرنګیان خوشاله نه وو، که څه هم امیر صاحب د کاف من لیک - وائسرای هند ته لیږلی ؤ، او دوئ یې حیني خبرکړي وو، په مارچ ۱۸۷٤ کښې ډ لیسرائلی د برطانیه وزیرعظم او سالسبری د هند سکرتری شو، دوئ خیال وکړچې مرکزي ایشیا کښې اوس حالات خرابیږي، نو پکار دي، چې نوي افغاني امیر افغانستان کابل کښې یوانګریزسفیر یا نماینده ومني، تراوسه به برطانیه نمائندګي یو هندي مسلمان په کابل کښې کوله ددوئ فکر وو، چې په داسې وختوکښې یو مسلمان د اعتبار وړ نه دی، مګر د دې منصوبې خلاف ښاغلي نارتهبروک سخت احتجاج اوکړو، او ورته یې وویل، چې ۱۸٦۹ کښې امیر صاحب د روسانو نه خطره په ګوته کړې وه، مګر برطانیه دغه خطره نه منله او دوئ د امیر صاحب سره د ګډ کار نه انکاري شول، اوس تاسې وایئ چې د روس نه خطره ده، زما خیال او پوره یقین دے، چې دیو انګریز سفیر به په کابل کښې اوسیدل امیر صاحب هیڅ کله ونه مني، دغه کار د ۱۸۵۷ لوظناهې خلاف دے، سالسبری په دې زور ورکاوه، چې یو مشین لیږل پکار دي، ښاغلے نارتهبروک وائسرائ هند خپل احتجاج بیابیاوړاندې کړو، او حکومت برطانیه یې خبره کړه چې د داسې عمل نتیجه به دوهم افغاني جنګ وي، چې د ډېر دولت، عزت، او انساني تباهی

سبب به شي، د واشرائ هند احتجاج ونه منلے شو(۱۸۷٦ کښې يې استعفئ ورکړه).

نوې واشرائ د (Forward Policy) مشهور او معلوم طرفدار سړے ؤ، لارد لیټن د هند واکدار شو، نوې واشرائ يو رومان ټيک، سنه لیکوال او شاعر ؤ، مګر په سیاسي لحاظ ډېر پس مانده ؤ، د حالاتو درک يې نه شو کولے، همدا ده په برکت دویم افغاني پرنګي جنګ جوړ شو، ده اول امیرصاحب ته خبر ورکړ چې ستاسې حضور تر به يو وفد حاضرين يې چې هغه به د ملکه ویکټوریا د هند د ملکي کیدو مراسم وړاندې کوي، امیر صاحب ورته جواب ورکړ چې افغانستان نه د هند برخه ده، او نه د ملکې، نو د دې ډرامې سره زما هیڅ تعلق نه شته، په دې جواب باندې واشرائ هند خپه شو او امیرصاحب ته يې ولیکل چې دغه نمونه جوابونه د افغانستان په مفاد کښې نه دي، او تاسو د برطانیه د جائزو مفادانو نه سرغړوئ، اکتوبر ۱۸۷٦ کښې هندي مسلمانانو چې پرنګي په کابل کښې نمائنده ؤ هند ته وغوښتل شو، چې واشرائ سره وګوري، ایجنټ چې واپس افغانستان ترتلو دغه نمونه هدایت ورته شوي وو:

The Agent was instructed to inform Sher Ali that the position of Afghanistan between Russia and Britain resembled that 'of an earthen pipkin between two iron pots; that if Sher Ali remained our friend, the military power of England could be spread around him as a ring of iron, and if he became our enemy, it could break him as a reed.

ترجمه : شیرعلي خبر کړه چې دافغانستان پـو زیشن، (موقعیت) د برطانیه او روس په منځ کښې داسې دے لکه خاورین لوښے چې د دوو اوسپنو پلو په منځ کښې وي، که چیرې شیرعلي زموږ ه دوست شي، نو د برطانیه فوجي قوت به داسې تر بدل شي،لکه دفولاد و دائره، او که چیرې زموږ دښمن شي نو داسې به مات شي لکه دنل وابنه) د ۱۸۷۶ په اخیر د مخ په وړاندې سیاست مشهور ملګرے او طرف دار رابرټ سنډیمن د پلوچانو د خان قلات سره یوه لوظنامه وکړه، چې خان پرنګیانو ته دشال (کوئټه) نیولو اجازه ورکړه، چې دغه کار دفوجي نقطه نظره د د ره، بولان او بیا د قندهار دپاره خطرناك قدم ؤ نوقدرتي خبره

وه، چې ددې اقدام سره کابل کښې امیرصاحب وارخطا شو دا ځکه چې اول افغاني پرنګي جنګ کښې پرنګیان مشال (کوئټه) کښې یو ځائ شوي وو، او بیا د دره بولان په لارقندهار ته، تللي وو،.

جنوري ۱۸۷۷ کښې په پیښور کښې یو کانفرانس وشو چې په دې کښې د افغانستان لخوا ښاغلے سید نورمحمد شاه صدراعظم ؤ، او د برطانیه لخوا (Leneis Pellt) کګډون کړے ؤ، د ډېرو خبرو اترو نه پس ناکام شو، سید نورمحمدشاه قندهاري ددې نه انکار وکړو چې کابل کښې پرنګے ریذیډنټ وګمې ولے پاچې دوئ دهندوستان دراجه ګانو او نوابانو حال لیدلے ؤ، چې اول به . . . . ؤ، او ورپسې به هیواد قبضه کول وو، نو افغاني نماینده صفا انکار ورته وکړ، ده ورته وویل: چې د برطانیه حکومت اوخلک یې زورور دي، مګر افغانان هم په زور هیڅ نه مني دوئ آزاد خلک دي، اوخپله آزادي، پټ اوعزت، دخوښ ژوند پرې ګران دی، دوئ به دخپلې آزادی، پټ اوعزت دپاره خپل ځانونه قربانې کړي، مګرس به تیټ نه کړي، ده زیاتر کړه چې افغان اولس ډېر زیات آزاد دے، هیڅ یوامیرخپل تخت او تاج نه شي ساتلے، که ددوئ لږ هم شک پرې راغئ، چې دوئ دخارجي قدرت نه هدایات اخلي، او بل داچې موږ په تاسو هیڅ باور نه لرو، ستاسې دوستي داوبو کرښه ده، که تاسې

یوځل راګډ شوئ، نو تاسې به زمونږ خلاف غلط،غلط ،
رپوټونه لیکئ، چې یوه ورځ به زمونږ په زیان تمام شي
دهند واشرائ دومره پوندو، چې دامیرصاحب
وسواس یې لږ هم نه لرې کولو، هغه وخت دکابل بازارو
کښې دسرے چوکئ دخبرو په شان مشهور وه چې د
برطانیه (Duke Ederburgh) او روسی
شهزادګی سره واده کوي، ددوئ تعلقات سره خواږه وي
او دافغانستان په تقسیم یعنې ویش باندې سره راضي شوي
دي، همدغه وجه وه چې امیرصاحب په پرنګیانو باندې
شکمن وُ، او دده درباره دافواګانو او سازشونو مرکز جوړ
شوے وُ، همدغه کانفرنس د روان کال ۱۸۷۷ کښې افغان
وزیر عظم او نماینده ښاغلے سید نور محمد شاه قندهاري
پېښور کښې بیمار شو، او همدلته په حق ورسید و په خلکو
کښې مشهوره شوه چې پرنګیانو زهر ورکړل، داځکه چې
ددوئ په رشوت او رعب دب باندې دغه نړاوبیدار افغان
قندهارے نه شو سمولائ، نو زهر یې ورته ورکړل د
دې موقعې نه واشرائ هند فایده واخیسته، دپېښور -
کانفرنس یې ختم اعلان کړو که څه هم یو بل افغاني نماینده
په لاره وُ چې، دمرحوم سید صاحب پرځای دافغاني
ملت نمایندګي وکړي. خو پرنګي بهانه اوپلمه یې لټوله،

دوئ غوښتل چې افغاني امیر لرې کړي، مګر خط وکتابت کښې پرنګیان ډېر نرم وو، یو اړخ تر یې کانفرنس ختم اعلان کړو، او بل اړخ تر داسې لیکي:

{ چې تر څو پورې تاسو یا ستاسو امیر زمونږ پرخاوره یا زمونږ د دوستانو په خاوره تیرے ونه کړئ، هیڅ برطانوي سپاهي ته به اجازت ورنکړاے شي، چې افغانستان ته بغیر دبلنې نه ننوزي، شیرعلي خان یو آزاد او خپلواک امیر دے. برطانیه هیڅ حق نه لري چې خپل میشن د ده د اجازت نه بغیر په افغانستان ور وتپي، او یا د اچې کوم بنه تعلقات د روسانو سره جوړ وي، دغه د ده ځنګ په ځنګ همسایه دے. د ده انکار د برطانیه د میشن نه څه ډېره غټه خبره نده. }

دغه د پرنګي منکاره لیک ؤ، او په پټه او عمل کښې د پښتونو کوهاټ او ډېره اسماعیل خان او ور سره د قبایلي علاقو پښتانه د افغانستان خلاف همایت کټلو هلې ځلې کولې، تر دې پورې چې د کشمیر د راجه سره یې هم رابطه جوړه کړه، او د افغانستان په ختیدو او تکړه کیدو باندې دوئ کار شروع کړے ؤ، د افغانستان او برطانیه تعلقات دیوې بلې حادثې په وجه نور هم خراب شول چې څه وخت ۱۸۷٦ کښې SERBIEN او MONTENGRIN د ترکې خلاف بالکان یورپ کښې بغاوت وکړ، نو اپریل ۱۸۷٦ کښې روسانو

دباغي، سربين په هايت کښې د ترکي خلاف د جګړې اعلان وکړو، او روسي فوځيان د ترکي حدودو ته ورګډ شول. او د استنبول اړخ تر يې پيشقدمي کوله په دې باندې برطانيه خپل مفادات په خطر کښې وليدل، نو د روس خلاف يې د ترکانو د مدد اعلان وکړ، او بحري جهازونه يې د درې دانيال په لاره استنبول تر وليږل، چې د روسي فوجيانو مخه وينسي.

په دې باندې روسان وار خطا شول، د ترکي سره يې يو لوظنامه وکړه، دغه معاهده ۱۸۷۸ کښې د سان ستيفان په نوم مشهوره شوه.

د ترکانو، ايرانيانو او افغانانو غټ تکليف دغه وُ چې د افغانانو زخمونه د پرنګيانو نه وو، او د ترکانو زخمونه د روسانو نه وو، نو ترکي به هميشه د پرنګيانو دلالي کوله د افغانانو جاګړې خبرې ته به يې غوږ نه نيو، دا ځکه چې پرنګيانو د خپل مقصد د پاره ترکيه څو څو ځله د روسانو نه ږغ کړه، د دې مقصد دا نه وُ چې ترکان د پرنګيانو خوښ وو، مګر سياسي او فوجي تقاضه دغه وه مګر ترکيانو به پدې کښې فرق نه شو کولے، نو د پرنګسي ملاتړ به يې کولو، کومه لويه چې روسانو د دوئ سره کوله هغه لويه پرنګيانو د افغانانو سره کوله، نو پدې وخت کښې

شیخ اسلام د ترکي تیار شوے ؤ، چې د پرنګي پر و ینه
پر امیر شیرعلي خان باندې دکفر فتوې ولګوي. چې سید احمد
خان، هندی ورسره هم ملګرے ؤ، چې دغه وروسته د سر
سید احمد خان په نوم مشهور شوه روستو د سرکاری او پرنګي
اسلام بنیاد کېښود، او هندي مسلمانان دعلي ګړ او د یوبند
مکتب فکر کښې تقسیم شول. یوه ډله د پرنګي ملګري او دغه
بله ډله یې دښمنه وه، او ایرانیانو اول سر کښې د روسانو
نه وهل وخوړل، روستو د پرنګیانو نه، اول جنګ عظیم کښې
چې سیاسي او فوجي تقاضا د ترکي خلاف جوړه شوه، بیا
برطانیه خپل د روس ناساتلے ترکي سلطنت ټکړې ټکړې،
کړو، او خپله خیټه کښې یې واچاوه، روسان د پرنګیانو
نه پدې خپه وو، چې دوئ د ترکي حمایت کړے ؤ، د جرمني
چانسلر بیسمارک د دوئ په منځ کښې د دریم ګړي رول ولوباوه
او جون ۱۸۷۸ کښې جرمني ناستون برلن کښې د دوئ جرګه جوړه
کړه، چې روسان، پرنګیان، او ترکان پکښې حاضر وو، مګر اوس
روسانو د بالکان بدل په افغانستان کښې ځینې اخیستلو قسط وکړو.
چې هلته د برلن کانفرنس شروع شو، نو دلته په هغه ورځ
روسي جنرال ستولیتوف بغیر د امیر صاحب د بلنې نه کابل ته
روان شو، امیر صاحب د دې خبرې سره وارخطا شو، او سرحدي
افغاني ګورنرانو ته یې هدایت ورکړو، چې روسي جنرال ستولیتوف

افغانستان ته درنه راکړه نشي، بل اړخ ته به دپرنګي جاسوسانو واشرائ هند ته هروخت رپوټونه لیږل چې امیرصاحب د روسانو ملګری دے، امیرصاحب دروسي ترکستان روسي ګورنر جنرل ښاغلے کاف من (KaufMan) ته سخت احتجاج وکړو، او ورته یې ولیکل چې جنرال ستولیتوف منع کړه، کاف من ورته ځواب ورکړ چې جنرال ستولیتوف اوس نه شي واپس کیدائے. که څه نقصان ورته پیښ شو زاری روس به ددې ذمه وار تاسې ګڼي، دغه دامیر صاحب پوزشن ؤ چې، یو اړخ ته واشرائ هند په زور میشن اوریذیډنټ کابل ته لیږلو، اوبل اړخ بغیر دبلنې نه ستولیتوف روسے راروان ؤ، او روسي ګورنر جنرل ورته غوړې هم کولې نوکه نقصان ورته ورسي نو امیرصاحب به یې ذمه وار وي. مګر بیا هم امیرصاحب د مزار شریف ګورنر ښاغلے شیردل خان ته هدایت ورکړو، چې همه یې را پریږده. اوس روسانو امیرصاحب ته دیوبلې بلا سر ورښکاره کړو، چې هغه دده پرارې وراره عبدالرحمٰن خان ؤ، چې بخارا کښې، ورته روسانو ساته، خدائ دې داسې څوک مجبورنکړي لکه دغه شپو ورځو کښې چې امیر شیرعلي خان ؤ، روسي جنرال په زور کابل ته راغئ، هم په دې وخت کښې دهند واشرائ دامیر صاحب نه دغه غوښتنه وکړه، چې اوس

پرطانوي میشن داسې ومانه لکه روسي ، که څه هم امیرصاحب واشرای هند ته خبر ورکړے ؤ ، چې دغه روسي وفد زما دمرضی نه بغیر راغلے دے ، مګر پرنګیانو چرته منل ، ددې حالاتو ذمه وار امیرصاحب نه ؤ ، بلکې پرنګیان او روسان ؤ. چې دوئ دبالکان او بحره روم غوبل او زورآزمایي کابل ته راوړه ، چې څه وخت دبرلن کانفرنس کښې روغه وشوه او لوطنامه لاس لیک شوه ، نو فورا جنرال ستولیتوف سره دوفد کابل پرېښود وطن ته روان شو ، ددې سره دبرطانیه او روس ، ترمنځ دجنګ خطره ورکه شوه ، روس په هند دحملې نه کولو لوظ کړے ؤ ، مګر پرنګیانو صرف روس دبهانې دپاره استعمالولو ، خواخیري او اصلي منشاء یې افغانستان نیول ؤ ، چې وړو وړو امارتو کښې یې تقسیم کړي نو دوئ په امیرصاحب دغه تور ولګاوه ، چې زمونږ دښمن او دروسانو دوست یې ، نو دوئ دهند او افغانستان ترمنځ دیو (seinTifiC FronTier) خبره کرمه کړه او واشرائ هند خپل هندي مسلمان ایجنټ کابل ته ولیږلو ، چې امیرصاحب دمیشن دورتګ نه خبر کړي . پدې باندې امیرصاحب سخت احتجاج وکړو ، مګر پرنګیان دغسې وروان شول ، په اګست ۱۸۷۸ کښې امیرصاحب خوږ زوئ ولي عهد عبدالله جان وفات شو ، پرنګی دومره کلک زړے او ظالم

ؤ، چې دامیرصاحب خفګان ته یې دسړ ونه کتل نو په ۱۴ اګست ۱۸۷۸ واشرائ هند (لارډ لیټن) امیرصاحب ته ولیکل چې (sirneville chamberl Ain) کابل ته دروان دے، یو اهم خبر درو ړي، خو امیر صاحب هیڅ ځواب ور نه کړو، دخو ورځو نه پس برطانوی میشن پېښور ته ورسیدو، او فوجی بدرګچیان علي مسجد او خیبر درې ته ورسیدل، دعلي مسجد افغان فوج کمانډر ښاغلی فیض محمدخان د برطانوي دفوجي ډلې مشر (cavagnary) ته په پاسته او په مضبوطه ژبه وویل: چې تاسې بغیر دامیرصاحب داجازت نه افغانستان ته نه شئ ګډیدائ. کاوآګاری پېښور ته واپس شو او حکومت ته یې وویل چې افغانان دزوور ژبه پیژني، پدې باندې لارډ لیټن چیغې جوړې کړې، چې برطانوي وفد افغانانو بې عزته کړو، او غیراخلاقی سلوک یې ورسره وکړو حقیقت کښې دغه ټول دروغ وو، افغانانو ورته په ډېرعزت سړ ویلي وو، چې دامیرصاحب داجازت نه به غیر تاسو تر دا خلیدواجازت نه شو درکولے، پدې باندې ۲ نومبر ۱۸۷۸ کښې برطانوي، حکومت واشرائ ته هدایت ورکړو، چې امیرصاحب ته اخطار (انټی مټم) ورکړه، چې که امیرصاحب دافغانستان بدبختي نه غواړي، نو فوراً دې معافي وغواړي، او بل دې برطانوي وفد کابل ته پرېږدي. که دغه نه وي نو امیرصاحب دې.

حالاتو ته تیار شي، اوله چیرې ۲۰ نومبر ۱۸۷۸ پورې خواب راغئ نو ذمه وار به یې امیرصاحب وي ۳۰ نومبر باندې دامیرصاحب لخوا خواب راغئ چې میشن دې راشي، مګر دغه خو تشه بهانه وه، اوس پرنګي ورته بل شرط کېښود، چې امیرصاحب دې معافي هم وغواړي، امیرصاحب پوه‌ؤ، چې زه که معافي غواړم نو دغه ډېره بې عزتي ده، نو دې غلے پاتې شو، هم ددې سره برطانیه خپل جنګي ښکاري هندي اوانګلسي سپي په افغانستان ورخوشې کړل، په ۲۱ نومبر ۱۸۷۸ کښې د پرنګي قوجي لښکر دخیبر، بولان او کورمې دروپه لارې په افغانستان حمله آوړشول.

دخیبر په لار او General (samuel Brawe) دکرمې په لار او جنرال (Robert) جنرال (Stewart) دبولان په لاره حمله اوړ شول، امیرشیرعلي خان دبرطانیه دفوج دزور ته‌ؤ، خپل زوی یعقوب خان یې دکابل حکمران مقرر کړو، او پخپله دشمال اړخ مزار شریف ته لاړو غوښتل یې چې روسانو ته د پرنګیانو خلاف شکایت وکړي، لیکن روسانو خپل حدود تر دداخلیدو اجازت هم ورنکړو، دغه لوئ افغان ګډوډ او دوسواسو نه ډک زړه په ۲۱ فروري ۱۸۷۹ کښې مزارشریف کښې وفات شو.

دوئ په امیریعقوب خان باندې ۲۶ مئ ۱۸۷۹ کښې ګلندومک

تورې او بې عزته لوظنامه ورو تپله ، د دې سره د افغانستان خارجه سیاست د پرنګیانو په لاس ورغی ، کابل ، قندهار ، هرات او نورو ځایو کښې د پرنګیانو پاخه نمائندګان ومنل شول کرمه پشین ، سبی ، بولان ، میچنی ، خیبر دغه ټول علاقې برطانوي حکومت ته ورکړے شوې ، دغه کندومک هغه غونډې وې ، چې اول افغاني پرنګي جنګ کښې د روسته اخیری اترانګریزي عسکر مره شوي وو ، نو د دوئ د افغانانو نه د بدل په خاطر دغه غونډې د دې لوظنامې د پاره وتاکه ، د دې نه معلومیږي چې پرنګیان خومره په زړه کښې تور وو ، چې څه وخت افغان ملت ته د دې تورې لوظنامې اصلي شکل معلوم شو نو ټول افغانستان کښې افغانان د یعقوب خان او پرنګیانو خلاف ، پورته شول . چې نتیجه داوه چې کاوګنارې د پرنګي لوئ سفیر ووژلی شو ، او د میکناټین په لار لاړ ، او او یعقوب خان تخت باګلود ، لاړو هند کښې مهاجر شو پرنګي فوج یوځل بیا په کابل کښې افغانستان کښې ګیر شو ، افغانانو سخت قیام وکړو ، مشهور افغاني جنرال محمد جان ورډګ او ورسره مولا موشق عالم دوئ دواړو په کابل کښې د جنرال رابرټ په فوج باندې حملې شروع کړې ، نو د قلعه قاضي سره نږدې سخت جنګ جوړ شو ، افغاني ملیشه په پرنګي فوج ورګډه شوه ، دوئ تار په تار کړل ، افغانانو تورې په لاس ، لاس ـ

دوئ د کابل حکمران کړ، دا ځکه چې بل څوک نه ورته ملاویدو چې دغه دغه دکګ شکور یې په سر اخیستی او سمبال کړے وے. او دوئ بل ژمي ته تیار نه وؤ، چې پاتې شي، او امیرعبدالرحمن ځکه تیار شو، چې دامیر شیرعلي خان زوئ شهزاده ایوب خان هرات او فراه کښې لګیاؤ، د برګیانو خلاف یې تیارے کاوه، او ۲۷ جولای ۱۸۸۰ کښې یې دمیوند په مقام یې برګیانو ته ماتې ورکړه، او دلته په کابل کښې ۲۲ جولائ ۱۸۸۰ کښې دربار ولګیدو او د امیر عبدالرحمن د حکمرانۍ مراسم پکښې وشول، او- (sir Donald stewart) ورته خپل خطاب کښې داسې وویل: ته زماله پاره دعزت ځائ دے چې علی جاه ته سترې مشي کوم، زه عالی جاه ته خپل زوړ دپلار او نیکه دوخت تاج او پای تخت په لاس کیدو او واپس کیدو درته، مبارکي وایم، اُمید لرم چې تاسې به ددې وخته پورې، ستومانه نه وئ.»

امیر صاحب ځواب کښې وویل: «ددې نه مخکې چې دستاسو تشکر وکړم، چې تاسو زما د پاره کړې دې، نو جنرال صاحب زه خواهش لرم، دستاسو داوږد ژوند دپاره بنه صحت او د خوشالۍ ژوند، دستاسو عزتدار پروفیشن کښې درته برئ غواړم، زما خوارلس کلنې جلاوطنۍ، او زما بیرته راتګ خوشالي او خاصکر خپل کور، تاج په لاس کول، دستاسو سوه

دخبرې نه معلومیږي چې اوس اوس زما اوستاسو په منځ کښې شوې وي، چې زه خومره خوشال یم، خو زه دلیکلو نه علاوه په زباني توګه دستاسو او دستاسو ستاسې مشاورو شکر ګزاریم، ددوئ ډېره مننه کوم، خاصکر هغه خط وکتابت چې زمونږ ترمنځ شوې دې، ډېر ددوستۍ او عزت وړدې، سر ډوونلا ورته بیا وویل: چې زه ډېر ویاړم، چې یو شهزاده مې په تخت کښېناوه، او زه په آخیر کښې دامیر صاحب دپاره دژوند او کامیاب حکومت هیله لرم پس ددې سره دویم افغاني پرنګي جنګ خلاص شو، لس (۱۰) منټه پس جنرال خپل فوج ته دهند اړخ ته دکوچ حکم ورکړه، مګر امیر صاحب ته یې دغم شکوه ورپه سا کړو اوس دے پوه شه او دده کار. او پرنګیانو افغاني تالاب ته اچولے وُ، اوس دده کار وُ، چې لوب شي او یا لمبه زده کړي، او ژوندے پاتې شي دې حُل پرنګیانو قسمت ښه وُ، یو تکړه ظالم او بې رحمه سیاستدان په لاس ورغلو، د شاه شجاع په خیر ثابت نه شو، امیر صاحب ډېر ژر افغاني بزکشۍ کښې یو وتلے لوبغاړی ثابت شو، مګر ددې مطلب دغه بالکل نه وُ، چې افغانستان کښې هر څه سم دي، د ده تربور شهزاده ایوب خان ورته هرات، فراه کښې ناست وُ او دده سره یې په تخت جنګ وُ.

د میوند جنګ یا غزا او شهزاده ایوب خان غازي ۱۸۸۰ء

چې څه وخت امیر عبدالرحمن کابل کښې د پرنګي پر ملاتړ حکمران شو، نو هغه وخت په افغانستان کښې ګړبړ وُ، د یو مرکز لاندې نه وُ، په اول سر کښې د پرنګیانو سیاست او پالیسي دغه وه چې د وئ کابل، غزني، او ننګرهار، او پکتیا علاقې عبدالرحمن خان تر دورکولو خیال وُ، هرات یې جدا ساتلو، قندهار خان تر، هم دغسې بلخ مزار شریف او کندوز علاقې، او د وئ غوښتل چې افغاني خاوره په وړو، وړو امارتونو تقسیم کړي، مګر د غه منصوبې هغه وخت شنډې شوې، چې څه وخت افغاني اولس د دوي خلاف سخت قیام وکړ، او مشهور افغان جنرال محمدجان خان وردګ او وړه ملا موشفق عالم په مشرګرۍ افغاني مجاهدینو د جنرال رابرټ فوج ته ماتې پسې ماتې ورکړه، او د جنرال رابرټ تجربه کار فوج تیښتې ته اړ شو، نو د وئ تر د مدد د پاره پرنګي فوج د جلال آباد او قندهار نه راغئ، د وئ یې د مجاهدینو نر وژ غورل، نو اوس پرنګیان د ځان په غم شول، د افغانستان ښکولو نه یې پوره، پوره

لاس نه اخیستو، که څه هم دوئ ډېر وار خطاوو، بغیر دشیطانت نه یې بل کار نه ؤ، دوئ قندهار شیرعلي خان« دغه بل شیرعلي خان ؤ چې د بارکزو مشر ؤ » ورکړو، دوئ د هرات او سیستان ایران ته دورکولو وعده وکړه، مګر یو شرط چې ایران به د غازي ایوب خان خلاف جنګیږي، مګر ایران انکاري شو، داځکه چې هرات او سیستان دشهزاده ایوب خان په قبضه کښې ؤ، نو دده نه اخیستل څه اسان کار نه ؤ، او بل داچې مغربي افغاني خاوره کښې د شهزاده ایوب خان پلویان زورور ؤ، چې څه وخت دے دپلار دمرګ نه خبر شو، نو ده زر په هرات قبضه وکړه، او بیا وروسته د خپل ورور نه ډېر خپه ؤ، چې ګندمک تو ړ لوظنامه یې لاس لیک کړې وه، نو ده غوښتل چې اول دپرنګیانو ایجنټ شیرعلي خان بارکزئ دقندهار نه وشړي، او بیا، امیرعبدالرحمٰن دکابل نه.

چې څه وخت افغاني مجاهدین خبر شول، چې شهزاده ایوب خان دمغرب دا ډېره راروان دے، نو دوئ ټول هرات ته ځانونه ورسول چې دپرنګیانو او ددوئ ایجینټ سردارانو خلاف یو محاذ جوړ کړي، سردار ایوب خان اول سرکښې پرنګیانو ته اطلاع ورکړه، چې دافغانستان دتخت واکدار او حقدار زه یم، ولې پدې چې دغه زما دپلار تخت ؤ، مګر دپرنګیانو دا ډېره څه ځواب رانغلو، هرات کښې ټول ضد پرنګي مشران راجمع شول، مګر دپې

سره مرضونه هم راپیدا شول، چې هغه د دوئ په منځ کښې، حسد ؤ چې پرنګي ورته لمن وهله، چې دایوب خان طاقت مشنل کړي، دا حسد دومره زیات شو چې په هرات کښې د هراتیانو او کابلیانو سردارانو تر منځ جنګ هم جوړ شو، شهزاده ایوب خان زرقابو پرې وساتله، مګر په قندهار باندې حمله وځنډولې شوه، د سردار صاحب پروپګنډه ډېره اثر ناکه وه، په افغانانو یې ډېره سینه اغیزه کوله چې دے به ډېر زر پرنګیان او دهغوئ دلالان د افغاني خاورې نه وشړي، افغاني مجاهدین هم دغسې خبرو اوریدو ته انتظار وو، پرنګیانو د دې پروپګنډې سبکاره حُواب نه ورکولو مګر، په پټه ګلیا وو، د خپلو جاسوسانو په ذریعه یې دایوب خان په سردارانو کښې د بې اتفاقۍ او نفرت تخم کرلو، غازي ایوب خان ډېر انتظار ونه کړ، ۹ جون ۱۸۸۰ کښې د هرات نه راروان شو، د دوئ فوج کښې با...ع څلور زره باقاعده عسکر وو...۱ زر کسان سواره وو، ۳۰ ډېرش ورسره توپې وې او...۳ درې زره ورسره مجاهدین وُو، د سردار صاحب ټوله وسلحه مقامي افغاني جوړه وه، یو رپې اسلحه ورسره نه وه، د روانېدو نه مخکښې سردار صاحب دغه فرمان جاري کړ:

« زما د ربښتینې دین عسکرو او مجاهدینو او افغانانو! نن مونږه د خپلو ښارو د آزادولو له پاره وځو، چې زمونږ د ازلي دښمن پرنګي په لاس کښې دي، انشاءالله مونږ به د دوئ

دخپلې خوږې او پټنې خاورې نه وشړو، موږ به حقه یوو موږ د خپل کور، وطن او دین مومبین له پاره جنګیږو، راځئ چې روانیږو په دې اراده باندې، چې یا به بریالي شو یا به شهیدان ».

د دې فرمان سره ټول افغانستان سور اور شو، پرنګیانو اول د قندهار ګورنر شیر علي خان بارکزي ته، حکم ورکړ چې د ایوب خان مقابلې ته ورشه او تیار شه، د ایوب خان او یعقوب خان مور مومنده وه، او د شهزاده عبد الله جان مور بارکزي وه، او د شیرعلي خان بارکزي لور وه، چې د ده په کمک امیر شیرعلي خان د مومندې زامن یعقوب خان او ایوب خان د تخت نه محروم کړي وو، اوس دغه د عبدالله جان شهزاده نیکه شیرعلي خان بارکزے د قندهار واکدار ؤ، نو د ایوب خان او شیرعلي خان بدي اوږده وه، او پرنګیانو هم شعوري دغه کار کړے ؤ، نو شیر علي خان بارکزے د ایوب خان خلاف د پرنګي ترکمخرلانده شو.

نوټ: امیر شیرعلي خان د شیرعلي خان بارکزي زوم ؤ.

شیرعلي خان بارکزي تر پرنګیانو د ایوخان خلاف توږ ورتر ترملاؤ کړه، او د ایوب خان خلاف یې ولیږلو، د ۸۰-اتیا میله د قندهار نه لرې ګرشک تر لاړو، چې د ایوب خان مخه ونیسي، خو د ایوب خان پر نزدې کېدو په وجه بارکزے صاحب

بې آرامه شو، نو ده زر پرنګي جنرال پرايم روس "PRIMROS"
ته چې د قندهار فوجي مشر ؤ، خبر ورکړ چې کمک ترځان
راورسوي، نو پرنګي جنرال سمدستي دهند نه فوجي امداد
خواست وکړو، چې څه وخت ايوب خان تر دخپل دښمن
دغه کمزوري معلومه شوه، نو سمدستي بې ټکې کړندې کړ
او په ټول هيواد کښې دسردار ايوب خان خبر خور شو، او په
قندهار کښې پرنګيان وارخطا شول، په ۵ پنځم جولائ ۱۸۸۰ کښې
خبر راغئ چې ايوب خان فراه تر ۲۳۰ ميله دقندهار نه لرې
ده راورسيدو، او دګورنر شير علي خان بارکزي فوج دهلمند
دسيند په بله غاړه ورته په انتظار کښې ؤ، پلاې وخت کښې دپرنګي
مدد هم راورسيدو، نو د بارکزي نه فوج بغاوت وکړو، او
سردار ايوب خان تر واوړيدو، ولې قندهاريې پرې ګګس
پريښود. پرنګيانو کيمپ ته په منډه لاړو، دا وخت دټيلګراف زمانه
وه، نو دپرنګيانو دپاره خبر ليږل دمنټونو خبره وه، چې دغه
سهوليت دايوب خان په برخه نه ؤ، دوئ به دروايتي طريقې سره کار
کولو، نو پرنګي جنرال دايوب خان متعلق واشراۍ هند شمله ته
ټيلګراف وکړو چې متن يې داسې و: ما

"حالات زاړه په زاړه دي، هغه مسافران چې دايوب خان
دکيمپ سره تيريږي وايي چې حالات ښه نه دي کيدائ شي چې د
دايوب خان فوج په ټوليو کښې تقسيم شي په دې نه مخکښې چې

دوئ هلمند ته راځي، جنرال " BURROWS " د دوئ دمقابلې دپاره چمتو دے، فوج صحتمند او پیاوړې حوصلې لري».
د دې خبر نه زړه وروسته چې ایوب خان دفوج سره هلمندته راورسیدو، نو سانګې بوره چې تقریباً ۱۲ میله د برطانیه دکیمپ نه لرې وو خپل فوجي کیمپ ولګاوه.

۲۲ جولائ ۱۸۸۰ کښې جنرال " PRIMROSE " ته دهند حکومت نه دغه نمونه ټیلګراف ملو شو مشن « تاسو ته مکمله آزادي چې تاسو څه وخت وغواړئ، چې په ایوب خان باندې حمله وکړئ، بشرطِ چې تاسو مضبوط یئ، حکومت هند او برطانیه غواړي او په سیاسي توګه ډېر اهم دي چې ایوب خان غزني ته درنه رانشي. او په هر ممکنه طریقه دغه کارکول پکار دي»

۲۳ جولائ ۱۸۸۰ کښې کرنل جان John st جنرال PRIMROSE خبرکړو، ایوب خان د هلمند رسیدو نه راپورې وتوا و د «حیدرابادمقام»

۲۶ جولائ ۱۸۸۰ کښې ایوب خان په میوند وروان شو، چې د پرنګي دکیمپ خشک نا خو د نه ۱۰ لس میله لرې وُ، اوس د برطانیه دپاره دوې لارې وې، یو دا چې ایوب خان پرېږدي چې غزني خوا ته لاړ شي، او یا د میوند په مقام ورسره مقابله وکړي، چونکه دوئ ته هدایت وُ چې غزني ته به یې نه پرېږدي، نو دوئ دمقابلې فیصله وکړه، نو پرنګي فوج دجنرال " BURROWS " ترکماندانۍ دایوب خان مخه بنده کړه، داځکه چې دوئ سره ډاروچې که

ایوب خان غزني ته لاړو، نو ټول غلجیان به ورسره ملګري شي،
اوس دایوب خان دپاره هم دوه لارې وې، یو دا چې مقابله وکړي
او یا دا چې غلزیو قلات ته پټه لاړ شي، مګر ټک یې مشکل ؤ بالکل.
په پاک میدان راګیرشو، چې هیڅ قدرتي دفاع یې نه درلوده یعنې
غر یا ځنګل. سحر په لسو بجو په ۲۷ جولائ ۱۸۸۰ کښې سردار صاحب
جاسوسانو خبر کړو، چې پرنګي په کاریز باندې قبضه وکړه،
چې داوړې پدې سخته ګرمۍ کښې ډاغه یواځینی داوبو ذریعه وه.
همدغه وجه وه چې ایوب خان دخپل فوج یوې برخې ترحکم
ورکړو چې کاریز بیرته قبضه کړي، ددې سره پرنګي حمله
پیل کړه، داول ځل سره دسردار ایوب خان دسورې چهټرې
ولګیده، بس څه وو، افغانانو یا خیر یا الله، الله اکبر دنعرو
سره حمله وکړه. مګر دافغان دآسلحې او دبرطانوي آسلحې
دزمکې او آسمان فرق ؤ، پرنګي دمیوند په میدان قیامت جوړ
کړ. افغانان وار خطا شول، نو ۴۰۰ څلور زره هراتي فوج همت
بې خونده شو مګر په دې وخت کښې افغاني افسرانو په خپلو توپکو
خنجروته وخیژول لاس په لاس جنګ یې شروع کړو، او په پرنګي
فوج ورګډ شول، دوئ دتعریف وړ ټینګوالی وښوده، او
په ډېره ښه طریقه یې جنګ شروع کړو، بلې غاړې ته افغاني
سوارو دپرنګي پیدل فوج باندې دائره را ټینګه کړه، ددوئ
دټوپکو ګولۍ دوئ ته رسیدې، سخت جنګ روان شو، افغاني -

مجاهدینو د زمرو په شان غرمبا شروع کړه، سره غرمه یې بالکل توره شپه کړه، هر خواته د باردو لوګي او پړوینو ککړ خټوګي وو، او لږ وخت کښې د افغانانو لاس پر پرنګیانو بر شو، میدان د پرنګیانو په مړیو ډک شو، او افغانی جنرال شاغلی تاج محمد خان د رلمه غونډې ورپسې ؤ، د ده کوښښ ؤ چې برطانوي فوج ته د جنرال "Nuttal" کمک ایسار او قطع کړي، د دې سره که څه هم افغاني مجاهدینو عسکرو د شهادت جامو نه نوش کړل، مګر اوس د غازیانو حوصلې لوړې وې، او د دوئ خطرناکو حملو او برید و نو پرنګیان ګډوډ کړي وو، په علاج یې نه پوهیدل، د ایوب خان توپ چیان د ومره تکړه ثابت شول، چې دوئ د برطانیه جدیده توپ خانه غلې کړه، د دې سره افغانانو د پرنګیانو پر توپونو نیولو باندې پیل وکړ، دوئ صد افغاني سوو کولو، چې دوئ بر ناڅاپه حملې کولې، او پرنګیان یې وار خطا کړي وو، د دریو ګهنټو سخت او خونړین جنګ نه پس اوس، افغاني توپچي لوړې هم ګرندې شوې وې، د برتانوي فوج حوصلې پر ماتیدو شوې، پنجابیانو سیکهانو او هندوستانیانو عسکرو په منډه پیل وکړو، د فوج د سپلین ګډوډ شو، په دې وخت کښې حیني سول افغاني مجاهدینو د پرنګي ګودامونه لوټ کړل، چې غلې، کچرې او نور ځناور پکښې وو، د غرمې تر دوو بجو پورې افغاني توپ خانې خپل پوزیشن نور هم ټینګ کړ، اوس افغانان د اخیري ګزار په پوزیشن،

کښې وو، په اول سر کښې توپچانې خپله بمبارۍ تیزه اوکړندې کړه
دبلې غاړې لاس پرلاس جنګجوړ شو، دښې اړخ نه غازیانو د
سیلۍ په څیر پسې راغلل، دپرنګیانو ته یې د ټوپکو او توپونو
ښولو او وړلو باندې پیل وکړ. پدې کښې دګډېچ اړخ نه د-
جیکوب رائفل پلا ټنې حوصلې ماتې شوې او تیښتې تړتیار
شول، داځکه چې دافغاني غازیانو بریدونه دومره تین شول
چې دوئې نور ورته ټینګ نه شول، د دوئې قطارونه اوکرښې
ماتې شوې، په ځائې د دې چې افسرانو ورته دپوسپلین چیغې
وهلې وایې، د دبمبئ دفوج هم دغه حال شو، ٦٦ نمبرپلاټنه
هم ګډه وډه شوه، او محمود ابادکلي ته وتښتیدل. جنرال
" BUXYOLWS "، کوښښ کاوه چې، دوئې په چل ول واپس کړي
مګر د رانه لښ دلي ځناورو بد حال ؤ، او هر طرف ته ګډوډې
وه، د ځناورو او انسانانو عجیبه کاروان ؤ، چې چا ژړل،
چاچیغې وهلې، او ځناور په ناړه شروع کړې وه، سخته
ګرمې وه، ګړدونه وو، یو ورکوټې قیامت په پرنګیانو جوړ شوے
ؤ، ورو سته ورپسې غازیان ؤو، ددواړو واړخه یې حملې
کولې، بد حال ؤ، اسپې، اسان، خره، کچې، او عسکر ګډوډ روان
وو، ځینې اسپې زخمې شوې وې او ځینو خرو د ټګ نه انکار
کړے ؤ، افغاني غازیانو د منګلانو نمونده د دوئې ښکار کولو،
کلیوال خلک هم ګلیاوو، د پرنګي قتل عام یې کولو، د دې فوج

نه صرف لفتیننټ مالکیس او حیني نور قیدیان شول، د قندهار والي یعني گورنر شیرعلي خان بارکزئ او د ده سیاسي پرنګ مشاور «Adviсer» کرنل «stJohn» د تباهۍ Disasler نه مخکني مخکني پښې سپکې کړې وې تښتیدلي وو، خو د دښمن پیاوړتوب، او بهادرۍ هیرول پکار نه دي، د برطانیه پیدل فوج ٦٦ نمبر فوج سپاهیان تر اخرې سلګۍ پورې تول پرنګه وجنګیدل، او مړه شول، خو منلره یې ونګړه دوئ د برطانیه عزت وساتلو، دوئ به دائره جوړوله، مات فوج به یې د افغانانو نه بچ کولو، اخیرې شیبو کښې دوئ یوولس کسان پاتې شول او د Khig په یو باغ کښې افغانانو راګیرکړل، نو دوئ په توپکو چړې و خیبر ولے، لاس په لاس جنګ یې شروع کړو، مګر افغانانو ډېر زور نیست و نابود کړل، او هندي عسکر وخوډېر بد حال وُ، افغانانو د دوئ تلاش ډېرلرې پورې ونګړو مال غنیمت باندې اخته شول، کنې د دوئ به چرګه پاتې نه وه، ټول فوجي اوسولي سامان یې د افغانانو په لاس ورغئ، کم عسکر چې په منلره منلره قندهار ته رسیدلي وو، د مړو برابر وو، بدحال یې وُ، چې روستو ډېرپکښې نفسیاتي بیماران شول، چې د اخبر قندهار ته راورسیدو، خلکو کښې شور جوړشو، او ډېرو د ښار نه په تښتیدو لاس پورې کړو، چې لندن ته اول تیلی ګرام ورسیدو، چې جنرال «Burrows» فوج په میوند کښې

تباه او ذلیل، شو، نو هند او برطانیه باندې دشرم او خفګان،
نوې کمبله خوره شوه د میوند جګړه افغاني تاریخ کښې ډېره لویه
پېښه ده، د دې سره د مغرور او متکبر پرنګي دفوج غرور
مات شو، او ذلیل شو، د برطانیه فوجي تاریخ کښې دغربغیراګر
مګر نه ماتې وه، او دوئ په خپله مني چې دغه لویه تباهي
وه، د دې سره د پرنګي د افغانستان د خوراک او ټوټې، ټوټې کولو
منصوبې دغازي فاتح میوند سردار ایوب خان په برکت دخاورو
سره ګډې شوې، د افغانانو د خوشحالۍ نه ځائ نه کیده، چې څه
وخت دغه خبره کوزه پښتونخوا ته راورسیده، نوناڅاپې
پښتنو د پرنګیانو په پوستونو باندې حملې شروع کړې، او-
دغسې د میوند جګړې یوځل بیا نړۍ ته د پښتونو غیرت ښکاره
کړو، د ۱۸۴۲ تباهي یې بیا پرنګي ته وریاده کړه.

د دې جګړې متعلق دوه قیصې ډېرې مشهورې دي چې
یوه قیصه د پیغلې ملالې ده، چې دې پښتو زلمیو ته غیرت
ورکړو، چې د تېښتې پر ځای په پرنګیانو باندې راګډه شول
او د میوند ماتې یې په بریالتوب بدله کړه، دغه د پیغلې ملالې،
برکت ؤ. چې دهغې د خولې مشهورې لنډۍ یې نن هم پښتنو
د پاره د ویاړ وړ ده لکه چې وایي:

"خال به د یار د ویښو کښېږم د م "
"چې شینکې باغ کښې د ګلاب ګل و شرمو یښه "

«که په میوند کښې شهید نه شوې»
خدائ ګولالیه بې ننګۍ ته دې ساتمه»
«ملالۍ»

او بله قیصه دیوې پښتنې مور متعلق مشهوره ده چې وایي: دغه پښتنه میدان جنګ ته راغله، مړي او شهیدان یې کاته چې یو شهید یې راپورتر کړ، او کلک یې ښکل کړو، نو بل یې راپورته کړو لاړې یې په تو کړې، چا ورځینې تپوس وکړو چې دا خو دواړه شهیدان دي، نو دغه بیل بیل سلوک دې ولې وکړ؟ وایي چې هغې ځواب ورکړو، چې دغه اول مې زوی ؤ په سینه یې ګولۍ خوړلې وه، نو ځکه مې ښکل کړو، او دغه بل مې حاوند ؤ په شا یې ګولۍ خوړلې وه، نو ځکه مې لاړې په تو کړې،.

د میوند د برے نه پس ایوب خان په قندهار وریځئ، دلته پرنګي فوج محاصره شو، د برطانیه حکومت واشرائ هند تر سخت هدایت وکړل، چې په هر صورت چې وي د برطانیه فوجي او سیاسي وقار په ځائے کړه، که داسې ونه شي، نو د دې شکست اثر به په لاندې پښتنو او په تول هند باندې پریوزي او یو عام پاڅون خطره ده، لکه د ۱۸٤۲ د پښتې نه جوړه شوې وه، او ۱۸۵۷ پاڅون چې بیا ګردان نه شي، چونکه دویم افغاني پرنګي جنګ په وجه لار ډلیستن سیاست د بې عزتۍ ذریعه ګرځیدلی ؤ.

نو دده چهتي وشوه، بې روزګاره شو، ددې پرځای حکومت
برطانیه لارډ ریپن « Ripon » وائسرای هند مقرر کړو او سخت
هدایت ورته وشول، چې دغه هدایت به په ځای کوي، نو ده چې
لاتر اوسه پورې کابل کښې « جنرال رابرټ ته عزت ورکړو،
چې دهند په ځای قندهار ته لاړ شه، او دایوب خان دلاسه
دقندهار محاصره ماته کړه، او پرنګیان دقتل عام ته بچ کړه، د
یو اړخ نه دجنرال رابرټ فوج دکابل نه قندهار ته راوان شو
او بلې غاړې ته دکوټې او دره پولان په لاره دبمبئ نه تازه
فوج قندهار ته کوچ وکړ، اوس جنرال رابرټ دغزني غلجو
را ایسار کړو، قندهار ته یې نه پرېښوده، مګر امیرعبدالرحمن
دغلجیانو مشرانو کښې ځینو په رشوت راضي کړل، ددې په ذریعه
دجنرال رابرټ لس « ۱۰۰۰۰ » زره فوج بغیر دجنګ نه قندهار ته
ورسیدو، هم په دې وخت کښې دهند نه فوج راغلو، جنرال
رابرټ دقندهار سره نږدې کلي خالي کړل، او دایوب خان
فاتح میوند خلاف یې دجنګ او سازش تیارے شروع کړو،
جنرال رابرټ په قندهار کښې ګیر شوے فوج متعلق لیکي:

" I confess" writes Robert, " to be greatly surprised, not to use a stronger impression, at the demoralized condition of the greater part of the garrison; there were notable exceptions, but the general bearing of the troops reminded me of the people of Agra in 1857.They seemed to consider themselves hopelessly defeated, and were utterly despondent; they never been hoisted the Union Jack, until the reliving force was close at hand."

دد پې سره دکوئټې پولیټکل ایجنټ د خان قلات سره رابطه جوړه کړه، خان ورته دهرقسم مدد یقین دهاني ورکړه، چې وروسته ورته ملکه ویکټوریا. دشکرئې خط لیکلی ؤ.

ایوب خان چې د جنرال رابرټ د فوج نه خبر شو نو خپل مرکز یې ولي بابا کړو، اوس پرنګیانو او دامیرعبدالرحمن خان جاسوسانو دغازي په فوج کښې ځانونه ورګډ کړي وو، دوئ درشوتونو او سازشونو په زور دایوب خان لښکرکښې بې آرامي خوره کړه، دولي بابا جګړه کښې غازي ایوب خان دپرنګي اوامیر صاحب دګډ فوج نه ماتې وخوړه، دغه فوجي ماتې نه وه، بلکې درشوت، چالاکۍ او سازشونو په زور، وه، دولي بابا ماتې نه پس غازي ایوب خان بیرته هرات ته لاړ ؤ، او کندهار پرنګیانو دشیرعلي خان پر ځائ امیر ته حواله کړو، او رابرټ سره دفوج کوئټې ته لاړو، او ۱۰ استمبر ۱۸۸۰ کښې واسرائ هند - امیر صاحب ته دولي بابا دفتح مبارکي ورکړه، او ورته یې لیکلي وو: چې ایوب خان هرات ته لاړو، په قندهار کښې امیرعبدالرحمن خان خپل نږبور، سردار هاشم خان دعظیم خان زوئ مقرر کړو. چې ۲۱ اپریل ۱۸۸۱ کښې پرنګیانو افغاني خاوره خوشې کړه، نو غازي یوځل بیا جون ۱۸۸۱ کښې دقندهار دبیرته اخیستو په غرض روان شو، که څه هم دده سره خزانه وه، فوج یې هم ډیر ډیر نه وو، اوس پرنګیان نه وو، امیرصاحب ګیوا زې پاتې ؤ، اول سر

کښې غازي ایوب خان مشهور کړه، چې دے د قندهار سره غرض نه لري، د پشین نه پرنګیان شړي، خو امیر عبدالرحمن د ومره ماشوم نه ؤ د غازي ارادې ورمعلومې وې، غازي صاحب چې کرشک ته راورسیدو، نو امیر صاحب غلام حیدر خان توخي تر دده د مقابلې حکم ورکړو، د کاریز عطا سره د توخي فوجیانو را ایسار کړو، دلته د توخي د فوج نه څلور رجمتو بغاوت وکړو، د غازي ایوب خان سره شاملې شوې، توخي شکست وخوړو، غازي قندهار بیرته قبضه کړو، چې دغه خبر کابل ته ورسیدو، نو امیر عبدالرحمن پخپله ۱۲۰۰۰ دولس زره فوج واخیسته او د غازي مقابلې دپاره قندهار ته لاړو، غزني کښې، ورسره علجیان هم شامل شول، دغې بزکشۍ ته د برطانیه حکومت ډېر په بې ارامۍ سره انتظار کولو، د دوئ د ایجنټ دپاره سخت وخت ؤ، چې یو خوا ته یې غازي فاتح میوند ؤ او هغې بلې خوا ته د پرنګیانو دلالي وه، مولوی صاحبانو هم پدې وخت امیر عبدالرحمن خان باندې د کافر فتوې ورکړې وه، هم پدې حالاتو کښې په ۲۲ ستمبر ۱۸۸۱ کښې د قندهار د دیوال نه ورچانې جګړه شروع شوه، اول سرکښې داسې معلومیده چې امیر صاحب به ماتې خوري، پداسې سخت وخت کښې هغه څلور رجمتې چې د توخي نه غازي ایوب خان ته تښتیدلي وې، دوئ اوس د غازي نه بغاوت وکړو او د امیر صاحب سره یو ځائ شوې، دوئ د ایوب په توپونو باندې قبضه وکړه د شاته نه یې د غازي په فوج ګولې باري شروع کړه، د دې نه

صفا معلومیږي، چې دوئ دتوخي نه په یو پلان بغاوت کړے وُ،
او د امیرصاحب لاس ورسړ وُ، ددې نه صفا درکُ لګي چې امیر
عبدالرحمن خان خومره چالاکُ ،مکرجن ، او مکار سړے وُ، او س
دغازي فوج مینځ کښې راګیرشو ، دوئ ماتې وخوړه،هر
څه حُینې پاتې شول ، دوئ تش لاس هرات ته روان شول،مګر
دا ځل هرات هم سوړ اور شو ، هغه داسې چې امیرعبدالرحمن
دکابل نه درواښیدو په وخت ،جنرال عبدالقدوس خان دتاشقرغان
والي «ګورنر» ته یې حکم ورکړے وُ، چې هرات باندې د
حملې دپاره دې روان شي، او ده خپل ځان سره ۲۰۰۰ شل زره
لښکر تیار کړو ، چې پکښې ازبک ، هزاره او تاتئ ډیرې هزاره ،او
فیروز کوهي و ، اکتوبر کښې هرات قبضه کړو ، ایوب خان غازي
لا په لاره وُ، چې دهرات دقبضې نه خبرشو، نو دغه نرپیاوړی
غیرتي افغان چې ترتن ورځې پورې زمونږه فخر دے ،د خپل
خوږ وطن نه دهمیشه دپاره لاړو، ایوب خان دخپلو افسرانو سره
ایران ته لاړو، هلته ایراني حکومت دپرنګي په وینا یوقسم نظر
بند کړو، چې روس ته لاړ نه شي. بیا وروسته دپرنګیانو سیاست
کامیاب شو ، دغازي او فاتح میوند او دبرطانیه حکومت ترمینځ
یوه لوظنامه وشوه، چې دهغې مطابق غازي هندکښې داوسیدو
مطالبه منظوره کړه ،او دراتلونکي وخت دپاره دعبدالرحمن خان
په سر چاره پرنګیانو ځوړنده کړه ، افغانستان وار په وار امیر

عبدالرحمن خان تر خپل واک لاندې راوستو غازي ایوب خان څه وخته پورې ایران کښې ؤ، مګر ۱۸۸۵ کښې د پنج دهې د واقع نه پس برطانیه ډېره وارخطا شوه، داځکه چې روسانو ۱۸۸۵ کښې دغه افغاني خاوره قبضه کړه، نو د برطانیه والو سره ډار پیدا شو چې غازي چیرې روسان راته په لاس کښې نه کړي، نو د ایران حکومت زور راوړو، پدې دوران کښې د برطانیه سفارت په کار لګیا و، دایوب خان د خوشحالولو کوښښ یې کولو. د څه وخت نه پس ده برطانیه په مشهد ایران کښې کونسلر جنرل، برګیډئر جنرل (Ma Clean) سره لوظنامه وکړه، چې دے به د برطانیه یو " Noble and honaured guest " وي د دې معاهدې نه پس د برطانیه وزیر عظیم Loyd salisbury د ایوب خان برطانیه تسلیمیدل علان کړل، او اعلان یې وکړو، چې په مرکزي ایشیا کښې د روسانو په سیاست د برطانیه سیاست برشو، ایوب خان او د دوئ ملګري بنځې اوماشومان چې ټول تعداد یې ۸۱٤ کسان وو، دوئ اول بغداد ته لاړل، بیا د بصرې د بندرګی نه په دوو شپېل جهازونو کښې چې " Lauevence " او " SURSA " نومیدل کراچې ته راغلل او د بندرګې جهازونه " Gunboats " ورسره ؤ، ٦ مئ ۱۸۸۸ کښې دوئ په کراچې کوز شول، او شاهي کارډ اف انز سره یې ستري مشي وشول، اولوئ لوئ پرنګیان یې کټو ته را جمع شوی وو، چې

فاتح میوند په خپلو سترګو وګوري دخو ورځو نه پس سردار صاحب یو خاص اورګاډي کښې راولپنډۍ ته روان شو دوئ د ژمي بندوبست په پنډۍ کښې او داوړي اوسیدل یې مړی کښې وو، ۱۹۰۲ کښې بیا لاهور ته لاړو، چې تر مرګه پورې په لاهور کښې پاتې شو. باقي وخت فاتح میوند په کهیل اوښکار تیر کړه، انګریزي ژبه یې هډلته زده کړه، چې څه وخت امیر عبدالرحمٰن خان په ۱۹۰۱ کښې مړ شو، نو دده زوئ حبیب الله خان امیر شو، نو ۱۹۰۷ کښې دهند حکومت دعوت کړو نو پرنګیانو پدې موقع غازي ایوب خان ته وویل: چې تاسې دسیل دپاره بهر ته لاړ شئ، د پرنګیانو دوه مقصده وو، یو داچې سردار خوشحاله کړي، او بل داچې امیر حبیب الله خان ته داجرته کړي چې موږ ته څه خیرن نیت نه لرو، دغه دے شهزاده ایوب خان دهند نه بل لوري تر لیږو، نو غازي دپاره دوه ځایونه خوښ کړے شول، چې یو برطانیه او بل جاپان ؤ، چې غازي د جاپان دګټ فیصله وکړه، د اځکه چې روسانو ته ۵ / ۱۹۰٤ کښې جاپانیانو سخته ماتې ورکړې وه، نو ده غوښتل چې دغه د ایشیا ته زامن وګوري. او بل پدې وخت کښې جاپاني او برطانیه تعلقات هم ډېر خوږه وو، د روس په بې غیرتۍ پرنګیان هم خوشحاله وو، ولې پدې چې مرکزي ایشیا کښې د دوئ سیال ؤ، نو غازي صاحب او ورسره یې زښت ډېر خپل ملګري او پولیټیکل ایجنټ کرنل وائټ هم

وار سره وو، دوئ دا ټيلي يوجهاز چې نوم يې « Capri » وو
دبمبئ نه سنګاپور ته روان شول، دسنګاپور نه يوجاپاني جهاز کښې
چې نوم يې « KOWACHIMARU » و توکيو ته لاړل دجاپان
حکومت خلکو اوپريس فاتح ميوند ته ګرم هرکلئ وويلو، او
جاپاني پريس ورته وليکل چې دنمرختونکي هيوادNIPON
تر هرکله راشي، موږ ته دستاسو او دستاسو د ملګريو،
تو د هرکلي کاوو، غازي صاحب دسيل سپاهي نرعلاوه، د
جاپان دلوئ لوئ شخصيتونو سره ليدني کتني وکړې، او-
خاصکر دروس او جاپان دجنګ دهيروګانو سره چې دوئ
۱۹۰٤/۵ کښې روسي فوج ډبولی ؤ، چې په دوئ کښې،
مشهور Grand Admiral Togo وو چې ورته يې
Nelson of East ويلو اوبل مارشل NOGI و چې فاتح
يې « Port Arthur » وو او بل Count OKUMA
ډېر لوړ اوعزت دار شخصيت دجاپان ؤو، تولو سره سردار
صاحب ملاقاتونه وکړل مګر پرنګيانو سردارصاحب تر د
« Emperor, Mutsohita » سره دملاقات اجازت
ورنه کړو، دوئ جاپان کښې ددې جنګ متعلق ډېر خواهيش
درلوده چې معلومات را غونډ کړي، نو ددې ذکر کړيو
خلکو سره دوئ په تفصيل سره خبرې کولې او دده نږدې
دميوند دجنګ او افغاني حالاتو پوښتنې کولې، مګر پرنګي به

ورسره وو، ۱۹۰۷ کښې د امیر حبیب الله خان د هند دوره خلاصه شوه، بس سردار ته اجازت ورکړ شو، چې بیرته هند ته راشي اخري وختو کښې سردار صاحب ډېر په عذاب و، د ډېرو بنځو او اولادو په منځ کښې به هر وخت جنګونه وو، اقتصادي وضع یې ښه نه وه، د افغانستان د تخت امید یې قطع شوے ؤ او (۷) اپریل ۱۹۱٤ کښې دغه لوئ پښتون د حرکت قلب د بندیدو په سبب په حق ورسیدو، او څوک وایي چې نه دده یو خادمه وه چې نوم یې کلاب و، هغې زهر ورکړي وو.

باهر حال هر څه چې وو، خو فاتح میوند لاړ واو دده د وصیت مطابق چې ده ویلي وو: چې ما به خپل وطن او یا وطن نه بزدې بنخ کړئ، نو اولاد خپل پلار پېښور ته راوړو، او د مشهور اولیا شیخ حبیب سره یې خاورو ته وسپارو، او یوه سپینه ګومبته یې په جوړه کړه دغه شعر په ولیکلی شو:

بر مزارِ ما غریبا نی نه چراغ و نه بلبل
نه پري پروانه یابی نه صدائ بلبل

د غازي یولس زامن وو او په درجنو لوټه یې شانه پاتې شوې.

د ۱۸۴۹ء نه تر ۱۸۹۰ء پورې
د کوزې پښتونخوا حالات

پرنګیانو د سیکهانو نیولې افغاني خاوره د پېښور نه تر
ډېره جانو پورې د خپلې عملداري له لاندې راوسته نو پېښور
کوهاټ، هزاره، بنو او ډېره اسماعیل خان دغه ټولې علاقې
یې د پنجاب د حکومت لاندې راوستې، د پنجاب نه اداره کېدې
چې اول سرکښې ایلوورډ ایبټ بروس او نورې پرنګي افسران دلته وو
لاندې پښتنو لکه خټکي دوئ د سیکهو د حکومت سره لاس په ګریوان
وو، همدغسې د پرنګیانو سره یې غزا کاڼې کولې، چونکه پښتانه
هغه درو (PASS) کښې پرانټ وو، چې کومې د هند دروازې
شمارې دلې، نو پرنګي کلکه اراده کړې وه چې دغه درې -
"Passes" به خپل واک کښې ساتي، نو دوئ د پښتنو وطن
په دوو برخو تقسیم کړے ؤ، یعنې میدانې علاقې او غرین یې،
علاقې چې روستو ځینې بندوبستي او قبائلي علاقې جوړې کړاې
شوې، نو پرنګیانو اول سرکښې دا دامان علاقې پخې تر فوجي
او پولیسي کنټرول لاندې راوستې، د پښتنو د غریزو علاقو
خلاف صرف اول سرکښې فوج کشي کولې او بیا به بیرته سمې تر

راکوزیدل، داسې نمونه یو برید دوئ په محسودو باندې ۱۸۶۰ کښې کړې وو، دوئ دتانک ډېره اسماعیل خان او دبنو نه فوجونه په وزیرستان مارچ کړې وو، چې دوئ وزیرستان بالکل، برباد کړے ؤ، مګر محسود او وزیر پدې چیرنه سمیدل، ددوئ پلمه دغه وه چې دغه سزا مونږ ځکه ورکړه چې محسودو په تانک برید کړے ؤ. همدغه شان د یوسفزو پښتنو او پرنګیانو ۱۸۶۳ کښې دامبلې جګړه وشوه چې پرنګیانو ته یې د مغلي جنرال بیریل وخت وریاد کړو، همدغسې دمومندو اپریدو، اورکزو محسودو او وزیرو، خلاف وخت په وخت فوج کشي کېدلې، د ټولو تفصیل مشکل دے خو زه صرف لیست لیکم چې دپرنګي پخوا لیکلے شویدے.

دکتاب نوم فرام دی بلیک مونټینز ټو وزیرستان

From The Balack . Montains
To Wazeristan .

لیکونکی کرنل سی. ایچ وی.

(۱) ۱۸۴۸ کښې په بایزی قبیلې کښې باندې دکرنل براډ بی. بی په کمان کښې حمله وشوه.

(۲) په ۱۸۴۹ کښې بایزي قبیلې باندې دکرنل براد بی. بی په کمان حمله وشوه.

(۳) په ۱۸۵۰ کښې دکوهاټ په اپریدو باندې حمله دبریګیډیر سر سی. کیمپل په کمان کښې وشوه.

۴- ۱۸۵۱ کښې په میرانو باندې دکیپټن جی کاکۍ په کمان کښې وکړه.

۵- په ۱۸۵۱ - ۱۸۵۲ - او ۱۸۵۳ کښې په ممندو باندې د برګیډئر سربی کیمپل په کمان کښې حملې وشوې یعنې هرکال .

۶- په ۱۸۵۳ بیا په راتیزو باندې سر. سی کیمپل په کمان کښې حمله وشوه .

۷- ۱۸۵۲ کښې هم د برګیډئر په اتمان خیلو حمله کړې وه.

۸- په ۱۸۵۲ کښې په وزیرو باندې د برګیډیر او میجرجی تکلس په کمان حمله وشوه .

۹- په ۱۸۵۳ کښې په هندي مجاهدینو باندې دکرنل میکسین په کمان کښې حمله وشوه . نوټ: « دغه خلک پښتونخوا کښې وو »

۱۱- په ۱۸۵۲ کښې په ادم خیلو اپریدو باندې دکرنل باګلو ترکمان حمله وشوه .

۱۲- په ۱۸۵٤ کښې په موهمندو دکرنل کاټن په کمان کښې حمله وشوه .

۱۳- په ۱۸۵۵ کښې په اکا خیلو اپریدو دکیپټن کریجی په کمان کښې حمله وشوه .

۱٤- په ۱۸۵۵ کښې په میرانزو باندې د برګیډئر چمبرلین په کمان کښې حمله وشوه .

۱۵- په ۱۸۵۵ کښې چمبرلین په اورکزو حمله وکړه.

۱٦- بیا په ۱۸۵٦ کښې هم دې پرنګي په توریو باندې حمله وکړه .

۱۷- په ۱۸۵۷ کښې په یوسفزیو باندې میجر واګن په کمان کښې حمله وشوه.

۱۸- په ۱۸۵۹- او ۱۸۶۰ کښې د بریګیډیر چمبرلین تر کمان لاندې په درویش خیلو وزیرو باندې حمله وشوه.

۱۹- په ۱۸۶۳ کښې بیا په هندې مجاهدینو د جنرال کارډوک په کمان کښې حمله وشوه.

۲۰- په ۱۸۶۰ کښې په وزیرو محسودو باندې جنرال چمبرلین ترکمان لاندې حمله وشوه.

۲۱- په ۱۸۶۴ کښې په مهمندو د کرنل میکډانلډ په کمان کښې حمله وشوه.

۲۲- په ۱۸۶۸ کښې بیا په اورکزو د میجر جونز ترکمان لاندې حمله وشوه.

۲۳- په ۱۸۶۸ کښې د تورغار ځائې په پښتنو حمله د جنرال وائلډ په کمان کښې وشوه.

۲۴- په ۱۸۶۹ کښې په اورکزو د کرنل کیمنز ترکمان لاندې حمله وشوه.

۲۵- په ۱۸۷۳ کښې په ناروتو وزیرستان باندې د کرنل کیمنز په کمان کښې حمله وشوه.

۲۶- په ۱۸۷۷ کښې په اپریدو د کرنل ماکګرګر په کمان حمله وشوه.

۲۷- په ۱۸۷۷- او ۱۸۷۸ کښې بیا په اپریدو د جنرال کیزوراس

ترکمان لاندې حمله وشوه.

۲۸- په ۱۸۷۸ کښې په رانړی زو، باندې دکرنل کیمپل ترکمان لاندې حمله وشوه.

۲۹- په ۱۸۷۸ کښې په اتمان خیلو باندې دکیپټن پټي ترکمان لاندې حمله وشوه.

۳۰- ۱۸۷۸ کښې په ذخه خیلو اپریدو باندې دجنرل ماډ ترکمان لاندې حمله وشوه.

۳۱- په ۱۸۷۹ کښې بیا هم دې جنرال په ذخه خیلو اپریدو حمله وکړه.

۳۲- په ۱۸۷۹ کښې په ممندو دکیپټن کریک په کمان کښې حمله وشوه.

۳۳- په ۱۸۸۰ کښې په ممندو دجنرل پورن ترکمان لاندې حمله وشوه.

۳۴- په ۱۸۸۰ کښې په بټنو پښتنو باندې حمله دکرنل رائنلو ترکمان لاندې وشوه.

۳۵- ۱۸۸۰ کښې بیا په درویش خیلو وزیرو باندې دجنرل کارون ترکمان لاندې حمله وشوه.

۳۶- ۱۸۸۱ کښې بیا دې جنرال په محسودو حمله وکړه.

۳۷- په ۱۷۸۲ کښې په بنیرو یوسفزیو باندې دکرنل برون ترکمان لاندې حمله وشوه.

۳۸- په ۱۸۸۸ کښې دتوغار نوم ځای پښتنو باندې دجنرال

ایم . سی ترکمان لاندې حمله وشوه.

۳۹- په ۱۸۹۱ کښې په اورکزو باندې جنرال سرلوکارټ دوه ځله حمله وکړه.

۴۰- په ۱۸۹۵ کښې پرنګي په چترال باندې حمله وکړه د میجر سرارلو ترکمانلاندې.

۴۱- په ۱۸۹۳ کښې بیا په درویش خیلو وزیرو حمله وشوه.

۴۲- په ۱۸۹۷ کښې بیا په درویش خیلو وزیرو باندې د میجر کاربرو ترکمان لاندې حمله وشوه.

۴۳- په ۱۸۹۵ کښې کرنل کیل په چترال حمله وکړه.

۴۴- په ۱۸۹۷ کښې جنرال بیلو په سوات الوزو باندې حمله وکړه.

۴۵- په ۱۸۹۷ کښې په ممندو د جنرال - ای - ایلس ترکمان لاندې حمله وشوه.

۴۶- په ۱۸۹۷ کښې په اتمان خیلو باندې د کرنل ریلو ترکمان لاندې حمله وشوه.

۴۷- په ۱۸۹۷ کښې په الکوزو، ترکمانسرو - دیر - او باجوړ باندې حملې د میجر بیلیو ترکمان لاندې وشوې.

۴۸- په ۱۸۹۷ کښې بیا په اورکزو باندې حمله د جنرال پلټ مین بکز ترکمان لاندې وشوه.

۴۹- په ۱۸۹۷ کښې په اپریدو باندې حمله د جنرال لوکارټ په کمان کښې وشوه.

۵۰- په ۱۸۹۷ کښې په چمکنو باندې حمله د برګیډیر هنګیسلی او کرنل ترکمان لاندې وشوه.

۵۱- په ۱۸۹۹ کښې بیا په چمکنو حمله د کیپټن روس کیپل ترکمان لاندې وشوه.

۵۲- په ۱۹۰۰ کښې په محسودو باندې حمله د جنرال ډینګ په کمان کښې وشوه.

۵۳- ۱۹۰۱ کښې په درویش خیلو وزیرو باندې د میجر ایجرتن تر کمان لاندې حمله وشوه.

۵۴- په ۱۹۰۸ کښې په اپریدو باندې حمله د جنرال ویل کاک تر کمان لاندې وشوه.

بس لیست پدې ځائ ختم وم، که تول ولیکل شي، نو تول کتاب به تش لیست، لیست شي، دغه حال دلاندې پښتنو ؤ، چې، دوئ د پرنګي سړ لاس په ګریوان وو، افغاني امیران کور د ننه دیو بل خلاف لګیاوو، او پرنګي رو رو د پښتنو سیمې نیولې، او ځان یې کابل ته ور نږدې کولو. او د کم scielfic frontier خبره یې چې کوله هغه ته یې حالات جوړول، په کابل کښې یې ایجنټ امیر عبدالرحمن خان ؤ، په بنه وریز ضلعو کښې یې خان بهادر خان صاحبان وو، او قبائیلي علاقو کښې یې ملکان پیدا کړل، پښتانه یې داسې بې اتفاقه کړي وو، چې یو دبل په لاړ نر تلو. همدغسې وخت کښې خدائ د بهرام خان محمدزي په کور کښې چارسدّ

اتمانزو کښې یو ماشوم ۱۸۹۰ کښې پیدا کړو، چې مور او پلار ورباندې عبدالغفار خان نوم کېښود. که چیرې پرتګیانو تر دغه علم وی، چې روسق به دغه هلك زمونږ د زوال سبب کیږي نو دوئ به په ماشوم والی کښې په چامر کړے وو، دے لا درې کلن وُ چې د ده په وطن باندې پرتګی «۱۸۹۳-۱۱-۱۲» کښې د ډیورنډ د کرښې، تر نوم لاندې تش په نوم کرښه تیره شوه.

د دیورنډ کرښه او پښتو مشرانو هلې ځلې

دغه خو تاریخي په ثبوت رسیدلې خبره ده چې په هند باندې دمعلوم تاریخ نه حملې دشمال مغرب دا ړخه شوي دي، چې دغه دهند دخپل جغرافیائي پروتوالي وجه ده، چې سمندر او دهمالیه دغرونو په ذریعه یې قدرتي دفاعي دیوالونه لري، پرتګیان یا په بله معنې دیورپ خلک دسمندر دلارې هند ته راغلي وو، چې پرتګیزیان هالینډیان فرانسویان او پرتګیان وو، په اخر کښې دغه ټول دپرتګیانو دلاسه وار په وار دهند نه بې واکه شول، او دوئ په کامیاب شول، ایسټ انډیا کمپنۍ د ۱۶۰۰ کال نه د هند سره تجارتي رابطه درلوده، نو دوئ سره ډېر وخت وُ، چې دغه ملک خلک او مذهبونه ښه په ارام سره مطالعه کړي، دوئ دمغلو په دور کښې راغلل. دمغلو دزوال سره دوئ په خپل یوریې نزبورانو بر شوي وو، اوس دهند دنیولو په تکل کښې وو، دوئ دتاریخ نه علاوه پخپلو سترګو ولیدل، چې ۱۷۳۹ کښې نادرافشار دخیبر دښې په لاره په مغلي هند حمله وکړه، او دلوټمار نه پس هم په دې لاره یعنې د درې په څټ لاړو، — دوئ احمد شاه دراني بار

باں ولیدو چې دوئ هم په هند یاندې دغه درې استعمال کړې
که څه هم دغه درې دده په هیوادکښې وې، خو دښې -
پښتونخوا اوکوزې پښتونخوا قدرتي لارې اوګډې هم دغه
درې وې، چې بیا دهند پنجاب میدانې علاقې وې، چې څوکۀ به
په خیبر، بولان، کرم اوګومل باندې کامیاب راووتو، نو بل پړاو
به یې لاهور اوورپسې دهند نړۍ دهلۍ ؤ. دوئ ۱۷۵۷ کښې اول
ځل دپاره دهندوستانې نواب سراج الدوله نه د پلاسې په میدان
جګړه وګټله او دخپلې مرضۍ نواب یې مقرر کړو. مګر دغه وخت
دلوئ احمدشاه بابا دعروج دور ؤ، هند کښې یا هندې پښتانړ روهلې
او نور مسلمانان وو، دجنوب دا ړخه پیشوا وو، مرکز کښې مغل
اوجتان وو، پنجاب کښې سیکهان وو، مګر دغه ټولو کښې مضبوط
او خطرناک احمدشاه درانې و، نو پرنګیانو اول سرکښې دغیر
مسلمان او شیعه مسلمان سره ښه سلوک شروع کړ، چونکه دا
ریاست اودهکورنۍ شیعه ګان وو، نو دوئ دپرنګي تر ډېر وخته پورې
ملګري پاتې شول، او هندوان او سیکهان، مهاراشترا مرهټیان وو،
چې څه وخت جنوري ۱۷۶۱ کښې دپانې پت په میدان کښې احمدشاه
بابا مرهټیان ورډبول، نو بنګال کښې پرنګیان ړانګه شول، داځکه
چې ددوئ سره خطره وه چې که احمدشاه بابا په هند کښې مقیم
شي، دغه تازه افغاني وینه ده، نو ددوئ دپاره به مشکله شي.
اوبل دوئ ته دغه پته وګیده، چې احمدشاه بابا مرهټیان دخپل-

هندي پښتنو يعنې روهله وو، په زور وو بول، او دغه ورته پته وه چې د افغانستان او هندي پښتنو ترمنځ د پنجاب سيکهان دي، چې دوئ د مغلو د وخت نه د مسلمانانو او روستو د پښتنو خلاف جنګيدل، او بل د افغانستان ازلي دښمن ايران وُ، چې دوئ هم شيعه کان وو، او پرنګي د شيعه او سني مسلمي تر شعوري ملن - وهله، ولې پدې چې دوئ پخپله يورپ کښې فرقه پرست وو، تازه تازه کتولک فرقو کښې تقسيم شوي وو، همداغه قاره مولـه دوئ هرځائ د ضرورت مطابق استعمالوله، چې کله د هندو او مسلمان په شکل کښې او کله د سني او شيعه په شکل کښې، نو د احمد شاه بابا په وخت کښې دوئ د سيکهانو او مرهټيانو سره رابطه وه، او د لوئ بابا د مرګ نه پس خو دغه د دوئ د سياست مرکز وُ، چې شاه زمان خلاف دوئ ايران او سيکهان ملسول، نو دوئ افغاني شاهان په کور کښې د سيکهانو او ايرانيانو سره اړم کړل، د هند د نيولو ووتل، پرنګيانو اول سر کښې هندي روهله پښتانه د شيعه کانو او وهدي نوابانو په ذريعه کمزوري کړل، او روستو دوئ پخپله پسې راغلل، هندي روهله پښتانه يې بې واکه کړل، او د افغاني او هندي پښتنو رابطه يې د پنجاب پرنګيانو په ذريعه ختمه کړه، دوئ په منځ کښې پريوتل، يعنې سيکهان چې خو وخت يې هندي پښتانه او مرهټيان، مغل، جټان ختم کړل، نو اوس د دوئ سرحد د سيکهو شاهي سره ولګيدو، اوس يې سيکهان د افغانانو

خلاف کرم کړل، او دبلې خوا ایرانیان، چې افغانستان یې سبنه د خدائ په قهر ککړ کړو، دبخت سنګه دمرګ نه پس حالات اوس دې ته جوړ شوي وو، چې دوئ دسیکهشاهي په ځائ په خپله شي نو دوئ ۱۸۴۸-۱۸۴۹ پورې خپله پوله جم جمرود ته رانږدې کړه، اوس دهند دپاره افغانستان خطرناک نه ؤ، بلکې یو بل عیسوي او یورپي قدرت خطرناک ؤ، چې هغه زاړه روس ؤ، چې دهغې هم زړه کېده چې هند خپله خیټه کښې واچوي، او اوس دوچوبې دلارې راروان ؤ، او هغو تاریخي لارواودرو ته رانږدې کېدو چې کومې دمعلوم انساني تاریخ نه، هند باندې دحملې کولو قدرتي لارې وې، چې عبارت دې له: خیبر دره، کرم دره کومل دره، ټوچي دره او بولان دره، تر دې وخته پورې دوئ دروسانو نه مخکښې دې دروتر راغلي وو، او دغه درې ټولې داحمدشاه بابا د قوم په قبضه کښې وې، یعنې پښتانو دلته میښته وو، نو پرنګیانو د دې قوم دتبا کولو او ویشلو منصوبې جوړې کړې. اول سرکښې بې سیکهان رامخ کښې کړل، بیا په خپله افغانستان کښې ۱۸۸۰ کښې داسې سرې قدرت راوستو چې ددوئ د طبعیت سرې ؤ، نو دوئ اوس دیو داسې سرحد په تکل کښې شول، چې دغه افغاني درې ټولې ددوئ ترقبضه راشي. نو د دوئ اولنی پروګرام شنلو شو، چې ټول افغانستان په خیټه کښې واچوي په امو سیند باندې دهند پوله ولګوي، هغه بل یې هم کامیاب نه شو، چې هندوکش پوله کړي.

اباسین دوئ ځکه خپله پوله نه منله چې درې داباسین نزبرې وې، نو دوئ په قدرتي پولې پسې نه تلل، بلکې دفاعي پولې پسې تلل، یعنې د passas درو قبضه د دوئ دویم افغاني پرنګي جنګ دکنډمګ د معاهدې لاندې افغاني امیر یعقوب خان باندې دغړمنلي وو. چې دغه درې به برطانیه ته ورکړکیږي نو دوئ دې ته یو قانوني شکل ورکولو، دپاره دخپل ایجنټ امیرعبدالرحمن خان سره، خبرې اترې شروع کړې، اولاندې پښتانه پرنګي ته یووزرې پاتې شول. پرنګیانو وزیرستان، خیبر،کرمې، سبی ژوب، پشین او نورې پښتنې علاقې وار په وار لاندې کړلې، اوس پرنګیانو دافغاني خاورې په منځ کښې دیو داسې کربښې په هڅه کښې وو، چې دوئ ورته (SCIENTIFIC FRONTIER) وئیلو. اوس پرنګیانو په امیر زور راوړو چې دبرید متعلق خپل موقف جوت کړي، امیرصاحب ډېر هغه دغه وکړل، مګرخپل تخت ورته ډېر ګران وُ، سرې ولګاوه، پرنګیانو هم ددې دپاره امیر کړے وُ نو ۱۸۸۸ کښې امیرصاحب وائسرای هند ته لارډ دفرن ته اطلاع وکړه چې د: (Border) یعنې د برید په باره کښې دې یو پرنګی افسر کابل ته راشي دهند وائسرائ فوراً د هند دخارجه چارو سکرټر ډیورنډ خپل استازی، مقرر کړو، پدې شپو ورځو کښې اسحاق خان افغاني په ترکستان کښې پورته شوے وُ، نو امیرصاحب ورته د ځنډ، خواست وکړو، (ډیورنډ په خپل یادداشت کښې لیکي: «چې د کابل

میشن ختم شو، امیرصاحب دچارو د سمیه و دپاره بلخ ته ځي زما یقین دے چې دے له موبزه ویریدو، چې موبز به له ده ډیر زیات څه وغواړو»، په ۱۸۹۰-۱۸۸۹ کښې پرنګي ژوپ اوکومل لاندې کړل، په شیله باغ اوکوژک غره باندې د ریل ټنل «غار» ایستل شروع کړو، چې د ریل وے د پاړې برابره کړي، پدې باندې د فروري په خلورم تاریخ ۱۸۹۰ کښې امیر صاحب حکومت هند ته سخت پروټیسټ احتجاج وکړو، ورته یې وویل: چې دغه کوژک غره کښې چې کوم غار تاسې کنئ، دا داسې دے لکه زما په کولمو کښې چې سیخ وهئ، مګر دغه ټول د مکر او بې وسۍ احتجاجونه وو، نو ۳ ستمبر ۱۸۹۰ کښې بیا امیر صاحب هند ته ولیکل چې اوس استازی راولیږئ، مګر پرنګ خپل مقصد ته لاند ورسیدلے، نو داسې یې ورته ولیکل:

«چې امیرصاحب دے هند ته راشي، چې دلته ګټور ې خبرې وکړو او ورته یې ولیکل: چې د (MISSION) انګریزانو واسرائ هند غواړي چې تاسو علی جاه سره په ځینو بنیادي خبرو خبرې وکړي، مګر امیرصاحب ډېر چالاک ؤ د هند دګک نه یې معذرت وغوښتو، او ورته یې وویل چې زه دهیواد په چارو کښې سخت بوخت یم، نو زه نشم کولے چې ستاسو د دعوت نه فایده وچته کړم»

په حقیقت کښې امیرصاحب ډاریدلے و چې په هند کښې د پرنګ رابانديې زور وکړي، او ډېرې ناجائزې خبرې به رابانديې ومني.

خو ۲۸ فروري ۱۸۹۱ کښې امیرصاحب بیا وائسرائ هند ته ولیکل: چې کابل ته دې یو استازی راولیږي، دواړو چالاکي کوله او ورپسې امیرصاحب یو بل تجویز وړاندې کړو، چې هغه یعنې امیرصاحب به ډېر خوشحاله شي چې عزتمند وائسرائ د ده سره په کابل اویا جلال اباد کښې ملاقات وکړي، دغه به زما دپاره ډېره دخوشحالۍ موقع وي، مګر پرنګي دغه هم رد کړو، پدې چل ول کښې پرنګي لاندې ډېره دپښتنو علاقه لاندې کړه، دوئ د موکې او پښتو لوبې سره کولې، کله چې پرنګیان پوه شول چې امیرصاحب هند ته نه راځي، نو دوئ ۲۳ جولائ ۱۸۹۲ کښې امیر ته خبر ورکړو، چې دهند له خوا دهند دفوجونو مشرجنرال رابرټ افغانستان ته داستازي په توګه درځي، او تر اکتوبر پورې به جلال اباد ته درورسي، چې کوم لیک جنرال رابرټ له ځان سره وړو، هغه کښې لیکلي وو امیرصاحب تر: چې تاسې د برطانیه په کمک امیرجوړ شوے یئ، او نورې غوړې بې هم ورته لیکلې وې، او که داول دسمبر پورې ستا دلوړې رابرټ دمنلو اطلاع او منظوري رانغله، زه به پوه شم چې تاسې انکاري یاست، زه به رابرټ استازی بیرته واخلم مګر خبره ساده درته کوم، دغه تجویز که منې او که نه، دغه فیصله به موږ ته کوو، چې کومه خاوره دافغانستان ده او کومه نه ده، دغه هغه رابرټ وو، چې ۱۸۷۹ کښې پرافغانستان یرغل کړے ؤ، اوس امیر صاحب ګډوډ شو، نو دې تجویز اوالتیمیټم

نه یې غاړه کښنوده، په دریم اګست یې منظوري ورکړه، مګر پدې وخت کښې هزاره ګان پورته شول او بغاوت یې وکړو، نو امیرصاحب بیا حکومت برطانیه ته دحلالاتو دخرابیدو په وجه د ځنډیدو خواست وکړو.

چې امیرصاحب به لږ هم بدمعاشي کوله نو پرنګیا نوبرورته خپل حیثیت په ګوته کولو، او ایوب خان غازي به یې وریادولو چې هغه هند کښې ناست دے، ته نه ،هغه، ددې سره بردامیر بدمعاشي لاړه. امیرصاحب به بیا چمتو او تیارؤ، سنلرمسن ۲۷- ستمبر ۱۸۹۰ کښې په خپل نوټ کښې لیکي: «دا یادساتل پکار دي چې امیرعبدالرحمن خان اوسنی حیثیت تر ډېره حده پورې زمونږ د لاسه دے، ده یوازې پخپل زور قدرت حاصل نکړو، مونږ په جوته دده معزول تربور محمد یعقوب خان په ځائ داومانه او ښارونه مو ورته دوسلې او خزانې نور ډک کړل، او په لاس مو ورکړل، دا زمونږ کوښښ ؤ چې دپخواني حکومت دپرپلویان مو دافغانستان نه تښتیدلو ته مجبور کړل، نو پدې کښې هیڅ شک نشته چې دافغانستان اوسنی حکمران تر ډېره حده پورې زمونږ په وجه جوړ شو.

نوټ: دغه هغه رابرټ سنلرمن دے، چې چا بلوچستان لانډې کړے ؤ) دبارورې پالیسی غټ پلاوے ؤ).

پدې وخت کښې برطانوي حکومت، حکومت هند ترخبر

ورکړو چې خیر دے، امیر صاحب تر دې ۲۳ جولائ خبرداری یو ځل بیا تکرار شي، خو که بیا یې پلمې یعنې بهانې کولې نو بیا مناسبه کار روانې دې ورسره وشي، نو ۱۲ ستمبر ۱۸۹۲ کښې واسرائ هند خبردارې ورکړو، که بیا دې خبره وځنډوله نو موږ به بغیر د ستاسو د انتظار نه مناسبه کار روانې وکړو، پدې دوران کښې حکومت هند د برطانیه حکومت تر تجویزوړاندې کړو چې برطانیه دې پخپله د پولې یعنې برید فیصله وکړي. او نشر «علان» دې کړي د دې پولې یا کرښې نه چې زموږ غاړې تر کوم افغاني فوج راځي پر زور دې وویستل شي، او کرښه دې داسې وي چې آسمان، چاغي او وزیریستان د افغانستان نه پریکړے شي. هم پدې وخت کښې د امیر صاحب توپې او ټوپکې پرلګي حکومت د کراچۍ په بندرګا باندې وینول، او ایسار یې کړل، اګست کښې ورتر امیر صاحب د توپو او ټوپکو د راخلاصیدو وویل، مګر د هند واکدار واسرائ ورتر داسې جواب ورکړو چې دغه اسلحه به تر هغې پورې تاسو تر درنګړاے شي، تر څو پورې چې د پولې یعنې برید خبره تعین او فیصله شوې نه وي، امیر صاحب ډېر خپه شو مګر څه یې کولے نه شول، نو ۱۱ جنوري ۱۸۹۳ کښې واسرائ هند امیر صاحب تر اطلاع ورکړه چې پر یکم مارچ به جنرال رابرټ د پېښور نه روان شي او د مارچ په نیمایي کښې به کابل تر درورسیږي، او ورتر لیکلی یې وو:

که ۷ فروري ۱۸۹۳ پورې خواب رانغئ نو بیا به استانسے نه دراستول کیږي، دغه یو قسم ورته « Warning » ؤ، پدې شپوورځو کښې د پایئن په نامه یو پرنګي چیف انجینر د (۱۸۸۵) کال نه د امیر صاحب سره ؤ، د دې وارننګ نه پس امیر صاحب انجینر پائین واشرائ هند ته واستوه، ښاغلي پائین د امیر صاحب لیک (خط) د ځان سره واخیست په ۱۲ مارچ ۱۸۹۳ کښې کلکتې ته ورسیدو

دجنرال رابرټ د دې سره میشن منسوخ شو رابرټ هم پدې کال کښې پنشني شو، واپس لندن ته لاړو، او س پرنګیانو د خپل وطن انجینر پائین نه کار واخیستو د ۱۲ مارچ نه تر ۱۲ جون ۱۸۹۳ پورې پائین د حکومت هند سره پرخبرو اترو کښې ؤ، او ده پدې دوران کښې د هند د واشرائ سره او د هند د خارجه چارو سکرټر ښاغلے سر مورتمر دیورنډ سره بیا بیا کتې وکړې، امیر صاحب ته پرنګیانو دانکار په شکل کښې سختې سختې بلاګانې ورښکاره کړې، او د پولې منلو په صورت کښې یې ورته تخت وبخت او نورې کتې ورپه ګوته کړې، ښکاره یې ورته وویل: چې که کرښه منې نو تخت وبخت دې محفوظ دے، او که اخوا دیخوا کوې نو حال به دې د یعقوب خان امیر شیرعلي خان او غازي ایوب خان وي، دیورنډ یوه نیاه نقشه پائین ته ورکړه، چې امیر صاحب ته یې ورښکاره کړه، او س پرنګي پائین د امیر صاحب او واشرائ هند ترمنځ د ګشتي

سفیر کار واخیست، نو دے به کله کابل او کله کلکته کښې ؤ، چونکه دے پرنګې ؤ نو دغیرجانبداری سوال هم نه پیدا کیږي، نو ده امیر صاحب دومره وډارولو چې امیر صاحب یې هرڅه ته تیار کړو، چې دده نوکري امان په ځاے پاتې شي، نو په یو وار یې امیرصاحب د ملک، خرڅولو ته چمتو کړو، د دې سره سمدستي ۲٤ جولائ ۱۸۹۳ کښې واشرائ هند امیرصاحب ته اطلاع ورکړه چې د برطانوي هند یو لوئ افسر به بغیر د فوجي بدرګې نه کابل ته درځي، او تاسو سره به د اموسین په پوله د روس متعلق خبرې کوي، امیرصاحب دغه تجویز سمدستي قبول کړو، واشرائ هند بناغلے سکریټري ډیورنډ ولیږلو، پدې کښې د پرنګیانو چالاکي ده وه چې امیرصاحب تر داموسین پوله د روسانو سره ډېره اهمه کړي او د هند سره کرښه یې بې اهمیته کړه،

لنډه دا چې ډیورنډ ۱۵ ستمبر کښې د پېښور نه کابل تر روان شو او ۱۲ اکتوبر ۱۸۹۳ کښې کابل ته ورسیدو، د امیرصاحب سره یې په اوله غونډه کښې داموسین د پولې خبرې وکړې.

ډیورنډ وایي: «چې په لمړه غونډه کښې امیر ده ته وویل: «ځکه چې تر اول خبره شروع کړه، نو پکار دے چې موږ د دې لمړه فیصله وکړو، خو حقیقت کښې دغه بل سرحداهم دے، دغه زما او د روسانو تر منځ خبره ده، زما

خلک به نه په دې خبر شي، او نه ددې پروا کوي، چې زه په روښان یا شینکان کښې پر مخ ځم او که په شا، خو د دې معلومولو ډېر زیات په فکر کښې دي، چې ستاسو له لوري دوئ پر کوم ځاے ولاړ دے».

په اسانۍ پښتو کښې امیر صاحب ډیورنډ ته وئیلی وو، چې د روسانو سره د کرښې متعلق زما خلک ډېر اندېښمن نه دي مګر د ستاسو د کرښې متعلق ډېر اندیښمن دي، یعنې اصله مسله د ستاسو سره ده، نه د روسانو سره، او پرنګیانو د پښتنو نیولې خاورې ته اهیت نه ورکاوه، او د روس بوئ ډېر غټ کړے و.

ډیورنډ دیوې بلې وجې په بار کښې لیکي: «عبدالرحمن خان وویل: «که تاسې ما مجبور کړئ زه به تاسو سره جنګ وکړم، زه بزدله نه یم، که څه هم زه ددې پر نتیجه خبرم، نو بیا هم زه جنګ وکړم، نو زما شیرعلي خان نه دے هیر».

داسې معلومیږي چې امیر صاحب «زه نه زه To be or not To be پوزشن کښې وُ، یو وخت به غیرت واخیسته خو بیا به تخت ورپاد شو، فیصله یې نه شواے کولے.

بل ځاے امیر صاحب ورته وایي: «چې زه به د خپل ناموس له پاره بغیر د جنګ نه د آزادۍ نه لاس وا نه خلم».

مګر په حقیقت کښې امیر صاحب دومره زړه او جرأت

نه درلوده، لکه امیر شیرعلي خان چې دافغاني غیرت ساتلو دپاره یې خپل تخت پرېښود، خو پرنګي تر یې سرتیټ نه کړ او بل اړخ تر امیر عبدالرحمن تر دافغاني خاورې نه زیات خپل تخت او ارام ګران وو، او د پرنګیانو شومې او خطرناکې منصوبې تر یې سرتیټ کړو، نو د پرنګي استان ې ډیورنډ په موجودګۍ کښې یې ۱۲ نومبر ۱۸۹۳ کښې هغه ټولې علاقې چې پرنګي واړېږوار لاندې کړې وې، دهغې نه یې لاس واخیست، دچاغې نه ترچترال پورې په زرګونه میله مربع پښتون خاوره یې پرنګي ترورکړه او دغه کرښه د ډیورنډ په نوم مشهوره شوه، چې د دې سره د پښتون قوم وجود په دوه برخو تقسیم شو چې ترنن ورځې پورې همدغسې بې حرکته اوشل پروت دے، ۱۲ نومبر ۱۹۹۳ کښې یې ټیک سل کاله پوره شول، دغه کرښه هیڅ بین الاقوامي او حقوقي او انساني جواز نه لري، دغه په زور تیره شوې ده، او هیڅ پښتون نه ده منلې، د دې نه پس لاندې پښتانه د خپل هیواد افغانستان ته وشکول شول، چې دغه سلسله ترنن ورځې پورې روانه ده لوئ بابا مرحوم باچاخان خو خپل ځان جوت کړو او عمل کښې یې د ډیورنډ دکرښې نفې وکړه، خپل دائمي استوګن ځاے بره خوا جلال اباد کښې خوښ کړو، او موږ ته پښتانه بې خبره او بې همته پراته یوو، دوه زنګین زنځیرونه یو په طور خم او بل په سپین بولدک باندې پراتې دي، موږ لرې نه

کړاے شول .

د ډیورنډ لائن متعلق یو جرمني پروفیسر وویل:

(هایډل برګ پوهنتون) « چې الیف کیرو ډېر بدینته پرنګی دے ، ده په خپل کتاب پټهان کښې کوښښ کړے دے ،چې نتش په نوم ډیورنډ کرښې ته اهمیت ورکړي ، دکرښې برې غاړې پښتنو ته افغان وایي ، او دکوزې خوا تر پټهان وایي ، حالانکه ، دوئ لر او بر افغانان دي ، دوئ درې نومونه لري ، چې - هند یان او پرنګیان ورته پټهان وایي ، ایرانیان ، ترکۍ او عرب ورته افغان وایي ، دوئ پخپله ځانونو ته پښتانه وایي ، او ژبه یې هم پدې نامه یادېږي ، دغه دریواړه نومونه دیو نژاد له پاره استعمالیږي » .

زه په خپله ناست وم ، دغه ۱۹۸۰ کال چې روسان افغانستان ته راغلي وو ، او زمونږ مکان او مرکز امیرصاحب د ډیورنډ لائن متعلق داسې لیکي :

« زه داواقیعت یوازې د دې څرګندولو دپاره بیانوم ، چې که څه هم انګلستان دافغانستان یوه ټکړه هم نه غواړي ، خوبیا هم د دې دحاصلولو هیڅ موقع هم له لاسه نه ورکوي ، دی دوست تر روس نه زیات افغانستان لاندې کړو .

د ډیورنډ د کرښې خلاف د عمرا خان او ملا پیوندا محسود هلې ځلې

د پرنګیانو خلاف د ډیورنډ د کرښې نه اول او روستو لاندې پښتنو ډېرې قربانیانې ورکړې دي، داسې د ن،غر او غونډۍ نشته، چې چیرته د پرنګي او یا د خپل وطن د ساتلو په خاطر د پښتون وینه نه وي توئ شوې، او د هرې سیمې پښتانه مشران د خپل اولس په ملاتړ د دې جهاني خاماں خلاف جنګېدلي دي، مګر بیا هم ځینې داسې پښتانه مشران وو، چې دوئ نه صرف په فوجي توګه بلکې دوئ په سیاسي توګه هم د پرنګي خلاف خپله مبارزه کړې ده، پدې مشرانو کښې د هغې وخت جوت کسان ښاغلے عمرا خان او ملا پیوندوو، د عمراخان د میرانې توپې نن هم په مردان کښې پرتې دي چې د هرپښتون د پاره د فخر او ویاړ وړ دی، د دې لوئ پښتون د جهاني سامراج، پرنګي لنډاوتنګ لاس باندې مقابله اوکړه، او ډېرې غزا ګانې یې وکړې، مګر روستو دوئ د پرنګیانو او د دوئ د ایجنټانو په زور دلرې پښتونخوا نه لرې، پښتونخوا « افغانستان »

نه واوښت، نو پرنګی واشرائ دخوشالۍ نه وویل: چې زموږ دښمن عمراخان اوس زموږ دخوږ دوست «امیرعبدالرحمن خان» میله شو، ددې نه معلومیږي چې دلوئ عمراخان خلاف کابل او کلکته سړیوه شوي دي، او دده ملي ارزوګانې یې شنډې کړې عمراخان دوئ په ارام نه پرېښوده، داځکه چې دغه نرپښتون دپیورنلو دکرښې سخت دښمن او مخالف ؤ، دوئ په هیڅ صورت دپښتون ویش نه منلو، هم دغه دده جرم ؤ، دے دپرنګي دفاروړ پالیسۍ دپاره خطرناک ؤ، دامیرعبدالرحمن خان دلالۍ دپاره، نو دوئ دواړه دپیاوړي عمراخان په خلاف سره یو لاس شول، او دغه لوئ پښتون یې په فوجي او سیاسي توګه شل کړو، چې پدیکښې مقامي ملګري پښتانه ملکان او نوابان او سیدان هم شامل وو، د ښا

دښاغلي عمراخان متعلق ډاکتر وارث خان په خپل کتاب «آزادۍ تحریک» کښې داسې لیکي: پاڼه - ۸۹ »

« دسالازو قبیلې مست خیل خاندان عمراخان دجندول ۱۸۹۳ پورې پرنګي خلاف جنګ وکړو.»

دملا پاونده هلې ځلې

هسې خو دپښتنو مشرانو فهرست ډېر اوږد دے، مګرځینو مشرانو دوخت مطابق داسې ملي او اجتماعي کارونه کړي دي چې هغه دکاڼي کرښې جوړې شوې دي، هم په داسې ملي -

مشرانو کښې يو ملا پيونده راځي، دوئ په قوم محسود علي زئ شابي خيل او بناخ يې ستانئ دے، دوئ اندازتاً ۱۸۶۱ خوا شاکښې وزيرستان کښې ن پيزيدلے دے، دا هغه وخت ؤ چې د پرنګيانو او پښتنو به هر وخت جګړې وې د ۱۸۴۹ نه تر ۱۸۷۸ پورې د محسودو او پرنګيانو ترمنځ درې ځله غټې غټې جګړې شوې وې، او د وړو وړو خوځه حساب نه ؤ، دوزيرستان اختيار اول پرنګي د ټانک نواب شاه نواز خان کټي خيل ته سپارلے ؤ، دغه نواب په ۱۸۴۸ - کښې د ملا فتح خان توانر سره پناه ګزين وو، بيا روستو ايلوورد د پرنګي راوستو د ټانک په ګډئ يې ومانر او سرحدي معملات يې هم دده په لاس کښې ورکړل، مګر د محسودو، کنټرول کول

د نواب صاحب دوس خبره نه وه، نو روستو پرنګيانو د محسودو معملات د نواب پر ځاے پخپل لاس کښې واخيستل، او پرنګيانو محسودو کښې خپل ايجنټان ملکان جوړ کړل، او د وطن کمئ کولو او دې بدل کښې به پرنګي ورتر انعامونه ورکول، په شروع کښې سرکاري پرنګي دلالان کمزوري وو، مګر د پرنګي د مضبوطيا سره دوئ کال په کال مضبوط شول، خاصکر هغه وخت دوئ نور مضبوط شول، چې کله ۱۸۸۰ کښې امير عبدالرحمن په افغانستان کښې په قدرت راوستلے شو، ولې پدې چې د محسودو په وطن ميني مشرانو د پاره د پناه ځاے ورک شو،

او کابل کښې هم یو قسم پرنګی غټ ملک ورته په ځای شو، امیر امیرشیرعلي خان په وخت کښې به چې دوئ پرنګیان مړه کړل نو په کابل افغانستان کښې به ورته د عزت او غازیانو په سترګه کتل کیدل، مګر پرنګیانو اوس خپل غټ ملک په افغانستان کښې مقرر کړو، او بله دا چې کابل کښې قزلباشه او پارسي بانه نوکري شاهي په قدرت وه، چې دوئ ټول پښتون دښمن او د پرنګیانو ملګري وو، چې څه وخت دویم افغاني پرنګي جنګ کېدو، نو اوولس کلن ملا پیونده د محسود ولښکر سره د پرنګیانو خلاف کابل ته تلی وُ، او دغه اول ځل وُ، چې دې د قبائیلي او علاقي سیاست په ځاے ملي سیاست وپېژندُ او ورمعلومه شوه چې د پرنګي ولئ تر د پرلرې لرې پورې تلي دي، همدغه وجه ده چې ۱۸۸۰ نه تر ۱۹۱۳ پورې ټول حالات او سیاست د ملا صاحب ګیرچاپیره ګرځي، دوئ د وزیرستان او پښتنو سیاست کښې یو غوره رول لوبولی دے، او یو « Dominance » شخصیت وُ، دغه نفسیاتي مسله ده، چې دښمن څوک په کاږه نوم بولي، نو پوه شه چې دغه لوئ سړئ دے، د هغه وخت لوئ پرنګی او د هند واشرائ لاړ د کرزن به ملا پیونده ته یو لوئ بدمعاش وئیلو « scoundral » دا ځکه چې دې پښتون پرنګیان تر پوزې راوستي وو، تر څو پورې چې ملا صاحب ژوندے.

وو، اولسي او په وطن مين مشران په سرکاري ملکانو باندې زوروروو، د پرنګي ملکانو په اولس کښې هيڅ څه خاص اثر نه وُ، همدغه وجه وه چې دملکانو او پرنګيانو ملاصاحب په ګډه دښمن وُ، دوئ څو څو ځله دهغه د مرګ کوښښ هم کړے دے، مګر کامياب شوي ندي، اوملاصاحب دهغه وخت يواځينی پښتون وُ، چې دفارورډ پاليسی „ Farward Policy „ شعورې مخالف وُ، او تولو خيرو باندې ښه خبر وو، چې ددې سياست ذريعه پرنګي قدم په قدم دپښتون خاوره لاندې کوله، پدې سيمه کښې دمخ په وړاندې سياست غټ پلويان را برتې سندرمن، او دده شاګرد بروس وُ، چې دوئ پدې سيمه کښې دپښتنو خاوره نيوله، ۱۸۹۳ کښې څه وخت چې دافغانستان امير عبدالرحمن دپرنګيانو سره دپښتنو په تقسيم رضا شو. که څه هم دمکر ژړا يې کوله، مګر افغاني مفادانو نه پرې ذاتي مفاد ګران وو، چې ملا صاحب خبر شو چې پرنګيانو دپښتنو پرځينه باندې کرښه تيره کړه، نو دوئ فوراً کاني ګرم وزيرستان کښې چيرتر چې پير روښان مسکين وُ، د درې محسود وجرګه راوغوښتله، فيصله پدې وشوه چې ملا صاحب ترمشرۍ لاندې به يو وفد کابل ته لاړشي، چې دامير صاحب سره وګوري، او صحيح معلومات ترلاسه کړي، چې څه وخت دوئ

کابل ته لاړل، او امیرصاحب سره یې خبرې وکړې، امیرصاحب ورسره څو دد رغو وعدې وکړې، او غلط معلومات یې ورکړل، او دوئ واپس وزیرستان ته راغلل، چې پرنګیان خبر شول، نو د امیرصاحب غوږونه یې تاؤ کړل، امیر دخپلې وعدې «لوظ» نه په څټ شو، تش نصیحتونه یې شروع کړل، او د مکرجنې بنځې غوندې یې ځان مرور کړو، داځکه چې په حقیقت کښې دے خرڅ شوے ؤ، چونکه ملا صاحب خو ضد سامراج ؤ، نو د امیرصاحب نه بغیر یې په ځان او پرقوم باندې توکل وکړو، او د پرنګي خلاف یې جدوجهد شروع کړو.

د دې ره کمشنر بناغلے بروس ۱۸۹۰ کښې دګو ملې درې دوره وکړه، او په وانړه «WANA» باندې یې دائره تاوه کړه نو ملا صاحب پرنګے خبردار کړو، چې که چیرې دوئ وزیرستان نیسي نو په هر یوګز باندې به پرنګے مرپرې وت وي.

د پرنګیانو خیال ؤ، چې افغانستان امیر زموږ دلاس، بوټائي دے، نو د ملا صاحب د تښتې او پناه ځائ نه شته. ملا صاحب تشې دهرکې اوغورې کوي، حقیقت کښې هیڅ هم نه شي کولے، مګر بل اړخ ته د ملا صاحب توکل په خدا ئ او خپل قوم باندې ؤ، چې څه وخت پرنګیانو او د امیرافسرانو دکرښې «Demarcation» دپاره دوزیرستان سیمې ته راتلل، نو ملا صاحب دواړو تر سخت الټی میټم ورکړو،

او پرنګیانو تر یې سخت « WARNING » ورکړو، مګر دېره
جاتو کمشنر بروس دومره مغرور ؤ، چې د ملا صاحب
لیک ته یې ځواب قدر هم ورنکړو، بناغلی بروس دوزیرستان
د برخې د پیورنلو دتش په نوم کرښې مشر ؤ، بروس کمیشنر
چرمین ؤ، دوئ دفوج په زور وانړا ته راغلل، ملا صاحب
بار بار دوئ خبرول، چې ددې به سخت ردِعمل وي، مګر
پرنګیانو دغه هرڅه نظر انداز کړل، او غوږ یې نه پرکړو،
په دریم دنومبر ۱۸۹٤ کښې د ملا صاحب، په هدایت د جګړ محسود
عبدالرحمن خیل مختیار او مهتار محسود شمن خیل او زری بند
وزیر ترکمان لاندې ۲۰۰۰ دوه زره محسودو اوڅه وزیرو
په پرنګي سحروختي برید وکړو تر سحره پورې لاس پرلاس
جنګ وشو، چې د پرنګي فوج یې تار په تار کړو، دېر
محسود او وزیر ځوانان شهیدان شول، مختیار خان او مهتار خان
دواړه ورونه وو، دوئ ځانونو پورې کفن کنډلے ؤ، د
شهادت په نیت راغلي وو، او تر هغې پورې جنګېدل چې
شهیدان شول، دوئ دواړو به دغه چیغه ترکایځه پورې
وهله « چې محسودو په تورو چې پرنګ درنه خلاص نه
شي » دغه خبره ساپرنانا محسودو کوله چې ده په خپله
یې پکښې حصه اخستې وه، «Safar Maresi Mahsud»
او بله یې دغه خبره کوله، چې څه وخت ملا صاحب دحملې حکم

وں کړو نو ډېر داسې کمزورې محسود ښکاره شول، چې دوئ ځانونه دجګړې نه په دې بچ کړل، چې دوئ ملا صاحب آسپه تېنګه وینوله، چې ته مشر یې دجګړې منیځ ته مه ځه خو په حقیقت کښې دوئ ددې په ذریعه ځانونه دجګړې نه بچ کول، او بل سړے یې یادوه چې هغه د ملا صاحب دآسپې لم نیولے ؤ، یعنې لکۍ یې نیولې وه، دغه سفرنانا ما په خپله لیدلې وو، چې ډېر زوړ ؤ، مګر دغه خبرې ما ته پلار کولې چې سفرنانا به دغه خبرې کولې.»

دوانړا دجګړې متعلق پرنګیان پخپله دا سې لیکي:

Simultaneously Government decided on the permanent occupation of Wana, and for Wana Mr. Bruce started in October 1894 with a strong escort of troops. On reaching Karab Kot he received letters from Mulla Powinda pressing for the release of the Abdullai and Abdur Rahman Khel prisoners, and insisting that troops should not be located at Wana. Mr. Bruce sent a verbal reply declining to communicate with the Mulla except through the tribal maliks. What followed is a matter of common knowledge. A lashkar of about 2,000 Mahsuds attacked and a party of their swordsmen penetrated the camp at Wana some hours before dawn on the 3rd November, and was with difficulty ejected after severe fighting. The terms demanded by Government in reparation for this unprovoked attack were:

دد ې نه اندازه لګي، چې پرنګیان یې پخپله مني، چې دغه څومره سخته جګړه وه، هندوستاني عسکر و کښې دغه ځائ دقتل کړ په نوم مشهور شوے و.

پرنګیانو کوښښ کولو چې وزیرستان لاندې اوکالونو ځینې نړې جوړه کړي، مګر د ملا صاحب په مشرۍ کښې محسودو او وزیرو دپرنګي دغه ټولې منصوبې دخاورو سره سمې کړې

خپله پرنګیان دمحسودو په هکله لیکي:

The Mahsud Colonization Scheme continued to be failure and, by the standard of those times, a costly failure.

ترجمه: دمحسودو دلاندې کولو تر اوسه پورې ناکام دي او دهغې وخت مطابق ډېر لوئ ګران ناکامتوب وُ، یعنې اقتصادي نقطه نظره. ملا صاحب ډېر خبر سړے وُ، او تر دې حده خبرُ چې بالکان کښې د ترکو مسلمانانو خلاف یورپي استعماري قوتونو چې کومې منصوبې جوړې کړې وې، ملا صاحب دهغوئ پرېدل کښې د پرنګي خلاف په پښتو نخوا کښې ورته هلې ګولې جوړې کړې چې پرنګیان ورته "عام اوسستې پا خون وائي"

چې څه وخت وانه کښې پرنګي وهل وخوړل، او ملا صاحب د کرښې تیرولو ته نه پرېښودل او ورسره غزګانې یې کولې مګر د ملا صاحب د زور او طاقت یو حدو، پاس کابل کښې منافق امیر ناست وُ، او لاندې هند کښې ورته پرنګے ناست وُ، پرنګیانو دواړه دجګړې نه پس په امیر صاحب باندې زور راوړو چې محسودو او خاصکر ملا ته پناه ورنکړي. ددې نه پس حکومت هند محسودو ته دغه شرطونه وړاندې کړل:

1) The surrender as hostages of the eighteen leaders.
2) The expulsion of Mulla Powinda until demarcation was completed.
3) Restoration of all rifles, horses and money taken, or reparation at the rate of Rs. 500 for every missing rifle or horse.

ترجمه: (۱) هغه ټول اتلس سرغندی یعنې لیډران موږ ته
د یرغمل په طور راکړئ.
(۲) ملا پونده ترهغې پورې له وطن نه وباسئ ترڅو کرښه
« ډیورنډ لاین » نه وي مکمل شوې.
۳- ټول هغه ټوپکې او آسونه او روپۍ چې تاسو وړې
دي بیرته یې راکړئ. یا د هر ورک شوي اس او ټوپک په
ځای ۵۰۰ روپۍ تاوان ورکړي.
د دوئ ۱۸- اتلس سرغندو نه مقصد هغه لیډران وو، چې
دوئ په وانزه کښې حمله کړې وه.
د دې شرطو په اوریدلو او منلو نه محسود وانکار وکړو، بیا
پرنګې لیکې:

Consequently on the 18th December 1894 Mahsud country was, for the third time, invaded by the forces of the British Government.

ترجمه: اخرکال په ۱۸ اتلسم د دسمبر ۱۸۹٤ کښې د برطانیه

فوجي قوت د محسودو په وطن باندې دريم ځل يرغل وکړو.

په وزيرستان باندې د څو اړخو حمله وشوه، ځينې فوج د بنو د غاړې نه حمله اوړ شو، بل فوج دډيرا اسماعيل خان، ټانک، او دجنډولے د غاړې نه، دريم فوج دبلوچستان پوزې (فوټ سنديمن) او دوانړه دغاړې راغئ.

ملا صاحب دپرنګي مقابله شروع کړه، مګر قبائيلي لښکر به څو مقابله کوله، دوئ امير صاحب ته يوه جرګه ورولېږله د مدد دغوښتلو دپاره، چې ته داسلام بادشاه يې زموږ مدد وکړه، امير صاحب خان مرور کړے وُ، او ورته يې وويل تاسې زما نه منئ او بدمعاشي کوئ نو اوس يې خپله پالئ، امير خو د پرنګي دوبرې هيڅ نه شو کولے. نو ملا صاحب به کله يو ځای کله بل ځای ګوريلايي حملې کولے. چې محسود دافغانستان نه ناامېده شول، نو پرنګي سره روغې ته تيار شول، دا ځکه چې پرنګي پرې بندش لګولے و، هيڅ خوراکي موادې وزيرستان ته نه پرېښودل نو د خلکو بالېچ وزيځشوي وو، نو خلک تنګ شول، نو د ناکامه دوئ ورته سر ولګاوه، د دې متعلق پرنګے ليکي:

This was the complete act of submission that the Mahsud have ever done, before or since: it was accompanied by complete acceptance of the government terms.

ترجمه: دغه د محسودو مکمل تسلیمدل وو، چې دوئ دې نه نه پخوا داسې کړي وو، او نن د دې نه وروستو یې داسې وکړل، دغه کار دوئ د حکومت د خوښې او مرضۍ لاندې وکړو، د حکومت ټول شرطونه یې ومنل.»

مګر دغه کار پرنګیانو د خپلو مکارو تحصیلدارانو، او ملکانو په ذریعه کړے وُ، چې دوئ خلکو کښې مایوسي خوره کړې وه، چې ملا صاحب صرف او صرف وزیرستان نه تربګړۍ راولي، او صاحبان دومره زور ور دي چې د کابل بادشاه د دوئ د اجازې نه بغیر متیازې هم نه شي کولے. ملا صاحب داوړو کښې وُ، ۱۸۹۵ کښې بیا په محسودو کښې راخرګند شو، او د دری محسودو جرګه یې په کاڼي ګرم کښې وکړه او پرنګي او افغاني امیرته یې سختې غوږې وکړې او امیر صاحب ته یې بیا وفد ولیږلو، او د محسودو د زړو-غټولو د پاره یې نفسیاتي جنګ، د پرنګیانو سره شروع کړو ملا صاحب ته خو پته وه چې امیر افغانستان خوهیڅ کک نه کوي، مګر خلکو ته یې ویلې ما امیر صاحب سره پټې خبرې کړیدې، پدې نفسیاتي پروپیګنډه باندې خلک بیر ته تکړه او ګرم شول، او ملا صاحب شپګانو وړې وړې ګورټلائې حملې بیا په پرنګیانو شروع کړې، چې دې کښې به پرنګیان وژل کیدل،

یو ځل بیا ملا صاحب پدې برشو، چې اولس، کښې اعتبار پیدا کړي، او د سرکار ي ملکانو هغه پروپیګنډ ې بې اثره کړې چې دوئ به کولې، او بل چل پرنګیا نو دغه وکړو، چې د وزیرستان سره ګډ لې دافغاني خوست د علاقې حاکم چې محمد اکبرخان غاسي نومیده پرنګیانو د ملا صاحب خلاف پیرشوت واخیسته، نو پرنګیانو به دغه بې ضمیره او دلال افغان حاکم د ملا صاحب خلاف لمساوه، دې بدبخت او خرخ شوے حاکم به ملا صاحب ته د پرنګي ایجنټ ویلو، چې په حقیقت کښې دے په خپله وُ، نو چې ملا صاحب سره پښتنو قبائیلو کوم امداد کولو، هغه به یې خرابولو، یعنې د خوست د علاقې، حُدرانو مشکل، تانړی، او داسې نور قبائیل وو، چې د ملا صاحب ملګرتیا یې کوله، او پرنګي خلاف غزاګانو کښې شامل یدل، نو دے خوستي افغان حاکم اکبرخان غاسي به دغه پښتانه حُنې بدظن کول. له دې نه معلومیږي چې، لندن، کابل او کلکته د رې واړو سره لاس یو کړے وُ، مګر ملا صاحب دلوئ همت خاوند وُ، دوئ تر ۱۹۱۳ پورې د پرنګي مقابله وکړه، ترڅو پورې چې دوئ او د دوئ فوجي جنرال مان جي محسود و عبدالرحمان خیل ژوندے وو، نو د ملا صاحب فوجي لاس مضبوط وُ، مان جي محسود به هر وخت په پرنګیانو حملې کولې، دوئ د پرځینې پرعذاب وو، نو دوئ دیوه جنګ په دوران کښې شهید شو، او پرنګیا ن.

دومره پر خوشحاله وو، چې دوئ دده په مرګ پریس نوټ،
جاري کړو، پرنګ لیکي:

At Tiarza, however, fortune was on the side of the Militia. They gave rather better than they got, killing three and wounding two of their assailants, and amongst the slain was Mianji himself, whose death was thought worthy of a press communiqué by the Government of India.

ترجمه:

دتیارزي په مقام دے ځل قسمت دملشي په اړخ ؤ، دے
ځل دوئ ډېر څه حاصل کړل، نسبت چې دوئ یې دومره حقدار
وو، دے ځل په حمله کونکو کښې مانجي پخپله مړ شوے ؤ، او
ټول یې درې مړه او دوه زخمیان وو، دده مرګ دومره اهم ؤ
چې حکومت هند یو سرکاري اعلان ددوئ په مرګ خور کړو،
ددې نه پته لګي چې مانجي څه ورکو تې پښتون نه ؤ، هدغه
پرنګی یو بل ځائے لیکي: Mianji whom if he had known

Mianji whom, he had known, if more of Islamic History, he might have dubbed Saif-ul Haq, like a second Khalid.

ترجمه :

مان جي که چيري د اسلامي تاريخ نه ډېر خبروے نو ده ضرور ځان تر سيف الحق او دوم خالد بن وليد ويلي وو .

تر څو پورې چې ملا صاحب فوجي لاس مان جي ژوندے ؤ ، دوئ پرنګي دو زيرستان نه لرې ساتلي وو ، مګر دمان جي د شهادت نه وروسته ملا صاحب په فوجي توګه خراب شو ، د بنمنان يې ورځ په ورځ مضبوطيدل ، کابل ، لندن ، کلکته او خپل وزيرستان دننه ملکان دغه ټول پسې وو ، اخيرے وختو کښې پرنګيانو د ده د خپلوانو او عزيزانو تر منځ بدي جوړې کړې ، د ده زيا تر انرجي په دې روغو جوړو خرچه شوه ، اخير دغه لوئ انسان او پښتون د پرنګي او افغاني منافيقو اميرانو د بنمن ۲ نومبر ۱۹۱۳ کښې وفات شو ، د ده په مرګ لندن ، کلکته ، ډهلي او کابل د ارام ساه واخيسته ، يو کال پس ۱۹۱٤ کښې اول نړيوال جنګ جوړ شو ، که چيرې ملا صاحب ژوندے وے نو ده به يو لوئ کردار ادا کړے وے . د ډېر وخلکو شک دے چې دوئ ته زهر ورکړ شوي دي ، چې پدې کښې د پرنګي سامراج لوئ ايجنټ لاس ؤ ، "قلي خان ختک لاس ؤ" . د ملا صاحب مشر زوئ پکښې شامل ؤ ، د پلار د مرګ سره پټ تانګ ته وتښتيدو او د پرنګي سره پناه ګرين شو ، د ملا صاحب کشر زوئ شهزاده فضل دين ته د مشر کګرې پګړۍ ورپرسره شوه ، چې دغه وخت

دشهزاده عمر خوارلس کاله ؤ، د ملا صاحب لیکلی شوے وصیت
د دوئ په جنازه کښې محسوداو وزیرو ته واورلے شو.
د دې متعلق هم دغه پرتګې لیکلي ؛

This worthy read out to the assembled Mahsuds the farewell letter to this countrymen in which Mulla Powinda gave them some excellent advice. He exhorted them to hold their nationality intact and allow neither the British Government nor the Amir to encroach upon their country, to compose their internal differences and to give up raiding, so as to deprive Government of a convenient excuse for occupying Mahsud's country.

دغه اهم لیک را غونډ شوي، محسودو ته واورلے شو
چې ملا پوینده دخپل وطن خلکو ته ډېرې ګټورې نصیحتونه
کړي وو، ده ورته ویلي وو چې تاسو په خپل قوم کښې اتفاق
ساتئ، هیڅ ې برطانیه حکومت یا امیر ته اجازت مه ورکوئ

چې دوئ ستاسو وطن لاندې کړي، تاسو دخپلو مینځو کښې اختلافات او بې اتفاقي ختمې کړئ، دا کې ماکې مه کوئ، ددې سره به تاسو دحکومت نه هغه پلمه یا بهانه لرې کړئ چې دوئ ستاسو دوطن دنیولو په تکل کښې دي

ځائې یې: د دهلي ارشیف نمبر فارن دیپارتمنټ سکشن ایف پرو سیډنګ ۶۸-۷۹-۷۰ کښې محفوظ دے۔

یوبل ځائ لیکي :

Mulla Powinda's character cannot be judged by any standards current amongst Englishmen. By these he must be set down quite simply in Lord Curzon's phrase as a "first class scoundrel". But by those who have made allowances for the environment in which he lived, he cannot be denied some tribute of admiration as a determined and astute, though not altogether single-minded, patriot and champion of his tribe's independence. All officers who ever actually met him will agree that his forceful character, striking appearances and persuasive eloquence made a deep impression on those with whom he came into personal contact. A man who, without any inherited advantages and without education, could make so large an instalment of frontier history in effect but a series of chapters in his own biography, can have been no little man, and given more malleable metal to work upon than Mahsuds have ever afforded and a more fortunate setting in time and place, he might well have ranked with many who are accounted great men.

ترجمه : موږ ته ملا صاحب پوښنده په موجوده انګریزي معیار باندې نشو ناپ کولے ، که چیرې په ډاګ ناپ کوو، نو ساده خبره ده ، هغه د لارډ کرزن دوینا مطابق اول نمبر بد معاش دے. مګر په حقیقت کښې هغه افسران چې دوئ ورسره طماس کښې راغلي یا ملګر شوي وی ، دوئ ټول پدې ـ

اتفاق لري چې د ده جوت اخلاق ځلند او با اثره ښکاره کیدل او شخصیت یې په دوئ باندې بغیر اثر نه دې پاتې شوې، دوئ ټول ځینې متاثره وو، چې څوک په رښتیا ورسره نږدې راغلي دي.

یوسړئ چې میراثي یعنې خاندانې ملاتړ نه لري یا په بله معنیٰ په خپل سړئ شروع کوي، دچا ورسره امداد نه وي، او تعلیم هم نه لري، او بیا هم د سرحد په تاریخ کښې د خپل ټوند متعلق دومره اوږ ده بابونه جوړ کړي دا د څرګندوکوټې سړي کار نه دے، او په محسودو کښې داسې خلک ډېرکم پیدا شوي دي، او د دې نه مخکښې یې مثال نشته، خوش قسمتي، نه دے په سم وخت او سم ځائ راڅرګند شوے ؤ، او د دې حق لري چې د لویو خلکو په قطار کښې حساب شي.»

د ملا صاحب مرګ د پښتنو د پاره او خاصکر د محسودو او وزیرو د پاره لوی زیان ؤ. مګر د دوئ ځوان ځوئ، شهزاده فضل دین هم څه د پلا نه کم نه ؤ، دوئ هم د پرنګیانو سره ډېر جنګونه کړیدي، د واشرائ هند د یو فقیر نه د هغه د قهر اندازه لګي:

The Viceroy in a public speech delivered on the 24th March announced that "the cup of their (the Mahsud's) misdeeds was already overflowing and the

day of retribution only delayed till our pre-occupations elsewhere should be relieved.

ترجمه: وائسرائ هند په ۲۴ مارچ ۱۹۱۶ کښې يو عام خطاب کښې وويل:

"چې د محسودو د شيطانت پياله د ښکښې نه لږکه ده، دغاړې د مورګې پورې لږکه ده، ځينې تويږي، دد وئ، غوښتونه به موږ تاوکړو، خو که موږ ته چې کم ځائ ښکيل شوي يو، چې را خلاص شو - د دې مقصد اول جنګ عظيم ؤ.

نو دوئ چې را خلاص شول، نو رښتيا هم چې په وزيرستان باندې يې اورجوړ کړو، دو مره سختې جګړې وشوې چې دلته بيان کول ځائ نه لري نو صرف يو مثال يې ضروري ګڼم چې پرنګې يې پخپله ليکي:

The advance was opposed by a strong contingent of Wana Wazirs as well as by the Mahsuds in full force, and it was not until the 16th February 1920 that Dwa Toi was reached and then only after such fighting as had never before been seen on the frontier.

فوجي يش قدمي په پوره زور سره دوانړه وزيرو او محسودو ايسار ه کړه ، او ايله په ۱۶ فروري ۱۹۲۰ کښې - دوانوئ تر ورسيدو ، او دومره سخته جګړه وه چې د سرحد په تاريخ کښې چيرته مخکښې نروه ليدلې شوې .»
دتفصيل دپاره دې پټهان اليف کيرو وګوري »

دغه کښې وزير محسود ځکه دومره سخت جنګيدل چې پاس افغانستان کښې انقلابي او په وطن او په قوم مين غازي امان الله خان دخپل بې خونده نيکه او عياش پلار په ځائ په قدرت راغلے وُ ، چې دمحسودو او وزيرو سره يې هرقسم امداد کوو ،

بل ډاکترخان صاحب چونکه ډاکتر وُ ، دپرنګيانو فوج کښې وُ ، چې پرنګيانو دده تبديلي وزيرستان ته وکړه ، چې د دپرنګي عسکرو علاج به کوي ، نو دې نزپښتون انکار وکړو او ورتريې وويل : چې زه پښتون يم ، زه نشم ليدلے چې زما د لاسه روغ سپاهي دې په محسودو او وزيرو پښتنو ډزې کوي ، نو دسرکاري نوکرۍ نه يې استعفا ورکړه .

دپونده صاحب په مرګ باندې يو نامعلوم محسود شاعر د دغه مصره وئيلې ده : چې مې په ماروبي بوندے درے مسيد په ګرځي لکه غلاوُځه په بوبرۍ بوندے

د باچا خان زېږېدنه ۱۸۹۰ء
ماشومتوب او تعلیم

باچا خان پخپله لیکي: «زه په هشنغر په اتمانزو نو مې، کلي کښې په کال، ۱۸۹۰ کښې پیدا شوے یم هغه وخت د پیدایش دینټې دلیکلو رواج نه وو، او نه څوک په لیک او لوست پوهیدل زما د پیدا کېدو نیټه چا لیکلې نه وه، خو داچې زه وایم چې په کال ۱۸۹۰ کښې پیدا شوے یم، د دې نه وایم چې خدای دې زما مور وبخښي ما تر ویل چې: «ستا ورور ډاکټر خان صاحب واده چې ؤ نو ته دیوولسو کالو وې» او د ډاکټر صاحب واده په دسمبر ۱۹۰۱ کښې شوے دے، نو ځکه زه وایم چې زه په ۱۸۹۰ کښې پیدا شوے یم»

باچا خان خو ۱۸۹۰ کښې پیدا شوے دے، زه ۱۹۴۹ کښې پیدا شوے یم، مګر زما هم میاشت او ورځ ندي معلوم «لنډمئ ۱۹۴۹» دغه لنډمئ په سکول کښې ماسټر په تکل لیکلي دي، صرف زما دومره پته وه چې ۱۹۴۹ کښې زېږېدلے یم. د باچا خان تاریخ پدې رښتیا دے، چې پښتنو میندو تر کال او څوکلن

معلوم وي، او بل دوئ ډېر روڼه اوخويندې هم نه وو، چې موږ يې پکښې کړه وړه شوې وايي، او بل باچا خان پرسخت په کران وُ، نو دغه سوال نه پيداکيږي، چې ددې نيا زبين زوئ سترواله ځينې هيرشوے وي. ټولو بې علمه قومونو کښې دغه حال دے، چې څوک دخپل اولاد تاريخ نه ليکي اوخرنګې يې وليکي، چې دوئ په ليک لوست نه پوهيږي، خو دنشت برابر دي او خاصکر پښتنو کښې. اول خو قبائيلي ژوند دے، چې دزراعت او مال ځناورو سره موکار دے، نو دزراعت او شپنې له پاره به دسبق ضرورت نه وُ، نوځکه پښتنو تعليم نه ترنوچو نه ډه کړې، تعليم يې ملا صاحبا نو پريښې وُ، يورپ کښې هم صرف شاهي کورنيو کښې تاريخونه شروع شوي وو او شرق کښې هم شاهي کورنيو، درباريانو او بنارکښې تعليم يافته خلکو به داکار کولو، مګر روستو دتعليم عام کيدو سره اود سرکاري نوکريو دډېروالي په وجه نيټه ضروري شوه، او بل فوجي او سول نوکريو کښې دبهرتي کيدو نه ترپنشن پورې دپيدايش تاريخ ضروري وُ، همدغسې په سکول کښې، پښتنو کښې نه دربار وُ او نه بيو راکرسي وه، لښکرکشي وې، چې ورته دمټ ضرورت وُ، دتعليم نه وُ، همدغه وجه ده چې مشرق په مټ باندې ډېره بهروسه کوله او يورپ په دماغ باندې، اخير موږ ته وبايلله.

باچا خان پخپله لیکي: «زه د مور و پلار کشر زوی وم، د هغو نه مشره زموږ خور وه، ورپسې عبدالجبار خان «ډاکټر صاحب» ؤ بیا مې بله خور وه، بیا زه وم».

د ۱۸۹۰ مطابق د باچا خان مور او پلار د پېر روشن فکره خلک وو، چې د دوئ صرف په څلورو بچو باندې صبر کړے دے، کنې هغه وخت نه خو پرېږده، اوس هم پښتانه چې دیوې ښځې نه آته یا لس ماشومان پیدا نه کړي، نو زړه یې نه صبر بېږي، او ځان ورته میرات، میرات ښکاري، دوئ په خاندانې منصوبه بندۍ باندې د یورپیانو او امریکیانو نه سل کاله مخکښې عمل کړے وو. باچا خان د مور د پېر نیازبین زوی ؤ، او مور به ده ته ډېره توجه کوله، او د ده هر فرمایش یې منلو، د دې سره باچا خان یو ضدي ماشوم جوړ شو، خپله خبره به یې هار ومړ ځائ ته رسوله، چې د غه نمونه عادتونه پدے کښې پاتې شول، دا ځکه چې ده یو ځل د خدمت اراده وکړه، نو مرګ پورې په ټینګ ولاړ و، ماشومواني کښې یې مور او پلار په عذاب کړي وو، او چې ځوان شو هغه لوبه یې د پرنګیانو سره شروع کړه د ده د ماشومواني نه د غه عادت جوړ شوے ؤ، چې دے د دې د مینې او توجو مرکز وي، همدغه نمونه کار ته یې دوام ورکړو، چې وروسته د مور و پلار د وفات نه پس دے د ټولې پښتونخوا او هند او د نړۍ د توجو مرکز شو، نو ځکه

ده خپل‌شکین پدې کښې لیدو چې خدمت بغیر دمزده وکړي، ده د هیڅ مادي شمې لاندې خدمت ندے کړے.

د باچا خان په وخت کښې مدرسې چیرته وې خو د دوئ والد صاحب ډېر رسیدلے انسان ؤ، چې خپل اولاد باندې یې د انګریزي سبق وویلو. نه یوازې په باچا خان، بلکې د ده نه مخکښې ډاکټر خان صاحب ؤ، په هغه زمانه کښې تعلیم چاڅه کولو او خاصکر انګریزي تعلیم خلاف خو ډېر نفرت موجود ؤ، او بیا په عیسوي سکولونو پسې خو دا خبرې وې چې څوک پکښې داخل شي، نو د دوئ مذهب ته واوړي، د غه خبرې نن سبا مونږ ته ګپ ښکاري، خو سل کاله پخوا د غه فیصله، کول چې په اولاد باندې عیسوي سکول کښې سبق ویل، د ټولو خبره نه ده، او بل د باچا خان والد صاحب خان ؤ، نو ځکه مولوي صاحبان په ښکاره غلي وو، چې دوئ سره د خپل جیب غم ؤ، ښاغلی بهرام خان پخپله سخي سړے ؤ، نو مولوئ صاحبانو د غه جرأت نه شو کولے، چې خپل اقتصادي مفادات په خطر کښې واچوي، ګڼې که د غریب سړی زوئ وے، نو خدائ خبر چې مولوي صاحبانو به څه غویمنډ جوړ کړے ؤ، باچا خان پخپله «ځما ژوند او جدوجهد» نوکتاب کښې په تفصیل سره لیکلې دي:

«چې موږ او پلار په سبق کښې ټولم نو د دوئ ډېر خوشحاله

وو، شیرینې یې وویشله، بیا لیکې چې دکلي سکول نه ډاکټرخان صاحب پېښور ته دځان سره بوتلم، هلته باچا خان دغریبانانو سره ګرځیدو، دده په زړه کښې دماشومالي نه نفرت ته ؤ، چې دغه عادت تر مرګه پورې ورسره ؤ، نوځکه وروسته دده خدمت په انساني بنیاد وشو ؤ، دده په ځکښې انسان انسان ؤ، دے فرقه پرست نه ؤ، چې ډاکټرخان صاحب په یوولسم جماعت کښې ؤ نو باچا خان په شپږم جماعت کښې و، د نورو ماشومانو غوندې دباچا خان هم دلوبو سره شوق ؤ، خو دیورپې لوبې نه زیات دده مشرقي لوبه لمبا خوږه وه، دے لیکي: چې مور به سین ته نه پرېښودم، خو په غلا به لاړم دوه ځله هسې خدائ بچ کړم ګنې سین به وړے وم، خو- خدائ دباچا خان نه کار اخیسته، نو ځکه به څوک پیداشو او دے به یې بچ کړو، دکور دکندو نه یې دانې اخیستې په آټو کښې یې ځان ته په سامان اخیسته، مور به تش، دهرکې په کولې، نورڅه یې نه ورته ویل.

چې لوئ شه، بیا یې د ملکه وکټور یا کندې ته ملاوتړله، مور خو به دړکې په کولې، مګر ملکې وکټوریا دخپل کندې هندې ګلکه حفاظت کړلو، پرګلیانو خپل کندې ته څوک په آسانۍ نه پرېښوده، همدغه وجه وه چې باچا خان څوځله جیل ته لاړو، مګر اخر یې دوئ له کندې نه وشړل.

باچا خان ترلسم پورې سبق وئیلے دے، روسته څو څو ځله کوښښ وکړو، چې کمپل پور، قائدیان علي ګړکښې سبق ته دوام ورکړي، هاں تر دې چې لندن ته دتګ اراده یې وکړه، مګر دخپلې مور فیصله ته یې غاړه کېښوه، پاتې شو، که چیرې لندن ته تلے وے، نوانجیښ شوے به وُ، نو د برطانیه خدمت به یې کولو، اونن به یې نوم ونشان نه وُ، مګر خدائ پاک بابا دیو اهم میشن دپاره پیدا کړے وُ، چې هغه دخدائ دمخلوق خدمت وُ.

دهغې وخت سیاسي، اقتصادي او معاشرتي حالات

باچا خان لا درې کلن وُ چې دده هیواد اوپه قوم باندې دتش په نوم ډیورنډ کرښه تیره شوه، پښتون هیواد او اولس په دوو برخو پرنګیانو وویشه، لاندې پښتونخوا کښې پرنګی پخپله وُ، په کابل کښې یې خپل ایجنټ امیر عبدالرحمن کښېنوو، (۱۲ نومبر ۱۸۹۳ د ډیورنډ کرښې نیته)

دپښتنو ټولنه دداسې حالاتو سره مخامخ وه، چې علاج یې مشکل وو، او بیا پرنګیانو لاندې پښتونخوا په څلورو برخو

تقسیم کړه ، یو حصه یې د پولیس او انګریزي قانون لاندې راوسته ، چې بنه و بستي ضلعې یا علاقې ضلعې یې وو ته ویلې. (۱) ضلع پېښور، (۲) ضلع هزاره ، (۳) ضلع کوهاټ (٤) ضلع بنو او (۵) ضلع ډېره اسماعیل خان ، بله لویه برخه یې د برټیش بلوچستان په نوم باندې جدا کړه، او دریمه برخه یې دقبایلي په نوم جدا کړه او ځان تر یې وساتله ، چې دغه ایجنسیانې یې جوړې کړې ، (۱) ملاکنډ ایجنسي ، (۲) مومندو ایجنسي ، (۳) خیبر ایجنسي ، (٤) کرم ایجنسي ، (۵) تارت وزیرستان (٦) جنوبي وزیرستان ، دهرې ضلع شاته یې یوه یا دوه قبایلي علاقې وساتلې ، دغه ټولې علاقې تر قسما قسم اداري نظامونو لاندې وې ، روستو یې ریاستونه پسې ... جوړ کړل چې هغه دېر ، سوات او چترال وو ، آمب او ټیری خټک ریاستونه یا په باندې شول ، دغه دواړه ډېر وخت پاتې نه شول ، کوهاټ او هزاره کښې مدغم شول ، چونکه پرنګیانو ۱۸۹۰ پورې هندوستان داخل کښې مکمل کرفت وو ، نو دوئ ټول زور په شمال مغرب باندې راوړو ، د افغانستان نه خطره نه وه صرف د روس بند و بست یې کولو ، هند کښې سیاسي جماعتونه نه وو ، که څه هم کانګرس بنیاد ۱۸۸۵ کښې یو پرنګي ایښی وئ ، مګر کانګرس یا رنړی او سیځني کښې وو ، مسلمانو ۱۸۵۷ کښې دا سې وهل ، خوړلي وو ، چې د حکومت نشه ځینې وتې وه ، تش د پرنګي د-

چپلوسۍ نه بغیر بل کار یې نه ؤ، سرسید احمدخان دپرنګي هند کښې لسوګې ایجنټ په شکل کښې ښکاره شوے ؤ، په ټول هند کښې د پرنګي فوجي، اقتصادي، سیاسي او کلتوري مکمله قبضه وه، پښتانه دافغانستان نه جدا کړے شوي وو، د پنجاب سره نږدې شوي وو، دوئ هیڅ مرکزیت نه درلوده پرنګي لاندې خانان، نوابان او باباګان په دوئ باندې سوار کړي ؤ، ریاستونو کښې نوابان او ولیان ټولواک وو، او دپرنګي دپاره یې هرشي ته سینه ډبوله، پاس قبائلي علاقوکښې قبائلي ملکان وو، چې دوئ به دبرطانوي فوج تهلار ښودنه کوله، چې فلانی مجاهد چیرته اوسي، او څرنګې اوسي، د دې بدل کښې به پرنګیانو ورته مراعات ورکول، او مختلفو قبائلي علاقوکښې به یې جنګونه جوړول، چې دپرنګي نه ددوئ مخ اوړیدلے وي. او بل کار د دوئ داؤ چې قبائلي علاقو نه به دوئ په لاندې ضلعو باندې ډاکې کولې، چې دغه د پرنګي چل ؤ، چې لاندې او باندې پښتنو په منځ کښې به یې نفرت اوکرکه جوړوله، چې ددوئ اتفاق راښې، او بل یې ددې په ذریعه په قبائلي علاقو باندې فوج کشي کوله. د رات نه به سړے پراري شو، نوقبائلي علاقوکښې دملک سره به ؤ، لاندې پښتانه به یې په عذابول، او پرنګي به سترګې په پټې وې، دا ځکه دغه نمونه خلق زیات نراخلاقي

مجرمان یا دباسکر یعنی اجرتي قاتلان وو. نو په داسې نمونه خلکو باندې پرنګي غوښ نه ګرولو، داځکه چې دپرنګي په مصلحت به دغه کار کېده، او که چیرې داسې څوک به پیدا شو چې دپرنګي یا ددوئ دلالانو نه بغیر به یې جرم وکړو، نو قبائیلي علاقې خو پرېږده، په کابل کښې به پرنګی وړسې وُو. دلاندې پښتنو ملي خلکو ته دسره اجازت نه وُ، چې خپل غریزو پښتنو ورونو سره ملاقات وکړي، او یا دوئ ته لاړشي، کلکتې تر اجازت وُ ورته مګر دچارسدې نه مومندو ته اجازت نه وُ، هغه دپرنګي ایجنټان، دپیر میاں او صلاپه شکل کښې آزاد قبائیلي علاقو کښې به ګرځیدل، دوئ به وخت په وخت دسمې او غړه پښتانه دیوبل خلاف استعمالول، او ددوئ پر منځ کښې به یې نوره شپه ساتله، چې یوبل سره ونه پیژني. دافغانستان دسمې پښتو رابطه یې دقبائیلو سره په ذریعه تر ډېره حده پورې قطع کړې وه، ددوئ په منځ کښې سیاسي، ملي غورځنګ کرښې نه ستیریدو، داځکه چې قبائیلي سیمې "Non Conductive" کردار ادا کولو، دبنو یا ډېرو پښتون ته دلندن ټک کښې خطره نه وه، مګر میرانشاه او وانزه ته ټک دخطرو نه ډک وُ. که څه هم وانزه او میرانشاه دوئ نه سل کیلو میټره لرې وو، او لندن په سمندر پورې یورپ کښې وو، داځکه پرنګي تر دغه خطره وه چې هندې سیاسي غورځنګونه قبائیلي علاقو ته لاړ نه شي، نوځکه

دوئ دلاندې والا بنه کړي وو، دپاسه والا آزاد وو، د پاسه به چې څوک راکوز بیدل هغه به یاد پرنګي ملک ؤ، یا غریب مزدور اویا بائیرزان وو، چې خپل پړي، مزري او حودتان به یې خرڅ کړل، بیا به په منډه داوښ ماربه یې نیولے ؤ، بیرته به تلو نو حکه پرنګي تر دده نه هیڅ سیاسي خطره نه وه، دهغې وخت مطابق دلاندې پښتونګنې هیڅ سیاسي ګوند یا حرکت نه ؤ، دوئ د داسې ماړون حکومت سره مخامخ، شوي وو، چې دوئ حق حیران وو، باندې پرنګي وو، او لاندې دپرنګي سره راغلي هندوستانیان وو، چې دوئ دپښتنو په هرڅه قبضه کړې وه: دچپراسي نه تر تهانیدار او دکچري وکیل پورې هندوستانیان وو، او غوړې، غوړې نوکرۍ دپرنګي سره وې، دپښتنو سره نه دپرنګي مینه وه او نه د هندوستاني.

دپښتنو خپله روایتي ټولنه په ماتیدو وه، نوے باندې یا دوئ دپسره نه پوهیدل، دزمکې تقسیم د دوئ پخوا قبائیلي او پښتونوالي په ذریعه وو، چې دوئ یې په چل ول پوهیدل اوس دزمکې تقسیم دپټواری، کانګوئ، تحصیلدار په لاس ورغلل، چې، دوئ به حق اوحقدار ته نه کتل چې چا به ډېرې پیسې وکړې دهغه په نوم به زمکې وې، پرنګي هم سترګې په پټې کړې وې.

نو پښتنو دکاغذ په ذریعه دخپلې زمکې نه چیرته لاس اخیستو، نو دې کښې به جنګونه جوړ شول، مړي به وشول، چې دد ې،

سره به دتهانیدار، وکیل غوا لګه شوه، دوئ به حقدارپهانسي کړ او مجرم به ژوندے ګرځیده، چې څوک به جیل ته لاړل دغه به یې بله درامه وه، داځکه چې پښتونوالي کښې خو جیل نه ؤ. دروغې جوړې دوه طریقې وې، یا به یې دمرګې پور «قیمت» ورکړ شو، یا به بدل ؤ، او س دریمه لوبه جیل هم پکښې پرنګي راوستر، چې پښتانړې دخدائ په قهر ککړ کړل، د مقدمې دوران کښې بررشوتونه وو، چې مقدمه به شروع شوله نو نه به تهانیدارپښتوولې نه وکیل او نه مجسټریټ، پښتون به حق بق کچړ وکښې ولاړ ؤ او زوئ یا خپلوان به یې ورته قید اویا پهانسي کړو، نو ده به خپله بې وسي د تشدد په زور ځای ته رسوله، چې هغه به پرنګے یا هندوستانیان نه وو، بلکې خپل هغه پښتون دښمن به ؤ، چې دده زوئ یاورور به یې وژلې وه، نو دوئ به د خپل شتمنۍ نه خلاص شول، بیا به د پنډیتوب دپاره بمبئ یاکلکتې ته روان وو، دوئ کښې تجارت نه ؤ، تعلیم نه ؤ، کلیوال ساده ژوندؤ، دپاسه داورګاډې، دکارخانې، د موټر اولاریه یورپي تهذیب په سور شوے ؤ، چې دوئ خو پرېږده، د هندوستاني سړ یې علاج نه ؤ.

دوئ پرنګي ته یواړخ ته حیران وو چې دومره ترقي یې کړې ده، بل اړخ ته یې نفرت ځینې کولو چې دوئ سره یې

ظالمونه کول ، دوئ خام مال ، پنجابي سیکھ هندو او پنجابي مسلمان د پرنګي دکارخانې له پاره اخیستو ، او دوئ باندې به یې د پرنګي دکارخانې جوړ مال خرڅولو ، دوئ تر د خپل خام مال ګټه اخیستې شوه ، نه د پرنګي دتیار مال نه دې دواړو باندې هندوستاني قبضه کړې وه ، او بل کلي پرکلي به د پنجابیانو دوکانونه وو ، د پښتنو په اقتصاد باندې داسې پراتر وو لکه ژوري ، دوئ به پښتنو تر ویل چې پټهان سره تله بده ښکاري ، پوپک ورسره ښه ښکاري ، خان به د لوږې مرکیده ، مګر کاروبار یې سپک ګڼو . او دا پته او درک نه وو ورته ، چې د اقتصاد په دورکښې ښکیل شوے دے چې پرنګئ نن که مستي کوي ، خو د تجارت په زوري یې کوي ، مګر د پښتون دماغ کښې هندوستانیانو دغه هوا وردنته کړې وه ، چې خان ګنډے کښې سپاڑسي ښه نه ښکاري ، دوئ هوښیار وو ، که چیرې پښتون کاروبارې شوے وے ، نو د دوئ کاروبار تپې کیدو ، پښتون دشته خاوند کیدو ، د مرګ ژوبلې نه یې فکر بل اړخ ته بدلیدو نو دوئ دې کښې خپل اقتصادي مرګ لیدو ، نو ځکه بې یې پښتون د تجارت نه لرې ساتلو دپاره دغه نمونه خیرې ورته کولې .

د یو قوم ژوند پدې په مخ وړاندې ځي ، چې هغه

تعلیم تجارت کوي، دتعلیم سره ده کښې پوهه راځي چې د مذهبي اوسیاسي ګنډکپانو نه دوئ ځان ساتلی شي، بله او بد کښې ورتر فرق معلومیږي، که چیرې یو قوم لوستی نوی نو د دغه نمونه ګنډکپانو مخې وي، مونږه پښتون قوم تل دغو ګنډکپانو دخپلو شومو غرایضو دپاره استعمال کړي، یو دوئ مونږه په مغل، سیکه او بیا وروستو په پرنګي خرڅ کړي یوو، او ساده خلکو دپاره به دوئ همیشه د اسلام پاک نوم استعمالولو، دا ځکه چې مونږ کښې جهیل ؤ، تعلیم نؤ، او تر نن ورځې پورې مونږه په دې مونږ ي تیندکونه خوړو. او بل تجارت نه وو، زمونږ پر اقتصاد پردیو قبضه کړې وه. نو ځکه زمونږ ژوند ځای په ځای ولاړو. تورو تیاوکښې ډوب ؤ، اوزمونږ اقتصاد ډېر پښ ماندهوو

" PRIMITIVE یعنې صرف زراعت اورمې وې، چې زراعت، کښې به جګړه همیشه دهمسایه قبیلې سره راتلې، اودکورنۍ دننه د تره ځامنو سره چې مونږ ورتر تربوران وایو، نو اقتصادي پس ماندګي په وجه زمونږ بلدې هم په خپل کور کښې وے درمې دپاره خرزمکې پکار وې، چې دے باندې به همیشه پښتانه سره په جنګ ؤ، نو مونږ کښې به هروخت بې اتفاقي وه، دتربورۍ په مرض اخته وو، که چیرې مونږه تجارت کولے، اودګټې وټې نا ذریعې مو دزراعت او رمې نه علاوه نورې خپلې کړې وے، نو زمونږ دغه کورنۍ

جګړې به تر ډېره حده کمې شوې وائې، داځکه چې دکان یا دمندې دپاره ضروري نه ده چې خامخا د ې دپښتون سره پوله والګی، کېدای شي چې همسایه دی د بنګال هندو یا د نجاره پلو دی ماشي، نو که جنګ راځي هم، کم از کم دخپلو کورواله سره به دې نه راځي، چونکه موږ قبائیلي ژوند درلوده، نو اقتصاد موهم قبائیلی وُ، چې خوک تعلیم نه کوي، هغه ښار کښې ژوند هم نه شي کولے، ولې پدې چې ښاري ژوند په کاروبار اوکسب باندې روان وي، اوچې خوک ښاري ژوند نه لري، هغه د تهذیب دنقطه نظره مخ په وړاندې نه شي تللي، اوکلیوالي تهذیب اوژ به همیشه دښاري تهذیب نه ماتې خوري که څه هم قبائیلي ژوند اوخلک په فوجي لحاظ بهادر وي، مګر دوئ دپښتونې او ساده وي، ښاري خلک پرزړه شاله او دخولې نه پاسته وي، اوکیلوال خلک په خوله شاله او په زړه کښې مهربان وي، هغه وجه وه چې دبا چا خان د ځوانۍ په وخت او روسته هم دپښتنو ټولنه ډېره ګډوډه وه، دخلکو ژوند محفوظ نه وُ، داځکه چې دوئ نه پښتونوالی بحیث قانون یعنې جرګه یوسیستم پرنګي لرې کړو، اوخپله سرکاري جرګه سیستم یې په دوئ باندې په زور وروتاپه د دوئ جمهوري جرګه یې په ډیکټرشپ بدله کړه اوتش نوم یې د جرګې په کېښود، داځکه چې پرنګي د دې په ذریعه خپل، دښمنان ټکول غوښتل، د دې سره ټولنیز مرضونه زیات شول

کم نه شول، پولیس به دخپلې کټې و تې او بلې دپاره نورهم دې مرضونو ته ملن وهله. چې باچا خان پخپله لیکي: چې یوې بلې پرنګې ته دعا کړې وه، چې خدای دې تهانیدار کړه، داګله چې کلیوال خلک دپاره خو واښرائې هند دخپلې تهانې تهانیدار وُ، او دموقع افسر وُ، دموقع افسر پورې یوه خبره راپاده شوه، یو ځل خوک پاکستانی وزیر وانړا ته راغلے وُ، په هوائي ډګر پوتیکل ایجنټ ورته ملکانان دستړې مشي دپاره راوستي او دوئې ته یې دګلاس منی (هارونه) ورکړې وو چې وزیر ته به یې اچوي، وزیر چې راغلو نو ملکانو منی وراچول چې دې کښې یوملک دوزیر پر ځلے کمشنر ته مني ورپرغاړه کړو، پوتیکل ایجنټ پټ نوملي وو، چې غلط شوے، دغه وزیر صاحب ته دے. ملک ځواب ورکړے وُ، چې ښه یې پیژنم، خو وزیر به نن وي سبا به نه وي، دغه بل یعنې کمشنر دموقع افسر دے، نو ځکه مې دغه کارو کړو، چې خوشحال وي.

باچا خان رستو خپل سیاسي ژوندکښې زیاته توجه معاشرتي مرضونو ختمولو ته ورکړې وه، چې ورمعلوم وچې دغه بنیادي کار دے، د دې ګډوډۍ په وجه پښتون ګور د تشبیدد دکور جوړ شوے وُ، پرنګې او هندوستاني نوړ ملن ورته وهله، میلوکښې به جګړې وې، په زمکو به مرګونه

وو، چې پښتون به څه کتل، د تهانیدار، وکیل او کچهري دوا به شول، دے به دخپل تشدد په وجه بربنډ پاتې شوے وُ، باچاخان پخپله لیکي: چې د دې سړ پښتونکښې دروغ او چغل خوري مرضونه راغلل چې مخکښې په دې پیمانه نه وو، یعنې د باچا خان په ځوانۍ کښې پښتون قوم سیاست نه درلوده، نه یې اقتصاد وُ، او معاشرتي تګ لاره پهوړ سړ مخامخ وو، او لنډه خبره داده چې د مرضونو جاله جوړه شوې وه.

د باچاخان اولنۍ هلې ځلې او اول ځل قید
(۱۹۱۰ء - ۱۹۱۹ء)

دغه خبر اوس معلومه خبره ده چې باچاخان د سکول په زمانه کښې د انسانانو په منځ کښې فرق نه کولو، چې د کوم مذهب، رنګ یا نسل نه تعلق لري، او بل دے په خپله مني چې دے خپل سکول د هیډ ماسټر نه ډېر متاثره شوے ؤ. چې د یو پر ذي قوم سړي د هندو ستانیانو خدمت ترملا تړلے وه، او خپلو هندوستانیانو کښې دغه نمونه جذبه نه وه، دغه فکر او سوچ پخپله ډېر لوی قدم دے چې یو ماشوم یا هلک کوي، او دغه فرق ایستلی شي، کنې د ده د عمر تقاضه خو دغه وه چې خپلې لوبې یې کولے. دغه نمونه پخو پخو خبرو تر یې د سړ پام هم نه وے، مګر خبره داسې نه وه. باچاخان که څه هم هلک ؤ مګر پدې خبره یې فکر او سوچ کولو، نو ځکه ده کښې د ابتدا نه د خدمت کولو شوق پیدا شوے ؤ. او چې څوک خدمت کوي هغه خلک خود غرضه نه شي کېدے چې خود غرضه نه وي نو داسې نمونه خلکو کښې جرأت وي او دوئ د کلک نه کلک اولادلوئ نه لوئ قوت خلاف راپورته کیدے

شي، همدغه وجه وه، چې بارانی کاکا باچا خان گرم کړے ؤ چې فوج کښې د هندوستاني او پرنګي فرق نشته. مګر باچا خان چې ولیدل چې داسې نه ده، نو دهغې وخت مطابق ډېره لویه عهده ته یې لته ورکړه، د خپلو خپلوانو پیغورونه یې هم په ځان واخیستل، مګر د ذلت ژوند او منصبداري یې قبوله نه کړه، دغه پخپله د یو نیوخ کریکټر دلیل دے ګڼې په ځوانۍ کښې څوک داسې خبرې په ډېرو واوري او په بل یې اوباسي، مګر باچا خان داسې نه ؤ، بلکې د خپل قوم بې عزتي یې نه شوه برداشت کولے.

(Resistance) بخري پکښې راویښ شو، دا ځکه چې د ده دپاره تور او سپین توپل یو شان انسانان وو، چې ده ولیدل چې پرنګي فرق پکښې کوي، نو نتیجه یې داشوه چې ده دغه فوجي عهدې ته لته ورکړه او ژور سوچ کښې لاړو، د غلامۍ او باداری په مسئله یې سوچ اوغور شروع کړو، مګر دے ډېر ځوان ؤ، نو ځکه ده ته ډېره تجربه او مطالعه پکار وه، چې د هندوستان او خپل پښتون ټولنه وڅېړي، ځان ښه په پوه کړي، او داسې کارونه په یو سرهم نه شي، همدغه تلاش ؤ چې باچا خان یې ورځ په ورځ - خپل ځان ته راکش کولو، دوخت سړ یې سترګې غړید لے ورځ په ورځ اوکال په کال ورته مرضونه جوتیدل، نو د داسې

خلکو په تلاش کښې شو، چې هغه خلک هم زر وموندل شول، چې دوئ هم دده په شان سوچ درلوده، چې هغه حاجي صاحب دترنګزو، او ورسره نور ملګري وو، چې دباچا خان دسفرملګري شول، که څه هم اول سرکښې باچا ددوئ دسفرملګرے شو او رو سته باچا خان دغه میشتن عمرو ج ته ورساوه. باچا خان ابتدائي دور کښې دمخفي صاحب نه ډېر متاثر شوے دے، نو ځکه یې دخپل کتاب (زما ژوند او جهد وجیهد) دپاره یې دمخفي صاحب نظم خوښ کړے دے، مخفي صاحب دخپلې نوکرۍ په وجه پرنګے دډېر نزدې نه پیژندلے ؤ، نو ځکه دده عقده پخه وه، دپښتون ملت، سره یې مینه درلوده، همدغه مینه باچا خان هم درلوده باچا خان لیکي، (نوے میدان تازه افکار روشنفکرو سره تعلق) مخفي صاحب، مولانا عبدالعزیز، مولوی فضل ربي او مولوی تاج محمد صاحب، دغه څلور یاران دده دابتدائي سیاسي اومعاشرتي ودې ذمه وار پېښې، دغه ټول - پښتانه وو، ښه تعلیم یافته خلک وو، دیني او نیا وي تعلیم یې کړے ؤ، دوئ خبرخلک وو، دغه دباچا خان خوش قسمتي وه، چې دے ددا سو خلکو په لاس ورغئ، چې دوی د باچا خان نه دا سې ملغلره جوړه کړه، چې نه صرف په باچا خان په جهان کښې نمودار شو، بلکې دده په ذریعه دوئ هم تاریخ کښې

روشنه شول باچاخان پخپله د دوئ متعلق لیکي: زما تعلق
د فضل محمود مخفي صاحب، مولوي عبدالعزیز د پکلی، مولوی
فضل ربي صاحب او مولوی تاج محمد خان صاحب د کودر
د دارالعلوم مهتمم سره پیدا شو، مولوی تاج محمد صاحب
د بغداد ے ؤ، د بی-اے - A - B تعلیم یې ؤ، او مذهبي
تعلیم پرې د پاسه ؤ، په اسلامیه هاي سکول پېښور کښې سکتر
ماسټر ؤ، مولوی صاحب فضل ربي د پکلي ؤ، د دیوبند سند
یافته ؤ، په ریښتینو معنو کښې عالم او قام پرست سړے ؤ
مولوی عبدالعزیز صاحب زما اشنا او د سبق د ملګري عبدالحلیم
ورور ؤ، په بوپال کښې یې تعلیم کړے ؤ، دا تمانزود لوی
ملا صاحب د خاندان ؤ، او فضل محمود مخفي صاحب د چارسدې
ؤ، میټرک پاس او انقلابي شاعر ؤ، (دوئ په ما کښې قومي
جذبه پیدا کړه) باچاخان کښې دغه جذبه له پخوانه وه، مګر
د دوئ سره د تعلق په وجه یې پولوري وا خیست، هغه د پرنګي خلاف
دیو او د جهد وجهد اغاز او پیل ؤ، چې د دوئ په ذریعه د
باچاخان پیژندګلوي د دیوبند مکتب فکر ضد سامراج -
عالمانو سره جوړ شوه، چې شیخ الهند محمود الحسن صاحب او
عبدالله سندهي غوندې عالمان او قوم پرسته خلک وو، یا
په بله معنی د سید جمال الدین افغاني د هغې سیاست او کړه
برکت ؤ، چې ده په نولسمه پیړۍ کښې د طاغوتي قوتو خلاف

کړے ؤ، مصر او ترکي کښې، ایران او هندوستان کښې پاڼ اسلام دپاره خلک روزلي وو، همدغه وجه وه چې هندي مسلمانان په دوه ډلو تقسیم شول، چې یوه دپرنګي ډله وه، چې ددوئ مشر سر سید احمد خان ؤ، او ددوئ مرکز علي ګړ ؤ، دغه بله ډله چې روحاني مشر یې سید جمال الدین افغاني ؤ، چې روستو هندکښې د دیوبند مکتب فکر په شکل کښې راښکاره شول، چې دوئ اصلي مسلمانان او هغه پرنګي خلک وو، د علي ګړ مکتب فکر مسلمانانو خیال ؤ، چې د پرنګي په چپلوسه کښې موکته ده. د دیوبند مکتب فکر عالمانو مرام دپرنګي خلاف زباني عملي او مادي جهاد لاره وه، او دې لاره کښې چې څوک ورسره ملګرے کیدو، دوئ یې مذهب عقیده، او دین ته نه کتل، همدغه وجه وه چې دوئ هندوستان کښې هندوستاني قوم پرست مسلمانان وو، او خارجي سیاست کښې دپاڼ اسلام طرفدار ؤ، خو غټ مقصد ددوئ مسلمان ملت هندکښې او اسیا افریقه کښې دپرنګي او فرانسوي یا په بله ژبه دیورپي سامراج نه آزادول، چې مصر او ترکي او ایران، کښې ددوئ دسوچ خلک وو، د سر سید احمد خان سیاست، بنیاد په فرقه پرستۍ باندې پروت ؤ، دوئ د هندو او مسلمان، مسله دومره اهمه کړې وه، چې د خارجي دښمن پرنګي خلاف یې هیڅ هم نه ویل. بلکې هغه کارې کولوچې پرنګي به ځنې خوشحاله

کیدو، چونکه پرنګي اول هندو ته اهمیت ورکړے ؤ، نو هندوانو زړه تعلیمي او اقتصادي لحاظ ترقي وکړه، او د پرنګي دپاره خطره شوه، چونکه مسلمانانو زړه حکومت او واکداري اخیستی ؤ، نو دوئ یې اول سرکښي بنه وډ بول، د حکومت نشه یې ځینې وایسته، چې هندوان بیدار یدل، نو مسلمانان یې پسې راپیدا کړل، داځکه چې اوس د مسلمان ورته ضرورت ؤ، نو سرسید احمد خان د خپل استاد پرنګي په خواهشاتو بنه پوهیده، نو ځکه یې فرقه واري را وخیسته، او د دوئ د تعلیم او سیاست غټ مقصد داسې ؤ، چې مسلمانان د هندوانو نه هله ژغورلے شو، چې پرنګے موجود وي، که چیرې پرنګے لاړو نو هندوان به له مونږ نه د زړو کالو بدل واخلي، نو د دوئ مکتب فکر او د دیوبند مکتب فکر کښې د ځمکې او اسمان فرق ؤ، یوه ته پرنګے دوست او نجات دهنده ښکاریده او هغه بل ته پرنګے د مسلمان قوم اول نمبر دښمن ښکاریده، نو باچاخان ملګري هم د دیوبند مکتب هم فکره وو، باچاخان هسې هم قوم پرست ؤ، او چې څه کمی ؤ هغه د غوکسا نو پوره کړ، چې رو ستو د باچاخان ټول سیاست ژوند د د یې چاپیر ګرځي، که چیرې باچاخان د سرسید احمد خان او علي ګړ مکتب فکر په جال کښې ګیر شوے وے. نو نن سبا باچاخان د جناح لیاقت علی خان دې په ډله کښې ؤ، او دے به ضد استعمار

نه ؤ، بلکې یوبل صاحبزاده عبدالقیوم په ځینې جوړ شوے،
وے، چې هغه هم اسلامیه کالج جوړ کړو، چې ورته
د صوبه سرحد سرسید وایي، چې د روس کیپل دویاړ ؤ،
مګر بیا هم دومره بې خونده نه ؤ، لکه سرسید احمد خان، بیا
هم چې نه څه د پښتون ضدِ استعمار وینه پکښې وه، چې ښه
مثال یې ۱۹۳۰ کښې خدای خدمتګار د پرنګي د خطرناکې ارادې
نه خبر ول و. نو ځکه باچاخان د دیوبند د عالمانو سره کلکه رابطه
وساتله، د دوئ د پاره قبائلي علاقو ته لاړو، چې د پرنګي
خلاف یوجنګي مرکز جوړ کړي، دا ځکه چې شله پیړۍ
بلاربه شوې وه، نو اول بچی یې اول جنګ عظیم په شکل کښې
پیدا شو، نو د هندقوم پرست عالمان د دې جریان نه خبر
وو، نو دوئ غوښتل چې دغه په مناسب وخت وي، چې
په پرنګي کزار وشي، همدغه وجه وه چې لوئ مجاهد
حاجي صاحب ترنګزو اول بنیر ته د جهاد په غرض ۱۹۱٤
کښې لاړو، بیا د مومندو وطن ته لاړو، چې د پرنګیانو
د پاره سر درد جوړ شو، او ډېرې غزاګانې یې وکړې،
باچاخان چونکه لا ډېر ځوان ؤ، نو دے هغه معراج
ته نه ؤ رسیدلے، چې خپل سیاسي کوښښ جوړ کړي
یا خپله لار واخلي، نو ده ځکه اول سرکښې تعلیم یافته خلکو
او پیرانو، مولویانو پسې منډې ووهلې، چې دوئ وار پر

وار ورمعلوم شول، نو رو، رو ورته په خپل ځان باور کول، ورته ضروري بنکاره شول، مګر داول نړۍ وال جنګ په وجه دغه خبرې پاتې شوې، او بل حاجي صاحب قبائيلي علاقو ته تللی ؤ، او پرنګيانو هم سختې جوړه کړې وه، چې پښتانه راپورته نشي، مګر باچا خان دخپلو ملګرو چې دوئ قبائيلي علاقو کښې وو، اقتصادي مدد کولو، د نړيوال جنګ نتيجه د پرنګي په حق کښې وخته، ترکې خلافت ماتې وخوړه، عرب د پرنګيانو او فرانسويانو په لاس وراغلل، او په روس کښې اشتراکي انقلاب راغئ، زاري روس ختم شو، اول ځل دپاره د مزدورانو او کسانانو مشر لينن په مسکو کښې په قدرت ور سيدو، چې د دې سره د سرمايدارو او سامراج ملکونو د پاره په فوجي توګه او په نظرياتي توګه سيال پيدا شو، د افغانستان د روس سره سرحد يعنې بريد محفوظ شو، اوس افغانستان کښې د بدلون دپاره لاره ورځ په ورځ هواريده.

د ريم افغاني پرنګي جنګ
(۱۹۱۹ ع)

اول جنګ عظيم کښې روسان، پرنګيان، فرنسويان او امريکيان او ورسره جاپان، اټلي او نور واړه واړه هيوادونه يوې غاړې ته وو، او بلې غاړې ته ترکيه عثمانيه خلافت،

اسټرياهنګري سلطنت ،اوجرمن سلطنت» اول جنګ يا جنګ
عظيم کښې دافغانستان پوزيشن داسې ؤ چې خارجه سياست
يې د پرنګي سره ؤ، امير حبيب الله خان د امير عبدالرحمن خان
زوی، او امير امان الله خان پلار ۱۹۰۱ نه په قدرت و دے
يوعياش او کاهل . امير ؤ، د جنګ نه زيات يې د زيا تو شرابو
بنځو او ښکار سره يې مينه وه، د ټوپک په ځای به ورسره کيمره
او ښه وتلی فوټو ګرافر ؤ، نو دده په دربار کښې دا نمونه خلک
ؤو، چې ځينې د امير صاحب طرفدار وو، د غيرجانبدار ه
سياست رويه يې غوره کوله، دوی بشمول امير صاحب سره هم
خيال د بے طرفه سياست پلويان وو، چې افغانستان تر د جنګ نه زيا ته
بې طرفي کښې ګټه ده، بله ډله د قوم پرستو وه، چې د دوی
خيال ؤ چې په پرنګي اوس د ګزار کولو وخت راغلے دے، په
قوم پرستو کښې زيات تره هغه افغانان وو، چې د دوی پلرونه
د امير عبدالرحمن خان د ظلم او ستومانی نه هيواد پريښی
ؤ، څوک هند تر، څوک ترکې تر تلي وو، د دوی اولاد و نو
د نوې زمانې مطابق تعليمونه وکړل، د جهان نه ډېرخبر
وو، چې څه وخت ۱۹۰۷ کښې امير حبيب الله خان عامه معافي
اعلان کړه، نو دغه نوی تعليم يافته افغانان د خارج نه بيرته
افغانستان تر راغلل، چې د ې افغانانو کښې طرزي صاحب هم
ؤ، د طرزي صاحب پلار ۱۸۸۰ کښې د امير عبدالرحمن خان د ظلم

او مرګ ژوبلې نه هند ته تښتیدلے ؤ، بیا بغداد ترکې ترتلی ؤ، او اخیر دمشق شام ترکې عثمانیه کښې اباد شوے ؤ، نو هغه وختلا لوئ ضد سامراج سید جمال الدین ژوندے ؤ، نو دطرزي صاحب پلار ورسره لیدنې کتنې کېدې او طرزي صاحب پر دې زمانه کښې هلك ؤ. خو دلوئ افغان سید جمال الدین خوی یې قبول کړ، محمود طرزي صاحب د نوې زمانې سبق په دمشق او استمبول کښې وو ئیلو، نو دیورپ دتاریخ او معاشرتي ژوند سره ښه بلد شو، همدغسې نور ډېر افغانان. نو دقوم پرستې دلې مشري په کابل کښې طرزي صاحب کوله، ددوئ د "YaungTurK" اوهندي قوم پرستو سره یې پخه رابطه وه، او حاجي ترنګ زے صاحب خو ددوئ خاص ملګرے ؤ، چونکه ترکان اوجرمنیان د جنګ اتحادیان وو، نو ترکان ددې قوم پرستو افغانانو په ذریعه کوښښ وکړو چې افغانستان د ترکې په حمایت دپرنګي خلاف دجهاد اعلان وکړي، مګر دربار کښې دپرنګي دلې پره زور اوو وه، نو قوم پرست پدې برنه شول، چې امیر صاحب دپرنګي خلاف راپورته کړي، او بل په ۱۹۱۵ کښې دجرمني یو وفد کابل ته راغلے ؤ، چې ورسره هندي قوم پرست هم وو، چې هغو کښې پرتاب سنګه مشهور ؤ، دغه هندي انقلابیان برلن جرمني کښې وو، او بل دجرمن حکومت هغه پښتانه سپاهیان چې دپرنګي

په فوج کښې وو، بیا د فرانس په محاذ قید یان شول ، د پرتاب سنګه او د جرمنیانو سره یو ځائ افغانستان ته ولیږل، د دوئ خیال ؤ چې دغه خلک به د افغانستان نه د هند برطانوي حکومت خلاف وجنګیږي نو د پرنګیانو دپاره به هند کښې هله ګوله جوړه کړي نو د یورپ په محاذ به په جرمنیانو او ترکانو دباو کم شي ، دغې وفد یو خاص ملیک چې قیصر وسیم ویلیم د ویم له اړخه افغاني امیر ته بیړو، دوئ اول ترکې ته راغلي وو ، بیا د ډیرو مصیبتونو نه پس هرات ته افغانستان ته راغلي وو، د هرات نه افغانستان حکومت ډیر په احترام سره کابل ته راوستي وو چې څه وخت پرنګیان خبر شول، چې جرمنیانو ترکابل پورې ګوتې راوږدې کړې دي، نو دوئ هند کښې ډیروار خطا شول، د خپلې خزانې خوله یې خلاصې کړې، افغاني دربار کښې یې خپل پلویان ښه مضبوط کړل ، او افغاني امیر یې خبردار کړو، چې بنې نتیجې به نه وي، دغه اول ځل ؤ چې المانې وفد افغانستان ته راغلے ؤ، او د جرمني حکومت او افغان حکومت تر منځ اوله باقاعده خبرې اوړابطه وه، تر اوسه پورې خو پرنګي ته صرف د روس نه خطره وه، او جرمنیان هم شول، دوئ خپلې چالاکۍ او دوکې په کار واچولې ، افغاني امیر یې د دوئ خلاف د جنګ نه لرې وساتلو ، امیر صاحب د جرمنیانو او هندي مشرانو قدر وکړو ، مګر کوم شي پسې چې دوئ

وړاغلي وو هغه مقصد يې وريوړ نه کړو، نو پدې يوقسم مايوسي خوړ شوه، د دې وفد يوغړے جرمني ويجر ليکي: چې زمونږ سره کوم د سرو زرو مارکونه وو هغه هندي انقلابيانو د پر په چالاکۍ سره زمونږ نه هضم کړل، چې پرتاب سنګهه يې سرلښکر ؤ، دوئ تش زمونږه مارکونو نه انقلابيان شوي وو، د ميښتنو فخرشخالي خرګنده وي، چې دوئ ربښتوني خلك دي، د دوئ کښې هندي خويونه نشته، هم پدغه وجه چې د جنګ د ختميدو د يوکال نه پس انقلابي افغانانو امير حبيب الله خان په لغمان کښې قتل کړو، او دده په ځائ انقلابي امان الله خان امير شو، اوس افغانستان باندې د قوم پرستو او دنوې زمانې تعليم يافته افغانانو قبضه شوه، چې دوئ کښې وتلے افغان محمود طرزي صاحب ؤ، چې د غازي امان الله خان خسرهم ؤ، يعنې د ملکه ثريا پلار ؤ.

اوس حالات داسې جوړ شوي وو، چې زاري روس ختم شوے ؤ، هغته د اکتوبر انقلاب شوے ؤ، دوئ د زاري سامراجي پرځائ د اولسونو د حقوق د خپل بنيادي سياست اعلان کړي وو، نو هغه زوړ حال نه ؤ، د افغانستان بريد د روس سره محفوظ ؤ، د لينن او د دوئ د ملګرو بنکاره علان ؤ چې دوئ د شرق د قومونو د سامراج خلاف ملاتړ کوي، او بل ښه وخت دغه ؤ چې هند کښې بې قراري وه، پرنګيانو چې کومې وعدې کړې

وې دجنګ دګټلو وروسته یې دپام نه وغورځولې، پدې باندې هندکښې بې آرامي خوره شوه، حاجي صاحب ترنګزو دجنګ عظیم په دوران کښې دپرنګیانو خلاف غزا کا ته کړې وې او خپل لښکر سره قبائیلو کښې ناست ؤ، اوبل داچې په کابل کښې یې دقوم پرستو سره یې نږدې رابطه وه، باچا خان او دوئ ملګري هم دخپل عمر او تجربې مطابق لګیاوو، او بل هند ې عسکر چې دجنګ نه واپس شول، نو دوئ نوې نوې تجربې کړې وې، قبائیلي پښتنو کښې خوهسې هم د پرنګي خلاف لوئ نفرت موجود ؤ، بس دپښتنو دپاره دیو لیلې ضرورت ؤ، چې دوئ پرې راغونډشي، هغه خدای دوئ تر دغازي امان الله خان په شکل کښې ورکړو۔

غازي امان الله خان دګندومک تړون معاهده یک طرفه ماته کړه، دافغانستان دخود مختیارۍ فرمان یې جاري کړ همدې سره ۵ دمئ ۱۹۱۹ کښې دریم پرنګي او افغاني جنګ شروع شو، افغانانو له درې محاذو په پرنګي راغلل، خیبر، کرم وزیرستان او بولان، دخیبر په محاذ لنډي کوتل سره جوخت چاربا غ سره سخت جنګ شروع شو، چې دتوپوګړزار په پښتو رکښې اوریدې شو، په لاندې پښتنو باندې پرنګي مارشل لا «یعنې فوجي قانون» ولګوله، چې باچا خان یې هم قید کړو، باچا خان پخپله لیکي: چې جیل پښتو رکښې یو افغان ؤ چې دتوپې اوازونه یې

اوریدل، نوجذبه کښې به راغئ، لاس به یې دتوري پرشان جوړ کړ، دغه آوان به یې کولو: چې کش که کش،.

په خیبر محاذ باندې افغاني جنرال ماتې وخوړه، دا ځکه چې دوئ د حاجي صاحب ترنګ زو مشوره نروه منلې حاجي صاحب ورته وئیلې وُ چې زه به د مومند وله اړخه حمله وکړم. تاسې نیغ په خیبر راشئ یو ځائ برحمله کوو مګر افغاني جنرال سرزوري کړې وه د حاجي صاحب تر بغیر یې حمله کړې وه، چې حاجي صاحب ترڅو مدد ته رارسیدو افغاني جنرال تښتیدلے وُ، مګر په جنوبي محاذ باندې افغانانو ډېره کامیابي وکړه، د جنرال نادرخان فوجونه لا خوست کښې وو، چې تل کښې داپریدو ملیشې بغاوت وکړو، تل یې قبضه کړو، مقامي بنګښن وزیر اوختک وزیر ملګري وو، روسته نادرخان چیغې جوړې کړې، چې تل ما قبضه کړو، د تل پښتنو تش نادرخان تر قبضه کښې وکړو. فوجي فیصله یې دافغاني عسکرو د راتګ نه مخکښې شوې وه. په وزیرستان کښې خو داسې حالات جوړ شو، چې محسود و په دریو ورځو کښې پرنګي ته شکست ورکړو، سرویکئ. وانا. سپیلا توئ، تانائ، ګومل یې آزاده کړه، بلکې دومره ګډوډې سره پرنګي تښته کړې وه، چې هرڅه ځینې پاتې وو، خپل سرونه یې خلاصول. مګر محسود ورپسې وو، د بلوچستان

فورټ سنډیمن پورې یې اخیستي وو. ټول پرنګي ریکارډ دمحسودو په لاس ورځې او پرنګ یې تر آباسین پورې وشړلو، محسودو په دېره غازي خان باندې حملې وکړې. دلته زه دپرنګي دخولې لیکم چې دوئ څومره وارخطا وو.

Where records exist, they are so voluminous, as in large measure to defeat their own object, and in South Waziristan they do not exist, they destroyed 1919.

دغه پرنګی پېچله منلے ده چې دغه حال ؤ.

A few petty offences, the acts of spoilt children, took place in the early part of April, but otherwise all was quiet, and on the 24th April the new Political Agent returned to Wana from Sarwakai after fixing the 17th May as the date on which the next Mahsud allowance jirga was to begin at that place. For the rest of the month his peace was only disturbed by repeated cuttings of the telegraph line, a sign to which no importance was attributed, and it was not until the 5th May, the day before war was declared, that he learned of the imminence of serious trouble. On the 9th May Afghan propaganda, in the form of letters and messages addressed to prominent Mahsuds and Wazirs, including Wazir officers of the two local militias, began. Some distribution of Mahsud's allowances took place on the appointed dates, but attendance was very meagre and it was found impossible to get any pending cases settled. The Mahsud's situation was clearly rocky and the Political Agent accordingly himself remained at Sarwakai to watch it, and sent his Indian Assistant, Khan Bahadur Muhammad Yar Khan, to Wana to keep an eye on the Wazirs. By the 25th events had elsewhere developed so unfavourably that the militia posts in the Upper Tochi were evacuated. On learning of this Political Agent, in virtue of the discretion vested in him by the Chief Commissioner to be exercised in such a contingency, ordered the evacuation of all militia posts in his Agency. This was carried out on the night of the 26th. The garrison of Sarwakai and the lower Gumal posts were successfully, except for numerous Afridi and Wazir desertions, withdrawn to Murtaza; but at Wana and the upper posts, of which the garrison were to retreat across the Gumal into the Zhob Agency, the treachery of the same and other trans-border elements in the crops caused disaster. Four British officers and the Indian Assistant lost their lives; two British officers were wounded; the militia practically ceased to exist; 1,200 rifles and 700,000 rounds of ammunition fell into the hands of the tribesmen and the forces of disorder were carried in pursuit of the gallant remnant, which still held together, far into Baluchistan. In this affair only individual Mahsuds took part. It occurred outside Mahsud's country , and so, beyond paying a tribute to the magnificient courage and endurance displayed by the Commandant, Major Russel, and those who stood by him, it is not necessary to enter into details. So far as the Mahsud tribe was concerned, the immediate result of the evacuation was to bring a lashkar under Fazal Din down to attack Jandola (held by regulars) and to start the ball of border depredations rolling with a zip far beyond all previous performances. Jandola was relieved without difficulty on the 9th June, but further military action was needed to restore the situation. This at the time it was not possible to take, and the hot weather passed in a series of petty and inconclusive, through often fiercely contested, actions between the troops and other forces collected along the district borders and Mahsud and Wazir raiding parties.

اوس زه درته د خپل پلار د خولې لیکم : ماته پلار وئیل چې زموږ د کلي یو سړے ؤ، چې نوم یې زیراجان ؤ، په سرویکی کښې د فوجیانو د باغ مالي ؤ، زیراجان د سحر دلمونځ سره راغئ، د خلویښتے رغزی نه یې سیرې جوړې کړې، چې پرنګي د سرویکی نه ښتید لي دي، پول سامان یې پریښی دے، نو چې نور محسود خبرین یې، چې موږ نه ښه ښه سامان سمبال کړے وي، پلار مې ویل: چې ددې سره په کلي چیغه کړه شوه، ښځې نر، ماشوم انو هر یوه سرویکی ته منډې وهلې، پلار مې ویل: چې ماته دومره یاد دي چې موږ زه په غیږ کښې اخیستے وم. زما ورور اصل خان چې مانه مشر ؤ خو هلک ؤ، مخکښې د نورو هلکانو سره رسیدلے ؤ، په نورو، کټو و پټو نه پوهیده، دوه کمتر ې یې نیولې وې، نورو خلکو غنم، جوار، بسترې، کرسۍ، صندقان، او غوګانې، خره، کچرې او نوره څخاله سمبال کړې وه، د پرو خلکو د قعلا کړکه او د وازې ویستې وې، پلار مې ویل: چې زیراخان اول خپل د پرسامان سمبال کړے ؤ، بیا یې کلے خبر کړے ؤ، دغه سرویکي صندقان ما په خپله په ۱۹۶۵ کښې لیدلي وو، چې د زیراخان ورور میراجان کړ وو، خو په هغې وخت زه د دې په پس منظر نه پوهیدم یوه عادي واقع راته معلومیده.

یو بل سړے ؤ چې نوم یې کلا دادی ؤ، زه په شپږم جماعت کښې وم، ده موږ ته دس ویکی خبره کوله، چې موږ خبر شو، چې پرنګی تښتیلے دے، تو د محسود و لښکر په بیړه پسې ورغئ، دوئ چې بلوچستان تر اوښتل، موږ په برید وکړ، ځائ په ځائ به لاس په لاس جنګ کیده خو چې کوم پرنګي به ټوپک راکړو موږ به نه وژلو، چې چا به ټوپک نه راکاوه، موږ به وژلو، ویلې یې پرنګیان که څه هم زموږ دښمنان وو، مګر بهادر خلک وو، موږ به ورسره ټوکې کولې چې تا هم پرنګے مړ کړے یا ټوپک وړے دے؟ ده به ټوکې کولې، چې ما پدې جنګ کښې نه ټوپک یوړو او نه مې پرنګے مړ کړو، زما سزا داوه چې ستاسو نیا "یعنې دده میرمن" د شپږ و میاشتو دپاره بائ کټ کړے وم. دغه ډېر خوږ سړی ؤ دده عمر به اندازاً هغه وخت ۷۵ کاله ؤ.

همدغه حال د ټولو پښتنو ؤ دوئ د پرنګي خلاف ډېر په ښه جذبه سره وجنګېدل، د چترال نه تر بولان پورې د سمې وو او که دغه پښتون ؤ، د غازي په چیغه یې عمل کړے ؤ، مګر افغانستان یو ورکو تې ملک ؤ، داوږ د جنګ توان یې نه درلوده، که څه هم دوئ لاندې پښتونخوا ازاده نه کړه، مګر د افغانستان بایللے حیثیت یې وګټلو، کوم چې

او واک بایللے ؤ، او وروسته امیرعبدالرحمن خان افغانستان غلام کړ، مګر کله نه کله ددوسانو په کور کښې هم نړان پیدا کیږي، کومه بې غیرتي یې چې نیکه کړې وه، هغه یې لمسي پوره کړه، افغانستان او افغان ملت تر یې آزادي وګټله دوئ چې په عرضي جنګ بندے سره راضي شول، نو ډېر خلک په خپه شول، دا ځکه چې دقبائیلو اولاندې پښتنو دغه ته وه چې اوس به دوئ آزادیږي، خاصکر وزیرستان کښې ډېره مایوسي خوره شوه. دمحسود او وزیرویو وفد کابل تر لاړو، آمیر امان الله خان سره یې لیدلي وو، هغه ورته ډېره تسلي ورکړې وه، مګر حقیقت بل څه ؤ، دوئ چې واپس راغلل، ددوئ په وطن پرنګي دهوا نه ګوله باري، بمباري، کوله، چې دغه ددوئ دپاره بالکل دحیرانتیا اونوے فوجي عذاب ؤ، یوځل بیا یې دهند فوج په وزیرستان ورسم کړے ؤ که څه هم افغان امیر پرنګي تر سخت احتجاجونو وکړل، مګر پرنګي خپل بدل له وزیرستان نه واخیستو.

دوزیرستان په تاریخ کښې جنګونه، شوي دي، هانسې تنګی او باروره تنګی کښې دومره سخت جنګ وشوچې پرنګیان یې پخپله حیران کړل، دسړي غرمې نه یې تر ډېره شپه جوړه کړې وه. دلته بیا پرنګی لیکي:

د دې نه معلومیږي چې د پرنګیا نو محسود بدي شول، او کله نه کله یې ښه ورسره بیان کړي دي، خو حقیقت دغه دے چې دوئ ډېر په عذاب وو، د ۱۹۱۹-افغاني د ریم جنګ نه تر ۱۹٤۷ پورې پرنګي په وزیرستان متاوتره بمباري کړیلې. او خپل بدل یې ښه اخیستے دے.

همدغه شان افغاني حکومت خپل استقلال واخیستو، خو لا تدې پښتانه دغسې ترنن ورځې پورې پاتې شول، همدغه وجه وه چې پرنګي د د ریم جنګ نه پس قبائیلي علاقو کښې پخې چونې جوړې کړې، وزیرستان یې ټول فوجي کیمپ کړو، میرانشاه وانه لاندې، رزمک کښې یې فوجونه میشته کړل، اوس دوه خطرې وې، یوه د آزاد افغانستان او بله د سوشلټی روس نه. نو ځکه د پښتونو نه لنډې کوتل ته په بیړه بیړه پرنګي د اور کاږي لاړ جوړ کړه، او امان الله خان د پرنګي په سترګو کښې اغزی ؤ، نو هند کښې یې د خلافت په نوم خلک ولمسول چې هجرت وکړي، او ورکو نتے او غریب افغانستان نوے نوے، حکومت ته مسئلې جوړې کړي، دا افغانستان د پرنګیا نو سره د جنګ بندی په وجه چې کومه مایوسي هندي او خاصکر پښتنو کښې خوره شوې وه، هغه زه دلته د بدرشومیاں اکبرشاه تاثرات بیان نه وو.

«د آزادی تلاش» د کتاب نوم، لیکوال اکبرشاه بدرشی.

« په جبل سراج باندې شين تندر »

پد ې شان په جبل سراج کښې ورځې تيريد ې، موږ دوو قواعدو له به راتر چا ميلمستيا کړې وه، اوله به موخوک ميلمانه وو هرخوا خوشحالي وه. د جبل سراج ښه موسم خپل اثر ورځ په ورځ ښودلو، په دويمه او دريمه به جلسې وې، موږ پوه وچې د هندوستان قانوني قيود په مونه نږه نشته، چې څه مو په زړه وو هغه مو په خوله وو، تقريرونو د موسيقۍ کار کولو، آزادي لوئ نعمت دے، او بيا د هغه خلکو دپاره چې ازادي يې نه وي ليدلي او ناڅاپه يې وموصي، موږ ځان بې زنځيره محسوس کړو، او ځکه ډېر خوشحاله وو، خو افسوس پر ده زړ پور تر شوه، زموږ په خيال کښې چې . . . مستقبل کوم تصوير ؤ، هغه پاتې نه شو، زموږ په زړونو کښې څه وو، او راپيښ څه شول، موږ زړه په زړه کښې څه کړل او څه ربيل او «امان افغان» د کابل اخبار راتر جولۍ کښې څه راواچول، د امان افغان خبر اثر دومره زيات ؤ، چې زه کد يې هرڅومره په تحرير کښې راولمه نه شي راتلے. دې خبر مهاجر وچت کړل، پياده يې روان کړل، وږي تږي يې د افغانستان په غرونو او ميرو سر کړل، ترکستان يې روس ته ورسول، د قفقاز په غرونو يې پياده اناطول ته ورواړول او بيرته يې مصيبت زده خو هوښيار وطن ته راستون کړل.

هغه خبر داؤ :

«زمونږه او دانګریزانو ترمینځ عارضي صلح وشوه ، د راولپینډۍ په مقام به اوس زمونږه او دانګریزانو دنمایندګانو ترمینځ ګفت و شنید کیږي ، غیور افغان قوم به دخپلې توګې میوه زر حاصله کړي ».

دا خبر نه ؤ تندر ؤ چې دجبل سراج دخوشحالۍ نه ډکې فضا باندې راپریوتو ، د هر مهاجر مخ دغصې نه تک سور شو ، یو پکښې اووې : حکومت افغانستان پښتون قوم سره دوهکه وکړه ، بل پرې چیغه ووکړه « اسلام سره یې ولرکړه څه ؟ » یو بل پرې اواز وکړ چې اوس په افغانستان او هندوستان کښې څه فرق پاتې شو ، او پخپله یې اواز وکړو هیڅ . »

ددې بیان نه معلومیږي چې کوزو پښتنو او هندوستانیانو کوم توقعات دافغانستان سره تړلي وو ، دغه ټول جذباتي وو او د حقیقت په ځای په خواهشاتو او هوائي خیالاتو ، ولاړ وو ، دوئګ ته پته نه وه چې دافغانستان حکومت سره نه پیسې وې او نه اصلحه ، کوم کار چې امان الله خان کړے ؤ ، هغه ایشیا کښې چا نه ؤ کړے ، مګر حقیقت دا ؤ چې دومره قوت هم نه و ، چې هند یې هم آزاد کړے وے ، دوستو حالاتو نو ثابته کړه چې خپل کور یې دپرنګي ددلالانو نه

ړک ؤ، په قلاره یې نه پرېښوده.

دریم افغاني پرنګي جنګ د صلح او لوظنامې مطابق افغانستان یو آزاد او خپلواکه هیواد شو، هغه توړ لوظنامه ختمه شوه، چې کومه چې د ۱۸۷۹ دګندومک د معاهدې، په وجه د افغانانو غاړه کښې وه، د دوئ خارجه سیاست د پرنګیانو په لاس کښې ؤ.

اګست ۱۹۱۹ کښې صلح په پښاوري کښې وشوه، د راولپنډی د روغې شرطونه دغه وو:

(۱) امیر امان الله خان د افغانستان خود مختیار بادشاه تسلیم شو.

(۲) امیر افغانستان ته د تاج برطانیه سالانه پنشن، بند شو. امان الله خان د دې کامیابۍ په وجه پرېښتنو کښې ډېر مقبول شو، او هر دریم او څلورم هلك نوم امان الله خان کېښودل شو. افغاني دریم جنګ د دنیا ته او خاصکر هندوستاني قوم ته لاره وښودله، چې جرأت وي، نو ورکوټه قوم هم آزادي ترلاسه کولے شي، هم د دې جنګ اثرات په هندوستان پرې وتل، ګاندهي جي د کانګرس نه د سفارش ګوند په ځائ د آزادۍ غوښتنې جوړ کړو، چې روستو یې هند آزاد کړو، او بله فایده لاندې پښتنو ته دغه وه چې راتلونکي وخت دپاره د افغان

باچا خان په ښه حوا نی کښې په سیاسي سړو تودوپوه شو، د عمل ډګر ته یې راووتو، اوپخپلو سترګو یې ولیدل اوتجربې یې وکړې، چې د پرنګي نه آزادي ګټل د څو ګرمو ګرمو تقریرونو په ذریعه ګرانه ده، دغه جنګ اوجهدوجهد اوږد او صبرناک او د سړې سینې کار دے همدغه وجه وه چې باچا خان یوځل بیا خپله سیاسي رفاهي کار شروع کړ، نو نه پښیمانه شو اونه روسټ شو، اونه بې صبر شو، اوپه تاریخي لحاظ یې د غازي امان الله خان او حاجی ترنګزو، غوریخنګ یې مخ په وړاندے یوړو، چې په ۱۹۴۷ کښې د پرنګي بستره د هند نه ګول شوه چې کومه خپیره پرنګي دریم افغاني پرنګي جنګ کښې خوړلې وه، نو ۲۸ کاله کښې نه صرف هندځینې پاتې شو، بلکې توله نړۍ کښې وربسې غوغا شوه او پخپله جزیره ورننوتو.

د خلافت تحریک او باچا خان

باچا خان خپله د خلافت متعلق لیکي: «کتاب زماڅوند اوجدوجهد». په دې وروستو کښې د ترکانو په ټول وطن د اتحادیانو قبضه وه، مصطفیٰ کمال او د هغه ملګري د دوئ برخلاف جنګ شروع کړے ؤ، په هندوستان کښې د خلافت د پاره مسلمانانو

یو لوئ ریجی تیش (تحریک) شروع کړے وُ، ځای په ځای
یې کیمټي جوړې کړې وې، جلسې جلوسونه به کېدل.

د هندوستان مسلمانان عجب خلک وو، په جنګ کښې تولو
نه زیات د پرنګیانو امداد دوئ کړے و، د دوئ مشرانو ورله
برتی وکړې وې، ملایانو، زبرګانو او مذهبي پیشوایانو
د پرنګي په طرفداری د ترکو برخلاف فتوئ ورکړې وه
خلافت دوئ تباکړے وُ، که دوئ دا فکر مخکښې کړے وایئ
ډېره فایده به یې ورسولې وه، خو دښت نه داهم ښه وو.

د دهلي د خلافت د کمیټي د جلسې متعلق لیکی:

«۱۹۲۰ کال په نیمایي د خلافت کمیټي له طرفه په دهلي
کښې دیو جلسې اعلان وشو او ورسره د دې خبرې اعلان هم
وشو، چې هغه خلک به پدې جلسه کښې شریکیږي چې کفن
به یې په سر تړلے وي، نوزه هم پدې جلسه کښې شریک شوم.
ډېره لویه جلسه وه د هندوستان د هرې برخې مسلمانان
ورله راغلي وو، عزیز هندي یو جذباتي نوجوان هلک وُ
هغه په جلسه کښې د هجرت کولو تجویز وړاندې کول غوښتل
داکثرو مشرانو دا رایه نه وه، هغو ډېر پوه کړو چې اوس
د دې تجویز د وړاندې کېدو موقع نه ده، خو هغه منع نه
شو، او خپل تجویز یې وړاندې کړو، مسلمانان خو یو جذباتي
قوم دے، دې ته یې ونه کتل، چې د دې نتیجه به څه وي

وړاندې کېدو سره یې تجویز پاس کړو، د هجرت خبر چې په ملک کښې خور شو، پېښور ته ورو ورو، وړې وړې قافلې راروانې شوې، پېښور کښې د دوئ د امداد، او آرام د پاره د هجرت کمیټي جوړه شوه. دا قافلې چې له هندوستان نه راتللې په ستیشنو به یې خلکو ډېر تاوده استقبالونه کول او په پېښور کښې به یې جلوسونه وتل، پرنګیانو خواول د هجرت سخت مخالفت وکړو، ځکه چې هغه ځان د پاره دا یو خطرناک کار ګڼلو، ولې چې پوه شو چې خلک به هیڅ شان نه منع کیږي، نو بیا یې دا کوښښ وکړ، چې خو مره کېدای شي هغومره ډېر خلک په هجرت لاړ شي، پښتانه خو د نورو خلکو په شان نه وو، هغوئ چې دا تماشه لیده، ډېر اثر یې پرې وکړو، ملایانو به هم وعظونه کول، چې هجرت فرض دے او که چا هجرت ونه کړ بنځه یې طلاقیږي، دا سې حالت په ملک کښې پیدا شول، چې بې د هجرت نه بلې خبرې اورېدو ته څوک تیار نه وو، د حکومت له خوا هم قسم قسم اوازې خورېدلې نو او بنځې هجرت ته تیار شول.»

باچا خان د هجرت مطابق لیکي:

«چې چا به هجرت نه کولو خلکو به ورته په بد نظر کتل، نو ما دیو ې جلسې انتظام وکړ، زموږ په کلي کښې لویه جلسه جوړه شوه د ډېر خلک پکښې راجمع شوي وو

په جلسه کښې مې داووې ؛ چې تا سولې صبر وکړئ . زه به خو کسان کابل ته ولیږم چې هغه موږ خپل چشم دیده حالت راوړي او موږ په حالاتو خبر اوپوه شو ، نو بیا به دهجرت په باره کښې فیصله کوو ، ما چې دا تجویز پیش کړو ، زموږ د کلي عادل شاه نومي یو پیرو هغه سخت مخالفت وکړو ، وې ویل موږ نه خپلې ښځې کوره کانو ته نه شو پرېښودلے ، که ته هجرت ته تیار نې مه ځه ، خو نور مه منع کوه ، موږ که خدای ته منظور ره ، وې سبا وختي روانیږو ، اوس په هندوستان کښې ولګیده او وسوځیدلے پښتونخوا ، که بره وه که کوره تالا والا شوه ، او کروړو ته روپۍ نقصان وشو ، خصوصاً چې د سندهو د خلکو قافله چې د جونیجو صاحب په مشرۍ کښې پېښور ته راورسیده په پښتنو کښې اوس ولګیدو ، نو زما ښځې په هجرت روان شول ، دا خو محمد علي او شوکت علي امان الله خان ته دا پیغام لیږلے ؤ ، چې ته د هجرت د منلو علان وکړه ، چې په پرنګیانو باندې د دې خبرې اثر پریوځي ، او زموږ د خلافت تحریک ته پکښې فایده ورسیږي ،

اخیر زه هم مجبور شوم د قوم په ملګرتیا دیوورکوټې قافلې سره چې ټول ځوانان وو ، د شوقدر او مومندو په لار پیاده افغانستان ته روان شو ».

همدارنګه یو بل ځای لیکي : خو ورځې وروسته هاشم خان کابل-

ته زما دتللو بندوبست وکړو، موږ ته د جلال آباد نه کابل تر دخوګیانو دغلې په لاړ روان شو، په کندمک کښې عادل شاه پیر دخپلو ښځو نزو ملګرو سره په لخه راغلل، چې واپس وطن ته راروان وو، ما ورته وویل: پیر صاحب دا ښځې مو بیرته ګورګانو ته روانې کړیدې؟ ده راته وویل: چې څه وکړو، هلته هم دښځو له لاسه تنګ وو، چې ځئ هجرت وکړئ، او دلته هم ښځو تنګ کړو، چې په دې ملک کښې ګوزار نه کړاتر ده بیرته یې روان کړي یوو».

باچاخان دخلافت تحریک او دپرنګیانو دجاسوسانو او پښتنو بې صبرۍ او دغازي امان الله خان متعلق په خپل قلم داسې لیکي:

«موږ چې کابل ته راورسیدو دلاهورۍ دروازې سره ډېرې ونې ولاړې وې، مهاجرینو دلته اړولې وو، موږ هم ددوئ سره یوځائ واړول، زموږ دپاره حکومت بیل انتظام کړے وو، خو زه دعا مومهاجرینو نه، نه بیلیدم، په کابل کښې دټول هندوستان یوه شپاړس کسیزه کیمټي وه، چې زه او رضا خان ارباب هم دهغې ممبران وو، ددې کیمټۍ په ذریعه به دمهاجرینو ارتباط دافغانستان دحکومت سره وُ، څه وخت چې دمهاجرینو دقافلو تعداد شلو دیرشو زرو ته ورسیدو، حکومت

کمیټې ته ویل: چې افغانستان خو یو ورکوټې ملک دے، دا دو مره خلک پکښې ځائیدائے نه شي، تاسو مهربانی وکړئ دا هجرت بند کړئ، نو مونږ عباس خان ولیږو، چې دا خبره هلته پېښنور ته ورسوي، هغه تر جلال آباد پورې لاړ، او دا خبر یې پېښنور ته ورساوه،.

امان الله خان مونږ ته وویل: چې زه د پرنګي د جنګ زور نه لرم، که تاسې ورسره په کومه طریقه جنګ کولے شئ او خپل ملک آزاد ولے شئ، زه تاسو سره مرسته ضروري کوم ځکه پرنګے نور مار دے. هیڅ اعتبار پرې نشته، چې زما خوا کښې پروت دے، زه تر ې په داړه زړه خوب نه شم کولے دا ویره راسره وي چې اوس به مې خوري،.

هغه مونږ ته دوه لارې مخکښې کړې، وې ویل: که نوکرې کوئ مونږ به ستاسو ځوانان بهرتي کړو، بیلې پلټنې به در ته جوړې کړو، تربیت به درکړو، که مو دا نکوینس سره جنګ کولے شو وبه یې کړئ، که ځکې غواړئ نو په کندوز او مزار شریف کښې مونږ ه ځمکې لرو، هغه به درکړو، تاسو خپله یوه کالونۍ جوړه کړئ او خپل انتظام په خپله ځان له وکړئ. په کومه سیمه کښې چې مونږه یې تاسې ته درکوو په هغې کښې به ټول واک اختیار ستاسې خپل وي، او که د بیرون حکومتونو سره تعلقات ساتئ هم ساتلے یې شئ، مهاجرینو

ته یې وویل: چې که تاسې نوکري غواړئ هم او که ځمکې غواړئ هم او که تجارت غواړئ هم درسره امداد کوم. موږ به راغلو خپلو ملګرو سره به موږ سلامشوره وکړه، د ټولو مهاجرینو په اتفاق به مو داخبره غوره کړه چې بس موږ تر دې، عسکري ترنینګ راکړل شي، موږ برتې کیږو، موږ به پلټنو تشکیل هم جوړ کړو، موږ به راپاڅیدو چې حکومت سره خبره فیصله کړو، چې زموږ دپاره انتظام وکړي نو د پرنګیانو مخبرانو «جاسوسانو» ته چې هجرت کښې راغلي وو موقع په لاس ورغله، یو مخبیر به پکښې پاڅیدو او ویل به یې: چې موږ خو په ځمکې پسې نه وو، راغلي نه نوکري پسې راغلي وو، موږ په جهاد پسې راغلي وو، چې زموږ د هجرت غرض نه تر سره کیږي او افغانستان د پرنګیانو سره جنګ نه کوي، نو نور موږ ه دلته څه کوو، زه خو بیرته ځم. هغه پسې به یو بل مخبیر پاڅیده هغه به وو چې بالکل ټیک خبره ده، زه هم ځم، چې دې به پاڅیده یو ډله به ورپسې پاڅیده، دغسې به په ډله کښې ما تې کړه شوه، یو کس ما پسې رامنډه کړه، چې ته ده حکومت سره خبرې مه کوه، یو ځل راشه. چې بیرته به راغلم ټول به تلي وو، بیا ما دوئ ته دا خبره وراندې کړه، چې راځئ چې دا ځمکې واخلو، او زه هم درسره ځم، مګر دوئ

دې ته هم تیار نه شول،.

څرنګه چې پښتانه په را تلوکښې ګړندي وو، دغسې په واپس تلوکښې هم ګړندي وو، نو دغه شان مهاجرین بیرته وروو ستنیدل، ډېر لږ کسان پاتې شول، هغوئ په افغانستان کښې استوګنه غوره کړه، چا نوکري واخیستې چا ځمکې.

دغه شان هجرت ناکام شو، دهندوستان مسلمانانو او خصوصاً پښتنو ته د دې هجرت ډېر تاوان ورسېده افغانستان ته یې هم نقصان وشو،.

دامان الله خان په ورکولو پسې پرنګیانو له هېدې، وخت نه ملا وتړله، فایده یې یوازې انګریز ته ورسېده. زما څه ملګري تاشکند ته لاړل، چې روس به موږ سره د هند په ازادولو کښې مرسته وکړي، زه په کابل کښې دیو څو ملګرو سره پاتې شوم، یوه ورځ زه دامان الله خان ملاقات ته تللے وم، ډېرې خبرې مې ورسره وشوې، په خبرو خبرو کښې مې ورته داووے، تاله ترکي درځي، فارسي درځي او نورې ژبې هم درځي، خو خپله ژبه نه درځي، زما خبرې په هغه باندې ډېر اثر وکړو، او وعده یې راسره وکړه چې زده کوم یې، کله چې له افغانستان نه وایستل شو، زه بمبئ ته وراغلم، نو هلته یې ما سره پښتو کښې خبرې وکړې.

دغه شان مې محمود طرزي صاحب سره چې د افغانستان

وزیر خارجه او ډېر لائق سړے ؤ، په یوه لویه میلمستیا
چې د مهاجرینو د پاره کړې وه، د ژبې بحث راغئ
یو سړي ورته پوښتنه وکړه، د اخنګه افغانستان دے،
په افغاني (پښتو) پکښې نه شته، طرزي صاحب وویل،
چې پارسي زموږ د ملک ژبه ده، نو ما ورته وویل، چې
طرزي صاحب پښتو خو د افغانستان ملي ژبه ده، او د
اکثریت ژبه ده، په ټوله دنیا کښې د اکثریت ژبه هم سرکاري
وي، هم دفتري وي، هم تعلیمي وي،.

دغه ؤ د باچا خان د لاس لیکلے داستان. چې ده د خلافت
تحریک متعلق کتورې خبرې وې چې د دې پس منظر باندې
سړئ ښه پوهیدے شي، چې خلافت تحریک یو جذباتي بغیر
څه خاص سوچ شوې منصوبې نه شروع شوے ؤ، دیوه
ځوان هلک په تجویز ټول مسلمانان راوپاریدل، او هجرت یې
شروع کړو، دغه پته ورته نه وه چې مسله ترکي کښې ده
موږ ته هندوستان نه افغانستان ته ځو، پکار داسې وو چې
دوئ باندې ترکان یا خلافت دومره ګران ؤ، د باچا خان د خولې
خبره نو پرنګي په حق کښې یې فتوې نه وې ورکړے، او خپل
بچي یې د پرنګي د پاره نه وے قربان کړے، دوئ اول خلافت
پرنګ کړو، بیا یې جوړ ولو، بیا یې پخپله جنګ نه کولو، په افغانستان
یې جنګ کولو، افغانستان. مشرانو چې کوم طاقت ؤ، هغه دوئ،

دهندي خلافت مشرانو نه بغير هيڅ ۱۹۱۹ کښې دپرنګي خلاف وجنګيده، خپله آزادي يې واخيسته، نور توان يې نه وو. مګر ددې سره دباچاخان تجربه وشوه، چې جذباتي او بغير سوچ شوې منصوبې يا تحريک همدغه حال وي چې روسته دده په سياسي ژوند کښې دپرول لرلو، او بل ورته افغانستان معلوم شو، چې تش نوم دے، نور غريب او په فوجي توګه يو کمزورے هيواد دے، نو ځکه باچاخان پخپل ځان او لاندې پښتونخوا کښې د موجودو حالاتو مطابق خپل سياسي کار شروع کړو، بغير ددې نه چې دکابل په طمه ناست وي، چې هندوستان به آزاد وي، او بل ورته دژبې متعلق معلومه شوه، چې دوئ ځانو ته افغانان وايي، مګر پښتو ژبې ته يې شا اړولې ده، نو ده دغه نوټ کړه خپل سياسي ژوند کښې يې خپله پښتو ژبې ته يو مرکزي رول ورکړو. دغه دباچاخان دپاره چې لاځوان و دپرې ګټورې تجربې وې او دخيالي جهادي اولينديې اوغشو دجنګ نه شلې پيرې حقيقتو ته راکوز شو، او دپرنګي خلاف يې يوه نه سترې کيدونکې او نه پخلا کيدونکې مبارزه شروع کړه چې ميوه يې تر نن ورځې پورې موږ نه خوړو.

زه پخپله د سمبر ۱۹۹۲ کښې ترکې ته دسيل دپاره تلے وم، موږ نه يو ګروپ کښې سره يوځای شوو او ترک،

د سیلاب نیانو د دفترلخوا په مختلفو تاریخي اواثار قدیمه ښارونو
باندې پې وګرځولو، د ترکې مشهور ښار ان طالیه چې د
دسمندر بحر روم په غاړه پروت دے، ورته د تورسیتو مکه
وایي، نه موخپل ګرځنده سفر شروع کړو، اول موداتیک
دوخت زاړه ښارونه وکتل، بیا استنبول، بورسا او نور
ښارونه وکتل، نو دې دوران کښې ماته خلافت مومنټ،
رایاد شو، ما د ترکې ترجمان سره په دې باب ډېرې خبرې
وکړې، دے ډېر خبر سړے ؤ، ده راته ویل: خلافت
تش په نوم پاتې ؤ، اخلاقي لحاظه خلیفه او ده درباریان
ټول بد اخلاقه او عیاش خلک ؤو، ده وویل، چې ۱۴۵۲
کښې عثماني خلیفه کانو موجوده استنبول قبضه کړیدے
مونږه د یورپ سره جوخت یو، یورپ کوم ځای ته ورسیدے
او مونږ کوم ځای ولاړ یو چې موټر او جهاز خوپر پرده
چې د سړي توب ټوپک هم نه شو جوړولی، دغه ټوله زمونږ
د خلیفه کانو بې غوري او عیاشي وه، دوئ تش بنځو او
شرابو پسې ګرځیدل، نو داسې "INSTITUNION" بیرته
جوړول کم عقلي ده، دویل: مصطفیٰ کمال مونږه د
مذهبي تیارخورو، نه خلاص کړو، هم ددې ترجمان
دخبرو سره ځماهم اتفاق دے، چې اخیري وختونو
کښې خلیفه تش په نوم پاتې ؤ، دوئ خپل قوم ته نړاقصادي

ترقي ورکړه او نه ساتنې ، د ترکې خلیفه‌گان تر اول جنگ
عظیم پورې د پرنگیانو او فرانسویان ملگري وو، دا،
ځکه چې تر دې وخته پورې د دوئ خلاف بالکان او ایشیا
کښې روس، او اسټریا مخالف وو، پرنگیان او فرانسویان
پدې سره راضي وو، چې روس او اسټریا دې مضبوط نه شي. نو
نو دوئ به دخپل مفادو دپاره همیشه ترکې سره کمک کولو، او
بل پرنگیان په خپل هند باندې ډاریدل، نو هرځائ کښې چې
به روس ته عذاب جوړیده دوئ به یې کمک کولو، تر دې
پورې چې ۱۹۰۲ کښې د جاپان سره د روس خلاف معاهده وکړه
هم دغه وجه وه چې ۱۹۰٤ - او ۱۹۰۵ - سمندري جنگونو،
کښې جاپانیانو مشرقي بعید کښې روسان و ډبول، او د
پرنگیانو ښتر په یخ شو، دا ځکه چې دوئ سره خطره وه،
چې روس په هند راشي، نو دوئ د ترکانو سره د پرښه تعلقات
وُ، تر دې حده پورې چې ترکان همیشه د پرنگیانو او
افغانانو، جگړو، کښې د پرنگي ملاتړ کاوه، دا ځکه چې
پرنگي به چیغې جوړې کړې وې، چې امیر شرعلي خان
د روس ملگرے دے او د روس او ترک خو ډېره پخوانۍ بلدۍ
وه، مگر د دې دغه مطلب نه وُ، چې کنې ترکان د پرنگیانو
د تروړ زامن وو، خو د هغې وخت جیوپولتیکل تقاضې
دا سې وه، د ۱۹۰٤ - ۱۹۰۵ - د جنگ نه پس روس خپله توله توجو

بالکان ته راواړوله، سلاویش قومونه څوک د استریا او څوک
د ترکې لاندې وو، یو بل یورپي طاقت جرمني جوړ یدو، نو
د جرمني دویرې ته روس، او فرانس سره نږدې شول،
بیا فرانس په کوښښ روس او برطانیه سره نږدې شول،
په ۱۹۰۷ کښې یې معاهده سره وکړه، د هند دنیولو خطره
ورکه شوه، اوس روس، بالکاني سیاست کښې سلاویش
قومونه د ترکو، خلاف راپورتکول، ۱۹۱۲- ۱۹۱۳ کښې
بالکان د پوړو ډیپو شوه، مګر دلته د استریا سلطنت -
لاندې هم سلاویش و، نو ځکه بالکان کښې پخواني دوستان
روس او استریا سره دښمنان شول، او پخواني دښمنان
ترک او استریا د مشترکې مسلې په وجه سره ملګري شول
چې د دوئ ملګرے جرمنئ هم شو، چونکه پخوا د پرنګیا سره او
فرانسویانو مفاد پدې کښې وو چې ترک د روس خلاف ټینګ او
ملاتړ کړي، اوس یې فایده دې کښې وه چې ترک ختم
کړي، هرچا ته دا معلومه ده، چې اګست ۱۹۱٤ کښې اول جنګ
عظیم شروع شو چې خلافت ترکي، هنګري، استریا
سلطنت، او جرمن سلطنت ماتې وخوړله، روس دلنین
په وجه بالکل بله لاره ونیوله، پرنګیانو او فرانسویانو
د عثمانیه خلافت حصې سره تقسیم کړې، عرب یې اول
پدې طمه راپورتکړل، چې دوئ ته به واک ورکاوو.

روستو یې وړ سره دهوکه او کړه، شام، لبنان فرانس، قبضه کړل، اردن، فلسطین او عراق برطانیه وګټې وا خیسته، دغه اوستی ترکیه هم ختمه وه. پدې باندې اټلی، یونان قبضه کړې وه، خلیفه او دده درباریان په دې راضي وو، چې دوئ ته صرف استنبول خوا شاه علاقې ورکړې وې، نور ترکۍ قوم تباؤ، دپاسه یې ارمنیا پر راسوره کړې وه، ترک ورکۍ وو، خلیفه دخپل ارام تیرولو دپاره دې ته هم تیار ؤ مګر مصطفیٰ کمال، عصمت انونو، دملي مجلس نږ بغاوت وکړو، انا طولیه ته پټ په پټه راغلل، د ګوریلا جنګ یې شروع کړو، خلیفه خو د اتحادیانو ایجنټ جوړ شوے ؤ، د مصطفیٰ کمال خلاف یې دنیولو حکم جاري کړو، مولویانو شیخ اسلام او پیرانو فتوئ ورکړې چې قتل یې روا دے، داځکه چې ده دخلیفه دوخت د حکم نه انکار کړے دے، مګر ترکۍ قوم دومره بې علمه نه ؤ، لکه موږ ته پښتانه، چې امان الله غوندې پر وطن مین بادشاه یې دپښتنو د بې علمۍ په وجه دوطن نږ ګټیانو او ملایانو وه شړلو، ترکې خلیفه دجنګ او ماتې نږ پس هم دعیش وعشرت نږ لاس وا نږ خیسته، دے ۶۰ کلن ؤ او نوې ښځه یې ۱۹ کلنه وه چې نوزت نومیده "NOZAT" چونکه ترکې دجنګ عظیم په وجه زړلے ؤ، فوج یې

کړو وړو ، اسلحه او ذرائع یې قبضه شوې وې ، د دوی اتحادیان
جرمني او سمتریا ختم شوي وو ، چې د اسلحې مدد یې ورکړے
وائي ، نو مصطفیٰ کمال په تش لاس د اتحادیانو خلاف را
پورته شو ، اناطولیه ته چې راغئ ، نو سړي ورسره نه
وو ، ترکان څوک قیدوُو ، څوک شهیدان ، او ډیر تعداد
یې معذروُو ، عیبي شوي وو ، نو د ده په لښکرکښې ترکي ښځې
او پیغلې برتې شوې ، دوې داسې په بهادرۍ سره وجنګیدې
چې دنیا یې حیرانه کړه ، دے ترجمان راته خبره کوله ، چې
دوئ یعنې ترکې ښځې به په تش لاس د یونانیانو نو په موږ چو
ورختې ، خاصکر هغه کونډې ښځې چې د دوئ خاوندان
شهیدان شوي وو ، نو دوئ د خپلو خاوندانو مشن مخ
په وړاندې وړو ، دوئ سره تبران ، توره ، لکړې ، کوتک
او کانړې وو ، او د ښمن باندې ورتلې ، د قومي جذبې
نه داسې ډکې وې ، چې یونانیان یې ټښتې ته اړ کړل
اتلي توبه وو یستله دے ترجمان راته ویل : چې خیرالدین
نومې ؤ چې نور به دې څه تنګوم ، خو دغه وګنه چې دغه
موجوده ترکیه ، جمهوریت موږ نه ترکو ښځو او پیغلو
ګټلے دے ، نو ځکه مصطفیٰ کمال دوئ ته د وسره آزادي او
حقوق ورکړل ، چې مصطفیٰ کمال به په جار ویل : چې زما
ترک ځوانان څوک مړه او څوک ورک وو ، مګر زما لښکر ترکې

پیغلي وې، او دوئ دغه ملي غرور پرځاے کړ.

اوبل مصطفی کمال سړ یو تکړه جنرال عصمت ؤ، چې ده یونانیانو تر دانونو په مقام فیصله کن شکست ورکړ، اوداسې حال ؤ چې دپر یونانیان مړ شول، ځینې ژوندې سمندر تر ولویدل، ځینو لمبې وهلې وړې وړې یوناني جزیرو ته ورسیدل، نو روستو عصمت د انونو ... په نوم مشهور شو.

مصطفی کمال روروده موجوده ترکې نه یونانیان، اتلیان، آرمنیان، پرنګیان، اوفرانسویان ټول وامړه وارځوک بې وشړل اوځینې یې لوظنامې ته تیار کړل، نو ۲٤ جولای ۱۹۲۳- کښې یوه لوظنامه سړ وکړه چې دلوزان په نوم مشهور ده د دې معاهدې، مطابق د موجوده ترکې سرحدونه وټاکل شول او ومنل شول، او مصطفی کمال خلافت پرنګ اعلان کړو، اوترکي جمهوریت یې اعلان کړو، خلیفه اخیر ABDUL MAJID یورپ ته لاړو، مصطفی کمال پخپله هم یو قابل جنرال ؤ، مګر ځینې نور بهرني عوامل وو، چې د ده سره یې ملګرتیا وکړه، چې هغه د افغانستان آزادي وه، چې پرنګیان یې ورخطا کړل، ایران کښې حالات ګډوډ وو، قاچاریانو د سلطنت اخري سلګۍ وې، ټول ایران کښې دغلو او راکمارانو غوبلې وې، هندوستان پخپله راپورتر شوے ؤ، اوبل د پرنګیانو هغه مقصد پوره شوے ؤ، یعنې دوی ترکیه ټکړې ټکړې کړې وه، دعراق دحکومت دنوم لاندې

یې د ترکانو نه د کردانو، حصې علاقې بیلې کړې، پدې وجه چې کیرکوک کښې تیل وو، نو د وې د عراق بادشاه تر ورکړے، داځکه چې ۱۸۹۰ کښې نه پس تیل د جهاني فوجي او اقتصادي سیاست کښې کال په کال، اهم کیدل، د موصل اوسلمانیه کردان ترنن وخې پورې د عراق ترجع لاندې دي، او بل غټ کګ د مصطفیٰ کمال د بري چې سبب شو، هغه دلیتن سوشاسټ انقلاب ؤ چې مغرب یې وړ خطا کړے ؤ، او سرکښې د دوئ خیال ؤ چې ناکام به شي، مګر ۲۴-۱۹۲۳ پورې سوفوج کامیاب شو، نو مغربي سامراجي طاقتونو وار خطا شول، چې اذربائي جان او ارمنیه او جارجیا په لاره ترکې تر او بیا مشرق اسطنبول تر راکوز نه شي، نه چې مصطفیٰ کمال بر او منیا ډوله دوئ به غلي وو. داځکه چې روسي انقلاب نه وروستر مصطفیٰ کمال یو په لاکهه بنه ؤ، نو دوئ مجبور شول چې دلوزان معاهده د ترکې سره لاس لیک کړي.

مصطفیٰ کمال د مذهبي سیاست نه لاس واخیسته، خلافت یې رنګ کړو، او مذهب او سیاست یې سره جدا کړل، او جدید سیکولر ترکې جمهوریت بنیاد یې کېښود، د عربي پرځاے یې ترکي ژبه په لاطني «رومي» توریو باندې واړوله، عربي توریو کښې لیکل بند شول، د ښځې او نر حقوق یې برابر اعلان کړل، ټول جماعتونه او مذهبي ځایونه یې د ریاست په قبضه کښې وکړل

یعنې ترکي جمهوریت د اسلام په واک کښې نه ؤ، بلکې اسلام یې د ریاست تر واک لاندې کړو، په عربي کښې یې اذان بند کړو په ترکي ترجمه شو، مګر په ۱۹۵۰ کښې بیرته اذان په عربي کښې شو،.

دغه ټول ردِعمل د عربو د اول جنګ عظیم په وخت غدارۍ په وجه ؤ، چې مصطفیٰ کمال او ترکانو د عربو نه نفرت کولو کوټ پتلون د ترکې د قوم لباس شو، چادرې او پردې یې ختمې کړې، ښځې بربنډې مخ ګرځیدے شوې، تعلیم یې په نړاو ښځه لازمي کړو، خپل سیاست یې د بل چا د کورنۍ چارو کښې ګوټ نه وهلو په سنټ کښې نود، د استنبول په ځائے یې انقره په انا طولیه کښې بنوے، ناستون، جوړ کړو، د ترکې فوج، سیاست او زراعت یې جدید کړو، او ترکو ورته د پیرے مینې او عزت نه اتا ترک خطاب ورکړو، یعنې د ترکانو پلار،، ده خپل ټول عمر کښې واده ونه کړ، ټول ژوند یې د ترکي قوم د خدمت له پاره وقف کړی ؤ، تر ۱۹۳۷ پورې ژوندے ؤ، ترکانو باندې ترنن ورځې پورې ډېر کران دے، او ډېر قدر یې کوي دده په ژوند باندې څو ځله حملې وشوې، مګر خدای بچ کړے دے، یوه خطرناکه حمله د میاں اکبرشاه بدرشي د بیان مطابق داسې شوې وه :د

په مصطفیٰ کمال پادشاه د بم حمله: « بل ملګرے چنګیز

ماته دخپل سفر قیصه مختصره شان وکړه، چې څنګه هغوئ اناطول ته لاړل، او بیرته راغلل، دامهاجرین دچارجوبئ نه نیغ باکو تر رسیدلي وو. او دد ې ځائ نه دترکوترنخانې سره پیاده اناطول ته روان شوي وو، چنګیز وو ے: «د قفقاز «کوه قاف» او ارض روم د غرونو منزلې دافغانستان دغرونو نه اسانه نه دي، زمونږ شپې په واورو کښې شوې دے، خودا عذاب پرېښده، تو چې ورسیدو خبر یې چې له مونږه سره څه سلوک وشو؟ یو ذلیل هندوستانی چې دوطن غدار ؤ، او د انګریز ایجنټ ؤ، نوم یې په ځان، مصطفیٰ صغیر ایښی ؤ، او دې ذلیل انسان دانګریز په وینه دترکو محبوب رهنما مصطفیٰ کمال، پاشاه دوژلو کوښښ کړے ؤ، دا بدنصیب انسان زمونږ درسیدو نر وړاندې دخپل عمل په وجه جهنم ته رسولے شوے ؤ، پداسې منحوس وخت کښې مونږه اناطول ته ورسیدو، چې هغوئ خبر شول چې هندوستانیان اناطول تر راغلي دي، او وایي چې مونږه د ترکو دامداد دپاره راغلي یو، نو مونږ تریې جواب راکړو، چې زمونږ دهندوستانیانو دامداد نه توبه ده مونږ تریې د نفرت او حقارت په نظر سره کتل، او حکم یې راکړو چې په کومه لاره راغلي یئ په هغې بیا پستینه ځئ.»

«کتاب، د آزادۍ تلاش، صفحه ۲۹۶.»

د دې نه معلومیږي چې هندوستاني هرځای دپرنګي دپاره مردار نه مردار کاں ته ملا تړلې وه، هم ددوئ په وجه اشیا غلامه وه دغه حال دهندوستان دټولو مسلمانانو نه و، مګر ترکانو پکښې داصلي اوکچه فرق نه شوکولے. مګر بل اړخ ته داسې ملي ځوانان هم وو، لکه اکبرشاه میاں چې دوئ په رښتیا دپرنګي دښمنان وو، یو دپښتون پښتون چې غالباً نوم یې - عبدالرحمٰن خان ؤ، دمصطفیٰ کمال دپر اعتبار ملګرے ؤ، او یوقسم سکرتري یې ؤ، مګر دغه پښتانه وو، او هندې مسلمانان پخپله غلامان وو، دخپلې غلامۍ علاج یې نه کولو، او ترکو دآزادۍ پسې روان وو، چې دغه پخپله یو دبل ضد دې پکار خلافت تحریک ته دغه ؤ، چې دوئ هندکښې دهندوستان اولس که هغه هندو سیکھ یا عیسیان او مسلمانان وو، یو ځای کړے وے، بیا یې آزادي اخیستې وے، دخلافت موضوع دومره جنون پیدا کړے ؤ چې مصطفیٰ صغیر (هندوستانی) په مصطفیٰ کمال پاشاه باندې بم غورځاوي، او دپرنګي خدمت کوي، هم هغه دباچا خان خبره، چې دوئ اول دخلافت او ترکو خلاف فتوے ورکولې اوخپل اولادونه یې بهرتې کول، پرنګے یې مضبوط کړو، چې ترکان یې ختم کړل اوس هندوستانیانو ته خلافت وریاد شو، نو دغه ټول تحریک بې منطقه ؤ، هیڅ پلان شوے نه ؤ، هم ددې تحریک

دمرګۍ اوختمیدو، وجه وه، خپلی منطقی نتیجې ته ورسیدو
خو هندوستان کښې غریب مسلمانان یې په عذاب کړل،
افغانستان یې کمزورنے کړو، چې پرنګي خپل سپي غازي
امان الله خان پسې خوشې کړل، چې ۱۹۲۹ کښې یې هجرت ترمجبور
کړو.

د باچاخان تعلیمي او اصلاحي هلې ځلې

باچاخان پخپله لیکي:

« دافغانستان اوآزاد قبایلو حالت مې چې ولیدو(۱۵) پنځلس کاله مې په هندوستان قبائیلو او افغانستان کښې، غرزې پرزې وکړې، نو په دې نتیجه ورسیدم، چې انقلاب د منلې کار او دومره اسان چیز نه دے. انقلاب دسړې سینې کار دے، انقلاب علم او پوهه غواړي، انقلاب عالمان او پوهان غواړي چې پوهې سره قام وروزي او، انقلاب ته یې اماده کړي، دانقلاب دپاره داشخاصو ضرورت دے، ته ګوره چې موږ جذباتي ملګري په خومره جوش، راوتلي وو، پټول لاړل خواره شول، نوکیناستم دځان سره مې ښه فکر وکړ، زه په دې نتیجه ورسیدم، چې زموږ د قام نه تجارت خواته توجه شته، نه د صنعت خواته نه دزراعت خواته او نه دتعلیم خواته. دبلې خوا په رسمونو رواجونو کښې تر غوږونو پورې ډوب دے، په خانه جنګیو، اخته دي داسې قام انقلاب نه شي کولے، او داقام د دې بلاګانو نه خلاصول

پکار دي چې سیاسي شعور پکښې پیدا شي، او داکار یوه پرامنه فضا غواړي، تر دغه وخته پورې په دې عقیده وم چې دا ټول کارونه انقلاب غواړي، تشدد راتر. دانقلاب نزدې او د کامیابۍ لارې ښکاریده، خو تجربې نه وروسته راتر معلومه شوه چې د جګړې په وخت کښې آسونه، نه تیاریږي نوځکه مې اراده وکړه، چې خپل کلي ته واپس کیږم د عدم تشدد په بنا به کار کوم، اول به دانقلابي اشخاصو د تعلیم او تربیت دپاره قومي مدرسې جوړوم، نوځکه اتمانزو تر راغلم.

زه چې د هجرتر بیرته راغلم، د هغو مدرسو د بیرته جاري کولو، کوښښ مې کولو چې پرنګیانو د جګړې په زمانه کښې بند ې کړې وې".

د باچا خان د دې بیان نه دوه شیان جوتیږي یو دغه چې باچا خان پدې اوس پورې پورې پوه شوے وُ چې دغه کارونه په منډې او بې صبرۍ نه کیږي او د ده خبرې نه دے یو سیاسي بالغ ځوان معلومیږي، دا ځکه چې دے حقیقت پسند شوے دے، او د قوم په مرضونو او دهغې په علاجونو سرسري نه بلکې ژور سوچ کوي.

دویمه تبدیلي چې پکښې ښکاري هغه دغه ده چې دا یې د بل بابا یا پیر یا مشر نوم نه اخلي، بلکې ځان تر - مخاطب دے، دغه په سیاسي ژوند کښې لوئې بدلون دے.

چې خپل احساس ژامه واري وکړي او بیا یې په بل چا نه واچوي بلکې پخپله ملاوړتر تړي ، دغه نمونه سوچ د پښتې ارادې خپل کندونه کوي چې دغه د پر عزم ژوند بنیاد دې ستې دې دلته موږ وینو چې باچا خان اول د خپل قوم مرضونه پیژندلي دي، او بیا یې دهغې دلرې کولو - کوښښونه پېګوتر کړیدي. یعنې باچاخان په دې رسیدلے دے چې دغه کار په زور نه کیږي ، بلکې عدم تشدد او مینې او وروولۍ دلارې نه کیږي. دغه هغه تبدیلي وې، چې د باچاخان د پنځلس کالو د تجربو نچوړ ؤ.

نو په ټولو مرضونو کښې باچا خان اول ګزار پرې علمي وکړو، دوئ ته پته وه چې جاهل قوم د ټولو مرضونو جاله وي، تر څو پورې چې قوم په علمي توګه روزلئ شوے نه وي دغه نورې خبرې عبث دي. نو ځکه باچا خان که څه هم د اول جنګ عظیم نه مخکښې یې په مدرسو جوړولو پیل کړے ؤ ، چې دوئ د مولدګانو نه د بچ کیدو، د پاڅ د حاجي صاحب ترنګزو د سرپرستۍ لاندې کار کولو، مګر د حاجي صاحب د ګټ نه پس دغه کار صرف او صرف باچا خان ته پاتې ؤ. اوس ده پخه اراده کړې وه، چې دغه کار به کوم ، نو باچا خان ۱۹۲۱ کښې د اتمانزو هائی سکول، بنیاد کېښود ، د دې متعلق باچاخان

پخپله لیکي :

« موږ په ۱۹۲۱ کال کښې د دوستانو په امداد پراتمانزو کښې د آزاد سکول بنیاد کېښوده ، چې په دې سکول کښې ، قاضي عطاء الله خان ، میاں احمدشاه ، حاجي عبدالغفارخان محمد عباس خان ، عبدالاکبرخان اکبر ، تاج محمد خان ، عبدالله شاه ، او خادم محمد اکبر زما ملګري وو . »

د اصلاح الدفاغنه متعلق لیکي :

« د مدرسې نن ختګ موږ د پښتنو د غلطو رسمونو او رواجونو د اصلاح کولو ، د تشدد نه د منع کولو ، او پکښې د مینې او محبت د پیدا کولو په غرض د اصلاح الدفاغنه په نامه یو انجمن جوړ کړو ، چې د دې انجمن ممبران داکسان وو :

« ۱) محمد عباس خان ، ۲ - صدر عبدالغفار خان « د واړه د اتمانزو » حاجي محمد اکرم خان د خان مامې ، ٤ - جمعدار نور محمد خان د ترنګزو ، ۵ - محمد زرین خان د ترنګزو ٦ - عبدالاکبر خان د عمرزو ، ۷ - غلام محي الدین خان د تنګي ۸ - فخر قوم میاں صاحب ، ۹ - میاں جعفرشاه د زیارت ، ۱۰ - فضل اکرم د نرۍ قلا - ۱۱ - فضل ربي د بدرګی ۱۲ - میاں احمدشاه د قاضي خیلو ۱۳ میاں عبدالله شاه ، ۱٤ خادم محمد اکبر د چارسدې ۱۵ - تاج محمد خان د چارسدې ، ۱٦ - مولانا شاه رسول د

اما زو کرې، ۱۷ - شاد محمد خان، دمیرزو، ۱۸- شیر بهادر خان
دکوټ پاني، ۱۹- جلیل خان د جلیل ۲۰- خوشحال خان دباریکاب
۲۱- شاه پسند خان دچارغلی، ۲۲- امیر ممتاز خان دبنوں، ۲۳-
پیر سید محمد جان خان دبنوں ۲٤- محمد رمضان خان د ډیرو،
۲۵- حکیم عبدالسلام دهریپور، ۲٦- میاں صاحب دپکلئ،
۲۷- قاضي عطاء الله جان دمردان، ۲۸- شین جان خان
دمحب باندې، ۲۹- علي اصغر خان وکیل دهزاری، ۳۰- افندی
صاحب دملاکنډ، ۳۱ یو ملګرے دګرور حمزه خان د اصلاح
الدفاغنه د تنظیم غنړولے او منظموالي پته د دې ملګریو
یا د مېرانو نه جوتز ده، چې دې کښې صرف دیو کلي یا یوې
ضلع خلك ندې راجمع شوي، بلکې دهغه وخت دپښتونخوا
صوبې ټول په قوم او وطن مین خلك را جمع شوي وو، چې
دهزارې نه تر ډیرو پورې دغه تنظیم خور وو، او ډیرا هم
شخصیات یکښې راجمع وو، دمثال په توګه دبنوں مشهور سیاسي
او سماجي لیډر پیر سید محمد جان خان، چې دے صرف په بنوں
کښې مشهور نه ؤ، بلکې، دخپلې ضلع او صوبې نه بهر هم
هند کښې مشهور و، چې څه وخت دخلافت په وخت کښې ټول
هندوستان باندې پرنګي یوه توره تیاره خوره کړې وه، نو دغه
نر پښتون راپاڅیدلے ؤ، او د ټول هند دپاره دامید یوه شمع
جوړه شوې وه، دلته زه د مشهور مسلمان لیډر، صحافي

اوليکوال، اولوی انقلابي شاعر مولانا ظفرعلي خان يو نظم چې
اوردو ژبه کښې يې بيرسټر محمد جان باندې ليکلی دے وړاندې
کوم: (زمیندار اخبار)

تجھے اے ہمنشین وہ دن بھی ہیں یاد
کہ پھٹ پڑنے کو ہم پر آسمان تھا
خلافت پارہ پارہ ہو چکی تھی
نشان اسلامیوں کا بے نشان تھا
اندھیرے میں بھٹکتے پھر رہے تھے
مصیبت میں ہمارا کارواں تھا
نکل کر دل سے رُک جاتی ہے فریاد
کہ جس کو دیکھئے وہ بے زباں تھا
غرض اس ابتلا میں ہر طرف سے
ہماری غیرتوں کا امتحان تھا
کیا اُس وقت جس نے سب کو بیدار
وہ ایک بیدار طالع نوجوان تھا
خدا نے کی عطا جس کو یہ توفیق
اکیلا ایک محمد جان خان[1] تھا

(1) بیرسٹر محمد جان خان

د آخیستو ځای: بنوں وزیرستان تاریخ. لیکونکی: ګل ایوب خان سیفی

دد ې نه معلومېږي چې باچاخان د پښتو نخوا ټول محب وطن خلک په دې تنظیم کښې را جمع کړي وو، او هر یو ممبر یې پرخپل خپل ځائ لوئ لوئ خلک وو، غټه لویې یې داوه چې د دوئ سوچ او فکر کښې یوالے وُ، د خپل قوم او وطن سره یې مینه وه، دپرنګې د حلوی د تال نه یې نفرت کولو، خوکه سړے ورته ځیرشي نو د پښتنو د بدبختی او تقسیم اندازه به ورته ولګی، چې د هزارې ممبر پکښې شته، د ډیرو والا پکښې شته، خود مومندو خیبر، کرم او وزیرستان څوک نشته پکښې، د د ې د غه مطلب ندے، چې دوئ نه پکښې شاملول، بلکې د هغه وخت سیاسي او سماجي حالاتو جبر وُ، چې د ډیرو یو سړی د پښتو ری سره کار کولے شو، مګر د جم اپریدي ته اجازت نه وُ، د اځکه چې پرنګې موبزه په قسما قسم تنظیمي تاکونو کښې ویشلی او ساتلي وو، د اصلاح الافغانیه تنظیم غټ مقصد دغه وُ چې د پښتو نه غلط رواجونه او رسمونه ورک کړي، او کمال دغه دے، چې دوئ ټول پدې یوه خوله وو، چې دغه کار به موبزه د تشدد دلارې نه بلکې د عدم تشدد دلارې کاوه، چې پښتون قوم مشرانو کښې دغه نمونه بدلون نیکمرغي وه، د دئ غوښتل چې پښتون ته یو صحت مند او عزت دار مقام ورکړي، مګر د دوئ دښمنان هم کم نه وو، چې سرکښې یې پرنګے وُ، او ورسره دلالان، نو دوئ سره نه دومره ذرائع وې او نه دولت،

چې دپرنګي غوندې ډېرې تنخواګانې یې ورکړې وې ،
مګر چې یو ځل په قوم کښې احساس پیدا شي ، نو داسې
نمونې خلك بیا پیدا شي چې ، دوئ دولت او عهدې نه
زیات ملي خدمت تر اهمیت ورکوي ، همدا داسې یوې پښتون
متعلق چې دښوړ باچا خان لیکي :

« زموږ په سکول کښې استاذان کم وو ، نو ما به په
خپله هم هلکانو تر درس ورکولو ، بله دا وه چې موږ
دومره روپیه نه لرلې چې استاذانو تر مودې پورې -
تنخواګانې ورکړے وائ ، په لاهور کښې د خلافت
کانفرنس وُ ، هوښ ورغلي وُو ، د ښوړ د میرا خیل
کلي امیر مختار خان هم دې کانفرنس تر راغلے وُ ، د
هغه سره مو ملاقات وشو ، هغه خپل دوه زامن چې په
اسلامیه کالج کښې یې (B . A) بی . اے کښې تعلیم کولو
او د ترکۍ مولات په وجه یې پریښے وُ ، زموږ سکول
تر یې د استاذۍ له پاره راوبخښل ، د مشر نوم امیر ممتاز
خان وُ ، او د کشر نوم مقصود جان وُ ، مقصود جان زموږ
د سکول اول هیډ ماسټر وُ او کله چې دے د وبا ۍ تعلیم د پاره
کالج تر لاړ ، امیر ممتاز د ده په ځاے هیډ ماسټر شو » .

د دې نه څرګنده شوه چې څوک د قوم خدمت بې
غرضه کوي لکه باچا خان چې ورتر ملا تړلې وه . نو خدائ

یې غیبي مدد کوي، چې پښتنو غونډې په روپه مېن قوم کښې خدائ ورته داسې خلک پیدا کړي. لکه امیر مختارخان دښوں، چې ده خپل زامن دپښتون قوم د روزلو دپاره وقف کړل او بل طرف زامن یې دومره وفادار وو، چې دخپل ښاغلي پلار حکم یې سر په سترګو ومنلو، داخکه چې دوئ ته اندازه وه چې باچاخان داخه چې کوي دځان دپاره یې نه کوي. بلکې د ټول قوم دپاره یې کوي، اودوئ ته احساس وشو چې، باید خپله وندره موږ هم پکښې ترسره کړو، که چیرې دوئ دهغې وخت مطابق دملي کارپه ځای دپرنګي نوکرۍ ته سترګې خړې کړې وائ، نو نن بې نوم نشان نه وُ، اوس دوئ دپښتون تاریخ کښې داسې ور داخل دي چې هیڅ قوت یې نه شي ویستلے، چې دآزاد هاى سکول ذکر شروع کیږي، نو دوئ به سم ورسره یاد یږي، داخکه چې دوئ خپله ځواني، عقل او تعلیم دقوم په خدمت کښې پیش کړو، او د پرنګي بابوګرۍ ته یې لته ورکړه، نن هغه پرنګے اوبابو دواړه ورک دي، مګر دوئ ژوندي دي، او ترڅو پورې چې پښتون قوم وي ددوئ ذکر به په یو شکل او یا په بل شکل کیږي.

دغه دهغه خدمت جذبه ده چې ددې نمونه خلکو، په ذریعه قومونه د ذلالت نه راوچتیږي، دترقۍ

او عزت اړخ ته روانیږي.

د باچاخان ارزو دغه وه، چې پښتون بچي ته داسې تعلیم ورکړي، چې یو اړخ تر د زمانې نوے تعلیم وکړي او بل اړخ تر د خپل تاریخ ثقافت او رواج نه بیګانه نشي، نو ځکه باچاخان د تعلیم مرکزي نقطه جدید مغربي تعلیم جمع مشرقي او اسلامي اقتدار ؤ، چې ده دغه غبرګه میاز ره پریو وخت کوله، د باچاخان او د دوئ ملګریو د لاسه جوړ شوے سکولونو، کښې داسې خلک وروزل شول، چې روستو نه صرف دوئ ملي کاروان دپاره مددګار ثابت شول، بلکې دوئ پښتو ژبې داسې غني کړه، چې موږ ته په فخر کولای شو. دې مدرسو داسې شاعران، لیکوالان او ډرامه نګاران او مصوران پیدا کړل چې نن هم د پښتون قوم دپاره د ویاړ مقام دے، او دوئ ژبې تر ترقي ورکړه، د روښاني تحریک نه پس دغه دوم کوښښ ؤ، چې پښتو ژبې تر حیني لویې فائده ورسیده، او بل باچاخان غوښتل چې پښتون قوم کښې د تعلیم په ذریعه رڼا او پوهه خوره کړي، چې د مذهبي او سیاسي تیار خوروڼه قوم بچ کړي، باچاخان لیدل چې پرنګیان یو موټی خلک وو، چې هندوستان یا نه یې حکومت کولو، دا ځکه چې دوئ د علم د رڼا نه مستفید وو، د ښو او بدو په فرق پوهیدل، د خپل قوم د ګټې او نقصان درک ورتر

لګیدو داځکه چې دوې تعلیم یافته وو، نو ورکوتې قوم دخپل علم په وجه په ټول جهان سور ؤ.

نو بابا غوښتل چې قوم تعلیم یافته کړي اوبل داچې باچا خان غوښتل چې دتعلیم په وجه په قوم کښې مینه اتفاق او ورورولي راولي، اوخپلې مسئلې د ټوپک دشپیلۍ په ځاے د بحث او مباحثې له لارې حل کړي، نو باچا خان دپاره د ټولو مرضونو دلرې کولو دپاره تعلیم اولنی شرط ؤ. د د غوښتل چې داسې قوم جوړ کړي چې کټه کولای شي اوبیا یې ساتلے هم شي، پښتون قوم د ساتلو میړنی نه ؤ، داځکه چې دبې علمۍ په وجه به تیار خوړو سړ خپل منځ کښې وجنګول، او تیارې بادشاهي به ځینې پاتې شوې، چې دغوریانو نه راواخله تر امان الله خان پورې تاریخي ثبوتونه پرانته وو. چې پښتون قوم دخپلې بې علمې په وجه هرڅه بایللي ؤ، نو ځکه باچا خان او ددوئ دفکر ملګریو دغه بنیادي مرض او کمزوري یعنې بې علمي باندې ګزاروکړو، چې دغه نمونه کارونه د مذهبي مشرانو او سیاسي واکدارانو په حق کښې نه ؤ، نو ځکه ملا، پیر، خان، نواب او ددوئ استاد پرنګي لاس سره یو کړو، ددې ملي خلکو ارمانونه یې شنډ کول. داځکه چې دغه نمونه کار په قوم کښې رڼا خوروله، اوخلک دخیرخواو بد

خوا په فرق پو هیدل د جهالت تړه شپه یې په رڼا ورځ بدله کړه ، نو دغه ټول د پرنګي او ددوئ مقامي مذهبي او دنیاوي انډیوالانو دپاره زهرول. او بله داچې غلا دشپې داړخه بنه کیږي، دورځې غلا، مشکله وي. او ویلې قوم کښې د تیار خوروو مزې وي. قوم چې ویښ شي، ددوئ ځائ نه وي، چونکه باچاخان او ددوئ ملګریو قوم ویښولو، نو دغلو دپاره دوئ، خطرناک وو، نوځکه دوئ په ګډه ددوئ خلاف، پروپیګنډې شروع کړې چې باچاخان قوم تر غلط سړے معرفي کړي، چونکه پښتون قوم بې علمه ؤ، ددا سې قومونو نفسات زیاتره په مذهبي افسانو پر بنیاد ولاړ وي، دوئ غوږ ته نه ګورې سپې پسې منډې وهي چونکه پرنګے دنوې زمانې تعلیم یافته قوم ؤ، اوبهر قوم نفسات به یې مطالعه کول او دهغوئ دنفسیاتو مطابق به یې پروپیګنډه کوله، دباچاخان دمدرسې خلاف دخپلو مذهبي انډیوالانو په ذریعه دغه نمونه خبرې کولې:

«سبق دمدرسې وایي دپاره دپیسې وایئ
جنت کښې به یې ځائ نروي په دوزخ کښې به غوټې وایئ

ددې نه معلومیږي چې پرنګی څومره زهریله،

پرو پیکنده کوله، په ملایانو باندې خو د شین آسمان تندرۍ، دا ځکه چې دوئ خو ترنن ورځې پورې پر اسلام نه پوه شول او نه ځان پوهول پر غواړي، دوئ اسلام، د خپلې خیټې دپاره ذریعه ګرځولې وه، او دے د پرنګي دپاره پدې وجه تندرۍ چې که چیرې پښتانه تعلیم یافته شي، نو دوئ منظم کیدل، نو باچا خان تعلیمي سیاست په یو وخت د ملا او پرنګي په ضد ؤ، نو ځکه دواړو ورته محاذ جوړ کړو، د هرقسم مشکلاتو د پیدا کولو کوښښ یې کولو چې پښتون قوم جاهل وساتي چې د دوئ ورکښې مزې وي، باچا خان به په جار پښتنو ته ویل چې یوه ورځ به پرنګي ضرور ځي، تاسې د نن نه په بچو تعلیم شروع کړئ، چې قابل شي، که یو آس تاسو تر څوک درکړي، او په سورلۍ یې نه پوهیږئ نو د دې آس نه څه فایده، اول سورلي زده کول پکار دي، د غسې په ساده ساده ژبه او د دوئ د پوهې او ماحول مطابق پښتنو ته مثالونه ورکول چې دوئ د تعلیم په اهمیت او قدر پوه شي، ده به ورته ویل، دا چې نن څوک د آزادۍ په اس سورلۍ کوي او مزو کښې دي، او بتول هندوستان باندې حکومت کوي دا د علم برکت دے. او دا سې نور مثالونه به یې ورکول.

دا زه د ځانه نه لیکم، بلکې باچا خان د دې متعلق لیکي،

«چې پرنګي موږ خدمت تر نه پرېښودو، زموږ زمدرسې کار يې ايسارولو، او زموږ استاذان يې اول ډارول، چې په دې به ونړشول، دويم چل يې ورسره دغه کووچې دوئ ته به يې دې پرو پيسو لالچ ورکو، مقصود جان به اتمانزو تر تلو، تو پوليسو ډېر په عذاب کړے وُ، خودغه داسې نر پښتون وُ، چې د پوليسو په ويرولو يې د قوم د خدمت نه لاس نه اخيستو، تر دې حده پرنګے وريسې و چې، باچا خان ته يې خپل والد صاحب لمسولے وُ، باچا خان د دې متعلق داسې ليکي:

«زما دورور نه پرنګي سره ويره پيداشوه سرحلتپن ګرانټ زموږ د صوبې چيف کمشنر وُ، هغه زما باباخان ته وغوښته او ورته يې وويل، چې دا زوئ دې څه کارونه کوي؟ ټول خلک غلي ناست دي او دے لګيا دے مدرسې، جوړوي، او دروے کوي زموږ پرخلاف خلک لمسوي منع يې کړه، دده سکرټر سعدالله خان د عمرزو خان وُ، هغه مې بابا ته ويلي وو چې، ته ګوره چيف کمشنر ستا څومره احترام کوي، چې څومره ستا مني هغومره د چا نه مني، ته دده د خوشحالۍ دپاره خپل زوئ منع کولے قدرې نرشې؟ بابا مې راغے زه يې کښېنولم، او تر يې وويل: زويه د دې کارونو نه لاس واخله، ځان دې په مصيبت اخته کړے دے.

سرکار هم خپه کیږي چې، نور څوک نه کوي، ته یې څه کوې؟
ماورتر وویل: چې ښه ده بابا چې ته وایې مه یې کوه نو یې
کوم، دپرو خلکو خولمونځ پریښے دے زه به یې هم پریږدم.
خو ته به بیا ماته نه وایې چې لمونځ کوه ولې نه کوې؟ بابا مې
راته وویل چې لمونځ خوفرض دے، ماوے بابا داعلم
خو هم فرض دے۔ بابا مې وویل: ښه نو څه کوه، او بیا
چیف کمشنر ته ورغے او ورتر یې وویل، چې صاحب موږ
ستاسو دخوشالۍ دپاره خپل دین نه شو پرېښودلے ".
ددې نه صاف جوتر شوه، چې پرنګے دباچا خان
دکړو وړو نر څومره په عذاب وُ، چې دپلار او زوئ په
منځ کښې دبیلتون راوستلو نه یې سترګه نه کوله، دپلار
او زوئ په منځ کښې دښمني او زړه بدګي یې جوړوله
خو باچاخان خپل پلار دپر ښه پیژانده چې پرنګي ورتر
حقیقت نه دے ویلے، چې باچاخان ورتر حقیقت ښکاره
کړو، نو بیا یې پرنګي تر پاک ځواب ورکړو، چې موږ
مذهب ته شو پر ېښودلے، دا ځکه چې باچاخان د
خپل پلار په طبعیت دپر ښه پوهیده، چې دے یو رښتنی
او سوچه پښتون او مسلمان دے، چې څه وخت ورته د
مذهب خبره وړاندې کړه، بابا فوراً دزوئ طرف
ته شو، دغه هم دباچاخان کمال وُ، چې ده تر خپلوان،

عزیزان او عموماً پښتانه معلوم وو، چې دوئ څه نفسیات لري. نوځکه باچا خان پدی برشو، چې والد صاحب یې خپه نه شو زړه بدے نه شو، بلکې په کلکه یې ملګرے شو، چې داسې نمونه کارونه نیکۍ اولاد کوي. چې د پرنګي ټول چلونه ناکام شول، نو بیا یې سوچ وکړو چې د دې به څه علاج وي، دوئ ملایان، خانان او نور دې چې خپل پلار یې ورته وملساوه، چې دغه هرڅه ناکام شول پرنګي باچا خان ته د یوې بلې سزا پلان جوړ کړو، نو پرنګی به ضرور د خپلو جاسوسانو، په ذریعه د باچا خان ۱۹۱۰ نه کړو وړه ریکارډ کړي وي، او پدې به رسیدلي وي چې د دې سړي علاج داوس نه پکار دے، نو دوئ دفه ۴۰ سرحدي یا F. C. R کښې دسمبر ۱۹۲۱ کښې ګرفتار کړو، او غلیظترین کوټه کښې یې واچوه چې انسان خو پرین ده چې یو ځناور به پخپله، مرضی نه وو ورننوتی، دغه غیرمهذبه سلوک د مهذب نوب دعوی کونکي پرنګي ځکه ورکړه چې باچا خان دخپل قوم خدمت کولو نور هیڅ قصور یې نه وُ، که څه هم د دوئ د نیولو یې ورته نورې بهانې جوړې کړې، مګر هرڅوکۍ پوهیده چې د دوئ قصور صرف دغه وُ، چې د دوئ ټول انجمن اصلاحِ افغانه ممبران وو او د قوم خدمت یې کوه دوئ لس کسان وو، چې پرنګي ګرفتار کړي وو.

بیا روستو هغه نور رها شوي وو ، مګر باچا خان ته یې درې کاله قید ورکړے وُ ، او عبدالقیوم سواتی یې هم درې کاله قید کړو، دغه سزا صرف او صرف د خپل قوم سره د مینې او محبت په وجه پرنګي ورکړه ـ مګر باچا خان د داسې او سپنې نه جوړ نه وُ چې دوئ به سم کړے وے ، جیل او مصیبتونو نور هم فولادي کړو، د جیل د ننه قسما قسم تکلیفونه ورکړل، د میچنی د انرل نه راواخله تر سخت « isolation » پورې مصیبتونه پر تیر شول ، باچا خان پخپله کتاب زما ژوند ـ او جهدو جهد کښې تفصیلاً لیکلي دي ، چې هغه کښې د جیل د اروغانو نه راواخله د پښتنو قید یا نو پسرې جنبې پکښې دي ، نور و پښتنو د خپلو اولادونو سره په ارام ژوند کولو ، باچا خان د کلانو غوندې بچي پریښې وُ ، د پښتونو قوم د پاره یې جیل کښې د پرنګي میچنې انرلې ، د دې ، جیل په دوران کښې باچاخان د خپلې ګرانې مور د مرګ خبر واورېدو ، چې لږ سوچ وکړي سرے او خپل ځان د باچاخان په ځاے شمار کړي ، سرګوندې تر د ننه کړي ، نو بیا سړي تر درک لګي چې باچا خان د پاره به دغه خبر د تندر نه کم نه وي ، دا ځکه چې مور پلار بیا بیا نه وي ، یو ځل وي ، مګر دے کلکزړي پرنګی د خپلې مور جنازې ته هم آزاد نکړو ، چې خومره دوئ ظلم

کولو، د ومره دباچا خان اراده مضبوطیدله، پرنګي ورته بار بار پیشکش کړے ؤ چې مدرسې نه لاس واخله، موږ به تا آزاد کړو، باچا خان دغه ټول ترغیبات په سخته سره ردکړل.

باچا خان د جیل په دوران کښې د غلام قوم په ژوند او حیثیت باندې خبرې کوې، او دے یوه واقعه لیکي:

« سحر وختي یو نمبردار راغے، زه یې د چکي نه باهر کړم، او چکرته یې بو تلم، هغلته نور قیدیان جوړ جوړ ناست وو، او زه یې هم هغوئ سره کښېنولم، زه یې هم دبل قیدي سره جوړ کړم، او موږ ته د خوځیدو او یاد ودریدو قدرې اجازت هم نه ؤ دا ځاے ډېر مزیدار ؤ، او ګیرچا پیره تري ډېرې ونې ولاړې وې، او هر یوې ونې سره یو ګدیله ولاړه وه، او یو یو سړے ورته بیت په لاس ولاړ ؤ، او په ډېر زور سره به یې هغه ګدیله وهله د دې په لیدو زه حیران شوم ولې چې ما دا قیصه چرته په نورو جیلخانو کښې نه وې لیدلې، د ملګرو قیدیانو نه راته معلومه شوه چې دا قیدیان دي، او بیتونو وهلو چل زده کوي چې د ضرورت په وخت کښې دي، قیدیان په ښه شان په بیتونو وهلے شي، پدې کښې ګورو ګوره « پرنګے » قیدي یې دے ځائ ته راوست، دهغه د جامو

نه دا نه معلومیده چې کنې قیدے دے ، بنه پتلون، بنه کوټ او بنه ټوپی (HAT) په سر وه ، هغه یې نه زمونږ په شان جوړه کړو ، او نه یې کښنولو ، هغه خپله ټیلاۍ کوله چې په دې کښې داروغه راغے لیکن دے ګوړ د داروغه هیڅ پروا ونه کړه ، داروغه صاحب د ټولو نړ اول دهغه په ټیکټ د سخت وکړو ، د هغه د رخصت کیدو نړیس معلومه شوه چې دا یو ګوړ دے ، او په زبر زنا کښې قید شوے دے . لیکن با وجود د دې قسم ذلیل او ظالمانه جرم دهغه د سړیتوب جامې د سړیتوب خوراکا او د سړیتوب سلوکا ؤ ، او مونږ چې د خپل قوم ، ملك او د اسلام په خدمت کښې بې ګناه قید یو ، او هیڅ جرم موکړے نه ؤ ، نو مونږ سره د دې قسم سلوک ؤ ، چې انسان خو پر پرږ ده شاید چې ځناور و سره به هم چا کړے نه وي .»

د غلام قومونو او غلامۍ هدغه سزا وي چې هندستا- نیانو باندې را نازله وه ، دغه خو د غلامۍ دور ؤ ، او په بنکاره پرنګے ناست ؤ ، حکومت یې لولو ، دهند او پاکستان خلك دومره ذهني غلامان شوي دي ، چې تر نن ورځې پورې جیل او بهر دفتر و کښې د خپل وطني بې عزتي کوي او ستر ګې پر راوباسي ، چې یو یورپي یا امریکنی ورپیښ شي ، نو هغه د ذهني غلامۍ اثر وي .

« please please » ورته شروع کړي. دې
شي ته زما ډېر خيال وي، چې کله هوائي اډه باندې ډېولين
پاکستم سره مخامخ شي، نو سړي ته پته لګي، اکثره داسې کېږي
چې پاکستاني او خارجي په يو جهاز کښې سوار وي چې راولپنډۍ
يا کراچۍ باندې جهاز کوز شي. نو پاکستاني پوليس ورور-
سره بد سلوک کوي او په معمولي معمولي خبرو سترګې پر راوباسي
يا پاسپورټ کښې هسې ګوتې وهي، چرته تېل وي، ولې تېل وے
ويزه دې کوم ځاے ده، ددې دپاره چې يو شل ديرش
روپۍ رشوت تر لاره جوړ کړي، او په ناجايزه تنګول کوي
او همدغه حال دکستم والو دے، همدغه حال د P.I.A دعملې
دے، چې خارجي يعنې سپين پوستکي څه وغواړي، نو دوئې په
يوه پښه ورته راشي او ورته please - please شروع
کړي، خو چې پاکستانے څه وغواړي ورځينې په درې
څلورڅه خو اوري نه، ډېولين واله چې په قطار کښې
سپين وويني نو دکرسۍ نه راپورته شي، please please
« came fawward » چې څرنګې انګريزي يې
زده کړې وي ورسره يې ووائي بيا يې ټوله ورځ طبعيت
خوشال وي چې دصاحب سره يې خبرې کړي دي، اودخپل
ملك واله سره چې پيښ شي، نو په تندي يې دولس هرو خت
بجاؤ وي، همدغه پاکستانے يا هندوستانے افسر چې يورپ تلاړ

شي يا امريکې تر لاړ شي ، نو دوئ ورته دسپې په نظرهم نه
ګوري ، دغه يورپيان اکثره د چرسو ، د ناجائز ې اسلحې ، د
اثار قديمه شيانو او بتانو غلـه وي ، مګر زمونږ افسـران
ورته جي جي کوي ، چې دغلامی بدترين شکل دے ، نو
باچا خان خپل وخت ژاړي ، مونږه تر اوسـه پورې ترخلاص
نه يو .

د باچا خان رهايي، "فخر افغان" لقب او د حج سفر

باچا خان خپل درې دوزخي کاله تير کړل داسې ظالمونه يې د پښتون قوم دپاره وزغمل، که بل څوک وے توبه به يې اپستے وے، مګر باچا خان په پوندو سترګو دې ميدان ته ټوپ نه وُوهلے، هرڅه يې په شعوري طور باندې سوچ اوغور کړے وُ، چې دپرنګي دسرو زرو مرغۍ (هند) اخيستل څه دټوکې خبره نه وه، اخير کار باچا خان ۱۹۲٤ کښې د زندان نه رها شو.

باچا خان ليکي:

"ټکنه غرمه وه، موږ بزکلي ته ورسيدو، زه چې آزاد سکول ته بزدې شوم، هلته د سکول يو هلک وپيژندم، هغه په منډه لاړ چيغې يې کړې، چې باچا خان راغے، ددې په اوريدو ټول هلکان سړ داستازانو سرګړ نه راوزغليدل، په سرګړ باندې يو ځاے شو هلکانو چيغې کړې او يو شور جوړ شو، يو ساعت کښې

ټول جمع شول او زه یې دغه شان په مینځ کښې کیرمدې
ته بوتلم، او دا به یې په شریکه وے چې «فخر افغانه)
په خیر راغلے ».

هم په دې نمونه باچا خان فخر افغان شو، د قوم
د پاره ده دومره تکلیفونه برداشت کړي وو، د دې،
حقدار ؤ، او د باچا خان ملګریو ډېر مناسب خطاب
ورته خوښ کړے ؤ،

د دې نه معلومیږي چې د پرنګي ټول چالسونه
ناکام شوي وو، د دې خیال ؤ چې دې درې کاله
د وزخي جیل تیر کړي اول خو به دے توبه اوباسي که
دا نه وه د خلکو نه به هیر شي، مګر حقیقت بل شے وختو
نه بابا توبه ګار شو، او نه قوم هیر کړو، تش باچاخان
جیل ته تلے ؤ، اوس د پرنګي د پاره فخر افغان شو، د دې
اوریدو سره به ضرور چیف کمشنر ورخطا شوے وي.
چې زمونږ څه خیال او حتې جوړ څه شول، هان،
یو کار کښې پرنګیان کامیاب شول، چې باچا خان اجوادیخوا
سترګې وغړولې، مګر خپله خوښه او مینه تاکه مور پر نظر
نه ورتله، دغه به د باچا خان د پاره سخت وخت ؤ، که څه
هم په ظاهره به یې اظهار نه وي کړے، مګر چې څه
وخت د شپې یې سر په شیرک دننه کړے وي، نو خپل

زړه به يې سپک کړے وي.

باچاخان د دهاڼي نه پس په آرام نه ؤ ناست، شپه او ورځ يې يوه کړے وه، باچاخان خپلې دورې شروع کړې، کلي په کلي او کلی په کلی په پښتنو پسې ګرځيدؤ، د مدرسې کار يې نور هم ګړندے کړ، ده ته پته وه چې پرنګے به دوئ په آرام نه پريږدي، نو ده دوخت نه فايده اخيسته، چې ډېر کار وکړي، مګر پښتون قوم روايتي مرض يعنې بې اتفاقي او خود غرضي او حسد نه د دوئ اصلاحي تنظيم بچ نه شو، يا خو دغه اصلاحي تنظيم ډله بازۍ وران کړے ؤ، او يا خو پرنګے کاميا ب شوے ؤ، بهرحال چې څه وجه وه، مګر انجمن کښې داسې خلك پيدا شول چې دوئ په بار کښې کاږه لرګي شول، د باچا خان د پاره يې مصيبت جوړ ولو، د دې قسما قسم وجې کيدائ شي.

باچاخان په خپله ليکي:

« څه وخت چې زما دوره ختمه شوه او زه کلي ته راغلم يوه ورځ زه عباس خان جدا کړم، او ماته يې وويل، چې دا کاکاخيل ميا معروف ډېر خطرناك سړے دے، نن ورځې دهغه دا کو ښښن دے، چې ما او تا کښې بې اتفاقي پيدا کړي او دهغه يو څو خبرې يې ماته وکړې، چې زه دهغې بيانول نه غواړم، هغه خبرې په رښتيا سړ ډېرې خرابې وې، ماته

نورو خلکو هم د میان معروف صاحب ډېرې قصې کړې وې، او که عباس خان او مقصود جان په منځ کښې چې زمونږ دهائي سکول هیډ ماسټرؤ چې دا څه ناچاقي پیدا شوې وه، هغه هم دده کارګزاري وه، ماتر دا هم معلومه شوه چې دے زمونږ انجمن په ممبرانو کښې جنبې پیدا کول غواړي.»

میان معروف، باچا خان یې نوم نه اخلي، خو وایي چې زمونږ په تنظیم کښې انسپکټر ؤ، دده د مخالفت دوه وجې کیدے شي، یوه دغه چې تر زمکه لاندې یې د پرنګي سړ لاس وي، او تنظیم د دننه نه وراتول غواړي، یا بله وجه یې دغه کیدے شي، چې دده خیال ؤ چې دے ډېر تعلیم یافته دے، او دو مړ مشهور تدے، لکه باچا خان، (یعنې حسد) ماتر د پرنګي د دلالۍ نه زیات راتر دده حسد او د پښتنو زړه بیاري ښکاري، هر څه چې ؤ خو میا صاحب د انجمن د پاره د خیر په ځائے شر ثابت کیدو، دا ځکه چې د تنظیم د ملګریو په منځ کښې یې بې اتفاقي او ترخوالئ راوستل، د صحتمند ذهن او محب قوم سړي کار نه ؤ، یا کیدے شي چې میا صاحب ذهني بیمار ؤ، د شیطانت اوپرے جنبې نه ګزاره نه ورتله، روستو خو خبره تر دې لاړه چې دا انجمن جوړونکي ممبرانو غلطي بلطي خبرې

او پرو پیګنډې یې شروع کړې، چې باچاخان یې پرخپل، کتاب «زما ژوند او جهد وجهد» کښې په تفصیل سره ذکر کړے دے.

باچاخان چونکه پښتون ؤ او بیا سیاسي سړے ؤ، او د قوم مصلح ؤ، نو ده تر خپل قوم معلوم ؤ چې دده په کار کښې به شکونه د پښتنو په ذهن کښې اچوي، دا ځکه چې باچاخان خپل قوم ښه پیژندلو. ده یوځل په خپله ما تر ویل:

«چې اول ما کار شروع کړو، ملایانو راپسې خبرې شروع کړے، چې بزیره نه لري، بیا مې چې بزیره وساتله بیا یې خبرې کولې چې دسنت برابره نده، یعنې موټائي نده، بیا مې ورته موټائي کړه».

د دې نه معلومیږي چې زمونږ مذهبي مشران څومره مور داړ دي، نو باچاخان تر تجربه شوې وه، چې ملایان به د پرنګي په لمسه خبرې کوي، چې ده باندې حج فرض دے نه یې کوي، نو دغه وخت چې پرنګي بیولے نه وه، هر وخت ځنې خطره وه، نو باچاخان غنیمت وګڼلو، د حج فرضې د پوره کولو د پاره یې اراده وکړه، او بل پاچاخان غوښتل چې ورچا نې دنیا وګوري، د حالانکه نه خبرشي، او بل پرنګي نه صرف هند غلام کړے ؤ، بلکې اول جنګ عظیم نه.

پس عرب هم د دوئ په قبضه ورغلي وو، د فلسطین مطابق.
باچا خان غوښتل، چې صح اوتاره معلومات ترلاسه کړي
چې هلته پرنګیان، یهودیان او عرب څه کوي، دغه ټولې
خبرې سړ یوځاے شوې، نو باچا خان په ۱۹۲۶ کښې د حج
په سفر روان شو.

شریفه مکه کورنۍ خو دعوئ کوله چې دوئ د رسول
خدا د اولاد نه دي، مګر دوئ ټول اول جنګ عظیم کښې د
پرنګیانو ایجنټان وو، او ترکي او اسلامي خلافت یې ختم
کړو، د دوئ د بد معاشۍ په وجه عرب د ترانسویا نو او
پرنګیانو په لاس وراغلل، د ده ځامنو تر پرنګیانو اُر دن
ور کړو، هغه بل یې د عراق په ګدۍ کښېنا وو، پلار یې
د مکې مدینې وکدار پاتې شو، چې ور تر بریې شریف مکه
ویل، مګر په ۱۹۲۴ کښې سعودیانو و شړلو، ده خپل زوئ
سره چې د اردن بادشاه ؤ پناه واخیسته. د باچا خان بیان دے.
چې د سعودیانو په وخت کښې مکه مدینه کښې مکمل امن ؤ،
غله غودۍ ورک وو، دې نه مخکښې د غلو سړ د شریف مکه
یعنې د اوسنۍ اردن د بادشاه غورنیکه حصه دار ؤ، دغه
حال هرځاے دے، زمونږ ه پښتونخوا اوهند کښې
هم دغه حال دے، چې نیکه یې ښه سړے تیر شوے
وي، مګر لمسي یې د جهان بد اخلاقه او بد معاشان وي،

دوئ د زیان تو په مفت دولت باندې مستي کوي.

بل باچا خان ولیدل چې د فلسطین عرب څه کوي او یهودیان څه کوي، د باچا خان خبره چې عرب په د سحر نه تر ماښامه پورې هوتلو او قهوه خانو کښې، ناست وو، لوئ لوئ چیلمان به وو تر پرانتر وو، ټک کارې نه کولو، او یهودیانو هوتلې به غرمه او دوړې خالي وې، خو ماښام به ډکې وې، دوئ به ټوله ورځ کار کولو، د عربو جامې او ځائ یو نه ګنده وو، مګر د یهودیانو صفایي د جامو او د هوتلو ډېره زیاته وه. وایي چې چرته به مې چې اباد ځائے او ښکلے کور ولیدو، چې پو بنستنه به مې وکړه، نو د یهودي به وُ، د عربو زمکې شړې پرتې وې، وائ چې مایو ځل یو عرب ته وویل، چې که تعلیم مونږ نشته سترګې خو موشته، تا سې خپل ځان ولې نه آباد وئ، او زمکې په یهودیانو خرڅوئ، وایي ځواب یې را کړو، چې پرېږده چې یهودیان یې آباد کړي، اخري صدی ده مهدي علیه السلام به راځي، موږ ته به یې د یهودیانو نه بیر تر واخلي، باچا خان خپه کیږي او وایي چې، زما خیال و چې مهدي علیه السلام ته ملایانو تش پښتانه کښنولي دي، مګر عرب یې هم په طمه کړي دي.

زه کله چې د باچا خان په کتاب کښې دغه د فلسطین

خبرې ولولم نو ډېر ورته حیران شم، چې باچاخان
څومره صحیح مشاهده کړې ده، چونکه یهودیان
تعلیم یافته خلك وو، د نوې زمانې د هرشي نه خبرول
نو دوئ د فلسطین دابادولو ټوله تاریخي مرحله فلم
کړیده، داول جنګ عظیم نه تر اسرائیل تر ریاست پورې
دوئ سره فلمي ریکارډ دے، چې کله نه کله دجرمن T.V
باندې یې ښائي تاریخ ورسره وي. چې دغه د ۱۹۲۰-۱۹۲۲
مرحله ښائي، نو ماته باچاخان څخکښې ودرې، او راته
وایئ چې کوره ما چې څه لیکلي دي رښتیا دي اوکه نه
هو به هو دغسې دي، فلمونو کښې عرب ښایي چې خپل
بې غوره ژوند تیروي، په هوټلو کښې کپ شپ لګوي، لوبې
کوي، او چیلمان څکوي، اوخپن خپن وي، او یهودیان ټوله
ورځ د خرو په څیر کار کوي، ماښام خپل خپل kibuz
یعنې مشترکه کلیوته راځي.

باچاخان ټکي په ټکي صحیح لیکلي دي، د دې نه معلومیږي
چې باچاخان سره نه صرف د پښتون او هندوستاني او افغاني
غم ؤ، بلکې دلوئ افغان سید جمال الدین غوندې د ټول اسلام
نړۍ په غم ککړ ؤ، دلته بیت المقدس کښې څه کومه واقع
وار پېښه شوه، یعنې په ډېرلنډ عمر کښې دویم ځل دپاره
کونډ شو، دغه ډېره درد ناکه خبره ده، مګر دې لوئ

پښتون دغم باوجود د پرنګي خلاف خپل ضد استعمار خوېږي پرېښښوده يلګي دشام لبنان او مصر دورې يې وکړې دعراق دوره يې وکړه چې پرنګي شيعه او سني يو بل ته دښمنان کړي وو، هند کښې هندو او مسلمان او عربو کښې او ترک او عرب او ورپسې شيعه او سني مسئله جوړه کړه. او پرنګيان اول خلك دي، چې دوئ په ۱۹۲۲ کښې په کردانو عراق کښې زهريله ګيس استعمال کړو، چې دغه کاربيا - صدام حسين په ۱۹۸۸ خواو شاه کښې کړے ؤ، دوئ ځکه په کردانو زهريله ګيس استعمال کړے ؤ، چې کردانو ددوئ دايجنټ شافيصل سره عراق کښې اوسيدل نه غوښتل، او بل دکردانو تيل د پرنګيانو پکار وو، نو دوئ کردان مړه کړل او تباه کړل، مګر د تيلو کوهيان يې پرېښښودل. او بل باچاخان ته داور معلومه شوه چې د پرنګي دکرائي فوج هندوستانيانو عربو کښې د پرنګي دپاره څه نه وو کړي، تردې حده پورې چې په مکه يې ډزې کړې وې، نو دا ټولې داسې تجربې وې، چې دپاچاخان سترګې يې نورې هم خلاصې کړې، اوس ورته معلومه شوه چې ايشيا دپرنګي دآتو انو دپاره هندوستانيانو غلامه کړيده، نو پکار دي چې د پرنګي اصلي ځاے چې دوئ په ټوپونه وهي يعنې «هندوستان آزاد کړو، هندوستان منظم کړو، د

دې عزم سره حاجي عبدالغفار خان، باچا خان فخر افغان
واپس پښتونخوا ته راغے.

پښتو او د پښتون اخبار

بنسټ

(مجله - رساله)

د دې متعلق په خپله باچاخان لیکي :

« په جیل خانه کښې ما د خپل قوم په حالاتو په ښه شان سره غور کړے ؤ، زه په دې نتیجه ورسیدم چې په دنیا کښې هیڅ قوم بغیر د خپلې ژبې نه ترقي کولے نه شي، او په هغوئ کښې علوم او فنون پیدا کیدے نه شي ما دا اراده کړې وه چې ضرور به یوه رساله په پښتو کښې د خپل قوم د پوهولو، د دنیا د حالاتو نه خبرولو او د خپلې ژبې طرف ته د مایل کولو (مخ کولو) د پاره جاري کوم، او د دې کوښښ به هم کوم چې انجمن په خپله ژبه د بچو د پاره د ابتدائي تعلیم انتظام وکړي، حقیقت دا دے چې د غه وخت په پښتو ژبه کښې هیڅ نه وو، او نه پښتو د چا یاده وه، او پښتون قوم د ومره ناپوهه او نادانه ؤ، چې خپله ژبه ورته سپکه ښکاریده، او چې کوم قوم ته خپله ژبه سپکه شي، نو هغه سپک شي، او چې خپله ژبه

تر ې ورکه شي نو ورک شي » ، دې بيان نه صفا جوتيږي ،
چې باچا خان څومره ژور سوچ لرلو ، دجيل دسختيو
او تکليفونو باوجود دده سره يو غم وچې هغه د
پښتون قوم . او د صحيح تجزيه کړيده ، چې يو قوم
ژبه نه لري ، هغه به څه ترقي وکړي ، ولې پدې چې
ژبه تشه دخبرو اترو دپاره نده ، خبرو اترو تر دليک ،
لوست او علم ضرورت نه وي ، مګر يو قوم هله ژوندے
پاتې کيدے شي . چې دده ژبه د ژوند په هر اړخ هاوي
وي ، نو پښتو ژبه د داسې نعمتونو نه محرومه وه
پښتو نه درباري ژبه وه نه تعليمي ، او نه نشرياتي
او اخباري ژبه وه ، بلکې د تاريخ په دوران کښې پښتا نه
ډېر بادشاهان شوي دي ، مګر دوئ خپلې ژبې ته اهميت
ندے ورکړے ، د يو نسل نه پس دوئ بيا ورک شوي
دي ، ژبه او ثقافت ځنې تلے دے ، دخپل مورني وطن
او خلکو نه بيګانه شوي دي ، چې دغه بدبختي ترنن ورځې
پورې روانه ده ، د ژبې متعلق باچا خان خوب نه وليدے
بلکې ده يو منطقي سوچ کولو او روزانه به ورسره مخامخ
کيدو ، دامان الله خان سره د دې خبرې د دې دليل
دے چې باچا خان امان الله خان دې ته تيار کړے وُچې
پښتو ژبه زده کړي ، د حبيبيه سکول د طالب علمانو سره

د خبرو نه جوتيږي، چې باچا خان ورته ويلي وو، چې تاسو د افغانيت دعوې کوئ، خو افغاني يعني پښتو نه درځي، او هم داخل هندوستان کښې په هزارها خلک وو، چې دوئ پښتانه وو، مګر خپله ژبه پښتو بې هيره کړې وه، پدې باندې باچاخان غور کولو، چې دغه مرض کوم ځاے پروت دے، ولې پدې چې نن سبا ژبه تشه دو ئيلو يا پوهولو ذريعه نده، بلکې نن سبا ژبه اقتصاد دے سياست دے، ثقافت دے، صحافت دے، د پردے ثقافت خلاف يو ډهال دے.

د پښتنو بدبختي پدې کښې ده، چې دوئ يودا ځاے پرانټ دي، چې د پارس او هند د ثقافت سړه په يو وار مخامخ دي، مونږ قبائيلي ژوند لرو، د قبائيلي ژوند اقتصاد هم روسته پاتې وي، پښتون چې څه کټي، يا په دفاع خرچ کيږي اويا په تاروز باندې، مونږ په موجوده پښتونخوا کښې داسې بنار نه لرو، چې مونږه ورته په پوره پوره معنا د ثقافت غولئ وواييو. داځکه چې که کابل دے، که پېښور دے، که کوهاټ دے که ډيره اسماعيل خان، که کوئټه، که هرات، مګر نن سبا لږ لږ پېښور داسې اړخ ته روان دے، چې اميدکيداے شي، چې دغه به زمونږ د ثقافت مرکز وګرځي، اوقندهار

هم بد نه دے، خوقند هار یا ند ې ډېر کار پکار دے، -
چونکه ز مونږ په ښار ونو کښې پر دي ثقافتونه ژوند
کوي، او پښتانه ورته په کلیو کښې پراته دي، همیشه کلیوال
ثقافت د ښاري ثقافت نه ماتې خوري، داځکه چې ښاري
ژوند د کلیوال ژوند نه ځنګښې وي، نو چې څوک د کلیوالے
ژوند نه ښاري ژوند ته اوړي، نو هغه کلیوال خصلتونه
پریږدي، او ښاري چلن زده کوي، د مثال په توګه
د کلي ژوند په زراعت یا په ځنا ورو ساتلو باندې ولاړ
وي، او سخت ژوند دے، کلیوال ژوند کښې سندرغاړي
رباب، نقاش، ژوند نه تیریږي، داځکه چې کلیوال ژوند
کښې دوئ نه کر او نه کشت کولے شي، او نه شپانه ته توب
کولے شي، نو کلیوال ژوند کښې چې څوک دغه کارونه
نه شي کولے، نو دده ژوند تر بچ دے، کلیواله ټولنه کښې
بې کاري دے که چیري کلیوال ورونه کښې څوک داسې
روړ وپیدا شي چې سندرې وائي یا رباب ژغوي نو داسې
روړ اول خپل ورونه نه قبلوي، او بل کلیوال ژوند کښې
مسخره کیږي، چونکه دوئ د کلیوال ژوند د تقاضو په پیمانه
پوره نه وي، نو دوئ ته بله لاره پاتې نه شي، بغیر د دې
نه چې ښار ته لاړ شي، او د خپل فن په ذریعه ژوند وکړي.
که چېرې دغه کلیوال سندرغاړے یا فنکار داسې ښار

ته لاړ شي، چې دده ژبه پکښې ویلا کېږي، نو دے کلیوال پاتې نه شي، ځ ښاري ژوند اختیار کړي، مګر په ژبني او ثقافتي توګه دے او د ده اولاد محفوظ پاتې شي، مګر د پښتنو مسئله بالکل جدا ده، موچې د کلیوال ژوند نړه ښاروکښې پناه اخلو نو نه صرف کلیوال خوئ دلاسه ورکوو بلکې خپله ژبه او خوی خصلت هم، دا ځکه چې کلیوال ـ ژوند پښتون دے او ښاري ژند غیر پښتون دے.

«پارسیبان یا هندي» همدغه وجه ده چې څومره هنرمندان د ژوند هرارخ کښې پیدا کېږي، نو دوئ یا فارسي ثقافت کښې رنګ شي او یا هندي، مونږه بیا هغه سړل خلك پاتې شو، دغه سلسله د معلوم تاریخ نه راروانه ده، مونږه کښې د سړیتوب خلك او عالمان د دغو دوو ثقافتونو ښکار کېږي، پښتنو ډېرې لوئ لوئ بادشاه هائ، هند او پارس کښې جوړې کړې، دوئ په فوجي توګه هند او پارس باندې همیشه برشوي دي، مګر په ثقافتي توګه هند او پارس مونږه نغښتي یو، دغه دلائل لري، بادشاهي صرف په جنګ جدل نه کېږي، اول سر کښې فوجي رول یې ډېر وي، مګر روستو رو رو د تجارت، تعلیم او اقتصاد ته زیات رول لري، چې دغه درې واړه د ښاري ژوند اهم جوړ دے، نو پښتون بادشاه تخت

د پښتون په زور واخیسته، خو چې د دفتر، تجارت او اقتصاد خبرو
په راغله نو بیا به هندي یا پارسي ته مجبور وو، نو د دوئ په اقلیت
کښې وو، د درباري ژوند باندې به د سندرغاړي نه راواخلـه
او ترکلرک پورې به د هندیانو یا پارسیانو قبضه وه، د پښتون
بادشاه ځامن او لونه به د دوئ دلاسه تربیه شول، او بناري
او درباري ژوند به یې اختیار کړو، چې د دې سړ به دوئ
نه صرف پښتون خوئ خصلت وبائیلو، بلکه دوئ به ژبه او ثقافت
هرڅه وبائیلو، د پښتون بادشاه اولاد به په بخپله ژبه نه پوهیده،
او مرحله وار به د خپل قوم او وطن نه پرې شول، داځکه چې د
ده پلار د کوم ځاے نه راغلے وُ، هغه قبائیلي ژوند وُ چې د درباري
ضروریات یې نه شو پوره کولے، نو ځکه موږ ته هند او پارس کښې
به ورک شو، چې ترنن ورځې پورې دغه کار روان دے، نن
هم څوک کابل او څوک کراچی کښې ورکیږي.

د افغانستان ۱۷٤۷ کښې د احمد شاه بابا د لاسه بنسټ کښېږدل
زموږ په تاریخ کښې یوه نادره موقع وه، او احمد شاه بابا
خپل ناستونه نه هند او نه پارس کښې وټاکه، بلکې د پښتون خپل
هیواد کښې. دے نه صرف بادشاه وُ، بلکې د خپلې ژبې وتلے
شاعر وُ، مګر د دوئ ټول عمر په فوجي مهمانتو او د افغانستان
په ټینګولو کښې تیر شو، د دوئ د وفات نه پس د دوئ زوئ
شهزاده تیمور شاه خپل ناستون د قندهار نه کابل ته راوړ، د کابل

د ښار ماحول پښتون ماحول نه ؤ، دلته مغلي صوبا ئي نوکر شاهي پراته وو، چې د دوئ ژبه او ثقافت د پښتون نه جدا ؤ، هدغه وجه وه چې د قندهار کلیوال او په ثقافتي توګه روستو پاتې قبائیلي نوکرشاهي د شهزاده سره کابل ته راغله، نو دوئ د کابل پارسیان ثقافت مقابله ونه شوه کولے، دوئ هرڅه وبائیلل چې نن هم کابل محمد زیان یا سدوزیان په پښتو نه پوهیږي، په نتیجه دي توګه د عوئ د پښتون کوي، مګر په ثقافتي نوکه دوئ ختم شوي دي، که چرې دوئ په قندهار کښې پاتې شوي وے نو دغه ممکن وو، چې قندهار نه به یو لوئ د پښتنو ښار جوړ شوے وے، داځکه چې شاوخوا علاقې یې پښتني دي، نو که پښتون د کلیوال ژوند نه منډې وهلې، نو قندهار به د ده او دده د راتلونکي نسل لپاره یوه پناه ګاه وه، نو دوئ به په ثقافتي او ژبني توګه نه ورکیدل، دوخت په تیریدو سره په پښتو ژبه درباري، او د تعلیم او کاروبار ژبه جوړه شوې وه، مګر شهزاده تیمور خپله کډه کابل ته یوړه، چې ورسره پښتون په ثقافتي او ژبني توګه هرڅه وبائیلل، که څه هم کابلیان ټول هر دویم او دریم نسل کښې ټول پښتانه دي، خوکه د جنوب نه او خوک د مشرق نه راغلي دي. آباد شوي دي او بیا په ژبني او ثقافتي توګه د دې ښار په نمونه شوي دي، داځکه چې دوئ د کلیوال وو، او کابل کښې ورته پردی ژبه او ثقافت ؤ، چې دوئ یې وار

وار ونغښتل ، دغه حال زوړ غزني کښې ؤ ، په لاندې پښتونخوا کښې
پښتون ښاره کښې هندکو ویلائ شي،په کوهاټ کښې دغه لوبه ده ،
او ډېره اسماعیل خان هم ، ان تر دې چې نوښار اکوړے
او مردان غونډ ې ځایو کښې لال کرتي جوړې دي چې پښتانه
پکښې ورکیږي ، چونکه پښتون اولس عموماً ښاري ژوند
نه لري ، نوځکه دوئ ته دفوجي غوبل نه بغیر نور څه ورپاتې
نه دي ، دوئ دتجارت، تعلیم اړخ ته پام نه کوي ، نوځکه په
اقتصادي توګه پس مانده دي ، او بل پخوا دښارونو اوکلیو
په منځ کښې ټک راټک دومره زیات نه ؤ ، لکه چې دا نن سبا دموټرو
هوائي جهاز اوریل زمانه کښې دي ، پخوا کلیوال ژوند پخپله
پوښ ؤ او دښاریو سره رابطه دومره ګړندۍ او ژوندۍ
نه وه ، دکلي شتمن سړے به په کاله کښې یو ځل یا دوه ځل ښار
ته تلو ، او بل په ښارو کښې پر دې خلك وو ، نو دوئ به دا-
کوښښ کولو چې پښتون دښاري ژوند سره بلد شي ، دغه
ملك چې به کلي ته راغلے نو د ښار متعلق به یې قسما قسم افوګانې
په غیر شعوري توګه خوروله ، دمثال په توګه کلیوالو خلکو
کښې دغه مشهوره وه ، چې ښارو کښې سړے خواره دي دوئ
سړے وینسي ، بیا یې حلال کړي ، او ویې خوري ، چې پښتون
به دغه خبرې واوریدې نو که ښار ته راهم غلل ، خو دسړو خوارو
د ډاډ به په منډه-منډه سودا وکړه ، بیا به په منډه کلي ته تلو.

او بل پښتانه به چې مجبور شول، نو دوئ به ښاري ژوند تیرولو
ددوئ مجبوري په درې ډوله وه، ځنې به د تربورانو نه تنګ شول
دکلي نه به یې ګډوه وکړه، ښار ته به لاړل. چونکه دوئ کلیوال
وو، نو دوئ کسګر نه وو، او ښار کښې به یې شلوله مزدوري
کوله، دکلي سره به یې رابطه قطع شوله، اولاد به یې دپردي -
ثقافت په ماحول کښې لوئ شول. نو ددوئ نه به خپله ژبه
لاړه، چې نن هم په پېښور کښې داسې ډېرخلك دي. چې دوئ هندکو
وایي خوسلاً دوئ پښتانه دي، ددوئ نیکونه دکلیو نه راغلي
او آباد شوي دي، مګر دوئ یو پردي ثقافت ماحول کښې ګیروو،
نو ددوئ نسل نن هندکو وائي، او بل به دغربت دوجې نه د
کلیو نه ښاریو ته راغلل، دوئ به داسې مزدوري کوله چې هنر
به نه وُ پکښې لکه پنډ یتوب، چوکیداري یا بهشي توب او یا دختې
کار، چې دے به په شرمیدوُ، نو دکلیوالو سره به یې رابطه قطع
کړه چې څوک ورپورې ونه خاندي چې فلانی کابل یا پېښور
یا دهلي کښې پنډ یتوب کوي، نو د خپل ثقافت سره درابطي -
نشتوالی په وجه به رو رو ورک شو، او بله وجه به دغه وه،
چې چیرې به یې بدي وشوه اویا به یې پر دی پیغله وتښتوله
نو دے به داسې ځاے ته لاړ وچې چا تر به یې درکړ نه و،
د خپلې ویرې به ده رابطه دخپل ټا ټوبي سره قطع اوپریکړه،
نو دے به هم ورک شو، پدې نمونه به غریب پښتون ورکیده،

دا ځکه چې دده ژبه نه داخبار په شکل وه، نه دکتاب په شکل او نه د مدرسې په شکل کښې وه، هغه د ویلو دځاے نه دے بې ځایه شوے ؤ، نو ځکه به دده داولاد نرخپلرژبه پښتو ورکه شوه د هندي یا پارسي ژبې خاوندان به شول چې دغه سلسله ترنن ورځې پورې روانه ده، دنورو ژبو په مقابله کښې په پښتوکښې فلم نه شته، پښتوکښې اخبار نه شته، پښتو کښې نور د معیارکتابونه نه شته، بلکې غټه وجه یې دغه ده چې پښتو ذریعه تعلیم نده، نوپښتانه پخپله د پښتو په لوست او لیکل نه پوهیږي، بلکې پښتو د ژوندي ژوندلویدلې ده داځکه چې پښتوکښې نن سبا اقتصاد نه شته، داځکه چې نن ورځې پورې لاندې پښتونخوا کښې اقتصاد په انګریزي او اردوکښې دے، د سرپیتوب، نوکري ټولې د انګریزۍ ژبې مرهون منت دي، او چې څه پاتې شي هغه داردو دي، نو اخباري، ریډیوي او T.V ژوند باندې اردو او انګریزي ژبې قبضه کړې ده، او پښتون مجبور دے چې دغه دواړه زده کړي، ګنې نوکر کیدالے نه شي، پښتونه ذریعه تعلیم ده، او نه ددې زده کول دنوکرۍ دپاره شرط ده، هله غرجه ده چې پښتون تعلیم یافته عربي، پارسي، اردو او انګریزي کښې خولیکنې کولے شي، مګر خپله ژبه کښې نه، که څوک څه په پښتوکښې لیکي دغه نمونه خلك دزړه زور کوي.

او دوئ بې کچه قوم پرست وي، مګر عام عادي پښتون هيڅ پروا يې نه کړي، داځکه چې دده نوکري بغير د پښتو نه روانه وي، که چرې پښتو ژبه لازمي شي، نو دے مجبور دے چې زده يې کړي، پاس افغانستان کښې دغه حال دے، چې په آئين کښې پښتو او فارسي دواړه ملي ژبې دي، مګر عملاً پښتو ته پارسيانو نوکرشاهي هيڅ اهميت نه ورکوي د بدبختۍ خبره دغه ده چې زياتره دغه پارسي بانه نوکر-شاهي نسلاً پښتانه دي، مګر د بيان کړاے شويو مرضونو په وجه دوئ پردو ښاروکښې خپله ژبه او ثقافت بائللے دے نن دوئ په قوم افغانان پاتې دي، مګر په کلتوري او ژبني توګه ايرانيان شوي دي، او ددوئ نه خپل شناخت ورک شوے دے، نو دغه ډله د پښتو سخته مخالفه ده، داځکه چې دوئ ځانو ته افغان وايي، مګر پښتو نه ورځي، پښتون يې پښتون نه قبلوي، او دوئ ته ځانو نه سپک ښکاري چې ځانو ته تاجک، يا هزاره، يا ازبک ووايئ نو دوئ ددې "Identific ation crises" يعنی کرکيچ سره مخامخ دي، نو دوئ ځکه چې د يو شناخت چې پارسي ژبه ورپاتې ده د دې دفاع د ليونتوب حده پورې کوي، هم دغه حال زموږ د لاندې پښتونخوا د ورک شوو پښتنو دے، چې نن سباهندکو يا پنجابي او يا اردو وائي، دغه ډېره پيچلې مسئله ده، اوغته

وجه یې دغه ده، چې پښتون قوم وېشلے دے، څوک افغانستان کښې پروت دے، او څوک اوله هند او نن سبا پاکستان کښې پروت دے، د ډیورنډ د کرښې په وجه شل پروت دے، چې دے نه سیاسي واک لري، نه اقتصادي او نه ژبني.

نو پدې مسلو باندې باچا خان په جیل کښې تفصیلاً او ژور سوچ کولو، نو دغه ټول مرضونه باچا خان ته وار پېښ ورجوتیدل، چې څومره یې سوچ پر کولو، هومره باچا خان ته تجسوس ورپیدا کیدو، او بیا بې ددې پر علاجونو غور کولو، چونکه باچا خان داسې وخت کښې پیدا شوے وُ چې دغه پیړۍ د پروپیګنډې پیړۍ وه، چې که حکومت وُ، او که سیاسي ګوندونه او یا تنظیمونه ددوئ د پاره ژبه د اخبار او رسالې په طور ذریعه تبلیغ وه، چې ددې نه بغیر دغه ناممکن وو، چې خلکو او جهان ته خپل مرام تکلیف او فلسفه ورسوي، چونکه باچا خان غوښتل چې قوم ته خدمت وکړي، او د نوې زمانې په طور یې وکړي نو باچا خان چې سترګې وغړولې، د پښتون قوم نه اخبار وُ، نه ریډیو او نه بله ذریعه وه، او د خپلې ژبې نه بیګانه وو، نو ځکه ده دوه فیصلې وکړې، چې یوه دغه وه چې پښتو باید ذریعه تعلیم کړي، او بل ثقافتي او سیاسي تبلیغ د پاره د پښتو یو اخبار یا رساله راوباسي،

نو دغه دواړه خبرې دیو بل سره تړلې وې، پښتو اخبار یا رساله به هله کامیابه وي، چې څوک یې لولي، اولولي به یې هله چې تعلیم یې کړے وي، او دپښتو ژبې لیک لوست وکړي نو دغه بغیر د مدرسې نه ممکن نه وو، نو ځکه باچا خان، خپلو دانجمن ملګرو نه دپښتو متعلق وئلي وو: چې تاسې یې کم ازکم خپلو مدرسو کښې جاري کړئ، او بل باچا خان نه پته وه چې بغیر دژبې یو ملي تحریک دکامیابیدو سوال نه پیدا کیږي، داځکه چې ژبه په قوم کښې شاعران، لیکوالان عالمان روزي، چې بیا روستو دوي دقوم رهنمایي کوي نو دباچا خان سوچ سطحي نه ؤ، بلکې ډېر ژور ؤ، خوددې امکانات ډېر محدود وو، داځکه چې پښتون قوم جاهل ؤ، ددوئ دژبې یا اخبار او رسالې نه زیات دتوپک او کارتوس سره شوق ؤ، په داسې خلکو کښې اخبار یا رساله جاري کول څه دتوکو خبرې نه دي. چونکه باچا خان ځوان ؤ او بل دشتو خاوند ؤ، دزړه زور یې ډېر ؤ، او پښتون قوم سره یې مینه وه، نو ځکه دغه ټولو ته یې ملا تړلې وه کښې دکمزورې عقیدې پښتون به پخوا تر به کار شوے وے، او بل داچې باچا خان دغه ټول مصیبتونه په شعوري توګه منلي وو، څه په شوق سره یې زنده باد نه وو ویلي، دغه ټول د ده، دهغه کړاونو او تکلیفونو پخوړ و، چې دوئ ۱۹۱۰ نه شروع

کړي وو، مرحله دار دي نتيجې تر رسيدلي وو چې
کار کول غواړي، نو دې ټولو بلاګانو ته به ور په غاړه وړي
او بل باچا خان داخباري نړمانې اهميت پوه پوه پيژندلے
ؤ، چې دخپل مشن دپاره اخبار دومره ضروري دے. لکه
څومره چې داوسيدو دپاره کور، که څه هم دے ښه خبرؤ
چې اخبار په ټوکو نه چليږي، دغه اقتصادي قربانۍ غواړي،
که څه هم اول سرکښې يې دانجمن خلکو ته ويلي ؤو، چې تاسې
يې منظوري راواخلئ، مګر باچا خان ته ورمعلومه شوه
چې دغه کار بغير ددې نه بل څوک نه کوي، او بل باچاخان
اول سرکښې خلکو ته ويل، چې تاسې نور خرابات کوئ،
نو پکار دي چې ددې په ځائ تاسې دخپل قومي اخبار
ملاتړ وکړئ، مګر دغه اميد يې لاړو خلکو به په ډوډۍ
باندې پيسې خرچه کولې، مګر ديوا هم مقصد يعنې اخبار-
دپاره يې هيڅ امداد نه کولو داځکه چې ډوډۍ باندې به
يې نوم کيدو، چې فلانې خان دومره غټه ډوډۍ کړې وه
نو دے به په کلي کښې نيغ نيغ ګرځيدو، او که چيرې يې
اخبار تر چنده ورکړې وايي، نو دومره نه يادېدلو،
نو ځکه داخبار چنده ورتر بيکاره ښکاريده، که څه هم
باچا خان ډېر پوه کړي وو، چې اصلي کار ډوډۍ نه ده
بلکې دستاسو قومي اخبار دے، مګر ډېر لږ او بلکې درې

ځلور کسان اول سرکښې دې تر تیار شول ، چې باچا خان تر د
ډوډۍ کولو په ځائے ، د اخبار د پاڼ پیسې ورکړې .

باچا خان په یوه وخت سیاسي ، سماجي مشرؤ ، اخبارې
په غاړه ؤ ، پښتو ژبه یې په غاړه وه یعنې ALL round ؤ ،
پدې کښې پښتنو په دسابسي په ځائے قصې ورپسې کولې ،
دغه به د پاسه وې . د باچا خان قول دے چې وایي :
پښتو وایه ، پښتو لوله ، پښتو کوه ، او پښتو لیکه او پښتو
زده کوه .

د دې نه صافه ظاهره ده ، چې باچا خان د پښتو ژبې
د جبري تلزم باني دے . دے نه ځکښې نه لاندې او نه باندې
افغانستان کښې د پښتو اخبار یا رساله وه ، د باچا خان
د خولې خبره ده چې وایي :

« په ۱۹۲۸ کښې مې د پښتون په نوم یو رساله د پښتانو
په ژبه کښې د اتمانزو نه جاري کړه ، افسوس خو پدې چې
پښتانه د ومره لوئ قوم او خدائ ورله د نعمتونو او دولتونو
ډک ملک ورکړے دے ، خو نه د ده خپله ژبه کښې یو رساله
او نه یو اخبار شته . دا د پښتو ژبې اولنۍ رساله ده چې
د پښتنو په ملک کښې جاري شوه ، پښتون قوم د پرخراج
دے ، لیکن دې قسم چیزو باندې پیسې نه لګوي . او په دې
چیزونو خرچ کولو سره ناشتا او نا بلده دي ، د پرې پیسې

ما د خپل جیب نه پرې خرچ کړې دې رسالې د پښتنو په منځو او مزو کښې یوه نوې ژندګي پیدا کړه ، او دا رساله پرپښتنو ډېره ښه د لعزیزه شوه ، د خپل ملک خو پرېږده ، پښتانه په یورپ ، امریکه او استرلیا کښې د دې نه خبر شو، نو هغوئ به غوښته او امداد به یې هم ورسړ کولو.»

اوس د دې بیان نه جوړ شوه ، چې هغه پښتانه چې د خپل ملک نه ورکړ وو ، د پولې او وطني کشالو نه لرې تلي وو، او نړۍ کښې یې سترګې غړېدلې وې ، نو دوئ ډېر په فخر سړ او ویاړ سره خپله ژبه کښې جاري رساله لوستله، د دې په ذریعه د دوئ رابطه د خپل وطن سره قایمه وه ،

او بل باچاخان په خپله مني چې پښتنو کښې یې بیدارې راوستې وه ، نو دغه د باچاخان د خپل قوم او ژبې کړه تشخیص ؤ ، او کړه علاج یې وه ، نو د دې نه دا اندازه لګي چې د دوئ شخصیت څومره د قوم د نبض نه خبرؤ ، ده هغه پښتانه چې پردو وطنو کښې وو ، د دې رسالې په ذریعه خبر او ژبني ، نو ګه ژوندي وساتل ، او د خپل قوم او وطن نږې رابطې قطع نه شوې ، لکه څنګه چې اوس دوئ ته یورپ امریکه او سترلیا کښې د خپلې ژبې پښتون رساله رسیده نو دوئ به ضرور د خپل کار او روزګار په ځایو کښې نورو قومونو خلکو تر پښتون رساله ډېر په فخر سړ ښودله

چې وګورئ دغه زموږ ه رساله ده، دې رسالې پرپښتون قوم کښې انقلاب راوستو.

باچا خان یوځائے لیکي:

«دپښتونې پښتو طرف ته شوق پیدا کړو، او په افغانستان کښې هم ښه لوستل کیده عبدالهادي خان داوی ما تر قیصه کوله چې پښتون اخبار به کابل ته راغے په قومیت (ملت) چې به کوم مظمونونه لیکل شوي وو، هغه به یې موږ لوستل، اودافغانستان په خلکو کښې هم پښتو طرف تر رغبت زیات شو، او په امان الله خان خو یې دومره اثر وشو، چې هغه اعلان وکړو چې خلکو له پکار دي چې پښتو ژبر زده کړي، درې کاله پس به په دې ملک کښې پښتو تعلیمي اوسرکاري ژبه وي، اوعبدالهادي خان دا راتر هم ووے: چې موږ هم یو ې رسالې بنا وکړه، او دهغې نوم مو هم پښتون کښود، نو امان الله خان راته ووے: چې دپښتو به بس همدا یو پښتون وي نو ما بیا هغې خپلې رسالې له دپښتو ژغ» نوم کښود، لیکن افسوس چې پرنګیانو داخبره برداشت نه کړاے شوه، اوهغه ووے چې ددې رسالې یوځو نمبري وتې وې، چې افغانستان کښې بغاوت وشو، اوامان الله خان لاړو».

ددې نه معلومیږي چې باچا خان نه صرف ددې رسالې په ذریعه لاندې پښتنو کښې انقلاب راوستو، بلکې ویلې افغانان

یې وینې کړل، که چرې امان الله خان پاتې شوے وے، نو دغه امکان ؤ چې ورځ پښتون او پښتو ژبه به پیرته افغانستان کښې شته شوے وے، مګر پرنګي ته پته وه چې ژبه دقوم په سیاسي او اقتصادي او کلتوري ژوند کښې کوم کردار لري، نو ځکه دوئ امان الله خان برداشت نه کړے شو، چې دے بغاوت کښې پرنګي ته علاوه هغه پارسیان ژبې هم شریک وو چې دوئ نه غوښتل، چې پښتو دې د پارسي ځائے وینسي، چې زیات تره دغه کلتوري او ژبني ختم شوي پښتنو نسلونه او اولادونه وو، چې دوئ نه خپل شناخت ورکړ ؤ، نو دوئ امان الله خان نه بلاکانې جوړې کړې او د کابل او افغانستان نه یې ورک کړو. بلکې ترنن ورځې پورې په افغانستان کښې د پارسي تله درنه ده، دوي پښتو ته خپل حق نه ورکوي، داځکه چې که چرې پښتو خپل ځائ وینسي نو ددې سره د دوئ مونو پول یعنې اجاره داري ختم کیږي، چې دوئ د (جنوبي افریقې) غوندې ژبنې پرستې، جوړې کړیده چې ورته (APartheid) وایي.

بل باچاخان ته دغه معلومه وه چې ژبه سیاست دے، نو ځکه یې خپل نظریات او سیاست د پاڅ پښتون مجله پښتو کښې جاري کړه، د خیرانتیا خبره خو داده چې دغه رساله پښور، کابل یا بل ښار نه جاري نه شوه، بلکې دیوکلي اتمانزو نه جاري شوه. نو د دې نه صافه معلومیږي چې زمونږ ښارونه د پردو ثقافتونو

لا سونو کښې وُ چې پښتون ثقافت به دکلي نه دفاع کیږي کنې هوله
نړۍ کښې نوي خیالات د ښار نه کلیو ته خوریږي، مګر دلته
خبره بالکل اُلټه وه، یو کلیوال پښتون انقلاب دکلي نه شروع کوي
او ژورنالزم او نشر و اشاعت خو خالص د ښار دخلکو کار دے
مګر دلته موږ وینو چې د پښتنو د ژورنالزم بنسټ ښاري نه
بلکې کلیوال دے، دا ځکه چې موږ په ښار کښې څوک نه لو...
نو ځکه باچاخان زما خیال دے، چې تاریخ کښې اول ځل دپاڅ الجبار د
کلي نه جاري کړو.

لنډه خبره داده چې باچاخان غوښتل چې پښتو او پښتون
نور و سړ سیال کړي. نو ځکه باچاخان د پښتو ژبې ترقۍ او آبادۍ
باندې زور ورکړلو، او غوښتل یې پښتون قوم دومره بیدار کړي
چې کټه کوے هم او سمبالوے یې هم شي. او بل باچاخان ته پته
وه چې که چیرې پښتو ژبه د پښتون په ژوند باندې حاوي شي
نو دے به بیا خپلې ژبې ته کار کوي، او رو رو به ترقي ورله
ورکوي، او د نورو ژبو سره به یې سیاله کوي، او بل دغه ورمعلوم
وو چې پښتو به په پښتو ودریږي، نو دده سړ به زموږ د
شاعرانو او لیکوالانو لوړې اقتصادي مسلې حل شي، دا ځکه چې
فلم، ډرامه، کتابت دپاڅ به د پښتون ضرورت وي، نو د پښتو
فلم لوبغاړي ایکټر په روزګار وي، ډرامه نګار او ایکټران به -
اسوده وي، د دې سړ به پښتون کاتب ته روزګار پیدا شي، د

د ژورنالزم په وجه به پښتون اخبار نویس او صحافي په روزګار شي، ریډیو، T.V کښې به ورته روزګار موقع پیدا شي.
همدارنګه به د پښتو لیکوالانو او شاعرانو او ډرامه نګارانو ماتګ زیات شي، او د دوئ کتابونه به خلک لولي او خرڅیږي برګه څه هم هغه وخت T.V نه وه، مګر ریډیو، فلم او دتالیف بحث د ژبې په ترقۍ او خوروالو کښې ډېر رول درلوده، نو باچا خان پرژبه کښې، صحافت، معاشیت، سیاست، ثقافت او ترقۍ او پیدا ارې پر یو وخت لیدل، همدغه وجه ده چې د باچا خان د کړاونو په وجه پښتو ژبه د مرګ نه بچ شوه، که څوک مني او که نه، خوخدائي خدمتګار و تحریک، پښتون او پښتو ته دومره خدمت کړیدے، چې سخت ترین مخالف یې هم بغیر تائید نه شي پاتې کیدے. او د ې تحریک چې باچا خان یې مشرو، د خپلې مدرسې په ذریعه پښتو ژبه کښې دومره شاعران او لیکوالان، ډرامه نګاران پیدا کړل چې مونږه د نورو کاونډیانو قومونو سره په سیالي کولے شو. او دغه صرف او صرف د یوسړي برکت وه، چې هغه باچا خان وه، چې ده خپل خواهشات شاته کړي وو، او صرف او صرف قومي مفادات یې په مخه کړي وو، او تاریخ کښې یې اول ځل د پاره پښتون قوم د اخبار خاوند کړو.

د "خدائي خدمتګاري" بنسټ کېښودل

باچا خان د ۱۹۱۰ نه لګيا و، د خپل عقل، سوچ او ويجن پي مطابق يې د خپلې قوم د پاره کار کولو، او غو بنسټل يې چې دوئ هم ترقي وکړي، خو د وخت د تېرېدو سره ده قسما قسم مراحل تېر ول، او ورسره يې تجربه جمع کوله، اخر پدې نتيجه ورسېدو چې د داسې کار ود پاره يو منظم تحريک اګوند يا حرکت پکار دے، بغير د دې نه دغه کار کول ممکن نه دي، يا په بله ژبه باچا خان سياسي بالغ شوے و، او ديومشر او ډېوخ ليدو هغه ته ول خوېدو نه پکښې پاخه شوي وو. چې د ډېو تحريک د مشر يا حرکت د مشر د پاره ضروري وو، دانجنې د ملګرو جګړې او د يو بل سره کېږدي نه باچا خان زړه مور ؤ، او غو بنسټل يې چې د دوئ د زړه خان خلاص کړي ديومنظم خورځنګ بنسټ کېښېږدي چې هغه خداي خدمتګار وو.

باچا خان پخپله ليکي:

"مونږه چې د لاهور نه راواپس شوه نو په اتمانزو کښې -

مو لویه جلسه وکړه ، زه په جلسه کښې ناپاخیدم او خلکو ته مې
وو ے: چې تاسو خو ویده ئې ، او سړي څه کوئ چې د
هندوانو ښځې هم را پیدا ړې شوې او هغوئ سړو سره
یو ځاے د ملک د آزادۍ د پاره ملا تړلې ده ، او جهد وجهد
کوي ، تاسو خو لږ دې لمرخاته ته وګورئ ، څومره لوئ سیلاب
راوا تا دے ، او سیلابونه همیشه وده قومونه وړي ، پاخئ وینې
شئ ، او ملا وتړئ تاسې خو وګورئ ، پرنګیان وایي چې هندوستان
موږه په نوم فتح کړیدے ، دا زموږ دے ، او موږ به
پرحکومت کوو ، او ګټه ونه یې زموږه ده . هندوان پرنګي ته
وایي چې تاسې په زور موږه ښیولي یو و ، اوس چې موږ پوه
شو او متفق شو خپل وطن درته اخلو دا زموږ وطن دے ،
اوس به پرې موږ حکومت کوو ، تاسې ددې نه خبر یئ که نه؟
زه موخبروم چې خبر شئ ، د هندوانو او پرنګیانو پدې جنګ
دے ، چې پرنګے وایي چې هندوستان کښې به بادشاهي
موږ کوو ، او هندوان وایي چې دلته به بادشاهي موږ
کوو ، او مسلمانان دغفلت په خوب ویده دي ، نوای
پښتنو ورونو ، زه ستاسو نه پوښتنه کوم چې تاسو به
څه کوئ ، ناست به یئ دواړو ته به دعا کوئ ، او دغلامۍ
او پټتي نوب ژوند به تیروئ . (موږ چې هلکان وو ،
غوزان به موکول ، لویه ذائره به مو را ښکله او په هغې کښې

به مو غوزان کښېنودل، کټه او بایلات به ددواړو لوبغاړوو،
یو دریم سړي به دواړوله غوزان را ټولول) نو ای پښتنو!
تاسو ته رایم، دا دپټتی توب څوند خوښ وي او که تاسې هم
ځان ددې وطن مالکان ګڼئ؟ نو راځئ او ملاوتړئ او داخپل
ملک خپل کړئ، .

جلسه به ډېر جوش او خروش ختمه شوه، او په پښتنو
زما د تقریر ډېر ښه اثر وشو.

دشپې زمونږ دکلي محمد اکبرخان او جناب ګل، او یوڅو
نور هلکان زما دلیدو دپاره، زمونږ جرګې ته راغلل، او ما
سره یې د یوجماعت جوړولو مشوره وکړه، ما هغوئ
په ښه شان پوه کړل، چې دا لوبې ټوکې نه دي، دا ډېر
مشکل کار دے، د دې په لار کښې ډېر اغزي دي، په تاسو
به زما د تقریر ډېر اثر شوے وي، خو لاړ شئ په دې
معامله ښه غور او فکر وکړئ، هغوئ مې رخصت کړل.
بله شپه بیا راغلل، ما ورته وویل: چې ستاسو په ذهن کښې
زما هغه تقریر لا اوس هم ناست دے، تاسو د دنیا تاریخ وګورئ
په دنیا کښې چې څوک د خدای د مخلوق د خدمت دپاره،
پا ځید لي دي، نو په هغو مصیبتونو او تکلیفونو راغلي
دي، تاسو بیا په دریم ځل په دې ښه غور او فکر وکړئ،
بل شپه بیا راغلل، او راته یې وویل، چې مونږ په دې کار ډېر

غوره او فکر وکړ، موږ د قوم او ملک د خدمت د پاره د هرقسم تکلیفونو، مصیبتونو او قربانیو ته تیار یو، بیا موږ ګیناسمو او په دې خبره موغوره کولو، چې د دې نوې جماعت نوم د ې څه وي، زما داخیال ؤ چې پښتون کښې د خدمت خیال نشته پدې جماعت موږ یو داسې نوم کښېږدو چې د پښتنو په دماغ کښې د خدای د پاره د خدمت خیال پیدا شي، قسم قسم نومونه، پیش شول، خو زمونږ خوښ نه شول، د شپې زما په زړه کښې د خدای خدمتګار نوم راغے، چې سباله دوئ راغلل، نو ما ورته دا نوم وړاندې کړو، د دوئ هم خوښ شو، او دعا د خیر پرې وشوه، دې نوم زمونږ په زړونو کښې یو قسم اطمنان پیدا کړو».

د دې وینا نه دا ثابته شوه چې باچا خان د غرقدم د جزباتو په سیلاب کښې نه ؤ اخیستی، او ښه ډور سوچ یې پرې کړے ؤ، او ټولو سړو تودو باندې یې ماغزه خلاص کړي وو، د دې نه معلومیږي چې باچا خان نور دې نه تیار نه دے، چې هندې سیاست کښې د پښتې تورب رول ادا کړي، بلکې د جدوجهد اراده یې کړیده، او د غرکار د یو جماعت یا ګروند نه بغیر ممکن نه ؤ، د ده په زړه او سوچ کښې پښتون او مسلمان د واړه په یو رخت کښې موجود دي، ګوري چې هندوانو او پرنګیانو د هند په

خوښ واو تر خو باندې سړ په جګړه دي، نو مونږ تر هم پکار دي چې خپله وندره واخلو. دد ې هلکانو سره د باچاخان د سلوک نه اندازه لګي، چې باچاخان پر سیاسي توګه پوه او بالغ دے. داسې کارونه نه کوي چې سبا په سټ ما نه وي، نو خپل ملګري یې تیاره کښې نه ساتل، بلکې په ډګر یې ورته هغه ټولې بلاګانې ورجوړ ولې، چې ددې په سبب به ور پېښېدلې، چې ملګري یې تیګه شول، او هر مصیبت ته تیار شول، نو بیا باچاخان د ذمه وار لیډر په څېر ددوئ سره دیوګوند جوړ ولو او میدان ته درادګلو متعلق خبرې شروع کړې. دا ځکه چې باچاخان پر دوئ کښې احساس ذمه واري راپیدا کړو، چې دغه نمونه کار دیو لوی مشر کار وي. په خوله باندې احساس ذمه واري ویل ډېر اسان کار دے، مګر عمل کښې احساس ذمه واري سر ته رسول له ټولو نه مشکل کار دے، نو باچاخان داسې ملګري لټول چې دوئ ذمه واري یا نو ته اوږې ورکړي. او داسې ملګري یې پکار نه وو چې ته ګرم اوسیا ورک. او بل باچاخان خپل قوم او وطن پر ښه طریقې سره مطالعه کړے وُ، د دوئ نفسیات او ټولنه ور معلومه وه، چې کوم مشر خپل قوم نه پېژني یا یې سرسري پېژني نو دده هر یو قدم خودکشي او تباهي ده، چونکه باچاخان اوږده

تجربه درلوده ، چې هند ، افغانستان او تر عربو پورې
گرځیدلے ؤ ، ه پښتون او مسلمان تاریخ ور معلوم ؤ
هغه دداسې قدم نه یې ډډه کوله چې سبا په پشیمانۍ
او باچاخان پښتانه مطالعه کړي وو ، چې دوئ په مذهب
ډېر مین دي ، نو ددوئ دنفسیاتو خیال ساتل پکار دي ، چې
داسې نوم دخپل تحریک کښېږدم ، چې کم ازکم دملا او-
پرنګي نه په شروع شروع کښې کم ازکم د مذهب پېرنوم
دوهلو نه بچ وم ، دا ځکه چې ده تاریخ لوستے ؤ ،
چې د دین الهي ، دین باني اکبر باچا د پښتنو رو ښانې
تحریک ؤ ملا اخوند درویزه او پیربابا سیدعلی بونیر تاجکي
په ذریعه تښ تښ کړے ؤ ، او پښتانه یې سره جنګولي وو
او دخپل وخت ملایان خو یې لیدلي وو ، چې دلسورو پو
دپاره به یې د پرنګي طرفداري کوله ، او دمدرسې دجوړو
دوخته ور معلوم وو ، چې ملا څه نه کول ، دخپلې بزیرې
قصه وریاده شوه ، نو ځکه باچاخان د پښتنو دنفسیاتو
مطابق خپل تحریک تر دخدای خدمتګارۍ نوم ورکړو ،
که څه هم ددې ګرنټي نه وه ، چې ملا او پرنګے به یې نه په
عذابوي ، مګر ساده اوربښتونے پښتون پدې پوهیدل ،
چې خدای خدمتګاري چې تر وا یې ، او بل دې نوم کښې
غټ هوښیار تر ب باچاخان دغه کړے دے ، چې ده د

نو رو سیاسي مشرانو په څیر خلکو نه شنه با غونډ نه بنوول داځکه چې ده نه پته وه، چې ده غه پوره کول ممکن ندي او بل دده جدوجهد دیو داسې قوت خلاف ؤ، چې ټوله نړۍ یې خپل استعماري جال کښې راګیره کړې وه، نو دده ملګرتیا کښې خوندونه نه وو، بلکې مصیبتونه وو، نوځکه یې خلکو ته داسې نوم ورا ندې کړو، چې ددې خدمت طمه او ګټه صرف د خدای نه کیده، باچا خان ځان ورځنې خلاص کړے ؤ، که چیرې باچا خان د پارلماني سیاستدان په څیر وعدې کړې وې، نو پخوا به دے او دده تحریک ختم شوے ؤ، او خپل ملګریو به ورنه بد رد ویل، ولې پدې چې پارلماني سیاست د اقتصادي او سیاسي ګټو او عهدو په بنیاد روان وي، چې ده غه پوره نشي نو د ګوند خلک تښتي، داځکه چې ددوئ مقصد خدمت نه وي، بلکې ذاتي ګټې وي، چې دغه دواړه د باچا خان نه زیات د پرنګي په ملګرتیا کښې وو، او بل باچا خان ددې په ذریعه خلکو ته یو داسې Vision ورکړو، چې دوئ ټول عمر په مشغول وو، یو سیاسي تحریک کښې مشکل کار دغه دے چې خلک مسلسل او د اوږده وخت د پاره څرنګې بیدار او حرکت کښې وساتي، نو باچا خان ددا سې تحریک بنسټ کېښود چې ددې په ذریعه مذهبي، ملي او قومي خلکو لنډ د خپل وس

مطابق دکار او خدمت پلیټ فارم ملوشو، او دغه داسې تحریک وُ، چې ژوند یې په انتخابا تو پورې تړلے نه وُ، که څه هم باچا خان ټول هغه کارونه کول کوم چې یو سیاسي مشر یې کوي، خو د باچا خان سیاست دغه نه وُ، چې، خلک وزیران کړي، بلکې بنیاد دې ده غوښتل چې د پښتون قوم غلبیل وجود داسې روغ کړي، چې د کټې کولو او ساتلو قابل شي، چې هغې کښې د باچا خان د مطالعې او تجربې مطابق هغه مرضونه وو چې پښتون پکښې غرق وُ، د مذهب په نوم پښتون قوم د یو بل سړ په جګړه اچول د باچا خان، د پاره څه نوې خبره نه وه، ده په خپلو سترګو ولیدل چې سوچه پښتون او مسلمان او په وطن مین باچا غازي امان الله خان، کافر پرنګي څرنګي ورک کړو، چې کافر پرنګي د خپلو ملایانو، پیرانو او دلالانو په ذریعه مسلمان باچا یې کافر کړو، او د خپل وطن نه یې وشړلو.

دغه داسې تجربه او واقع وه چې باچا خان ته د کتابونو کتلو ضرورت نه وُ، نو ورمعلومه شوه چې پښتون قوم په مذهب څومره ژر غولیږي، نو دے د خپل تحریک په دوران کښې د یې نمونو کارونو ته ډېر متوجې وُ، نو ځکه یې خپل کار داسې روان کړو، چې هم مذهبي وو هم ملي وُ او هم ضد سامراجي وُ، چې د دې نوم په ذریعه

ده خپل ملګري دملا او د پرنګي نه دمذهب په نوم وهلونه بچ کړل، او بل دوئ یعني خدای خدمتګار په، نفسیاتي توګه دومره زړور شول چې چاهم د کفر، فتوئ کم ازکم په ظاهره نشوه لګولے، مګر پرنګي ښ نور مهرونه هم وو، تش مذهبي مهر نه ؤ، چې پرنګیان خبرشول چې موبزه ورته انجمن وړ نولو، او دغه سړے موپنچې کولو، مګر ده راته یوه بله بله جوړه کړه چې دغه، خدای خدمتګاري ده، که څه هم باچا خان بنیادي یو REFORMER. او مګر پرنګیا نو پښتنو کښې هرقسم سیاسي یا اصلاحي کارو ته د شک په نظر کتل، داځکه چې باچا خان دخپل تحریک په ذریعه قوم کښې اتفاق رورولی مینه، محبت خپلولي راوستے، د دوئ پام یې تعلیم، تجارت او اتفاق ته راړولو، او دکور دیدعه نه یې خلاصول، او په یومرکز یې راجمع کول نو دهغه پرنګي چې ته زغمل ولې پدې چې پرنګے پوه ؤ، چې که یوځل د پښتون دمعاشرې نه دغه مرضونه ورکړ شول، نو بیا به صحتمند شي او طاقتور او منظم به شي، نو نن چې کومه توانائي دوئ دیو بل خلاف استعمالوي، نو دغه سبا زما خلاف، به استعمالیږي، نو دغه کار چې څوکا ګوي، هغه زموږ دښمن وے، چونکه باچا خان دغه کار کولو، بل یې دخدائ

د پاڅ کولو، نو پرنګیانو ته لویه خطره وه، او بل دخدای خدمتګاری په ذریعه خلکو کښې وخت په وخت مینه او وروروولي ډیریده، خلک ټولي ټولي په کښې شاملیدل، نو پرنګیان او ددوئ دلالان یې ورخطا کړل، نو دوئ ورته مذهبي او دنیاوي (stamps) تیار کړل، چې کوم یو به بنه کار کولو، دموقع سړه به یې په لګولو، دمثال په توګه باچاخان لیکي:

„زمونږ دې خبرو په خلکو ډېر اثر وکړو، او مونږ چې به هرچیرته لاړو، نو بنځې، نر، واړه، زاړه به ټول راسره روان شو، نو ملایانو دا فتوی وکړه چې باچاخان دجال دے، دا دجال په هکله مشهوره وه، چې دے راشي، نو بنځې، نر او ماشومان به وروسته وي، ملایانو به خلکو ته ویل، چې تاسو نه ګورئ چې نر بنځې زاړه واړه ورپسې دي».

ددې نه معلومه شوه چې ملا داسې ویلی نه شول چې باچاخان غیر اسلامي کار کوي، داځکه چې دغه غار باچاخان دملاګانو نه داول سر نه بند کړے وُ، نو دوئ او پرنګیانو ایجنټانو دپښتون قوم دذهنیت مطابق په باچاخان باندې ددجال مهر ولګولو، مګر دلته د - مولیانو نه دوه غلطي شوي دي، د دجال متعلق مشهوره

ده یوه دغه چې دجال به په خره سوار وي، په یوه سترګه به پړوندوي، او ګوړي به لوانی او هر څه به کولے شي خوصرف خپله پرنده سترګه نشي ر غولی، چې پښتونکښی څوک دجال پیژني نو ورسره دغه قصې هم پیژني.

دباچا خان خو اول مور وپلار او کورنۍ مشهور خلک وو، دویم دا چې باچاخان نه په سترګه پړوندو او نه په خره سوار وُ، او نه یې ګوړ ې غوړ ن ولې، که څه هم د ګوړ ې دعلاقې و، او نه یې سړي ژوندي کول، د ملایانو غصه پدې باچاخان ته وه، چې باچاخان بیرته ډول او سرونه ژوندے کړے وُ، او ډمانو نه یې د سرپیټوب ځائے ورکړے وُ، د ډم او ملا همیشه اقتصادي جګړه وي، داځکه چې کومه معاشره کښې تنګ تګوړ وي هلته د ډم او هنرمند قدر وي، د خلکو پیسې او مینه ټوله دې خلکو سره وي، نو مولا بې کار وي، جماعت یې خوشې وي، او خالي پروت وي، د دې سره د زکات، نذرانه، شکرانه، سرسایه او خیرات په کمیدو شي، نو دے سوچ کوي، چې دغه زما بازار چا وران کړو. نو ده ته معلومه شي چې خلک ټول د ډول او سرنې شوقین دي، چې د دې سره ډم عزتمند او دولتمند دے، نو دے اول کزاو په ډول او سرنې کوي، او

مذهبي جامه کښې ورته د شيطان کار ونه وايي چې پدې برشي، چې ميوزک بند کړي، نو ددې سره دده اقتصادي جګړه په کاميابۍ سره سرته ورسوي، دا ځکه چې خلک اوس دګډاو اتې په ځاے دجماعت غوږ نه د کړي، چې ددې سره دده جيب ګرم شي.

نو باچا خان د ميوزک الات بيرته رواج کړي وو، چې ددې سره د ملا په جيب ګزار ؤ، نو دوئ دپرنګي په خوله او د خپلو مفادو دپاره باچا خان نه دجال جوړ کړو، مګر اوس باچا خان پښتانه دومره پوه کړي وو، چې کم ازکم دومره بيوقوفي خبرو ته دوئ غوږ و نه نيولو، چې د ملا مهر (تاپه) بې کاره شوه، نتيجه يې ورنه کړه چې کومه ددوئ طمه وه، نو پرنګيانو خپل غيرمذهبي ايجنټان پسې ګرم کړل، چې شابسې د دې سړي څه علاج وکړئ، هغه هم پيدا شول، چې دپرنګي لوئ دلال، قلي خان ختک اوس دباچا خان تحريک دقبائيلي بعض، بې اتفاقۍ په بنياد د تبا کولو اراده کړې وه، دده دمور په تاريخ کښې يې ليکلي وو:

چې د دې علاقې خلک به بوټان نه ورکيږي، دغه علاقې به ځنې پاتې کيږي، اومومندو نه يې ويلي وو چې که چيرې تاسې خداى خدمتګارۍ کښې شامل نشئ، نو دغه

ځکه به تاسو تر پاتې شي، څومره دافسوس خبره ده، چې یو پښتون د پرنګي دپاره څومره ذلالت کوي، چې دې ذلالت تر قلي خان ملا تړلې وه.

باچا خان په خپله لیکي:

په دغه ورځو کښې قلي خان چې د مومندو پولیټیکل ؤ، زمونږ مومند ورو ته یې راوغوښتل، او ورته یې وویل: چې په تاریخ کښې لیکلي دي، چې د دې ملک خلک به بوتان ته حې، او دا ملک به ترې پاتې کیږي، که تاسو د دې ملکرتیا ونکړئ او دوئ سره په تحریک (خدای خدمتګاری) کښې شامل نشئ نو دا ځکې به سرکار تاسو تر درکړي، زمونږ یو مومند خدای خدمتګار ؤ چې د ویلي و؛ ویلی د تخت بهائي سره یوه ورځ وکړي باندې ده، هغه راغے او ماته یې داقصه وکړه، په دغه وخت کښې موږ سره د پرسنه مومندان په دغه تحریک کښې وو، هغه چې ماته دا خبره وکړه، نو ما ورته وویل: چې ته د دې علاقې بارسوخه مومندان راوغواړه، او ماته هم خبر وکړه چې زه هم درشم او دوئ سره دوروولے او عزیزولے یو څو خبرې وکړم، او څه چې ورته قلي خان ویلي دي، د دې په حقیقت یې پوه کړم، نو هغه خپل عزیزان مومندان راوغوښتل او زه یې هم خبر کړم، زه ورغلم ما د دې خپلو ورونو مومندانو

ته او ویل : چې د پښتنو د ورورولۍ ویش شوے دے او هر چا له خپله خپله حصه ورکړے شوې ده، او س چې تاسو ته قلي خان څه خبرې کوي ، دا په موږ کښې صرف د نفاق او جګړې پیدا کولو دپاره کوي او زموږ ورورولي ګډوډ کوي ».

د دې نه ثابته شوه چې پرنګي اول سرکښې ملاګرم کړو، چې د بدجال تا په یې پرې ولګوله، چې دې کار وته کړو، بیا یې دلال قلي خان ختګ پسې اچې کړو، چې ده خپله منصوبه په قبائیلي بنیاد ونه روانه کړه، مګر باچاخان یو زیرک انسان ؤ، نو د سامراج دپرکتې دغه سیکم یې دناکامۍ سره مخامخ کړو،.

مګر دخه وخت نه پس پرنګي ته یوه بله موقع اتفاقي په لاس ورغله چې هغه داسې وویل چې خدائے خدمتګار و، وردی به یې د سپینې خامتې وې، چې د دورې په دوران کښې به زر زر، خیرنیدلې، او بدې به ښکاریدې ، د وینځلو بندو بست یې هم نه وو، ولې پدې چې دوئ، شپه ورځ یوه کړې وه، خلکو ته به یې دعوت ورکولو چې دې قومي تحریک کښې شامل شي ، نو دوئ باچاخان ته سوال وکړو، چې تاسو اجازه راکړې، چې موږ خپله وردي رنګ کړو، چې زر خیرنه او بده نه ښکاري

اتفاقاً چې ورله سور رنګ ورکړے ؤ، چې ډېر ښکلے
به ښکار ېدو، او ځلمي ځلمي خدائی خدمتګار به ډېر
ګلالي پکښې لیدل کیدل، بس څه وو چې دېرنګي پېلاس
د خدای خدمتګارو خلاف یوه بله وسله په لاس ورغله،
چې هغه روسي بالشویک ؤ، پرنګي پسې پروپیګنډه جوړه
کړه، چې دوئ سرخ پوش دي (Red shirts) او د روسانو
ایجنټان دي، مولویانو به نور پسې زیاته کړه، چې سور
روسائي خوړ موړ، نه پیژني، نو د دجال نه قلي خان
بوټان نه بوتلل، اوس د بوټان په ځائے خدای خدمتګار -
روسیان شول، باچاخان د سرې وردی متعلق لیکي:
" ما خو وړاندې د دې خبرې ذکر کړے دے،
چې د خدائی خدمتګارو وردی د سپینې خامتا وي
خدای خدمتګارو ما تر شکایت وکړو چې دا سپینه وردی
په دوړ کښې زر خیرنه شي، او د وینځلو هم څه انتظام نه
وي، نو ښه به داوي چې موږ ورله څه رنګ ورکړو.
نو ما ورته ووے چې ورکړئ، نو هغوئ اتفاقاً سور
رنګ ورکړو، خدای خدمتګارو ځان له سرې وردی
جوړې کړې، هر خدای خدمتګار به ځان له په خپله
خپله وردي جوړوله، دې رنګ د خلکو په زړونو
باندې ډېر اثر وکړو، ځکه چې ښکلې وردې وې،

او زلمي به پکښې ښکلي ښکاريدل، او ټولو خدای خدمتګارانو يوشان رنګ ورکړو، دغه د سر و جامو وجه وه چې پرنګيانو زمونږ برخلاف پروپيګنډې شروع کړې، چې دا د بالشويکو تحريک دے، مونږ خو هغه وخت ددې نه خبر هم نه وو چې د بالشويکو هم سره وردي وي، داخو يوه اتفاقي خبره وه، ما تر دغه وخته پورې نه دمارکس نه دلينن او نه دګاندهي جي کوم کتاب لوستے ؤ او نه تر خبر وم ».

د ې تحريک په پښتنو کښې دومره جوش او خروش پيدا کړے ؤ چې د سمې پښتون خو پريږده، بلکې قبائيلي پښتانه هم ځينې ډېر متاثر شوي وو، داځکه چې د پښتون په تاريخ کښې دغه اول ځل ؤ چې دوئ خپل ګوند په خپل وطن کښې جوړ کړے ؤ، او مشرې هم يو پښتون ؤ.

باچا خان هو باهوهغه کار کړے ؤ چې کوم احمد شاه بابا کړے ؤ، چې احمد شاه بابا اول پښتون ؤ چې ده د پښتون حکومت د پښتون په خاوره کښې جوړ کړو، او باچا خان هم اول پښتون دے، چې پښتون اولس بې اول ځل د پاره په يو اصلاحي او سياسي تنظيم کښې منظم کړل، نو ځکه دغه د پښتنو د پاره يو تاريخي او نوې پېښه وه.

نو قدرتي وه چې دسمې اوغړه دواړه پښتانه ځنې متاثره وو
دلته زه يوه وړه غوندې واقع ليکم: دغه خو تولو ته معلومه
ده چې باچا خان او يا خدائ خدمتگار کلکتې او دهلي ته تلئ
شول، مگر جم (جمرود) يا مهمند او يا وزيرستان ته ورته
اجازت نه وُ، نو ځکه قبايلي پښتانه ددې ځريک ګکتې نه
محروم وو، ما ته دخيال اپريدي ددره آدم خيل ته ره،
(گل اکبر ولد ميراکبر) چې خاصه دارو ګکنې حوالدارو دغه
خبره کوله، «چې يوه ورځ د سرخ پوشو جلوس ګډ پښتو
نه کوهاټ ته پيدل روان وو، سروني او ولونې غږول
پدې ورځ زما نوکري وه، او حوالدار وم خاصه دار وګکنې
زما ځواني وه، چې دوئ په سرکا يعنې دره ادم خيل باندې
کوهاټ ته تيريدل، نو په ما باندې ډول او سروني او
جلوس دومره اثر وکړو، چې ما نه هرڅه هير شول،
چې زه دپرنګي نوکر يم، نو دوئ ته مې اول دخوشالۍ اول
ډزې وکړې، او بيا ډول او سورني ته ښه وګډيدم، چې
دوئ لاړل زه خپل حالت ته راغلم، پوه شوم چې کار خو
دې خراب کړو، دکور والا ټول راته غوسه وو، چې کار
دې بند وو، چې سرکاري سړے يې چې تا ورته ګډ اکا نې
او ډزې کولې، نوکري دې نوکري لاړه، حکومت به
دې قيد هم کړي، جاسوسانو کوهاټ کښې په منډه تحصيلدار

خبرکړے ؤ، ما پسې تحصیلدار خبر راولیږلو، چې کوهاټ ته حاضر شه، دغه تحصیلدار د پېښور د ښار ؤ، ماته ګوډه پښتو یې ویله یعنې (ښاري ژبه) او د خدای خدمتګار و سخت مخالف ؤ، اوس ما ټوله شپه کرل ریبل کول. چې سبا به څه ورته وایم، نوکري خو مې تلې ده، قید مې هم په برخه دے. ټوله شپه خوب نه راتلو اخر یو سوچ راغئ چې دخان نه پاګل او بې وقوف جوړ کړه، او په تحصیلدار اولټا دعوی وکړه، سبا چې تحصیل ته وراغلم تحصیلدار په کوټه کښې ورزي پرزي کنځلې کوي او ښاري پښتو کښې وایي (ته ته کانګرسیانو ته که دزې او ګډاګانې کوې وې، که دخان نه دې غفارخان جوړ کړے وی، که تا ته پته نه وې، که بې وقوفه، تاته سرکار حولدار وی، که تاته نوکري هم ختم که سرکار قید کړې)).

ما ځواب ورکړ چې صاحبه ما خو دزې او ګډاګانې، ځکه کولې، چې خلك وایي چې خانصاحب په پټه کانګرسي دے، او پدې خوشحالیږي، نو ما د ستاسو د خوشحالولو دپاره دغه کار کړے دے، دا خبره څه وه، چې تحصیلدار داسې ټوپونه ووهل، لکه او ر پورې و نیسي، او شور یې جوړ کړو، چې که دې بیوف اپریدي ته که ګوره، که خان په خوشحالیږي، خان په خوشحالیږي، که خان ته په پټه کانګرسي

وي، چې بنه ټوپوند يې ووهل، نو بيا سړي ته خيال، ورغے، چې پرنګيان خو به ما غرق کړي، نو دځان سره يې سوچ وکړو چې دغه بيوقوف، حولدار به هرځای دغه خبره کوي، ددې سره زما ډزې اوګډاګانې دخان صاب، تحصيلدار نه هيرے شوے او دځان په غم شوځه وخت نه پس يې ماته په قهر وويل، چې دے ځل هې معاف کړې خو خوله چو په کړه، که تا ګانګرسيانو نه ترکه ډزې اوګډاګانې نه ندې کړي، او خانصاب دسره خبرته دے، ځه بې وقوفه که شکل ورکوه، بيا خيال کوه، ويل يې چې په دې چل دتحصيلدار نه هې ځان خلاص کړو، چې ځان هې ورنه پاګل کړو،.

ددې نه معلومېږي چې ده کښې دپښتو او پښتونوالي څومره جوش وُ، مګر پرنګيا نو پښتانه داسې تقسيم کړي وو، او ترنګ پورې دې، چې يو دبل په ښيګړه نه ورزوي، مګر ددوئ وينه او غيرت کښې هيڅ فرق نشته، چې څومره دچارسدې پښتون مستوُ هومره ورته د دره آدم خيل اپريدي وو،.

نو دې تحريک په واقعي توګه پښتون قوم کښې بيدار راوستې وه، نو د پرنګي سره غم وُ، چې ننګ ورته د درې آدم خيل اپريدي ډزې وکړې اوګډاګانې وکړي.

او که دوئ منظم شي، نو دغه ذرې په ما دي، نو دوئ
پخه اراده کړې وه، چې د دوئ ختمول پکار دي، او
بل غټ مصیبت خدای خدمتګارو ورته دغه جوړ کړے
ؤ، چې دوئ تشدد یعنې د پښتون روایتي لوبې
نه کوله، بلکې دغه ټول کار یې په عدم تشدد کولو،
او د پرنګي په لاس داسې بربنډه پلمه نه ورتله چې
دوئ ته لاس واچوي، او په فوجي توګه یې وټکوي،
دا ځکه چې باچاخان به د دوئ نه قسم اخستو، چې،
څوک دے تحریک کښې شامل غواړي، نو د عدم تشدد
لوز به کوي، او بل یې هرڅوک نه پکښې شاملول،،
خلك او ځوانان یې اول ښه پوهول، او بیا به یې اجازت
ورکولو، چونکه باچاخان د پښتون ټولنه رغوله
چې د تشدد په وجه خرابه ترابه وه، نو ځکه متبادله
لار یې عدم تشدد ؤ، د دې نه ثابته شوه چې، باچا
خان د عدم تشدد دلارې دګاندهي او کانګرس نه ډېر
مخکښې اختیار کړیده، دا ځکه چې باچاخان یو مصلح
(Reformer) ؤ، نو اصلاحات په تشدد نه کیږي
بلکې په مینه، زور ولسي او اتفاق کیږي، دغه ټول
کار وتر په زور نه بلکې په مرضي او خوښه باندې،
یا په بله معنئ په عدم تشدد کیږي، نو ځکه باچاخان۔

خپل پخپله د عدم تشدد په لار روان شو، چې د پښتون د تشدد مرض علاج صرف عدم تشدد دۍ. چې پرنګي دپاره یو تشدد پسند پښتون دومره خطرناک نه ؤ، داځکه چې پرنګي سره د تشدد سامان ډېرؤ، مګر د یو عدم تشدد د - پښتون خلاف یوازې عدم تشدد نه ؤ، نو پرنګي د بالشویکی نه یوه چاره جوړوله او دوئ یې حلالول. هم چې ۱۹۳۰ کښې پرنګي باچاخان او خدای خدمتګار، قید کړل، او ددوئ دهمیشه دپاره د ختمه ولو، منصوبې یې جوړې کړې، نو یو پښتون صاحبزاده عبدالقیوم که څه هم دپرنګي نوکرؤ، مګر دومره بې خوونده نه ؤ، لکه قلي خان ختک، نو ده جیل کښې باچاخان خبرکړو چې حکومت درته داسې نیت لري، تاسو کوښښ وکړئ، چې هندکښې دیو سیاسي تنظیم سره ځان شامل علان کړئ، چې د مرګ او پهانسۍ نه بچ شئ، نو باچاخان ملګري اول - مسلم لیګ ته ورغلي وو، هغوئ ورته وئیلي ؤو چې تاسو پرنګے دملك نه شړئ او موږ یې تهم کوو، نو زموږ نه او ستاسو یاري ګرانه ده، چې مایوس شول، بیا کانګرس نه لاړل کانګرس هم پرنګے شړلو او خدائ خدمتګار وهم، نو ددوئ دا مشترکه مقصد او بل زپرنګي دپهانسۍ نه د بچ کیدو دپاره خدائ خدمتګار مجبور شول، چې کانګرس سره ګډ کار وکړي.

د باچاخان د خدمت

مقصدونه

دکومې ورځې نه چې باچاخان په ښه او بد پوه شوے
دے، د ده ټول سوچ او کړه وړه د انساني خدمت کړې چاپېر
چرخي د سکول په زمانه کښې د خپل سکول هېډ ماستر
د ده د پاره یوه نمونه وه، چې څومره د ده عمر پخېده،
هم په دې پیمانه د ده شوق ورسره واضح کېدو او-
زیاتېدو، چونکه بنیادي باچاخان د پاره ټول آدم زات
یو وو، باچاخان نه نسل پرست ؤ، او نه متعصب، مګر
د ظالم مخالف ؤ، او د مظلوم ملګرے ؤ، چونکه باچا
خان مسلمان ؤ او په پښتنو کښې زېږېدلے ؤ، نو دغه
قدرتي خبره ده، چې دوئ خپل خدمتي کار د خپل قوم
نه شروع کړو، داځکه چې د ده قوم هر میدان کښې
پاتې ؤ، دوئ یو میدان کرم ساتلے ؤ، چې هغه تشه د
ؤ، او د دې په وجه یې کور او ټولنه ورانه وه، او د ټولو
مرضونو جاله ځنې جوړه شوې وه، نو باچاخان غوښتل،

چې دې قوم نه يو صحتمند قوم جوړ کړي، اوصحتمند
به هله جوړ يدلے شو چې دے هم دنورو قومونو په
څير، تعليم، کسب، سياست، تجارت، ته مخه ورکړے وے.
باچا خان ليدل چې پښتون قوم جاهل دے، نوددوئ
دپاره يې دتعليم بندوبست وکړو، داځکه چې ددوئ
دتعليم غم نه پرنګي کولو، او نه زموږ ه مذهبي مشرانو،
که څه هم اسلام کښې علم فرض دے، مګر زموږ ه
مذهبي ادارې سخا شوې وې، دوئ دې ته علم ويلو،
چې دخيرات او زکوٰة دپاره يو څو ايا تونز ده کړي
او قوم جاهل وساتي، چې ددوئ مزې وي، پرنګي
خوقصداً نه کولو، چې دپښتون په تعليم کښې يې خپل
مرګ ليدو، هم دغسې ملا سړ غم ؤ، چې که دوئ
تعليم يافته يعنې لوستې شي، نو ځما دم، تعويذ او کوره
به څوک اخلي، نو پرنګي او ملا دواړو دخپلو خپلو
مقصدونو دپاره پښتون اولس په تيارو کښې ساتل،
غوښتل.

باچا خان چې دغه حال وليدو، نو ډېر په غمجن
شو، نو اول يې په خپل سر او بيا روستو يې دانجمن
په ملګرتيا نو له پښتونخوا کښې دعلم دپاره دمدرسو
جال خوړ کړو، چې دپرنګي او ملا يعنې ددواړو بدي

یې په سر واخیسته، مګر باچاخان دغه کار شعوري کولو، او هرقسم مصیبت ته تیار ؤ، چې پرنګي ددې خدمت خلق په عوض کښې زندانې کړو. جیل کښې یې میچنې په وګرځولې، مګر د دې ټولو تکلیفونو باوجود باچاخان اراده ګډوډه نه شوه، بلکې چې خومره به ورسره ظلم کیدو، په هغه پیمانه به دده ایمان کلکیدو، داځکه چې باچاخان خپل خدمت دخپله ذاتي طمې په بنیاد ولاړ نه ؤ، بلکې د خدای درضا او د قوم دابادۍ په بنیاد ولاړ ؤ، نو ځکه چا د خپل مرام نه وانه ړاوه، او نه مرګ پورې په کلکه ولاړ ؤ. نو باچاخان دخپل قوم تعلیمي خدمت د دې دپاره کولو، چې موږ د نورو قومونو سره پدې میدان کښې سیالان کړي، چې په حقیقت کښې موږ ډېر روستو پاتې وو، اوبل دباچاخان مقصد دغه ؤ چې په موږ کښې علم راشي، نو زموږ زړونه اوفکرونه، به رانه او آزاد شي، دتنګ نظرۍ اوجاهلیت نه به ووځو، دخپل مستقبل او دبال بچ اوقوم په قسمت به غور کوو، یو بل ته به کوهي نه کنو، په معمولي، معمولي خبرو به جګړې نه کوو، تشدد به رو رو پکښې کم شي، خپل کور جوړولو نه. به یې خیال شي، د روزګار ګټلو لارې او ګودرې به یې ډېرې شي، دخپل پردي فرق به وکړے شي،

نو باچا خان اول بندوبست دعلم وکړو ، دده مقصد دغه ؤ، چې دعلم سره به په دوئ کښې عزیزولي او ورورولي راشي، او د مذهبي او دنیاوي کندکپانو نه به په امن شي، وهم او نیاري به لاړې شي، نوځکه باچا خان اول ګوزار په جاهلیت وکړو، چې دباچا خان د تجزیې مطابق دغه دتولو مرضونو بنسټ ؤ، او بل باچا خان غوښتل چې د علم سره به دپښتون ژبه ترقي وکړي، دوئ کښې به عالمان زرغون شي، بیا به دوئ دخپلې ژبې او ثقافت دپاره جدوجهد کوي، مګر پرنګي او ددوئ ایجنټانو هر قدم په قدم ورته مشکلات جوړول.

بل ګوزار باچا خان په دې وکړو، چې دبدل خلاف یې خلک پوه کړل، باچا خان ته ورمعلومه شوه چې د بدل په مرض موږ څومره اخته یو، چې دپښتون ژوندیې دوزخي کړے دے، او دغه بدل به یې دخپل پښتون رور نه اخیستو، چې بدل پسې بدل به دکینسر مرض شکل اختیارکړو. چې ددې په وجه کورنۍ او قبیلې تباه او برباد شوې. دوئ به په اقتصادي لحاظ برباد شول، چې ځکه یا نورڅه به وو ورسره وو، دبدل په وجه به ورځنې خلاص شول، کلې او وطن به ځنې پاتې شو، مزدوري پسې به هندوستان کښې در په در ګرځیدل، چې هلته به مړ او ورک شول، دده ټول،

ګټلې به د بدل په وجه د هندوستاني د کچرې وکیل د تهانې واکمن دا رو شول، دا ځکه چې دغه دواړه غیر - پښتون خلک وو، نو د دوئ دکانداري هله ګرمه وه چې پښتون به بدل پسې بدل اخیستو، او د پرنګي دپاره فایده دغه وه چې پښتون به د پښتون سره لاس په ګریوان وو، او پرنګی به ځنې په ارام ؤ، نو باچا خان غوښتل چې دغه بنیادي مرض د پښتون د ټولنې نه ورک کړي پدې چې د بدل په وجه، زموږ ټول ژوند ګډوډ او ځائ په ځائ ولاړو، د ځکښې حرکت پکښې نه طاقت ؤ او نه همت، نو ځکه باچا خان د خدای خدمتګارو په لاره د دې بنیادي مرض (بدل) خلاف، سخت جهاد وکړو، د پښتنو کلي په کلي کلی په کلی وګرځیدو، دوئ یې خبر کړل، نو دغه ټول قدمونه پرنګي نه زغمل، دا ځکه چې پرنګي ته پته وه چې که چیرې باچا خان پدې کار کښې کامیاب شو چې د پښتون د ټولنې نه د بدل مرض ورک کړي، او دوئ، منظم کړي، نو بیا به دوئ ځما نه بدل اخلي، تهانیدار او هندوستاني بابوګان وکیلان یې ځکه مخالف دي، چې پښتون سم شوے وے، نو جګړې ختمیدې، چې د دې سره د دوئ دکانداري تپ کیده، نو ځکه دوئ د باچا - خان او خدائ خدمتګارو سخت ترین دښمنان وو، د

کلي خان، ملك او نواب، چوهدري د منځه تلو، دبدل د
لرې کیدو دپاره باچا خان ورته جرګې جوړې کړې، چې
دوئ به بغیر داجر نه دخپلو پښتنو روڼو روغې،
جوړې کړې، او دغه جرګې اصلي د پښتونولس پرښتې
ولاړې وې، په دې کښې نه رشوت وُ او نه سفارش، د-
انصاف او قصور وار په بنیاد به دوئ فیصلې کولې،
دا ځکه چې ددوئ مقصد دخپل قوم رغول وُ، نه روچه
کتل، پرنګي هم ورته جرګه سستې جوړې وو، مګر دې،
سستې کښې داسې خلك راجمع وو، چې دوئ به رشوتونه
اخیستل، او ظلمونه کول، چې هغه اصلي د پښتنو دجرګې سستې
روح دوئ بدنما کړو، او قصداً پرنګي غوښتل چې دغه
د پښتنو سستې بدنام کړي، او دخپل مقصد دپاره یې
په کار راولي، یعنې سیاسي خلك به یې ددې په ذریعه
ټکول، چې څه وخت باچا خان ورته اصلي د پښتونولې
جرګه سستې راټکښې کړو، نو دغه کار باندې پرنګې
او دده دلالان به څرنګې خوشحاله وو، نو دوئ،
دخدای خدمتګارو خلاف دکلي خانان او ملکان را
ګرم کړل، دوئ ته یې د مجسټریټ اختیارات ورکړل،
صرف ددې دپاره چې دغه تحریک په وټکوي، چې خدای
خدمتګارو عاجزانو به صرف او صرف دخپل قوم خدمت

کولو، دبدل د مرض خلاف لګیا وو، خو بیا هم باچا خان تر
ډېره حده پورې پدې بر شو، چې دبدل مخه ونیسي، او
خدای خدمتګار و کښې خو ډېر کامیاب وو، دوئ تشدد
نه کولو، او د بدل اخیستل یې ترک کړل. چې ددې پرذریعه
د پښتون معاشره کښې تشدد ډېر کم شو، مګر پرنګي ورپسې
ؤ، د باچا خان هریو اصلاحی کار یې ورانولو، پښتون
باید هیڅکله دغه خدمت هیرنکړي، چې باچا خان زمونږ
د پاره کړیدي، نو دې مرض خلاف هر ممکن کوښښ شوے
دے، مګر پښتون قوم کښې صرف دغه مرض نه ؤ، نور
زښت ډېرو و، د مثال په توګه پښتون کسب او کسبګرتر په
ښه سترګه نه کتل، باچا خان ته معلومه وه چې پرنګي
صنعتي انقلاب ځکه وکړو، چې خپل کسب او کسبګرتر یې
ترقي ورکړه، او نن په ټوله دنیا حکومت کوي،
نو باچا خان غوښتل چې د پښتون د ذهن نه دغه
مرض ورک کړي، او ورته وښايي چې د انسان لوئ
په ذات یا په نسل ندے، بلکې په دې دے چې څوک
څومره پیدا وري قوت لري، چونکه کسبګر ټول تیکنیکل
خلک دي، نو دیو قوم د آبادۍ د پاره دوئ بنیادي رول
ادا کوي، پرنګي او دده دلالانو د ومره پروپیګنډې کړې
وه چې دوئ به کسبګر پښتانه نه ګڼل، بې ځکې پښتون

به پښتون نه شمار ېدو، تش خانان، نوابان او دپرنګي ،
ایجنټان پښتانه وو، دپرنګي مقصد دغه ؤ، چې دپښتنو
سوسایټي تقسیم کړي، چې د دوئ اتفاق راڼ شي،
دې نمونه پروپیګنډې نه پرنګي لمن وهله، بل اړخ نه باچا
خان ؤ چې ده غوښتل چې پښتانه په یو اتفاق کړي،
چونکه دے پخپله د هرقسم غرور او تکبر نه آزاد ؤ،
دده دپاره د ګلي خان او شاخیل دواړه پښتانه
وو، دده په سترګو کښې غوړ پښتون په ذات
نه بلکې په کردار ؤ، نو باچا خان دغه زړلي پښتنو نه ډېر
لوئ عزت ورکړو، د خپل تنظیم په اهمو او احساس عهدو
یې دغه کسب ګر پښتانه وساتل، چې دوئ ډېر ښه امتحانونه
ورکړل، او دپرنګي ایجنټ خانان او ملکان او خان بهادانو ته
یې انتخابانو کښې سخت سخت شکستونه اوماتې ورکړې.
دباچا خان په برکت دغه تکړه کسبګر پښتانه بیرته
د قوم سره یوځاے شول او خدائ خدمتګارئ کښې دوئ،
یو بنیادي رول ولوبولو، دغه د باچا خان برکت ؤ، کښې دپرنګي
ایجنټانو خو دوئ دپښتونولې نه وسیتې وو، دغه، د
باچا خان یو بنیادي خدمت ؤ، او بل خدمت باچا خان، دغه
وکړو چې پښتون قوم ته یې په خپله ژبه پښتو کښې اخبار
ورکړو، دجدید ژورنلیزم بنسټ یې کېښود، چې په دې

باندې په تېرو بابونو کښې تفصيل سره بحث شوے دے.

د باچاخان نه مخکښې دمشاعرے رواج نه وو، د هر کلي خان به يو شاعر ساتلی ؤ، چې ميلې به وې نو خان به سره د خپل شاعره او نور کلیوالو، سره به يې کډون کولو، چې د يوکلي شاعر به د هغه بل کلي پورې ټوکې مسخرې کولې چې د کوم کلي شاعر به په خوله کښې تکړه ؤ، نو د هغه بل کلي شاعر به يې پرې کړو، چې د دې سره به د دوئ په منځ کښې جګړې جوړې شوې، چې تر نسلونو نسلونو به روانې وې، چې په همداسې يوه جګړه کښې باچا خان خدای هسې بچ کړو، کښې دغه د پښتون قوم ملغلرې به ماته او ورکه شوې وه.

نو باچا خان چې زلمئ شو او د خپل قوم خدمت تر يې ملا وتړله، نو دې بنيا دې مرض تر يې مخ ورواړولو د واړو شاعران يې د خان د منګولو نه خلاص کړل، ده ورته خلك جمع کړل، مشاعره يې ورته جوړه کړه، چې د واړه شاعرانو ورته خپل خپل کلامونه واورول، نو خلکو به شاباسی ورکولو، هم د دې قدم په ذريعه باچا خان پښتون قوم د جګړونه بچ کړو، شاعرته يې د عزت مقام ورکړو، او د پښتو ژبې د ادب يې يو ښه بنيا د کېښود، چې تر نن ورځې پورې روان دے، دغه خدمت نلے نوڅه دې؟

بل خدمت چې باچا خان کړے دے، هغه د پښتون قوم د اقتصادي ژوند د ښه کولو د پاره بنیادي قدم دے "یعنې تجارت" باچاخان ته پته وه چې دغه نن سبا یورپي قومونه چې په نړۍ دنیا حکومتونه کوي او د دوئ یې غلامان کړي دي، غټه وجه یې همدغه ده، چې دوئ د فوجي مهمو د پاره دولت لري، او دغه دولت د کومه راځي، او دغه دولت د کاروبار او تجارت په ذریعه دوئ، کټي، چې دوئ په دې باندې لوئ لوئ فوجونه ساتي دغه کار غریب ملک او قوم نشي کولے، چونکه پښتون قوم د هندوستان دروازه (یعنې درو) کښې میشت دے، نو چې څوک هم هند ته تللي دي، نو اول یې زمونږ سړکیدې شوې ده، او دغه لوبه د معلوم تاریخ نه روانه ده، نو د دې دائمي جګړو په وجه د پښتون ذهن او کړه وړه ټول لښکري شوي دي، او مونږ کښې صبر نشته، هرڅه په بیړه کوو، او د هرې معملې فیصله په فوجي توګه کوو، نو باچا خان ته خپل قوم ورمعلوم ؤ، چې دوئ غریبانان دي او غریبانان ځکه دي چې، دوئ څه کټي هغه ټول په خو په (Defenec) او یا په (offence) خرڅ کړي، چې دغه ټول د ده د نشه د پسند طبعیت وجه ده، او بل دا ته ورمعلومه شوه چې دوئ کاروبار یعنې تجارت نه کوي، او ښې په دې

مست دي چې، خان صاحب دے، او خانصاحب دلوړې
مرکېدو خو دکانداري ورته سپکه ښکاريده، او دپردو
ورغمو پټول ورته سپک نه ښکاريدل، او بل هندوانو او
پنجابي مسلمانانو په دخپل مفادو دپاره دغه وئيل، چې د
خان صاحب سره توپک ښه ښکاري، او د مرچو او تيلو
خرڅولو باندې خان ښه نه ښکاري، او د خان په کنډو
کښې سپرنسي خوند نه ګوي، تلې ته خدائ د پښتونو لاس
نه دے جوړ کړے، بلکې پښتون خدائ د خانۍ دپاره
پيدا کړے دے، دده په لاس کښې تله نه بلکې توپک يا توره
مزه کوي، نو ځکه دوئ دغه ورته وئيل، چونکه دوئ ټولو
پښتنو علاقو کښې خوار وو، او د پښتون په اقتصاد يې
قبضه کړې وه، نو دوئ سره ويره وه چې که چيرې پښتانه
کاروباريان شي، نو ددوئ تجارت او شوکماري به ختمه شي،
نو ځکه به يې پښتون ته دغه باد ورکول، او د پښتون خوځوک
ته وو چې ورته يې ويلے وايئ، چې غلا کوې، ډاکه کوې، ظلم
کوې، مرګ ژوبله کوې، دغه کارونه درته ښه ښکاري، او ځان
ته بهادر وايې، مګر حلاله روزي چې د دکانداري يا منلئ
په ذريعه کټې نو بيا دې خاني خرابيږي، دغه بې هوده
مغرور تيا ته باچاخان لته ورکړه، او اتمانزو کښې يې دګوړې
منلې خلاصه کړه، چې خلک خبر شول، چې باچا خان،

تله کوي خا نه تر يې لته ورکړه ، نو دغه خبره په خلکو کښې دخنګل داور په شان خوره شوه ، چې د خان بهرام خان خان زوئ عبدالغفار خان فخر افغان هغې وان شو ، نو پښتنو ته دغه قدم څه عجيبه غوندې معلوم شو،دا ځکه چې دوئ خو اوريدلي وو ، چې پښتون سره تله خوند نه کوي ، بلکې ټوپک ورسره خوند کوي ، چونکه باچاخان خو Reformist ؤ ، او د خپل قوم مرضونو خلاف يې جهاد شروع کړے ؤ ، نو دد ې دپاره د دې شي هيڅ قيمت نه ؤ ، چې خلک څه وايي ، بلکې دې ته يې کتل چې زما د دې قدم نه په پښتون قوم ترڅه فايده وي ، او که نقصان؟ باچاخان به خلکو ته ويل: چې ستاسو ځکې نه ځا د مندې امدن دپر دے ، دوره کړاو هم پکښې نه شته ، او دوئ ته يې ترغيب ورکولو چې دوئ کاروباري شي ، ګڼې داصلي کاروبارې سړي خو دغه عادت وي چې نور خلک بې خبره وساتي ، چې دده کاروبار تر نقصان ونړوسي ، مګر دلته باچاخان اولته کار کوي ، خلکو ته وايي چې تجارت شروع کړي .

د دې نه ظاهره شوه چې د باچاخان بنيا دې ، مقصد په مندې جوړولو کښې دغه نه ؤ ، چې دے دولت وګټي ، بلکې غوښتل يې چې پښتون قوم مخ د-

تجارت او کاروبار اړخ ته راواړوي، دا ځکه چې باچا خان په دې پوه و چې دوئ کاروبارې شي نو دیوخوا یې اقتصادي حالات ښه شي، او بل دا چې دوئ به مشغول وي او یو بل تر به کوهي نه کني، او دغه دوه کلاسیکی لارې چې پښتي یا ځناورو باندې گزاره په ځاے، به ورته بله درونې، گټلو لاره. جوړ شي یعنې (تجارت) او بل چې دغه د هندوستان راغلئ خلک دي چې دوئ د پرنګي دکارخانې جوړ شوے شئ پر، پښتون خرڅوي، او د پرنګي دکارخانې دپاره دپښتون خام مال اخلي، چې پښتون په دواړو صورتونو کښې بې برخې دے، نو چې تجارت شروع کړي نو دوئ به هم د دې جوګه شي، چې دغه د هندوستانې اجاره داري به کلیو کښې ماتر شي، او د پښتون بچې به د ښه ژوند خاوندان شي، باچا خان تر معلومه وه چې بغیر د دولت نه، نه تعلیم نه کوو، او نه ښه ژوند ممکن دے، او د دولت د گټلو اسانه طریقه کاروبار و، نو د ده مطلب دغه و چې پښتون کاروبارې شي، نو د دولت خاوند ن به شي، اقتصادي او معاشرتي ژوند به یې غوړ او ښه شي، نو د دې سره به دے د ښه کور او جائیداد مالک شي، چې د دې په ذریعه به دے په خپلو بچیانو ښه تعلیم

وکړي نو دوئ دد ې په ذریعه اباد او ودان شي، د
کاروبار په وجه دغه سختي ورځني ورکه شي، طبعیت به
یې سوړ شي، په هره خبره به چاره نه راخلي، اومشغول
به وي، د خپل عزیز دپاره به ور سره دمشکلاتو جوړولو
وخت نه وي، چې بې کار پښتون به هر وخت په کلي
اوکلي کښې فساد جوړ کړے وُ، همدغه دېرلوئ سکیم
باچا خان په مخه کړے وُ، نو ځکه باچا خان تش نصیحتونه
نه کول، چې کاروبار ښه شی دے، بلکې ده خپل قوم
پیژندلے وُ چې دوئ یو کار هله کوي، چې نصیحت کوونکی
یې په خپله وکړي، نو ځکه باچا خان تلې ته لاس کړو
چې ځان ورته نمونه کړي، نو د دې سره د پښتنو نه
دغه بې بنیاده او بې هوده مغرورتیا ووته چې د پښتون
پښتو کښې سپړښتی بد ښکاري، یا د تلې په ځائے ټوپک
ور سره خوند کوي،.

باچا خان چې ولیدل چې قوم کښې رو رو دکاروبار او تجارت رجحان پیدا شو، او دغه نفسیاتي مورچه باچاخان ورته ماته کړه، او پښتانه رو رو د تجارت په خوند پوه شو، چې دغه خومزے دي موږ نه هندوانو په غلط مهمی کښې ساتلي یو، هم هغه ورځ باچا خان خپله مذهبي بل ملګري ته ورکړو، د دې نه

معلومیږي چې دې سړي دخپل قوم دپاره څه نه دي کړي ؟،

باچا خان قوم ته په ګوته کول چې که تاسې چیري دنورو قومونو سره ځان سمول غواړئ نو باید تاسو په اقتصادي لوګه، مضبوط یاست، چې دپښتو بي دکاندار خیرات ته مولاس نیولے دے، او دوئ کښې یې یو- اقتصادي انقلاب راوستل غوښتل، چې دکاروبار پرو جم به دوئ هند او نوره دنیا کښې وګرځي، دخپلې کلي د ماحول نه به بهر دنیا او ملک وګوري چې دنیا څه کوي او موږ څه کوو. اویل یې پدې ذریعه پښتون قوم دپرنګي او پنجابي داقتصادي غلامۍ نه آزاد ولو، دباچا خان خیال داو چې پښتون شتمن شي نو دپرنګي لس روپیو ته به یې سترګې نه وي نیولې، او هغه بنیادي مرض چې پښتنو پسې مشهوره ده چې پښتون هرڅه تر د تینګي دے مګر پیسو ته نه. نو دلوئ باباخواهش ؤ، چې دغه مرض هله ختمیدے شي، چې پښتون خپل اقتصادي مشکلات دتجارت په ذریعه حل کړي، نو دومره زر او دومره بې قیمته به ته خرڅیږي، اوده کښې به قومولي او ورور ولي راشي، همدغه او نوري دوپرې قیصې سره یو ځاے شوې، او باچا خان دپښتون

د پښتګرۍ او آبادۍ د پاره د غه نفسیاتي مورچه ماته کړه، او دوئ ته یې د نوي او غوړ ژوند دروازې خلاصې کړې،،

د باچا خان خدمتونه هراړخین یعنی All round وو، د یو مرض نه و په نخه کړنے، بلکې د تعلیم نه راتیولے د پښتون تجارت، سیاست، ژبه، ثقافت، تولنیز ژوند پورې د جهاد شروع کړے ؤ، او د پښتون د وجود نه یې ټول مرضونه ورکول غوښتل چې د غه نمونه کارونه د پیغمبرانو کار وي، مګر دلته باچا خان ورته ملا تړلې وه، چې تر مرګه پورې نه - پښیمانه شو، او نه په شا شو، خو افسوس په دې چې پښتون قوم د دې لوئ شخصیت نه فایده وانه خیسته چې په کومه پیمانه ورته پکار وه، خدائ خبر چې بیا داسې پښتون په راتلونکي درې سوه کاله کښې پیدا شي،،

د باچاخان ملګري

هر څوک چې په نړۍ کښې په څه پسې راپاڅي، نو د شوق نه نه راپاڅي، بلکې د خپل وخت په ټولنه کښې کموتې وينې، چې د هغې وخت د نظام په وجه جوړې شوې وي او د دې ظلم او بربريت شاته داسې قوتونه پراته وي، چې د دوئ د ظلم او بې انصافۍ په ذريعه ژوند کوي، هر هغه څوک چې د دې خلاف راپورته کيږي هغه که پيغمبر وي يا (Reformer) او يا سياسي مشر نو د دې رواج شوي NORMS د دې نه CONFLICT منځ ته راځي چې ځينې دغه مذهبي او ځينې دنياوي وي، نو زاړه قوتونه - حالات داسې غواړي لکه چې وي او نوي خلك دغه بدلول غواړي، چې دې کبډۍ کښې دواړو ته د خپلو خپلو پلويانو ضرورت دے، او چې څوک خپل ملګري په ټولنه کښې پيژني نو هغه ته خپل ميشن ډېر اسان شي او زاړه قوتونه د ماتې سره مخامخ کړي، او چې څوک صحيح تشخيص ونه کړي، نو دے ناکام شي، همدغسې حالاتو سره زمونږ لوئ بابا مخامخ

شوے وُ، کورو چې بابا دخپل وخت د قوتونوخڑنګی تجزیه کړے او بیا یې ځان ته ملګري پیداکړي دي.

داخواوس جوته خبره ده چې دباچاخان میدان - هندوستان او پښتانه وو، دغه هم معلومه خبره ده چې دلته دپرنګي حکومت وُ، چې نه صرف هند باندې، بلکې نمرنه په پریوتو، د داسې قوت سره پلوانی څه د ټوکو خبره نده دپاچا خان د زېږیدو نه درې کاله روستو پرنګي پښتون اولس اول په دوه حصو تقسیم کړو، یعنې د دیورنډلاین اوبیا یې دغه نور په برخو برخو تقسیم کړي وو، باچا خان چې کوم ځاے زیږیدلے وُ، دغه ځاے د پرنګي دفوج او پولیس پهلاس کښې وو، د پښتون ټولنه پهمایتدو وه، دوئ په تاریخ کښې د یو داسې دښمن سره مخامخ وو، چې د توپې او ټوپک نه علاوه دریل خاوند او داوبو جهازو خاوند هم وُ، دکارخانې دعلم او دولت خاوند هم وُ، د ټیلګراف او ټیلفون خاوند وُ، دلارو او موټرو، خاوند وُ، دبجلۍ ګهر خاوند وُ.

چې دغه ټولې خبرې داسې نوې وې، چې دپښتون دتیرشوي دښمنانو سره نه وې، مغل او ایراني بردپښتون سره جنګ په مات ګوډ ټوپک او غشی کولو، مګر پرنګي سره داس په ځاے ریل، لاری او ټینګ وو، چې روستو ورسره

هوا جهاز هم شو، مګر په فوجي توګه ډېر زور ورو او په اقتصادي او صنعتي توګه دومره مضبوط ؤ، چې، څه حد يې نه ؤ، او بل تاريخ کښې پښتون د داسې دښمن سره مخامخ شوے ؤ، چې دے هندوستان ته په روايتي لارو نه ؤ راغلے، بلکې داوبو دلارې راغلي وو، او چې ده نه رارسيدو، سل کاله يې هند خوړلے ؤ، هرڅه يې مطالعه کړي وو، نو د ده د هرڅه نه يې ځان خبر کړے ؤ، او هند کښې مکمل ناست ؤ، چې پښتون سره نه ټوپک ؤ، نه ريل لارې او نه هوايي جهاز او ټينک ؤ، او نه په سياسي توګه د يو مضبوط نظام خاوند ؤ، بلکې په قبائيلي ټولنه کښې بې خبره او بې اتفاقه پروت ؤ، نو چې د اسې قوم کښې څوک د دومره زور ور قوم خلاف ملا تړي بايد دغه ډېر زيرک انسان وي، کنې معمولي غلطي يې د خودکشۍ سبب کيدے شي.

باچا خان د پرنګي خلاف په منظم توګه راپورته کېدلو نه مخکښې ترڅه تجربه کړې وه، او د چا نه يې څه اميد نه ؤ، هغه ټول خلک وار په وار بې کاره وختل باچا خان پخپله مني چې، اول زما خيال ؤ چې يو باباملګري کړي، نو هغه پورې تړلي مريدان به د ې ملګري شي چې دغه په تهيوري کښې ربښتيا ښکاري، خو باچا خان ته عل

ور جوته کړه . چې عمل کښې داسې نه ده ، بیا یې خیال
وکړو چې تعلیم یافته خلك خیر خلك دي ، دوئ به په
زمانه ملګري شي ، مګر دغه هم په عمل کښې دده خوش
فهمي ثابته شوه ، بیا یې سوچ وکړو چې په قبائیلو
کښې مرکز جوړ کړي ، نو د هند په آزادۍ کښې به
مددګار ثابت شي ، خو دغه هم بې کار ثابت شو ، بیا
یې خیال وچې افغانستان به دغه کار وکړي ، دغه هم
ور معلوم شو ، چې افغانستان نه د پرنګي فوجي سیالي
کولے شي ، او نه اقتصادي . آخر یې سر د الله په تښ
ولګیدو ، چې دغه ټول امیدونه یې خلاص شول . نو
په ده کښې دا خود اعتمادي وینې جوش وو هلو ، او
ویې وئیل ، چې دغه به زه کوم ، هیڅوک یې نه شي کولے
چې دغه زموږ د پښتون قوم خوش قسمتي اونیکمرغي
وه ، چې باچاخان توبه ګار شوے نه دے ، بلکې په کلکه
اراده راپورته شو ، نو یې پخپل قوم باندې دسره غور
وکړو ، چې په دې کښې به څوک ورسره ملګرتیا وکړي
نو ده خپله ټولنه داسې وپلاټله :

ده ته د عملي تجربې په ذریعه ور معلومه شوه ،
چې پښتون قوم مسلمان قوم دے ، د جاهلیت په وجه
مذهبي مشران د دوئ لو ټل کوي ، او دوئ پښتون قوم

سره هیڅ نوره مینه نشته ، بغیر ددې نه چې ژورې غونډې ددوئ په وینه ژوند وکړي، او دغو تنش په نوم مذهبي مشرانو زیاته برخه دکافر پرنګي ملګري وو، دمکر او فریب پرده یې دخلکو دغولولو دپاره په مخ راځوړنده وه، او دپرلږ مذهبي مشران ووچې دوئ دقوم او ملت په غم ککړ وو، اکثریت یې تیار خواره وُو، دوئ مذهبي جاموکښې ناست وو، دپښتون قوم دغولولو دپاره یې لنګرې شروع کړې. چې دغه لنګرې به دپرنګي په کمک روانې وې، مګر پدې لوبه باندې غریب اولس نه پوهیدو، دغازي امان الله خان خلاف هم پرنګیانو دغه نمونه پیران او مولویان راګرم کړل او یو سوچه مسلمان او په ملت مین بادشاه یې دتخته کوز کړو، او یو تاجکی غل حبیب الله خان (بچه سقاو) یې کښېنوئ، چې خوست کښې پرنګي ورته ګډ ملا پورته کړو، کابل کښې دملا شور بازار کورنه چې ددوئ پښتون اولس مریدان وو، پرنګیانو ورته حکم ورکړو چې شاښې بغاوت جوړ کړئ، نو دوئ خپل غریب او ناخبر پښتون اولس را پورته کړو، او د پرنګي د دلالۍ حق یې پوره کړو، همدغه شان لاندې پښتونخوا کښې د مذهبي کورنیو سره د پرنګیانو کلک تماس وُ، چې دضرورت په وخت به دوئ خدمت ته

حاضرېدل، ان تر دې چې دمشهور مجاهد حاجي ترنګزو صاحب زوئ باچاګل دپرنګي سړ لاس ؤ. دوئ پښتانه دومره غافل ساتلي وو، چې يو ځل باچاخان د پير متعلق پوښتنه کړې وه، د هغه مريد انو ورته ويلي وو دپر لوئ بزرګ دے، باچاخان ورته ويلي وو چې خرګ؟ هغوئ ځواب ورکړے ؤ چې ميلمنو ته غوړي پخپله ورکوي.

چې ديو قوم دغه حال وي چې دبزرګي پيمانه غوړي وي، نو دهغوئ دې خدای مل شي، او دتجربې نه ورمعلومه شوه چې پيرانو او ګدهي ښښينانو نه دغه طمه لرل چې ګڼې دوئ به دپښتون په وينو لوکښې راسره کمک وکړي د بې وقوفانو په جنت کښې اوسيدل دي، بلکې باچاخان ته ورمعلومه شوه، چې دوئ ځانو ته غټ پلار خوښ کړے دے، چې هغه پرنګ دے، نو زه چې څه کول غواړم، دغه خو ددوئ په پلار ګزار دے نو ددوئ نه دکک طمه لرل، خو پرېږده بلکې د آقا په لمسه به ما ته بلاګانې جوړوي، نو ددوئ نه باچاخان زړه صبر کړو، همدغه حال دملايانو ؤ، چې ځنې يې شعورې دپرنګي ملګري وو، اقتصادې فايدې يې، ځنې اخيستې، ځنې جاهل وو، نه يې ځانو نو ته خير

رسولے شو، او نه قوم ته، ښو ددوئ نه یې هم طمه قطع شوه، او بله طبقه د پښتنو تعلیم یافته وه، چې دوئ د خبرو ډېر میړنې وو، مګر عملي کار ته یې ډېره نه لګیده، د بابو ګرت په چکر کښې وو، او، ډېر لږ دیني عالمان وو او دنیا وي تعلیم یافته خلکو، د باچا خان سره کمک وکړو:

بله طبقه یا ډله د خانانو، ملکانو، نوابانو او خانبهادرانو وه، ددوئ څه دماغ خراب وو، چې د باچا خان سره ملګري شوي وے، دوئ خوځانو ته پلار خوښ کړے ؤ، چې هغه پرنګے ؤ، نو دوئ مذهبي مشرانو او پرنګی دریواړو اتحاد جوړ کړے ؤ، او د پښتون قوم دلوټولو او غلام ساتلو دپاره، چونکه باچا خان ددې مخالف ؤ، نو سوال نه پیدا کېده چې باچا خان له دوی نه طمع لرلے وای.

او س د باچا خان دپاره غریب اولس پاتې ؤ، چې دوئ غم خور څوک نه وو، د دوئ په وینه باندې، خان، پیر او پرنګي دریواړو ژوند کاوه، نو د باچا خان دپاره هیڅ بله داسې لاره پاتې نه وه بغیر ددې نه چې پښتون غریب اولس، ته لاړ شي، او دوئ ته خپل مرام وړاندې کړي، او غریب پښتون اولس دې تر سترګې نیو لې وای چې دغه درې ډوله ظلم نه به څرنګې بچ شي، چې مذهبي

ګنډکپانو د مذهب په نوم لوټل، د نیاوي ګنډکپانو د تهاپیدار په ملګرتیا لوټل، او پرنګي غلامان کړي وو، نو د غریب اولس محتاجي او باچا خان خدمت سمون سره راغی، نو دوئ دغه د دیوالو تر سره یوځای شول، د دوئ د ظلم نه خلاصولو دپاره یې د خدائ خدمتګار ی تحریک بنیاد کښېښودو، او د باچاخان ملګري رټلي او زپلي غریبانان وو. چې هغه د کسان نه راواخله ترکسبګر پورې ټول پکښې راجمع وو، دا ځکه چې دوئ نه نه پرنګي او نه خان او نه پیر د سرپیتوب په سترګه کتل، بلکې، دوئ د انساني ابتدائي حقوقو نه محرومه وو، چې دوئ د پښتون قوم اکثریت جوړوه، دپر لږ په قوم مین خانان او یا شتمنو خلکو د ملي کاروان ملګرتیا کړیده، اکثریت یې د پرنګي دوست او د خپل قوم دښمن وو، نو دغه د باچاخان د زیرکی وجه وه، چې ده په معاشره کښې خپل ملګري وپیژندل، او په باباګانو او نوابانو باندې دهوکه نه شو. نو د باچاخان د تحریک د کامیابی یوه وجه دغه هم ده، چې ده د ټولنې صحیح تشخیص وکړو، د ملګري او د ښمن فرق یې معلوم کړو، او یوځل چې دوی وړه ملګري شول، نو تر مرګه پورې دوئ نه خرڅ شول او نه پښیمانه شول. دا ځکه چې د لښکر مشر چنپله نه خرڅیدونکی

او نه میرودونکے وي، هغه د پښتنو خبره چې جرنیل بهادروي
تو فوج یې بهادر وي، د خدای خدمتگار مشر اولښکردار
بهادران وو، د دوئ ملگرتیا په ذاتي مفادانو نه وه ولاړه
بلکې علئ ملي او قومي مقاصدو باندې ولاړه وه، او د دوئ
مقصد د قوم لوټول نه وو، بلکې آبادول او خدمت کول وو
او په خدمت کښې ملگرتیا نه خرابیږي، ملگرتیا هلته خرابیږي
چې خود غرضي راشي، او د دې مرض نه دوئ آزاد وو،
نو ځکه یې په تش لاس بغیر د تشدد نه د پرنگي او دهٔ
د تالي ځمتو مقابله وکړه، د دوئ د ملگرتیا او مبارزې
برکت دے چې دوئ حکومت قانوني اصلاحاتو ته مجبورکړ
د ووټ حق یې غریب اولس ته وکټلو، د خان او د نواب
د ظلم نه یې غریب خلك تر ډېره حده پورې وژغورل،
او پښتو تر یې د نورو هندوستانیانو په خیر صوبائي
حکومت واخیستو، د نمانې بدنام قانون ۴۰ سرحدي یې
ختمه کړه، د غه ټول برکت د باچا خان د صحیح تشخیص
او ربښتینې ملگرۍ پیدا کول وو، د پښتنو د نوے نسل که
دې خیال وي چې خدائ خدمتگار و دغه گټې په چوف
کړیدي، نو دغه به د دوئ د تاریخ نه، نه واقیف توب وي.
په پښتو نخوا کښې داسې جیل داسې تهانه نشته، چې چیرته
د خدائ خدمتگار وینه نه ده توې شوې، د دوئ مشر او-

زمونږ د ټولو بابا فخر افغان دوه تاره پښتې میرویس میدان مړدان کښې د پرنګي د ظالم حکومت دلاسه ماتې، شوې وې، سرې یې دوینو ډکې وې، د دوئ جګړې او کورونه پرنګي سوزولي دي، او د دوئ خپلې ځمکې دلاسه وتې دي، پرنګي ضبط کړې دي، د جیل اوجیلو کښې خو د ظلمونو څه حد نه شته، په دوئ او د دوئ په بچو باندې پرنګي ګولې چلولي دي، چې سپین تنګي تهکړهاتي خیل چارسده بابړه، او قیصه خوانې یې ژوندي مثالونه دی، او په کلیو کښې چې خانانو کوچې لوبې په غریبو خدائ خدمتګارو کړیدي، په هغې باندې په سلهاوو کتابونه لیکل کیدای شي، خوزه دلته د باچاخان د خولې یوه واقعه لیکم، چې لږ درکړولکې چې د دوئ سره څومره ظلمونه شوي دي،

" مالاټ صاحب ته چې خدائ خدمتګارو د ظلمونو او د رنېزو د قیدیانو وو ے، لیکن با وجود د دې خبرو، د پرنګیانو په پالیسۍ کښې څه فرق را نغئ، بلکې د اول نه زیات شول، حقیقت دا دے چې د دوئ دا ټول ملاقاتونه د دې قوم او ملک د فایدې د پاره نه وې، دې کښې د دوئ مقصد دا وې چې سړے برخنګه دوکه کړو، خپل مقصد به ترې پاتې کړو، او دځان،

سره به يې ملګري کړو، او ما چې خومره ملاقاتونه
کړي دي، نو بغير دلاچ نه مې پکښې بل څه ليدلي نه
حکومت دماليې په بهانه ظلمونه شروع کړل دا نه چې
ګوندې خدائ خدمتګارو دماليې نه انکار کړے ؤ، خو
غله دومره ارزانه شوې وه چې خلک تنګ وو د ماليې
وس يې نه کيده، او دماليې بقايا يوازې په خدائ خد-
متګارو نه وې، د دوئ نه زياتې په سرکاري خانانو او
ملکانو وې، خوهغوئ ته يې څه نه وے، خواران خدائ
خدمتګاران به يې تنګول، مالونه به يې ليلامول، حوالاتو
کښې به يې اچول، او لا دهغوئ برخلاف به يې، دا
پروپيګنده هم کوله چې دوئ د ماليې ورکولونه انکار
دي، پخپله يې هم نه ورکوي، او نورخلک هم منع کوي
حالانکه د بالکل درواغ وو، خلکو سره په رښتيا ماليه
نه وه او خدائ خدمتګارو سره هم نه وه، دوئ به
حکومت ته وے، چې تاسو د نورو خلکو سره څنګه سلوک
کوئ، دغسې موبږه سره هم کوئ، موږ خوهم ستاسو
رعيت يو، چې بعضو خلکو ته معلومه شوه، چې حکومت
دخدائ خدمتګارو په کړولو خوشحاليږي، نو په خدائ
خدمتګارو يې ددروغو مقدمې شروع کړي دي، په دواړه
کښې دجبار خان او المير ملک بلاسه خدائ خدمتګار په اوږدو

ولاړوو ، په ابانو کښې افتاب کل میا ، او یحییٰ میا او د دوئ
نورو ورونو او عزیزانو خدای خدمتګار دورګو په کوټو
کښې بندکړل ، او د بوسو لوګي یې ورتر وکړل ، د دې
کاکا خیلو میاګانو دپرتګي سره دومره محبت وُ او د هغوئ
دومره وفادار او خدمتګار وو چې څه وخت به د خدای
خدمتګارو د راتلو نه خبر شول ، نو ټوپکې به یې ورپسې
واخیستې او د هغوئ مرګ ته به تیار وو ، د مالیې پرېهانز
د بټګرام عبدالله خان میا او د هغه زوئ چې په خلکو
څومره ظلمونز کړیدي د هغوئ بیان کولے نه شم ، ده
هم خلك په کوټو کښې بند کړي دي ، او د بوسو لوګي
یې ورته کړي دي ، او فضل الرحمٰن خان د شوقدر
خو پریږ ده ، سړي لاخه چې د ښځو بې عزتي یې هم کړیده"
د دې نه د رکۀ لګي چې باچاخان داسې ملګري پیدا
کړي وو چې هغه نه پرنګي او نه د ده دلالانو مات کړل
په نړه یې د داخلي او خارجي سامراج مقابله کوله ، چې ،
دغه د باچاخان د انسان پیژندنې جوت مثال دے ، او
د خپلې ټولنې صحیح تشخیص دے ، نو ځکه یې لښکرهم
بهادرۀ او جرنیل هم .

د باچاخان کفایت شعاري

هر هغه سړے ،یا قوم چې دوه روپیه یې کټه وي او درې روپیه یې خرچ پخپل ژوندکښې به داقتصادي محتاجۍ نه خلاص نه شي ، همدغه وجه ده چې باچاخان په سیاسي ژوندکښې دې شیانو تر ډېر پام کولو، چې د ده کټه د خرڅ نه کمه نشي ، یا په بله معنی دامدن او خرچ توازن وساتلے شي. لاس بالکل موټۍ کول هم ښه کار نه دے ، او بالکل خلاصول یې هم ښه کار نه دے بلکې منځنۍ لار یعنې اعتدال پکار دے ، چې دغه زموږ دلوئ پیغمبر حضرت محمد (ص) لاره هم ده ، او داقتصادي نقطه نظره سمه هم ده ، پدې لږ سوچ پکار دے چې باچاخان داسې ولې کول ، دغه ده ټول شعورې کول ځکه چې ده دپښتون قوم اصلاح غوښتله ، نه صرف سیاسي بلکې اقتصادي هم او معاشرتي هم ، او بل دا چې باچاخان یو سیاسي مشرؤ ، جګړه یې دیو داسې قوم سره وه ، چې هغه دولتمندؤ او بې شمارؤ اقتصادي، سیاسي

او فوجي ذرايعو خاوند ؤ، او بلې غاړې ته غريب پښتون ؤ، نو د دوئ مقابله د بې اندازې خرچ په بنيادنشوه کېدلائ، بلکې صبر او دخپل امدن صحيح استعمال په ذريعه کېدلائ شوه، چې پدې باندې باچاخان کلونه کلونه سوچ کړے ؤ، او دوې تکړه تکړه پښتانه ددې بې غورۍ پر وجه په اقتصادي توګه تباه شوي وو، او نه د دين او نه د سادين پاتې شوي وو، او دپرباباګان پرنګي پدې چال باندې پچپل جال کښې راګير کړي وو، چې دوئ به په ربښتيا سره د پرنګي خلاف به يې جهاد ونه کول او دهغې خلاف به راوچت شوي وو، دوئ به لنګرې شروع کړې، د پرنګي خلاف به يې جهاد ونه کول، اودغې توليې ناستې پاستې ته د دولت ضرورت ؤ، نو دخته، وخت نه پس د بابا نه به اقتصادي تول خراب شو، په دې موقع به د پرنګي دلالانو پرلګے خبر کړو، چې بابا په اقتصادي مشکلاتو کښې ګير دے، نور نه لښکرې کولے شي او نه لنګرې چلولے شي، نو اوس دبابا دپاړ به دوه لارې پاتې شوې، يو دغه چې په قلاړ کښيني، عبادت کوي او چيلې وباسي، يا که دا نه کوي او لنګرې چلول غواړي نو د دولت دکومه راوړي، نو پدې موقع به بنکار دپرنګي په لاس ورغلو، پرنګي به . . . بابا ته په خپل

او لاد کښې طرفداران جوړ کړل، نو بابا به د پرنګي په
پسې لنګر چلولو، د بابا اولاد به يې نوکران کړل او
ځکې به يې ورکړې، پدې نمونه به د بابا دغوبل نه
پرنګي په چل ول ځان بچ کړو او که بابا به مجاهد وُ،
د پرنګي دلاس لنګر به يې نه منلو نو بيا به پرنګيانو دده
په مقابل کښې خپل سړے کښېنوه، او د پير په نامه يا بابا،
په نامه به يې د دې مجاهد بابا خلاف لنګرې شروع،
کړې، او پښتون اولس به دوئ وغولولو، او د اصلي
بابا نه به شلخي بابا تر راغلل، داځکه چې د پرنګي بابا
به ميلمنو ته غوړي ورکول، چې دغه د دوی پيمانه
وه چې بزرګ يې په ناپ کولو، د پرنګي د بابا سره د
غوړيو کمی نه وُ، نو پدې چل ول باندې به پرنګي،
تکړه، تکړه باباګان پنچر کړل، چې دغه موقع به بابا ګانو
پرنګي ته په ځپله په لاس ورکړه، چې دوئ به خپل قوم
ماحول، او دښمن په صحيح توګه نه وُ پيژندلے، اوځه
اقتصادي منصوبه بندي به نه وه، په توکل به روان وو، او
پرنګي به د دوئ د هرشي نه ځان خبر ولو، او د دوئ اقتصادي
ذرايع به يې ځارلې، او هرقسم اقتصادي لاپچ به يې
ورکولو، نو باباګان به د خپلې بې غورۍ او د ټولنې
د غلط تشخيص په وجه د پرنګي جال کښې ګير شول.

داځکه چې خوک به ورسره ملګري وو، نو زيات ،
مريدان به تيار خوان وو، چې دبابا سره به وريجې
(چاول) او غواړي وُو، نو دوئ به ګرم وو، چې
دغه به خلاص شول نو دوئ به بيا بل بابا کتو، پښتنو
پيرانو، ملايانو کدې نشينو کښې خوکسان به داسې وي ،
چې دپرنګي دپنجو نه به آزاد پاتې شوی وي، مګر
حقيقت کښې اکثريت ددوئ په لاس ورغلي دي، داځکه
چې دوئ نه ځان وپيژنده او نه جهان ،.

دمثال په توګه وزيرستان کښې يو پير وُ چې دشاهي
پير په نوم راپيدا شوے وُ، هغه دمحسود او وزيرو
لښکرې جوړې کړې ، غوبل يې جوړ کړے وُ، اخر
دغه پير پرنګي په ٦٠ شپيته زړ پونډه باندې دميلې د
دغوي غوندې واخيستو، محسود او وزيريې پر ځاے
پريښودل، او اصلي فقير حاجي ميرزا علي خان فقيرآف
ايپي ته يې مشکلات جوړ کړے وو، دے چې خرڅ شوے
وُ نو دپرنګيانو وزير عظم دهند وائسرائ ته ليکلي وو،
چې دغه بل فقير سره هم خبره وکړه ، دبل قيمت ورکړه
چې موږ ځينې په ارام شو، (مطلب يې حاجي ميرزعلي
خان فقيرآف ايپي ته وُ) نو دهند وائسرائ ورته ليکلي
وو چې دغه بل اخيستل را تګران سنګاري. دفقيرايپي

خرڅیدل ځکه ګران وو، چې یو خو دے شعور یې د-
پرنګیانو خلاف راپورته شوے و، اوبل قوم پرست،
ؤ، او دریم ورته خپل اقتصادي پوزشن معلوم و. نو
شامي پیر به پلاو او ګډ غوښه خوړله، او حاجي صاحب
به وچه روډۍ د پیاز سره خوړله، دا نه وه چې،
حاجي صاحب ته غوښې یا پلاو خوند نه ورکولو، بلکې
دے شعوري پدې پوه ؤ، چې دغه کار زما دلاسه پوره
نه دے، چې کول یې و غواړم نو بل به یې بل څوک ورکوي
هغه پرنګے ؤ، چې د شامي پیر بل یې ورکړو، ژوندے
ورک شو، او حاجي صاحب په وچه روډۍ باندې
صبرو کړو او خپل تاریخ یې جوړ کړو، دا ځکه چې
دے خبر سړے ؤ، نو باچاخان د دې ټولو نه خبر
ؤ، او د هر قدم اخیستو نه مخکښې به یې په هر
مخ ښه غور او فکر وکړو، چې د دې به څه نتیجې
وي، همدغه شان د پښتانه مشران تبا اوورک
شول، چې د دوئ به هم دوه روپیه ګټه وه، او
د دې روپیه به یې خرچ ؤ، چې اخر به توازن
ورځې خراب شو، د ځکې په خرڅولو باندې
به یې شروع وکړه، چې جګړه ګرمه وساتي، یو
وخت به راغئ چې د خپلې فضول خرچۍ په وجه به دځکې

نه هم خلاص شو، دے خو به دخدای په قهر
ککړ شو، مګر دځان سره به یې ټول اولاد تباه اوبرباد
کړو، دے به ځان و او مشر به ؤ، مګر څه کسب
به یې نه ؤ زده کړے، دا ځکه چې کسب اوکسبګر
خو دده په خیال د دریمې درجې خلک وو، چې دهمګې
نه به خلاص شو، دآمدن ذریعه به یې خته شوه،
کسبګر دے نه ؤ نو یا به یې دا کې شروع کړې، او
یا به پرونی خان په کلکته کښې او بمبئ کښې پنډي شو،
او یا بلا یې شدوله مزدوري کوله، دکینټي اوبیلچې
او یا به د هندوستاني دبنګلې چوکیدار ؤ، پردي،
ما شومان به یې مشغول وو، دا ځکه چې وطن کښې یې
دګټلو ذریعې نه وې، نو د خپلې فضول خرچې او د
غلطې اقتصاد دې منصوبه بندۍ په وجه کلي کور وطن
ځنې پاتې شول، او هندوستان کښې به ګرځ شو،
دا مثالونه د باچا خان پر تحکیمې پرانتر وو، نو د
د باچا خان کفایت شعاري تر په دې پس منظر کښې کتل پکار دي
باچا خان فضول خرچې د پښتون قوم د تباهۍ
یوه اهمه وجه ګڼله، نو ده غوښتل چې د دې علاج
وکړي، او که دے هم دغوړو بابا جوړ شوے،
وے، نو نن به دے باچا خان نه ؤ بل څه به ؤ.

دده لویي هم په دې کښې ده، چې ده دنورو بابا کانو
په څېر په تګ کل کار ونه نه کول، بلکې په هر مسئله
به یې غور او فکر کولو، ښه او بد اړخونه به یې،
څېړل، دغه هېرول پکار نه دي، چې باچا خان
ریغار مړ، ده مرضونه ورکول، نه که زیاتول
او بل داچې که باچا خان د لنګرو او پلاونو لاړ چستي
وے، نو دده ځایداد به پخوا، پخوا ختم شوې وه،
نو یا به د پرنګي بابا جوړ شوے وے، پښتون
اولس به یې لوټلو، لکه د غونډو، او یا به هند ته
د من دوری پسې ورکړ شوے وے، چې په دې،
د واړو صورتونو کښې د پښتون په خیر نه راتے، او
داسې ممکن نه وو چې خرچه دې پرنګے ورکولې،
او کار یې د پرنګي خلاف کولای، Livng in Rom
quarl With POP „ چونکه د باچا خان جنګ د پرنګي
او د پښتنو د غلطو روا جونو خلاف وو، نو ځکه
باچا خان خپل مدد پخپله کولو باندې تکیه وکړه،
او بل داچې باچا خان تور معلوم وو، چې بابا کانو، نوابانو،
خانانو او ملایانو دده د ملګرتیا نه انکار کړے ؤ، دا ځکه
چې باچا خان د پرنګي خلاف ؤ، او ده د پښتنو قوم د غولو
اراده کړې وه، چې دغه شمونه کار د دوئ خلاف تلو،

باچاخان ته غریب اولس ورپاتې ؤ، دوئ یعنې غټانو پې مخالفت کولو، پاچا خان هغه اقتصادي پالیسي اختیار کړه چې دده د ملګرو د اقتصادي ژوند سره یې سمون خوړ، (یعنې باچاخان پیاز او ډوډۍ او شوربې، د پلاو او ګډانو لاره یې پریښودله، داځکه چې باچاخان تړاپته وه چې دده لښکر د دې توان نه لري، نو که باچاخان د چرګانو او ګډانو لاره اختیار کړې وے، نو دغه خو د کلي دخان، نواب او پیرصاحب دلاسه پوره ؤ. او دوئ ټول د پرنګي ملګري وو، د باچا خان ښیا دقوم خدمت پاتې ؤ، او باچا خان پدې باندې شعوري پوه وه، چې که زه پښتون ابادول غواړم، نو زه به ځنې پابندي په ځان منم، چې هغه کفایت شعاري وه، باچاخان به شروربوسره دوډۍ خوړله، د پیازو او ګوړې سره، چې دغه نمونه میلمه، میلمه کول د هرپښتون دلاسه پوره و، داځکه چې دوئ ګوره، شروربې لرلې، اوکه باچا خان چرګان خوړلے، نو بیابخلك ځنې پټیدل، داځکه چې د چالاس رسي، چې دومره قیمتي دوډۍ ورکړي او بل باچاخان په دې سوچ کولو، چې که چیري څوک دغه نمونه دوډۍ ته غاړه ویشي، نو ما د خیر په ځاے دغه پښتون تباه کړو، د شرمه به ځما د میلمستیا د پاره،

قرضه واخلي، او بيا به تول عمر قرضدار ئے وي
نو بيا چې زما نه خيريږي کلي نه به تښتي، نو ما
او نورو باباګانو کښې بيا څه فرق شو، نو باچاخان
ځان شعوري ورته نمونه کړو، د عام او غريب،
پښتون خوراک يې خپل خوراک وګرځولو، نو
ځکه د باچاخان ملګري کال په کال ډېريدل، او دده
ميلمستيا ته به خلك خوشالېدل، دے به رحمت ؤ او
عذاب به نه ؤ، باچاخان اول پخپل ځان باندې دغه
د کفايت شعاري قيود يې لاګو کړل، او ځان يې
ورته نمونه کړو، بيا يې خپل خدائ خدمتګارو
ته وويل: چې تاسو به د فضول خرچۍ نه ځان
ساتئ، ميلمه ته به هغه ورکوئ چې کوم ستاسو
بچي خوري، نو باچاخان د خدائ خدمتګارونه
د ملخانو سيل نه جوړو، چې په کومه علاقه کښې
دوئ ميلمانه شوے وے، هغه يې تباه او برباد
کړے وے، بل غټ مقصد د باچاخان دغه ؤ چې
دے او دده ملګري، د خپلې غلطې اقتصادي منصوبه
بندۍ په وجه د پرنګي په جال کښې ګيرنه شي،
دا ځکه چې پرنګي کوښښ دا ؤ، چې دوئ مجبور
شي، او ما ته د نورو باباګانو غوندې سر ولګوي،

مګر باچا خان داسې نه وُ ده په وچه ډوډۍ، صبر وکړ، نو ځکه د پرنګي د جال نه آزاد پاتې شو.

بل د دې شي نفسیاتي اثر وُ، هغه دا چې د باچا خان او یو غریب پښتون خوراک او جامه کښې څه فرق پاتې نه شو، نو دوئ باچاخان یوکس د دخپلو منځو نه ګڼولو، دې احساس کمترئ کښې ګیر نه وو، چې دغه خان دے او موږ غریبانان یو، نو باچا خان خپل سیاسي او خدمتي ژوند کښې دغه اوصول جوړ کړي وو، چې تر ممکنه حده پورې دې د کفایت شعاري نه کار واخیسته، دوئ د ډېرچاے او هرځاے میلمستیا باندې سخت بندیز لګولے وُ، د جلسې کلي کښې ډوډۍ او شپه کول منع وو، نو ځکه به هرکلے جلسې ته تیار وُ، او بل دا چې باچاخان د خدائ خدمتګارو نه د ډوډۍ مارو لښکر نه جوړولو، دغو ټولو پابندیو شاته د باچا خان سیاست پروت وُ، باچاخان د فضول خرچه سخت مخالف وُ، او خاصکر په ډوډۍ باندې د خرچ خو سخت مخالف وُ.

یو ځل ما ته د پښتون سټوډنټس فیډریشن مرکزي صدر جناب نثار خان شینواري د ګنګل خیلو

کوهاټ خبره کوله، چې یوځل باچا خان د مولانا بهاشاني بنګالي سره دصوبې په دوره ؤ چې دکوهاټ دوره یې شروع کړه. نو یوځل زمونږ میلمانه شول، او دودې مو ورته کړې وه، ویل چې نیکه مې پلار ته وویل: چې هلکه چرګان مه حلالوه، ساده دودې مه جوړه کړه، باچاخان یې په بده مني، ویل چې پلار مې سر زوري وکړه چرګان یې حلال کړل، او پلاو کښې یې پاخه کړل نثار ویل، چې ما ته ښه یاد دي، چې باچاخان دبهاشانی نه نیمه ګهینټه مخکښې دپخلي ځاے ته راننوتو، نیکه ته مې وویل: ددې دیګو نه سرپوښونه لرې کړه، چې چرګان یې ولیدل، نو نیکه ته مې په قهر شو، چې تاسو تراوسه زده نکړل، چې خدای خدمتګار به فضول خرچی نرکوي نیکه مې ورته وویل: چې ما خو منع کوو، خو دغه کار خو شیبیل خان یعنې دنثار خان پلار کړے دے، - نثار ویل چې پلار مې یې سخت بې عزته کړو، او ورته یې وویل: ما خو هرځاے تقریر کښې ویلي، دي، چې پښتانه عاجز خلك دي، مولانا بهاشانی چې دغه چرګان وویني، نو وایي به چې ما دروغ ویل، دغه نمونه دودې خو دغریبانانو نه وي. او پلار ترمې

حکم ورکړو چې دغه چرګان او پلاؤ لرې کړي ما او بهاشاني ته زر زر دال او چپاتۍ تیار کړي او موږ چې لاړ شو، او س خو موهسې هم تاوان کړے دے، بیا تاسو چرګان خورئ، خو بیا دپاره دغه کار مه کوئ.»

نوټ: «د نثار خان نیکه پردل خان شیښوارے د کوهاټ او ځنګل خیلو مشهور خدائ خدمتګار دے او ډیره بارسوخه کورنۍ ده، د نثار خان پلار خوشیدل خان شیښوارے د پردل خان زوئ د کوهاټ د NAP صدر و، او نثار خان د پردل خان لمسی ؤ، او د خوشیدل خان زوئ ؤ، د پښتون ستوډنټس فیډریشن مرکزي صدر ؤ.»

یو ځل یوه جلسه کښې ولي خان ویلي وو، چې دغه دے درې نسلونه یو ځائے ناست دي، چې پردل خان نیکه یې د جلسې صدارت کولو، د نثار خان پلار تقریر کولو او نثار خان پخپله د سټیج سکرټري توب کولو، نو ځکه ولي خان پخپل تقریر کښې دغه د درې نسلو خبره کړې وه، چې ډیره مشهوره شوې وه.»

او بل باچا خان د دې مخالف نه ؤ، چې څوک دې خرڅ نه کوي، مګر د باچا خان خرڅ او د نورو خلکو

په خرڅ کښې فرق ؤ، که چیرې به چا د اجتماعي ښیګړې دپاره چندې ورکولې یعنې د اخبار، مدرسې، روغتون یا د غریبو خلکو د امداد دپاره، نو باچا خان یې مخالفت نه کولو، خو په ډوډۍ، و دونو او مړیو باندې د فضول خرچې مخالف ؤ، د ده متعلق دښمنانو دغه مشهوره کړېده، چې باچا خان ټینګ دے، چا ته ډوډۍ نه ورکوي، دغه ټولې فضول خبرې دي، باچاخان - جائز میلمنو ته د ټولو نه ښه ډوډۍ ورکړېده، چې دغه میراث د ته د خپل سخي پلار نه پاتې شوے دے مګر باچاخان داسې نه کوي او نه یې کړیدي، چې تش دصفت دپاره یا نمایش دپاره د ضرورت نه زیاتر خرچه د میلمه دپاره وکړي، ولې پدې چې دغه د ده د فلسفې خلاف کار ؤ، که چیرې ده فضول خرچې کوله، نو د ده د نصیحت بیا څه آثر ؤ، او بل باچاخان نه غوښتل چې پښتانه ډوډۍ مار شي، د ده د وخت خانانو په ډمو او فضولیاتو باندې پیسې خرچ کولې خو یوه روپۍ یې په ملي کار نه لګوله، او باچا خان پخپلو پیسو پښتون اخبار چلولو، مدرسې ته یې دولت ورکولو، غریبانو پښتنو هلکانو سره یې د جامې او خوراک مدد کولو، دا ځکه چې د ضر

اجتماعي بنسټګرې وې، خو دې تر تیاره نه و چې دوی مارو تر ګران حلال کړي، او دغه یې بالکل صحیح کارکولو، که چیرې پدې پسې ګرانې وے، نو ولې یې په هزارهارو پوه دپښتو ژبې په وده لګولې، مګر باچا خان اول پښتون دے، چې دخپلې ژبې اخبار وباسي دهرقسم خرچ دپاره یې تیار دے، اوبل چې ۱۹۷۰ کښې دهغې وخت مشرقي پاکستان نن سبا بنګله دیش کښې تباه کن سیلاب راغلے وُ، باچا خان ورته په لکهاوو روپو سیلاب ځپلو دپاره ورکړل،،

په ۱۹۷٤ کښې په تاشقرغان شمالي افغانستان کښې زلزله راغلې وه همدغسې امداد ورکړو، او مارچ ۱۹۷۵ کښې پټن سوات پښتونخوا زلزله وشوه، باچا خان په لکهاوو روپیه امداد ورکړو،،

ایا په یو سړي باندې چې پیسې ګرانې وې، هغه دا کارونه کوي، هاں! باچا خان یو کار نه دے کړے چې هغه لکه دغه فضول ډوډۍ یې تیار خوړو او بیکارو ته نه ده ورکړې، دباچا خان دکورنۍ متعلق یوه خبره دده دسنګر ملګري مولانا ابوالکلام آزاد کړې ده، چې سړے ورته حیران شي چې دغه څرنګې مولانا وُ. باچا خان پخپله ددې متعلق لیکي:

« مولانا صاحب پخپله کتاب کښې دا لیکلي دي چې،
په پښتنو کښې مهمانوازي لوئ اخلاقي صفت دے، ولې
په دوئ کښې دا صفت نه ؤ، او دوئ بخل کولو، پدې
تریته پښتانه بیزار وو، دے وایي چې یو ځل ددوئ
ملګري زما میلمانه وو، چې ماوښ ته د چایو سره بیسکټ
راوړل نو هغوئ ډېر خوشحاله شول، او ما ته یې وویل
چې ددې څه نوم دے؟ دا خو د ډاکټر صاحب بنګله
کښې موږ لیدلي وو، خو هغه موږ ته نه وو راکړي، مولانا
صاحب ددې خبرې تحقیق نه دے کړے او دا یې لیکلي
ده، زموږ خو دا تهذیب نه دے چې یو یې خوري
او بل ته یې نه ورکوي، موږ خو داسې یو چې اوس
هم څه خورو، هغه میلمنو او نوکرانو ته هم ورکوو،
او ورسره یو ځائے یې خورو، زموږ په مرکز کښې
هم دا قاعده وه، چې ډوډۍ ته به کښېناستو او موږ به د
لسو کسانو خوراک پوخ کړے ؤ، د پاسه به شل نور راغلل
نو موږ کښېناستو هغه به مو توکړه توکړه کړه او پخپلو
کښې به مو تقسیم کړه، او په شریکه به مو وخوړله، او-
اوس هم دغه شان کوو، زه حیران یم چې د مولانا صاحب
دا خبره د ډاکټر صاحب په هکله کوي، چې هغه خودومره
مهمانواز ؤ، چې دا قیصه یې افراط ته رسولې ده، زه په

دې نه پوهيږم چې دې مولانا صاحب ته کلکتې ته کوم کسان ورغلي وو، دغه دے داخبره ليکي چې انتخاباتو وخت کښې کانګرس، دوئ ته ډېر رقم ورکړے ؤ، خو دوئ ډېرلږ خرچ کړو، نوځکه ډېر اميدواران دخرچ دکمي په وجه فيل شول، مونږ خدائ خدمتګارو خو هيچيرې هم دکانګرس نه يوه پيسه هم اخستې نه ده بلکې په دې خبره خوجواهر لال زما نه خفه شوے ؤ، او ډاکتر انصاري صاحب ته يې شکايت کړے ؤ، چې دے ډېر مغرور دے، زه چې په دکانګرس دورکنګ (Working) کميټې اجلاس تر تلم، نو دټولو ممبرانو به چې دريل د سکنډ کلاس کوم خرچ اخيستو ما هيڅکله هغه هم اخيستے نه ؤ، البته که پارليمنټري بورډ له دوئ نه څه اخيستې وي، نو هغه به پارلماني کسان چې دوئ دوئ ودرولي وو، هغه ټول کاميابه شوي دي، او په لوئ اکثريت مونږ الیکشن ګټلے دے، نو بيا دا سوال څنګه پيدا کيږي؟ د حيرانتيا خبره داده، چې مولانا صاحب، دا اعتراض کوي چې صوبه سرحد والو په انتخاباتو کښې پيسې کمې ولګولې عام خلق خو دا وايي چې که صوبه سرحد کښې خدائ خدمتګارو، مکمله کاميابي حاصله کړه او رقم يې هم کم ولګاوه.

نو دا د هغوئ یوه سیاسي کامیابي وه، مولانا صاحب
په دې هم اعتراض ضروري وګڼلو».

که څه هم مولانا صاحب تر باچا خان ځواب وکړے
دے، خو بیا هم زه غواړم چې دبیسکټو په مسئله
خبرې وکړم، د مولانا صاحب دبیان نه دا معلومیږي
چې کنې پښتانه دومره بې خبره دي، چې دوئ بیسکټ
هم نه پیژني، پېښور علاقه په ټولو پښتنو کښې
ترقیافته علاقه پاتې شوې ده، دګند هاڅه آرټې
راواخله تر ننګرهار پورې پېښور علاقه د ژوند په
هر میدان کښې د نورې پښتونخوا نه وړاندې ده، د
پښتنو علاقو کښې چې څه نوے شئ هغه فلسفې نه را
واخله تر ټیکنیکل شئ پورې اول پېښور ته راځي،
بیا نورې صوبې ته خوریږي، چې دغه سلسله تر ننګرهار
پورې روانه ده، پېښور ته بجلي په ۱۹۳۵ کښې
راغلي ده، او وزیرستان ته په ۱۹۷۶ کښې دومره فرق دے
داقیصه ماځکه دومره اوږده کړه، چې ما ته پلار -
ویل: چې څه وخت د جندوله او وانه سړک تیریده، نو
ډېر پېښوري ټیکداران راغلي وو، او زښت ډېر خره
ورسره وو، او ورسره ورسره هندوان راغلي وو، چې
دوئ هټیوال وو، د سړک مزدورانو او د محسودو -

خاصدار ته به یې خرچ خوراک رسولو، نو مونږ
په هغې وخت کښې هلکان وو، په جوارو مودهندوانو
نه بیسکټ اخیستل او بیا به موسره ویشل، دجندول له،
سرویکۍ او دوانه سرک، ۱۹۲٤ - نه ۱۹۲۹ پورې تیر
شوے دے. او وزیرستان په ټوله پښتونخوا
کښې وروسته پاتې علاقه ده، چې په ۱۹۲٦ کښې روستو
پاتې وزیرستان کښې ماشومان بیسکټ پیژني، او د-
ابوالکلام آزاد پښتانه میلمانه یې نه پیژني، دغه ماته
ګپ ښکاري، دا ځکه چې دکانګرس اوخدائی خدمتګارو
تعلق د ۱۹۳۰ نه پس جوړ شوے دے، نو دغه دوه
کسان به ضرور د ۱۹۳۰ نه روسته د مولانا سره ملاؤ،
شوي وي، او دغه دوه کسان سیاسي خلق وو، څه د
ګوړې سوداګر نه وو چې په مولانا یې ګوړه خرڅوله
دوئ په دې پوهیدل چې د مولانا سره دهند دآزادۍ
په باب خبرې وکړي، مګر دوئ بیسکټ نه پیژندل، او
دپښتور نه یې ترکلکتې پورې یې دریل ټیکټ اخیستے شو
مګر دوئ بسکټ نه شو اخیستے، په ۱۹۲٦ کښې بیسکټ په
جوارو اخیستل کیږي، او دمحسود و ماشومان یې پیژني
او دغه دوه د مولانا سیاسي رسیدلي او ترکلکتې پورې
تللي پښتانه بیسکټ نه پیژني.

داسې معلومیږي، چې یا خو دغه خبره د مولانا صاحب په کتاب کښې کاتب ورزیاته کړې ده، اوکه ده لیکلې وي، نو دده په معلوماتو افسوس دے، او ځان یې شرموے دے، خو مولانا گرم نه ؤ، د مولانا صاحب پلار د عربو نه راغلے ؤ، اولاد یې هند کښې لوئ شوے وو، نو مولانا صاحب نه عرب پاتې شوے ؤ، او هندي جوړ شوے ؤ، د دوو ثقافتو امیزش ؤ، نو د داسې خلکو نه کله نه کله داسې افسانوي خبرې وتل، څه د حیرانتیا خبره نه ده، زما خو داخیال دے چې که چیرې دوه درې کاله نور هم دهند تقسیم نور هم ځنډیدلے وے، نو مولانا به مسلم لیګ کښې داخل شوے وے، دومره بې هوده او بې خبره قیصه خو مسلم لیګیانو نه ده کړې، لکه دغه کانګرسي مولانا او بل مولانا صاحب تر اخره پورې داسې معلومیږي چې دوئ د باچا خان سیاست او خدمت نه دے پیژندلے دا ځکه چې د باچا خان بنیادي مقصد دغه ؤ چې پښتانه یې په خپلو پښو درول، او خدائ خدمتګارونه د نیاز خورو او خیرات خورو لښکر نه جوړوه، که څه هم د هند د آزادۍ د پاره دوئ د کانګرس سره اتحاد کړے ؤ، مګر باچا خان خپل تنظیم د کانګرس تر اقتصادي د باولاندې

نه راوستو نوځکه یې د هرقسم امداد نه ډډه کوله، چې
باچاخان په دې کښې خطره لیدله، هغه دا سې که چیرې
خدائی خدمتګار د کانګرس په پیسو روان شوے وے
او په پردي قوت روان وے، او په مفته یې دولت
موندلے وے، بیا د پرنګي پیسې او کانګرس پر پیسو
کښې څه فرق ؤ، که څه هم یو د بنمن ؤ او بل اتحادي
ؤ، مګر مفته او بې خوارۍ پیسې د سړي او قوم
اخلاق خرابه وي، او د احساس ذمه واري یې مړه وي،
نو باچاخان خو د دې مرضونو خلاف راپوټر شوے ؤ،
چې پښتانه په خپله خوارۍ او احساس ذمه وارۍ آزادي
وګټي، نو ځکه یې د پردي امداد او د مفتې ډډه
کړیده، چې په ظاهره امداد ؤ، مګر په حقیقت کښې
دغه زهر ؤو، د قوم او تحریک اخلاق یې خرابول، دا سې
معلومیږي چې، نه جواهر لال او نه مولانا آزاد په دې
بنیادي فرق پوه شوي وو، د دوئ خواول سیاسي وو
او د دوئ نظریه تش سیاسي ؤ، او باچاخان خو-
(Reformer) ؤ نوځکه تر اخره پورې دوئ ونه پیژانده
که چیرې باچاخان خدائی خدمتګار د کانګرس دولت
ته کښېنولے وے، نو د پردي دولت نتیجه به ډېر خطرناکه
وے، چې دوئ په سیاسي نوګه ۱۹٤۷ کښې موندره په ګر

پرېښودو او دوکه يې وکړه، خو دباچا خان نظرديرلرې لګېده، نوځکه يې خدائ خدمتګار دچا په لاس ورنه کړل، که دمولانا دې په لاس يې ورکړے وے، هغه خو به نن نور تباه کن وو، او ما ته معلومېږي، داسې چې مولانا صاحب بنيادي عرب وو، او ملا هم و، ملا ته حلوا ښه لګي، غني خان غني ويل چې، په مولانا باندې تر باچا خان زه ډېر ګران وم، موږ ځنې تپوس وکړو، چې ته کشر وې نوځکه په ګران وې؟ ويل يې نه، باچا خان ته مولانا معلوم نه وُ، ما به چې دے ميله شوه نو ما حلوا سوهن حلوا په خوړله، او دغه کار باچا خان نه کولو، نو دے به هميشه زما ميله وُ،

خير دغه خو غني خان څه ګپ او څه رښتيا ويل، خو دمولانا ريمارکس ديو عالم او دومره قدرمن سړي سړ دخپل سنګر ملګري متعلق خوند نه کوي او ډېره افسانه يې ليکلې ده. (Primitive)

دعدم تشدد لارا او د پښتنو مرضوعه

باچا خان فرمايي:

«کوم ځوان به چې زمونږ جماعت کښې داخليږي نو هغه به عهد کوو، مونږ به ورته ويلې چې دا لاره ډېره ګرانه ده، او په دې لاره کښې ډېر اغزي مصيبتونه او تکليفونه او قربانۍ دي، که دې ته تيارېږي نو هله خدای خدمتګار کيږه، ښه غور او فکر پکښې وکړه، بيا به مو ورته وويلې چې خدای ته خو خدمت ضرورت نشته، د خدای خدمت دا دے، چې د هغه د مخلوق خدمت د هغه د رضا د پاره وکړي، بيا به مو ورته دا خبره وکړه، چې پرې جنګې، ترګنۍ به پرېږدي، ولې چې د دې دلاسه زمونږ کور وران دے، او که څوک د رباندې زياتې وکړي، نو ته به ترې بدل نه اخلے، صبر به کوې بيا به مونږ ورته ووے، چې تشدد به نه کوې، ولې چې تاسو، وګورئ د پښتون کور د تشدد په وجه وران

دے، او دده تشدد خوخپل وروڼو سره دے، بل تر یې ایمان نشته، خدائ خدمتگار به دخپل قوم او ملک خدمت دخدائ دپاره کوي، بل غرض به یې نه وي، رسم ورواج به پرېږدي، او هره ورځ به پخپل لاس دوه گهنټې کار کوي دا وعده به یې چې وکړه، نو هله به موږ دهغه نوم دخدائ خدمتگارو په فهرست کښې ولیکلو.

دعدم تشدد په هکله خلکو کښې عجیبه عجیبه خیالات دي، د دې په هکله ډېرې پروپیگنډې کیږي، او په خلکو کښې غلط فهمي پیدا کوي، څوک وایي که څوک په یومخ څپېړه درکوي، نو ته ورته دا بل مخ هم وینسه، چا به وے، چې ته ورته پروت اوسه او بل به درباندې گرځي، چا به وے چې ته به ورته پروت یې او هغه به دې وهي ته به لاس، پښې نه خوځوې، چا به وے چې پښتون یو زبردست او بهادر قوم دے، غفار خان یې بزدله کوي.

لنډه دا چې قسم، قسم خبرې وې، دراصل عدم تشدد یو طاقت دے، لکه څرنګه چې تشدد یو طاقت دے خو عدم تشدد هم دغه شان فوج دے، لکه څرنګه چې تشدد دے، خو د عدم تشدد وسله تبلیغ دے او د تشدد وسله توپک دے، عدم تشدد په خلکو کښې محبت

پیدا کوي، همت پیدا کوي، جرأت پیدا کوي، او تشدد په خلکو کښې نفرت پیدا کوي، ویره او بزدلي پیدا کوي بعضې خلک وایي چې ډیفنس (دفاع) دپاره خو تشدد په کار دے، دوئ دې ته فکر نه کوي، چې تشدد دې وکړي نو عدم تشدد لاړ دې پرېښوه، حالانکه عدم تشدد کښې خپله دفاع شته عدم تشدد کښې شکست نه شته، او تشدد کښې شکست شته ځنګه چې تشدد یو نظام دے، دغه شان دعدم تشدد هم مکمل نظام دے، تشدد آسان دے او په دې لاړ تلل هم آسان دي او عدم تشدد ډېر ګران دے، او په دې لاړ تلل هم ډېر ګران دي، یو سړي له د پرق جوړ کښې پرق ورکول، آسان کار دے، خو پرق زغمل ګران کار دے.»

باچا خان په ساده ژبه د عدم تشدد او تشدد فرق بیان کړے دے، چې هرڅوک چې پوهول وغواړي په پوهیدلے شي، خو مونږ ته لږ دغه کتل پکار دي، چې مونږ ولې تشدد پسند یو، ولې مونږه بحیث قوم پدې بدبختي کښې ګیر یو، نو باچا خان په پدې سوچ او غور کولو، زما په نظر مونږه د تشدد او بیا په تیره دخپلو سړ تشدد یوه وجه دغه ده چې زمونږه اقتصاد ډېر primitive دے یعنې پښتون ترنن ورځې پورې

په کشت او ځناورو په ساتلو باندې ژوند کوي، نو د پټې شراکت همیشه د تره د زوي سره وي، او زمونږ اکثره جګړې په ځمکه وي، د پولې او بریدجګړه وه، او دغه جګړې د نیکه د پټې د ویش په ذریعه، او په وجه مینځ ته راځي، یا یو اړخ ته او یا بل اړخ حرص وکړي، غلط فهمیاني جوړې شي، د دې په وجه د خپلو خپلوانو په منځ کښې بدي جوړې شي، او بل داوبو په مسله دغه بدي جوړې شي.

چونکه دغه بدي اکثره د دوو ورونو اولادو په مینځ کښې راځي، نو ځکه په پښتنه ټولنه کښې تر بوره پورې په بد نوم یاد یږي، که څه هم د ورور نه پس د وینې په خاطر دا نږدې وي، او بل جنګونه اکثره زمونږ په وار بنګانو وي چې په دې نمونه جنګونو کښې اکثره د کلیو او یا قبیلو په منځ کښې راځي، دا چې زمونږ اقتصاد ډېر سمانده دے، نو ځکه (Conflict) کورنۍ کریکټرلري او قبائلي چې دغه مرصونه نور قومونه هم لري، مګر د دوئ اقتصاد دومره ترقي کړیده چې د دوئ جګړې د کورنۍ په ځائے د نورو قومونو سره د نږدې په منډې او خام مال باندې وي، که چیري زمونږ اقتصاد د کلاسیک لارې، یعنې (ځمکه او ځناور) نه مخکښې لاړ شي، صنعت، حرفت، او د تجارت میدان ته ګډ شي، نو زمونږ

جګړې به بیا د خپل تربور یا کلي او قبیلې په ځای د نورو قومونو سره وي، نو ځکه باچاخان کوښښ کولو چې د پښتون قوم پام تجارت، کاروبار، صنعت، حرفت او تعلیم ته واړوي، د باچاخان د کوښښ ؤ چې دغه دننا (Conflict) لرې کړي، مونږه د خپلو په ځای د نورو قومونو سره په سیالۍ کښې وا چوي. دا ځکه چې په دکانداری یا کاروبار کښې ضرورې نده، چې ستا د دکان یا کار خاني برید دې یا مقابله دې د خپل خپلوان سره وي، او بل داچې د ځمکې کشت او رمې ساتل دیوقوم سوشل ژوند باندې څه انقلابي اثر نه کوي، نو ددوئ سوشل او پولیټکل ژوند سوچ او بوبل سره چلن د پرمحدود وي او د ټولې خیالاتو او حالاتو نه خونډې وي ددوئ تماس د بهر دنیا سره کم وي، نو ځکه دوئ کښې برداشت نه وي، او چې معمله ورپیښه شي، نو د عقل نه یې زیاته په زور حل کوي، چې زور تشدد دے او د تشدد نه نفرت جوړیږي، چې بیا دغه تر نسلونو روان وي، او بله وجه ماته دغه ښکاري، چې مونږه کوم ځای میشته یو، دغه دهند دروازه ده، چې د پرنګي نه بغیر د معلوم تاریخ نه چې څومره قومونه هند ته تلي دي، نو زمونږ په ځمکه تیر شوي دي، اول یې زمونږ سره کبلې شوې ده، بیا

هند ته تلي دي، نو موږ ته په لاره کښې پرانګر يو چې هر وخت د لښکر کشۍ سره مخامخ شوي يو، نو ددې مستقيل جنګ جګړو په وجه زموږ ته کرکټر لښکري، عسکري او فوجي شوي دي، دا خو معلومه خبره ده چې دغه نمونه کريکټر خپلې مسلې په تشدد حل کول غواړي، او بيا دغه تشدد پسند کريکټر موږ ته ديو بل خلاف، کور د ننا په کار راولو،

او بله غټه وجه ماته دغه بريښي چې موږ ته قوم نه يو قبائيل يو، که څه هم موږ ته د قوم لفظ اکثره استعمالو مګر زموږ ته کريکټر قومي نه دے، بلکې قبائيلي دے نو ځکه ترنن ورځې پورې موږ ته د قوم په ځائے په خپله قبيله فخر کوو، چې ددې په وجه موږ بحيث قوم جوړ نه شوو او دغه ژړه زه نه کوم، بلکې د خوشحال نه را نيولے تر باچا خان او فقير آف ايپي او عبدالصمد خان اچکزي پورې، هر پښتون مشر کړيده، نو ځکه هر غير پښتون قوت موږ ته د خپل مقصد د پاره د يو بل خلاف استعمال کړي يو، دا ځکه چې موږ به د قومي مسايلو نه قبيلوي، او د قبيلوي نه ذاتي مسايلو ته متوجه وو، نو د باچا خان کوښښ دغه ؤ، چې په موږ کښې د ورولي، برد باري او ملي خويونه ترقي وکړي، او دے پدې رسيدلے ؤ چې دغه مقصد ته رسيدل د تشدد په لاره مشکل کار دے.

او یواځنۍ لاره یې عدم تشدد دے، او بل باچاخان پښتون دمعاشرې دغه مرضونه ورکول غوښتل، یعنې تشدد، بدل پرې جنګې، تجارت نه نفرت، کسب او کسبګر ته په بده کتل، د تعلیم نه بېغوري، خو ددې ټولو مرضونو موږ ورته تشدد ښکاریدو، باچاخان د چا نه د عدم تشدد لاره زده کړې نه ده، بلکې خپل پښتون ماحول پدې مجبور کړے او پوه کړے ؤ، چې باچاخان به روزانه اوریدل، چې فلانې فلانے مړ کړو، فلانی پراري او مفرور شو، فلانے پهانسي شو، او فلانے قید شو، نو دغه کارونه د تشدد په ذریعه کیدل، چې د پښتون کور یې ورانکړے ؤ، او بل دغه ټول تشدد د خپل رور سره ؤ، چې زیات وجوهات یې د برید او پولې وو، او په میلو کښې به د یو کلیوال د بل سره جګړې وې، همدغه شان قبائیل په خپل منځ کښې پرنګې سره اچول، نو باچاخان به پدې منطقي سوچ کولو، چې دا ولې؟ نو ځکه باچاخان اول په مدرسه پیل وکړو، چې د جاهلیت نه موږ وباسي، بیا یې ورته د تجارت خبره وکړه، منډې یې ورته جوړه کړه، بیا یې کسب اړخ ته راغب کړل، او تبلیغ د پاره یې ورته پښتون اخبار جاري کړو، او ورپسې یې د خدائ خدمتګارو تحریک جوړ کړو، د دغو ټولو کړاونو۔

مطلب دغه ؤ چې پښتون قوم قوم کړي، او د دوئ داخلي تشدد ورکړي، او خارجي مرض ته يې پام ور واړوي، چې هغه د پرنګي غلامي وه، نو ځکه د باچاخان د پرېجنبې نه د زړه سر تور ؤ. او پرجنبې سرے يې بدي شو.

اوبل دا چې باچاخان د تاريخ په رڼا کښې ليدلي وو: اولوستي يې وو، چې پښتون قوم، په هند او ايران کښې بادشاهي جوړه کړې وه، مګر دغه ټولې يې بيا دخپل تشدد پسند کريکټر په وجه وبايللې، دا ځکه دوئ به تشدد د يو بل خلاف ؤ او تيار خواره به د پاسه په راغلل دوئ به يې تباه کړل، د مثال په توګه که چيرې دولت-خان لودهي او ابراهيم لودهي په منځ کښې انقاق وے دوئ ه د يو بل سره مسلې د خبرو اترو، په ذريعه ياعدم تشدد په ذريعه حل کولے، نو سوال نه پيدا کيدو چې، مغل بابر د لودهيانو حکومت ختم کړے وے، د هند افغانانو کښې د تره او وراره په نوم پرې جنګې جوړې شوې، چې نتيجه يې دغه شوه، وراره مغل په تره پسې د کابل نه راوستو، کوم يې پخپله تباه کړو، بابر اول ابراهيم شهيد کړو، بيا يې دولت خان لودهي ورک کړو، دوئ خو ورک شول، مګر درې سوه کاله يې پښتانه پم

هند او پښتونخوا کښې د مغلو غلامان کړل، دا ځکه چې د تره او وراره په منځ کښې ناچاقي وه، او یو بل سره یې تشدد وکړو.

باچا خان یوځای لیکي چې:

"چې تره او وراره څوک د کوهاټ وو، د پرې جیل کښې قید وو، دوئ دخپل پښتون ورور سره تشدد کړے وُ، دهغې نتیجه دغه وه چې تور پنجابي د جیل نوکر به په ورځ کښې دوه درې ځله وهل، چې جاره به یې کوله، نو دوئ دغه بې عزتي برداشت کوله او دخپل پښتون ورور معمولي خبره یې نه شوه برداشت کولے، همدغه حال یوځل ما پخپله لیدلے وُ او هغه داسې چې زه او افراسیاب خټک د، پښتون سوداینتن فیډریشن مشران وو، نو د جولائ ۱۹۷٤ کښې د بهټو حکومت موږ ته دواړه ونیولو، او پېښور جیل کښې یې د تنګولو دپاره (C.Class) کښې د پښتون زلمي سره یوځای ساتلو، په پښتنو زلمو باندې حکومت د بمونو دهاکو مقدمې جوړې کړې وې، نو یوه ورځ د عجب خان مومند او پیرکل په منځ کښې جنګ جوړ شو، زه او افراسیاب خټک په منځ کښې شوو، یو د بل نه موږ نیول دوئ دواړه د بالا ماڼۍ وو، یو کچکول نو میده او بل

صدر صاحب ؤ ، دغه هم قیدیان وو ، ددوئ سره پولیس ډېر زیاتے کړے ؤ ، نو عجب خان په غصه کښې پیرګل ته وویل، چې ما به کونه ورکړي وي چې دجیل ته آزاد شم، چې دتانه به دغه بدل اخلم . ، افراسیاب ډېر دسوړ دماغ هلك ؤ ، نو هغه ډېر په غصه شو، عجب خان ته یې وویل ، چې پیرګل خو کنځل کړي دي، چې تا ورته یو په درې وکړلې، ته که دومره نر وې اول دهغې تهانیدار نه بدل واخله چې ته یې په دروانمو نیولے او تهانې کښې یې بې عزته کړے یې، هغه ته خو دې ایمان نه شته پیرګل چې ستا دسیاسي لارې ملګرے دے ، دومره قسمونه ورته کوي، ورته ویل یې چې باچاخان خو رښتیا ویلي دي، چې زمونږ ه تشدد دخپل ، وروره سره وي. بل ته مو ایمان نه وي، نو هې پخپلو سترګو ولیدل ، او واهې اوریدل، په دې باندې عجب خان خاموش شو، بیا روستو مونږه دواړه یو بل تر ور په غاړه کړل.

او بل داچې باچاخان پښتونخوا کښې ګرځیدو، اوکلي په کلي ګرځیدو چې د پښتون د ژوند نه ځان خبر کړي ، ما له یوځل خدای بخښلي سرفراز خان ایډووکیټ

د کوهاټ خبره کوله، چې ۱۹۷۰، انتخابات کښې موږ د د کوهاټ په باندې وګرځیدو، نو یو ځل دغه په سردوه درې کوره وو، موږ فیصله وکړه چې ورو خیژو، پاس چې ورو ختو یو بوډا سړے راغئ. موږ ته ډېر مغرور، ناست وو، چې کنې موږ اول خلق یو چې دې دوه درې کورو تر راغلو، دا ځکه چې دا انتخابات په وخت دومره لرې او دوه درې کوره پسې څوک نه ځي، خو چې بوډا راغئ ټپوس یې وکړو، چې میلمنو لاره موخرنګه خطا کړیده خیر خو دے دلته خو څوک نه راځي، خو پخوا یو دوه ځله باچا خان راغلے ؤ، اوس تاسو، سرفراز خان وویل چې موږ په پرک پرک وخندل، او یو بل تر مو وکتل، چې که ډېر کوښښ وکړو، خو د باچا خان غونډې منډې نه شو وهلے.

د دې نه معلومیږي چې باچا خان د پښتون قوم په غم څومره ککړ ؤ. موږ ته پکار دي چې اول دغه وپیژنو چې عدم تشدد څه دے، کومه فلسفه او کوم سوچ دے بالکل په ساده لفظونو کښې یې موږ ته دغه تعریف کولے شي چې هر یو کړکیچ یا مسله په زور نه بلکې د روغې جوړې دلارې حل کولو تر موږ ته د عدم تشدد لاره ویلے شو، د دې تعریف نه پس دے ته کتل پکار دي چې د باچا خان

دغې تر څرنګې خیال یا دعدم تشدد دفلسفې سره واقیف شو که سړے دباچاخان خوئ او خصلت تر ځیر شي، نو ډېر، زر به وړ معلوم شي چې باچا خان د عدم تشدد لاردماشومولی نه دخپل والد صاحب نه زده کړے دے، داځکه وایم چې ددوئ والدصاحب ډېر غریب طبیعته انسان وُ.

دهغې وخت دنورو خانانو غوندې بد عادتونه پکښې نه وو، دچا سره یې زور ظلم نه کولو، دوخت دحاکمانو چپلوسي یې نه کولې، بلکې خپل دپښتو او پښتونولۍ ژوندې یې تیروه، چې دغه نمونه خوئ په ماشوم باچاخان باندې ډېر اثر کولو، دغه دباچاخان اولنۍ زده کړه وه همدغه وجه ده، چې باچا خان دم په دم دغه صلحه جو، خوئ خپل کړو، باچاخان هم ډېر غریب طبیعته هلك وُ، چې څه وخت یو انسان غریب پسند وي، نو هغه پخپله - مظلوم پسند هم دے، او حق ته به حق وایي، دمظلوم ملګرے او دظالم دښمن وي. باچا خان چې ځوانیدو نو دوه شیان ورته ورځ په ورځ جوتیدل، چې هغه یو دپښتون قوم، او اولس غربت، بدبختي، بې علمي، بې اتفاقي، دیویل نه دبدل اخیستل او دخپل پښتون ورور سره تشدد وُ، او بله دپرنګي غلامي وه، هم په دې وخت کښې، پاس پرنګی وُ اولاندې دهندوستان اوپنجاب په راغلي

خلك وو چې د پښتون په کور يې قبضه کړې وه، د پښتونخوا
په هرکلي کښې دوئ دکانونه او هټۍ جوړې کړې وې،
چې د پښتون ګټه هم د دغه خلکو جيب ته لويده، د پرنګي
دکارخانې جوړ شوے سامان، يې په دوئ خرڅولو
او د پرنګي دکارخانې د پاره يې د پښتون خام مال د
نشت په بيعه اخيستو، يعنې پښتون قوم نه د پرنګي
جوړ شوي څيزونه اونه د خپل خام مال نه فايده اخيستلے
شوه، پښتون قوم ټول د پنجابي، هندو او سيکهه
او هندي پنجابي دلاسه مقروض ؤ، چې پښتون به څه
ګټل، هغه به يې څه د پرنګي ماليه اوجرمانه شوه، اوچې
څه به وو تر پاتې شول، هغه به د خپل تشدد پسند طبيعت
په وجه د تهانيدارانو، کچهرو، وکيلانو او عرض نويسانو
دوا شوه، او دغه سپيره به تش لاس کښېناستو، اوچې
به يې وينې، بربنډ او بې علمه پاتې شول، باچا خان د
خپل عمر سره په دې فکر او غور کولو، نو ده د تشدد
خلاف کار شروع کړو، او قوم ته يې خارجي مرض يعنې
د پرنګي غلامي وو په کوته کړه، باچا خان غوښتل چې
دغه دواړه مرضونه د پښتون قوم نه ورک کړي، نو
باچا خان منطقي غور او سوچ پرې وکړو، چې تشدد
موږ ته لرو خو دغې زموږ کور وران کړے دے، او د

پښتون قوم د تو لو مرضونو مور ده، نو هغه به کومه طریقه وي، چې دغه قوم روغ کړي، او د تشدد څخه ونیسي نو دغه کار د تشدد په لار نه شو کیدے، نو د ډېر فکر او غور نه پس باچا خان په دې نتیجه ورسیدو، چې باید د تشدد څخه په عدم تشدد ونیولے شي،

د دې نه معلومه شوه چې باچا خان دغه د عدم تشدد لار د چا نه زده کړې نه ده، او نه چا ورته ښودلې ده، بلکې د خپل قوم او اولس تشدد پسند چا پیریال (Environment) په دې مجبور کړو، چې علاج یې د روغې جوړې او د امن د لارې یې ولټوي، چې دغه کار ته د عدم تشدد نوم نه دے ورکړے شوے، دغه بیله خبره ده، مګر د باچا خان کړه وړه، د اول سر نه د عدم تشدد ترفلسفې لاندې وو، د اخکه چې د کانګرس او کاندهي سره د دوئ سیاسي ملګرتیا، د ۱۹۳۰ نه وروسته شروع شوې وه، او باچا خان د خپل قوم خدمت ۱۹۱۰ نه شروع کړې ده، چې د کوم انسان په ذهن کښې د خدمت سوچ راشي، نو خدمت په زور نه کیږي بلکې په مینه او ورور ولۍ کیږي، چې دغه سوچ پخپله عدم تشدد دے، او بل غټ مثال یې دغه دے چې څه وخت باچا خان مدرسې جوړولې یو ملا چې په چترالي ملا باندې مشهور ؤ، هغوئ باچا خان ته غوري تړې کولې، چې زه به د باچا خان،

سړ فیصله یا په کتاب اویا په ټوپک کوم، د باچاخان ځواب دغه ؤ، چې مولانا صاحب زه د ټوپک کار نه کوم، او که خامخا یې غواړې نو زما یو دتره زوئ دنے، هغې له ورشه چې په خوند دے پوه کړي، ددې نه صفا جوته شوه چې باچاخان دګاندهي او کانګرس د ملګرتیا نه ډېر، پخوا د عدم تشدد په لار روان ؤ، د پښتون تشدد ملي خوئ نه درلوده، بلکې شخصي او ذاتي خوئ یې درلوده، په بله معنیٰ دغه تشدد د پرنګي او هندوستاني سړ نه ؤ بلکې د خپل ورور پښتون سړ ؤ. دا ځکه چې د دوئ ملي سوچ او فکر ډېر ابتدایي ؤ، یا ملي سوچ یې نه درلوده، په دې یې جنګ جګړه نه کوله چې دده ژبه سرکاري یا دفتري ژبه ولې نه ده، او یا ددې پرژبه کښې سبق او مدرسې ولې نه شته، بلکې د خپل ورور پښتون سړ به یې د پولې او برید جګړې وې، نو دوئ خپله ټوله انرجي د یو بل خلاف خرچ کوله.

چونکه پښتون قوم غلام ؤ او په مرضونو کښې ډوب ؤ، نو باچاخان ددوئ کور جوړولو، او ددوئ ټولنه یې رغوله، نو ځکه باچاخان د عدم تشدد فلسفه د سیاسي اغراضو د پاره استعمال نه کړه، بلکې د باچاخان پدې فلسفه اصلاحي عقیده وه، او دغه نتیجه ورته صحیح

بریښده ځکه څه دغه ضد تشدد وه، او تشدد د
پښتون کور وران کړے ؤ، او بل داچې د باچا خان
سوچ دغه ؤ چې که چیرې دوئ په دې برشول، چې،
پښتون په دې پوه کړي چې د کرکیچ یواځینۍ لاره د
حل تشدد نه دے، بلکې د ټولو نه ښه لاریې عدم تشدد
دے، نو د دې به دغه نتیجه شي، چې دغه ټوله انرجي
به په یو مرکز راجمع شي، او د هغې غټ مرض خلاف به
استعمال کړي، چې کوم د پرنګي د لاسه د دوئ غلامي وه
حیني خلک شعوري او حیني خلک غیر شعوري دغه خبره
کوي چې باچاخان د عدم تشدد په وجه د یو مارشل او
بهادر قوم نه ګیدړان جوړول، که چیرې دغه خبره رښتیا وائ
نو پرنګي ډېر غلط کار کړے دے، چې دومره لوئ خپل
ایجنټ یې بندي خانو کښې ساتلو، پرنګي ته پکار وچې باچا
خان یې چیرې هم نه وے نیولے، ولې په دې چې دغه
خو د پرنګي غټ خدمت ؤ، چې د زمریانو نه ورته،
باچا خان ګیدړان جوړول، زما خیال دے چې پرنګیانو
دومره د عقل سړه ډزې نه وې کړې، چې په دوست او
دښمن کښې یې فرق نه شوکولے، پرنګے په دې ښه پوهیدې
چې دغه زمریان په خپل کور کښې دیو بل سره اخته دي،
دوئ دومره وخت او اتفاق نه لري، چې زمونږ خلاف بحیث

قوم راپورته شي، او دوئ ته ښه پته وه چې ترڅو پورې پښتون اولس په ذاتي او اقتصادي مسلو کښې بوخت وي، نو دوئ ته به د ملي مسلونه زيات، شخصي اوذاتي مسائل ډېر اهميت لري، نوځکه پرنګي کوښښ کولو چې موږ په اقتصادي توګه پس مانده وساتي، اومحتاج مو وساتي نو دوئ ته پته وه چې، که کومه ورځ دوئ دخپلې کورنۍ بې اتفاقي ورکې کړي، نو په هماغه ورځ به دوئ زموږ خلاف راپورته کيږي، هرچا چې دغه کار يعني دپښتون قوم اصلاح کوله، هغه د پرنګي اول نمبر دښمن ؤ.

اوبل داچې باچاخان ته ورمعلومه وه چې پښتون قوم ډېرې لښکرې غوبلې کړيدي، خو دلښکرونه پس به بيا پښتون بې برخې ؤ، تيار خوروبه پخپل منځ کښې وجنګول، ګټلې بادشاهي به يې وبايللې، داځکه چې دوئ ديوبل سره تشدد کولو، باچاخان يوداسې پښتون جوړول غوښتل چې دمينې او ورور ولۍ اواتفاق نمونه وي، او دعدم تشدد پيروکار وي، کم نه کم دخپلو خلکو سره او ددې قابل وي چې ګټه وکړي اوبيا يې وساتلے هم شي، ترڼو ورځې پورې موږ ده ګټلو تکړه يو، مګر تهم کولے ئې نه شو، داځکه چې موږ کښې اتفاق نشته، خودسرې ده يودبل په لاره نه ځو

او دغه کار بغیر د مسلسل اصلاحي علاج نه بغیر ممکن نه و او نه دے ، نوځکه د پرنګي د پاره یو Reformer باچاخان د پر خطرناك ؤ ، به نسبت یو فوجي یا سیاسي باچاخان نوځکه پرنګي باچاخان بې وخته سیاست کولو ته مجبور کړو ، او اصلاحي کار ته یې پرېښوده ، ولې په دې چې پرنګیان په دې ښه پوهیدل ، چې پښتون وجود د دې مرضو نه روغ شي ، نو بیا زمونږه خیر نشته ، دوئ ته پته وه چې ټول هندوستان کښې پښتون واحد قوم دے چې د دې بې اتفاقۍ او مرضو با وجود هم زمونږ خلاف راپورته کیږي ، نو که چیري په دوئ کښې اتفاق راغئ نو د دوئ قوت یو په سله کیږي همدغه وجه وه چې دوئ باچاخان اصلاح ته پرېښود د دوئ وخت یې د اصلاح په ځائے په سیاست خرڅ کړو ، باچاخان اصلاح د لنډې سیاسي یا ذاتي ګټې وتې د پاره نه کوله ، بلکې غوښتل یې چې خپل قوم همیشه د پاره د مرضو نه خلاص کړي ، او یو پوخ علاج یې وشي ، مګر پرنګي دغه کار ته نه پرېښوده .

د باچاخان او د ګاندهي جي په عدم تشدد کښې ډېر لوئ فرق ؤ ، د باچاخان قوم تشدد پسند و ، او غوښتل یې چې د خپل قوم اصلاح وکړي ، مګر د ګاندهي جي قوم

تشدد پسند نه ؤ، بلکې هندوان د تشدد په چل ته پوهیدل که چیري هندوان د پرنګي خلاف راپورتر شوي وے، نو دوئ به پخوا آزاد وے، مګر دوئ تشدد نه کولو او پرنګے بغیر د تشدد نه نه تلو، نو ګاندهي جي ورته بله لار پیدا کړه، یعني هغه کار چې تشدد کړے وګهغه کار یې په عدم تشدد وکړو، یعني ګاندهي جي د پرنګي خلاف تشدد وکړو، مګر تشدد یې د تشدد په لاره ونه کړو، بلکې تشدد یې په عدم تشدد وکړو، په بله معنیٰ ګاندهي جي پرنګي د عدم تشدد په لاره مجبور کړو، چې هند ته سیاسي آزادي ورکړي، یعني د کانګرس او ګاندهي جي په عدم تشدد اصلاحي عقیده نه وه، بلکې سیاسي چال ؤ ګاندهي جي د عدم تشدد نه یوه وسله جوړه کړه. خپل سیاسي مقصد یې ترسره کړو، په بله معنیٰ دوئ دغه فلسفه د هندي ټولنې د رغولو د پاره نه استعمالوله، بلکې د هند د سیاسي حقوقو او آزادۍ د پاره یې استعمال کړه، همدغه وجه ده چې دلته د باچاخان او ګاندهي جي په عدم تشدد کښې بنیادي فرق دے چې یو یې یعني ګاندهي او کانګرس یې د سیاسي اغراضو د پاره په کار راولي، او باچاخان یې دیوې نسخې په طور د خپل قوم د بدبختیو لرې کولو د پاره په کار راولي، یعني دیوه سیاسي عقیده ده، او دهغه بل په اصلاحي عقیده ده

همدغه وجه وه چې کاندهي جي پخپله د تشدد بنکار شو، داځکه چې دوئ هندوان اصلاح نه کړل، بلکې دعدم تشدد په ذریعه یې هندوانو ته تشه سیاسي آزادي وګټله، نو هندوانو دکاندهي جي قدر و نه کړو، او د تشدد بنکار شو، مګر باچا خان د یو تشددپسند قوم په منځ کښې تر اخره پورې ژوندے پاتې شو، دکاندهي جي غوندې د تشدد بنکار نه شو، داځکه چې باچاخان خپل قوم دعدم تشدد په لار اوفلسفه ډېر پوه کړے ؤ، د مثال په توګه په جیل کښې یو خدائ خدمتګار ؤ د ټانک علاقې بهټنی پښتون ؤ، ( ) چې جیل کښې به سپېږې په وشوې، نو ده د جامو نه لرې کولې او مړې کولې به یې نه، چې نورو قیدیانو به ورته وویل، چې داولې؟ دده ځواب داؤ چې باچاخان ویلي دی چې په ژوندي شي باندې به تشدد نه کړئ، نو د دوئ مړکول تشدد دے، حالانکه بهټنی طبعیاً ډېر سخت طبعي دي، مګر دلته د باچاخان دکار دومره اثر کړے ؤ، چې انسان خو پرېږده چې سپېږه یې هم نه مړه کوله، او بل داچې باچاخان تر مرګه پورې په دې لاره ټینګ ولاړ ؤ، او خپله عقیده یې بدله نه کړه، چې خومره تشدد د خدائ خدمتګارو سره پرنګي او پاکستاني کړے دے، که بل څوک وے

پخوا به دخپلې عقیدې نه اوښتي وو، تشدد به یې اخستے
ؤ، ددوئ ملګریو هندکښې دآزادۍ نه پس دعدم-
تشدد لاره پرېښوده، په نورو سر شول، نن هم که څوک
دپښتون قوم خدمت کول غواړي، نو اصلاحي لاره یې،
دټولو نه بهتره ده، اوخپله ټوله انرجي د دوئ دتشدد
نه راپورته شوو مرضونو خلاف خرچ کړي او هغه کار دسره
شروع کړي، کوم چې دباچا خان دوفات نه پس نیمګړي
پاتې شوے دے، بلکې د ټولې نړۍ دپاره دغه د باچا
خان لار د امن اوصلح لاره ده، داځکه چې نن سبا ایټمي
تشدد که وشو، نو انساني نسل به ختم شي.

دکانګرس او د باچاخان دعدم تشدد په فرق باندې
باچا خان پخپله داسې لیکي:

"تاسو کانګرس ته وګورئ چې دهندوستان په
هندو او مسلمان کښې یې څومره نفرت پیدا کړو، او
څومره تشدد یې وکړو، خو حقیقت دا دے چې عدم
تشدد دهغوئ پالیسي وه، او زمونږه عقیده وه او ده"

د خدائي خدمتګار او کانګرس

کېږکار

اوس دغه څه د تعریف محتاج نه دي چې خدائي خدمتګار څوک وو، خو بیا هم دوئ مذهباً مسلمانان وو، او په قوم پښتانه وو، د هغې وخت د هندوستان د شمالي مغربي، صوبې وسیدونکي وو، او د دوئ مشر خان عبدالغفار خان فخر افغان باچا خان وو، د دوئ عقیده د عدم تشدد دفلسفې په بنسټ ولاړه وه، دوئ د پښتون قوم نه یو صحتمند قوم جوړولو، چې د نړۍ د قومونو سره په هر میدان کښې سیال شي، د دوئ په نظر د دې پس ماندګۍ یا بدبختۍ غټ او بنیادي مرض د دوئ تشدد پسند کرکټر معلومیده چې دوئ د دې په وجه د یوبل نه لاندې وتي وو، وروڼو به د وروڼو سره تشدد کولو، د بهرني دښمنه غافله وو، نو خدائي خدمتګار تحریک غوښتل چې اول دوئ په کور د ننه سره روڼه کړي، او د دوئ معاشرتي، سیاسي، تعلیمي، اقتصادي مرضونه

وار په وار ختم کړي، او ورسره ورسره يې دې تمنوجې کړي، چې دوئ ديو قوم غلامان دي، چې هغه پرنګې دے، مګر ددوئ دښمن پرنګې دپر چالاک ؤ، او دپرو ذرايعو خاوند ؤ، نو دوئ يې بې وخته دخدمت نه په سياست ککړ کړل، بل ددوئ خاوره دنور هندوستان غوندې قانوني اصلاحات نلرل، بلکې پرنګي دلته دوحشيانو قانون جاري کړے ؤ، چې F.C.R يې ورته وئيلو، نو چې څه وخت دباچاخانا دمشرکيرې لاندې دوئ د پښتون قوم خدمت ته ملا وتړله، نو پرنګي باندې وارخطايي راغله، دا ځکه چې پښتون دهند پردروازه کښې ميشت ؤ، چې چوکيدار باغي يا انقلابي شي، نو د کور دخاوند سره غم شي، چې دروازه نمادښمن ته وازه نه کړي، همدغه وجه وه چې دهغه وخت خطره دروس نه وه، نو پرنګي فکروکړوچې را شه دوئ باندې دبالشويکانو ولګوه، تر دې نوم لاندې يې ختم کړه، چې بيا پښتنو کښې څوک دسياست اوخدمت نوم واخلي، چې دوئ يې قيد کړل، او پرنګي ورته دور کولو سکيمونه جوړ ول، نو په دې کښې صاحبزاده عبدالقيوم خان ددې ناوړې منصوبې نه خبرشو، که څه هم دے دپرنګي دنوکرشاهي يوه پرزه وه، مګرپه

ده کښې پښتونولي يا پاتې وه، ده خدائی خدمتګار خبرار کړل، چې دغسې چل دے، نو باچاخان ليکي:

«مونږ ه دګجرات په جيل خانه کښې وو، چې زمونږ يو دوه ملګري، يو ميا جعفرشاه کاکاخيل. بل ميا عبدالله شاه دقاضي خيلو چا رسدې زمونږ ملاقات نه راغلل زما ملاقات خو بند و، او زما دې نورو ملګرو سره يې ملاقات وشو، هغوئ ووئيل، چې حکومت زمونږ دټولې صوبې ناکه بندې کړې دي، نوخوک دصوبې نه بهر ته تلے شي، او نه خوک د بهر نه صوبې ته راتلے شي، او په خلکو يې ډېر زور ظلم شروع، کړے دے، کوښښ دادی چې دا زمونږ تحريک ختم کړي، مونږ په اباسين راپورې وتو ځکه چې ګودرونه ټول سرکار نيولي دي، او تاسوله راغلوچې مونږ څه وکړو، په مونږ داسې تاروا ظلمونه کيږي چې په دنيا کښې په چا نه دي شوي خو دنيا زمونږ دحال نه خبره نه شوه، زمونږ دملګرو چې ملاقات وشو نو راغلل ما ته يې دا ټول حال وايه مونږ خو په خلافت کښې وو، زمونږ دخلافت ډېر ورونه په مسلم ليګ کښې هم وو، مونږ ه دوئ نه دا رايه ورکړه چې تاسو هندوستان کښې د مسلم ليګ مشرانو له ورشئ، او ورته ووايئ چې پرنګيانو په مونږ ډېر

ظلمونه شروع کړي دي، او زمونږ صوبه يې بالکل محاصره کړې ده، تاسو زمونږ مسلمانان ورونه يئ مونږ سره صرف دومره امداد وکړئ چې دنيا زمونږ دحال نه خبره شي، چې زمونږ تحريک خدائ خدمتګار خواصلاحي تحريک دے، مونږ ورتر داهم ووے، چې لاهورتر لاړ شئ، دهلي ته لاړ شئ، شملې ته لاړ شئ، په مسلمانانو وګرځئ او دخپل حال نه يې خبرکړئ، دوئ لاړل او څه موده پس چې راغلل، مونږ يې خبرکړو چې مونږ دمسلم لیګ په بتولو لیډرانو وګرځيدو، هغوئ زمونږ مدد ته تيار نه دي او تيار ځګه نه دي، چې هغه يو جماعت دے چې پرنګيانو د هندو مقابلې دپاره جوړ کړے دے، او زمونږ جنګ خود پرنګي سره دے، نو هغوئ به زمونږ ځنګه مدد وکړي، مونږ ورته ووے، حئ لاړ شئ په هندوستان کښې نورو جماعتونو سره وويني، او خپل حال ورته ووايئ، دوئ لاړل او چې څه موده پس راغلل، نو مونږ ته يې ووے، چې مونږ خو ډېر وګرځيدو، خو بخير دکانګرس نه مونږ سره امداد ته چا غاړه کښېنوده، دکانګرس لیډرانو له مونږ نه تپوس وکړو، چې ستاسو پرنګي سره جنګ په څه دے؟ مونږ ورته ووے، دملک په آزادۍ،

وے چې د جنګ طریقه موخه ده؟ مو ووے، عدم تشدد، دوئ ووے، چې دغه اُصول دجهدوجهدخو زمونږ هم دي. تاسو هم غلامان یئ او مونږ هم غلامان یو، ستاسو هم انګریز دښمن دے، او زمونږ هم دے تاسو هم آزادي غواړئ مونږ هم، که تاسو مونږ سره ملګري کیږئ، نو مونږ ستاسو مدد ته تیار یو. د دوئ د دې بیان نه پس مونږ دوئ ته ووے چې واپس خپلې علاقې ته لاړ شئ، او خپلې صوبې جرګې سره خبرې وکړئ، هغوئ چې څه فیصله وکړه نو مونږ تر منظوره ده، دوئ لاړل او د صوبې جرګې د اخبره منظوره کړه چې د کانګرس سره ملګري کیږو، مونږ خو نن په دریاب کښې لاهو یو، او غرقیږو، څوک چې لاس راکوي ورکوو یې، د دې نه پس جرګې د کانګرس سره تړون وکړو، او د کانګرس کمیټي سمدستي په مرکزي اسمبلی کښې سپیکرو، بل بهائي پټیل دیو وفد په مشرۍ صوبه سرحد ته د تحقیقاتو د پاره راولیږه، خو پر ګکیانو په اټک بند کړو، نو هغوئ په پیندۍ کښې کښیناستل او تحقیقات یې شروع کړو، زمونږ د پنجاب مسلمانان ورونه زمونږ نه ګیله کوي، چې دوئ د کانګرس سره شو، او کانګرس د هندوانو جماعت دے، د ټول هندوستان

د ټولو خلکو شریک جماعت دے ، جناح صاحب خو
هم په دې کانګرس کښې ؤ ، او بله دا چې موږ ګانګرس
سره څنګه شو ، که چیرې دوئ زموږ امداد کړے ،
وائ ، نو موږ کانګرس ، څه کوو؟ حقیقت دا دے چې موږ
خو دوئ کانګرس سره ملګري کړي یو ، موږ پښتانه خوسیلاب
په مخه کړي یو ، دوئ له ورغلو چې تاسو زموږ مسلمانان
روږه ئ لاس راکړئ ، دوئ لاس را نه کړو ، کانګرس
وے زه درکوم ، موږ له یې لاس راکړو ، زه د دنیا ټولو
مسلمانانو ته وایم چې اوس تاسو انصاف وکړئ چې دوئ
ګرم دي او که موږ ».

دباچاخان د دې لیکلي بیان نه ثابته شوه ، چې دوئ
ولې دکانګرس سره ګډ کار ته مجبور شوي وو ، او که
نن هم څوک د پښتون قوم دښمن شي ، هغه که پرنګ وي
که هندو او یا مسلمان ، زه به دده خلاف د شیطان سره
اتحاد جوړ کړم ، تر څو چې د دښمن خاتمه مې نه وي کړې
د پنجاب مسلمانان خو موږ د دښمن پرنګي سره ملګري وو
دغه خو خیرو ، مګر خدائ خدمتګار چې دوئ پرخپله
دکانګرس ملګرتیا نه تیار او مجبور کړل ، دغه بده وه ،
د هندوستاني مسلمان د هندو نه د نفرت اوویرې ،
دوه بنیاد دې وجې وې ، یو دغه چې پرنګی Divide and

په بنیاد یې دهندو او مسلمان په منځ کښې نفرت جوړ کړے ؤ، چې دوئ سره اتفاق ونکړي، او دپرنګي نه هند واخلي، بله چې ماتر ښکاري، هغه دغه وجه ده چې هندوستاني مسلمانانو کښې ډېر لږ مسلمانان وو، چې دوئ دمسلمان په حیث هند تر لاغلي وو، یعنې که څوک وو، هغه ډېر لږ وو، او دهند د مسلمانانو اکثریت دهندوستان هندوان وو، چې دوئ وخت په وخت دهندو مذهب نه اسلام ته اوړیدلي وو، چونکه هندو مذهب کښې، شودره اچهوت طبقه یا ډله ډېره زیاته وه، او برهمانو به ورسره غیر انساني سلوک کولو، دد وئ اوځناورو ترمنځ دحقوقو دنقطه نظره هیڅ فرق نه ؤ، بلکې دیوې غوا ډېر حقوق وو، په نسبت دیو شودر اچهوت نو چې څه وخت اسلام راغئ، نو دوئ دلا ډېر اسلام قبول کړو، دا ځکه چې اسلام دهندو دهرم نه آزاد خیاله او انسان دوسته ؤ، نو چې دوئ ولیدل چې نوي مذهب کښې دوئ تر هرقسم دروازې خلاصې دي او شودره توب نه انسان کیږو، نو دوئ دغه اسلام قبول کړو، مګر غوړ او مرعات یافته هندوانو اسلام قبول نکړو، نو همدغه وجه ده چې تر نن ورځې پورې دپنجاب او هند مسلمانانو نه هغه پخوانی دشودر توب

د دوی ویره او نفرت و نه وتو، چونکه دغه ویره او نفرت موجود ؤ، نو دوئ د هندوانو خلاف راګرمول، څه مشکل کار نه ؤ، او پرنګیانو تر دغه پته وه، چې د هند د مسلمانانو اکثریت د سابقه شو دره هندوان دي، دا ځکه چې عیسوي پادریانو چې څومره عیسایت هند کښې خور کړو، همدغه شو دره ذات یا ولې کښې خور کړو، دا ځکه چې دوئ په دې کښې خیر لیدو، چې تر څو به د هندوانو د مذهبي مشرانو د قهر او ظلم بنکار وو، نو چې دوئ به عیسویان شول، نو دې ظلم نه به خلاص شول، او د پرنګي او عیسوي په کلکه ملګري شول، همدغه وجه ده چې څه وخت اقتدار د مسلمانانو سره ؤ، نو دوئ مسلمانان کیدل، چې روستو اقتدار عیسوي پرنګي تر لاړو، نو دوئ عیسوي کیدل، نو دغه تاریخي نفرت او ویره د دوئ په هډونو کښې داسې ننوتې وه، چې ویستل یې ګران وو، نو دې نفرت او ویرې باندې پرنګي نور کار و کړو، او دوئ یې د خپل سیاسي مقاصدو سره وتړله، او د مسلم لیګ په شکل، کښې منظم کړل، چونکه د پښتنو په رګونو کښې داسې نمونه، مرضونه نه وو، دا ځکه چې پښتانه نه هندوان وو، او نه شو دره پاتې شوي وو، نو ځکه د دوئ سره د نفرت مرض نه و، او بل د دوئ عملي مشکلات

ته کتل د خپلې غلامۍ علاج یې لټولو، نو که چیرې د هندوستان سابقه شو دره اوسني مسلمان د پرنګي خلاف وے، نو خپل په خپله به د مسلم لیګ او خدائی خدمتګار د ملګرتیا راغلی وه، مګر داځکه را نغله، چې یوې ډلې پرنګے خپل د بنمن ګڼلو، او هغې بلې خپل نجات دهنده او سا تونکے، نو د دوئی مفادا تو کښې د ځمکې او آسمان فرق وُ، همدغه وجه وه چې د دوئی ملګرتیا را نغله او نه به یې چیرې راغلې وه، داځکه چې هر یو ګوند پخپل ځائے ولاړ وو، ممکنه هله وه چې خدائی خدمتګار د خپل سیاست بدل کړے وے او یا مسلم لیګ. مګر دواړه دې تر تیار نه وو، نو ځکه دګډ کار سوال نه پیدا کیدو او بل دکانګرس سره ټول هغه قوم پرست مسلمانان وو چې د دوئی پلرونه او یا غوره نیکونه د مسلمان فاتح په شکل هند ته راغلي وو، د مثال په توګه ابوالکلام آزاد هندوستانے شو دره ذاته مسلمان نه وُ، بلکې والد صاحب یې د عربو نه راغلے وُ، او کلکته کښې آباد شوے و، نو ده کښې د شو دره ذات احساس کمتري نه وه او نه ورسره نفرت او ویره وه، نو ځکه یې دکانګرس ملګرتیا وکړه او د هندو نو مخالفت یې د پرنګي په خوله ونکړو، همدغه شان ډاکټر ذاکر حسین چې روستو

دهند صدر شوے وو، بنیادي او ذاتي پښتون ؤ،
او پښتو کښې داپرید و د قبیلې نه ؤ، نو ده هم شوده
پسن منظري، نه درلوده، نو ځکه کانګرس او ضد-
پرنګي ؤ،. همدغه شان ډاکټر انصاري صاحب عرب و
د شو ده د مرض نه خلاص ؤ، دے هم په کانګرس کښې
ؤ، او د پرنګي سخت مخالف ؤ،

د باچاخان او خدائي خدمتګارو، خدمت او سیاست
خو ښکاره خبره ده، چې د دوئ کښې هیڅ نفرت او منافقت
نه وو، او نه د هندوستاني مسلمانانو غوندې یې د
شو ده توب د وخت (Camplex) ، لرل .

مسلم لیګیان او د سر سید احمد خان یعنې علیګړ مکتب فکر او "دیوبند" مکتب فکر

چې څه وخت پرنګیان په جبل الطارق، باندې راتیر شول، نو دوئ تر ور معلومه شوه چې د بحر روم د افریقې غاړه ټوله د مسلمانانو په لاس کښې وه، چې دې وخت کښې دغه شمالي افریقې عرب او بربر مسلمان اولس د عثمانې ترکې د خلافت لاندې ؤ، دوئ ته ډېره لوئ آزادي وه، مګر خارجي او عسکري معاملو کښې به د استنبول ډېر لاس ؤ، نو یورپي قومونو دا کوښښ شروع کړو، چې د ترکانو ګرفت په دې علاقو کمزوري کړي، بیا د فرنسویانو په لمسون د مصر واکدارانو د ترکې نه ډېره آزادي واخیستله، او چې څه وخت نپرسویز جوړ شو، نو د یورپ او هند او مشرق بعید سره د ټګ او راتګ لاره ډېره لنډه شوه، او د دې سره مصر قسمت هم د خارجي یورپي طاقتو د -

رقابت قربان شو، دوئ پولو اول په ۱۸۲۸ ش وختوا
کښې بحره روم کښې دعثماني خلافت بحري طاقت ختم کړه
یونان ځنې آزاد شو، بحره روم د فرانسویانو او پرتګیانو
په لاس ورغے، او د وچوبې د لارې زان روس په
لګیا و، ترکانو نه یې علاقې نیولې، نو عثماني خلافت
دومره دوئ کمزورے کړو، چې د شمالي افریقې
یا د مصر حفاظت خو پریږده، د خپل ځان غم یې نه
شو کولے، نو پرتګیانو ته ورمعلومه شوه، چې
د جبرالطارق (جبل الطارق) نه راواخله تر کراچۍ، او
ډهاکه پورې، ټول مسلمان اولس پروت دے، نو
دوئ خو یو مذهبي تعصب درلوده، او بل کاروباري
رقابت، نو دوئ په دې پوه وو چې ترڅو پورې
ترکان او عرب کمزورې شوي نه وي، نو دد وئ
د هند سره رابطه هر وخت د خطر سره مخامخ ده، نو
شمالي افریقې کښې سپین، فرانس، او اټلي خپلې کالونۍ
جوړې کړې، مصر کښې پرتګیان ورتر کښېناستل، د
خلیج فارس، یمن، عمان، بحره احمر کښې دوئ خپله
بحري بیړۍ ځاے په ځاے کړه، تر دې وخته
پورې دوئ هند سره تجارتي رابطې ښې ټینګې کړې وې،
او د هند دمنډیئ نه یې نور یورپي سیالان شړلي وو، نو دوئ

ته ور معلومه وه چې هند اکثریت آبادي دهندوانو دي، او اقلیت په حکومت کوي (مسلمان) نو دوئ (Divid andrul) تر فارمولې لاندې دهندو او مسلمان ترمنځ یې د نفرت تخم وکرلو، او اولس کښې هندوانو د پرنګي کمک کولو، داځکه چې دهندو دپاره صرف د مالک بدلول وو، نو دوئ د پرنګي سره کمک کولو، نو پرنګے یې د مسلمان خلاف په شاه تپولو، او پرنګے هم په دې پوه ؤ، چې تر څو مسلمان په هند کښې کمزورے کړے او بې واکه کړے نه وی، نو ځما خواب شر منده تعبیر نه شي کیدے نو دوئ د چالاکو نر علاوه اول ځل دپاره په فوجي توګه ۱۷۵۷ کښې د پلاسي په میدان کښې سراج الدوله تر شکست ورکړو او په بنګال یې خیته واچوله، په دې وخت کښې لوئ بابا احمد شاه ژوندے ؤ، چې دده تر پرنګیان او هندوان ډېر زیات ویریدل، داځکه چې مغولي مرکزي حکومت، غاښونه ختلي وو، چیچل یې نشو کولے، نو دوئ د احمد شاه بابا خلاف، مرهتیانو ځتانو او سیکهانو ته ډېر ډېر امداد وکړو، چې احمد شاه بابا د دوئ سره مشغول وي، او دوئ ځینې په ارام خپل کار کوي، نو دوئ هند کښې نور هم مضبوط شول

چې څه وخت ۱۷۷۳ کښې لوئ بابا وفات شو، بل داسې لوئ افغان پاتې نشو، چې ددې ځاے یې نیولے وے او پرنګیا نو هند په چل ول را نیولو، دتیمور شاه اوزمان شاه خلاف یې سیکهان او ایرانیان دضرورت مطابق راګرمول، پدې وخت دوئ په هند کښې مرهټیان، جټان او د روهیله پښتانه، یو په بل وهلو، ختم یې کړل، او افغانستان کښې د سیکهانو او ایرانیانو نه علاوه، کور نے جنګ د خپلو جاسوسانو په ذریعه جوړ کړے وُ، لنډه داچې اول افغاني پرنګي جنګ کښې ۱۸۳۹-۴۲ کمپنۍ دافغانانو نه وهل خوړل، او ورپسې پر ۱۸۳۹ کښې ددوئ ملګرے رنجت سنګهه مړ شو، او ۱۸۴۹- پورې دوئ، ترخیبره پورې منطقه قبضه کړه او هند کښې یې مسلمانان بې واکه کړل، څوک ورسره ملګري شول لکه نواب دکن، اُودهه او دوئ افغانستان داسې کړوچې نوم یې وُ او نور څه نه وو،.

نو ۱۷۵۷ نه تر ۱۸۵۷ پورې هندوانو نه صرف خپل نوی ماسټر مدد وکړو، بلکې دنوي مالك هرڅه یې خپل کړل دوئ انګریزي ژبه زده کړه، انګریزي تعلیم یې کولو، نو ددې سره دوئ دیورپ دکلچر او عادات او طور او سیاست نه خبر شول، او بل دوئ تجارت ته لاس واچولو، مالواري

هندوان اول کلکتې کښې بیا بمبي کښې لوئ لوئ کاروباري مرکزونه جوړ کړل ، او خپلو بچو او اولادو باندې یې د نوې زماني تعلیم کولو، د تهکې نه راواخله تر نوکرۍ پورې ، پرنګي دوئ ته اولیت ورکولو ، او په مسلمان - باندې یې هرڅه تقریباً بند کړي وو، او مسلمان ملت پخپله دتوړ پوړ سره مخامخ وو، سیاسي ، معاشرتي ، کلتوري او اقتصادي واک یې باثلل وُ ، نو دوئ د پرنګي او هندودواړو ننبانه وو ، نو د دې مایوسۍ نه قسما قسم اسلامي تحریکونه او حرکتونه راپیدا شول ، چې چا به ویل، چې پرنګی تهذیب، تعلیم ، اوژبه او دوئ ته وفادارۍ کښې زموږ ګټه ده ، او حئینو به ویل چې نه موږ تر د خپل مذهب په لاره تګ ، او د دوئ دهرشي نه پرهیز پکار دے ، د ۱۸۵۷ پاڅون یعنې ټیک سل کاله دپلاسي د جنګ ۱۷۵۷ نه پس ، د هند اولس د پرنګي خلاف راپورته شو ، دوئ د آزادۍ دپاره جنګ وکړو ، مګر دوئ په دې بر نه شول چې پرنګے مکمل د هند نه وشړي ، د دې انقلاب یا پاڅون مشري هندي پښتنو مسلمانانو کوله نو د پاڅون په اخر کښې پرنګي ټول ظلم په مسلمانانو وکړو ، که څه هم څرې بړي هندوانو پکښې ګډون کړے وُ ، مګر د هندوانو کاروباري طبقه او نوکر پیشه طبقه

خپل نائیک ته وفادار پاتې شوه ، نو پرنګي نوره هم د مسلمانانو ته د اقتدار نشته ویسته ، چې نو به ګاریې کړل ، او دومره یې (Demoralised) کړل ، چې دوئ د پرنګي بوتانو په صفائي روستو جنګونه سره کول ، یعنې یو هغر وخت وه ، چې دوئ خوداعتمادي ، درلوده ، او د ۱۸۵۷ انګریس دومره وغرزیدل ، چې حد یې نه وُ ، نو دوئ کښې دوخت دتیریدو سره دوه مکتبه فکره خلک را څرګند کیدل ، چې حُینې د دیوبند مکتب فکر مسلمانان وو ، او حُینې د علي ګړ مکتب فکر خلک وو ، چې دوئ د سیاست محور د هندوستان مسلمان اولس وُ ، چې دوئ ورته مختلفې نسخې درلودې .

د دیوبند مکتب فکر مسلمانانو رشته تر شاه ولي الله پورې رسي ، چې څه وخت په هندکښې مغلي مرکزي حکومت اخري سلګۍ وې په دهلي کښې کتاس هندوان مرهټیانو غوبل جوړ کړے وُ ، نو په هندکښې او خاصکر په شمالي هندکښې ، مسلمانان بې قراره وو ، نو دوئ د شاه ولي الله په مشورلرئ بابا احمد شاه د مرهټیانو خلاف د اسلام د نجات دپاره را دعوت کړو ، چې نتیجه یې هرچا ته معلومه ده چې دریم دپانیپت جنګ کښې کتاسو هندوانو (مرهټیانو) ماتې وخوړه ، که یو اړخ ته

مسلمانانو تر فایده ور سیده ، مګر بل اړخ تر د کمپنۍ دپاره دهند دنیولو لاره جوړه شوه ، چونکه شاه ولی الله ډېر عالم او اولیاء ؤ ، او فلاسفرؤ ، ده پر اسلام کښې نوے روح اچول غوښتل ، نو دده شاګردان هر اړخ تر خواره وو ، چې شاه احمد شهید بریلوي شاه اسماعیل شهید دوئ روستو د سیکهانو خلاف پښتو نخوا کښې جهاد وکړو ، او د مجاهدینو پر نوم په تاریخ کښې یاد ېږي .

دغه د شاه ولی الله مکتب فکري عالمانو د ۱۸۵۷ - جنګ آزادۍ کښې کلکه برخه اخیستې وه ، دوئ ضد پرنګي عالمان وو ، دوئ شمالي هند کښې نوے محاذ د پرنګي خلاف جوړ کړو ، او دوئ د شمالي هند په مختلفو علاقو کښې خواره وو ، اسلامي مدرسې یې جوړې او جوړې یې کړې یې وې ، چې دوئ کښې د ټولو نه غټه د دیوبند مدرسه ده ، چې داځاے د دهلي نه ډېر لرې نه دے ، دغه دارالعلوم چې محمد قاسم یې تا داو په ۱۸۶۷ کال کښې ایښے ؤ ، ډېر مقبول شو ، - محمد قاسم هم دیوې جاګیر دارې کورنۍ نه ؤ ، ده خپل سبق د دهلي په کالج کښې ویلے ؤ ، او سر سید احمد خان نه وړاندې د مغربي طرز تعلیم او ژوند

سره واقف شوے وُ ، د د ۱۸۵۷ پا ځـون کښې برخه اخېستې وه . او تر اخره پورې مزب زب نه شو، ضد پرنګي پاتې شو، سرسید احمدخان هم دغربي تعلیم نه فایده مند شوے وُ، دوئ دواړو غوښتل چې مسلمان اولس دې علم زده کړي مګر ددواړو په (APROACH) کښې دځمکې او آسمان فرق وُ، قاسم خان دخارجي سسټم نه نفرت کولو، او دغر نفرت د انګریزي تعلیمي نظام او ددوئ د تهذیب او تمدن نه هم وو، دا ځکه چې پرنګیان دده په نظر غاصبان وو، دوئ هند کښې دمسلمان دقوت دختمه ولو ذمه وار ګڼل، دیوبند دارالعلوم کښې غریبانان مسلمانان طالب علمان وو، ددې مدرسې دا وصول ووچې دشتمنو خلکو نه یې تحفې یا سوغاتونه نه قبلول، خوکه چیرې به دارالعلوم د ترقۍ دپاره، چنده ورکوله، دوئ یې مخالف نه وو، خو دې شي ته به یې خیال کولو، چې ددې په سبب به زمونږ دارالعلوم ددولت مندو خلکو، یا دپرنګي دایجنټانو مسلمانانو په لاس ورنشي، دوئ به طالب علمانو ته د اسلامي دینیاتو نه علاوه، قرآن، سنت، عربي اوفارسي ژبو درس ورکولو، اوفلسفه او ادبیاتو تدریس هم کیدو، خو ددې نه علاوه، دوئ سیاسي پوهنې درس هم ورکولو، دوئ به طالبانو د دیني علم سره سره دموجوده

دنیا حالاتو او سیاستونو نه هم خبرول، او ددوئ به یې
ضد استعماري روزنه کوله، دوئ صرف مسلمانانو ته درس
یا داخله نه ورکوله، بلکې دوئ دومره آزاد خیال وو چې
دهر مذهب هندوستاني ته یې د داخلې اجازت ورکولو
دوئ په سا تو که ضد استعمار خلك وو، په دوئ کښې مشهور عبیدالله
سندهي چې اول جنګ عظیم کښې افغانستان ته تللے وُ او
هلته یې یو آزاد حکومت جوړ کړے وُ، شیخ الهند محمود الحسن
چې د دیوبند لوئ عالم وُ، هغه پرنګي په نوروا وبو کښې
د ډیرو پښتنو عالمانو سره بندي کړو، او د لوئ بابا باچا
خان چې هغه وخت ځوان هلك وُ، د دوئ دواړو سره یې
پخه رابطه وه، او حاجي صاحب ترنګزو د دوئ په اشاره
قبائلي علاقو ته د غزا په نیت تلے وُ، د دې دیوبندي مکتب
فکر عالمانو روستو په خلافت موومنټ کښې ډیره لویه
برخه واخیسته، بیا دوئ جمعیت علما هند جوړ کړو، چې
د دوئ پروګرام ډیر ترقي پسند و، په دوئ باندې د لوئ
افغان سید جمال الدین پان اسلام اثر وُ، همدغه وجه وه
چې دوئ مسلم لیګ کښې هیڅ داسې کشش نه درلوده
چې دوئ پکښې داخل شي، داځکه چې د مسلم لیګ آبا-
سرسید احمد خان وُ چې ۱۸۵۷ د پاڅون نه پس د خپل
سیاست او رویه بدله کړه، دده د سیاست او جهد وجهد

بنیادي محور د پرنګي وفاداري وه، چې د دیوبند مکتب فکر بالکل ضد وو، که څه هم اول سرکښې سید احمد خان هم د متحده هندوستاني قوم پرستي حق کښې وو، دے د متحده قومیت په حق کښې وو، د مسلم هندو اتحاد عالم برادرۍ، مګر د کانګرس ۱۸۸۵ د جوړیدو نه پس ده خپل طرز بدل کړو، ۱۸۸۵ نه مخکښې ده یو ځل ویلي وو، « د غر ماهیره وئ چې هندو او مسلمان د مذهبي فرقو په حوالـه نومونه دي، که هندو دے یا مسلمان، او که عیسائي، څو چې دوئ په یو هیواد او وطن کښې ژوند کوي نو یو ملت جوړوي، که د دوئ عقیده هر څه وي، او چونکه دوئ ټول یو ملت دے، نو ځکه دوئ تر د عامو سیاسي کټو د پاره یو کیدل پکار دي، مونږ باید د مشترکه مسایلو د حل د پاره متحد شو، که مونږه داسې وکړل نو ژوندي به پاتې شو، او که، نه نو داسې اړیکي به د هندوانو او مسلمانانو د واړو د پاره یو برابر تباه کونکي وي»

« مضامین سرسید ص ۸۱ .

د حیرانتیا خبره د غر ده چې سرسید احمد خان ۱۸۸۵ کښې د کانګرس د بنسټ نه لږ روستو خپل سیاسي چلن بالکل په سل درجو بدل کړو، فرقه پرست شو، دا ولې داسې معلومیږي چې اوس پرنګیانو خپله غلطي

محسوس کړې وه ، هغه داسې چې دوئ دهند اکثریت هندوانو تر دومره موقع ورکړې وه، چې د زرکلن غلام توب نه هندوان رو رو رابیدار یدل ، او دغه ویش توب پرنګیانو محسوس کړے ؤ ، نو دوئ د مذهبي کرکې په بنیاد او دحالاتو په تقاضا ، دهندو په مقابل کښې، مسلمان بیرتر راغټول غوښتل ، داځکه چې اوس هندو په تعلیمي او اقتصادي توګه دومره مخکښې تللي وو، چې مسلمان یې زکوٰة هم نه ؤ، او مسلمان پرنګي دومره زپلی ؤ چې د ترس قابل ؤ ، نو پرنګیانو خیال وکړو چې راشه اول سرکښې مو دهندو نه فایده وچته کړه ، مسلمان مچاوډبولو اوس د مسلمان نه خطره نشته باید د هندوانو خطره د مسلمانانو په زوریې مخه ونیسو ، نو دوئ قصداً مسلمانانو تر توجه ورکړه ، مګر اوس ډیره ناوخته وه ، مګر بیا هم دوئ مذهبي کرکې تر لمن وهله ، همدې وخت کښې هندوانو کښې مذهبي انتهاپسند وو، علان وکړو، چې د هند مسلمانان بیرتر هندوان کول پکار دي ، دغواحلالول یې بند ول غوښتل، مسلمانانو ورتر دتبلیغ ډله جوړه کړه ، چې د دې مذهبي فسادانو په وجه هند ومسلم اتحاد لاړ وګډوډ شو ، سرسید احمد خان ،وویل ، چې هندې مسلمانان باید پرنګي تر وفادار پاتې شي، ددوئ خیر په دې کښې دے ، چې د پرنګي حمایت او

مرسته وکړي، دهند د آزادۍ په وجه مسلمانان هیڅ، برخه نه مومي، ن موږ خیر دپرنګي پر موجودیت کښې دے، کانګرس دهندوانو تنظیم دے، ده وویل، چې دغه به اخیر کښې د هندوانو غلبه شي دلکهنوښار دې بیان نه پس دهند مسلمانانو دبحث موضوع دکانګرس جوړښت او دهغه په مسلمانو باندې داثراتو متعلق و، لکه د مثال په توګه د بنګال ملي اسلامي تړون، دکلکتې محمدي ادبي ټولنه او مدارس انجمن اسلامیه ټولو دوئ دکانګرس مخالفت و کړو، په لکهنوښار الله آباد، لاهور، کلکته اوبنارو کښې داسې قرادادونه پاس شول، چې هغه دوئ کانګرس غندلے ؤ،.

دکانګرس دجوړیدو نه پس سمدستي سرسید احمد خان دمسلمانو جاګیردارانو اوسرمایه دارانو او روشن فکرو ټول هندي کانګرس ضد سازمان *united Friends of indias* ترنوم لاندې جوړ کړ ؤ. او ده - ۱۸۸۸ - کښې خپل انګریز دوست، ګراهام ترولیکل: چې ددې ټولنې مقصد داؤ، چې دکانګرس دسیاسي نظریاتو اوفعالیتونو مزاحمت وکړي. هم په دې کال پرنګیانو دکانګرس په خلاف یوبل محاذ جوړ کړو، چې پکښې دهندوستان، جاګیردار، شهزادګان او لوئ لوئ افسران شامل وو، ددوئ دګوند یا محاذ نوم وو:

(متحده هندوستان وطن پالونکے ترون) د دوئ کار دغه وُ چې د کانګرس مخالفت به کوي.

په کانګرس باندې د سرسید احمد خان د ټولونو غټ اعتراض دغه وُ چې دوئ د پرنګي د حکومت مخالفت کوي، پخوا به ده پخپله ویل، چې هندوستان کښې د برطانوي حکومت په پالیسۍ کښې بدلون پکار دے، خو د کانګرس د جوړېدو نه وروسته ده د پرنګي واکدارانو تر بغیر څه شرط وفاداري کوله، دغه شان دے د خپل هغې مقصد مخالف شو چې تر ډېره وخته پورې یې ده پخپله وکالت کولو. (یعنې د هندو او مسلمان اتحاد) د هندو او مسلمان د ملګرتیا په ځائے د هندو مسلمان د اختلاف ملګرے شو، اوس یې دغه دلیل وړاندې کولو، چې هندوستان کښې د مختلفو نژادو او نسلونو او مذهبي فرقو په مینځ کښې هیڅ ګډ ملي ګټې نه شته.

هدغه شان ده په مسلمانانو کښې د مغربي طرز تعلیم خورولو، کوښښ شروع کړه، تر څو چې د هندوانو مقابله وکړي نو ده ورته د علي ګړ کالج بنیاد کښېنوده، چې دے کالج کښې د هندوستان د مالدارو خلکو زامنو سبق ویلو، دوئ تر به عام تعلیم ورکړ کیدو، خو په څنګ کښې به ورته د پرنګي نه زیات د هندو نه خطره ورته مخکښې مخکښې کوله، چې دوئ به زیات فرقه پرست تربیه شول، او د پرنګي خلاف یم نه وو.

بلکې پرنګې په دوئ د هندوانو دغلبې نه یوقسم ډهال شمارلو
بلې غاړې ته ددیوبند مسلمانان وو، چې دوئ د مسلمانانو
د بدبختیو ذمه وار هندو نه شمارلو، بلکې پرنګې یې شمارلو،
دهغوئ دلیل دغه ؤ چې پرنګي صرف په هندکښې مسلمان
نه دے بې واکه کړے او تباه کړے، بلکې دجبل الطارق
نه راواخله تولـه اسلامي نړۍ یې تباه کړې ده، نو
چې څوک دغه وایي، چې هندو نه خطره او د پرنګي په
وفاداري کښې فایده ده، دغه نمونه خلک د پرنګي دلالان
دي، هم، دغه وجه وه چې دوئ د سرسید او علي ګړ
مکتب فکرغرب زده مسلمانانو سخت مخالف وو، دوئ هم
په مسلمانانو کښې تعلیم خورولو. دوئ غوښتل چې مسلمانان
خپل شان شوکت بیرته واخلي، مګر دوئ د پاني اسلام ملګري
د کافرو، او پرنګي خلاف، دجهاد په حق کښې وو، چې
هغه د درس او تدریس د جهاد نه راینولے د قلم او توري
جهاد پورې، دوئ تیار وو، او علي ګړیانو دغه لاره
غلطه بلله، او پرنګي د جهاد خلاف یو پنجابے پیغمبر
پیدا کړو، چې په مسلمانانو کښې جهاد بې معنی کړي او دغه
ورته غوږ کښې کښینوي، چې اهل کتاب سره جهاد نشي، نو
قادیان کښې ورته ۱۸۸۹ کښې احمد قادیاني نوے مسلمان
پیغمبر علان کړو، د هغه مریدانو اسلام د نویو اجتماعي

اقتصادي او سیاسي شرایطو په قالب کښې اچولو باندې پیل وکړو، د نورو مذهبونو خلکو خصوصاً په عیسیانو او په هندوانو اچهونو کښې د خپلې عقیدې د خوروولو په هڅه کښې وو، دوئ د پرنګي او مسلمانو ترمنځ، د سیاسي همکارۍ د پاره نظریاتي جوړانې وړاندې کولو کوښښ کولو دوئ به ویل، چې د کافرانو یعنې اهل کتابو خلاف د جهاد نظریه د قرآن د اصلي عقیدې، په ضد ده، د دې فرقې، غړیو د داسې نظریې وړاندې کولو سره برتانوي، حکومت غټ خدمت کولو، پرنګیانو یو اړخ تر سرسید احمد خان، په لاس کښې کړے و، او بل اړخ تر یې مرزیان تیار کړي وو، او ایران کښې یې د جهاد د خلاف یو بل سړے، پیدا کړے ؤ، چې نن سبا هغه فرقه د بهائي فرقې پرنوم مشهوره شوه، دغه کارونه پرنګي ځکه کول، چې مسلمان سره جهاد واحده وسله وه، چې دوئ مسلمان ملت د پرنګي خلاف را پورته کوے شو، نو پرنګیانو خیال کولو چې که چیرې دغه د جهاد نعره بې اعتباره شي، نو زمونږ خلاف بیا دوئ نشي را پاڅیدے، نو د سرسید احمد خان ډله او مرزیان د واړه په سیاسي توګه پرنګي دوست وو، که څه هم په مذهبي چارو کښې بیل، بیل وو.

د هندوستان صنعت او کاروبار دوه غټ مرکزونه وو.

چې هغه یوه بمبئ او هغه بله کلکته وه ، په دې کښې هندوان راجمع شوي وو، او ډېر لوئ دولت یې ډېرنګي ددوستۍ په کګ کتلے ؤ، نو دوئ روستو دکانګرس اقتصادی د ملي هلوکی کردار اداکولو، چونکه مسلمانان عموماً، عسکري یا جاګیردار خلک وو، اویل دوئ هسې هم ډېرنګي دظلم په میچن انډېدل، نو دوئ په اقتصادي توګه ډېر کمزوري وو، او خاصکر دسرمایه دارۍ په مسله کښې خو دوئ ډېر روستو پاتې وو، مګرچې څوک وو، هغه داسماعیلي فرقې او یا دکاتهیاوري بوره فرقې خلک وو.

مسلمانانو ۱۸۹۲ کښې یو اسلامي ټولنه جوړه شوه، چې دوئ ورته نوم (ندوة العلما) ورکړو، ددوئ دغه هڅه وه چې جدید تعلیم هندوستاني ثقافت، ملي او اسلامي غیرتي عنعنات او داسلام اصلي مقدس روح ټول دیو پردګرام په شکل مخ په وړاندې بوځي دغه ټولنه دعلي ګړ مکتب فکر نه بغاوت کونکی لوئ ادیب او شاعر شبلي نعماني په کوښښونو جوړه شوه، داځکه چې دهٔ علي ګړے اسلام د ډېر نږدې نه لیدلے ؤ، اوخاصکر دعلي ګړ کالج پرنګي پرنسپل تیوډور بیک مسلمانان دښمني، پالیسي نه زړه شینه وو. په لومړي وختونوکښې زیات غړي یې پرنګي دښمنه علما وو، مګر په هیڅو خبرو کښې،

یې د علی ګړ امور باندې هکاري هم کوله، دوئ د سر-
سید احمد خان مخالفت ډېر نه کولو، مګر د کالج پرنګې پرنسپل
نه په عذاب وو، چې ده به خپل شاګردان د دوئ خلاف لمسول
چې دوئ بیا روستو روړو، د هندي نشنلزم او د پرنګي
د دښمنه سیاست طرف تر مائیل شول،

د علي ګړ کالج پرنسپل تیودور بیک چلونو او د سر سید احمد
خان لخوا د ده هایت ځینې خلك مایوسه کړل چې هغوئ کښې
نواب محسن الملك وقار الملك او الطاف حسین حالی وو، چې دوئ
په یوه مضمون کښې د سر سید احمد خان د برطانیه د پالیسی خصوصاً
د هند په شمالي غربي سرحد باندې د فوجي یرغلونو پرباندې
کښې وو چې سر سید احمد خان دغه پرنګي پالیسي تائید ولو
او دوئ یې غندلې کوله، خو دغه مضمون شایع ځکه نشو
چې سمدستي سر سید احمد خان مړ شو یعنی دې وخت
کښې ۱۸۹۳ کښې تش په نوم ډیورنډ لائن د تړیدو پر وجه
پښتون اولس د پرنګي خلاف راپورتر شوے و، چې
حالي او دده ملګري یې مخالفت کولو، چې پرنګې زیاتې
کوي مګر د پرنګیانو اصلي چمچه سر سید احمد خان تر مسلمان
پښتون اولس نه پرنګي استاد په ګران و، د دنه اندازه لګي
چې دے هغه وخت کښې څومره پښتون د دښمنه وو د سر
سید خان د مرګ سره د ده سیاست مړ نشو، بلکې پرنګیانو

نور هم ختک کړو، هندوانو کښې بال کنګا د هر تلک او،
او بنګهوش غوندې خلك رو رو رامیدان تر شوي وو، او
د دوئ په وجه کانګرس رو رو، پرنګي ضد ګوند بدلیدو
باندې پیل وکړو، اوس پرنګے پوه شو چې د هندوانو
غاښونه وشول، اوس دوئ چیچل کوي، نو د دوئ یوکار
وکړو چې دغه لاس ډکرزن سیاست و، چې دوئ ۱۹۰۵ کښې
بنګال تقسیم کړو، د دې تقسیم نه د دوئ دوه مطلبه
وو، یو دغه چې د کلکتې هندي بور ژوې زورکم کړي
او بل مسلمانان خوشحال کړي او که دغه سکیم ناکام شو
نو د مسلمان او هندو تر منځ د نفرت کرلو بنیادي کار به
وشي، نو د هند د آزادۍ د پاره به د دوئ لاري دوه شي
هدغسې وشول چې د بنګال په تقسیم باندې هر تالو نه
شروع شول او هندوانو یې مخالفت کولو، او مسلمانانو
یې حمایت کولو، نو د دې سره پرنګي هغه مسلمانه طبقه
کمزوري کړه، چې دوئ هند خطرونه ګڼلو بلکې پرنګے
او د پرنګي خپل ملګري یې مسلمان اولس ته د دوئ خیرخوا
ورو پیژندل، چونکه بنګال په اقتصادي توګه ډېر مخکښې
وو او بل دژبې او قوم له لحاظه دوئ ټول بنګالیان وو
نو پرنګي غوښتل چې دغه اقتصادي او ملي قوت په مذهبي
بنیاد دونو ټس نس کړي، او ټوټې ټوټې یې کړي، او د

مشرقي بنګال نه دوئ د تش په نوم اسلامي نشنلزم مرکز، جوړ کړي چې د دوئ ملګري وو، چې بیا دوئ د کانګرس په د بنمنۍ او د پرنګي په وفادرۍ باندې استعمال کړي، وایسرائے لارډ کرزن چې د هندوستان د آزادۍ د تولو نه غټ د بنمن سیاسي هلې ځلې خوپرین ده، آزاد فکر خلک یې هم ټکول، نو کانګرس د بنګال د تقسیم خلاف ټول هندوستان کښې احتجاجي مظاهرې وکړي، چې ورسره د هندوانو سرمایه دار سر سرکښې وو، او ملي روشن فکره مسلمانان یې هم ملګري وو، دا ځکه چې دوئ ترپټه وه چې پرنګے کوم کارکوي، د دې مقصد یې د مسلمانانو بنېګړه نده، بلکې موږ ته د نوي د بنمن هندو خلاف د خپل مقصد د پاره استعمالوي، د بنګال د ویش د قانون چا پیدو نه وروسته غټو مسلمانانو جاګیردارانو لکه نواب اف ډهاکه هندو د بنمنه سلوک باندې لاس پورې کړو علي ګړانسټیټیوټ د دې اقدام هرکلے وکړو، ترڅه حده پورې د غوکسانو د بنګال مسلمان بوروژې باندې اثر وکړو، دا ځکه چې د هندوانو کاروباري طبقې نه دوئ تنګ وو، چې سرکښې یې د ماروارۍ یانو هوکار او صنعت کار وو، او بل د هندوستان د بیلو بیلو ملي ډلو ترمنځ تجارتي صنعتي سیالي روانه وه، او خاصکر د-

دحکومت په سرکاري نوکرو باندې ددوئ تعلقات،
خرڅ، او دغه ټول سوچه اقتصادي مسائل وو، مګر پرنګي
دې تضاد انو ته یوه مذهبي بڼه ورکړه، یعنې دهندو
او مسلمان مسله یې ځنې جوړه کړه او په دې کښې دهندوانو
مشرتلګ هم ملامت ؤ، چې دده د تقریرو نوبه داسې
تعبیر کیده، چې دے په هندوستان باندې صرف دهندوانو
غلبه غواړي، نو پرنګي به د ثبوت دپاره دغه تقریرونه
وړاندې کول، او د خپل ځان دپاره به یې په خپرواوبو
کښې ماهیان نیول، په دې پروپیګنډو کښې پرنګے ډېر کامیاب ؤ
ډېر مسلمان روشن فکر دکانګرس نه بیزاره شول په ۱۹۰۵ کښې
بنارس کښې دکانګرس اجلاس کښې صرف اولسو غړیو
ګډون کړے ؤ، چې په څکښې غونډو کښې به ددوئ تعداد
په سوونو ؤ، په بنګال کښې دهندوانو او مسلمانانو ترمنځ خونړے
شخړې شروع شوے، چې ددې په وجه ډېر مسلمانان دکانګرس
او تلک نه د احتجاج پرطور ترګوشه کیدل، مګر ابوالکلام آزاد صاحب ۱۹۸۸ نه تر
۱۹۵۸ چې هغه وخت یو ویشت کلن ؤ، چې بیا روستو یو نامتو
سیاستدان جوړ شو، نو دے تلاکیانو سره شامل شو، او
یوې پټې تشدد پسندې ډلې کښې شامل شو، داځکه چې
دے هندوستانے قوم پرست ؤ، او ضد پرنګي وو، او بل
په دے باندې ضد پرنګي مسلمانانو مشرانو لکه شبلي نعماني

اثر وُ، د مولانا دوه غټ مقصد ونه وو، هغه یو دغه وُچې تلاکیانو ته دغه باور ورکړي چې ټول مسلمانان د پرنګي لګېر نه دي، او بل دغه مقصد یې وُ چې د سر سید احمد خان د مریدانو نه ځان ته رنګروتپان پیدا کړي، چې دوئ، بالکل د پرنګي په وفاداري کښې لاړ نه شي، او د پرنګي، خلاف یې وروزي، دغه د آزاد دپاره څه اسانه کارونه نه وو، مګر دے په دې بر شو چې بنګال کښې د مسلمانانو - ځوانانو کښې ښه مضبوطه ډله ځان ته جوړه کړه، او تربمبئ پورې دده د مقبولیت آواز ه لاړه، نو د دې هلو ځلو سره د پرنګي دغه منصوبه ناکامه شوه، چې هندوستان به په مذهبي د ښمنیو بدل کړي، او د آزادئ تحریک به غړند کړي.

اوس پرنګیانو بل چل وکړو، چې د بنګال په تقسیم د دوئ مقصد سرته نه رسیدو، نو دوئ د علي ګړ ګروپ په حمایت د جداګانه انتخابانو مسله را منځ ته کړه.

بل دا چې د علي ګړ کالج پرنسپل چې د وائسرائے هند او د برطانیه د (intelegence) سره یې پخه رابطه وه، نو ده مسلمانان ولمسول چې تا سو یو وفد وائسرائے هند ته لاړ شي د پرنسپل نوم آرچ بولډو، دے وفد اول وائسرائے هند نه شکریه ادا کړه، او بیا یې ورته د انتخابانو متعلق خبره وکړه

چې دغه نمونه انتخابات د مسلمانانو په ضد دي.

نو دوئ ورته تجويز وړاندې کړو، چې انتخابات دې د مذهب په بنياد وشي، چې په حقيقت کښې دغه د دوئ تجويز نه وُ، بلکې د پرنګي وُ، خوتش د مکر دپاره يې د دوئ د خولې نه نشر کړو،

اغاخان چې د اسماعليه فرقې مشر وُ، قيادت يې کولو دوئ زيات په بمبئي کښې سرمايه دار خلك وو، جاګيردار نه وو، خو وفد کښې د علي ګړ مکتب فکر اکثريت وو، او بدرالدين طيب غوندې روشن فکره سرمايه دار هم وو، چې دوئ د بمبئ نه تعلق درلوده، واسرائ هند د دې وفد په درنوايي کښې يو دعوت ورکړو، يعنې ميلمستيا ورکړه، ده خپل خطاب کښې وويل: چې زه ستاسو په دې پوښتنه پوه شوم، چې تاسو غواړئ چې په کونسلونو کښې دې ستاسو نمايندګي د مذهب په بنياد وي، او دغه غوښتنه ستاسو هم جايز ده، چې دغه نمايندګي دې د مسلمانانو په شمير پورې تړلې نه وي، بلکې د دوئ د سياسي اهميت او تاج برطانيه ته د وفادارۍ په بنسټ دې وي. واسرائ هند زياته کړه، چې دے اميد لري چې د علي ګړ مکتب فکر روشن فکرانو او د برطانوي واکمنو ترمينځ به دغه کار په راتلونکو وختو کښې هم روان وي، او زه ستاسو نه

دوفاداری هیله لرم.»

همدغه شان په ۱۹۰۹ کښې د آزاد جداګانه انتخابات قانون پاس شو، پرنګي د مذهب په بنیاد دهندو او مسلمان د جنګولو خبنته کېښو ده.

د اسلامي سیاسي ګروند د پاره اول تجویز د ډهاکې نواب سلیم الله خان وړاندې کړو دده مطلب دغه ؤ، چې د اسې ګروند یعنې پارټی جوړه شي چې د کانګرس ضد او د پرنګي په وفاداري کردار ولوبوي، او دده تجویزونه په ډهاکه کښې د مشهور علي ګړ مکتب اهم شخصیت تر صدارت لاندې منظور شول، او دې اجلاس یوه دلنډ وخت د پاره یوه جرګه وټاکله چې آل انډیا مسلم لیګ نوم یې ورکړو، چې د دې کمیټۍ مرستیالان محسن الملک او وقار الملک مقرر شول، د مسلم لیګ لومړۍ کانفرنس ۲٤ دسمبر ۱۹۰۷ کښې په کراچۍ کښې پرانستې شو، چې صدارت یې مشهور مسلمان صنعت کار آدم جي کولو، په دې کښې د علي ګړ ګروپ نمایندګي محسن الملک او وقار الملک کوله، د مسلم لیګ هنشور سید حسن بلګرامي لخوا لیکل شوې او ترتیب شوے ؤ، د مسلم لیګ د جوړولو په سلسله کښې پنجاب، بنګال، یو بي د جاګیردارو په مسلمانو تعلیم یافته طبقې ګړندې برخه اخیستې ده، یوځو مسلمان سرمایه دار لکه آدم جي پیر بائي هم شامل وو، د بمبئي سرمایه دارو مسلمانانو په کښې ګډون نه ؤ کړے.

خو مخالفت یې هم نه وُ کړے ، اغاخان د مسلم لیګ اول صدر منتخب شوے وُ ، اغاخان د پرنګیا نو د پاره یو آئیډیل سړے وُ چې هغه خو یې د صنعت کارو اسماعیلي فرقې روحاني مشرونه او بل د جاګیردارو د بنمن هم نه وُ ، او د علي ګړ کالج پرنسپل ارچ بولډ د مسلمانانو سیاستدانو پټ مشاور وُ (Advicer) د حکومت او د دوئ ترمینځ به یې رابطه ساتله ، چې ډهاکه کښې د مسلم لیګ اجلاس وشو ، نو دوئ دغه نمونه شعارونه منظور کړل (۱) د برطانوي حکومت د پاره په مسلمانانو کښې دوفاداري جزبه مضبوطول ، او مسلم لیګ به د حکومت او مسلمان قوم په مینځ کښې د اعتبار ساتلو دنده په غاړه اخلي .

۲ـ د هند د مسلمانانو د حقوقو ، ساتل ، او مخ پر وړاندې یوتلل ، او د دوئ د ضرورتونو او مصیبتونو د حکومت سره د لرې کولو په باره کښې کار کول ، د ګوند پروګرام او فیصله په مارچ ۱۹۰۸ کښې علي ګړ کښې د محمد شاه دین ترصدارت لاندې . د ریم کانفرنس کښې منظور شول ، پروګرام کښې د ډهاکې کانفرنس کښې ټولې مطالبې شاملې وې ، مسلم لیګ په دې ټینګار وکړو ، چې د هندوانو د تسلط نه د مسلمانانو ژغورلو د پاره هندوستان باندې د پرنګي حکومت ضروري کښې ، او مسلم لیګ په دې عقیده دے چې برطانیه یواځې طاقت دے چې دهغې لاندې هند د آمن ،

روحاني ، ذهني او ترقي وده کولے شي، نو د مسلمانانو پورې اړه لري چې، د برطانيه عزت په مخ يوځي،او عام ذهنيت کښې د برطانيه دپاره احترام او مينه پيدا کولو لاره کښې خپل قوت ټول په دې کښې ولګوي ،.»

هم په دې اجلاس کښې د وئ د بنګال د تقسيم هرکلے وکړ او د سواراج او سوادپشي د تحريکونو غندنه يې وکړه.

چې څه وخت ګاندهي د جنوبي افريقې نه هند ته راغئ نو د کانګرس هلې ځلې ډېرې تيزې شوې، تر دې وخته پورې محمد علي جناح په کانګرس کښې ؤ ، چونکه جناح جاګيردار نه ؤ ، بلکې ديوې تجارتي کورنۍ سره يې تعلق درلوده، نو ځکه دے نېغ په نيغه د پرنګي ايجنټ نه ؤ، لکه څرنګه چې دغه نور مسلمانان وو ، يعنې ه سرسيد خان نه راواخله تر اغا خان پورې ، د ګاندهي جي يا په بله معنئ د جناح اختلافات هغه وخت پيدا شول چې د وئ د هند په آزادۍ باندې خبرې کولې ، نو ګاندهي جي تپوس وکړو ، که زموږ ه مطالبې حکومت هند ونه منې نو موږ به بيا څه کوو؟ جناح ځواب ورکړو چې موږ به بيا مطالبه کوو ، ګاندهي ځنې تپوس کړے ؤ چې که بيا نه مني بيا به څه کوو؟ جناح وويل : چې بيا به مطالبه کوو، ګاندهي په دريم ځل ورته ويل چې که بيا حکومت

نه مني؟ دجناح دريم ځل ځواب دغه ؤ چې بيا به مطالبه
کوو، مګر ګاندهي جي ځواب ورکړو چې بيا به مطالبه
نه کوو بلکې د مکملې آزادۍ دپاره به جدوجهد کوو، په
دې باندې دجناح طبعيت ختې شو، داځکه چې دے يو
وکيل ؤ، او د تجارتي او سرمايه دارې طبقې نمايندګي يې
کوله، نو د حکومت هند سره دټکر سياست دده په فايده
کښې نه وو. او ګاندهي جي خو ملنګ ؤ، بغير د آزادۍ نريې
په بل شي زړه نه سړيدو، نو د جناح بابا او ګاندهي چې تر
مينځ رو رو لارې بيليدې، چې اخرکار جناح د کانګرس
نه لاړو مسلم لیګ کښې شامل شو، دے هم د سرسيد احمدخان
د شاګردانو په قطار کښې ودريدو، چونکه ده د بوره خوجه
او اسماعيلي بمبئ مسلمانانو تجارتي ډلې نمايندګي کوله، نو
خپلو خيالاتو اوکړو وړو کښې دومره پاليت نه ؤ، لکه د پنجاب
سی. پی. يو. پی او د بنګال جاګيردارانو.

مسلم لیګ باندې د دغو قبضه وه، چې د پرنګي د بوټ
پالش نه بل کار ددوئ نه ؤ، اوس جناح رو رو د پرنګي پرسياسي
فرقه پرست سياست کښې ورننوتو، هغه خيالات يې رو رو
ورکېدل، چې پخوا به ده د مسلمان او هندو د اتحاد خبرې
کولې، اوس ده هم د سرسيد احمدخان غوندې جدا پسند
شو، د اتحاد په ځاے د هندو او مسلمان اختلافاتو تر لمن وهله.

اوس دجناح دپاره مشکله دغه وه چې مسلمان بورژوازي او فیودلي ګروپونه خرنګې سره وتړي، چې مسلم لیګ کښې جاګیردارانو دپروو، نو ده دغه چالاکي وکړه، چې دګاندهي جي او دکانګرس مخالفت یې په زور شور سره شروع کړو، دجناح لیګ په کلکته کښې دخلافت تحریک او دګاندهي جي پروګرام وغندلو، اوګاندهي جي تریې لیک ولیکلو، چې زه په دې وجه ستا دپروګرام ملاتړ نکوم چې دعوامو راپاروول مکمله بې نظمي اوګډودي پیدا کوي او ده ورته ولیکل چې زه په دې سوچ کوم نوزه بې ارامه شم، هم دغه دپرنګي او لیګیانو سیاست ؤ، چې دوئ جناح هم په خپل رنګ کښې رنګ کړو.

ده وویل، چې دګاندهي جي داحتجاج لاره غلطه ده، او زما لاره سمه ده، اوآئیني لاره ده، ده سولنافرمانی سخت مخالفت وکړو، نو په دې توګه یو وخت دهندو او دمسلمان دیوالي سفیر دمسلمانانو دبیلتون غوښتنې دعو- یدار جوړ شو، دعلي ګړګروپ داول نه دخلافت تحریک سخت مخالف ؤ، دوئ به دخپل ګروپ اخبارونو اورسالو کښې دخلافت دتحریک د مشرانو خلاف تسما قسم الزامونه لګول چې دروئ دتنقید نشانه، محمدعلي جوهر، ابوالکلام- ازاد او دخلافت نور مشران وو.

مخکښې دمسلمانانو سرمایه داره طبقه چې زیات اکثریت یې بمبئي او کلکته کښې وو، دوئ د جناح په وجه دکانګرس سره ملګري وو، خو د دوئ او هندي هندوانو پاګوالو په منځ کښې رقابت د ډېر ډېر وو په وجه دوئ دو رو دفرقه پرست سیاست غاړې ته راکش شول، که څه هم دمسلمانانو جاګیردارانو او د دوئ ګټې یو قسم نه وې او بیا ۱۹۲۳ - ۱۹۲۷ کالو په دوران کښې د نسلي او مذهبي فسادانو کار نور هم وران کړو، اوس پرنګي مسلمان جاګیردار طبقه او سرمایه داره طبقه دخپل مقصد دپاره ویلې کړه، او مشرګیري یې دجناح په لاس ورکړه، اوس دمسلمان او دهندو ترمینځ تر ډېره حده پورې پرنګي نفرت کرلے وُ، نوجناح صاحب د دې نه فایده وچته کړه، نو ده خپلې دلې ته دغه نعره ورکړه، چې مونږه د ډومینن حیثیت دپاره دکاندګي جي غوندې احتجاجي لاره غوره نه کړو، بلکې زمونږه لاره ایښې او پالماني جدوجهد باندې مشتمله ده، د ده پروګرام د ۱۹۲۳ - ۱۹۲۷ په مینځ کښې برابر شو، دجناح صاحب د پروګرام مسلمان سرمایه داره طبقې یې هرکلے وکړو، دا ځکه چې ده په پروګرام کښې د دوئ دپاره دهندوانو خلافت درقابت بنه موقع پکښې لیکلے شوے وې، په مسلم لیګ کښې د ننه هغه وخت شدید اختلافات پیدا شول چې،

دوئ د سائمن کمیشن متعلق خپل خپل خیالات څرګند کړل، او پدې باندې دجناح او شفیع سخت اختلافات راغلل،.

دسمبر ۱۹۲۷ دکراچۍ غونډې نه لږ مخکښې سرمیاه محمد شفیع دجناح نه بغاوت وکړو، او دخپل ګروپ یا ډلې سړه بیل شو. شفیع ګروپ لاهور کښې خپل کانفرنس جوړ کړو، دغه ګروپ دپنجاب، سندھ، یوپی، دجاګیردارانو نه جوړ وو، او دوئ پخوانۍ پرنګې پرسته ډله وه، دسرمایه دارو او صنعت کارو ډلې مشرې جناح کوله چې دوئ دبمبئ او کلکتې نه تعلق درلوده، یا په بله معنیٰ دمسلمانانو دجاګیردارو او سرمایه دارو، اختلافات وو، چې جناح به دضرورت مطابق دهندوانو او کانګرس مخالفت کولو، مګر جاګیردار پیدائشي دپرنګې ملګري وو، او دغه اختلافات ځکه راغلل، چې دجناح سیاست پراوبدو کښې دپرنګې او ددوئ ددلالانو جاګیردارو په ګټه نه وو، یعنې دکانګرس میانه رو رهبرانو سره ګډ کار کول مناسب دی

چې دې ته دشفیع ډله تیاره نه وه.

چې جناح پوه شو چې دغه نمونه سیاست دده دپاره مشکلات پیدا کوي، نو ده دجاګیردارو راضي کولو دپاره خپل مشهور څوارلس نقطې پروګرام وړاندې کړو چې دغه کښې

تولو ته مرعات ورکړے شوے ؤ ، یا به بله معنیٰ جناح
سر ولګوئ ، او ددې پروګرام سره فرقه پرست سیاست
نور هم تیز شو ، چې دغه دپرنګي او دده د دلالانو منشه
وه ، نو ځکه په ۱۹۳۰ د الهآباد لیکي په غونډه کښې شفیع
ګروپ د جناح سره بیا یوځائے شول.

مګر دغه ځوارلس نقطې پروګرام ډاکټر انصاري
او مولانا ابوالکلام آزاد رد اعلان کړو ، چې ددوئ
غټ اعتراض دغه ؤ ، چې دغه نمونه کارونه د هندد آزادۍ
دپاره مشکلات پیدا کوي ، همدغه وجه وه چې د آزاد
صاحب لاره رو رو بیله شوه ، یعنې د قوم پرستو مسلمانانو
او انګریزي پرستو په منځ کښې د هندي مسلمانانو په فایده
باندې جنګ ؤ ، چې د ضد استعمار مسلمانانو خیال دغه ؤ چې
متحده هند کښې مسلمانان به په امن وي ، دپرنګي پرستې
ولې وئیل چې نه بیلیدل یې بهتر دي ، د دې دغه مطلب
نه دے چې ، جناح په هرڅیز باندې قادر ؤ ، د جاګیردارانو
او سرمایه دارانو په کبډۍ کښې دے ډېر زړه شینه وو ،
او یوځل یې ویلي وو : چې مسلم لیګ څه شی دے !
(یوزه او یوځما Typwriter دغه مسلم لیګ دے) .

یو وخت داسې راغے چې جناح زړه ماتې لندن
ته لاړو ، هلته میشت شو ، داځکه چې لیګیانو د داخلي شخړو

نه تر سپین مو راغلی وو، دسیاست نر تو بکار وو،

چې څه وخت ۱۹۳۰ نه بعد باچا خان او دده خدائی خدمتکار تحریک په تولـه نړۍ او هندوستان کښې روشن شو، او بل دوئ د پرنګي دظلم او دلیګیانو او ددوئ د سیاست په وجه خدائی خدمتکار دکانګرس غیر تر ولویدل نو دلته پرنګی او دده دلالان وار خطا شول، دا ځکه چې پښتانه مسلمانان وو، او بل ضد سامراج وو، نو پرنګي سره غم شو، چې کوم کار موږ ته د سرسید احمد خان نه شروع کړے ؤ، (یعنې د هندو او مسلمان په منځ کښې بې اتفاقي) هغه نن را تر خان عبدالغفار خان تباه کوي، او بله خطره دخدائی خدمتکارو نه دغه وه، چې دغه تنظیم دهندوستان نورو مسلمانو سیمو تر خور نه شي، نو پرنګي تر بیا خپل زوړ مرور ملګرے ورپه یاد شو، او لیکي ورله دننواقب په شکل ورغله او جناح بابا یې هند ته راوستو، چې لیګیان منظم کړي او د هندو او مسلمان دا تحاد لخه وینسي.

بل دا چې جرمني کښې هټلر او نازیان په قدرت راغلي وو، نو پرنګیانو تر دکانګرس په مقابله کښې دخپل وفادار ګوند ضرورت وړ نیات شو، نو دوئ ځکه خپل ملګرے دلیګیانو په ذریعه پخولا کړو، دخدائی خدمتکارو خلاف پرنګیانو دوهلو تکو لو نر علاوه یو بل محاذ خلاص کړو، چې

پښتانه. بې انفاق کړي، چې هغه يو پنجابي هيلما سټر ؤ، چې نوم يې عنايت الله مشرقي ؤ، ده په پښتنو کښې د خاکسار تحريک بنسټ کېښود، چې دوئ هم د خدای خدمتګارو په پيشې. کول، وروستې به يې اغوستې وې، بيلچه د دوئ نشان ؤ، دغه يو فاشيه تنظيم ؤ.

علامه مشرقي په يورپ کښې سبق ويلی ؤ، نو ده د يورپي فاشيتي تنظيمونو نقل کولو، د ډنمارک د نازي، ګوند نشان بيلچه وه، ده هم دغه نشان پټ او غلا کړے ؤ، د خاکسارو نشان يې کړو، مګر د دوئ غټ مقصد دغه ؤ، چې د خدائ خدمتګارو مقابله وکړي، چې دوئ په دې کښې سخت ناکام شول، داځکه چې دوئ څه ژوندی نظريه نه درلوده، اول وختو کښې پښتانه په دوکه شول، بيلچې يې وګرځولې، مګر روستو ځنی بدظن شول، داځکه چې د دوئ اصلي مقصد د پښتون خدمت نه ؤ، بلکې د پښتون په ضد راپورتر شوی وو.

په ۱۹۳۰ کانګرس د کراچۍ په اجلاس کښې باچاخان سره د خپل خدائ خدمتګارو ګډون کړے ؤ، چې د دې په ذريعه يې ټول هند کښې د دوئ پروپيګنډه وشو، باچاخان ليکي: چې موږ د اجلاس نه پس دوه ډلې شو، چې ځنې د کراچۍ نه وطن تر راواپس شول، زه

او مقصود جان او نورځنې دهند په دوړ لاړو چې د
خدائی خدمتګارو ، پرو پیګنډه وشي ، موږ چې کراچې
کښې جهاز ته ختو ، نو مو ډولونه او سورني غږول ، چې
پرنګیانو او هندوستانیانو باندې ډېر اثر کړے ؤ ، او
چې بمبئ ته لاړو ، نو زموږ دلیدو دپاره ډېر مسلمانان
راغلي وو ، او دوئ باندې اثر وشو ، لفظ به لفظ لیکي :
(ځائے په ځائے موجلسې وکړې ، او بله دا چې زموږ
په ورتلو په مسلمانانو هم اثر وشو ، خو پرنګیانو باندې
مینې لګیا شو ، زموږ خلاف یې دا پرو پیګنډه مسلمانانو
کښې شروع کړه ، داخلک هندوانو په دې غرض راوستي
دي ، چې جماعتونو سره ډولکي اوباجې وغږوي ، چې
سباله مسلمانانو ته دهندوانو په ډولکو اوباجو څه اعتراض
نه وي ، د دې نه معلومیږي چې پرنګي سره خطره وه ، چې
باچاخان راتر هندو مسلمانانو اتحاد جوړ نه کړي ، نو پرنګي
نه صرف په هندوستان کښې دپښتنو خلاف نفرت خوړلو
بلکې خپله صوبه کښې یې ورتر هم مصیبتونه جوړول ،
چونکه دکانګرس سیاست او دخدائی خدمتګارو سیاست
سره سمون خوړ ، نو ځکه دوئ دمشترکه دښمن دپاره
سره ملګري شول ، چې نه صرف خدائی خدمتګار بلکې
دهند قوم پرست مسلمان او دیوبند مکتب فکر عالمان

هم دکانګرس ملګري شول، او مسلم لیګ خپل سیاست دهندو په مخالفت باندې روان کړے ؤ، هم په دې کښې دپرنګي لاس ؤ، چې دغه دهندو او مسلمان او د مسلم لیګ او کانګرس قیصه یې دومره زیاته کړه، چې آخر دوئ هند دمذهب په نوم ۱۴ اګست ۱۹۴۷ کښې تقسیم کړو، پرنګي خپل ملګري په پاکستاني تخت کښېنول، دغسې مسلم لیګیانو هغه تاریخي وظیفه ترسره کړه، کومه چې په ۱۸۵۷ کښې دپاڅون نه پس دوئ په سراخیستې وه.

پاچا خان او نور هندي مسلمانان مشران ولې د هند د مسلمانانو د وېش مخالف وو

د غه خو اوس جوته خبره ده ، چې پرنګي اول سرکښې هندوان د ځان سره ملګري کړل ، چې په هندکښې خپلې منګلې ښخې کړي ، او مسلمان قوت تس نس کړي ، له ۱۷۵۷ نه تر ۱۸۵۷ پورې هندوانو د دې مهربانۍ او نرمې پالیسۍ نه پوره پوره فائده واخیسته ، دوئ په اقتصادي او تعلیمي لحاظ د دې سلوکالو کښې ډېرو لاندې لاړل ، او مسلمانان ورځې شاته پاتې شول ، چونکه دوئ هندکښې اکثریت ؤ ، نو نوې تعلیم یافته طبقه کښې رو رو ، دغه سوچ خوریدو چې د ډېرو فائدو د پاره جدو جهد پکار دے ، او د حکومت هند سره یو مستقله رابطه پکار ده ، نو د دې مطالبې او سفارشو کولو او رسولو د پاره دوئ په ۱۸۸۵ کښې د کانګرس بنسټ کېښود ، چې اول سرکښې دغه کلب د تاج برطانیه د وفادارو په لښکر باندې مشتمل

ؤ ، خو د زمان سره کانګرس خپل شکل بدلولو آن تر دې چې روستو ضد سامراج او د هند د آزادۍ غوښتنې ځنې جوړ شو، د دې د مقابلې دپاره د هند مسلمانانو مسلم لیګ ډله د پرنګي په لمسون ورته جوړه کړه، چې دوئ په کانګرس غټ توروغه ولګولو، چې دغه ضد پرنګي او ضد مسلمان تنظیم دے، که څه هم کانګرس کښې اکثریت د هندوانو ؤ، داځکه چې هندکښې اکثریت د دوئ ؤ، خو دکانګرس سیاست هندپرست نه ؤ، او بل ټول سیاسي هندوان په کانګرس کښې نه وو، ځنې د پرنګي ملګري وو، او ځنې د پرهندو پرست فرقه پرست ګوندونو کښې راجمع شوي وو، چونکه دکانګرس سیاست د مذهب په بنیاد نه ؤ، بلکې secular یا غیر فرقه واریت او د عدم تشدد په بنسټ ولاړ و، او د جمهوریت سخت طرفدار وو، چونکه کانګرس جوړ شوے، خو د پرنګي او هندي ولس د رابطې دپاره وو، مګر د وخت د تقاضو او د ګاندهي جي د افریقې د راتګ نه پس یې خپل روخ بدل کړو. په ۱۹۱۹ کښې د پرنګي حکومت ظالمونه او د دوئ سره د کړیو وعدو نه د دوئ په څټ کیدل، په ټول هندوستان کښې بې چینې وه، نو دکانګرس مشرانو خپل سیاست انقلابي کړو، د پرنګي خلاف او د هندي اولس د خواهشاتو مطابق یې وګرځولو،

او پښتنې کښې تر دې وخته پورې منظم سیاسي ګوند نه ؤ، د باچا خان تګ او دوګ جاري ؤ د خدائي خدمتګارو بنسټ کېښودل، او بیا د پرنګي له خوا د دوئ د پېهانسي کولو منصوبه ښکاره کېدل، دلیک لخوا د دوئ د ملګرتیا نړ انکار، د کانګرس غیږ تر اچول، د هند، په سیاست کښې یې لوی بدلون راوستو، تر دې وخته پورې کانګرس کښې دغه جرأت نه ؤ، چې پرنګي ته مخامخ ورشي، چې پښتنو د کانګرس سره لاس یو کړو، نو کانګرس هم نړه ور شو، د هند د مکمل آزادۍ غوښتنه یې وکړه. چونکه خدائي خدمتګار ضدي پرنګي تنظیم ؤ، او بل دوئ فرقه پرست نه وو، نو دګډ مقصد د پاره کارکول د دوئ په لاره کښې څه هائیل نه ؤ، نو ځکه دوئ کانګرس ته د هند وانو د تنظیم په سترګه نه کتل بلکې د ټول هند ضد سامراج خلکو زانګو او تاتوبے یې ګڼلو، او بل دا چې پرنګي د پښتنو سره ظلمونه کول، او پښتانه یواځې د دوئ د مقابلې نه وو. نو دغه قدرتي خبره ده چې دوئ د خپل ازلي دښمن خلاف، په نړۍ کښې او ټول هند کښې ملګري لټول چې دغه د دوئ قدرتي حق ؤ، د دوئ خواهشات او سیاست د مسلم لیګ د منشور سره یې سمون نه خوړ، نو ځکه د دوئ ملګرتیا ناممکنه وه، او غیر قدرتي لاره وه، همدغه شان هغه هندي

مسلمانان چې د شاه ولي الله د زمانې نه د هند د مسلمانانو د خیر او ښېګړې د پاره لګیا وو، د دوئ دوست او دښمن د وخت سره بدلیدل. دوئ د مرهټیانو په وخت د هندوانو د غلبې مخالف وو، بیا روستو د پرنګیانو خلاف وو. په ۱۸۵۷ کښې یې د پرنګي خلاف پاڅون تیار کړو، چونکه د دوئ په عقیده غټ مرض د هندو او مسلمان د پاره پرنګ وُ، نو ځکه دوئ د پرنګي مخالفت کولو، او د کانګرس سره یې ګډ کار کولو، د دې مطلب قطیعاً نه دے، چې د دوئ مسلمانان بدي شول، بلکې دغه ټول کارونه دوئ د هند د مسلمانانو خاصکر او عام طور د هند ي اولس د پاره کولو، چې دوئ د پرنګي د غلامۍ نه خلاص کړي، او د پښتنو هم دغه مجبوري وه، چې د پرنګي خلاف دوئ ته د ملګرو ضرورت وُ، نو ځکه هم خیال خلک که هغه هندوان وو، یا مسلمانان، دوئ په کانګرس کښې را جمع شول، د متحده هندوستان د آزادۍ د پاره دوئ جنګېدل. چونکه دغه کار د پرنګي خوښ نه وُ، نو پرنګي لکه بار بار راغلي دي چې اول سرکښې یې هندوان ملګري کړل، دا ځکه چې هغه وخت د مسلمانانو نه او خاصکر د پښتنو افغانانو نه دوئ ته په هند کښې خطره وه، چې د دې نه بې غمه شو، نو هندوانو سره را پورته کړو، نو او س د مسلمانانو نه خطره

نه وه، نو دوئ دخپل مقصد دپاره دمسلمان نه دغوبل غوائ جوړ کړو، اول سرکښې دهندو او مسلمان دویش نه دپرنګي مقصد تش دغه وو چې دوئ سره په خپل منځ کښې یو موتی نه شي، او خپل سیاسي ژوند او حکومتي عمر په هند کښې اوږد کړي، خو د بنګال دتقسیم نه روسته دپرنګي سیاست بالکل بربنډ شو، او بل هندوان او مسلمانان په کانګرس کښې منظم کېدل، او د هند دآزادۍ مطالبې به یې کولې، چې دغه لوبه دا ول جنګ عظیم نه پس ډېره ګرمه شوه.

اوس دپرنګي سره داغم شو چې دا به څه چل کیږي نو دوئ په هند کښې دمذهب افرقې تر توم لاندې نو ږې دپرې پارتې جوړې کړې، چې مسلم لیګ دتولو نه ددوئ زړه تر ورنږ دې وو، دکانګرس په خلاف یې د ډهال په طور استعمالولو، خو کانګرس دهندوانو ګوند نه ؤ، بلکې دهندوستانیانو ګوند و، چې مسلمانان، عیسویان، هندوان سیکهان او پارسیان تول پکښې راغونډ شوي وو، چې د دوئ ساده مطالبه دهند آزادي وه، مګر پرنګي دے ته تیار نه ؤ، قسما قسم طریقو یې دغه کانګرسي غورځنګ، شنډولو، چې څومره یه دکانګرس زور زیاتیدو، په هغه پیمانه ورتر پرنګي مسلم لیګیانو ډله منظم کوله، چې د ۱۹۱۹ کال نه

تر اگست ۱۹٤۷ پورې ددې ثبوت ورکوي چې پرنګیانو او لیګیانو خومره بزدې کار سرې کولو، دمسلم لیګ غټ اعتراض په قوم پرستو کانګرسي مسلمانانو دغه ؤ، چې دوئ دهندوانو په لاس کښې لوبېږي، د هند دمسلمانانو صحیح اوسم نمایندګان نه دي، دوئ دمسلمانانو مفادات نه ساتي، بلکې دهندوانو دلالان دي، کانګرسي مسلمانانو ورته ویل: چې یو خو-کانګرس هندو پرست تنظیم نه دے، په دې کښې ټول هندوستانیان راټول دي، او بل دا چې تاسو خو په ډګر د پرنګیانو دلالان یئ، تاسو خپل ځان نه سیاست نه لرئ، خو چې پرنګ موخ ترنګه ګډاوي، هغسې ګډېږئ، او دا نن چې پرنګ په تاسو باندې لاس وهي د دې مطلب دغه نه دے چې مسلمان په ګران دے، بلکې تاسو د ډهال په طور د هند دآزادۍ دغورځنګ خلاف استعمالوي، چې د پرنګي قبضه نوره هم اوږده شي، نو تاسو په حقیقت کښې د هند دمسلمانانو خدمت نه کوئ، بلکې د پرنګیانو خدمت کوئ.

دلته د پښتنو مسلمانانو او هندي مسلمانانو ترمنځ یو فرق و، هغه دغه چې پرنګیان هند ته راغلل، نو ۱۸۵۷ پورې هندي مسلمانان او پښتانه مسلمانان د پرنګي خلاف جنګیدل او هندوانو فائدې اخېستې، د ۱۸۵۷ - او دسرسید احمد خان دغورځنګ نه روستو، هندي مسلمانانو اکثریت د پرنګي

بو ت پالش کول، او هندوان رو رو را ولاړ یدل، چې دلته پښتنو خپل پر بدل نه کړو، بلکې اګست ۱۹٤۷ پورې ضِد پرنګي او سامراج پاتې شول، نو هندوانو خپله د ایجنټۍ میوه په اول سرکښې وخوړه، او هندي مسلمانانو روستو د مسلم لیګ او پاکستان په شکل وخوړه، او موږ هم غسې پاتې شو، دا ځکه چې هندوان یې ایجنټان وو، موږ ضِد پرنګي وو، چې پنجابیان بنګالیان او هندي مسلمانان یې ایجنټان شول، موږ بیا هم دښمنان وو، نو ځکه پرنګي موږ تر داسې څپیړه راکړه چې تر نن ورځې پورې په پاکستاني ترنګړ کښې لټې وهوو.

نو په قوم پرستو مسلمانانو کښې او په انګریز پرستو مسلمانانو کښې دځمکې او آسمان فرق ؤ، یوې ډلې تر خطره د پرنګي تر وه هغې بلې ډلې تر خطره دهندو نه وه.

نو قوم پرستو ویل، چې د مسلمانان خیر په دې کښې دے، چې دے متحده هند کښې پاتې شي، تقسیم نشي. د لیګیانو نعره دغه وه چې، هندو او مسلمان یو قوم نه دے، نو سوال نه پیدا کیږي چې دوئ دې په یو ملک، کښې ژوند وکړي، باید هند دې د مذهب په بنیاد تقسیم شي، چې دغې ته پرنګے هم خوشاله ؤ، خو پرنګے یا دویم جنګ عظیم پورې د هند تقسیم تر پوره پوړ تیار

نه ؤ ، خو دهندو او مسلمان په منځ کښې يې نفرت جوړو
ته لمن وهله داځکه چې دوئ په جهاني سياست سم
پوه نه وو ، په يورپ کښې هټلر او موسوليني او مشرقي
بعيد کښې جاپان هله ګله جوړه کړې وه ، نو دوئ
نه پوهيدل چې جهاني سياست کښې به ملګرتيا څرنګه
وي ، او د دې ملګرتيا اثرات به په هند باندې څرنګې
وي ، خو چې څه وخت دويم جنګ عظيم شروع
شو ، نو جهاني سطح باندې پرنګيانو ته د ملګريو او
دښمنانو اندازه ولګيده ، چې جرمني ، اټلي او جاپان يوې
غاړې ته شول ، او فرانس ، برطانيه او امريکه چې روسو
سابقه سوبټ يونين ورسره مل شو بلې غاړې ته شول
او چين هم که څه هم دومره لوئ طاقت نه ؤ ، مګر د
دوئ يعنې پرنګيانو او امريکنيانو ملګري جنرل کائي شک
د دوئ د غاړې نه وو ، د جاپان خلاف وو ، پرنګيانو د
دوم جنګ عظيم په وخت کښې د کانګرس نه د امداد ،
غوښتنه وکړه ، کانګرس په يو شرط امداد ته غاړه کښېږده
چې که جنګ وګټلے شي نو هند ته به سوراج يعنې آزادي ورکړ
شي ، پرنګي دغه شرط ردکړو ، مسلم ليګيا نو غير
مشروط د پرنګي د امداد اعلان وکړو ، کانګرس ،
وتار نو ته پريښودل او د هندوستان د پريښودو

نعره یې پورته کړه ، چې په دې باندې پرنګي ټول کا-
نګرسي مشران او رضاکاران په جیلونو کښې واچول،او
مسلم لیګیانو وزارتونه جوړ کړل ، دا ځکه چې د دوئ
په رایې کښې د پرنګي مخالفت ټکئ نه و، چې جنګ خلاص
شو، نو په ۱۹٤٦ کښې انتخابات وشول ، کانګرس وګټله،بلکې
په مرکز کښې نیرو حکومت جوړ کړو ، اول سرکښې یې
په وزیرستان بمباري بنده کړه ، په پښتو نخوا کښې ،
خدائ خدمتګارو انتخابات وګټل ، او د ډاکترخانصاحب
وزارت جوړ شو ، تر دې وخته پورې کانګرس د تقسیم
مخالف ؤ ، او پرنګې یې د خیر په ځائے نه پوهیده،چې
د هند په تقسیم کښې به خیر وي او که متحده هندوستان
کښې ، دا ځکه چې دلته دوه بنیادي (FaCTors) وو
چې هغه یو د سویټ یونین په نازي جرمني باندې برے وه،
چې د جنګ نه مخکښې د ستالن سیاست دغه ؤ ،چې روس
د سرحدو د ننه سوشلیزم وساتي ، چې هتلر راپیداشو
نو مغرب د هتلر خلاف یو بل ازلي دښمن سویټ یونین-
سره اتحاد وکړو، او هتلر دوئ په ګډه ختم کړو، جاپان
هم وهل وخوړل ، مګر دیو دښمن د ختمیدو نه پس ډیر
بل ورته اژدها جوړ شو، (سوشلسټ نظام) او س د
ستالن فوجونه جرمني کښې پراتړ وو ، ټول مشرقي،

یورپ د سور فوج په لاس کښې وو، ستالن کوښښ کولو چې سپین، یونان، ترکئ پورې خپل سوشلسټي منصوبې وړ دې کړي، او دهند نه ډېر لرې نه وو، تاشقند کښې سور فوج ناست ؤ، تاجکستان او د چترال خوبیخي لرې نه وه، نو پرنګیا نو کښې دوه سوچه وو، یو سوچ دغه ؤ، چې هند دې د سویټ یونین د مقابلې دپاره متحده پاتې شي. خو که متحد پاتې کېدائ، نو واک دکانګرس او خدائ خدمتګارو په لاس ورتلو او که تقسیمولئ نو خطره وه، چې د دې په وجه سویت یونین راکوزشي او بل Factar دغه وو، چې چین کښې کمونیزم (ماوزے تنګ) او قوم پرستو چینیانو کورنے جنګ په زور شور سره روان ؤ، چې امریکې او برطانیه د کائ شیک مدد او ملاتړ کولو، نو دوئ ته د خفیه ایجنسیو رپوټونه داسې وو، چې چین کښې د دوئ ملګرے جنرال کاشیک جنګ ګټي، او تن دے که سبا کوستان ماتې خوري، نو دوئ خیال وکړو چې چین لوئ ملک دے، د سویټ یونین د مقابلې دپاره به یې ایشیا کښې ورته تیار کړو، نو دوئ اګست ۱۹٤۷ کښې پاکستان او هندوستان د جوړېدو، فیصله وکړه، دوئ د ۱۹٤۰ نه تر ۱۹٤۷ پورې پخپله د هند په قسمت باندې واضح نه وو، چې تقسیم کښې به خیر وي، او که متحده ساتلو کښې.

دا بیله خبره ده چې اګست ۱۹٤۷ کښې دوئ دهند، دتقسیم علاقه وکړو، او په ۱۹٤۹ کښې ماوزے تنګ په چین کښې په قدرت راغئ، د دوئ ملګرے یې تایئوان فارموسه ته وتښتولو، نو ملي مشرانو د هند د تقسیم - مخالفت ځکه کولو، چې د دوئ په نظر دغه د هند تقسیم نه وو، بلکې د هند د مسلمانانو تقسیم ؤ، چې د هند مسلمانان په دریو برخو تقسیم شول، چې یوې برخې نوم یې مغربي پاکستان، دهغې بلې برخې نوم مشرقي پاکستان (نن سبا بنګله دیش) دے، او هغه دریمه برخه یې د هندوانو یرغمالان شول، بنګال نیم شو، پنجاب نیم شو، کشمیر لاړو چونګړ حیدرآباد، د مرکزي هند د مسلمانانو خو خبره ختمه شوه، او جناح صاحب مسلم لیګ او پرنګي بیوروکراسي د هند مسلمانان تګړه تګړه کړل، دکانګرسي مشرانو دغه خیال ؤ چې هند متحد پاتې شي، نو موږ به فوجي مسایل نه لرو، دا ځکه چې یوا ړخ ته افغانستان. ایران وو چې دوئ د هند دمقابلې نه وو او نه دي، بلې غاړې تر برما او تهائي لینډ وو، او د چین سره د هالیه غرونه وو، نو هند به ټوله توجه په اقتصادي پروګرامونو ورکړے وه، نو د هند و او مسلمان ژوند به په اقتصادي طور ښه شوے وے، او ټول (RESOURCES) به په دې لاره کښې

INVEST شوي وے، او بل دا چې هندونستان بهدوهره لوئ ملک وے، چې دغه ملک به صرف داولسونو په مرضه یوځاے پاتې کېداے شو، دغه مرضي به هله حاصلېده، چې مرکز مکمله خود مختاره ې صوبې تر ورکړے وے او دغه ملک په مارشل لا نه چلیدو، نو جمهوریت بهدلته زرغون شوے ؤ، او رو رو به خلک په سیاسي توګه بالغان شوي وے، او د هندو او مسلمانان مسئله بهپه اقتصاد بدله وه، او بل دوئ اصولي د مذهب په نوم دویش، مخالف وو، دا ځکه چې دغه ویش د نفرت په بنسټ ولاړ و په لاکهاوو هندوان او غریب مسلمانان پکښې دوړه شول، او دغه د نفرت تخم تر نن ورځې پورې هندوستان او پاکستان کښې پاتې شو، نن هندوستان کښې په مسلمانان ظلم کیږي مونږ یې هیڅ مدد نه شو کولے. که چیرې مونږه ټول یوځاے وے، نو نن سبا ۳۰۰ میلونه یعنې دیرش کروړه مسلمانان په هند کښې وو، چې دومره لوئ اقلیت مقابله دپره کړانه ده او بل کم از کم مسلمانان به پیوا تفاق وو، او په خپلو منځو کښې به د هندو، خلاف سره مینه او اتفاق وو، چې څه وخت مونږه ځینې بیل شو، هندو نه آزاد شو، نو پاتې پاکستان کښې بیا د مهاجر او پنجابي او بنګالي پهلواني شروع شوه، چې هرچا تر معلوم

ده چې دسمبر ۱۹۷۱ کښې دجناح بابا پاکستان دنفرت پربنیاد مات شو، مشرقي حصه يې بنګله دیش شوه، دغه نفرت په پاکستان کښې پاتې شو، او غټ شو، د سندهي او مهاجر دیوبل نه نفرت او دیوبل وینې ته ناست، دپښتو بې نه نفرت یوقومیت دبل نه نفرت اوکړکه کوي، کراچۍ او حیدر او لاهور بازارونو دا سې میاشت نه وي چې د دې، نفرت په وجه په وینو نه رنګ کیږي، دقومیت نربغیر د مرزائ خلاف نفرت، ملا په ملا پسې کنځلې اوفتوی د شیعه اوسني فسادات، سپاه صحابه او دداسې نورو، تنظیمونه د یوبل وینو ته ناست دي، او دغه نفرت چې پرنګي اول د هندو او مسلمان په منځ کښې کرلے ؤ نن سبا پاکستاني مسلمان پخپله پکښې ګیر دے، او بل مقصد د قوم پرستو مسلمانانو دغه ؤ، چې هند به لږ زر په اقتصادي توګه په پښو ودریږي، او په فوجي توګه به اټمي پاورشي، نو د دې علاقې وړو ملکونو دپاره به د مغرب او سویټ یونین خلاف یوه پناه ګاه وي، او خاصکر د دوئ مطلب افغانستان، ایران د مشرق اوسطي ملکونه او ترکیه، مرکزي ایشیا او برما، تهائي لینډ، ملیشیا اندونشیا وغیره وغیره، چې دې ملکونو کښې مسلمانان اوسي نو د هند یو حکومت هم دا جرأت نه شو کولے چې ۳۰ کروړ

هندي مسلمانان يې په خاطر کښې نه راوړئ ، او ضد مسلمان سیاست يې کولے ، دغه ناممکن وو ، نو هندي خارجه سیاست ، به ضرور د مغرب سره په ټکر کښې راتلو ، او مغرب نه شو کولاے ، چې د هند د مرضۍ نه به غیر په دې ملکونو کښې مداخلت کړے وائي ، داځکه چې هند به عالمي طاقت ؤ.

د هند د ساتنې د پاره د پرنګپانو هاوځلو باندې یو نظر

لارډ کرزن ۱۸۹۹ - ۱۹۰۵ د هند واشرائې وو، او دے
د پر لوئې استعماري پرتګ وګ، د هند متعلق ده - ۱۹۰۹ کښې.
د اسې ویلي وو: (Edinburgh)

Autor: Ludwig Alsdorf **Buch: Indien**

Welche Rolle hat Indien in der Gestaltungder britischen Politik und in der Ausbereitung der englischen Herrschaft gespielt?

Indien war der bestimmende Faktor in jeder bedeutenden englischen Unternehmung ocstlich und suedlich des Mittelmeers. Die Orientfrage des Mittelalters war bloss die Rueckeroberung der heiligen Staedte aus den Haenden der Unglaeubigen. Aber einmal in Indien festgesetzt, liessen wir unsere Orientpolitik, obwohl deren Mittelpunkt scheinbar Konstantinopel war,in Wirklichkeit durch die Erwaegung der Sicherung unserer Besitzungen in Indien leiten. Nur Indien wegen hat Lord Beaconsfield die Aktien der Suez-Kanal Gesellschaft gekauft, und wegen Indien sind wir jetzt in Aegypten.

Die historischen Gegensaetze und Kaempfe mit Russland waehrend beinahe eines Jahrhunderts entsprungen der angenommenen Notwendigkeit, es von den Grenzen Indiens fernzuhalten. Nur Indien wegen besitzten wir das Kapp der Guten Hoffnung und begannen jene Laufbahn suedafrikanischer Ausdehnung, letzthin in eine so wichtige Phase getreten ist.

ترجمه : دے سوال کوي ، چې هند د برطانیه په سیاست او د برطانیه د حکمرانۍ په خورولو کښې کوم رول لوبولے دے ؟

هندوستان هرهغه قدم کښې چې بحر روم مشرقي اړخ یا جنوبي اړخ ته اخیستې شوې ده ، یو بنټی فکټر وو ، پخوا د مشرق سوال صرف دغه وُچې دغیرعیسویانو (مسلمانانو) نه مقدس مقامات بیرته فتح او واخلو، چې یو ځل مونږه هندوستان کښې پاخه کښېناستو ، نو د شو شا د پاره مونږه استنبول نه تر لاسه کول د خپل سیاست مرکز بللو ، مګر حقیقت کښې مونږه دغه لوبې تش د هندوستان د پاره کولے ، چې دغه قبضه ټینګه کړو ، صرف د هند د پاره لارډ بیکون فیلډ د نهرسوېز د کمپنۍ برخې واخیستې او صرف د هند په وجه مونږه مصر کښې ناست یو د روس سره چې څومره کبډي اولوبې شوې دي ، چې تقریباً سل کاله عمرلري ، صرف دیو مقصد د پاره چې د وئ د هند د سرحدد نه لرې وساتو ، او د دې د پاره مونږ هرممکن کار کړے ، دے ، او صرف د هند د خاطره مونږه جنوبي افریقه کښې ناست ، یو، چې دغه په یوه اهمه موقع رامینځ شوې ده ،،

د لارډ کرزن د دې لنډ بیان نه معلومیږي چې هند د برطانیه سیاسي ، اقتصادي او فوجي ژوند کښې کوم،

ځاے لرلو ، او باچا خان ورته ملاوتړله ، دوئ یې بې دخله کوله .

یو بل کتاب چې نوم یې دهند سلامتیا او ساتنه ده، (sicherheit indien) کښې بناغلی H. oneken داسې لیکي : « چې دبرطانیه سلطنت دطاقت له لحاظ ددنیا په تیر تاریخ او موجوده تاریخ کښې ثاني نه لري . دآبادۍ دلحاظ او دځمکې دمخه پخوانۍ ټولې لوئې لویې بادشاهۍ شاته پرېږدې مګر دننۍ برطانیه مقابله څوک نه شي کولے، چې قسما قسم قومونه پکښې ژوند کوي ، او دجهان په ټولو براعظمونو کښې واک لري ، پدبله معنیٰ چې نمر نه په پریوزي او ددې ټولو مرکز هند دے ، که څه هم سیاسي واک برطانیه لندن کښې دے ، او هندوستان په دې کښې یو بنیادي کردار اداء کوي او دآبادۍ دلوړ خوبې څه ثاني نه شته ، که څه هم ځمکې کینډا ، استرلیا او نیوزی لینډ او جنوبي افریقا پکښې شمار کړې، دبرې لري ، مګر دغه ټولې دانسانانو نه خالي ځمکې دي . او- چې څوک شته هم ، نو هغه دمورنۍ وطن یعنې برطانیه نه تلي خلک دي ، چې دوئ مقامي خلک وژلي او تباه کړي دي ، او بیا دوئ آباد شوي دي ، مګر د هند خلکو سره دغه لوبه دوئ نشوه کولے ، او هندواحد

ملك دے، چې پکښې د سپین پوستکیو کالونۍ نشته یعنې آبادیانې ځمکې او پټې نه لري، داځکه چې د هند خلک خپل ځان نه یو پخوانی او ترقي یافته کلتور لري، او د مغرب سره په تماس کښې د راتګ په وجه هم دوئ د دې قابل وو، چې خپل ثقافت د مغرب په مقابله کښې ژوندے وساتي، او که چیري برطانیه یعنې انګلینډ د سلطنت سره وي، نو زړه یې هندوستان دے، او د سلطنت یوه بریښیدونکې ملغلره ده.»

پرنګیانو د هند سلامتي او ساتنې د پاره دوه لارې غوره کړې وې:

۱- یوه لاره یا سیاست دغه ؤ چې د هندوستان داخلي سلامتي وساتي.

۲- دویم داچې د بهر دښمنانو نه یې وساتي، ځکه د قانون بالا دستي، او بهر یا ورچاته فوجي بالا دستي د دوئ د سیاست بنیادي ستنې وي، دوئ چې بنګال قبضه کړو، نو د دې دوو وجو په ذریعه باقي هند قبضه کړو، دوئ به څه یوه حصه ونیوله، نو هغې سره جوخته علاقه به یې په دې وجه نیوله یا فتح کوله، چې د دوئ نیولے شوې هندي برخې تر خطره وه، او دوئ به دغه پلمه کوله، چې دغه قدم موږ ته د داخلي او خارجي مشکلاتو

په وجه واخیستو نو په دې پلمه یې هرکال دهند نه برخه شوکوله ،اوخیټه کښې به یې اچولې ،اول سرکښې دغه خطرې دمقامي نوابانو اوراجاګانو نه وې، چې دوئې یې ټول وار په وار ختم کړل، نو بیا د مرهټیانو،جټانو او روهله هندي پښتنو نه وه ، چې دوئې یې هم خلاص کړل، بیا افغانستان نه خطره وه ،چې سیکهان اوافغانان یې ځاے ته ورسول، بیا دروس نه خطره وه ، نو دوئې د داخلي اوخارجي حکمت عملي په وجه دهند ټولګونډې هیوادونه تباه اوبرباد کړل ، د دوئې فوجي، اقتصادي اوسیاسي غاښونه یې ویستل ،چې ښه مثال یې افغانستان او ایران دے ، چې د دې نه بې غمه شو ، بیا یې پیل پدې وکړو ، چې هند ته داوبولاړه سلامته وساتي، لکه لاره کرزن اول سرکښې د مصر اونیرسو یزخیژکړې ده ، نو دوئې ـ هندوستان ته دتګ اوراتګ لاره کښې هیڅ داسې طاقت، ملک یا قوم نه برداشت کولو، چې دوئې ته به معمولې خطره ځینې پیدا کیدائې شوه ، نوځکه دهند په وجه دلندن نه تر بمبئ او کلکتې پورې ملکونه د دوئې دتشدد ښکار و، بیا د کلکتې نه ترسیلهٹې پورې مشرق بعید ملکونو دغه حال و، چې دیدبختۍ نه دغه دواړو غاړو تر دمسلمانانو ملکونه وو.

لنډه دا چې دوئ د خپل سیاست څلور بنیادي ټکي دا سې ترتیب کړي وو:

۱- د هندوستان داخلي سلامتي، د بغاوت او نورو شورشونو نه ساتل.

۲- د هندوستان بهر برید و نه یعنې سرحدونه د دښمنانو نه ساتل، چې دغه سرحدونه ۱۸۹۳ پورې ډیورنډ لاین، او امو دریا ته راورسیدل.

۳- د مورنۍ وطن یعنې انګلینډ تر هند پورې ټول سمندري اوځمکنې د فوجي اهمیت لارې ساتنه او څارنه.

٤- په یورپ کښې Balance of Power تر نوم- لاندې دا سې سیاست غوړ کول، چې یورپي طاقتونو کښې څوک دومره خطرناک او طاقت من نشي، چې براعظم یورپ کښې دوئ تر خطره جوړوي، او د هند تګ راتګ لاره کښې خنډ کیږي، نو دوئ دا سې طاقت په یورپ کښې نه برداشت کولو.

دوئ تر اول یورپ کښې فرانس یو Rival جوړ شوي وو، د نپولین په واټرلو کښې ماتې په وجه دغه خطره ورکه شوه او ۱۸۱۵ کښې ویانا اسټریا کښې د نپولین د شکست نه پس چې کوم کانفرنس شوے وُ، په هغه کښې انګریزانو هند تر د تګ لارې د نورو یورپي طاقتونو نه محفوظې

کړي هغه داسې چې دوئ، جنوبي افریقه دلاسه کړه، داځکه چې هالینډ دنیولسین په وړلو کښې ؤ، او دفرنسویانو نه یې د (MAURITIUS) سمندري اهم ځای واخیستو، او سیلون یې ۱۷۹۶ کښې دهایلینډیانو نه قبضه کړو، او دهند سلامتي پر دې ځای خلاصه نه شوه بلکې ایسټ انډیا کمپنۍ دچین سره تجارت باندې اجاره اداري وه، نو ځکه یې وارته نه پریښودل، او چین سره تجارت دکمپنۍ دپاره اهم کردار ادا کولو، خو دلارې د محفوظ ساتلو دپاره دوئ ۱۸۱۹ کښې جزیره سنګاپور قبضه کړه، چې روستو ددوئ یو اهم فوجي سمندري اډه شوه، او د مشرق د-جبرالټر په نوم مشهوره شوه. چې ددې په ذریعه دهند او چین ترمنځ یې یو اهم رول لرلو، او دمالاکه غاړې یې مخکښې په لاس کښې وې او په ۱۸۷٤ کښې یې د هند د سلامتیا په خاطر د ملشیا علاقې په خپله قبضه کښې واخیستې، چې دغه علاقې د هند د مشرق بعید د غاړې ددښمنانو خلاف ضروري اډې وې، داځکه چې پرتګیانو په هند کښې افیون په کسانیانو په زور کړلو، او په چینیانو یې خرڅولو، چې ددې سره نه صرف دچین دپاره یو اخلاقي او معاشرتي مسئله جوړه شوه، بلکې ددوئ اقتصاد ددې په وجه تباه شو، نودچین حکومت ددې خلاف راپورته شو، چې د افیون دجنګ پرنوم

دغه مشهور دے ، یعنې ۱۸٤۲ - ۱۸٤۰ پورې،او پرنګیانو دتوپک
په زور په چینیانو دغه نشه خرڅوله ،او چینیان دوئ جنګ
ته مجبور کړل، د جنګ نه پس دوئ ځینې هانګ کانګ د امن
د معاهدو لاندې لاندې کړو، د هند د سلامتیا دپاره یو بل
قدم وُ ، نو جنوب مغرب،جنوب او جنوب مشرق نه هند محفوظ
کړو، د دې په وجه دوئ مشرق ، نه خطره ورکه شوه،اوس
شمال مغرب تر مخ واړو ،چې هند نه خطره ورکه کړي اوس
د نپولین خطره اوس اوس ورکه شوې وه ، چې زار روس
نه خطره جوړه شوه،چې هغه دا افغانستان او دایران دلارې
وه،چې دوئ به هرات، قندهار، او هندوستان تر را داخل
شي، اوچې دایران په لار به اول خلیج فارس ته او بیا بحر هند تر
راشي، اوس دغه تبه په پرنګیانو ولګیده ، موږ تر درک نشته،چې
دغه د دوئ د روس نه د ډار په وجه اول افغاني پرنګی جنګ
سبب شو، ۱۸٤۲-۱۸۳۹ - چې د دې نه فوراً بعد یې سندهه
او پنجاب او تر پیښوره پورې علاقې قبضه کړې ، اوس د
روس مقابله شته دافغانستان او ایران په خاوره شروع نه وه
بلکې تر ترکي پورې خبره لاړه ، پرنګیانو اوس خپل دښمن روس
تر هرځائے لوړې لګولې وې، د روس سامراجیت په درې مخې
بحر روم او بحر هند او پخ تر را پلنیدو ، دا افغانستان او مرکزي
ایشیا دلارې هند تر خطره وه، او بیا د ایران دخلیج فارس

یا بلوچستان په لاره هند تر خطره وه ، او دریمه خطره پرنګیانو تر
دروس نه دکوه کاف او استنبول په لاره وه چې روسانو کوښښ
کولو ، چې استنبول قبضه کړي ، د دې سره د دوئ په تور
سمندر او بحره روم باندې اقتدار جوړیده . او دغه
د هند دپاره خطره وه ، داځکه چې یوځل روس په بحره روم کښې
ځان ټینګ کړے وے ، نو بیا مصر په خطره کښې ؤ او قبرص
ور تر جوخت پرې وت ؤ ، د نو د پرنګي د مورنې وطن برطانیه
او د هند تر مینځ لاره د روسانو په لاس ورتله چې دغه پرنګیانو
چیرته زغلے شوه ، نو دوئ به مجبوراً ترکئ عثمانی خلافت
د روس خلاف ژغورلو او توے خبره لاره چې ۱۸۵٤ کښې د کریم په جنګ
کښې پرنګیانو د ترکو په طرفدارئ د روسانو خلاف جنګ تر
ورو دانګل ، دا ځکه چې استنبول ، باندې د روس قبضه بحره
روم باندې غلبه وه ، چې د دې سره د هند لاره بندیده ، او د هند
د ژغورنې په وجه عثمانی خلافت تر اول نړیوال جنګ پورې ،
ژوندے پاتے شو ، چې ۱۸۳۹ کښې د مصر حکمران محمد علي
د فرانسویانو په کمک شام د عثمانی خلافت نه قبضه کړو ، او
غوښتل یې چې ترکي خلافت ختم کړي ، نو دلته بیا د مفادانو
په بنسټ انګلینډ د استریا سره یوځاے د فرانس خلاف یو
شول ، او محمد علي یې مجبور کړو ، اولتیمیټم یې ورکړو
چې د ترکي نه لاس واخله نو ځکه کښې مه ځه کښې موږ د واړه

دریاندې حمله کوو ، د مصر نه دې هم وباسو، محمد علي
وړاندې ېدو ، بیرته مصر ته راواپس شو، د ترک خلافت
د فتح کولو منصوبې یې پرېښودې ، خو په عربو کښې د فرانس
دانش رسوخ دویرې نه دوئ ۱۸۳۹ کښې په عدن قبضه
وکړه او بحرُ احمر سمندر خوله یې په خپل لاس
واخیسته .

دغه ټولې لوبې دوئ دهند د حفاظت دپاره کولې
او عدن تر ۱۹۳۷ پورې د بمبئ د ګورنر لاندې وُ .

چونکه محمد علي ، د فرانس تر اثر لاندې وُ نو اول پرنګیانو
کوښښ وکړو ، چې د فرانس اثر و رسوخ په مصر کښې
کم کړي ، خو دوئ هغه وخت دپروار خطا شول ، چې ،
محمد علي حکمران مصر ۱۸۵۶ کښې د نهر سویز جوړولو اوبیا
فرانسویانو ته ټیکه ورکولو باندې پرنګیانو سره بیاغم شو
چې فرانسویان هند ته لنډه لار وباسي ، نو دوئ دایسا رولو
او قبضه کولو منصوبې روانې کړې که څه هم په بحره روم
کښې اهم ځایونه دوئ قبضه کړي وو ، د مثال په توګه پر ۱۷۸۰
کښې دوئ جبرالتر د سپین نه نیولي وو ، په ۱۸۰۰ کښې یې
مالټه قبضه کړه ، ۱۸۳۹ کښې عدن پسې ونیو ، او په ۱۸۵۷
کښې جزیره پریم قبضه کړ چې ورته باب ال ماندیب :-
(BAB-el-Mandeb) وئیلو ، او ۱۸۶۹ کښې د

نهر سویز افتتاح وشوه، او د تهریفک دپاره خلاص شو، او ددې سره مصر د بین الاقوامي سیاست فټ بال شو، او انګریزانو دغه نه شوه برداشت کولے، چې نهرسویز باندې د دوئ د بښن قدرت پروت وي د جرمن چانسلر بناغلے بیسمارک نهرسویز تر دې پرنګیانو د سلطنت د مغزو رګ ویلے ؤ، نو دوئ ۱۸۷۵ کښې د مصر د عیاش خادیون بادشاه اسماعیل نه د پرنګیانو یهودي نسل وزیر اعظم (DISRAELI) د نهرسویز دده حصه واخیسته دا ځکه چې دے ډېر عیاش ؤ، د دولت ورته ضرورت ؤ، چې ددې سره انګلینډ د مصر کورني سیاست تر لاس وړ ننه کړو، او د فرانس دا ژور رسوخ د ختمولو کوښښ یې شروع کړو، په ۱۸۷۷ کښې بیا د ترکانو او روسانو تر منځ جنګ جوړ شو، پدې جنګ کښې پرنګیانو د ترکانو د روسیانو خلاف ملاتړ وکړو، او د ویرې نه یې هندي فوج په مالټه کښې واچوه، او روس ته یې غوري تړ یې شروع کړې، او د روسانو سره یې مالي غنمت کښې ځان شامل کړو، او د برلن کانفرنس ۱۸۷۸ کښې یې ځان ته ګټه ورکړه، او د ترکي خلافت یې بالکل د تباهۍ نه بچ کړو، او معاوضه کښې یې ځینې قبرص واخیسته، دد ې سره که مصر کښې نه، خو مصر سره نږدې یې سمندري فوجي

اړه جوړه کړه چې دغه یوبل میخ و چې دهندلارې
دحفاظت دپاره یې په بحره روم کښې تاک رهلواوروسانو
پرنګیانو تر وعده ورکړې وه، چې دوې بې په هند
حمله نه کوي، مګر بیا هم په هند کښې پرنګیانو چغې
جوړې کړې وې، چې امیر شیرعلي خان دروسانو
دوست دے، او دویم افغاني جنګ یې پرې وروتپلو
ددوئ سیال فرانس ۱۸۷۱ کښې پروئیس جرمني سره په
جنګ وُ، او جرمنیا نو فرانسویان و ډبول، او ددې
سره، دفرانس اژور سوخ تر نقصان ورسیدو، نو
ددې سره فرانس او پرنګیانو مصر او نور اهم په فوجي توګه ډېر کمزوري
شو. او نور اهم فوجي ځایونو کښې ځان مضبوط کړو
اود نهر سویز د مالیې واک دفرانسویانو او پرنګیانو
په ګډه وو، خو ۱۸۸٤ کښې پرنګیانو په مصر قبضه وکړه
دفرانس رسوخ یې بالکل کم کړو، او دغه حالات
دفرانس سره تر اول جنګ عظیم ۱۹۱٤ پورې پاتې شول
خو دفرانس او برطانیه تر منځ په مصر باندې هروخت
تعلقات خړ وو، او کله نه کله به دجنګ خطره جوړه
شوه، او دغه خطره ۱۸۹۸ کښې ډېره جوړه وه، سودان
هم دفرانسویانو نه پرنګیانو لاس ته کړو، او دوئ
تعلقات هله جوړ شول، چې ۱۹۰٤ کښې مراکش پرنګیانو

فرانسویانو تر خوشې کړو ، او دوئ ورتر مصر وبخښو
داځکه چې اوس پر یورپ کښې یو بل پلار پیدا شوے ؤ
چې هغه جرمني ؤ ، نو زاړه دښمنان دنوي ملك خلاف
رو رو سره یوځاے شول ، سودان هم بحر احمر غاړه
وه ، دهند د سلامتیا دپاره ضروري وه ، نوځکه پرنګیانو
په سودان هم خپله واچوله ، د دې منطقې تولې بدبختي
دهند د حفاظت او محفوظ ساتلو په وجه راغلې وه ، په
دې ځاے خبره ختمه نه ده بلکې دوئ دهند د حفاظت
تر نوم لاندې ۱۸۸٦ کښې سومالیه لیند قبضه کړو ، اوس
دوئ بحر احمر یا سور سمندر غاړې او خولې پر خپل
واک لاندې راوستې ، چې د دې لارې پر ذریعه هند
ته ټک د پردي طاقت دپاره مشکل شو ، خو د دوئ زړه
چیرته سړیدو ، دوئ جنوبي افریقه ، نایجریا او نورې
فوجي علاقه د افریقې براعظم د سمندر په غاړه غاړه
قبضه کړې ، چې که چیرې بحر روم د دښمنانو پر لاس
ورځي ، نو د هند دپاره نورې لارې زمونږ سره وي
نو د هند د حفاظت دپاره یې نیمه دنیا ترسینې لاندې
راوسته ، خو اوس د بحر روم او افریقې تر بیرته هند
ترځو ، چې دوئ هلته کومې ځرې اوکړې ، چې د ځمکې
دلارې هندې سرحدونه مضبوط کړي ، او هندوستان

دنورې دنیا ځان ترګوشې بنکارګاه جوړه کړي، نودوئ داسې طریقې جوړې کړې، چې دهند سره لګیدلي ملکونه یې دانګ و رسوخ نوم لاندې د برطانیه جایزمفاداتو ترنوم لاندې، او دوئ تر دحفاظت او ساتنې ترنوم لاندې پدې ملکونو یا علاقو کښې خپل مفادات وساتل، او دغیر او ددښمن قوتو مخه یې ونیوله، او په دې ذریعه یې تر هند پوړ نمونه قلعه جوړه کړه، موږ ته دهند دحفاظت ترنوم لاندې سیاست شروع اول دمشرق نه کوو، دوئ اول تهالینډ (سیام) د برتس انډیا او فرانسوي کالونۍ هندوچین ترمنځ BUFFER ریاست پریښود، او تهالینډ ځکه آزاد پاتې شو، چې دفرانس او انګلینډ دلته مقابله وه، شمال مشرقی سرحد داسې ؤ چې ۱۸۶۵ پورې یې خاص سرحد نه ؤ. برما، آسام، چین تیبت ددوئ سرحدونه پوره جوت نه وو، بل خوا تر بهوټان دحال وو، چې په دې علاقه کښې دهند دسلامتیا دپاره خاص خطره نه وه، بیا هم په ۱۸۶۵ کښې دبهوټان سره جنګ - وشو، او هندوستان ځئې خارجي تعلقات وا خیستل چوکیال ته یعنې بادشاه ته وظیفه مقرره کړه، چې سالانه به حکومت هند یولاکه روپیه ورکولې نیپال بادشاه خو خپل خلک د برطانیه دفوج دپاره په کرایه ورکړي وو، او حکومت هند به لس لاکه روپۍ ددې پرېدل کښې د نیپال بادشاه ته ماجب ورکولو-

نیپال، ددوئ جغرافیایي پوزشن داسې وُ چې هیڅ یورپي قوت لاس نه ورسیدو، ددوئ ژوند دهند پورې تړلے وُ، بلکې نیپال خو خپل خلک دبرطانیه د فوج دپاره، وقف کړي وو، چې بادشاه به ددې پربدل کښې لس لاکهه روپیه ماجب اخیستو، نو ددې نه هم څه خطره هند تر نه وه، شمالي برخې تر ریاست کشمیر وُ او ریاست چترال وُ، چې دافغاني واخان په وجه دروس برید دوئ نه وو لګیدلي، اوس موږ ته دپرنګیانو اصلي سرحد تر راورسیدو، دغه نور سرحدونه ګپ وُ، دغه اصلي شمالي غربي سرحد چې دوئ ورته "SCIENTIFIC FRONTIER" وئیلو، ددې اهمیت څکه وُ چې دافغانستان، بلوچستان خلیج فارس، مشرق اوسطی او بحره روم تر دغه سرحد رسیدو، موږ تر دغه اوس معلومه شوه چې ۱۸۷۷ کښې دترکانو او روسانو جنګ اثرات تر موږ ته پر صوبه او افغانستان باندې څه وو، چې دې شک شبهه نه چې امیر شیر علي خان روسي وفد منلی دے، پرنګیانو دویم افغاني او پرنګي جنګ جوړ کړو. داځکه چې ددوئ په خیال، اصلي سرحد یعنې دهند ژوند تر خطره وه، او تول جنګونه او بدبختي په دې سرحد تیرې شوي دي، دوئ دترکانو مدد څکه کولو، چې روسان دلته کمزوري کړي.

چې د هند طرف ته یې خیال نشي، او دوئ د ترکانو سره مشغول وي، کنې نور ترکان د پرنګیانو خپلوان نه وو، صرف او صرف د هند په خاطر یې د دوئ مدد کولو او روسانو به په هند زور راوړو چې ترکی کښې کتې وکړي، دوئ تر پته وه چې موږ ته پرنګیانو سره وعده کوو، چې هند باندې برحمله نه کوو، نو پرنګیانو به بیا د ترکې په شوکولو یوه سترګه پټه کړه. او مرکزي ایشیا کښې زار روس قبضې عین داسې روانې وې، لکه هند کښې پرنګیان چې وو، لکه برطانیه د هند د نوابانو او راجاګانو ریاستونه یو په بل پسې خوړل، همدغه شان روسي بخارا سمرقند، او خیوه ریاستونه تیر کړل..

اول افغاني او پرنګي جنګ پورې موږ ته وینو چې دوئ قدم په قدم یو بل تر نیږدې کیږي، پرنګیانو په ۱۸۴۳ کښې سندھ، ۱۸۴۹ کښې د سیکھانو ریاست او ۱۸۵۴ کښې هرات باندې د ایران د دوو حملو ځواب (۱۸۵۲-۱۸۵۴) او د امیر دوست محمد خان سره د دوستۍ لوظتامه ۱۸۵۵ کښې او روسانو دې وخت کښې ۱۸۶۵ کښې تاشقند، ۱۸۶۷ کښې سمرقند په خپله کښې واچوه، او دے کال یې نوی صوبه ترکستان جوړه کړه، او دې نه پیش دوئ د پرنګیانو سره (NEUTRAL ZONE) خبرې وکړې، یعنې ۱۸۷۳ کښې

اوافغانستان او شمال کښې آمو دریا بدخشان او واخان د
ددوئ تر منځ شوې، او د خیوې دیاست د آن ادعا وعده
روسانو د پرنګیانو سره وکړه. مګر کال لاپوره نه وچې
دوئ خپله وعده ماتر کړه، او ۱۸۷۶ کښې خوکند Khokand
قبضه کړو، نو ددوئ ترمینځ شک وشبهات نور هم زیات
شول، چونکه پرنګیان اوافغاني پرنګي جنګ یرولي وو،
مګر اوس ۱۸۷٤ تر پس د فارورد پالیسي خلک لکه لوئ
سامراجي یهودي ذهن پرنګي بناغلی (Disralle)
وخت راغلے ؤ، دوئ د روس دمخې د نیولو نیت کړے ؤ،
نو برتش هند ۱۸۷۶ کښې خان قلات سره لوظنامه وکړه
چې ددې په ذریعه خان پرنګیانو تر د کو ئټې (مشال)
او دره پولان نیولو او قبضه کولو، اجازت ورکړے
ؤ، چې دوئ غوښتل چې قندهار تر دومره ورنږدې
شي، چې د پښتو د توپ مصافه اوحد وي، او د روسانو
امکاني په هرات رانګ نخه د هنګښې نه وینسي، دوئ
د خیبر نه تر مکران بلوچستان د ایراني سرحد پورې
د روسانو خلاف بند وبست وکړو، دوئ ۱۸۸۲-
کښې بولان درې ریلوے لائن جوړ کړو، ۱۸۸۷ کښې
هرنائ ریلوے لائن جوړ کړو، او کوئټه یې د هندي
ریلوي سیستم سره وتړله او دره خوجک باندې،

چمن تر ریلوے لائن اوبند کړو، دغه ټول دهند دحفاظت ترسنوم لاندې، ریلوے لائن یې ترافغاني برید پورې اوبند کړو، اوبل اړخ تر یې ریلوے، کوئټې نوشکي نه ترایراني سرحد پورې اوبند کړو، دغه ټول دروسانو خلاف بندوبست وو، اوروسان هم ورتر ترزنې لاس نیولې ناست وو، دوئ هم ریلوے لائن، Kransnowodsk TASHKENT orenbury (BUKHARA) ورتر تیرکړو (Merw-kushk Post) ریلوے لائن هوباهو داسې وو، نکه دچمن اوکوئټه ریلوے لائن دغه دواړه ریلوے لائنونه د مشرق اومغرب له غاړې یعنې روس اودپرنګي لائنونه ترافغاني سرحدا نتو پورې اوبنده شوي وو، اودلته ختمیدل، دواړو حکومتونو دضرورت دپاره دومره دریلوے سامان جمع کړے ؤ، چې په ۶۰ شپیته ورځوکښې روسانو ترهرات پورې، دایمرجنسي په وخت کښې ریلوے را تیرولے شو، همدغه شان پرنګیانو دضرورت په وخت ترقندهاره پورې.

اوس بیا موبږه دد وئ پربحث روم اوکوه قاف کښې پهلوانۍ ترراځو، چې څه وخت ۷۸-۱۸۷۷ کښې پرنګیانو دروس دپاره دیدو دپاره خپل فوجونه پرمالته کښې راجع

کړل نو روس دے وخت کښې امیر شیرعلي خان تړپرنګیانو خلاف داتحاد وویل، دوئ کابل تر خپل مشن ولیږلو هلته په خیبر باندې دپرنګیانو وفد منع شو، نوددې په وجه پرنګي په افغانستان ورودانګل چې دوئ د- (scientific Frontier) په تلاش کښې وو ویلې یې لټولې، دکمال خبره خو دغه ده، چې روسانو به ترکان ډبول، پرنګیانو به یې مدد کولو، او پرنګیانو به افغانانو سره جنګ کولو، او روسانو به په درواغو وعدې کولې، ترکۍ او افغان به وهل وخوړل، کته به عیسوي، روس اویا برطانیه کوله، او پرومسئلو کښې ترکان افغانانو تر به غصه ؤو، چې دوئ ولې دپرنګیانو خلاف دي، پرنګیان خو اسلامي خلافت ساتي او دوئ تر دغه پته نه وه، چې پرنګیان اسلامي خلافت نه ژغوري، بلکې ددې په وجه او ذریعه دهند نه د روسي مخه اړوي.

نو پرنګیانو په افغانستان کښې بیا هغه حالات ولیدل چې کوم اول افغاني پرنګي جنګ خورد کابل کښې په راغلي وو، خو داځل د شاه شجاع نه زیات امیرعبدالرحمن ددوئ ښه شاګرد ثابت شو، دوئ دافغانستان خارجه سیاست دځان سره وساتر، او امیر عبدالرحمن یې دپیسو

او وسلو په ذریعه ټینګ کړو، او په ۱۸۹۳ کښې یې دغه
ددوئ تش پر نوم ... scientific frontier تیرکړو
او پښتون اولس یې تقسیم کړو مګر ددې سره هم هند
دحفاظت او ژغورنې ویره ددوئ نه ونروتر هم په
دې وخت کښې روسان قلار ناست نه وو، دوئ ۱۸۸٤-
۱۸۸۱ کښې د ترکمن علاقې قبضه کړې، او ۱۸۸۵ کښې پنج
دې په مقام دافغانانو اوروسانو جنګ وشوروسانو -
PAJDEH دافغانستان نه قبضه کړه، اوس دافغانستان
حکمران دپرنګیانو دلاس بوتاپئ وُ، نو دپرنګیانو اوروسانو
دجنګ خطره جوړه شوه، تر دې حده پورې نزدې
وه، چې برتس انډیا په لندن پارلمنټ کښې دجنګ دخرڅ
دپاره درخواست وکړو، چې جنګ ونه شو هغه وجه
یې یورپ کښې وه چې دلته Balanec of Power خراب شو
هغه داسې چې دفرانس نه بیا خطره جوړه شوې وه
چې مصر باندې حمله ونه کړي، نو دې وخت کښې
پرنګیان ویریدل، چې یورپ کښې کوشې نه شي -
(Isalate) او بل پر یو وخت کښې مرکزي ایشیا
کښې دروس سره او بحره روم کښې دفرانس سره مقابله
راته شي، هدغه وجوهات وو چې دوئ دپنجدې د
قبضې ترخه ګولۍ تیره کړه، خبره جنګ ته نه لاړه

او بل سودان کښې ورته مهدي پورته شوے ؤ چې خرطوم کښې پرنګلے جنرال ګوردون مړ کړے و، نو دوئ دا افغانستان ته زیات په دې براعظم کښې ونیول، شول، د دې مطلب دغه نه دے چې دوئ روس هیر کړے ؤ، .

د پرنګیا نو قسمت بنه ؤ، چې د جرمني د سلطنت بنیاد ایښودونکے چانسلر بسمارک او د روسانو دوست او د فرانسویانو د دښمن په ۱۸۹۰ کښې شهنشاه قیصر ولیم دوم سبکدوش کړو، دا ځکه چې شهنشاه یې جرمن مړشو، او ورپسې یې زوئ دا تومیا شتونه پس مړشو، چې حکومت د نیکه نه لمسي ته . . . شهنشاه قیصر ولیم دوم ۲۸ کلن ته پاتې شو. نو دے ډېر ځوان ؤ، بسمارک یې د نیکه په ځائے ؤ، نو د دوئ په منځ کښې: — (Generation GAPE) د ومره لوئ ؤ چې آخر بسمارک د وزیر اعظمۍ نه پنشني شو، د بسمارک سیاست دغه ؤ، چې فرانس په یورپ کښې ګوشې (isolate) وساتي او روسانو سره یې بنه تعلق وي، دا ځکه چې نه ده، غوښتل چې جرمني سلطنت په یو وخت د روس او فرانس په منځ کښې را شي، نو ده د نپولین د وخت روسي او فرانسوي شک وشبهات ته لمن وهله، نو ده د روسانو

څه وخت بسمارک لاړو. ددې سره روس پر مرکزي یورپ کښې یو با اعتماده ملګرے وباتللو ددوئ، پوزشن کمزورے شو، دلته وخت دپاو دپرنګیانو په فایده تمام شو، ۱۸۹۱ کښې د روس او جرمني سلطنت، ترمینځ دد وستۍ دمعاهدې وخت ختمیدو، مګر جرمنیانو دغه معاهده د روس سره نوې نه کړه، چې ددې په وجه روس سره شک پیدا شو دا ځکه چې د شهنشاه مور- دملکې وکټور یه لوروه، نو د بادشاه یعنې قیصر ولیم تمایل د برطانیه اړخ ترو، چې دې باندې، فرانس او روس دواړه شکن شول. دوی د ۱۸۱۲ د نپولین جنګونه هیر کړل، د جرمني او برطانیه خلاف دوئ ۱۸۹۱ کښې پټه لوظنامه وکړه، که څه هم دوئ په ډګر داسې نه وئیل، خو هرچا تر پته وه چې دوئ دچا خلاف سره یوځائے شوي دي، فرانس په یورپ کښې جرمنیانو نه ډاریدو، او نړۍ کښې یې دپرنګیانو سره سیالي وه، همدغه شان ترکي، ایران افغانستان کښې، دپرنګیانو او روسانو بزکشي وه، چې پرنګیان دهند په غم ککړوو، نو د جرمن حکومت دسیاست په وجه فرانس او روس سره نزدې شول.

مګر دجرمني بادشاه کدخه هم دوکتور په لمسي ؤ،
مګر دے یو مغرور جرمنیايي هم وردده تعلقات د
برطانیه سره په دې خراب شول، چې ده اعلان وکړو
چې دجرمنیا نو قسمت په اوبو کښې دے، یعنې سمندري
فوج. چې دغه خبره په برطانیه ولګیده، داځکه چې
تر اوسه پورې، خو دوئ دسمندر بادشاهان وو،
نو دوئ بل طاقت نه شو برداشت کولے، قیصر ولیم
په سمندري فوجونو جوړولو باندې پیل وکړو ۱۸۷۱-
کښې دجرمن دسلطنت دبنیاد نه پس دوئ دومره،
ژر ترقي وکړه، چې نه صرف دفرانس دپاره خطره
شوه، بلکې دبرطانیه دپاره هم دوئ خطره شول.

دغه تفصیل ضروري ؤ، داځکه چې اوس سیاست
مقامي نه ؤ، بلکې بین الاقوامي صورت یې نیولے
ؤ، چې دیورپا داشرانتو نه هند آزاد نه ؤ،
اوس بیا راځو دروسیانو او پرنګیانو سیالۍ ته:
اوس پرنګیانو دروس خلاف په شمال کښې ځانونه
ټینګوله، دوي ۱۸۹۱/۹۲ کښې HUNZA ریاست او
(NAGAR) قبضه کړل، او ۱۸۹۵ کښې چترال نیو
او روسیانو ۱۸۹۲ کښې ټول د پامیر غرونو قبضه کړل
اوس د هند د حفاظت دپاره پرنګیانو بیو سرحد

دافغانستان او روس ترمینځ دریا امو جوړکړو
بل یې د ډیورند ترنوم لاندې په خیبرجوړکړو
او بل یې قبائلي بندوبس سیمو ترمینځ جوړکړو،
دغه ټول بندونه اوس حدونه دوئ دهند
دحفاظت دپاره جوړول، اوس دافغانستان او ایران
خلیج فارس نه علاوه، تیبت هم ددوئ د پهلوانۍ
مرکزشو، خلیج فارس کښې خو پرنګیانو ځانونه
مضبوط کړي وو، دوئ پرتګیزیان شړلي وو.
او ددوئ په سمندري فوجي اډو باندې یې قبضه
کړې وه، داځکه چې د هند دسلامتۍ دپاره دغه
ضروري وه. خو ۱۹۰۰ خواو شا کښې خلیج کښې د
برطانیه پوزشن په یو وخت کښې دد واړو واړخونو
نه خطره ورته پیښه شوه، چې روس دایران نه واخله
ترتیبت پورې سیمه کښې یې جارخانه لاره دپرنګیانو
خلاف واخیسته. دوئ دایران سره پټه معاهده وکړه
بندرګاه بوشیر او بندر عباس کښې ایراني حکومت
روسیانو ته د جنګي جهازو تمکیدو، اجازت
ورکړو، او روسیانو بندر عباس ته جنګي جهاز
ولیږلو، چې دغه دپراهم فوجي ځای ؤ، چې
دپرنګیانو دپاره د خطرې بګل و، او بل دترکانو

لیخوا جرمنیانو تر د بغداد د ریلوے لائن تهلیکه ورکول
ؤ چې اوس د جرمني نه هم برطانیه ته خطره وه، مګر
پرنګیانو د مخکښې نه ۱۸۹۹ کښې د بغداد ریلوے لائن،
د خطرې له وجې نه د شیخ کویت سره پټه لوظنامه
کړې وه چې دوئ به پرنګي د ښمنه طاقتونو ترمراعات
نه ورکوي، او د کویت نه یې خارجي سیاست لاس ته
کړو، او دې لائن باندې روسیان هم نه وو خوشحال.
دا ځکه چې ترکیان او روسیان د ډیرو مودو سره
د ښمنان وو، یعنې اوس عالمي سیاست کښې د فرانس،
برطانیه او زاري روس نه علاوه یوبل څلورم -
لوبغاړی جرمني کال په کال څرګند یدو، چې ټوله لوبه
یې وړانوله، او د دې ټولو خطرو په وجه
لارډ کرزن ۱۹۰۳ کښې کلف ته سفر وکړو، او په دې
علاقه کښې د برطانیه مفادانو او د ښمنو قوتونو
رانوتلو ته یې د وئ خبر کړل. « ده ورته وویل،
چې خلیج پارس کښې فوجي اډو جوړولو، یا د ښمن
قوتونو سمندري بیړۍ ته ځایونه ورکول، دغه
ټول اقدامات زموږ د مفادانو سره په ټکر کښې
راځي، او موږ به هر ممکن ذریعې په کار راولو
او دغه نمونه کار ته به هیڅوک پرې نږدو ».

۱۹۰۳ کښې برطانیه هندي حکومت ته ذرکړلګیدو چې روسیان د تیبت سره سفارتي تعلقات جوړولو په هڅه کښې دي، ددې وجه دغه وه چې یو روسیائي بودها عالم د ۱۹۰۱-۱۸۹۹ پورې په تیبت کښې وو، او د تیبت په دالائی لامه، "Dalia Lama" باندې یې لوړ اثر جوړ کړے ؤ. او لوړ اعتبار یې په لاسه (LAHSA) کښې کیږ ؤ، او چې څه وخت دے مسکو ته لاړو، نو زار دده سره ملاقات وکړو. او دے یې د روس د مفادات دپاره د تیبت سره د رابطې دپاره مقرر کړو، ددې سره برطانوي هند حکومت پر ګډوډ شو، نو لارډ کرزن (Dalai Lama) ته خط ولیکو او د تفصیل او صفائي هیله یې ځنې خرګنده کړه، خو - دالائی لامه ددې لیکونو ځواب ورنکړو، نو لارډ کرزن وار خطا شو، په تیبت یې ۱۹۰۴ کښې حمله وکړه، فوج تر لاهسا (Lahsa) پورې لاړو او Dalai Lama د بدهانو مذهبي مشر او بادشاه د پرنګیانو نه منګولیه ته وتښتیدو، پرنګیانو په تیبت باندې د خپلې مرضۍ فیصله ومنله او دغسې د روس اثرات یې ختم کړل، دغه لوبه هم د هند نر سلامتۍ لاندې وشوه، دلته بیا د پرنګیانو قسمت ښه و چې ۱۹۰۴-۱۹۰۵ کښې روسیان په مشرق کښې د جاپانیانو سره په جنګ ووا او پرنګیانو

دهند په وجه روسیانو ته په مشرق بعید کښې جاپانیان تیار کړل، هغه داسې چې زاري روس د سابریې په لارې مانچوریا چیني علاقې نیولې، دوئ هم د هند په شان په مشرق کښې د چین، کوریا په خاورې د زاري سلطنت د جوړولو خوبونه لیدل، چې په دې باندې جاپانیان وارخطا غوندې وو، دا ځکه جاپانیانو وئیل چې نن مانچوریا، سبا کوریا او بله ورځ جاپان، نو دلته بیا د پرنګیانو مرکزي ایشیا دښمن او هند ته د امکاني خطرې، خاوند روس ته یو بله لومه ښخه کړه، نو دوئ ۱۹۰۲ کښې د جاپان سره د اتحاد معاهده وکړه، دا ځکه چې روس اوس د جاپان او برطانیه مشترکه سیال او دښمن ؤ، او په دې معاهدې کښې یې لیکلي وو، چې برطانیه د جاپان د سلامتۍ او ځمکنۍ برقرارۍ ضمانت ورکوي، او جاپان لوظ وکړو چې دے د هند د سرحدونو د محفوظ ساتلو د پاره هرقسم امداد ته تیار دے. اوس د جاپان لاس د روس خلاف آزاد شو، مګر روسیان دومره مغرور وو چې ایشائي خلک دوئ په هیڅ کښې نه شمارل، او جاپانیانو ته یې زړې بیزوکان وئیل. چونکه جاپانیانو په ۱۸۹۵ کښې چینایان ډبولي وو. خو دغه ایشائي قوم وو، روسیانو وئیل، چې سپین باندې زړې نه شي بریدلے. خو د ۱۹۰۲ د معاهدې نه پس د جاپان زړه برابر ؤ، که څه هم روس لوی قوت ؤ، او جاپان یو ورکوټی ملک و، نو

روسۍ جنګ شروع کړو ۱۹۰٤ نه تر ۱۹۰۵ پورې یې دوام وکړو، اول روسۍ روسیان په مانچوریا او کوریا کښې وډبول. او بیا یې سمندري جنګ کښې داسې شکست ورکړو، چې دهغه وخت دنیا جاپانیانو تر حیرانه وه، دغه اول ځل و چې ایشیائي طاقت سپین پوستکي یورپي طاقت نه دوړي پورته کړې، نو ددې سره د زار روس په مشرق کښې د سلطنت جوړولو خوبونه ختم شول، او دهغې مخ یورپ ته راوګرځولو، او د پرنګیانو د هند ازلي سیال او دښمن سپک او کمزورے شو. اوس دغه ټوله لویه یورپ ته لاړه، دپهلوانۍ مرکز یا میدان بالکان شو. سیاسي حالات داسې جوړیدل، چې زاړه سیالان او دښمنان رو رو سره ملګري کیدل. دا ځکه چې اوس ددنیا په مخ یوبل سیال غټیدو چې هغه جرمني ؤ، چې دده نه فرانس ته خطره وه. د سمندري بیړۍ په وجه برطانیه نه خطره وه، او د ځمکې او د روسي بالکان سیاست په وجه روس ته هم خطره وه. په ۱۹۰٤ کښې فرانسې او برطانیه خپل اختلافات ختم کړل، هغه داسې چې په ۱۹۰٤ کښې فرانس مراکش خپل دائره اثر کښې اعلان کړو، ددې مخالفت جرمني وکړو، او د فرانس خلاف یې جنګي بیړۍ ولیږلې، برطانیه د فرانس طرفداري وکړه، او فرانس د برطانیه حق په مصر باندې ومنلو، په بالکان کښې پخوا د روس او استرلیا دوستي

دترکانو خلاف وه. چې بیا روستو زربین داستریلیا - خلاف راپورته شول، چونکه روس سلاویش قوم نر تعلق درلوده دزربین حمایت یې وکړو، په یو وخت زربین نه استریلیا او ترکي ته خطره شوه، نوپخواني دښمنان ترکیان او استریلیان دمشترکه دښمن په وجه سره ملګری شول، چونکه استریلیان تسلاً جرمنیان دي نودجرمن سلطنت هم ددوئ اړخ ته شو، او ترکیان، جرمنیان او استریلیان درې واړه یوې غاړې ته شول، اوس فرانس کوشش شروع کړو، چې دروس او برطانیه تر منځ روغه وکړي، فرانس په دې برشو، په ۱۹۰۵ کښې یې دروس او برطانیه په منځ کښې روغه وکړه، دهند نه دروس خطره فی الحال ورکه شوه. همدغه وجه وه چې، دوئ په ۱۹۰۷ کښې په افغاني سرحدانو باندې سره راضي شول. داځکه چې اوس روس، برطانیه او فرانس درې واړو ته ددوستۍ ضرورت ؤ، چې د جرمن مخه ونیسي، نو زاړه سیالان بیر ته سره پخولا شول، چې د نوي دښمن مخه ونیسي، د تفصیل ضرورت نه شته خو دومره به ووایو چې ددې کشمکش نه اول جهاني جنګ جوړ شو. چې روس، برطانیه فرانس، او روستو امریکه یوه ډله شول، ترکیه، جرمني او استریلیا بله ډله شول، دجنګ په

دوران کښې په روس کښې انقلاب راغئ ، د ترکانو خلافت خلاص شو ، او عرب د پرنګیانو او فرانسویانو په لاس وړا-غلل ، مګر دلته بیا د هند د سلامتۍ غم د پرنګي د سر نه وتر وتو . دوئ د ترکانو میراث داسې تقسیم کړو ، چې پرنګیانو هند ته د سمندري لارو نه علاوه ځمکنۍ لارې هم جوړ کړه ، هغه داسې چې دوئ د فلسطین ساتنه په غاړه واخیسته او بل یې د عثماني خلافت صوبه موصل او سلمانیه پرې کړل، یو نوے نوملك یې د عراق تر نوم لاندې جوړ کړو چې عرب او کردان یې د خپلو مفادو د پاره په یو ترنګر کښې واچول او شریف مکه زوئ شاه فیصل یې د عراق بادشاه کړو ، چې دا هغه شاه فیصل ؤ چې د پرنګیانو مدد یې د ترکانو خلاف کړے ؤ . هغه بل وروور ته یې اردن ورکړو چې دغه ټول مصنوعي ملکونه وو ، بلکې د اردن متعلق خو چرچل داسې ویلي وو : چې اردن ما یو ورځ قضاماپینین په پنسل باندې جوړ کړو ، خو داسې یې جوړ کړو چې د اردن او عراق لکۍ یې سره ولګولې ، شام او لبنان د فرانس په لاس وړاغلل . او س هند ته دریمه لاره د بحر روم نه خلیج پارس ته جوړه شوه ، چې د فلسطین او اردن د اکا یا بندرګی او هائی فا (Haifa) بندرګي نه دوئ په ځمکه تر بصرې پورې بیا د بصرې نه خلیج پارس هرمز په لاره

دمکران کودن، کراچي او بمبي هم دغه شان پورټ سعید، نهر سویز، عدن، کراچي، بمبي او بله لاره د افریقي دخګړ څنګ سره (Captown) او بمبي او کراچي دغه ټولي لاري دوئ دهند دحفاظت دپاره جوړي کړي، اوس دوئ مصر، سودان، صومالیه، عدن، عمان، شارجه کویت بحرین، بصره، فلسطین بندرګاه، او اردن په آمابه بندرګاه، قبرص، مالټا، جبرالستر، جنوبي آفریقا دغه ټولي ددوئ په قبضه کښي وې، د فرانس سره ملګري وو، روسي کښي انقلاب شوے ؤ، دخپل ځان په غم وو، ترکیان ختم ؤ، اوایران د روسي او انګریزي اثر لاندي سره تقسیم شوے ؤ، خولینن بیا دزار روسي ایراني برخه بیرته ورکړه، اوس په ایران کښي هم پرنګیان وو، دهند دسرو زرو تر مرغوبي خوخوځله حفاظتي دیوالونه تاؤ کړل، لندن، دهلی دواړه چوت کښي وو، چي اوس به هند په مزو مزو خوروو، داځکه چي په بن دي علاقه کښي دوئ څوک نه وو پرایښي، خو ددي ټولو تدبیرو لنډ ژوند ؤ، یوه ورځي چي واشرائے دهلی کښي سحر دخوبه پاسیدو، نو نوکر یي چنجن مخ نیولے ؤ، واشرائے ځني تپوس کړے ؤ، چي څه پلار دي مړدے چي خوار جن مخ دي نیولے دے؟ نوکر یي ځواب-

ورکړے ؤ، چې ددې نه هم غټ کار وران شوے دے
د ناشتې په میز یې واشرائے ته ویلي وو، چې د مرحوم
امیر عبدالرحمٰن خان زوئ، زمونږ دوست حبیب الله خان
چا شهید کړو، چې په ځائے یې کشر زوئ امان الله خان
بادشاه شوے دے، ددې سره د واشرائے نه د ناشتې توسته
پریوتو، چغه یې کړه چې زمونږه خیال ؤ چې اوس هند
ته د شمال نه خطر ورک شو، د آرام یو کال تیر نه شو، چې
زمونږ په شمالي مغربي سرحد بیا دښمن پیدا شو، امان الله
خان دوئ ته ور معلوم ؤ، چې دربارکښې دقوم پرستو د
ولې نه ؤ، نو غازي دوخت نه فایده وا خیسته په پرنګي یې
دریم ځل دپاره برید وکړو، چې نتیجه یې دافغانستان استقلال
ؤ، اوس دوئ سره بیا غم شو، چې امان الله خان ورته
کابل کښې کښېناستو، نو دوئ دده دورکولو دپاره قسما قسم
پیران ملایان او غله راپیدا کړل، چې د چا نوم کود ملا ؤ،
څوک کاږه وو څوک اوږده وو، څوک باباکان وو څوک
بچه سقه کان وو، په ۱۹۲۹ کښې امان الله خان نه دوطن نه
تیښتې ته مجبور کړو، اوس پرنګیان خوشال وو، چې افغانستان
مو بیا سوړ کړو، خو بیا یو سحی چې واشرائے د خوب
نه ویښ شو نو نوکر یې بیاسپیره مخ نیولے ؤ واشرائے
بیا وارخطا شو، ورته یې وویل چې امان الله خان بیا څه

راغلے دے؟ نوکر ځواب ورکړو چې نه د هغه نه وړ
خطرناک کار شوے دے، چې په چارسده اتمانزو کښې
زمبونږ یار خان عبدالغفار خان راته خدائی خدمتگار سره
دسرو جامو جوړ کړل، او غټ مقصد یې مونږه یو،
چې دهند نه مو وباسي، واشرائے ورته وویل چې
خپه کیږه مه، زه به دوئ درته د بالشویکانو په نوم
داسې درته ورکړم چې پته یې ونه لګي، چې دوئ
خدائی خدمتگارو ته د پهاسنی پړي تیارول، واشرائے
بیا خبر شو چې هغه یارانو د کانګرس سره اتحاد وکړو.
اوس برطانیوي هنله ته د بهر نه زیاته داخلي
مرض نه زیاته خطره جوړه شوه، چې هغه د شمال
مغرب له خوا د خدائی خدمتگارو تحریک وه، او هند
کښې ورته گاندهي لنګ وهلے ؤ، او بل په ۱۹۳۳ کښې بیا
جرمني د هټلر د مشرګرۍ لاندې کبدیه ته تیاري کوله.
او په ۱۹۳۵ کښې وزیرستان بیا ورته راپورته شو، د دوئ
خیال ؤ چې وزیرمسعود مو CiviLiSED. کړل، مګر
د فقیر ایبي د خرګندیدو سره په دوئ تبه راغله، او
دسې پښتون د عدم تشدد د فلسفې لاندې جنګیده، پاس
غره کښې فقیر ایبي توره پسې راخیستې وه، چې دده
تعلقات تر نازي جرمني پورې وو، نو یو ځل بیا د پرګکي

سره د شمالي صوبي سرحد هم شو ، او بل اړخ ته جاپان په مشرق بعید کښې د مشرقي توب په پشې کول ، د مشرق نه هم هند ته خطره جوړه شوه ، که څه هم د وئ کلکته ، رنګون سنګاپور ، هانګ کانګ او ملائشیا په لاس کښې وه ، خو بیا هم د جاپان نه دغه خطره وه . چې د نیوزی لینډ ، آسټریلیا او هند تر منځ سمندري لاره بنده کړي ، اوس بیا په پرتګیانو مینې یا اخته شول .

اوس هند ته د سمندري ، ځمکنی لارو ته علاوه هوائي لاره هم جوړه شوه ، چې هغه داسې وه ، مصر سکندریه غزه ، ردت بان ، د بغداد بصره ، بحرین ، شارجه ، عمان ، کوادر بلوچستان ، کراچی ، بمبئی ، کلکته ، رنګون بنکاک ، سنګاپور ، مخکښ سلوني ، آسټریلیا او نیوزي لینډ ته به جهاز تلو ، د دې هوائي لاین په ذریعه برطانیه د خپل نړیوال سلطنت مختلفې حصې یې سره ګنډلې او تړلې وے . چې د جنګ په وخت کښې د دوئ پکار راتلے ، او هم جنګ عظیم کښې دوئ ډېره فایده ځنې اوچته کړه . یو جرمنی لیکوال د برطانیه د دې کوشش متعلق داسې لیکي :

Eine geschlossene Englische Front, ein lueckenloser Schutzwall um Indien zieht sich von Aegypten bis zum Himalaya, ein imposantes Britisches Bollwerk, das aber freilich die probe seiner inneren und aeusseren Festigkeit erst noch zu bestehen hat.

ترجمه: یو مضبوط برطانوي محاذ دے، دوئ د هند د حفاظت دپاره د مصرنه راوا خله تر هالیه پورې داسې دیوال جوړ کړو، چې هیڅ سوری پکښې نه شته دغه لوئ او مضبوط کار به هله موږ ته مضبوط او کلک وبولو چې دے داخلي او خارجي دباو تر ټینګ شي، او په - امتحان پوره ووځي؟

ددې لیکوال په قول، د دوئ دیوال د بهرني سیلاب مقابله وکړه، مګر داخلي دباؤ ته ټینګ نه شو، اوس په هند کښې کاندي جي او باچا خان ورپسې راخستې وه، په وزیرستان کښې ورته فقیر ایپي وو، د مشرق نه جاپان ؤ، او یورپ کښې ورته نازي جرمن وو، چې دنیا د دویم جنګ عظیم په غاړه ولاړ وه، چې هغه چا ورته یکم ستمبر ۱۹۳۹ کښې د نازي جرمن له خوا په پولینډ حمله وه، چې ددې سره دویم جنګ عظیم شروع شو، اوس

پرنګیانو باندې ګران هندوستان ته د بهر او د ننه
دواړو نه خطره شوه، د بهر نه اول شمالي غربي سرحدنه
ؤ، چې د دوئ خیال ؤ، او په پښتنو یې اعتبار هم نه
ؤ، که چیرې هتلر سویټ یونین ووهي، او په روایتي،
لاره یعنې د نپولین، او روسانو لاره مرکزي ایشیا، ایران
بلوچستان، افغانستان په لاره هندې باندې راځي، نو افغانان
او پښتانه به ضرور پرجرمني ملاتړ کوي، چې فقیر ایپي،
سره د دوئ رابطې وې، او افغاني دربار کښې هم د دوئ
رسوخ ؤ، نو ځکه د پرنګیانو او روسیانو افغان حکومت
ته وئیلي وو: چې جاپاني او جرمني خلک د افغانستان
نه وباسي، دوئ د یاجوج نه تر بلوچستان پورې د یورنلو
لائن او درې (passes) ټولې سمتې مورچې کړې
چې نازیان د هند د نیولو نه منع کړي، خو د نازیانو په
روس کښې د شکست په وجه پرنګیان لږ په قراره شول
د مغرب شمال د اړخه خطره ورکه شوه او هتلر کوشش
کولو چې د باکو او زربائي جان د تیلو په کوهیانو قبضه
وکړي، او ایران بلوچستان او خلیج پارس په لاره هند
سمندر او په هند کښې پرنګیان وټکوي، هم دغه وجه وه
چې ایراني بادشاه رضا خان دوئ جنوبي افریقې ته وتښتولو
ملک یې روس او پرنګیانو سره تقسیم کړو، او تش په نوم یې دده

زوی کینولو، دغه هم دوئ دنازیا نوخه نیوله چې هند
ته راته شي، او داخل کښې یې تول کانګرس جیلتوا چولو،
سبو باش چندربوش ځنې خلاص شو، جاپان ته لاړو،
ده غوښتل چې د مشرق دارخه دجاپان په کمک هندولخلي
دا ځکه چې دجاپانیانو دعوئ او نعره وه چې ایشیا دایشیایانو
ده، نو دوئ چې کوم کانفرانس توکیو کښې په ۱۹٤۳ کښې
جوړ کړے ؤ، د هند نمایندګی سوباش کوله، سوباش
هم زموږ په سرحد افغانستان او او بیا جاپان ته تلے ؤ، پدې
کانفرنس کښې چې مشرکړي دجاپان په غاړه وه دې ملکونو
حصه اخیستې وه، تهائي لینډ، برما، چین، مچوریه، جاپان
فلپین او هند (سوباش)، نو دمشرق دغاړې جاپان پسې
راغئ تر برما پورې علاقې یې ونیولې، او کلکته اوچتاګانګ
یې بمبارې کولې، د هند او نیوز ی لینډ او آسټریلیا،
سمندري لارې یې دهند سره په خطره کښې راوستې،
په دې وخت کښې په ۱۹٤۲ کښې پرتګیانو افغان حکومت ته
وئیلي وو، چې که چیرې جاپان هند بیسي، نو موږ ته تاسې
ته پښتون بلوچ سیمې درکوو، او تاسو یې داسلام ترنوم
لاندې هند کښې دجاپان خلاف وجنګوئ، او خدائ،
خدمتګارو خلاف دوئ افغاني ملکانو، اوقبائیلي ملکان،
تیار کړل او ددوئ مشري باچاګل کوله، داځکه چې خدای

خدمتګارو باندې د دوئ اعتبار نه ؤ، نو پرنګي کوشش کولو چې خدائ خدمتګارو تحریک د افغاني سردارانو په ذریعه، وتکاوي، فرض که دوئ دهند نه جاپان وباسي د دې نه معلومیږي چې دې سخت وخت کښې هم پرنګیانو د خدائ خدمتګارو دپاره خوموره خیرن زړونه لرل. او افغاني واکدارو کومې ارادې وې.

با هر حال امریکیانو د برطانیه فرانس، او سویت یونین مدد وکړو، دوئ اول هټلر څملوو، بیا یې ۱۹٤۵ کښې په جاپان اتومي بمونه واچول، هدغسې دویم عالمي جنګ د پرنګیانو په خیر تمام شو، خوجهاني ملکي ددوئ نه امریکې ته لاړه، دوئ دومره کمزوري شوي وو، چې دغه په دوئ ګران هند دوئ نور نه شو سمبالولو د بهر نه یې بچ کړو، خو داخلي دباو ته ټینګ نه شول، خو د خدائ خدمتګارو نه یې، بدل واخیستو، داځکه چې دوئ ضدي پرنګي وو. هندوستان یې پرېښود، خو داسې یې پرېښود، چې تر نن ورځې پورې د نفرت کوم اوږ چې دوئ په هندکښې لګولے ؤ، هغه بلې ژړ دکانګرس نه یې بدل داسې وا خیستو، چې هند یې ځنې تقسیم کړو، او دپښتنو نه یې بدل داسې واخیستو چې دوئ یې د تورو پرنګیانو په لاس ورکړل، او هغه شمالي غربي سرحد یې د دوئ په لاس ورکړو، چې روستو دغه

شمالي غربي سرحد دکمیونزم خلاف سینټو فوجي لوظنامه ترنوم ـ
لاندې د امریکې په چارچ ورغئ چې ترتن ورځې پورې خدای
خدمتکارو د دوئ د تشدد او پښتون د قوم پرست نشان دے.
او دغه سرحد مغربي دنیا ته د ومره اهم ؤ، او دے چې څه
وخت په ۱۹۷۸ کښې په افغانستان کښې بدلون راغئ، نو بیا
مغربي دنیا دکمونیزم خلاف سره یوه شوه، افغاني بزکشي
کښې نه صرف سوویت یونین ختم شو، بلکې دکمونیزم سیستم یې
ختم کړو، او د پښتون کورې یو ځل بیا ورانکړو.

دهند ویش، د پرنګي سیاست
د کانګرس غداري
د خدائي خدمتګارو سره

په تیر باب کښې پدې تفصیلاً بحث وشو، چې پرنګیانو د هند د ساتنې د پاره کومې کومې لوبې نه دې کړې، دوئ، ایشیا او افریقه صرف دهند د خاطره په اورکښې د رولی وې سمندري، هوائي او زمیني لاړو په وجه دوئ اولسو نه په عذاب کړي وو، او صرف او صرف دیو مقصد د پاره چې دغه لاړې هند ته دګټ راګټ د پاره د خطرې نه خلاصې وې، او دغې لوبې یونیم سل کاله دوام وکړو، او بیا چې څوک داسې ملغلره پریښ دي، یا مجبور شي نو تاسو پخپله اندازه وکړئ، چې د دې سړي یا قوم به څه حال وي، او دغه د سرو زرو مرغۍ دوئ په اګست ۱۹۴۷ کښې ازاده کړه، او داسې چې د دوئ په فایده وه.

دوئ د هند په تقسیم کښې څو فایدې لیدې، چې اوله فایده دوئ ته دا وه چې، د آزادۍ به وجود چې دوئ آزاد

کړل، مګر هندو او مسلمان یې بیا هم محتاج وساتلو دوئ هندو او مسلمان نه د هند دښولو او ساتلو په دوران کښې په مختلفو مرحلو کښې فایدې وچې کړې چې اول سرکښې مسلمان دواک خاوندو، دوئ هندوان د ځان ملګري کړل مسلمانان یې پرې ودبول، چې مسلمان یې ښه په سیاسي معاشرتي، اقتصادي، او تعلیمي توګه ځملولو، نو هندو ورته را پورته شو، بیا یې ۱۸۵۷ نه پس مسلمان ورته لاس کښې ونیو، دهندو حجامت یې په کولو، دوئ دغه د نفرت تخم ځکه کړلو چې دوئ په دې پوه وو، چې که دواړه راته یولاس شي، نو زمونږ خیر نه شته، هند د دوئ د جهاني بادشاهۍ خبنته وه چې هند لاړو، نو د دوئ جهاني ملکي هم لاړه دوئ د هند د اهمیت نه ښه خبرو، دوئ د هند په زور ایشیا افریقه، مشرق او سطئ او مشرق بعید کښې کالونۍ جوړې کړې وې، دوئ د هند په زور براعظم افریقه خام مال خوړو، د دنیا لوې تجارتي لارې د بحره هند په وجه د دوئ په کنټرول کښې وې، نو ځکه دوئ هیڅوک دې ته نه پرېښوده چې د هند د قسمت سره لوبې وکړي، او هند په خپله د دوئ د پاره د خام مال او د دوئ د تیار شوې کارخانې د پیدا وار د پاره لوټیه منلې وه. نو دوئ د هندو او مسلمان نفرت اول سر کښې د دې د پاره جوړ کړے ؤ چې، هند باندې د دوئ د حکومت او واګدارۍ عمر اوږد شي د دوئ نه مسلمان سره

مینه وه ، او نه د هندو سره ، د خپل مقصد او کتې دپاره ئې دوئ
استعمالول ، چې څه وخت په ۱۸۸۵ کښې کانګرس جوړ شو ، او بیا د وسته
د سفارشتی ګوند په ځاے ، د هند د آزادۍ غورځنګ ځنې
جوړ یدو . نو دوئ اول سرکښې سر سید احمد خان سپې
ګرم کړو ، د هغه د مرګ نه پس دده کالج شاګردانو دغه کار
په غاړه واخیستو ، چې د بنګال د تقسیم نه پس دوئ هم د
پرنګي په لارښوونه د مسلم لیګ په شکل کښې منظم شول ، او د
دوئ د منشور اولنے او اخري مقصد دغه ؤ ، چې د کانګرس
به مخالفت کوي او پرنګي ته به وفاداري کوي ، نو د دوئ
د (start) کولو چابیانې واسرائے هند سره وې ، چې څه
وخت به ورته ضرورت شو نو دوئ به یې start کول . چې
څه وخت د پښتونخوا پښتانه د باچا خان تر مشرګرۍ د
خدائی خدمتګارۍ په شکل کښې منظم شول ، او بیا د مشترکه
مقصد دپاره د کانګرس سره یو ځاے ملګري شول ، نو د
کانګرس نه یو مکمل د آزادۍ ګوند جوړ شو ، تر ۱۹۳۰ نه پس
د پرنګیانو د میز په د راز کښې دوه منصوبې وې :
۱- اوله دغه چې دوئ د دې بې اتفاقۍ او نفرت په وجه
هند کښې خپل حکومته ژوند اوږد ولو ، او هغه بله دغه
وه چې که چیرې مونږه هند پرېښودو ، او هغه یې داسې
پرېښودو ، (چې هغه د پښتنو متل چې ، سټدې یې ورکړې

خو دچپو لوګۍ) نو پرنګیانو دغه دواړه منصوبې غبرګې روانې کړې وې ، چې دوئ به دې ته کله یوکښې نوم وکړو کله دبل ، خو دویم جنګ عظیم په دوران کښې ورته پته ولګیده چې دوئ دجنګ په وجه دپر کمزورې شول، اوبل د جهاني مشرګرې نه امریکې په لخه کړې وو، نو دوئ سوچ وکړو چې دهند په ویش کښې به زموږ ته خومره فائده وي. او متحد کښې به خومره وي . د دې نه څوک هم انکار نشي کولے ، چې تیل د شلمې پیړۍ داقتصادي ژوند دملا هلوکئ دی ، دغه اول ځل پرنګیانو محسوس کړې وو ، چې څه وخت په ۱۸۹۰ کښې په باکو اذربائي جان کښې تیل ښکاره شول ، نو دهغې ورځې نه دیورپ قومونو په ټوله دنیا کښې تیلو پسې منډې شروع کړې ، چې روستو پرنګیانو په ایراني تیلو باندې خیټه واچوله، اول جنګ عظیم نه پس ئے د سلمانیه او موصول کردان ځکه د ترکې نه پرې کړل ، چې دوئ تیل لرل ، مصنوعي ملک عراق کښې شامل کړل ، ملا ئشیا تل ، روستو کویټ ، سعودي عرب بحرین تیل ورسره جمع شول ، چې داول جنګ عظیم سره که ټینک و کهلاري او که ریل او دهوا یا اوبو جهاز ؤ بغیر دتیلو نه بې کاره وو ، دفوج ټوله مشنري د تیلو مرهون منت وه، او داقتصاد دپاره یې هم اهم رول لوبولو . بلکه د تیلو په

زور هر څه روان وو، چې دوئ د عربو د تیلو په خاطر اسرائیل ورته جوړ کړو، نو دوئ خیال وکړو چې که هند متحده پاتې شي، نو اقتدار کانګرس او خدائ خدمتګارو ته په لاس ورځي، او د هند سرمایه دار هم ډېر بالغ خلک وو، دوئ بمبئ او کلکته کښې ډېرې پیسې ګټلې وې، نو دوئ هم په دې پوزیشن کښې وو، چې هند په اقتصادي توګه مخ په وړاندې بوځي، او دوئ مقابله د برطانیوي سرمایه دارو په مقابله کښې وو، د دوئ زیات اکثریت د کانګرس ملاتړ کولو، بل اړخ ته د مسلمانانو سرمایه دارو، چې دوئ هم د یوې داسې منډې په ټکل وو، چې د هندوانو د مقابلې نه بغیر دوئ په ارام منډې باندې قبضه وکړي چې دغه منډې دوئ ته د پاکستان په شکل کښې ښکاریده، او د پاکستاني تحریک مشر جناح په خپله د دې سرمایه دارې ډلې خپلوان وُ، هغه بوره فرقې او خواجه، او اسماعلیه فرقې د بمبئ سرمایه دارُ چې روستو دوئ د بمبئ نه سره د جناح صاحب کراچۍ ته راغلل، نو مسلم لیګ پرنګیانو د کانګرس د هلو او د هند د تقسیمولو د پاره کال په کال تیارولو، او بهر دنیا ته به یې دغه تصور ورکولو چې دوئ بې ګناه دي، دغه د هندوستان، هندوانو او مسلمانان ذهني ډېر پسې مانده دي، که دوئ نه وي نو دوئ سره حلالوي.

پرنګیانو خیال ؤ چې کانګرس یو قومي تحریک دے، که ټول هند ددوئ په لاس ورغئ، نو هند به ډېره زر ترقي وکړي ایټمي قوت به شي، دوئ به بیا موږ ته دامریکې په شان ددې منطقې دخوږو او ترخو نه وباسي، یعنې امریکه هم اوله ددوئ کالونۍ وه، نو دوئ به بحرهند مشرق - اوسطئ، مرکزي ایشیا، مشرق بعید کښې داثرورسوخ خاوندان شي. او بحره هند تجارتي لاره به ددوئ په لاس ورشي دایران عربو تیل به د هند داجازت نه بغیر خوړلګران شي اوبل ۸۰٪ خام مال چې دافریقې نه یې موږ ته وړو افریقه هند ته نږدې ده، نو دغه ته هم خطره پیښیدے شي. اوبل به متحده هند دومره لوے ملک وي، چې زموږ خارجي سیاست ته به هیڅ اهمیت نه ورکوي، او لنډ وخت کښې ددوئ اندازه ۷۰ - ۱۹۶۵ پورې به هند اقتصادي اوفوجي سوپر پاور شي، نو هند به بیا ایشیا او افریقه کښې دغریبو اوبې وسو ملکونو دپاره یوه پناه ګاه شي، اوچې څوک زموږ نه تښتي. نو د هند جولۍ ته به غورځیږي، داځکه چې هند متحد پاتې شي، نو کاوندي ملکونو کښې هیڅ پوداسې ملک نه شته چې د هند مقابله وکړي، نو متحده هندوستان نه صرف د برطانیه دپاره خطرناک ؤ، بلکې دامریکې دپاره هم ؤ، داځکه چې دویم جنګ عظیم کښې ملکي امریکې اخستې

وه نو دوئ د مشرق اوسطئ د تیلو په خاطر، د ملایشیا، اندونیشیا، برونائ د تیلو په خاطر د هند په ویش کښې ذیات مفادات لیدل، با نسبت متحده هندوستان کښې.

په ویش کښې یې فایدې دغه وې، چې هند تقسیم شي نو اول خو به دغه تقسیم د نفرت به بنسټ وي یعنې هندو، او مسلمان دوئ به اقتصادي دواړه کمزوري وي، یو بل به د واړو په وجه کارخانه نه جوړوي، بلکې د ټوپک او کارتوسو په چکر کښې به وي نو دوئ به خپله ګټه په غیر پیدا وري، سیکټر کښې لګوي، لکه فوج پولیس او د جنګ مشنري، او بل دوئ به په کور کښې سره اخته وي، مونږه مفاداتو ته په مشرق اوسطئ، مشرق بعید کښې به هیڅ خطره نه وي، دوئ چې څه ګټي په کارتوس او ټوپک به یې خرچ کوي دغه به هم مونږ په خرڅوو، او دا تقسیم به داسې وي چې د دوئ ټول عمر روغه ونه شي، دا ځکه چې هند دوئ ته معلوم ؤ، چې کوم کوم ځایونه مونږه مذب ذب پریښودو، چې د دوئ به بیا په نسلونو په بدیه وي. نو چې څه وخت دوئ پوه شول، چې نور په هند باندې حکومت نه شوکولے مسلم لیګ یې تقسیم ته تیار کړو، کانګرس کښې یې ځینې مشران لکه سردار پیټل دې ته اماده کړل چې هندوانو په تقسیم کښې ګټه ده، مسلمان د هند نه وباسئ چې سوچه هندوان پاتې شي، مسلمانانو به درته هره ورځ غوبل جوړ

کړے وي، دا اوس نه دهند اپریشن پکار دے، چې
قصه ډېر ستغه شوه نو پرنګیانو اعلان وکړو، چې موږ به
هندوستان دهندو او مسلمان په بنیاد تقسیموو، خودغه
خو د پرنګي فیصله وه، کانګرس د دې مخالفت کولو داځکه
چې کانګرس تر ډېره حده پورې د دې په بدختیو پوه وو،
نو ځکه دوئ مخالفت کولو، چې کاندهي جي یې په سرکښې
ؤ، مګر هندوان بیا هم هندوان وي، دوئ ته خپل مفادات
دخدائ خدمتګارو نه زیات ګران وو، د خدای خدمتګارو
پوزشن داسې ؤ چې د پرنګي په منطقي او بین الاقوامي
سیاست کښې دوئ نه ځائ کیدل، دوئ مذهباً مسلمانان
وو، په سیاسي توګه هندي پرنګي وو، او د کانګرس ملګري
وو، او د هند تقسیم په سیاست نه ؤ بلکې په مذهب وو،
نو د دوئ عجیبه پوزشن ؤ، چې نه یې د مسلم لیګ -
طرفداري کوله شوه، چې دوئ ته پته وه چې دوئ
څوک دي، او نه یې د سیاسي مفاداتو د پاره مذهب بدله
ولے شي، چې ورته هندوان شوي وي، او بل دوئ د
هند قوم پرستی نه زیات پښتون قوم پرست ؤ، د دوئ
په مذهب مسلم لیګ قبضه کړې وه، او سیاست باندې
کانګرس، د کانګرس او مسلم لیګ سره وړانه وه، یا په بله
معنیٰ، دوئ په سیاسي توګه کانګرس ته نږدې وو، او په

مذهبي توګه مسلم لیګ ته اوبل ددوئ د صوبې جغرافیایي پوزشن داسې وُ چې د هند په اخرې سرکښې وه، اودپرنګي (scielifie frontier) د دوئ په حُکمه وو، اوافغاني دري ټولې ددوئ په ملک کښې وے. چې پرنګیان د تقسیم نه پس هم ددې سرحد نه لاس اخیستلو تر تیار نه وُ. نو دوئ هیڅ کله دې اهمه علاقه کښې پرنګي دښمنه دله خدای خدمتګار نشو برداشت کولے، دوئ به هله دې ته تیار شوي وو. چې کانګرس د هند د تقسیم نه صفا انکار کړے وے، مګر کانګرس داسې ونه کړل، دخپل لنډ مقصد دپاره دوئ د هند تقسیم ومنلو، خدائ خدمتګارو سره یې په ډګر غداري وکړه، تر څو پورې چې دوئ ته ضرورت وو، ملګري وُ، چې ددوئ مفاد سرته ورسیدل، بیا یې خدائ خدمتګارو ته شاه وا وړله، داخه نه وایم، بلکې خُونټ بابا فخرافغان او ددوئ دسنګر ملګري هم د دوئ په دې بزدله فیصله غمجن وو، زه ددې دلاس لیکلے لیک وړاندې کوم:

«لاړ د مونټ بټن دلاړ د دیول د برطرفی نه وروسته د هندوستان کوښش جنرل مقرر شو، د هندوستان د راتلونه مخکښې د لیبر وزارت دے، دخپلو ټولو مسایلو او خواهشاتو نه خبرکړې وه، مستر اټلی هغه ته هدایت ورکړے وُ، چې د ۳۰ جون ۱۹۴۸ نه مخکښې باید هندوستان ته اقتدار

ورکړاے شي.»

یو بل ځاے لیکي: «مونټ بیټن ډېر ذهین او ځیرکسپے ؤ، هغه به دخپلو ټولو هندوستاني ملګرو، د زړونو حال معلومولو، هغه چې ولیدل چې سردار پټیل دده د نظریې منلو ته تیار دے، نو دده په لاس راوړلو دپاره یې دخپل شخصیت او دلفریبه ټول طاقت په کار واچولو، په خپلو خبرو کښې به هغه سردار پټیل د غوز سره مشابه کولو، چې دهغه پوټکی کلکا دے، خو چې مات یې کړې نو دننه چغزی راوځي.»

د سردار پټیل د تسخیر نه وروسته هغه جواهرلال ته متوجه شو، اول سرکښې جواهرلال د تقسیم خبره نه اوریدله او عکس العمل به یې ډېر سخت ؤ، لیکن مونټ بیټن وریسې وو. نزدې چې ورو ورو د جواهرلال د مخالفت قوت هم مات شو.

څنګه چې دا حالت معلومیدل چې سردار پټیل سره جواهرلال نهرو هم د مونټ بیټن د دې منصوبې سره مني، نو زه ډېر زهیر شوم ولې چې مونږه د هند تقسیم نه، بلکه د مسلمانان تقسیم کړلو».

یو بل ځاے لیکي: «مولانا آزاد وایي: چې ما پدې ټولو مسلو ډېر غور وکړه، ما سوچ وکړو چې ګاندهي جي دومره

زرخپله رائي خنګله بدله کړه، زما خیال دے چې سردار پټیل د اثر نتیجه ده سردار پټیل ـ
به ښکاره ویل، چې بې تقسیم نه بله چاره نشته، د تجربې نه ثابته
شوه، چې مسلم لیګ سره یوځائے کار کول ممکن نه دي، کیدائے
شي سردار پټیل یوې بلې خبرې ته هم اهمیت ورکړے وي، چې
لاره یوئ مونټ بټن ویل چې کانګرس د مرکزي حکومت په
کمزورو ساتلو صرف د مسلم لیګ د اعتراض جواب ورکولو
دپاره راضي شوي وو، او د دې په وجه صوبو تر ډیره داخلي
خودمختیارۍ حق ورکړل شوے ؤ، په یو داسې ملک چې هلته
دژ بې مذهب او تهذیب دومره اختلاف وي، د مرکز کمزورے
اتحاد د ښکمنو نظریو ته قوت ورکوي، دلیګ نه چې ځان جدا
کړے شي، نو بیا دیو مضبوط مرکزي حکومت انتظام کیدائ
شي، او داسې قانون جوړ یدے شي، چې هندوستان د متحده
ساتلو دپاره فایده من وي مونټ بټن مشوره ورکړه، چې په
شمال مشرق او شمال مغرب کښې چې یو خو وړې توکړې مسلم لیګ
له ورکړے شي، نو د باقي هندوستان به یو مضبوط او مستحکم د
ریاست جوړ کړے شي، په سردار پټیل باندې د دې دلیل
زیات اثر وشو، چې د مسلم لیګ سره د اتحاد په وجه به هندوستان
اتحاد او استحکام په خطر کښې پریوځي، زما خیال دادے چې
یوازې سردار پټیل نه بلکې، په جواهرلال نهرو هم د دې
دلیل اثر شوے ؤ، دغه دلیلونه چې سردار پټیل او مونټ بټن

دوباره وویل، نو دتقسیم په مخالفت کښې دکاندهي جې په نظر بیر کښې هم کمزوري راغله ».

هدغسې مخکښې لیکي: « په دوئ کښې بعضې انګریز پرست هندوان هم وو، چې د پرنګیانو او لیکیانو په اشاره ګډیدل، او دا مطالبه کوله چې خدائ خدمتګار و حکومتا دې لیرے کړے شي. او صوبه کښې دې ګورنر راج قائم شي، په دې نه پوهیدل چې داتوله قیصه چا جوړ کړې وه. دا خو ګورنر جوړ کړې وه، خو چې څه وخت دلارډ لوئ مونټ بټن او دکانګرس مشرانو په منځ کښې زموږ په سر سودا وشوه، سودا په دې وشوه، چې لارډ مونټ بټن ورته ویل چې پنجاب، بنګال به زه در ته تقسیم کړم، خو تاسې ددې په بدل کښې صوبه سرحد پرېږدئ او ریفرنډم ومنئ، بیا یې په دریم جون ۱۹٤۷ دهندوستان د تقسیم علان وکړ، او ویې هم ویل، چې په سرحد کښې به د خلکو نه تپوس کیږي، نو تاسو خو ددې پرنګي دې ظلم او بې انصافي ته وګورئ، چې پنجاب تقسیږي، بنګال تقسیږي هلته دخلکو نه تپوس نه کیږي، بلکې دا سمبلی نه کیږي او دلته زموږ په صوبه کښې داسمبلی نه څوک تپوس نه کوي.

بل ځاے لیکي: زه هم دهلي کښې وم، هلته ما دوئ ولیدل او ثمین جان خان ته وویل: چې یه هلکه دا پاکستان چې جوړ وئ، نو لږ فکر خو وکړئ، چې دې کښې به پښتون

څه حال وي ، اکثریت خو د پنجاب دے ، نو اقتدار به هم د پنجاب وي؟ نو ده راته وویل، چې اوس یې جوړو، که بیا پکښې زمونږ خیر نه وو، نو بیا به یې وران کړو، افسوس دے چې شین جان خان او س نشته کښې ما به ترې تپوس کړے وے، چې راشه وګوره چې پاکستان کښې د پښتنو څه حال دے؟

باچاخان د کانګرس او مونټ بټن سازش، ترعنوان لاندې داسې لیکي: ،، زه یې ټکي په ټکي لیکم:

،، اصله خبره داده چې دا لویه واقعه چې څنګه و شوه همدغسې کیدونکې وه، ولې چې د دې دپاره د پخوا نه تیار شوے ؤ، هغه وخت چې مونټ بټن د تقسیم د اعلان نه مخکښې د سرحد په دوره راغلئ ؤ، په سرحد کښې دفعه (١٤٤) لګیدلې وه، او په جلسو پابندي وه، د صوبه سرحد ګورنر سرا ولف کیرو چې زمونږ سخت مخالف ؤ، او د مسلم لیګ لوئ حامي ؤ، هغه په لارو مونټ بټن د اثر اچولو دپاره د سرحدي قبائیلو نه په ډېر زیات شمیر کښې د پولیټکل ایجنټ تولوخپلو ملکانو په ذریعه خلک راجمع کړل، او لارو مونټ بټن ته یې یوه لویه تماشه جوړه کړه، او د تللو په وخت کښې یې لارو مونټ بټن ته دا وویل: چې دې د پښتنو له داسې سزا ورکول پکار ده چې د دوئ بچي یې یاد ولري. ولې چې په هندوستان کښې لس کروړه مسلمانان وو، هغوئ زمونږ مخالفت ونه کړو، او دوئ

زمونږ مخالفت کښې دکانګرس سره ملګري شول، لارډمونټ بټن دا ټولې خبرې په زړه کښې واچولې، او ډاډه ته روان شو، هلته خو پټيل دهند تقسيم غوښتو او ده دا غوښتل چې پښتنو ته سزا ورکړي او دمسلم لیګ په حواله يې کړي، د دې دواړو اتفاق په دې وشو چې کانګرس غوښتل چې بنګال او پنجاب دې تقسيم شي، او لارډمونټ بټن غوښتل چې سرحد کښې دې ريفرنډم وشي، نو لارډمونټ بټن دوئ ته داوويل چې زه ستاسو دا خبره منم چې، بنګال او پنجاب به درته تقسيم کړم خو ددې په بدله کښې تاسې زما داومنئ چې په صوبه سرحد کښې دې ريفرنډم وشي، نو کانګرس په صوبه سرحد کښې ريفرنډم اومونټ بيټن ورته پنجاب او بنګال تقسيم کړل، او ددوئ، دواړو سودا زمونږ په سر وشوه، مونږ خدائ خدمتګارو څومره خواري وکړه چې هندو او مسلمان سره ښه دې شي او زه که په کور کښې وم که صوبه سرحد کښې وم که په هندوستان کښې ما ددې دپاره ډېر کوشش کړے دے، چې هندو او مسلمان تر منځه مينه، محبت، اتحاد او اتفاق پيدا کړم، اونفرت او دښمني ترې لرې کړم، دا کار تر ډېرحده پورې وشو، مګر دتقسيم نه پس تاسې وګورئ چې اوس څه حال دے؟ هغه مونږ چې څه کړي وو، هغه په سينګ لا هو کړے شو، په پاکستان کښې په هندوانو اوسکهانو څه تير شول، او په هندوستان

کښې په مسلمانانو څه تیریږي؟ دا سې نفرت او داسې نفاق پیداشو، چې د اصلاح اُمید یې هم له منځه لاړو، او ډېرې لاښې ترې راپیدا شوې.»

د کانګرس مشرانو باندې د لارډ مونټ بټن نه زیات دلیدې بیګم مونټ بټن ډېر اثر شوے وُ. دا ځکه چې دغه ښځه ډېره چالاکه وه، او بل د هندوانو sub conscious کښې د پرنګیانو د برتری او ثقافتی غلامی اثرات وُ، او بل جواهرلال نهرو د ډېر وخت نه کونډ وُ، چې دغه پرنګی ورښې دې شوه نو د ثقافتی غلامی وهلے نهرو به وارخطا شو لارډ مونټ بټن د دې په ذریعه د کانګرس مشران راضي کړل، او خدائ خدمتګار یې ځینې هیرکړل، دلیدې مونټ بټن او نهرو د مینې او محبت خبرې روانې وې،

دې ښځې د خپل خاوند د پاڅ د هندوستان د ګورنر-جنرالي نوکرې کړه، او دوئ ته یې نیم بنګال، نیم پنجاب، کشمیر، جوناګړ حیدرآباد دکن او ضلع ګورداسپور ورکړه، او دوئ یعنې کانګرس خدائ خدمتګار، پرنګیانو او مسلم لګیانو ته حواله کړل، نو د خدائ خدمت کارو په سره ډېل سودا او یا د دې اړخه سودا وشوه، کانګرس بنګال پنجاب واخیستو، لارډ مونټ بټن د دوئ په سر د هندوستان ګورنر جنرل شو، او پرنګئ ګورنر الیف کیرو

د دوئ په ټکولو ګورنر خوشال شو، مسلم لیګ په مزو کښې، کانګرس په مزو کښې، لارډ مونټ او الف کیرو په مزو کښې. د خدائے خدمتګارو په سرخاورې، دا ځکه چې دوئ، د هندو او مسلمان ورور ولي جوړ وله، چې د دې خلاف پرنګي ټول عمر کار کړے ؤ، او بل دا چې پښتون اول کښې د پرنګي مخالف ؤ، او دټکۍ په وخت هم، هندوانو اول سرکښې د دوئ خدمت کړے ؤ. انعام یې واخیستو د هندو- اچهوت ذات نه مسلمان شوي مسلم لیګیانو په اخر کښې خپل انعام واخیستو، نو مونږ ته به یې ولې سزا نه راکوله د پرنګي نه ګله نه شته، هغه خو د بنمن ؤ مګر کانګرس چې کوم ظلم وکړ، د دې دپاره هیڅ د معافۍ ګنجایش نه شته.

د پرنګي نه خو ځکه ګله نه شته، چې پښتون هغه قوم دے، چې ټول هندوستان د پرنګي بوټ پالش کول مونږه ورسره جنګونه کول، ۱۸٤۲ کښې افغانستان کښې د دوئ تباهۍ د میکنا تن مرګ، کیونا ري مرګ او نور داسې ډېر پرنګیانو د دوئ دلاسه ژوبل شوي دي، نو دغه ۱ پرنګیانو څرنګي دیاده وتل او اخري پرنګي، په وزیرستان کښې دا سې حالاتو کښې مړ شو چې پولیټکل ایجنټ او دغه کښې جرګه راغوښتې وه، چې محسود

نه رخصت واخلي، او يو ځوان محسود په دې جرګه کښې ناست ؤ، چې پرنګي وويل: چې زه آخري پرنګے يم، بس موږ روان يو، نو دې ځوان دچانه تپوس وکړ چې بس نور پرنګيان ځي، دغه آخري دے، هغه ځواب ورکړو چې هو! ده ورته ټوپک سم کړو، پرنګے يې دستېچ د پاسه مرکړو، او ويې ويل چې زما پلار دوئ شهيد کړے دے، خپل بدل مې واخيستو، لندن ته بيا څوک پسې تللے شي، دغه دکتاب مېرګرګ به انګريزي، سربيزه کښې يې ډاکټر سيد اکبر ليکلي دي:

" The last British political agent, Mr. Duncan, was killed during a tribal assembly (Jirga) at the Sararogha Scouts Fort by a young Mahsud whose father had last his life fighting the British. He had been advised that if he wished to take revenge, the primary law of the Pakhtun Code, he had best get on with it and kill Mr. Duncan, for soon there would no Englishman left and London was a long way from Waziristan".

ترجمه: د برتش اخري پوليټيکل ايجنټ جناب مسټر ډنکن يو ځوان او ځلمی محسود د سرارو غه په مقام هغه وخت قتل کړو، چې قبائيلي جرګه راغونډه شوې وه، داځکه چې د ده پلار د پرنګيانو سره په جنګ کښې ژوند دلاسه ورکړے ؤ، ده ته لار ښوده نه شوې وه، چې که چيرې د پلار بدل اخلي، اوس او دغه يې ښه موقع ده، مسټر ډنکن اخيري پرنګئ دے، اوس يې قتل کړه، بيا به بل پرنګئ نه وي.

بدل اخیستل د پښتونولی بنسټي قانون دے۔ هم دغسې
دپښتونه خلاصه دے شي»،

چې دچا قوم دغه نمونه کارونه د پرنګیانو سره کوي، نو دغه
څه دحیرانتیا خبره نه ده، چې پرنګیانو خمونږ سره وکړل
او پښتانه یې دسپینو نه تورو پرنګیانو ته وسپارل او،
پاکستاني ترنګړکښې ترنن ورځې پورې لټې وهي، هم دغه
شان پرنګیانو بدل واخیستو، خود باچاخان زیاته کله د
کانګرس نه ده دے دکانګرس بې وفائي ترعنوان لاندې
داسې لیکي:

«کانګرس خو دپرنګیانو سره دشپیتو کالو داسې د-
آزادۍ اخیستلو دپاره په جدو جهد لګیاؤ، خو انګریزانو
ورته پوره آزادي څه چې ینګړي آزادي هم نه ورکوله
مګر کله چې پښتانه ورسره په دغه جنګ کښې ملګري شول،
او پښتنو قیصه خواني، ټکر، اتمانزو، کوهاټ، هاتی-
خیلو او میروییس کښې قربانی ورکړې، او دغه شان،
زمونږ قبایلي علاقې غیرتي پښتنو سره دهندوستان،
دآزادۍ په لاره کښې غزا کانې وکړې۔

دانګریزانو توپونو او ټینکونو ته یې خپلې سینې،

وال کړے ، او د دوئ مخې ته لکه غرو د ریدل، نو انګریزانو
هله د هندوستان آزادۍ ته غاړه کېښوده ، موږ خو د کانګرس
سره په دې وعده د آزادۍ په جنګ کښې ملګري شوي
وو ، چې وطن به په ګډه آزاد وو ، او د پردۍ غلامۍ نه
به ځانونه خلاص وو ، مګر چې وخت راغئ ، بیا موږ سره
د شوو وعدو هیڅ خیال ونه ساتلے شو ، زموږ نه زموږ
د مستقبل په هکله هیڅ پوښتنه ونه شوه ، بلکې د پاکستان
او هندوستان دیوځاے کیدو ، ریفرنډم راباندې ، په
زور راوتپلے شو ، او زموږ په سر دغه لویه سودا وشوه .
قربانۍ موږ وکړې ، وینې زموږ توئ شوئ ، مالونه
جایدادونه ، زموږ تباه شول ، او کټه یې نور وته ورسیده
د کانګرس مشرانو خو به په ټولو معاملو کښې زما نه تپوس
کولو ، زما د سلاو مشورې نه بغیر به یې هیڅ نه کول ،
مګر په دې لویه او هم مسئله کښې زما سره مشوره څه چې
خبرهم نه کړے شوم ، زما په دې خبره خپګان دے چې
کانګرس ورکنګ کیمټي هم زموږ سره . امداد او هڅرد
ښکاره نه کړه ، د دوئ موږ له پښتو ، لاسونه وتړلو
مسلم لیګ ته یې حواله کړو ، موږ خو د مسلم لیګ نه
الیکشن ګټلے وُ ، نو بیا بل الیکشن ته څه ضرورت وُ که چا
زموږ سره نوے ریفرنډم کولے ، نو په کار وو چې زموږ

په مطالبه یې د پاکستان او پښتونستان په سوال کړے وایي
د ریفرنډم خو په پاکستان او هندوستان ؤ ، او مونږ د
کانګرس د بې وفایي په وجه د هندوستان سره نه تلو
نو ځکه مو په دې ریفرنډم کښې شریکیدل نه غوښتل او
بائیکاټ مو ورسره وکړو ، مونږ ته به پرنګیانو ویل ، چې
د کانګرس ملګرتیا پرې بږدئ ، نو مونږ چې هندوستان نه
څه ورکو د هغوئ نه به زیات تاسې له درکړو ، لیکن مونږ
کانګرس پرې نه ښود ، خو دوئ مونږ پریښودو ، دا پر
افسوس خبره خو داده چې مونږ دوئ سره څه وکړل
او دوئ را سره څه وکړل ، د سردار پټیل او راجه ګوپال
اچاریه نه خو زما ګله نشته ، زما ګله د جواهرلال نهرو
او ګاندهي جي نه کیږي ، چې هغوئ هم په دې معامله
کښې ورسره اتفاق وکړو ، د کانګرس لیډرانو ویل ، چې
اوس داسې حالات پیدا شوي دي ، چې بله لار نه شته
نو زه وایم چې دا حالات چې را پیدا کړل ؟ دا حالات
خو دوئ ، را پیدا کړل ، که دوئ هندوستان تقسیم کړے
نه وائ ، نو هندوستان او هندو مسلمان دا دومره
تباهي او بربادي به نه وے شوے . څه چې وشول
هغه وشول . او د مولانا آزاد خبره څه چې مې ولیدل
دا یو خوب ؤ ، خو زه وایم چې دا یو سازش ؤ ، دا یوه
بې وفایي وه دا یوه غداري وه چې زمونږ سره وشوه .

حاجي ميرزا علي خان

(فقير آف ايپي)

د حاجي صاحب متعلق بنا غلی کل ایوب خان سیفي په خپل کتاب «بنوں او وزیرستان تاریخ» کښې داسې لیکي: «حاجي میرزا علي خان د توچي په یوا یپي کلي کښې پیدا شوي ؤ، د حاجي میرزا علي خان د پلار نوم ارسلا خان دے، د دے بنوں ته دیو چاتړی (جماعت طالب علم) په حیث راغی د دے نور ړو مولوئ صاحب مولوی کل خوا ئیداد بازار احمد خان او داسې نور وګاونو کښې یې سبق وو ئیلو، حاجي صاحب د دوړو عالمانو نه هم سبق وئیلي دي، حاجي صاحب ته په بنو کښې یو عالم د خدائ په نوم لور هم ورکړه، حاجي صاحب په دې وخت عالم شوے ؤ، د دې واقعې نه یې ځان نه شو پاتې کولے.

ثبوت: د واقعې نه د کل سیفی مطلب د اسلام بي بي مسله ده چې یوه هندوه پیغله په بیوه بنوچی ځلې مینه وه او بیا یې اسلام قبول کړے ؤ، په دې باندې پرجنګونه

وشول، او دغه جینی د اسلام بي بي په نوم مشوره شوه)
دې بنوخو په ټولو جلسو کښې حاجي صاحب شرکت
کړے ؤ، هغه مجبور شو، او دوړو ته لاړو، او هلته نه
يې جهاد کولو، ارا ده وکړه، فرنګي هم دې حاجي صاحب له
ارادې نه خبر شو، دې بنوخو او دې دوړو عالمانو يو
وفد پولیټکل ایجنټ شمالي وزیرستان ته لاړو، او ورته
يې وويل، چې مونږ حاجي صاحب منع کوو، ته په ایپي
لښکرکشي مه کوه، پولیټکل ایجنټ ورته وويل، چې زه خو
لښکرکشي خامخا کوم، ولې چې دوړ ډېر مست شوی دي،
چې کلکته کښې چیرته دوه مسلمانان او هندوان سره معامله
شي نو دې هندوستان په ټولو مسلمانانو کښې قراره قراري
وي، خو دوړ راپاسي ډولونه راواخلي، او له حکومت سره
جګړه جوړه کړي، زه د دوړو نشه ماتوم، چې اینده
دوړ داسې قدم اوچت نه کړي، چې برطانیه حکومت
ته د تکلیف باعث وي، دی سوکړو قاضي حبیب الرحمن ورته
ځواب کښې وويل، چې صاحب! تاته انتقامي قدم، اخیستل
نه دے پکار، د حکومت رویه دې شفیق استاد په
شان پکار ده، پرنګي پولیټکل ایجنټ په دې خبره راضي
شو، او ورته يې وويل، چې تاسو زماله طرفه
حاجي صاحب ته ورشي، او ورته ووايي، چې زه به

په ایپي لښکر کشي نه کوم . لیکن فقیر صاحب دې له ایپي نه بهر خیسور ته درومي، او که چیري له ایپي نه بهر نه وتلو ، نو زه به په لښکرکشۍ کولو مجبور یم .

د بنو او د دوړو عالمان راغلل ، په عیدګ کلي ، - (دوړو کښي) د میرزا علي خان سره ملاقات وکړو، حاجي صاحب ورته وویل: چې ما ته ښه پته ده چې د پرنګي حکومت سره جهاد کولو باندې له پیرنګي حکومت نشم اخیستے زما وسائل ډېر محدود دي، لیکن زما پرنګي سره د جنګ کولو مدعا داده، چې اسلام بي بي په شان واقعي نه به هندوستاني مسلمانان کم ازکم تر شلو کالو پورې بچ پاتې شي، او ورته صفایي وویل: چې له ایپي نه بهر ځم او له پرنګي سره جهاد کوم .

اول جنګ نیساتي کښې وشو، دویم جنګ خیسوره کښې وشو، د غه شان د حاجي صاحب او پرنګیانو تر منځ یولوئ جنګ شروع شو، صیفي صاحب په دې کتاب کښې تر دې حده پورې لیکلے دي .

یو بل لیکوال بناغلے عبدالحمید ترین چې دوئ په - فقیر ایپي باندې په اردو ژبه کښې کتاب لیکلے دے، او مئ ۱۹۸٤ کښې د تاج کمپنۍ لیمیټډ کراچۍ نه خور شوے دے، داسې لیکلے دي :

درویش مجاہد، حاجی میرزا علی خان، فقیر ایپی

آپ کا نام میرزا علی خان ہے، اور عرف عام میں حاجی صاحب

آپ کے نام کے ساتھ میرزا کے لفظ کے معنی وزیرستان کی اُرمڑی

زبان میں بھائی کے ہیں، بھائی ایپی نام انگریزوں کے

خلاف جہاد کے زمانے میں ایپی گاؤں کی نسبت سے پڑ گیا تھا

جہاں آپ ۱۹۳۶ء تک رہائش رکھتے تھے جو میرعلی کیمپ -

(شمالی وزیرستان کے قریب واقع ہے، آپ ۱۸۹۷ء میں کھجوری

پوسٹ کے قریب شنگائی گھاٹی ایک چھوٹے سے گاؤں میں

ایک متقی عالم دین ارسلا خان کے گھر میں پیدا ہوئے آپ

کا تعلق شمالی وزیرستان کی طوری خیل وزیر کی

شاخ ہبتی مدی خیل سے تھا۔

مولا ارسلا خان مولوی گلاب دین سرکی خیل وزیر

کے دست راست تھے، آپ ۱۹۳۱ء میں انگریزوں کے خلاف جہاد

میں شریک ہوئے تھے۔

آپ کے دو بڑے بیٹے گل زار علی اور میر زمان اِس

جہاد میں شہید ہوئے تھے، جب کہ مرزا علی جلال آباد

میں تھے مگر قوم کے جہاد کی قربانیوں سے کافی متاثر

تھے فقیر ایپی امن پسند عالم دین تھے، آپ نے ۱۹۲۸ء میں

پہلا فریضہ حج ادا کیا، اور دوسری مرتبہ بھی سعادت،

حاصل کی، آپ علمائے دین کی ملاقاتوں کو جاتے اور صوفیائے

اکرام کی زیارتوں میں مشغول رہتے آپ نے سید حسین نقیب صاحب جلال اباد چار باغ کے دست مبارک پر سلسلہ قادریہ میں بعیت کی، اور خرقہ خلافت حاصل کیا، وطن واپسے سے قبل اپ نے قاضی حیات الدین صاحب (عرف شیرزاد) کی صاحبزادی سے نکاح کیا، جو تحریک خلافت کے دوران، فاطمہ خیل کلدن ضلع بنوں سے افغانستان ہجرت فرما گئے تھے لیکن حاجی صاحب لاولد رہے، اپ نے اپنی گاوں میں خاموش مذہبی طرز کے زندگی اختیار کی اور روحانیت کی پختگی میں لگے رہے، اور خود کو نمایان نہیں کیا، اپ کی دعا میں اثر تھا وزیر، دوڑ اور دیگر قوموں میں کافی ہر دلعزیز تھے، آپ نے کبھی سیاسی پارٹی میں یا تحریک میں حصہ نہی لیا، حتیٰ کہ خان عبدالغفار خان کی تحریک میں "خدائی خدمتگار" میں شریک نہ ہوئے تھے، فقیر صاحب چھوٹے قد کے دُبلے پتلے انسان تھے غاروں میں کافی عرصہ گذارنے کے سبب دمہ کی شکایت ہوگئی تھے۔ اخر عمر میں اپ معذور ہوگئے تھے، چنانچہ لوگ آپ کو چارپائی، پر اٹھا کر ایک جگہ سے دوسری جگہ لے جاتے فقیر صاحب کا دل روشن تھا۔ اور آنکھوں میں گہرائی تھی، آپ کو خطرے کا پیشتر احساس ہو جاتا تھا۔ جہاں بھی قیام کرتے تیز رفتار گھوڑے موجود رہتے کبھی یوں ہوتا کہ آپ آدھی رات کو حکم دیتے، کہ یہاں سے نکل چلو، راستے میں اطلاع ملتی

کہ پیچھے انگریزوں نے گولہ باری شروع کردی،

چونکہ یہ ایک مذہبی جنگ تھی، اسلام بی بی کے بارے میں صوبہ سرحد کے سب مسلمان ناراض تھے۔ خاصکر بنوں کوہاٹ اور ڈیرہ اسماعیل خان کے مسلمان، لھذا فقیر ایپی کے پاس ھر طرف سے مجاھد بھی انا شروع ھوئے، اور مالی امداد بھی پہنچنے لگی، شمالی اور جنوبی وزیرستان، اور صوبہ سرحد کے دوسری ضلعوں سے لوگ زکوٰۃ قربانی کے چمڑی اور دیگر چندے جمع کرکے فقیر صاحب کے لنگر کے لئے بھیجا کرتے، درج ذیل علماء نے ... مذھب اسلام کے نام پر مذھبی جدوجھد فقیر صاحب کی امداد کی نقیب صاحب، جلال آباد افغانستان، سید نسیم شاہ اف لنڈائے، سپین گل فقیراف شوہ، سسکی فقیر محمد خان دین فقر بھٹنی، شہزاد فضل دین محسود، (پسر مولا پوندہ مرحوم) مُلا شیر علی محسود، مولوی وارث شاہ منظر خیل، جب فقیر صاحب کا لنگر پوری طرح قائم ھوگیا، اور چندے انے شروع ھوگئی تو صوبہ سرحد کے لوگ، بنوچی خٹک وغیرہ، اور افغانستان کے کچھ زدران اوتنی بھی انے شروع ھوگئے اور جھاد میں حصہ لینے لگے، وزیرستان میں ھر جگہ انگریزوں کے خلاف آگ لگ گئی، مجاھدین کیلئے روٹ قوم کے کھانے ھر وقت تیار رھتے جو گاوں میں چھپے رھتے اور وھاں سے نکل کر سڑک پر وار رات کرکے واپس، گاوں کے لوگ بھی حملے میں مل جاتے تھے۔ سڑک کے

ھر دو طرف ٹین کے ڈبوں میں مصنوعی بم دبا دیئے جاتے
جن سے فوجی کانوائی کا نقصان ھوتا، فقیر صاحب نے
وزیرستان کے تمام قبائیل وزیر، محسود، دوڑ اور بھٹنی
میں اتحاد قایم کیا، جو قتل مقاتلے کے سبب ھمیشہ آپس میں
سر و پیکار رھتے تھے یہ بھی قدرت کا ایک معجزہ تھا،
چنانچہ جب دسمبر ۱۹۳۶ میں طوری خیل وزیروں کے
اِس بلاکیڈ کی گئی تو محسودوں نے ان کو اپنے، علاقے میں
پناہ دی، سمت جنوب کے افغان قبائیل بھی جہاد میں فقیر
صاحب کے ساتھ شریک ھوگئے، آپ نے ۲۲ تاریخ ماہ صفر
کو جہاد کی بیعت شروع بمقام نطاسی (AMBUSH)
وادی ٹوچی کی پار شروع کی، آپ ابھی جہاد کے تیاری کر رہے
تھے کہ انگریزوں نے پیش قدمی شروع کر دی۔

۶ رمضان المبارک کو تلپکان قبرستان کے پاس،
شدید جنگ ھوئی، اِس موقعے پر قبائیلی لشکر نے پتھر
کی گولیا اپنی رائفلوں میں استعمال کیں، جو فوجی زخمیوں
کے بدن سے نکالی گئیں، اور فوج کا کافی جانی نقصان ھوا
اور فوج کا اسلحہ اور سامان طوری خیل کے مجاھدین
کے ھاتھ ایا، فقیر ایپی نے ایک مجلس شوریٰ قایم کی، جس
کے سامنے تمام منصوبے اور ضروری مسائل پیش ھوتے، اور گرما
گرم بحث ھوتیں، صرف اھم مسائل فقیر صاحب کو پیش کئے،

جاتے آپ مختصر الفاظ میں اپنا فیصله سنا دیتے، جس پر سب عمل کرتے تھے.

فقیر ایپي صاحب یو سنجیده طبعیت خاوند ؤ، ډېر کم به یې خندل، او ډېر لږ به غصه کېده، پدې کښې قدرتي جوهر ؤ، مګر دغه هغه وخت ښکاره شول چې څه وخت د اسلام بي.بي واقعه (۳۶-۱۹۳۵) او په لاهور کښې، د سکهانو د لاسه مسجد کنجي د پرنګیانو په اشاره شهید کړے شو. حاجي صاحب دغه یو قیمتي موقع وګڼله، د پرنګیانو خلاف یې علان جهاد وکړو، او پرنګیانو باندې یې توروالګولو، چې دوئ مداخلت فی الدین وکړو، نو ده چې څه وخت علان جهاد کولو، پدې وخت کښې دے په یوه سپینه آسپه سور ؤ، د ملک اثر در په مقام یې دغه علان وکړو، بیا روستو ده د فوجي مهمانو د پاره ځینې جرنیلان مقرر کړل، چې دوئ به د پرنګي خلاف عملیات کول. هغه جرنیلان دغه وو:

خلیفه شیرعلي خان محسود، خونیا خیل محسود، خلیفه دین فقیر بهټني، خلیفه مهردل، ختک، خلیفه ګل نواز، غازي مرجان طوري خیل وزیر، جنرل مشک عالم خان او دغسې نور.

په ۳۷-۱۹۳۶ کښې وزیرستان کښې د

فقیر صاحب

خلاف په آپریشن باندې د میجر جنرل جې جې ایلیټ تبصره

په وزیرستان کښې پوره دولس میاشتې جنګ صرف دیو سړي خلاف ؤ، چې هغه فقیر ایپي ؤ، که په ده باندې یو بم پریوتے وے نو جنګ به فوراً ختم شوے وے، د د مثال د غمرځنی سره ګل په شان ؤ، چې فوج د ده په تلاش کښې سرګردانه وو، او د ده اندازه لګول مشکل دي، محسود، وزیر بهټني نه علاوه، د سرحد هغې غاړې ټول قبائیل د ده مریدان دي، ټول وزیرستان د سپین وام نه وا خله تر وانا پورې دغه ټوله علاقه د ده میدان جنګ و. چې یو ځائ کښې به آمن شو نو بل ځاے به مات شو، د حکومت د پاره د دې ذمه وارئ، یقین کول مشکل وو، د شام علاقه چې د وزیر طوري خیلو علاقه ده، مګر زیات جنګ د شکتو نه اخوا محسودو وکړو، او یا د خوست قبائیل وو، د ده د جنګ بهتر ینه طریقه دغه وه چې د ے موقعې شناس ؤ، او په پخه اراده او جمع زړه به یې منصوبه سرته رسوله، او کوشش یې ؤ، چې د برطانیه-

حکومت دپاره زیات نه زیاته سر دردي جوړه کړي، او داسې په یو ځای دفوج سره مقابله ندے راغلے، لکه څنګه چې جنګونو کښې، یعنې ۲۰-۱۹۱۹ اُپریشن راغلے وے.

جنرل هولډ زورته دفقیر صاحب متعلق لیکي:

«فقیر صاحب د خپل لښکر پخپله جرنیل ؤ، او د دوئ تنظیم یې ډېر په مهارت سره کولو، ده په قبائیلو باندې، زکوٰة لګولے ؤ. او د زړې زمانې توپے سټ جوړې کړې، او د لښکر کتنه به ده پخپله کوله چې څه وخت به لښکر جمع شو، نو دوئ به دلسو ورځو خوراک دځانو سره اخیستو چې خوراک به خلاص شو، نو لښکر به د نوی خوراک دپاره خور شو، د فوجي نقطه نظره دوئ لښکر په ډېر لږ وخت کښې میدان جنګ ته تیارولے شو ۱۹۳۷ کښې ۳۰ زره فوج د فقیر صاحب د مقابلې دپاره سرپیکار و، مګر بیا هم فوج ته څه خاص کامیابی حاصله نه شوه فقیر صاحب پخپله دکاب په ښان د فوج دلاسه وتو». حواله:

«The PATHAN Border Land»

دپرنګیانو په پښتنو باندې دظلمونه څه حدنه وو، دوئ لاندې خدائ خدمتګار وهل ټکول دغرې پښتانه د دوئ دهوائ او زمیني اسلحو کباب وو، هم دغسې فقیر صاحب یو خلیفه مهردل یوه واقع بیانوي: «چې ۱۹۳۶ کښې

خیسوره کښې انګریزانو په هوائي جهازونو په ذریعه په -
وحشیانه طریقه ځومونږ کورونه ورانول، نومونږه مجبورشو
چې (سمسه) په غرونوکښې غارونه کښې پناه واخلو، نو دحضرت
خواجه د انیال غرونوکښې پناه واخیسته، مګر ددې پناه ګاه
درک انګریزانو ته ولګیده نو په بې خبرۍ کښې یې پرمونږ
باندې بمباري شروع کړه، سړي، ښځې اوماشومان ټول د
بمبارۍ نه د کښې راغلل، یو شوه د ژړا جوړشو، دا سې
پوه شئ چې زمکه باندې یوازلزله راغله، پښتنې ښځې سرتې
اوبلې پښې داوسئ په خیر د بمونږ منډې وهلې، او دوئ ډېرې
دبمونږ خوراک شوې اوشهیدې شوې، نوځما د زړه نه یولوخړه
یعنې لوګئ پورته شو چې ما د ماشومانو دوجود تکړې ولیدے نو
بد حال هې شو زه د یو غره په پټ کونجه کښې ناست وم د -
مشین ګن په لنډے ماشه باندې ګوته نیولې وه چې ددې انتظار
کښې وم چې هوائي جهاز داسې موقع ته برابر کړم چې ناکاره
یې کړم،

په داسې حالاتو کښې څه وینم چې زما نه لرې درې واړه
ماشومان چې ددوئ عمر به د څلورو کالو نه زیات نه ؤ، د ځان
خوندي کولو دپاره منډې وهي او درې واړه د یوبل لاسونه
نیولي دي، منډې یې وهلې خو چې څه وخت به جهاز په
دوئ د ګولئ چلولو دپاره غوټه وهله نو دوئ به فوراً څملاستل

چې جهاز به پورته شو، نو دوئ به بیا جګ شول، منډه به یې شروع کړه، ما دوئ لیدل چې درې ځله جهاز په غوټه وکړه، هر ځل دوئ ځنې خملاستل، اخیرکار په دې طریقه دغه درې واړه ماشومان ما ته راورسیدل، د دوئ ویریدونکي حالاتو په وجه ما کلک کلک وژړل، مګر د دوئ د فوجي منظم توب ته زه ډېرمتاثره شوم او ورته حق حیران وم، ما دوئ په اوږې وا خیستل، د لیونو پرشان مې په زوره زوره وخندل، او چغه مې کړه چې دغه د راتلونکي وخت غازیان دي، دا ځکه چې قدرت دوئ ته دومره ماشومواني کښې دغه تربیت ورکړے دے».

دغه یو مثال ؤ، د پښتنو غرونه د چترال ته تر بولان پورې د داسو مثالونو نه ډک دي، مګر خدای پاک د محسودو او وزیرو، د ماشومانو او سرتورو بدل ورځنې وا خیستو په ۱۹۳۹ کښې د دوئ ماشومان د هټلر د جهازو او بمو ښکار شول».

د دوئ ماشومان د هټلر د جهازو او بمو ښکار شول چې په لندن کښې یې چغار جوړ کړے ؤ، د شاهور تنګي تباهي جنوبي وزیرستان د پرنګي فوجي تاریخ کښې د خوږ د کابل میوند، وانا د تباهۍ نه کمه نه وه، د غه یوه تنګه دره ده چې قبایل محسود و تر ډېر په چالاکۍ سړ مورچې نیولې وې دا سې ځانونه پټ کړي وو، چې د هوایي جهازو د پاره مشکله وه چې دوئ جاوت کړي، د محسودو د لښکر دغه ډېر کامیاب شب خون ؤ، چې څه وخت

فوجي کانوائي ، درې ته ور داخله شوې وه ، چې ARMED کار هم پکښې ؤ ، محسودو یکدم حمله په وکړه ، چې دې جنګ کښې، اووه(۷) برطانوي افسران مړه شول، پنځه یې سخت زخمیان کړل او ۳۶ هندي افسران مړه ، او دسپاهیانو شمېر خو ډېرو، دغه حمله دحاجي صاحب مشهور جنرال، خونیاخیل محسود دمشرګرې لاندې شوې وه، کمال دغه دے چې دوئ صرف ٤٠ خلویښت کسان، او دپرنګیانو پوره کانوائي وه ، خو ددې نه معلومیږي چې محسود په ګوریلائي کارروایي کښې څومره مهارت درلوده ، ددې بې عزتي او مرګ ژوبلې په وجه دوزیرستان دفوج کمانډر ئې مات کړو، شرمیدلي یې لندن ته ولیږلو، دغه دفقیرصاحب جنګونه څه مقامي جنګونه نه وو، بلکې پټوله دنیا له دې نه خبره وه چې څه وخت پرنګیانو په محسودو او وزیرو باندې ، بمباري تیزکړې ، چې ډېر ماشومان به پکښې شهیدیدل، نو دې باندې لیګ اف (NATIONS) کښې برطانوي حکومت په رویه باندې سخت تنقیدونه وشول، دبرټش پارلیمنټ یو سوشلیټ لیډر مسټرجارج لینز بري د لیګ آف نیشنز توجوئ برطانوي ظلم اړخ ته راواړوله ، هم ددې په وجه برطانیه حکومت وارخطا شو، نو دوئ ۱۹۳۷- کښې په وزیرستان بمباري بنده کړه او د طوري خیل وزیرته یې دروغې پیشکش وکړو، مګر دوئ ردکړو ، پدې باندې وزیر هند برطانیه پارلیمنټ کښې دفقیرصاحب په هلوګلو باندې اوبن د

تقریر اوکړه او فقیر صاحب باندے یې تور اولګوا چې هغه حکومت خلاف فوجي کاروایي
کښې مشغول دے. دغه وخت نه پس دوئ بیا په وزیرستان بمباري شروع کړے.
دفقیر ایپي متعلق یو جرمني پخپل کتاب (افغانستان دهندوستان ارخ ته دروازه) کښې لیکي

Afghanistan, das Tor nach Indien, Herbert Tichy, Ausstellungsjahr 1940

Manche dieser Bergstaemme, wie die Afridi, Waziri, und Mahsud, und Mahmund, sind durch ihre tollkuehnen einfaelle auf Britisch-Indisches Gebiet in der ganzen Welt bekannt geworden. Alle diese Staemme sind Afghanen; wo sie auf indischem Gebiet leben, werden sie von den Englaendern aus politischen Gruenden PATHANS genannt, und sie on Afghanen als selbstaendigen volkskoerper zu trennen.

Der Fakir von Ipi, der den letzten jahren eine fuehrende Rolle unter den Bergstaemmen einnimmt und den Englischen Militaers an der Nordwestgrenze manche schlaflose Naechte bereitet hat, ist nur ein religioeser Fanatiker und wilder Krieger, sondern zeigt auch staatsmaennische Ambitionen. Er veroeffentlichte eine "Regierungserklaerung", in der er fuer die Bergstaemme territoriale Freiheit und eine unabhaengige Regierung forderte.

Der Fakir gekannt bei den Staemmen eine legendaere Gestalt zu werden. Man erzaehlt von seinen uebernatuerlichen Faehigkeiten. So soll ein junger Englaender in Afghanischer Verkleidung sich aufgemacht haben, um bis dem Fakir vorzudringen und ihn, wenn moeglich, zu toeten. Trotz der gelungenen Verkleidung und Vollkommenen Sprachkenntnisse wird der Englaender von dem Fakir entdeckt. Der laesst ihn aber nicht, wie es seine Gefolgsleute fordern, umbringen, sondern er schickt ihn ins Englische Lager zurueck.

ترجمه :- ځینې دغه غریزه قبیلې لکه افریدي ، وزیري ، محسود ، او مومند چې هندوستاني برطانوي علاقو باندې دیرغلونو په وجه ټوله نړۍ کښې مشهوري دي ، دغه ټولې قبیلې افغاني قبیلې دي چې دوئ دهند غاړې ته اوسي ، مګر پرنګیانو په سیاسي وجوهاتو باندې ، دوئ ته پټهان وائي ، چې دوئ د افغانانو نه تر یوبل خپل توم لاندې جدا کړي ، او د افغاني وجود نه یې بېلې کړي .

فقیراف آیې چې دغه قبایلو کښې تیروکالونو کښې یو د مشرتوب رول لوبوي ، او شمال مغرب سرحد باندې یې پرنګیانو فوج ته یې بې خوبه شپې تیارې کړې ، دے یو مذهبي انتها پسند او وحشي ځنګلي ، جنګیالي ، ندے ، بلکې یوسیاسي ریاستي مشر رول لوبولو خواهشات لري ، د په خپل حکومتي فرمان کښې دقبائیلو د پاره علاقې خودمختیاري او ریوآزاد حکومت غوښتنه کړې ده ، او کوي یې .

فقیرصاحب په قبائیلو کښې یو لوئ شخصیت جوړ ښېږي خلک دده متعلق دکرامت خبرې کوي ، چې دے ډېر کرامت لري ، هغه داسې چې یوځل یوځوان پرنګی په افغاني جامو کښې ، او په پښتو ژبه باندې قادر دفقیر دمرګ دپاره تر ده ورسیدو ، باوجود جامې اوژبې فقیرصاحب دے وپیژندو اوجوت یې کړو ، ده دغه پرنګے معاف کړو ، باوجود دے

چې دده مریدانو دده دمرګ غوښتنه کوله، پرنګې یې بیرته خپل کیمپ ته ولیږلو، او پرنګیانو ته یې دده په لاس یو پیغام ورکړو:

هم دے لیکوال یوبل ځای لیکي:

Und wenn der Fakir von Ipi heute zum Heiligen Krieg aufruft, denn wiederholt, was seine vorgaenger tausend Jahre vor ihm taten. Das Rad der Geschichte dreht sich langsam in den kahlen Grenzbergen Afghanistan.

دغه چې فقیرآیپي دجهاد علان کوي، دغه دتیر وخت دوره وال دی، چې دده مخکښې نورو کړي وو، یعنې زرکاله پخوا دوئ کړي وو. دغه دتاریخ چرخ دافغاني سرحد سره جوخت خړو غرونو کښې چرخي.

دلیکوال مطلب دغه دے، چې دهندوستان فیصله همیشه دپاره دافغانستان نه شوې ده، چې داریانه راواخله تر فقیرآیپي پورې، دده مطلب لب لبا دغه دے، چې فقیرایپي تش فقیر ندے، بلکې دتاریخ یو سلسله ده.

یوبل جرمنئ دفقیرصاحب متعلق لیکي:

دکتاب نوم: INDIEN

دلیکوال نوم: LUDWIG ALSDORF

صفحه: (۳۱۸)

“ 1936/37 wurde wiederum Waziristan, das man schon weitgehend “zivilisiert” geglaubt hatte, von einem schweren Aufstand erschuettert. Ein von einem jungen Mohammedaner entfuehrtes und angeblich zum Islam uebergetretenes minderjaehriges Hindu-Maedchen war vom Gericht seinen Eltern zurueckgegeben worden. Ausserdem hatte das Gericht in Lahore einen Streit zwischen Sikhs und Mohammedanern um eine ehemalige Moschee. Wir entsinnen uns der altererbten Feindschaft zwischen Sikhs und Mohammedanern – zugunsten der Sikhs entschieden. Diese beiden Faelle genuegten dem auch in unserem Zeitungen viel genannten (Fakir von Ipi), den religioesen Fanatismus der Torikhel Wazirs zu einem Krieg zu entflammen, der auf englischer Seite bis zu 5000 man im Felde sah. Ende 1937 war die Ruhe wiederhergestellt, ohne dass man aber des Fakir habhaft geworden waere. 1938 gan es schon wieder neue unruhen. Keinen Kenner konnte es ueberraschen, dass gleich nach beginn des letzten Krieges.

Nachrichten von einem neuen Aufstand in Waziristan aus Indien kamen und Nachrichten ueber unruhen an der Nordwestgrenze seitdem nicht abgerissen sind; es waere durchaus nicht verwunderlich, wenn die gute Gelegenheit des europaeischen Krieges und der durch den neuen Kongressfeldzug zunehmenden Unruhe in Indien frueher oder spaeter zu einem neuen umfassenden Aufstand der Pathan-Staemme fuehren sollte.

ترجمه: ۳۷-۱۹۳۶ کښې بیا وزیرستان کښې کوم سخت پاڅون راغئ او منطقې یې وخوځولې، د پرنګیانو خیال وچې وزیرستان مو مهذب کړے دے، دغه واقعې یا د پاڅون وچې دوه وې، یوه دغه چې هندوه کم سنه جینئ یو مسلمان اغوئ او بیا مسلمانه شوې وه، خو عدالت مو راو پلار ته واپس وکړه، بله وجه یې دلاهور د جماعت وه، چې د سکهانو او مسلمانانو ترمینځ پرې تنازه روانه وه، او دغه هم عدالت د سکهانو په حق کښې فیصله وکړه، چې د دې سره د سکهانو او مسلمانانو زړه بدي او دښمني د نوي سر نه لمبه واخیسته.

دغه دواړه وجې د مذهبي انتها پسند و طوري خیل وزیر د پاره کافي وې چې د جنګ شعلې جوړې کړي چې زمونږ په اخبارونو کښې ډېر ډېره یاد شوې دي، فقیر اف ایپي خلاف برتنش انډیا پنځوس زره فوج راجمع کړے دے، په ۱۹۳۷ کښې حکومت لږه قراري راوسته بغیر د دې نه چې فقیر د دوئ لاس ته ورشي او په ۱۹۳۸ کښې بیا شورش او بې آرامي جوړه شوه، د وزیرستان نه خبر خلکو ته دغه څه د حیرانۍ خبره نه ده، چې کوم نوي جنګونه شروع شول، او د هندوستان شمال مغربي سرحدونه مسلسل دغه خبرونه راځي چې هلته نه قراري ده، او د دې تسلسل کټ شوے نه دے، دغه څه د حیرانۍ

خبره نه ده چې د یورپي جنګونو په وجه دکانګرس ګوند
به دې بې آرامۍ ته لمن وهي، اوس یا روستو به پټهان،
قبائیل یوه لوئ پاڅون مشرګري وکړي.

نوټ:- دغه کتاب بنیادي ددې دپاره لیکل شوے
دے، چې دویم جنګ عظیم کښې جرمنیانو ته دپرنګیانو دښمنان
په هند کښې ور په ګوټه کړي، چې دوئ وروسته یا رابطه
وساتي، همدغه وجه ده چې دجرمن جاسوسي محکمې دلته ډېرې
ګرمې وې، دوئ غوښتل چې دپښتنو او پرنګیانو ددښمنۍ نه
فایده واخلي، اودفقیرایپي په ذریعه پرنګیانو ته مشکلات،
جوړ کړي، نوځکه جرمنیان دوزیرستان پاڅون ته
ډېر په اُمید وو، بلکې دوئ دفقیرایپي صاحب سره رابطه
جوړه کړې وه. یوځل ماته خلیفه لطیف وزیر په کابل کښې
ویل: چې دپرنګي سره جنګ کښې له مونږه سره المانیانو کمک، کولو،
ده یو مثال راکړو چې مونږه یوځل په رزمک کیمپ باندې د
توپونو زې کولې، چې ګوله به کله دکیمپ نه لنډه شوه، او کله
به په واوښته، خوکیمپ په مینځ کښې نه لګیده، ده ویل چې
مونږه حیران وو، چې څه وکړو، ویل یې چې یو وزیر
وویل: چې ما خوب لیدلے دے چې زمونږ نه شاه ولي زیات
خفه دے، هغه راته خوب کښې وویل چې ترڅو موزه خو-
شحاله کړے نه ووم ستاسو تو په به صحیح ګوزار ونکړي.

ویې ویل: چې ماځینې خوب کښې تپوس وکړو، چې ته به په څه راضي کیږې؟ شاه ولي زبات راته وویل: چې تاسې صبا په ما یوه غوا قرباني او حلاله کړئ، زه به راضي شم، او تو په به صحیح شي. خلیفه وویل چې موږ ته دغسې وکړل، خو تو په بیاهم نه سمیده، بیا ماخیال وکړو چې کوروبکۍ مرکز ته لاړشه، سور مُلا راوله چې ما سور مُلا راوستو او د تو پې معائنه یې وکړه دوه ډزه یې په وکړل، چې کله به لنډ اوکله به په واوښتو، بیا یې دتوپ کولی تول کړه، تول یې برابر کړو، اولاس یې پور ته کړو، چې دعا اوکړي، چې خدای ځمونږ تو په په مرکز د کیمپ کښې ولګي، موږ ته دعا وکړه، سور مُلا په کیمپ ډز وکړو چې په مرکز کښې ولګیدو، موږ ته تول خوشحاله شوو، په حقیقت کښې دغه یوجرمني ؤ، سور سپین او سړه زیره یې وه موږ ورته سور مولا ځکه وئیلو، چې پرنګیان یې ونه پیژني موږ یوخو خاص کسانو ته پته وه، دے یو فوجي تیکنیکل سړے و، ددې نه معلومیږي چې څومره ښه دې رابطه وه.

دحاجي صاحب متعلق خلکۍ قسما قسم خبرې کوي، خو حاجي صاحب یو پښتون قوم پرست او ضدي سامراج، مسلمان ؤ، دے هند کښې دپرنګي مخالف ؤ، او د پاکستان هم مخالف ؤ، دده په مخالفت او باچا خان په مخالفت کښې هیڅ فرق نه ؤ، دواړو د هند تقسیم دهند د مسلمانو تقسیم کنلو،

ترجمه صاحب دده متعلق په خپل کتاب صفحه ۱۸۹ کښې داسې لیکي:

فقیر ایپي کا قیام پاکستان پر انتباه:

فقیر صاحب نے ۱۹۴۶ می پاکستان کے قیام پر خون - خرابه هونے پر انتباه کیا تها، که یه غلط طریقي سے بنایا جارهاتا، مجاهد کبیر فقیر حاجي مرزا علي خان المعروف فقیر ایپي کي عظیم تاریخي شخصیت کو اج تک پیچانا نهی گیا، پاکستان کے قیام سے پهلے، انگریز انٹلیجنٹس بیوریو کے کارکن، ان کے پیر کاروں کے ٹهکانے کی نشاندهي کرتے اور فوج حملے کیا کرتی، اور هوائي جهازو سے بمباري کی جاتی رهي، اور قیام پاکستان کے بعد اس مجاهد کبیر کے کردار کو غلط رنگ می پیش کیا گیا اور ان کے خلاف غلط مهمیاں پهلائی گئی.

فقیر صاحب ایپي پاکستان کے قیام کے بعد بعضی پاکستان کے مخالف رهے تهے اس لئے نهی که یه مسلمانوں کی حکومت هے، بلکه اِس لئے که یه غلط طریقه سے بنا هے، اِس سے هندوستانی مسلمانوں کو تین حصوں میں تقسیم هونا پڑا - اِس وجه سے پاکستان کی ایٹلجنٹس کے ادمی ان کے سلسلے میں کام کرتے رهے. فقیر صاحب ۱۹۴۶ می فرما رهے تهے، که جس طرح پاکستان بن رها هے میں اِس کا مخالف هوں، اِس سے مسلمان تین حصو می بٹ جائیں گے اور پاکستان کے قیام کیلے جتنے مسلمان عورتوں اور معصوم

بچوں کا خون بہا جانے والا ہے ،میں اسکا مخالف ہوں،اِس سلسلےمیں مولانا ابوالکلام آزاد کی یہ تجویز قبول نہی کی جائے گی ، مشرقی پاکستان کی جگہ مشرقی پنجاب کا مطالبہ کیا جائے جس میں دھلی بھی اٹے گا ، اور کشمیر بھی مغربی پاکستان والے مشرقی پاکستان کیلیے پنچیں گے ، ھندوستان میں رھنے والو کا کیا بنے گا ، جس شکل میں پاکستان بنایا جارھا ھے ، اِس میں کشمیر شامل نہیں ھوگا ، اس پر خون خرابہ ھوگا میں اِس کے ، خلاف ھو" اِس قسم کے تیز کشف والے بزرگ اب کہاں ، کہ پاکستان کے قیام سے پہلے پاکستان کا پورہ نقشہ کھینچ کر دکر دیا"

نوٹ : یہ باتیں فقیر صاحب ایپی کے دو مریدوں نے ۱۹۴۶ می دوابہ ،کوھاٹ می خود عبدالحلیم اثر سے کھی تھے ، جب ابھی پاکستان نہیں بنا تھا او عبدالحلیم اثر اورکزئ کے علاقی ماموزئ میں پاکستان کے حق میں ایک بڑا اجتماع کراکر واپس آرھے تھے ۔

مشہور پښتون لیدر مفرخان عبدالولی خان پخپل کتاب FACTS ARE SACRED صفحہ ۸۸ کښې د فقیر ایپی متعلق دا سے لیکی :

There is an interesting story of earlier days. At the start of German trouble making Europe, the British pressed the Afghan government to expel all Germans from their territory. To add to the pressure they let loose a Shami Pir in the tribal areas. His brief was to spread disaffection against Afghan ruling family. After achieving their objectivein Afghanistan, the Shami Pir was brought over to Wana Cantonment in Waziristan and paid a fee of f. 25000-. In England, the Secretary of State for India liked

the stratagem immensely, and write to the Viceroy to try for a similar arrangement with Fakir Ipi. The Viceroy wrote back to him on July 14, 1938 this:

There is, I fear, no possible chance of dealing with him(Fakir Ipi) on the same lines as the Shami Pir. He is not only implacable but also completely incorruptible ---- who would rid me of this turbulent Priest!

ترجمه: دلته یوه دلچسپه قیصه ده دهغې وخت چې څه وخت جرمنیانو یورپ کښې مصیبت جوړولو نوحکومت برطانیه افغان حکومت ته په کلکه وویل، چې دخپلې علاقې نه ټول جرمنیان اوباسه، د دباؤ دزیاتولو د پاره یې شامي پیر قبایلی علاقو ته خوشې کړو، دده میشن دغه وچې دے به شاهی کورنی خلاف کرکه او نفرت جوړوي، او بې ارامي به راولي، چې څه وخت د دوئ مقصد ترسره شو نو شامي پیر یې په څټوانړه کیمپ نه راوستوا... ۲۵ زره پونډه پیسې یې ورکړو، د دې سودا په وجه سکرټرۍ د هندوستان د پاره په لندن کښې دپرمتا ترسره شو، او دغه سوداورته دپره ښه وښکاریده، نو واسرائے هند ته یې ولیکل چې دغه فارموله په فقیر ایپي استعمال کړي، نو واسرائے هند په ۱۴ جولائ ۱۹۳۸ واپس ورته ولیکل:

دلته زما سره دغه خوف دے، زه یقین نه کوم چې د پیر شامی والا سودا به په فقیر ایپي باندے تطبیق شي، د دې امکان بیخی نشته دے صرف نه ځمونږ کلک مخالف دے بلکې مکمل د لالچ نه آزاد دے، د دولت په وجه یې په بیعه دے مذهبی مسئله اخیستل ناممکن دي د غه لوئ انسان او-

مجاهد، مسلمان او قوم پرست پښتون د ژوند تر اخري سلګۍ پورې، پخپلو نظريانو باندې ټينګ ولاړ و، روستودده عمر او روغتيا داسې مرحلې ته رسيدلې وه، چې فقير صاحب به دخپل مرکز کورويک کښې ناست و خو دغه لوئ پښتون نه پرنګي او يا پاکستاني او نه افغاني واکدارانو په قيمت واخيستے شو، او نه دوئ هيروے شو، ده پخپل ساده ژوند صبر کړے وُ نو ځکه دوئ ټول عمر په ارام پاتې شو، د نورو باباګانو غوندې د مغلو، پرنګيانو او پاکستانيانو، د حلوے تال ته مجبور نه شو، چې د بنمن پرنګي هم د دې اعتراف کوي چې حاجي صاحب خرخيدونکے نه دے. چې د شامي پير غوندې خرخ شي، همدغه د ده لوئ وه، چې ده جهان او ځان دواړه پيژاندل، د خپل ځادر مطابق يې پښې غزولې، دے د پير روښان، ملا پيونده نه پس وزيرستاني خاوره کښې، زرغون شوے وُ، خو انسان وُ، لخر دے هم د فاني نړۍ نه په ١٦ اپريل ١٩٦٠ کښې لاړو، او ٢ شوال ١٣٧٢ هـ ق نماز عشاء دا د اکولو نه پس لس بجې ٤٥ منټ باندې يې ساه ورکړه او دده په وفات باندې ټول پښتانه او ضد سامراج خلک ډېر خپه او غمجن شول، د جهان د عامو ريډيو ستيشنونو نه د دوئ د مرګ خبر خپور شو، او اخبارو په ادارئ وليکلې، چونکه حاجي صاحب بې اولاده وُ نو د دوئ د وصيت مطابق د دوئ وراره او رور شير زمان زوئ بنا غلے نيازعلي خان ته د مشرګرۍ پګړۍ ورپه سر کړه، او د امير خطاب يې خپل کړو.

پاکستان او د باچاخان قید

چې څه وخت د هند د تقسیم فیصله وشوه، نو ددې سره د هند د مسلمانانو د تقسیم فیصله هم وشوه، چې باچاخان ددې مخالف ؤ، نه صرف باچاخان یې مخالف ؤ بلکې ابوالکلام آزاد، او نور مسلمان قوم پرست مشران هم وو، جماعت اسلامي، خاکسار تنظیم هم ؤ او د هند ویش جغرافیایي نه ؤ، قومي بنیاد و نو نه ؤو، نژادي او ژبني نه وو، او اقتصادي نه وو، بلکې د مذهب په نوم وو، چې پاکستان اول ملک ؤ چې د مذهب په نوم جوړ شو، نو باچاخان یو منطقي انسان ؤ، پېښتانه هند کښې وو، او مسلمانان وو، نو خپل پخپله دوئ پاکستانی برخه کښې راتلل، او بل جغرافیائي پوزیشن داسې ؤ چې د هند سره یوځائ پاتې کېدو، هیڅ امکان نه ؤ، او بل کانګرس هسې هم د خدائ خدمتګارو سره غداري او بې وفائي کړې وه، مګر ددې، ټولو منفي حوادثو باوجود خدائ خدمتګار تحریک، په پښتنو کښې له ټولو نه مقبول تحریک دے، نو که په پاکستان کښې جمهوریت وے، نو ددوئ حکومت چا د مینځه نه شو وړے، مګر پاکستان د جمهورت دپاره نه ؤ جوړ، بلکې،

شمالي مغربي سرحد ، پرنګيانو او امريکا يانو خپلو برېڅو په لاس کښې ، ساتل غوښتل ، چې د سويټ يونين او کمونيزم مخه ونيسي چې کرمو اوبو ته راکوز نه شي ، د تقسيم با وجود دوئ په سکيم کښې خدائ خدمتګار يو خنډ ؤ ، نو رو او سپينو پرنګيانو سوچ وکړو ، چې خدائ خدمتګار به په پښتونکښې څرنګې بې عزته او بې اعتباره کوو ، نو دوئ د ډېر غور او فکر نه پس ، د ريفرنډم (Drama) رامنځ ته کړه ، چې هيڅ منطق يې نه مني ، د هند فيصله د مذهب په بنيادشوې وه ، او پښتانه مسلمانان وو ، نو دوئ د پاکستان حصه جوړشوې وو ، خو مسلم ليګيانو ته پته وه ، چې خدائ خدمتګار په حقيقت کښې د کانګرس نه جدا تنظيم دے ، چې مرکزي هند کښې نه بلکې پښتونخوا کښې دے ، دوئ پښتون قوم پرست ، او ضد پرنګي دي ، او خپلو خلقو کښې مقبوليت لري ، پرنګي نوکرشاهي او مسلم ليګيانو په شريکه ريفرنډم سازش وکړو ، چې خدائ خدمتګار خلقو ته ور په ګوته کړي ، چې دوئ د اسلام او مسلمان او پاکستان مخالف دي او بهر دنيا ته وښائي چې موږ ته دومره ، جمهوريت پسند يو ، چې د پاکستان د پاره موږ ته د پښتنو نه تپوس کوو ، چې که ستاسې خوښه وي راشئ او که خوښه مو نه وي ، نو بهر پاتې کېدائے شئ ، چې دغه ټوله يوه نمايشي ډرامه وه . باچاخان ورته صفا وويلي وو : چې د هند د تقسيم فيصله

د مذهب په نوم شوې ده، د دې سره د پښتنو د قسمت فیصله هم تاسو کړې ده، د هند او پاکستان په نوم باندې، ریفرنډم هیڅ معنیٰ نه لري، او که تاسو خامخا یې کول غواړئ نو پښتنو ته یوه د ریمه خوښه کیږدئ، چې هغه پښتونستان دے مګر دغه دوئ چیرته کول، د دوئ مقصد خود خدائ خدمتګار و د بې عزته کولو او د صوبائي حکومت د پرنګولو د پاره، پلمې لټولې نو پاچا خان د دې ډاډې نه باثي کاټ وکړو، چې دغه بالکل صحیح قدم وو، او بل باچاخان جناح ته ویلي وو، چې زه اُصولاً د هند د مسلمانانو د تقسیم مخالف وم، چې اوس وشو، نو د پاکستان د مسلمانانو خدمت ته تیاریم، جناح سیاسي سړے وُ، هغه د پاچاخان د خبرې سره اتفاق وکړو، دا ځکه چې جناح پخپله د کانګرس غړے پاتې وو، خو مسلم لیګ خوخه داسې ګوند نه وُ، چې دوئ سیاسي جدوجهد کړے وو، دغه خو د پرنګیانو چمچې وې، چې صاحب تلو، نو دوئ ته یې د هند یوه ټکړه پریکړه او وریې کړه، او جناح صاحب په خپله د مسلم لیګ د جاګیردارو نه تر پوزې پورې وو، او ده ځکه وئیلي وُ، چې مسلم لیګ څه دے، (حُما تایپ رائټر او زه) چونکه دوئ مفاد پرست خلک وو، نو د دوئ نه په مسلمان کارو اونه په پاکستان په دوئ کښې به چیرته دوه فیصده یا درې فیصده صح خلک وو، اکثریت یې غلط خلک وو، دوئ د اسلام او مسلمان دښمنان

وو، هم دغه وجه ده چې پاکستان کښې استحکام نه راځي، داځکه چې دغه د مسلم لیګ لاتېري راوتې وه، دوئ څه سیاسي ټګ و دوئ نه وکړے، جناح صاحب په خپل اوږده سیاسي ژوند کښې، دیو منټ دپاره جیل کښې ناست نه دے، او بل اړخ ته ګاندهي باچاخان، نهرو، ابوالکلام آزاد عبدالصمد خان اچکزی او نور سیاسي لیډران، جیلونو ته بوتلل شول، مګر مسلم لیګ نه، داولي؟ داځکه چې دوئ داستاد خلک وو، (یعني دپرنګي)، هم دغه وجه وه چې پاکستان کښې نه جمهوریت ولئ و، کړي، نه اسلام راغئ، نه انصاف او نه اقتصادي خوشحالي بلکې دتقسیم نه وروسته د هندو او مسلمان په ځائ دبنګالي پنجابي مهاجر ترمنځ نفرت جوړ شو، ددوئ په اقتیدار جنګ جوړ شو، جناح په خپله یوجمهوري سړے نه ؤ، دده په قلم د ډاکترخانصاحب وزارت ماتې کړے شو، چې دغه اولنۍ پاکستانۍ تحفه وه، چې پښتنو ته یې ورکړه. د دوئ خلاف په اسمبلۍ کښې عدم اعتماد تحریک پیښ نه کړے شو، بلکې دکراچۍ نه جناح صاحب دقلم په کرښه دغه کار وکړو چې دې کښې قیوم خان ډېر رول لوبولے ؤ، دجناح اوباچاخان په مینځ کښې یې شیطانت کولو، داځکه چې دے په خپله دپاکستان دجوړیدو نه لږ مخکښې دکانګرس ممبر ؤ، خوصرف ممبر نه ؤ بلکې دهند قومي مرکزي اسمبلۍ کښې دکانګرس دغاړې،

دپارلیمنټ ډپټي سپیکر ؤ، نو چې حالات یې ولیدل چې اوس پاکستان جوړیږي، زر یې مسلم لیګ کښې نوم درج کړو، او اصلي مسلم-لیګیان یې صوبه سرحد کښې وګټول، او ده به ویل چې زه د بهر نه شین یم او دننه سوریم، یعنې په ظاهره مسلم لیګ یم، او حقیقت کښې کانګرسي. څه دغه نمونه خلک د ملک مشران شي د هغې وطن خدا حافظ.

باچا خان پاکستان کښې اولنے سیاسي مشرو، چې د پاکستان په قومي اسمبلۍ کراچۍ کښې ۱۹٤۷ کښې سوګند پورته کړے ؤ مګر مفاد پرستو د پاڅ دغه کانی نه ؤ، دوئ په حقیقت کښې د باچا خان د صافه او بې داغه سیاست او خدمت مخالف ؤ، دوئ خو ټول غله ؤ، نو داسې سړئ د دوئ بدي شو، چې هغه به د دوئ په خیر نه ؤ، پاکستاني واکدارانو یو پسې بل سازش تیار ولو، اوس دوئ باچاخان ته لاس اچولو، او همیشه د پاره خدای خدمتګار د سیاسي سټیج نه ورکولو په منصوبې کار شروع کړو. حکومت پاکستان ۱۵ جون ۱۹٤۸ کښې باچاخان بهادر خیل کوهاټ سره ګرفتار کړو، باچا خان بنوں ته روان ؤ، چې د خدای خدمتګارو په جلسه کښې شرکت وکړي، باچاخان د اسلام تر نوم لاندې جوړ پاکستان د دفعه ٤٠ سرحدي لاندې وینولوچې F.C.R دغه قانون پرنګیانو ۱۸۱۸ کښې د هندوستانیا نو خلاف جوړ کړي ؤ، چې دغه قانون روسته صرف د پښتنو-

دپاره و، چې دغه ولاندې پښتنو نه پاچاخان ختم کړے ؤ، او
قبائيلي علاقه کښې ترنن ورځې پورې هاوی دے، په دې،
قانون کښې نه مقدومه شته او نه صفائي او نه وکيل دغه دحکومت
په لاس کښې يوه چاره ده چې چا ته يې مرضي راشي، په حلال
يې کړي، چونکه باچاخان خلاف ددوئ سړ څه ثبوت نه ؤ،
نو ځکه دوئ دغه ړنده انسان دښمنه دفعه په ده ولګوله،
او بغير مقدمې يې ددرې کالو دپاره جيل ته وليږلو او الزام
يې دغه په ولګولو، چې باچاخان دفقير ايپي سره سازش کولو
نو دغه دپښتنو او خاصکر دخدای خدمتګارو دپاره پاکستان
کښې نوره ورځ وه، چې ورپسې پاکستاني واکدارانو پرامن
جلسه باندې بابره چارسده کښې ګولۍ وچلولې، چې د پښتنو
دماشومانو، ښځو او سړو په وينو دوئ بابره سره کړه، دغه
بله اسلامي او پاکستاني تحفه وه، چې دپاکستان يوکال پوره
شوے نه ؤ، چې پښتنو ته يې درې تحفې ورکړې، ددوئ
صوبائي حکومت يې مات کړو، ددوئ مشر يې وينو، او -
خدای خدمتګارو تحريک او پښتون اخبار يې ورته ممنوع
کړل، او دريم يې ددوئ په وينو بابره سره کړه، که څه
هم باچاخان په دې ښه خبر وچې پاکستان جوړ شي، د
دوئ به څه حيثيت وي، نو ځکه اصلي مسلم ليګيان نقلي قيوم
ليګي وړبول، دوئ يې جيلونو ته ددننه کړل، دښو يو مسلم ليګي

ؤ چې دمساز خان نوم يې ؤ ، چې پاکستان جوړ شو
قيوم خان دے جيل ته کړو. يو بنوچي شاعر دغه،
شعر پسې جوړ کړے ؤ ، چې پاکستان دې جوړ وه :
اوس ويرته تهم شه ، دمسازه کير (کور) دې رنګ شه .

نو پاکستان کښې يو د دمساز کور رنګ نه شو بلکې دپېړو
ملي خلکو دغه حال ؤ ، ځکه پاکستاني او پرنګي سياست
کښې پښتنو ته څه فرق نه معلوميده ، دوئ کښې مشهوره
شوه ، (خرهغه دے خوکته يې بدله ده)

بس پاکستان څه ؤ ، د مهاجرو او پنجابيانو دبزکشي
ميدان ؤ ، چې بنګاليان ، سندهيان ، بلوڅيان او پښتانه پکښې
دل کيدل ، د مقامي خلکو په لاس هيڅ ورنه راغلل ، ژبه ،
دلکهنو هند نه راغله ، صنعت او بانکونو باندې دبهرو والاقبضه
وکړه ، د هندوانو کورونو او جائيدادونو باندې مهاجرو او
مقامي مسلم ليګيانو قبضه وکړه ، نوکرو باندې هندوستانيانو
او پنجابيانو قبضه وکړه ، په پاکستان کښې د پښتون په لاس،
هيڅ نه ورغلل ، بس کراچۍ کښې بيلچه يا چوکيداري ورپاتې
شوه بنګالي يې په خپله ژبه پورې ودبولو، سندهي زمکه
لاړه او د پښتون او د بلوچ هرڅه لاړل ، دا سلام او پاکستان
ترنوم لاندې . او باچا خان دوئ بغير څه ثبوت تر ۱۹۵٤
پورې زندان کښې وساتلو ، دا ځکه چې باچا خان دغلو

او لوټ مارو دله کښې نه شامیلیدو، دجناح صاحب نه هم دوئ ځان خلاص کړو، هغه داسې چې پاکستان جوړ شو، جناح صاحب سخت بیمار ؤ، نو ده لیاقت علي خان ته ویلي ؤو، چې اوس ماته لږ ارام پکار دے. زه غواړم چې دلنډ وخت دپاڅ سویټ زر لینډ یا بل یورپي هیواد ته لاړشم، چې لږ مې هوا بدله شي لیاقت علي خان ورته وئیلي وو، چې دغه غول اوس موږ ته پریږدي، دلته پاکستان کښې چیرته مرې یا کوئټې زیارت ته لاړشه، دهوائي اډې کراچۍ او کوئټې جنرال هاوس تر مینځ درې څلور، ایمبولینس خراب شوي وو، جناح بابا یې قوم یې د-کراچۍ په مچانو اوماشو ښه وخوړو، چې مرګ تر رانږدې شو، بیا یې راوړو، او قسمت یې ښه ؤ چې زر خدای مړ-کړو، که اوږ د ژوند یې وے، نو پاکستاني جرنیل به په کودتا کړې وه یا لیاقت علي خان غوندې به یې چا کار تمام کړے ؤ، چې دیو قوم د بابا سره دغه سلوک کیږي او هغه وطن کښې دباچا-خان یا خدائ خدمتګار وسره د سړي توب سلوک کول د بې وقوفانو جنت کښې اوسیدل دي.

ون یونټ
او
پاچاخان

چې څه وخت اقتدار د مسلم لیګیانو په لاس ورغلو، نو دوئ اول د بنګاره سیاسي د بنمانو نه بدل واخیستو چې هغه باچاخان او خدائ خدمتګار وو، او ور پسې د جناح نه خلاص شول او بیا یې لیاقت علي خان ځائے ته ورساوه، او زاړه او لږ اُصولي مسلم لیګیانو نه یې دوړې پورته کړې، لکه جی، ایم- سید، پیرمانکی، او دغسې بنګال کښې اوس مرکز کښې په آئین او اختیارا تو باندې د بنګالیانو او پنجابیانو جګړه جوړ شو، په نوکر شاهي کښې پنجابیان زوروور وو، مګر د آبادی په لحاظ بنګالیان ډېر وو، نو د دی علاج د پاره پنجابیانو او مهاجرو مافیا یو سکیم جوړ کړو، چې د دې سکیم مقصد څو دوله ؤ:

یو مخ یې دغه ؤ چې بنګالیانو د پاره یو بند جوړ کړي، چې دوئ د اقتیدار نه لرې وساتي، او بل یې دغه وو:

چې د دې نوم لاندې د صوبونو ځان خلاص کړي، نو بنګالی
به سندهی، پښتون یا بلوچ په لاس کښې را نه شي،
نیولے، او موږ ته به ورته دوه یونټ یعنې مغربي پاکستان
تر نوم لاندې بنګالي ته مخاذ جوړ کړو، او بل به دسیاسي
فایدې په ځائے اقتصادي واک زموږ په لاس راشي، او
موږ به دسندهي زمکه د بلوچې او پښتون قدرتي ذرایع
باندې قبضه وکړو، چونکه مسلم لیګ مفاد پرست ګوند،
د ے. بلکې ګوند ورته وویل: د ګوند بې عزتي ده، بلکه
بیوه ډله دمافیا وه، نو د دوئ په ویش سره ورانه شوې
وه. تر ۱۹۵٤ پورې دوئ پاکستاني چیکر کښې یوبل سنبه
راکښلي وو، اخر هغه نمائشي پارلیمنټ هم غلام محمد چاړه
ورته رنګ کړو، اوس هغه په نوم سیاست دانو نه واک سول
او فوجي پنجابي او مهاجر بیورو کراسي ته لاړو، نو د
خپلو مفادانو ساتلو دپاره دوئ ته بیا پخوانی، په دوئ
ډېر ګران او د زړه سر وریاد شو یعنې باچا خان.

نو په دوئ کښې ځینو خیال وکړو چې باچا خان به جیل کښې
تنګ شوے اوسم شوے وي، چې موږ یې آزاد کړو دے
به ډېر ممنون وي، او هرې خبرې ته به تیار وي، نو دے
ډېر اثر لري، نو موږ سره به دوه یونټ جوړولو کښې،
مدد وکړي، نو د دوئ دوست اخبارونو کښې د باچا خان،

په حسق کښې دمګر چمه اوښکو تویول، شروع کړل، اوبل پدې وخت کښې په ډاکټر صاحب باندې څه چل شوے ؤ، کېدا ئې شي چې دده دغه خیال ؤ، چې په دغه نمونه به زه د پښتنو دپاره پاکستان کښې د عزت ځائ پیدا کړم، یا به کیدای شي چې داقتیدار ملیرے حمله په کړې وی، بهرحال دده ناسته پاسته دباچا خان داصولي، ملي سیاست سره سمون نرخوړو. نو مخالیفونو په ډاکټر صاحب تر دې کوټې وهلې وې، چې دده او باچا خان پخپله دون یونټ په سرسیاسي لارې جدا شوي.

باچا خان پخپله دون یونټ متعلق داسې لیکي:

« په ابتدا کښې د بعضو ساده او ناپوهه خلقو داخیال ؤ، چې دا هرڅه چې کیږي، نو د خدائ خدمتګار روسه کیږي، ولې ډېر زر دا خبره څرګنده شوه چې د سازش یوازې دیوجماعت خلاف نه وو، او هرڅه چې یې وکړل، هغوئ ټول قام پښتون قام سره وکړل، ولې چې هرکله دوئ په دې خپلو پلیتو غرضونو کښې کامیاب نه شو. او د پښتون نه یې هغه پاګه جذبه و نه ښکلې شوه، نو بیا یې لکه دمدایانو ورپسې د پټیار نه نوې لوبه راوښکله **یونیو نټ**: اول خو دوئ ډېر کوشش وکړو، چې هغه به په پارلیمنټ کښې پاس کړي، په دې سلسله کښې ما باندې هم ډېرې جرګې اوننوا تې اوکړې، خو چې یو یونټ په پارلیمنټ کښې پاس نه

شو، نو بیا یې د زونل فیډریشن د جوړولو کوشش وکړو، ولې،
چې په دې کښې هم کامیاب نه شو نو بیا گورنر جنرل غلام محمد
ولګیدو پارلیمنټ یې په زور مات کړو، ولې چې هغوئ هیله په
اته کاله پس د پاکستان آئین تیار کړو، خو چونکه یونټ یې و نه
منه، نو هغه کړې خواری یې ورله په سین لا هو کړه، او ملک
بیا بې آئین پاتې شو، او عجیبه خبره خو دا ده چې څو پورې آئین
نه وو جوړ نو پارلیمنټ قایم ؤ، خو چې څه وخت آئین جوړ شو
نو پارلیمنټ یې مات کړو، د دې نه پس یې د خپلې خوښې پارلیمنټ
جوړ کړو، او د هرڅه نه اګاهو پرې د یونټ منصوبه پاس کړه
او د آئین غوندې ضروري کار په ځائ پاتې شو، دا هرڅه
دوئ څله وکړل،؟ د دې جواب به هرچا ته د هغې خفیه سرکارې
دستاویزونه معلوم شي کوم چې د یونټ د منصوبې په نوم
گورنر جنرل غلام محمد، چودهري محمد علي سابق وزیر اعظم
ممتاز دولتانه، گورماني او نورو سرکرده پنجابیانو جوړ
کړے دے، زه د هغې لیکلې شوے خفیه دستاویز نه
ځینې خبرې د قام ځکښې بن دم، چې هغوئ هغه وګوري
او د یو یونټ په حقیقت او غرض ځان پوه کړي، قام د
سردار عبدالرشید خان دې مشکور دے، چې هغوئ په
پارلیمنټ کښې دغه دستاویز ښکاره کړے او قام ددې لوئ
او خطرناک سازش نه خبردار کړے دے.

دغه دستاویز هغه ځینې ځینې حصې دادي:

مونږ د مسلم لیګیانو د خولې د پاکستان د سالمیت او د وحدت ډېرې اوږدې خطبې شاګردام اورو، ولې د دې لاندینو دلیلونو په لوستو سړی به تاسو ته معلومه شي، چې دوی په خپله د دې وحدت او سالمیت په باره کښې څومره عقیده لري. او ترکومه حده پورې پرې ملا تړي، په دغه خفیه دستاویز کښې د (دا یونټ ولې پکار دے) د سرخې لاندې لیکي:

«د مشرقي او مغربي پاکستان ترمینځه جغرافیائي او انتظامي مشکلات دومره ډېر دي، چې د دواړو برخو یو مضبوط او پائیدار تړون عمل کښې ناممکن دے، . . . . په مشرقي او مغربي پاکستان کښې د پاکستان تقسیم د پاکستان د پاڅ یو داسې پیچیده مسئله جوړه شوې ده چې په هیڅ وجه حل کېدلے نه شي، لکه د مشرقي او مغربي پاکستان ترمینځه د زرګونو میلو فاصله د هندوانو په قبضه کښې ده، همدارنګه د دواړو برخو د بالکل مختلفې ژبې دي، هغه ځای خلق ډېرګڼ دي، ولې د امدن ذریعې یې ډېرې دي، انتظامي معاملې یې جدا جدا پالنه غواړي، دا ټولې داسې مسلې دي، چې هسې خبرے نه دي، بلکې ښیا دي او حقیقي مشکلات لري. او هم په دې به د دواړو برخو اوسیدونکو کښې دیو بل خلاف شکونه راپیدا کیږي، بله به تړې نه هیڅ نه جوړیږي» (خفیه دستاویز صفحه ۲).

که چیرې هم د دوئ دوینا مطابق د بنګال او مغربي پاکستان په یوځائ کیدو کښې دا مشکلات نشته ، نو موږ تش دومره ځان پوهوو ، چې دا مشکلات د ټولو مختلف ژبې دي او که نه؟

۲ - « پښتنو سره بجلي ده ، بلوچستان کښې معدنیات دي او په سند کښې ډېره زمکه ده ، نو د سرحد د بجلي خوا مخوا به پنجاب ته فایده ورکول غواړي ، د بلوچستان او قبائلي علاقو معدني دولت ته به ترقي ورکولو په وجه په معاشره کښې برابري راوستې شي ، د سند او بهاولپور د زمکو په سبب به قبائلو خلقو له به د سر سورے ورکیدے شي ، دا کارونه لګیادي اوس هم کیږي ، خو په دې کښې ډېر مشکلات دي او دا به ډېر وخت اخلي ، ولې دا سې طریقه راوښکل غواړي ، چې دا کارونه په خپله په یوه ډېره منظمه او روانه طریقه ، په لږ وخت کښې وشي ، او دا بې د صوبو دورانولو نه نشي کېدے » .

د مغربي پاکستان صوبې دا سې جوړې دي ، چې هره صوبه په خپل کورنه ده پوره ، خوا مخوا په یوه بله تر محتاجه دي ، او عمر له به یې سره لکه د ساهوکار او قرضدار ګران دي

«خفیه دستاویز صفحه ۵٤ »

د دې پورتنیو دلیلونو په رڼا کښې دا خبره څومره صفا معلومیږي ، چې په خوله که څوک هرڅه وایي ، خو تول چل د صوبه سرحد بجلي ، او د بلوچستان معدني دولت او د سند

مرکز ته جوړ دے.

۳- «اوس خو حالات داسې جوړ دي چې واک اختیارتول دمرکز سړ دے، د دغه واک اختیار ډېره مشري دبنګال، ده، زمونږه برخه ورکښې ډېره لږه ده، خو چې یونټ جوړ شي، نو واک اختیار به مشرقي او مغربي خصو ته یو شان کوتو له ورسي، او په دې به مکمل اختیار په اوځل د قبلیز پاکستان لاس ته ورشي «خفیه دستاویز ص نمبر ۷».

اوس خو بنګال چې مرکز تر څومره رقم ورکوي، په خپله دهغې ډېر زیات واپس د مرکزي حکومت نه دخپل خرڅ دپاره اخلي، خو دیو یونټ جوړېدو سړ به په وفاقي حکومت کښې دابوج زمونږ داوږونه تر ډېره حده کوز شي.

«خفیه دستاویز ص نمبر ۷».

٤- یونټ څنګه جوړول پکار دي؟:

«ولې قبل ددې نه چې مونږ دسیاسي اقتدار دحاصلولو دپاره کار شروع کړو، مونږ له پکار دي چې څه موده، اول، دهغه ټولو مخالفو قوتو خاتمه وکړو، کوم چې به مونږ تر زمونږ دسیاسي اقتدار دحاصلولو په لار کښې رکاوټ کیږي مونږ له اول داسې فضا پیدا کول پکار دي، چې خلق یوازې هم زمونږ خبره اوري، او دا فضا به هله پیدا کیږي چې مونږ هغه اختیارات پوره په پوره او ښه په سختۍ سره استعمال کړو.

کوم چې زمونږ لاس له راشي ، اوکه چیرې مونږ دغه وخت ، پورې مخالفت قطعي او مکمل طور سړ ختم نه کړو، او په دغه ګیرچاپیره خاموشي کښې مونږ خپل آواز کښې اثر او طاقت پیدا نه کړے شو ، او دخپل سیاسي اقتدار دحاصلولو دپاره مونږ کار شروع کړو ، نو دا به زمونږ دپره خطرناکه غلطي وي. په دغه اړی ګړي کښې به زمونږ دسیاسي اقتدار حاصلولو دپاره هسې ګواښ هم زمونږ اصلي مقصد ته نقصان ورسوي،

(خفیه دستاویز ص نمبر ۹)

۵- هغه دپاکستان دجوړیدو هغه جوش وخروش اوس، نه دے پاتې، او دخلقو دراالاندې کولو، کرتبونه هم خلاص شوے دی، په خلقو کښې دپره لویه مایوسي او پریشانۍ را- پیدا شوې ده ، دمایوسي په دې حال کښې خلقو غاړه ایښې ده ، چې کوم خواته یې بیا یې بیولی یې شي ، دا اوس دقدم اخیستو وخت دے ، اوکه دا موقعې لاړه نو خدائ خبرکه بله موقعې راشي ، او مونږ به خلق خپلې لارې ته را واړو، چې مونږ په زور داسې حالات پیدا کړو، چې خلق بې زمونږ د وینا نه بغیر دبل چا وینا ته هلړو غوږ نه ښدي ،

«خفیه دستاویز ص نمبر »

« د دې دپاره لاره دا ده چې مونږ په هره صوبه کښې خپل خلق او ملاتړ پیدا کړو ، او هغوئ پوره مضبوط کړو،

او مکمل اختیار ورله ورکړوچې، هرحالت دپاره چې څنګه ـ
هغوئ غواړي، هغه شان اقدامات وکړي، موږ له دخیبرپور
دواقع، کارکښې یې ډېر لوئ رکاوټ واچوؤ، د صوبوپه اسمبلو
اعتبار نه دے پکار، خیر دے که تپوس تر نه کوئ، خوپه
اسمبلوکښې دپاس کولو، دپاره به دتجویز هغه لفظونه هم په
خپله جوړوي، او دخپلې نګرانۍ لاندې به یې پاس کوي، یوخو
به دمشهوروخلقو بیانات نشرکول غواړي، بل به داسې منظم
اخبارې پروپیګنډه پکار دے، چې هغه هم ستاسوپه لاس
کښې وي، دریمه طریقه دنشرو اشاعت به پمفلیټونواو پوسترونو
دي، څلورمه طریقه یې داده چې وکیلانو، ډاکټرانو، پروفیسرانو
او طالب عالمانو ته توجه وکړے شي. «خفیه دستاویز ص نمبر۱۱»

٦ـ «دیونټ دنشرو اشاعت په سلسله کښې دمُلیانو نه هم
کار اخیستل غواړي، خو دې مُلیانو ته ډېر فکرکول غواړي، د
مُلیانو څه عجیبه غوندې طریقه ده، دوئ ته چې کار ورپرغاړ
کړې، نو دوئ به یې کوي، خواکثر به ورسره دځان نه نوري
خبرې یوځائ کړي، دکوموچې د اصلي مقصد سره هیڅ تعلق
نه وي، بلکې هغه به د دوئ دخپل غرض خبرې وي، اوپدې
طریقه دوئ ځان له په خلقوکښې دحیثیت پیدا کولوکوششونه
کوي، نوکه د دې غرض دپاره مُلیان بهرتې کوئ، نو داسې
مشهورکسان به نه بهرتې کوئ، چاچې دبل دپاره په پیسو-

باندې کار کول خپله پېشه کړزولې ده ، دعامو جلسو په ذریعه به عوام هم خبر ول غواړي ، خو دې خبرې ته به فکر کول غواړي چې بې ستاسو دجوړشوي تقریرونو نه بل یونګې هم څوک دے خو اخوا ونه وینئ. (خفیه دستاویز ص نمبر ۱۲)

۷- فی الحال موږ له پنجاب کښې دیونټ په حمایت ډېر زورتر دے اچول پکار ، دا به دوړو صوبو خلق را وپاروي، او دهغوئ په زړونو کښې به شکونه را پیدا کړي ، زموږ لیډرانو له هم په بیانانو ورکولو کښې ډېر محتاط اوسیدل پکار دي، او ځان پکښې دومره مدعي کول نه دي پکار چې دخلقو وربانې دهماصلانو گمان را پیدا شي ، خو دا خبره یاد ساتل پکار دي، چې په دې حقله زموږ بهترین اوددې خبرې دپاره تیارول، پکار دي، چې هرچیرته او هروخت دې هغوئ دکار ضرورت پېښ شو ، نو دوئ به پرې ورځي ، نو پکار دي چې دپنجاب لیډرشپ د اوس نه ځان منظم کړي ، او یومونتی شي او په ځان کښې داسې اهلیت پیدا کړي چې ، څه وخت هغه فیصلګن وخت راشي نو دوئ ترې نه مکمله فایده اوچته کړے شي، او په دې وجه به دا ضروري وي ، چې هر قرار داد چې په پنجاب کښې پاس کیږي ، هغه دې ورله په کراچۍ لیکلے شي.

«خفیه دستاویز ص نمبر ۱۳ »

. . . . په یونټ کښې به پنجاب کښې دخلقو آبادي

په سلوکښې شپږ پنځوس ۵۶ ٪ وي، باقي د کل یونټ آبادي به په سلوکښې څلور څلویښت ٤٤٪ فی صدي وي، « خفیه دستاویز ص نمبر ۱٤ »

۸- پکار دي چې دا خبره هرچاته واضحه کړے شي چې مرکز یونټ جوړول غواړي، د تالپور غوندې خلقو له هلو موقع نه دي ورکول پکار چې په مخالفت کښې څه وویلے شي، او ډیره زیاته توجه دبنګالیانو هغه ټولي ته پکار ده، څوک چې هروخت بې مطلبه لګیا وي، او دا سې ذهنیت چې نه په خپله دیوشي دخوراک وي، او نه به ورته بل پریږدي، د هغوئ غرض تش همدومره دے چې دا موجوده حکومت وران شي

«خفیه دستاویز کښې».

۹- صوبه سرحد کښې هرڅه خراب شو، سردار عبدالرشید او زړو مسلم لیګیانو به خوا مخوا د یونټ مرسته کوله، د قیوم زوال هغوئ ته لاره صفا کړې ده. د قیوم بد دیانت او بې ایمانۍ حکومت تش په پروپیګنډو چلیدو، د دغه ختمولو د هغوئ اثر ډېر زیات شوے وُ، خو کار دا ځائ خراب شو، چې د قیوم په ځائ د قیوم نه هم زیات مضبوط طاقت سر دوباره راژوندے کړے شو، دغه طاقت سرخپوشان او د هغوئ هغه عظیم الشان طاقت دے، اګر که عبدالغفار خان په آسانه ګیریدے نه شي، او نه پرې اعتبار کیدے شي، خو بیا هم که سرخپوش د څه شرطونو لاندې را پریښودے شوے.

اوس خلق لګيا دي ډاکټرخانصاحب له دعبدالغفارخان
نه جدا سياسي اهميت ورکوي ، خو ډېر ژر به دغه خلق
محسوس کړي چې دوئ سخت په غلطۍ کښې پراتړوو. ځکه
چې که دواړه ورونه کډيو ځائ وے خو ددواړو طاقت به
وي ، او که دواړه دې ديو بل نه ځان ځان له کړل ،نوعبدالغفار
خان خو به په خپل ځائ ولاړ پاتې شي ، او ډاکټرخانصاحب
به پرمختګ نسکور راپريوزي ، ځکه چې ځان له دهغه هيڅ
حيثيت نه شته ، د موجوده حالت سمدستي بدلول پکاردي،
او هغه داسې کيږي چې رشيده زمونږه مکمل تعاون -
حاصل شي ، چې دهغه شکونه رفع شي ، هغه مضبوطول،
پکار دي ، هغه له زړه ورکول پکار دي چې سرخپوشان
هيڅ نه دي ، زاړه مسلم ليګيانو هم مضبوطول پکار دي،
په دې طريقه به دسرخپوشانو په راوتو چې کوم اثر دصوبه
سرحد په ګوټ ګوټ شوے دے ، هغه به ختم شي ، داکار
د قربان علي خان په حواله کول پکار دي هغه داکار ډېر
ښه کولے شي ، ځکه خو يې قربان علي خان دصوبه سرحد
ګورنر کړے ؤ ، بل دا چې عبدالغفارخان طرف ته هيڅ توجو
نه دي ورکول پکار . دهيڅ قسم خبرې اترې اوصلاح مشورې
نه دي کول پکار ، که مونږه هغه سړی خبرې اترې کوو ، نو
هغه به سياسي طور خپل ځان مضبوط کړي او دخپل طاقت

په زور به زمونږ د ټولو اثر ختم کړي ، ځکه چې په دې خبره ، کښې هيڅ شک نشته چې په سياست کښې مونږ يو کس هم دهغه ځواب نه يو ، څه لږه ډېره نظرياتي برتري ، چې مونږ لرلهغه مونږ دخپله لاسه ختمه کړه ، ده ، « خفيه دستاويز ص ۲۲ » .

دا زه چې دوئ کيږ په کيږ جيل ساتلم دا د دې غرض - دپاره چې هسې نه زه بهر راونه وځم ، او د دوئ د دې امنصوبې يعنې يونټ برخلاف جدوجهد جاري وساتم .

۱۰- « پنجاب که ښه کوي نو دې وخت کښې دې غلے ناست وي ، ځومونږ دغه دپنجاب دوستان هغه وخت وي چې دپنجاب با اثره تعليم يافته خلق هم په مرکز او هم په لاهور کښې داقتدار مالکان وي » .

۱۱- د بلوچستان د مسلم لیګ لیډران به په ډېره لږه ، خواری خوا مخوا هم زمونږ مرسته کوي ، او شاهي جرګې ، په خپل ټول عمر کښې حکومت نه نه د ے کړے .

خفيه دستاويز ص نمبر ۲۳ .»

۱۲- او هرکله چې مونږ مغربي پاکستان را قابو کړو ، نو بنګال کښې بس سهروردي يو داسې سړے دے ، چې هغه سره ځمونږ د يونټ په معامله کښې فيصله کيدا ے شي ، چې يا خو هغه بنګال ځمونږه په مرسته ميدان ته راوځي ، او يا زمونږ په ملګرتيا کښې بالکل غير جانبدار پاتې شي . « خفيه دستاويز ص ۲۳ » .

۱۳ - « په سنده او صوبه سرحد کښې به دانژ او روسوخ ، خاوندانو سره تعلق ساتل غواړي ، هاله به دلته څه سیاسي کار وکړے شي ، ځیسوکسانو نه به څه نه څه سیاسي رشوت ورکول هم غوښتے شي ، لکه وزارتونه اوسفارتونه ، ځکه چې ځینې خلق به د یونټ په وجه مخالفت کوي ، چې د هغوئ نه به پکښې نوکري ځي ، او په اسمبلو به د یونټ په حمایت کښې تجویزونه پاس کول غوښتے شي ، او مسلم لیګ به هم دغه رنګې تجویزونه خپوا مخوا پاس کوي ، (خ - د - ص نمبر ۲۳ » .

۱٤ - « دغه رنګ بلوچستان ، بهاولپور ، او ریاستونه به ډېر په آسانه راقابو شي ، که چیرته څوک د سیاسي اثرورسوخ سرے زمونږ لاس ته راشي ، یوا ځې په ډیپټي کمشنرانو ملاتړل نه دي پکار . » خ - د - ص ۲۳ » .

۱۵ - « یوه دوره به داسې راشي چې سهروردي به په ښکاره زمونږ خوا مخوا مرسته کوي ، (خ - د - ص ۲۳) .

« د یونټ په مقابله کښې یو متبادل تجویز هم وائي چې کیدے شي . لکه دا هم یو تجویز دے ، چې د یونټ په ځائ مونږ له ابتدا کښې وړې وړې ټوټې یو ځای کول پکار دي ، وړې علاقې او ریاستونه دې اول ځان په لویو علاقو پورې ونښلوي ، کراچۍ او د بلوچستان بعضې علاقې دې سنده سره شي ، د بلوچستان څه حصې دې سرحد سره برخې شي ،

نو بیا د صوبه سرحد ګډیرولو دپاره پنجاب او سندهه یوځای کول پکار دي. د خلقو دا خیال دے چې کنې دا طریقه به اسانه وي، بهاولپور او بلوچلستان مونږه دومره په اسانه دې خبرې ته اماده کولے نه شو چې ځان نه لوئ برخي سره یوځای شي، لکه څومره په اسانه چې به یې مغربي پاکستان سره هم کړے شي، بل که چیري مونږ د یونټ په ځای په دې بل سکیم - شروع وکړو، خو چې مغربي پاکستان درې برخې شو، نو بس هم په دغه ځای به په ټپه اودریږو، دغه ګټه خو هلته څه ګټه نه ده، درې یا دوه یونټه جوړول خو څه مطلب نه لري، ځکه چې دا د پاکستان د هغه بچیده آئین مسلې صحي حل نه دے. او په دې طریقه به مونږ نور هیڅ ونه کړو، خو د خپله لاسه به پښتونستان جوړ کړو.«خ-د-ص نمبر ۲۷».

۱۶- « هرکله چې مغربي پاکستان لیدرشپ دیونټ منصوبه منظوره کړي، او د دې کتې د هضمولو دپاره اقتدار په لاس کښې واخلي نو، سمدستي د بنګال د خلقو او خاصکر سهروردي، سره خبرې اترې کول پکار دي، سهروردی هوښیار هم دے، او خود غرض هم، هغه به مونږ سره خبرو ته تیار شي، هغه سره به مونږ په دې خبرې کوو چې مرکز لره، به تش څلور مدونه (SUBJECTS) دي صوبې به فقط دوه وي (بنګال او مغربي پاکستان) دواړو صوبو ته

به مکمله خودمختیاري حاصله وي، مرکز کښې به نمائندگی په، مساوات وی (Parity) سهروردي سره ځمونږ سودا څه دومره گرانه نه ده، خو پکار دي چې څه وخت دے دیوړپ نه راستون شي، نو مشرقي پاکستان ته د تللو نه اکا هوبړمونږ هغه سره فیصله وکړو، (خ- د- ص نمبر ۲٤)-

اوس باچاخان تبصیره په کوي:،،، د دې پورتنیو اقتباساتو لوستو نه پس ته به هرچا ته داخبره څرگنده شي، چې یونټ چا جوړو، دڅه دپاره یې جوړوو، او څنگه یې جوړوو، دوئ خو وئیلي چې د یونټ په جوړیدو سره به د مختلفو صوبو خلق، ورونه ورونه شي، اتحاد او اتفاق به پکښې پیدا شي، خو ددې اقتباساتو د لوستو نه پس داخبره ښکاره شوه، چې دوئ په دې نیت یونټ نه جوړوو، او نه یې د هغې د جوړولو دپاره د مینې محبت او ورورولی لارې خوښولې، بلکې هرڅائ د زور چل، مکر، فریب، سیاسي رشوتونو او نورو بد دیانتو نه کار اخیستے دے، ځکه خو د محبت په ځائ نفرت پیدا شو، او د رانیږ دې کېدو په ځائ خلق دیوبل نه نورهم ډېر لرې شو، او د اعتماد په ځائ بې اعتمادي پیدا شوه-

د ویمه خبره یې داکوله، چې د یونټ په جوړ یدو به خرڅونه کم شی. او مونږ ته به روپه بچې شي، چې هغه به مونږ د ملک په نورو د ښېگړو کارونو کښې ولگو، خو داخبره

همدوئ دروغ کوله کنې ماخو دوئ ته په هغه وخت کښې په پارلیمنټ کښې داویلي وو، چې فی لحال دیوونټ په حق کښې حالات سازګار نه دي، نوکه تاسې په رښتیا بچت کول غواړي، نوددې موجوده شل یونټ په ځائ ځا په خپله رائې خو داده چې درې، یونټه جوړ کړي، خو د پنجاب دورونو د خاطره زه دې ته هم تیار یم، چې دوه یونټه جوړشي، او فی الحال د شلوکروړو روپیو بچ کولو په ځائ به لس کروړه روپۍ بچ کړو، ولې چې دوئ وائې چې یو یونټ کښې به شلکروړ روپۍ موږ ته بچ شي، خو چودهري محمد علي، (چې په دغه وخت کښې د خزانې وزیر وو) ماله داځواب راکړو، چې، نه، لا به یو یونټ جوړیږي او کنې نو هم داشل په شل به وي، اوهم په دې خبره زموږ ته خبره خوره شوه ،،

دیونټ خلاف باچاخان او بیا روستو N-A-P دولي خان تر مشرګرۍ لاندې تر ۱۹۷۰ پورې مبارزه وکړه، دغه منحوس یونټ د ایوب خان د زوال نه پس د خلقو په زور، جنرال یحیٰ خان مات کړو، چې دې کښې P-S-F یعنې، پښتون ستوډنټس فیډریشن، او بلوچ ستوډنټس آرګانائزیشن ډېره کلکه برخه اخستې وه، او دیونټ د ماتیدونه پس د بلوچو په تاریخ کښې دوئ د اول ځل د پاره د صوبې خاوندان شول، د ایونټ په ظاهره د اتفاق او بچت او وروس ولې کور

ښکاریدو، خوحقیقت کښې پنجابیانو د پښتنو، بلوچو، اوسندهیانو
په سیمو باندې قبضه کولو منصوبه وه، چې باچاخان ډېره
په ښه طریقه بیان کړیده، او ددوئ پټ نیتونه یې په ډګر
کړي دي، ددې نه دا اندازه لګي چې دوئ څومره مسلماني
لرله. دوئ هغه د خپلو بادارانو په پشې کول، او دغه نوري
صوبې یې د پنجاب کالونۍ جوړلې، د سندهه په مرکه دوئ
قبضه کول غوښتل، د پښتونخوا بجلي، تمباکو ګنې او ځنګلونه
او سنګ مرمرو باندې یې خپته اچول غوښتل، او د بلوچستان
ګیس، کوئله او نورو معدنیاتو باندې، او بل دوئ د پنجاب
د فاضل آبادۍ، د پاره یې د بلوچستان نیول غوښتل، چې
پنجابیان په پنجاب کښې ډېرېږي، نو بلوچستان کښې به یې
آبادول، نو یوه ورځ به داسې راشي، چې بلوچ به د ریګ-
انلو نین غوندې ورک شي، او دغه علاقه به هم د پنجابیانو شي.

د ایوب خان مارشل لاء

او د باچا خان جمهوري جدوجهد

(۲۷ اکتوبر ۱۹۵۸ء)

چې څه وخت پنجابیان په دې سازش کښې کامیاب شول، چې د یو یونټ ترنوم لاندې، صوبه سندھ، بلوچستان او صوبه سرحد د پنجاب تر واک لاندې راولي، نو د دې سره د باچا خان او ډاکټر خانصاحب سیاسي لارې جدا شوې، چې یو د مغربي پاکستان وزیرعظم شو، هغه بل (باچا خان) جیل ته ولیږلے شو.

۶- ستمبر ۱۹۵۶ کښې بې خپل تاریخي عدالتي بیان په تحریري شکل کښې عدالت ته پیش کړو، لیکن د دې با وجود باچا خان عدالت په جیل کښې واچوه، او بیا ۲۵ جنوري ۱۹۵۷ کښې آزاد شو، او بیا یې N.A.P نیشنل عوامي پارټۍ جوړه کړه. پدې گوند کښې ټول ضد سامراج او جمهوري غیرفریقه وار سوچ والا خلک او گوندونه او تنظیمونه راجمع وو، سندھ هاري کمیټۍ، آزاد پاکستان پارټۍ، خدائي خدمتگار سندھ متحده محاذ او د سابقه مشرقي پاکستان نه د بهاشاني عوامي لیگ شامل وو، چې بهاشاني بنگالي د Natoinl Awamy party

اولنے صدر وو، او دوې دیونټ د ختمه ولو، او پاکستان کښې آزاد د انتخابانو کولو او دانساني او جمهوري حقوقو خیال ساتلو باندې، زور ورکولو، او یو جمهوري داولس دلاسه منتخب شوے پارلیمنټ مطالبه یې کوله، دیوآزاد او بې طرفه خارجه سیاست غوښتنه کوله، دقومي دولت او مرکزي منصفانه تقسیم او اولسي عدالت ددوئ مطالبې وې، هر بالغ د شهرې په سر دووټ مطالبه وه. خو دوئ دجمهوریت اوقومي حقوقو په لاره کښې له ټولو نه غټ خنډ ون یونټ کنلو، چې دغه د ټولو مرضونو مور وه، او ددې په وجه مهاجر او پنجابي سول اوفوجي نوکرشاهي دغه نورواړه قومونه کیرکړي وو، او ددوئ شتمني یې لوټلې، او بل دوئ ضد سامراج وو، دوئ دیوآزاد اوغیر جانبدار خارجه سیاست وکالت کولو، چې دغه نمونه پروګرام نه سامراجي مغربي ملکونو ته قبول ؤ، او نه داخلي ددوئ دلالانو ته، دا ځکه چې دوئ خو پاکستان ددې دپاره نه ؤ جوړ کړے چې روستو ورته پلار شي، او د مغرب ددښمنانو او دمسلمان اولس هډرو په لاس ورشي، او دوئ یوآزاد سیاست وکړي. پاکستان خودوئ دخپل زور شمالي مغرب سرحد دساتلو د پاره او بل دمشرق اوسطئ او ایران د تیلو لوټلو په غرض جوړ کړے و، او د روس خلاف دوئ پاکستان د سینټو سیټو فوجي تړونونو کښې

ورکړه کړے وه، د دوئ خدمت کښې ولاړ وو، د روس خلاف
دوئ د پیښور BOOD/BEERA ورکړې وئ نو دوئ په پاکستان
کښې یو اولسي عوامي حکومت او پارلیمنټ نه شو برداشت کولے
او باچا خان دوئ ته معلوم وُ چې دے څوک دے، دده
په شخصیت باندې دغه نور د اولس هډرد خلک راجمع وو.
نو سامراج او د دوئ د اخلي پاکستاني دلالان وارخطا وو،
چونکه پاکستان په حقیقت کښې د پرنګي د بهورو کراسۍ پیداوار
وُ، او دوئ پاکستاني بابوګانو هم د دوی په پښے کول، اولسي رائې
ته یې د سره اهمیت نه ورکولو، جناح او لیاقت یو په بل پسې زر
لاړل، اوس پاکستان د نوکر شاهي جاګیر جوړ شوے وُ، چې
غلام محمد په ډګر راغئ، هغه تش په نوم جمهوریت ته یې لته
ورکړه، د سول سره فوجي نوکر شاهي هم شامله شوه، چې
ایوب هم کمانډر انچیف وُ او هم په ۱۹۵٤ کښې وزیر دفاع وُ،
او پرنګیانو سابقه د پټې کیشنر سکندر مرزا د پاکستان صدر
شو، چې دچا د لاسه خدائ خدمتګار د پروهلے شوي او شهیدان
شوي وو، دا ځکه چې دوئ د پرنګي مخالف او د آزادۍ طرفدار
وو، سکندر مرزا د پرنګي نوکر او د آزادۍ دښمن وُ، نو اوس
پاکستانے واک ټول د پرنګي د نوکرانو سره په لاس کښې وُ، دوئ
په جمهوریت او پارلیمنټ باندې هیڅ باور نه درلوده، چې
چا به دون یونټ د ماتولو او د آزادو انتخابانو مطالبه کوله

هغه د دوئ دښمنان وو، چې دغه کار N.A.P کولو، نور داخلي او خارجي دښمنانو د N.A.P خلاف لاسونه سره یوکړل خپل سولی نوکر یعنې سکندر مرزا، او فوجي نوکر جنرل ایوب خان یې ولمسول. او پاکستان کښې یې په تاریخ کښې اول ځل د پاره د عوامي سیلاب ایسار ولو د پاره یې د مارشل لا بند وتړلو او ملک یې د فوجي قانون لاندې راوستلو. اکتوبر ۱۹۵۸ کښې د دوئ ټولې سیاسي پارټې بندې کړې او حکومت کښې یې د برخې اخیستو نه منعې کړې، او مشران یې په جیلو کښې بند کړل، دغه نور خو د دوئ یاران وو، مګر اصلي چل یې نیپ ته جوړ کړے وُ، هغه د پښتنو متل چې: «د غلو څه خوږه یاري وي، خو په ویش یې تالا والا شي» همدغه چل د سکندر مرزا او ایوب خان وُ. چې وروستو فوجیانو سول بیوروکراسۍ نه واک ډائریکٹ په خپل لاس کښې واخیستو، اکتوبر ۱۹۵۸ - کښې جنرال ایوب خان ترین سکندر مرزا یې بې واکه کړو، او لندن ته یې ولیږلو، همدغه شان د اول ځل د پاره د پاکستان مشریو فوجي جنرال شو، چې مارچ ۱۹۶۹ پورې په پاکستان حکومت وکړو، چونکه باچا خان او د دوئ ملګري ډیموکریټ خلق وو، نو دوئ دغه بې لاسنسه ډرائیور ایوب خان د پاکستان د واکدار په شکل نه منلو، دوئ به د دستور مطابق د ون یونټ (one unite) د ماتولو او جمهوري او انساني

حقوق بحال کولو مطالبې کولې ، او د مارشل لے بهنې دفوجي قانون مخالفت یې کولو، چې ددې سره د ایوب خان او باچا خان تر منځ اختلافات راغلل ، دا ځکه چې باچا خان ورتر ویل، چې غل یې او د ایوب خان طمعه وه، چې باچا خان به غلے شي، خو باچا خان دده د نوکرۍ د پاره خپل اصول نه شو قربانې کولے، دده د مالک خلاف یې جدوجهد کړے ؤ، نو د نوکرۍ یې ځرنګې منلے وے. چې باچا خان خپل جدوجهد تیز کړو، نو امریکې ایوب خان ته وویل: چې دده علاج جیل دے. بس څه وه نه صرف باچا خان بندې دنیپ نه یې جیلونه ډک کړل، په بلوچستان کښې یې هغه ظلمونه وکړل، چې تر دې وخت پورې یې مثال نه ؤ، د فوج او بلوچو تر منځ جنګ جوړ شو، چې روستو دوئ د بلوچو د مشرانو سره په قرآن شریف قسم پورته کړے ؤ، چې دوئ راشي نو مونږ به هیڅ ورته نه وایو، مګر پاکستاني حکومت په دوئ قرآن وخوړو، دروغې نه پس یې دوئ ونیول او اوه (۷) لوئ لوئ بلوچ مشران د ایوب خان د لاسه پهانسي شول، او هغه شان ۱۷ کسان نور د نیپ خلک د ایوب خان په دور کښې په جیلونو کښې مړه کړے شول، او د دوئ ماشومان یې یتیمان او میرمنې یې کونډې شوې، او جائیدادونه یې ضبط شول، دا ځکه چې دوئ ویل چې یونټ دے مات شي، مونږ ته خپلې صوبې او حقوق راکړئ، په

ملک کښې دې جمهوریت وي ، آزاد انتخابات دې وشي ، دغه ددوئ قصور و ، نو باچا خان او عبدالصمد خان اچکزئي ، شهید شهزاده عبدالکریم ، او نور مشران په جیلونو کښې جدا جدا وساتل شول هغه ظلمونه یې ورسره وکړل ، چې داسې ددوئ مالک پرنګي هم نه وو کړي.

چې د نیپ نه بې غمه شول ، نو دغه نور خو تول پریو شکل او په بل شکل ددوئ خلک وو ، ایوب خان ورته کنویشن مسلم لیګ جوړ کړو ، دغه د پرنګي دلالان او د سرسید احمد خان لمسي تول بیا پکښې راجمع شول ، او س ددوئ پلار جناح او لیاقت نه وو ، بلکې یو فوجي جنرال وو ، ددې په ذریعه دوئ دپاکستان په خوږو او ترخو باندې قبضه وکړه . پر پاکستان کښې د جمهوریت په نوم بنیادي - جمهوریت رواج کړے شو ، چې دغه تش د غولولو دپاره یوه پلمه وه ، د مسلسل پاکستان جیلونو کښې ساتلو په وجه ، د باچا خان صحت ډېر خراب شوے ؤ ، د مثال په توګه پرنګي د خپل حکومت په دوران کښې د ۱۹۱۹ نه تر ۱۹٤۷ پورې پنځلس کاله باچا خان جیل کښې ساتلے ؤ ، او دپاکستان د زیږیدو نه څه موده پس یعنې جون ۱۹٤۸ کښې بندي کړو او ۱۹٦٤ پورې یې ۱۷ اولس کاله جیل کښې وساتو ، دغه د اسلام قلعه وه ، او د مسلمان حکومت ؤ ، او دغه امیرالمومنین ؤ ، دده قصور دغه

ؤ، چې ده پاکستان نه مخکښې د هند د مسلمانانو د تقسیم مخالفت کړے ؤ، او پاکستان نه پس یې عوامي حکومت، آزاد پارلیمنټ او انتخابات او غیر جانبداره سیاست، او د دولت د مناسب تقسیم مطالبه ئې کوله د غه د ده او د N.A.P ټول قصور ؤ، چونکه پاکستان باندې غلو قبضه کړې وه، نو دوئ داسې خلک او کوندونه نرشو برداشت، کولے، چې د دوئ په لوټ ماریې اعتراض کولو، او د دوئ د نائیکانو خلاف به یې خبرې کولې، هم د غه وجه وه چې د پاکستاني سامراجي (INSTITUTIONS) یعنی سول او فوجي د پرنګي په وخت هم دوئ د خدائ خدمتګار و هډوکي مات کړي وو، هغه تهانیدار او ډپټي کمشنر اوس لوئ لوئ خلک و، نو دوئ خپل سلوک او چلن کښې د خدائ خدمتګار و متعلق هیڅ بدلون نه وو راوستے، بلکې د ښمنه او کرکه یې نوره هم زیاته کړې وه. هم د غه وجه وه چې دوئ جمهوریت پسنده خلک نه شو برداشت کولے. دا ځکه چې جمهوریت کښې به اولسي واک ؤ، او رنا به وه. نو غل خو هله غلا کولے شي چې تیاره وي، نو دوئ هر جمهوري چراغ وژلو، او تیاره یې جوړوله، چې دوئ ښه لوټ مار وکړي، او د غه ټول کار دوئ د اسلام او پاکستان د ښکار لاندې کولو، چونکه باچاخان یوه رنا وه، نو دوئ هر ممکن کوشش کولو، چې د غه رنا خلکو ته خوره نشي، او یو ګوټ کښې پټه وساتله شي، هغه ګوټ

جیل ؤ ، چې دباچاخان صحت جیل کښې ډېر خراب شو او
بل ایوب خان بهر ټول جمهوري قوتونه بنه وټکول ، د پاکستان
په کدې یې ځان ټینګ او کلک محسوس کړو ، نو بیا ورته انسانیت
وریاد شو ، دا ځکه چې مشاورینو (Advieers) مشوره ورکړه
وه ، چې باچاخان د علاج دپاره چې بهر لاړشي ، نو مونږ ته فایده
ده ، د خلکو نه به کټ شي ، او دا خلي تماس به یې ختم شي ، او مونږ
به ور پسې پر وپیګنډه اکوو ، چې بهر لاړو مزې کوي ، خپل پښتانه
ځینې هیر شول ، او بل د دوئ خیال ؤ ، چې خدای خدمتګاران اوس
ټول ، د شپیتو (٦٠) اوښتي دي ، نو دوئ کښې هغه ارزجي پاتې نه ده
چې زمونږ دپاره د مصیبت وجه شي ، او بل د باچاخان د ټګ پروجه
به د " N.A.P " لیډر شپ کلوډ شي ، نو حقیقت کښې یې دغه
مقصدونه په نظر کښې وو ، مګر په ظاهره دوئ د انسان دوستۍ
مظاهره کوله ، او دغه تصور به یې جوړ ولو ، چې کنې دوئ د باچا-
خان د صحت د خرابۍ په وجه بې قراره دي ، چې دغه ټول مکر
ؤ دوئ خپل فائده او نقصان ته کتل ، د دوئ خیال ؤ چې باچاخان
بهر تر ټګ په سیاسي توګه د دوئ دپاره فائده من دے ، او بل پر
۱۹٦۲ کښې ایمنسټي انټرنشنل باچاخان یو مثالي قیدي علان کړی
وه ، او بل به ځائ په ځائ جواهرلال نهرو هم د باچاخان سره
د بې انصافۍ خلاف خبرې کولې ، او افغان حکومت هم د باچا-
خان د رهایۍ روایتي مطالبې کولې ، چې سړي تر پوره درک

نه لګیدو، چې کابل حکومت یې په قید خوشحاله دے او که په
آزادۍ مګر د مکې نه یې او پښتنو د غولو، د پاره یې چغې،
جوړې وې، او بل ۱۹۶۳ کښې د داود خان حکومت ختم شوے
و، د پښتونستان مسله سره شوې وه، او دغه ټول حالات
سره یوځائې شول، ایوب خان حکومت یا چا خان ته د علاج پاره
بهر ته د تګ اجازت ورکړو، او ستمبر ۱۹٦٤ بهر ته لاړو،
یعنې اینګلینډ او ۱۲ دسمبر ۱۹٦٤ کښې کابل افغانستان ته راغلو
او دسمبر ۱۹۷۲ پورې افغانستان کښې پاتې شو، د باچا خان
متعلق ریمینې انټرنیل بیان په جرمني ژبه:

Der erste war 1961 ein staatenloser Suedafrikaner, Christopher Payi, gewesen. Payi nachfolger fuer 1962 als >>Gefangener des Jahres>> war Abdul Ghaffar Khan, der 72 jaehrige Leiter einer religioes-nationalen Sekte in Nordwesten Pakistan, der seit 1947, als Pakistan selbstaendig wurde, eingesperrt war. Seine >>>Verbrechen >>> war, dass er fuer die vier Millionen Pathaner die Unabhaengigkeit gefordert hat, fuer einen Stamm freiheitliebender Menschen, der dieses Gebiet bevoelkerten. Amnesty International startete eine intensive Kampagne fuer Abdul Ghaffar Khan, und dieser wurde 1964 in Freiheit gesetzt.

باچاخان په افغانستان کښې

(۱۹۶٤ - ۱۹۷۲ء)

دغه قیصه خو بیان شوه، چې ستمبر ۱۹٦٤ کښې باچاخان
ته حکومت پاکستان د علاج دپاره د وړتیا تګ اجازت ورکړو
باچاخان ستمبر ۱۹٦٤ کښې لندن ته لاړو، د اکترانو مشوره
ورکړه، چې په ژمي کښې امریکې کلوفورنیا ته لاړ شه، دهغې
ځائ موسم ښه دے، د ستاسو دپاره موزون دے،
د باچاخان دپاره مشهور پښتون د اکتر اورنګزیب منډې
وهلي چې باچاخان امریکه ته بوځي، د اکتر اورنګزیب خان په
امریکه کښې د پښتنو جرګه جوړه کړې وه، چې غټ مقصد یې د-
پښتنو سیاسي، کلتوري او اقتصادي حقوقو دپاره کوشش
وُ، او د نړۍ په سطحه یې نور قومونه د پښتنو سره د پاکستان
حکومت د ظلمونه خبرول، نو دے نو پښتون کوشش وکړو
مګر امریکې ورله ویزه ورنکړه.

د کابل ته تګ ته مخکښې باید د افغانستان په سیاست باندې
لږه رڼا واچولې شي، د افغانستان سیاست د امیر دوست محمد خان
د وخت نه د لاندې پښتنو سره همیشه د منافقت په بنیاد شوے

دے ، دوئ ته دلاندې پښتانه هله وریاد شوي دي چې دمحمد زیا
خپل تخت او عشر او عشرت په خطره کښې لویدلے دے ، چې دغه
کښې دافغان قوم هیڅ قصور نشته دغه منافقت تش دشاهي
کورنۍ وُ.

چې څه وخت دویم جنګ عظیم کښې پرنګیان په مشرق بعید
کښې جاپانیانو په مخه کړي وو، نو دوئ په ۱۹٤۲ کښې دافغان
شاهي حکومت سره خبره کړې وه ، چې موږ به پښتانه اوبلوچ
تاسو ته درکړو ، او تاسو یې بیا په هند کښې دجاپان خلاف وجنګوئ
په دې شرط چې موږ نه هند پاتې کیږي ، دې سکیم ته ظاهرشاه
او دده ترونه لکه وزیرعظم محمدهاشم خان اونور ټول تیار وو،
خو دې وخت کښې لاندې پښتنو ځانونه دخدائ خدمتګارو په
شکل کښې منظم کړے وو، نو دپرنګي او افغاني واکدارانو دپاره
دوئ خطرناک وو، نو پرنګیانو او افغاني حکومت په ګډه دباچاخان
او خدای خدمتګارو خلاف یوه منصوبه جوړه کړه ، چې د
هغې منصوبې یا دلې مشر مشهور مجاهد حاجي ترنګرو زوئ
باچاګل و ، چې دوئ دافغان حکومت په وینا او دپرنګي په لارښوونه
دباچاخان او خدای خدمتګارو دانګو رسوخ دکمولو دپاره په
پښتنو کښې کار شروع کړے وُ. خو دې کښې جاپان د دې ،
قابل نه شو چې پرنګیان دهند نه وباسي ، همدغه شان پرنګي
افغاني منصوبه دخدای خدمتګارو په خلاف په ینمایې کښې پاتې

شوه خو نیتونه معلوم شول ، داځکه چې افغان شاهي کورنۍ
په پښتنو کښې قومي تحریک د ځان دپاره مرګ ګڼلو ، که څه هم
دوئ ددې شي اظهار په ډاګه نه کولو ، چې پاکستان جوړشو
نو افغان حکومت او هند حکومت دپښتونستان ډهول ته سپېڅ
ورکړی که دکا نکرس زمونږ سره مینه وائي ، نو تقسیم به یې زمنلو
خو دوئ ته دکشبر خلاف یوه پلمه پکار وه ، او افغاني شاهي
حکومت ته پښتونستان نعره پکار وه ، چې یو اړخ ته یې د -
افغانستان داخل پښتانه ووغولول ، او بل اړخ ته یې دپښتونستان
په مسئله باندې دهند نه روپۍ اخیستې ، چې سردارانو مزې په
کولې ، او بل ډېر ماهرانه چل دغه وُ ، چې دوئ به په جوته
دمکر مچهر اوښکې توېولې ، مګر په حقیقت کښې دوئ دخدای
خدمتګارو دغورځنګ په ټکولو خوشحاله وو ، داځکه چې دوئ
۱۹٤۲ کښې دپرنګي سره لاس یوکړے وه ، نو پاکستان سره یې
مرضي وه ، مګر دغه دوی په ډګر نه شوکولے ، داځکه چې دوئ
سره ، ویره وه ، چې ددې به بیا داخل افغانستان کښې سخت
ردعمل وي ، خو دوئ دغه کار دخپلو قبائلي ملکانو اوجاسوسانو
په ذریعه کولو ، چې غټ مرکزونه یې ریاست قبائیل دپښتونستان
ریډیو ، او پښتور اوکوئټه کښې دافغان کونسل خانې وې ، چې
څه وخت ایوب خان په قدرت راغئ ، چونکه دے داسې پښتون
وُ لکه دکابل محمد زیان ، نو دوئ وارخطا شول ، داځکه چې ،

ایوب خان به د شرافت نه باچاخان ته کاکاویلی، د دې مطلب دا نه ؤ چې د کاکا د سیاست سره یې اتفاق ؤ، نو محمد زیان وار خطا شوي وو، چې هسې نه چې پښتون صدر پاکستان او پښتون لیډر باچاخان راتر یوځائ نه شي، او راته ونه وایي چې هلکه تاسو د څه پښتونستان غواړئ، چې پښتو هم نه درځي، نو افغان حکومت، د ایوب خان او باچاخان تر منځ د نفرت د کرلو د پاره کار شروع کړو، یو پښتون کونسلر یې پېښور ته د دې غرض د پاره راولیږلو، چې د غه بې اعتمادي نوره هم سوا کړي، دے دلال او ایجنټ پښتون کونسلر به د ځانګړو پوسټرې چاپ کولې چې د پښتو غیر زمه وار مواد پکښې وو، چې د نیپ او باچاخان د سیاست سره یې هیڅ تعلق نه درلوده، د غه یې د خپلو جاسوسانو په ذریعه خورولې، او ځائ په ځائ یې بمونه خلاصول، چې د غه کار هم د خدای خدمتګارو د عدم تشدد سیاست خلاف ؤ نو د پښتون د غورځنګ خلاف افغاني شاهي، نوکري شاهي او مهاجر او پنجابي پاکستاني نوکر شاهي سره لاسونه یو کړل، د ایوب خان او باچاخان تر منځ یې لرګي وتکول، که څه هم باچاخان او ایوب خان په خپل عمر کښې په سیاسي نوکه دوئ ملګري کیدے نه شول، مګر د دې با وجود مهاجر او پنجابیان او کابلي پارسي بانه بیوروکرسي اعتبار نه کیدو، نو د دې

په وجه ایوب خان ۱۹۶۱ کښې باچا خان بند ي کړو، چې ددې
سره هغه افغاني پرو پیګنډې ورکې وشوې، هغه کونسلر
بدل شو، ددې کار په بدل کښې، یې انډو ویشیاء کښې سفیر
کړو، افغان حکومت د پښتون لیډر او پښتون جنرال په منځ
کښې دبلدې جوړولو یاندې کامیاب شول، باچا خان نه بلکې
ټول نیپ نه یې ځانونه خلاص شول مګر د مکر دپاره به یې
ژړا کوله، هم ددې پس منظر کښې چې باچا خان ستمبر
۱۹۶٤ کښې لندن ته لاړو، نو کابل په محمد زیانو بیا تبه ولګیده
چې اوس باچا خان د پاکستان نه بهر دے، چې داسې ونشي
چې چیرته یورپ یا عربو ملکونو کښې یعنې خاصکر،
مصر کښې ځان ته د پښتونستان دپاره مرکز جوړ نکړي،
چې دغه شان به ځمونږ نه آزاد وي، او مونږ به د پښتونستان
په تحریک باندې ګرفت کمزوری شي، نو داسې کول پکار دي
چې هر څرنګې چې وي خو باچا خان افغانستان ته راوستل
پکار دي، چې زمونږ ترسینې لاندې وي، چې د ټولو
ناستو پاستو نه خبرې وي، داځکه که باچا خان مصر کښې پاتې
وے چې د هغه وخت مشر جمال عبدالناصر هم د باچا خان
غوندې د سامراج دښمن ؤ، نو دوئ سره ډار پیدا شو،
چې نهرو او باچا خان د هند د آزادۍ ملګري دي، نهرو
او جمال عبدالناصر صدر مصر د غیر جانبدار غورځنګ ملګري

دې چې داسې ونه شي چې د نهرو او جمال ناصر د ملګرتیا
په وجه باچا خان په مصر کښې خپل مرکز جوړ نه کړي، لکه یو
بل افغان سید جمال الدین افغاني مصریانو سائلے ؤ، نو باچا خان
په مصر کښې پاتې کیدل، د شاهي کاپلي کورنۍ د پاره لویه
خطره وه، او لې د دوئ د باچا خان متعلق دغه خیال ؤ چې
پاکستان کښې بندي ښه دے، مګر اوس دغه بله د مصر
خطره وه، نو دوئ داسې پروګرام جوړ کړو، چې باچا
خان چې په هره طریقه وي د مصر نه افغانستان تر راولي
او تر خپلې سینې یې لانډې کړي. هغه داسې چې دوئ د مکر
جنو او د دوئ د ایجنټانو پښتنو او افغانانو یو وفد ورولیږلو
او افغاني سفیر ورسره مستقیله رابطه وه، چې باچا خان
ته مینت وکړي، چې خپل وطن او هیواد افغانستان ته لاړشي.
که چیرې باچا خان، لندن، جرمني، فرانسې یا اټلي،
او یا مصر کښې پاتې شوے وے، نو زمونږ د پښتنو د پاره
به یو لوئ مرکز جوړ شوے ؤ، چې دغه به ځان له ؤ، د
افغانستان او پاکستان د سازشونو نه به لرې ؤ، او د باچا-
خان رابطه به د نړۍ ملي تحریکونو سره دائرک وه، او بل
اخبار جاري کول او نشراعت به آزاد وو، پدې وختونو
کښې افریقه او ایشیا کښې نوي نوي ملکونه آزاد یدل، او د ملي
جمهوري تحریکونو زور ؤ. نو که سوشلست کیمپ وے

یا سرمایه دار کیمپ موږ به د دې قابل وے چې خپل آوان
مو دوئ ته د بل چا خوله نه بلکه پخپله رسولے شو زموږ
ناسته پاسته او تعلقات به پټ وو، د نګ راتګ اسانې به وه،
د هندې، پاکستانې او افغانې د سیاست د چکر نه به آزاد وو، دغه
به زموږ د پاره مرکز جوړ شوے وے نو د دې خطرې نه چې
باچا خان مرکز په بهرکښې جوړ نه کړې، افغان حکومت دغه
مکرجنه او شیطانه ډله پسې ولیږله، او باچا خان ته په ژړا شول،
چې باچا خانه ته خو د ټولو افغانانو فخرې ته خپل هیواد، کور او
تا ټوبئ لرې او خپل قوم لرې، موږ نه د ستاسو د دیدن او خدمت
پسې رندیږو، علیحضرت یعنې ظاهرشاه تاسو ته د پلار مقام درکوي
د ټول افغان ملت او علیحضرت خواهش دے، چې باچا خان چې
څه غواړي هغه به ورته ملوشي، د پښتونستان د پاره سم ځائے
افغانستان دے، چې تاسو به محکوم پښتونستان ته بن دې وئ، او
هر وخت به درا بطې څه تکلیف نه وي، او د خدای شکر دے نن
سبا د افغانستان حکومت جهاز لري، توپ لري او جدید فوج لري
دغه ټول د ستاسو د حکم انتظار کوي، نو د خدای د پاره افغانستان
ته راشه، سید جمال الدین افغان تراوسه پورې زموږ د زړه داغ
دے. چې دې د خپل هیواد نه لرې مصر او ترکیه کښې ژوند
وکړو د ده د شمراتو نه موږ مستفید نه شو، او دغه زموږ خواهش
دے، چې د ستاسو برکتې وجود نه موږ فایده واخلو، چې د

سید جمال الدین افغان غوندې تاسو هم که په عربو یا یورپ کښې پاتې شوئ، نو ستاسو، خوار غریب اولس به بې برخې پاتې شي او ستاسو علاج په خپل هیواد کښې ښه دے، چې دوئ دومره ژړاګاتې او راغاړول یې وکړل، نو باچاخان انسان ؤ، دده، زړه هم نرے شو، سوچ یې وکړو چې دوئ دومره په مینه او په اخلاص ځما د ورتګ په انتظار دي، چې باچا نه تر یوعام افغان پورې، نو راشه ورسه کابل ته لاړ شه، چې باچاخان یې راضي کړو، نو دغو مکرجنو ته د شپې د خوشالۍ نه خوب نه ورتلو، داځکه چې یوه لویه خطره دوئ ډېره په چالاکۍ سره د مخې نه لرې کړه، افغان سفیر افغان حکومت خبر کړو، چې باچاخان راضي شو، درځئ، نو دوئ دده سره خوشحال ؤو، چې د باچاخان ډسترې مشي د پاره د افغان وزیرعظم سره د خپلې کابینې په هوائي ډګر کابل ورته ولاړ ؤ. او ډېر زیات اولسي خلک هم راغلی وؤ چې څه وخت ۱۲ دسمبر ۱۹۶٤ د باچاخان هوایي جهاز په کابل راښکاره شو، او بیا رو رو - راښکته کیدو، نو د خلکو بې صبرې زیاته شوه، چې څه وخت، جهاز کوز او و دریدو، باچاخان راښکاره شو، نو د کابل فضا فخر افغان زنده باد او پښتونستان زنده باد نعرو نه ولړزیده، افغاني وزیرعظم ډاکټر یوسف کشمرئ ورو راندے شو، باچاخان ته یې تو د هرکلے وکړو، او ورسره افغان اولس د زنده باد

چیغې پورته کړې، په شاهي محل کښې ظاهرشاه خبرشوچې باچا-
خان په خیریت سره راورسیدو، نوهله محمدزیان په آرام شول
او د ظاهرشاه دخوشحالۍ نه ځائ نه کیدو، چې اوس چې باچاخان
څه کوي زموږ دسینې لاندې به یې کوي، نو دخوشحالۍ نه
یې ملکه حمیره ته وویل، چې نن راباندې چاینکې غوښه وخوروه
نن مې هیله زړه په ارام شو، همدغه شان دوئ په دې کامیاب
شول، باچاخان دوئ دیورپ یا عربو نه خپل کنټرول لاندې
کړو، که څه هم دوئ باچاخان ته هرقسم ارام مهیاکړو، مګرد
کوم شي په تلاش کښې وُ، هغه دوئ پوره نه کړو، بلکې روستو
رو رو باچاخان ته ددوئ د مکرخیرې وربښکاره شوې، اوس
هرچا د باچاخان سره لیدل، هغه به ددوئ دخفیه پولیسو په ریکارډ
کښې وو، دده خدمتګار او ډرائیور ته واخله تر لنګرې پورې د
خفیه پولیسو خلک وو، دوئ اول سرکښې ډېرې وعدې وکړې،
لکه څرنګې ددوئ عادت دے، مګر یوه یې هم پوره نه کړه
بلکې دخپلو ایجنټانو په ذریعه به دوئ باچاخان پسې خبرې کولې
داځکه چې ددوئ خیال وُ چې باچاخان به په ارام ناست وي، -
تشه ډوډۍ به خوري، لکه دانور پښتونستانیان، مګرباچاخان
افغانستان ته ډوډۍ پسې نه وتلے، دده مطلب خدمت و
خو افغان حکومت به هیشه ډېره په استاذۍ سره د باچاخان
لاره نیوله، داځکه چې د دوئ مقصد دغه وچې، دپښتونستان

تحریک مرکز په بهرکښې جوړ نه شي ، نو ریې دباچاخان سره هیڅ مینه نه وه ، اول سرکښې باچاخان د ټول افغانستان دورې وکړې او هرځائې به لوئې لوئې استقبالونه کیدل ، مګر رو رو ، دغه دروازې بندیدې ، خوپاچاخان داشې شخصیت نه وو چې څوک یې په بوتل کښې بند کړي ، نو د دې په وجه به کله ناکله خبره خفګان ته لاړه ، او داکوشش شروع شو ، چې باچا خان ته مشکلات جوړ کړي ، یو کوشش دغه ؤ چې ځینې داسې پښتانه وو ، چې په ظاهره به یې د پښتونستان دعوئ کوله ، او په پټه به د حکومت خلک وو. دباچاخان سره به لکه سورے کرځیدل ، د ده وخت به یې په فضولو خبرو ضایعې کولو ، او بل دوئ داکوشش کولو ، چې باچاخان اوایوب خان اچکزي ترمینځ خفګان راولي ، داځکه چې ایوب خان اچکزی د ۱۹۵۲ نه تر ۱۹۶۴ پورې په کابل کښې د پښتونستان " UNDISPUTED مشر ؤ ، چې باچاخان راغئ ، نو افغاني بهوراکراسۍ تګ راتګ دباچاخان سره کړو ، پښتونستان ستاک مارکیټ کښې رایوب خان مرحوم قیمت راپه غورځیدو شو ، چې شیطانانو اوشاهي جاسوسانو به لمسا وه چې دغه بې قدري دباچاخان په وجه ده ، او د ده پوزشن داول نه دویم شو ، اول تقریر یا خبره به دباچاخان سره وه ، بیا به د ده تمبر وو ، نو افغاني او پاکستاني ایجنټانو داکوشش کولو ، چې د پښتونستان تحریک په شمالي او

اوجنوبي تقسیم کړي، یا په بله معنیٰ، په قندهاري اوکوئټه باندې او بل اړخ ته پښتون اونګرهار باندې، یعني دوئ به داکوشش وُ چې باچاخان دمشرقي مشرکړي، او ایوب خان دجنوبي چې روستو دغه مرض د عبدالصمدخان شهید په وجه نورهم ژورشو، او ورسره دخلقي اوپرچمي مسئله هم راغله، چې دوئ هم پرې جنبې کولے، او دریمه مسله دکلاسیک قبائیلي پښتونستاني ملکانو وه، داخکه چې باچاخان افغانستان ته لاړ وُ، ورپسې د ۱۹۶۵ جنګ، دهند او پاکستان ترمنځ وشو، او دهند دلچسپي د پښتونستان مسئله کښې کمه شوه، او روس کښې هم قیادت بدل شو، او داودخان هم تلے وو، او بل کابل داسلام آباد سره تعلق ښه کولو، دوئ ۱۹۶۵ کښې پاکستان ته کارنتې ورکړې وه، چې تاسو په سره سینه دهند سره جنګ کوئ، زمونږ له اړخ خاطرجمع لرئ، بلکه افغانستان د جنګ په دوران کښې هند ته غورے ترے کړے وُ، که چیردوئ بیا په کوهاټ اوپښور باندې حملې وکړې، نوافغاني هوائي فوج به حرکت کښې راشي، نو ددې ټولو خبرو په وجه د پښتونستان په نوم افغاني حکومت ته نورې پیسې نه هند ورکولې، او نه بل چا ددې سره دقبائیلي ملکانو ماجبو ته هم کمزورې شولې، خو افغان حکومت به دخپلو جاسوسانو په ذریعه قبائیلي ملکان لمسول او ورته ویل به یې چې اوس مونږ څه وکړو د پښتونستان په خوږو اوترخو باندې باچاخان ناستا دے.

چې دغه سل په سلوکښې دروغ وو، نو قبائیلی ملکان به باچاخان ته پخمیدل.

او دریم مسئله دغه وه چې هغه قبائیلي هلکان چې په خوشحال خان کالج کښې سبق ویلو، د دوئ نه خپل قومي مقصد ورک شوے ؤ، او کمونستي ولو یعنې خلق او پرچم کښې تقسیم وو، او دوئ ځانونه روشنفکران بلل، او روشن فکران څه وو، بس داکتوبر انقلاب، او لینن نه به یې راشروع وکړه هم په دوئ به یې ختمه کړه، نه د اکتوبر نه مخښکې څه ورته معلوم وو، او نه داکتوبر دانقلاب نه پس. نو دوئ ته به د باچاخان او خدائ خدمتگارو لاره پس ماند ښکاریده. دوئ به ټوله مسئله تر طبقاتي مبارزه څرخوله همدغه دریم مرض ؤ، دوئ د بعوئ د پښتونستان د قبائیلي سیمو کوله، سبق چا په کابل کښې او چا روس یا مشرقي یورپ یا جرمني کښې ویلے ؤ، او د افغان د نوکرشاهي پرزې وې، دوئ د ویلې دواړه غاړې خوړې، چې د افغان حکومت نوکرۍ به وې بیا به دوئ ورته افغانان شول، چې د پښتونستان مسئله به شوه بیا به سړ د ډومیساله به دوئ پښتونستاني وو، د نیکه د وخت دغزاکانو حوالې به یې ورکولې، او په سیاسي توګه د قوم پرستي نه دوئ مخکښې کمونیزم ته تللي وو، نو دغه عجیبه مخلوق ؤ.- دوئ نه د پښتونستان نه خبر وو، او نه د افغانستان د معاشرې د جوړښت نه، بس دوئ خپلې تیوري رایستې وې، دهغې په بنسټ

به یې خپرنې کولې چې دوطن اوخلکو سره یې هیڅ سمون نه خوري
بس دخدای په قهر یې ځانونه ککړ کړي وو، که چیرې به چا په
غلطۍ سره د ده په طبقاتي علم کښې کوټې وو هلې نو بیا ورته ټینګ
شه، سلوکالو پورې یې درته بعض ساتلو، نو دغه سلا وبا وه،
چې دوئ به دیا چاخان دلارې مخالفت کولو، چې دې دله کښې -
ن موږ دکوزې یې خوا ځینې انقلابیان هم وو، خو دوئ ډېر
چالاک وو، د باچا خان مخالفت یې د ثور انقلاب په وخت کښې کولو
خو چې پوه شول چې دکمونستانو مور مري، نو ځانونه یې رو،
رو بیا د باچاخان قطار ته سم کړل، ما ته حاجي نادرخان وئیل:
چې د باچاخان د ملګرتیا په وجه افغان حکومت زما تنخوا اومراعات
بند کړي وو، چې زه بیا هم سم نه شوم، او د باچاخان دملګرتیا
نه وا نه وبستم، نو دوئ حیران وو، چې څه راسره وکړي، نو بیا چې
وزیر عظم بدل شو، ځما تنخوا یې بیا خلاصه کړه، بیا یې ووئیل،
چې موږ ته دباچاخان په مشرګرۍ دپښتونستان د مسئلې په خاطر
دیو وفد په شکل کښې افغاني وزیر عظم هاشم میوندوال ته ورغلو
ده د باچاخان دعزت دراکمولو کوشش داسې وکړو، چې بهر
په چمن کښې یې یوه کرسۍ کېښوه، په هغه باندې دے کښیناستو
او دباچاخان کرسۍ نه وه، نوموږ ته بشمول دباچاخان ټول ولاړو
ورسره خبرې وکړې، او دغه دله ناست ؤ، دده خیال ووچې باچا
خان به سره دوفده په کبلو کښې کوندې ولګوي، او دغه شان به

باچا خان خو دې، ته تیس ورسي دغه نمونه د PRIMI TIVE
وزیر عظمان وو،.

حاجي صاحب وویل: چې وزیر عظمي نه مخکښې به باچاخان
ځای دار الامان ته راغئ نو هغې پورې به یې سترګې نیولې او
خیټه به یې کرولـه، چې د پوډرې وخت به راغئ بیا به یې په
مړو سترګو پوډرې ته پلټه ووهلې او پلیټ یعنې تالی به یې
وړسپې وختولو، چې وزیر عظم شو، بیا یې دغه حال وو،
داځکه چې افغان شاهي کورنۍ غو بښتل، او ده د خپلې نوکرۍ،
دپاره داسې غورځیدلي کارونه کول، او داسې په هزارها مثالونه دي.

ماته احمد کاکا خدای دې وبخښي وویل: چې بچو زه د دې
افغانانو افسرانو نه کله نه کله دومره تنګ شم، زړه مې راړک شي،
او سر مې چکر ووهي، او کله نه کله په زړه کښې کرل ریبل شروع کړم،
چې لاړ شه د طورخم په مزي دپاسه دپاکستان، جناح او تر سرسید
احمد خان پورې د زنده باد داسې چغې وواهه چې زړه مې سپک
شي، خو بیا سوچ وکړم چې په دې پټو حرامیتو بونو خو ته خبرې،
لاندې خلک خو نه دي خبر، د ټول عمر عبادت به دې لاړشي، داځکه
چې افغان حکومت به ووائي، چې موږ ته معلوم وو، د پاکستان -
جاسوس ؤ، اوس ښه دے چې پخپله یې چغې وکړې، نو لاندې
پیښوں کښې به خلک ټول را باندې لعنت ووایي، چې ده لاځان
ته د باچاخان خدمتګار او اعتباري سړے ویلو، هرچانه خو

دغه صفايي ډېر مشکله ده چې زه وکړم چې ما دغه چغې ولې وکړې نو ددې سړی به بیا ویریدم ، ددوئ حرامیتوبو ته به مې دصبر کولې وا چولې،،

ما ته حاجي صاحب نادرخان یوه بله خبره کوله: چې دکوټې نه صادق کاسي راغلے وو، دده او د ریاست قبائیل رئیس سلیمان خیل ترمنځ خبرې ترخې شوې ، نو سلیمان خیل ورته دهمکي ورکړه ،چې ما پیژنې ، زه دومره قوت لرم ، چې لاس نیولے به دې په سپین بولدک پاکستان نه ورواړوم،، حاجي وویل چې صادق ورته په ځواب کښې وویل: چې دغه خو به ایله دسړیتوب کار وکړې. سلیمان خیل ورته وویل: چې څرنګې ، صادق ورته وویل: چې ترټن ورځې پورې پاکستان خومونږه په دې ډبوې چې مونږه دافغانستان ایجنټان یو، نو چې تاسې مولاس تړلي په چمن ورواړ وئ ، نو زمونږ دپاره به دې نه غټ کار نور تاسو څه وکړئ،

افغاني افسران په خوله کښې ډېر پوچ دي، خاصکر د سرحدا نو والا ، دوئ تقریباً ټول د پاکستان د سفارت خانې، جاسوسان دي ، صادق کاسي چې چالیدلے وي، دده په غیرتي او باجراته ځوانان به کم پیداشي ،خو عمرې ته ډېرلنډ ژر شهید کړے شو ،کښې ده به دپښتنو په ملي تاریخ کښې یو رول لوبولے وے، نو دغه حال دافغانستان ؤ .

د دوئ د باچا خان سره ټول ټال امداد دغه و، چې د پښتونستان
په ورځ به یې کوم تقریر کولو، هغه به دوئ چاپ کړو،
تقریر څه و، د دنیا سخت ترین ساسونه به تیریدو، بیا به
دوئ چاپ کړو، او غازي ستیدیم کښې دوئیلو اجازت و
د قبائیلو د ریاست د مامور یعنې کلرک نه را واخله تر رئس، وزیر-
خارجه، وزیر عظم، ظاهر شاه او ملکې حمرے پورې به دوئ،
کتو، چې چیرته داسې ټکئ، پکښې راشي چې دوئ ته ځینې
تکلیف ورسي، دغه د دوئ د پښتو ورونو د پاره امداد و، چې
داسې نمونه چاپې، پښتو رکښې هره کوڅه کښې سرئ چاپ
کولے شي، نو دوئ به د دې نه غټ شے جوړ کړي.

لنډه دا چې باچاخان سره چې کومې وعدې شوې وې، یوه هم
دوئ پوره نه کړه، پوره خو پرېږده اولته د باچاخان د شخصیت
د غورځولو کوششونه یې کول، په دې باندې لاندې مشران ټول
خبر وو، چې کابل څه دے او د دوئ پښتونستان څه دے،
مګر دغه داسې نازکې قیصې وې چې دوئ په چوک یادګار کښې
په تقریر نشو کولے، داځکه چې دغه کارونه افغان اولس
نه کول، بلکې د دوئ حکومت کول، نو که چیرې زمونږ مشرانو
د دې مخالفت کړے وے، نو لاندې پښتونخوا کښې غلط فهمي
ځینې جوړیدې، نو بیا د لاندې خلکو نفرت به د ټولو افغانانو
نه راتلو، چې پښتو مشرانو، دغه د کابل د واکدارانو "PRIMITIVE"

چالاکی باندې سترګې پټولې، او نه یې غوښتل چې دا لاندې او باندې پښتنو ترمنځ بې باورۍ راشي، مګر په حقیقت کښې چې دچا لږه هم تجربه د افغان بهو راکړاسې سړه وه هغه په دې نازکتوب پوهیدل.

یو ځل افغان حکومت د کوټې څوک سیاسي لیډر جشن کابل ته دعوت کړے ؤ، نو اول ځل یې وو، ډېر قدر یې وشو، خودغه ډېر چالاک اوهوښیار سړے ؤ، افغاني نوکرشاهي یې زړېږندلے ؤ، نو چې بل کال، بیا دوئ دعوت کړو، دے نه لاړو ورپسې بیا څو ځله دعوت کړے ؤ دے نه تلو، اخیر افغان کونسلر [illegible] ورپسې پخپله تلے ؤ، خوده انکار کړے ؤ، افغان کونسلر [illegible] دانکار علت پوښتنه کړې وه، ده ورته وئیلي وو: چې صاف خبره دغه ده، چې دستاسو د افغانانو عادت دے، چې دچائ اوله بیاله خوابزه ورکوئ، بیا روستو ټول چاینک ترېخ په تشې، نو ما خوبزه پیاله تشې ده، ترخه چاینک ته نه ځم، افغان کونسلر پوه شوے ؤ، چې چائ اوچاینک نه دده مقصد څه دے.

په دې خوابزه پیاله پسې د بلوچستان مشهور پښتون لیډر محمد ایوب خان اچکزي تلے ؤ افغان حکومت یو وعده ورسره پوره نه کړه دغه دده متعلق چې زه څه لیکم دد ې خبرې زه پخپله شاهد یم.

محمد ایوب خان ډېرلوئ پښتون ؤ او ډېر رښتني سړے

ؤ، دروغ، دهوکې او چاپلوسۍ د مرضو نه بالکل پاک ؤ دے
بیمار ؤ، د کابل وزیر اکبرخان په هسپتال کښې داخل ؤ، زه د
اجمل خټک صاحب سره د ده پوښتنې ته لاړم، او یو راسره شیرمحمد
دسوات ؤ، چې نن سبا وکیل دے، هغه وخت موږ ته په پښتون
ستوډنس فیدریشن کښې و، دخان صاحب سره د سرحد اتومعین چې
ورځ ؤ په قوم، هم ناست ؤ، «دغه دصبا ردا ودخان وختو» -
خان صاحب دخټک صاحب نه یې تپوس وکړو، چې دوئ څوک
دي، خټک صاحب ورته ځواب ورکړو چې دغه یو علي خان -
نومیږي محسود دے، او دغه بل شیرمحمد نومیږي دسوات دے
دوي د P.S.F هلکان دي،،

نوخان صاحب ډېر خوشحال شو، موږ نه یې تپوس وکړو
چې کابل ته پاخه راغلي یاست، خټک صاحب ورته وویل: چې ددوئ
پسې پاکستان بهتو وارنټ گرفتارۍ جاري کړي دي، دټوکې نه
یې ورته وویل، چې تحریب کار دي، موږ ورته وئیل چې موږ ته
بیرته ځو، په دې ډېر خوشحال شو، او موږ ته یې وویل: چې
کابل کښې هیچرې نهم نشئ، بیا یې خپله خبره وکړه، ویې وئیل:
چې کله نه کله زه سوچ کښې لاړ شم. په دې فکر کوم چې ما په
ژوند کښې کم ځائ غلطي کړې ده، نو بالکل دخان صاحب په ژبه
«ویې وئیل چې کوم غول ماخوړلي دي هغه دا چې زه دکوټې
نه پښتونستان پسې کابل نه راغلے یم» دغه خبره یې دافغان،

حکومت نائب وزیر په لخکښې وکړه ، نو دغه ورځ پر
کچه شو ، خوغږ یې ونه کړو ، مونږه هم خفه شوو ، داځکه
چې خان صاحب خپل کور کلئ او اولاد ددې دروغجنو په وینا
پریښې وو ، کابل ته راغلي وو ، اول سرکښې خوږه پیاله وه بیا
نو ترخه چائ ته ترمرګه پورې ناست وو ، افغان حکومت یوه
وعده ورسره پوره نه کړه ، دغه دافغان حکومت سیاست وُچې لانګې
پښتونخوا کښې به څوک پیدا شول ، نو دوئ به ډېرې چلونو پیچ کړو ،
دوئ په فقیرایې ډېر کوشش کړے وُ ، چې دوزیرستان نه یې
کابل ته بوځي ، خو حاجي صاحب خو دوئ پیژندل ، نو ده ورته
وویلي وو ، چې دپښتونستان مسئله کابل کښې نه ده ، بلکې دلته
وزیرستان کښې ده . نو ځما دلته اوسیدل فائده مند دي ، با نسبت
کابل کښې چې دوئ دې کښې کامیاب نه شول ، نو دوئ حاجي صاحب
ته نورې بلاګانې جوړې کړې ، خلیفه لطیف وزیر یې ورته راپورته
کړو ، خو هغه دومره سړے نه وُ ، چې دحاجي صاحب مقابله یې کړے
وائ حاجي صاحب لښکر وشرلو بیا روستو چې ۱۹۷۰ کښې انتخابات
کیدل افغان حکومت په پټه قیوم خان ته ۲۵ لاکهه کلداري ، ورکړې
وې ، چې N.A.P انتخابات ونه ګټي . دغه هله معلوم شول چې
۱۷ جولائ ۱۹۷۳ کښې د داود خان په قدرت راغلئ نو ددې پټو رابطو
نه یې پرده پورته کړه .

تر دې حده پورې خبرې کیدې ، چې ولي خان باندې دنواب دیر

سړ په د ميرکښې کومه قاتلانه حمله وشوه ، په دې کښې هم دافغان حکومت پټ لاس ؤ ، داځکه چې افغان شاهي حکومت اوشاهي کورنۍ ملي حرکت دخپل اقتدار دپاره د زهرو کولمې کښل نو په ظاهره به ښکلول وو، او په پټه به په چاره وهل وو، خو دلاندو مشرانو مجبورئ وي ، چې دوئ په يوه وخت د اسلام آباد او کابل سره بدي نه شواے کوله،

باچا خان خو لوئ بين الاقوامي شخصيت ؤ ، دوئ نشو خوړلائ ، مګر دوئ نور واړه واړه پاک مشران دومره ډېر پنچس کړيدي، چې شمار يې مشکل دے ، ځينې خو دوئ دومره زړه ماتي کړي وو ، چې صفا سمګلران ځينې جوړ شوي وو، پښتو او پښتونستان ځينې پاتي وو، صرف دپښتونستان په ورځ به حاضر وو، حاضري به يې لګوله ، نور کال به يې دقندهار او کوټې يا جلال آباد او پېښور يا خوست او ميرانشا په لارو سمګلينګ کولو، چې افغانان ورته قاچاق وايي ، يو خدائ خدمتګار ؤ چې ابواب ګل کاکا ـ باندې مشهور وو، هغه يې د باچا خان پسې غېپولو ته ساتلے وو، دوئ په کابل کښې کور ورکړے وو، د ضرورت مطابق به يې باچا خان پسې ژغولو، چې روستو پاکستاني جاسوسي ادارې هم ابواب ګل کاکا استعمالولو، ابواب ګل کاکا به په خرخپه شوے وو ، دنمه خپګان ته دوئ دومره هوا ورکړه چې روستو ددوئ دلاس ګدا ګانې شو.

یوځل د هزارګانو او کوچیانو غوږ علاقه کښې جنګ راغلے ؤ او بیا روستو د دې جنګ نه د شیعه او سُنې قیصه جوړه شوې وه، چې دغه ته افغان حکومت لمن وهله، باچاخان څه خبرو چې افغان حکومت خپل خلک سړ جنګوي، نو د ے ورغلے ؤ، د هزاره ګانو او کوچیانو مشران یې کښېنولي وو، او ورته وئیلي یې وو چې نه امام حسین صاحب هزاره ؤ، او نه یزید کوچے ؤ، دغه دواړه عرب وو چې د دوئ په کرسۍ جنګ و، که شیعه ګان دي او که سُنیان د امام صاحب په شهادت باندې غمجن دي، او یزید ته بد وائي، خو د دې مقصد دغه نه دے، چې تاسو اوس دیوبل خونه میرانګ نو د هزاره ګانو مشران او د کوچیانو مشرانو د باچاخان په خوله رو نمې ته تیار شول، باچاخان روغه وکړه، باچاخان به کابل ته نه ؤ پاسته شوے، چې د حکومت ایجنټانو بیا هزاره ګان او کوچیان په جنګ واچول، دا ځکه چې حکومت دا ریدو، چې باچاخان به په افغان اولس کښې محبوبیت پیدا کړي، او یوه ورځ به موږ ته وشړي چې تاسو څه کوئ،

دغه ټول د محمدزیانو شک او وهم ؤ، چې باچاخان به هرات مزار شریف علاقو ته لاړو، تاجکانو، ترکمنو او ازبکو ته به یې وویل، چې تاسو ټول افغانان یې، خپل وطن آباد کړئ، کورنۍ بدبختۍ ورکې کړئ، په اولادونو علم وکړئ. نو د دې عام خبرو نه به افغاني نوکرشاهي یوه لوبه بله جوړه کړه، او د باچاخان-

بنه نیت به ودوئ په غلط رنګ کښې پیش کولو، اوتر زمکې لاندې به یې تاجکان او ازبکان واروول. چې دغه پښتون فاشیټ راغلے دے، تاسو خوراک ته نیت کړے دے، همدغه نمونه افواکانې به دوئ خورولې، چې کابل کښې ورته سرچوک آوازې وایي، خودباچاخان پوزشن داسې ؤ چې دوئ ورته په ښکار لاس نه شو اچولے، دا ځکه چې دے یو بین الاقوامي مشرو، اولاندې پښتونخوا کښې خدائے خدمتګار د « N.A.P » په شکل کښې منظم وو، نو دوئ واریدل کښې خدای خبرچې دوئ به دباچاخان سره کوم سلوک کړے ؤ. او کابل همیشه دغه سیاست پاتے شوے دے، چې پښتونخوا کښې یې دپره په خوږه قومي حرکت ټکولے دے، ددوئ به چې څوک بدې شو، یا به ورته خطره وه ځینې، نو دټکولو دوه طریقې وې، یو دغه چې په چل ول کښې به یې کابل ته کړو، بیا به یې دوریږی تال ته کښېنولو، او یا به یې دومره صفتونه شروع کړل، چې پاکستاني، حکومت به یې په شکمن کړؤ، دوئ به لاس وروا چولو، بندي به یې کړو، نو دوئ به بیا په آرام ناست ؤ، دوئ چې هوښه رنګت سنګو ته پریښې یوو، ترنګ ورځې پورې هیڅ کمک نه دے کړے، بلکې زمونږ په سرې د هند روس او امریکې نه امدادونه آخیستل، او سردارانو په مزې کولې، نو دباچاخان قسمت ښه ؤ ۱۹۷۰ کښې نیپ انتخابات وګټل ون یونټ یې مات کړو، خپله صوبه یې وګټله نو دباچاخان تقریباً ټولې هغه غوښتنې پوره شوے، چې ده د

ایوب خان کولې. نو ځکه ده فیصله وکړه چې وطن ته بیرته لاړشي
په دې مینځ کښې د جناح پاکستان مات شو، او مې ۱۹۷۲ کښې د N.A.P
حکومتونه بلوچستان او پښتونخوا کښې جوړ شول، نو دے دسمبر
۱۹۷۲ کښې واپس راغلو، ظاهرشاه په دغه ورځ دومره خوشحاله ؤ،
چې شپه یې کارین میر کښې کړې وه، د شکرانې دوه رکعته نفلونه یې
کړې وو، چې د دې کاکا نه خلاص شوم. دا ځکه چې د دوئ خیال وچې
باچاخان کابل ته راولو، نو بس چې موږ څه ورته وایوو، هغه به کوي
ولې په دې چې دوئ په دغه نورو قبائلو ملکانو عادت شوي وو.
خو باچاخان چې دوئ دښ دې نه ولیدو، نو ظاهرشاه ځنې داسې
ستومانه شوے ؤ، چې په علاج یې نه پوهیدلو، ظاهرشاه
به د ماز دیګر دلمانځه نه پس دغه دُعا کوله چې خدایه پاکه د دې
کاکا نه مې خلاص کړې، یا یې ترخپل کړه، او یا ورته بل سبب جوړ
کړه، چې زه ځینې خلاص شم، چې د دسمبر ۱۹۷۲ کښې ده ته خبر
ورکړے شو، چې باچاخان د حاجي نادرخان په کور تیرشو،
او د خیبر درې نه سمې ته رسیدو نکے دے، نو دے په یوه
پښه وګډیده، یو ځل یې بیا د چینکۍ د غوښې اړول ورکړو،
یو ځل د باچاخان په رانګ او بل ځل یې په ګډ باندې.

افغاني سردارانو په خولو کښې ډېر پوچ وو، یو ځل داسې
چل شوے ؤ، چې شامي پیرونو زیرستان ته راغلے ؤ، څوک وائي
چې د پرنګیانو سړے ؤ، څوک وایي چې د جرمنیانو سړے ؤ،

نو دده سره محسود وزیر په لښکر کښې شامل شول، په دې باندې افغان حکومت خوست ته د محسودو او وزیرو جرګه راوغوښته چې دې جرګې ته د ظاهرشاه تره صدراعظم محمد هاشم خان پخپله راغلی و، او محسود او وزیرو ته ډېر په قهروو، ده ورته وئیلي وو چې تاسو خوځنا ور یې دسپو په لوښیو کښې ډوډۍ خورئ، او نورې یې ډېرې سپکې سپکې خبرې ورته کړې وې، یو محسود مشر وو چې په قوم شمن خیل خالي خیل ؤ، نوم یې فرمان الله خان ؤ، خوخلکو به ورته (کانا) یا خنلاۍ وئیلو دده زوئ د شاهي پیرسره ؤ، ده ته صدراعظم محمد هاشم خان وئیلي وو، چې ته ځان ته خنلاۍ وایې؛ چې خپل زوئ نه شې سمبالولی، د خپل کور اختیار او واک نه لرې. خند

خنلاۍ ډېر سخت طبیعته سړے و، په ټوله جرګه یې غږ کړے ؤ چې محسودو او وزیرو صدراعظم «وزیراعظم» درنه سپې جوړ کړل، جواب ورکړئ ټول غلي شوی وو، بیا دے ورته پورته شوے ؤ، داسې جواب یې ورکړے ؤ، چې وزیراعظم صاحب تاسو رښتیا وویل، محسود وزیر سپې دي، داځکه سپې دي چې دغه سپو دستاسو بنځې او لونه بچه سقاؤ په ارګ کابل کښې ګډولې، دغه سپې پسې لاړل دستاسو بنځې یې آزادې کړې، تاسو ته یې بادشاهي واخیستله، او بله خبره چې تاسو ماته دکوڅه او زما د زوئ په باب وکړه، نو اول تاسو خپله کورنۍ سمه کړئ، بیا نورو ته ګوتې ښیئ. دستاسو لمسۍ بلقیس دظاهرشاه لور

چې ستا وراره سردار ولي خان وتښته وله دغه دپښتو کار دے.

نوټ: شهزادګی بلقیس په پیرس کښې سبق وئیلو او د - محمد هاشم خان د یو بل ورور زوئ ؤ چې نوم یې زلمئ ؤ، هغه ته بلقیس نامزده وه، خو دمار شل شاولي خان زوئ سردار ولي هم په پیرس کښې سبق وئیلو، دوئ دواړه سره مین شول، یوتربور دبل تربور نه ښځه یوړه چې بیا دوئ کور کښې دننه روغه وکړه دغه خبره ورته خندائ کړې وه.»

نو ددې حواب سره په جرګه خرڅند پریوتے ؤ، هاشم خان ورته وئیلی وو، چې محسود وزیر نه بې اعتبار کیدائ، مابه ته دتوپې خولې ته تړلے وې، ده ورته ویلي وو، چې ده جواب او سپکه دتګان ته ته پخپله پیشه کړه خلهٔ ای په هغې ځای باندې قسم کړے ؤ، چې زه به دپرنګي او افغاني حکومت ترمرګه پورې مخالفت کوم، همدعسې یې وکړل تر اپریل ۱۹۵۸ پورې یې دپاکستان مخالفت یې کولو، او دافغانستان دبرابرلو پښتونستان یې هم کولو، داود خان دپرې جرګې پرې کړې وې خونه ورتلو، ده به ښکاره وئیلې، چې لاندې پښتانه پاکستان او پرنګے یې په ترخه وهي او کابل یې په خوږه وهي، نو که موږ ته لر او بر پښتانه یو کوو، نو اول په کابل قبضه په کار ده، چې ددې سردار و، محمد زیو نه یې خلاص او پاک کړو،.

۱۹۷۱ کښې د باچاخان سره زما ملاقات او د سمبر کښې د جناح پاکستان

چې څه وخت ۱۹۶۸ کښې د ایوب خان خلاف د طالب علمانو احتجاج شروع شو، نو زه په ډېرو کالج کښې وم هلته بهتو راغلے ؤ، او سردار حق نواز خان گنډاپوری د پي. پي. پي ډېرو مشرو و، نو حکومت دفعه ۱۴۴ لګولې وه، موږ خو د خدائ نه غوبل غوښتو، بهتو سره روان وو، چې پولیس راباندې لاټهي چارج وکړو، زه د بهتو سره نږدې وم یو پولیس ؤالا بهتو دوه درې لاټهئ داسې ووهلو، چې اوږه یې ورته گرمه کړه، داسې منډه یې وکړه چې پولیس که په سکوټر سوار شوے هم وے، نو د بهتو رانیول گران وو، د سترګو په رپ کښې ورک شو بس زموږ ه او د پولیسو ښه جنګ وشو، موږ په دون یونټ خلاف نعرې کولې، خو دې وخت کښې زه پوړ په دې نه پوهیدم چې موږ ولې دون یونټ مخالفت کوو، په دې بیا روستو موږ اجمل صاحب پوه کړو، چې ون یونټ څه شئ دی، ولې جوړ شو، چا جوړ کړو، د چا په فائده او د چا په نقصان دے، اول

سر کښې دوه یونټ خلاف پښتون ستړود نهس قیدرشي جوړشو، چې اول صدر یې انور کمال مروت و، حمونږ د ډیرو د کالج ؤ، او حماسه په یو هاسټل کښې ؤ. نو په هغه وخت کښې سیاست یا دومره واضح شوے نه ؤ، خو بیا روستو پښتانه په سیاسي ډلو تقسیم شول نو انور کمال مروت د P.S.F نه استعفیٰ ورکړه. داحکه چې "N.A.P" هم خیالو هلکانو زوروؤ، بیا دقیوم خان دراتګ سره قیصه نوره هم واضحه شوه. پښتون ستړو نهس والا حمونږ دقیوم خان سره لاړل، چې سبحان پکښې مشهور ؤ، او نیاته برخه یې د قوم پرستو سره پاتې شوه. چې دوئ په زړه نامه یعنې "PSF" پاتې شول، خو سیاست ته یې تغیر ورکړو، نو مونږه ډیرو کښې هم تقسیم شو، حمونږ یو ملګرے ؤ چې نوم یې انور جان ؤ، دے دلورلائي بلوچستان دغاړے ؤ پښتون ؤ، او مونږ به ورته کامریډ ویلو. دے ډیر شعوري پښتون ؤ، ده مونږه منظم کړو او دقوم پرستۍ سیاست ته یې برابر کړو، بیا خو روستو اجمل صاحب خوځله ډیرو ته راغلو، نو مونږ په ډیرو کښې ډیر زوروؤ شوو "P.S.F" د کومل یونین انتخابات په ۷۰-۱۹۶۹ کښې وګټل زمونږ صدر طارق بابر د پیرپیا ئ پښتون ؤ، او جنرل سکرټري یې زه وم چونکه ولي خان خو به وخت په وخت راتلو، نو زما د باچاخان دلیدو ډیر شوق او ارمان وو، هغه داسې پوره شو چې A.B نه پس زه پښتون پوهنتون ته لاړم، د A.M. پولیټکل سائنس پیاړ

کښې مې داخله واخيسته ، او ۱۹۷۱ په کرمو کښې مود M.A پروپس امتحانانونه ورکړل ، او ما اراده وکړه چې که خدای ته منظوره وي اګست کښې به جشن کابل ته ځم او باچا خان به ګورم ، زموږ يو بل محسود ؤ ، چې نوم يې شمس الدين (منجاورے کاندی) ئې - تخلص ؤ ، ده راته د باچا خان قيصې ډېرې کړې وې ، د اخګه چې دے به کله کابل کښې ؤ ، کله پاکستان کښې ، او د N.A.P سخت طرفدار ؤ . او بله ټوله د دوئ کورنۍ قوم پرسته وه ، بلکې د فرمان الله خان محسود شمن خيل يعنې د خټکو محسود لمسے ؤ ، چې د چا افغاني وزيراعظم هاشم خان سره ټکر راغلے ؤ . نو ده راته وو ئيل ، پاسپورت ته څه ضرورت نه شته ، موږ خوقبائيل يوو ، د ميرانشاه او خوست په لاره به لاړ شو ، افغانستان حکومت څه نه وايي ، قيصه يې نوره هم اسانه کړه ، موږ د اګست په شروع کښې روان شو ، اول رزمک ته لاړو ، بيا ميرانشاه ته ، هلته مود شمس الدين د دګور ملګري سره شپه وکړه سخر وختي د ميرانشاه ګلم خان کلی ته لاړو ، دغه د افغانستان او پاکستان سرحدو ، د دې ځائ د ګوربزو په روسي جيپ کښې خوست ته لاړو هلته يو هوټل کښې متل شو ، دغه ځا اول ځل ؤ شمس الدين خو به هر وخت تلو را تلو ، هر چا پېژانده ، نو دلته يې په ما پسې خلقي او پرچمي هلکان را وستل دوئ ته يې وئيلي وو ، چې د پښتون ستوده نښتن فيدرشن هلک مې را وستی دے ، ورسره خبرې وکړئ

چې کوم په لږ وخت کښې هوتل ډک شو، دوئ ځما نه د PSF
متعلق او N.A.P متعلق ډېر سوالونه کول، خو مصیبت دغه ؤ چې
دوئ به پښتو وئله او ما به هم پښتو وئله، خو دیوبل په خبرې
به نه پوهیدو، د مثال په توګه لاندې موږ ورته یونین وایو دوئ ورته
اتحادیه وایي، موږ دانګریزې تر آثر لاندې یو، پاس دپارسي خو
دغه په حقیقت کښې عربي ده، خو موږ ورته پارسي وایو، بتول
ټکي یې عربي ؤ، ز په نه پوهیدم، ما ژوند کښې اول ځل دپاره
واوریدیل چې مبارزه " Struggle " ته وایي، سامراج
ته دوئ استعمار، کلاس ته، طبقه صدر ته رئیس، پارټی ته حزب
سکرټري ته منشي، او دغسې نور ډېر ټکي وو، چې زه پرې
نه پوهیدم دوئ ځما په سیاسي " Terminology " باندې نه پوهیدل
خو دغه ټول مشکلات په شمس الدین حل کول، داځکه چې دے
لرو پر ګرځیدلے ؤ، پدې اصطلاحاتو باندې خبر ؤو، او بل
موږ بحث دهغې وخت مطابق دمشرقي پاکستان په حالاتو وکړو
خو دوئ به داکتوبر انقلاب ډېر ډېر یاد وو، باید داسې پکار
دي، باید داسې پکار دي، دغه نمونه به یې کولې، د صنعتي،
اقتصادي، معاشرتي ټولو څیزونه به یې دوئ د کمونیزم او طبقه
کښې کوله، او بل به ډېر (Serious) ؤو ټوکې ټکالې نروټلې
وچ کلک ؤو، چې زه یې ډېر وغږ ولم، دوئ ډېر وو زه یو وم
بیا شمس الدین مانه پټ وویل، چې دوئ درته په جګړه اچوم. جګړه

دلاس د کونګ نه بلکې د کرم مباحثې، ما ته د دوئ داخلي اختلافات نه وو معلوم شمس الدین د تولو نه خبرو، شمس الدین ورته وویل چې د نړه کې او بیرک اختلافات په څه دي؟ بس بلاوه او برکت یې نه ؤ، نو پرچمیانو د بیرک او د خپلې لارې صفائي شروع کړه خلقیانو د نړه کې صفائي شروع کړه، ما او شمس-الدین ورته ډډه ووهله، دوئ سره اخته وو، اخر کښې دهوټل والا تنګ شو، موبږه په دې هلکانو کښې د چاکور ته لاړوو، تر سحره پورې بحث روان فیصله و نه شوه، چې نړه کې پرسمه لار روان دے او که بیرک، شمس الدین را ته وویل، چې کابلیان نه پیژنې، ما ته معلوم دي چې دوئ به خرنګې سره جنګوې دې بحث او مباحثې ما تر ډیره فائده راکړه، یو خوې مروج افغاني اصطلاحات مې زده کړل، او بل د دوئ د دخلي اختلافاتو نه خبر شوم، بیا چې به مې د چا سره خبرې کولې، نو ما به هم ورته طبقه طبقه کوله..

د خوست نه موږ روسي موټر (Wolga) نوم یې کابل ته لاړو، په کابل کښې شمس الدین په یو سرائې کښې ځائ وینو، او بیا حمام ته لاړو، خوږه دې ته بې صبره وم چې د باچاخان سره به کله ګورم، ما ته یې وویل چې صبا به دارالامان ته ځو، هلته باچاخان ژوند کوئ، موږه په ټیکسي کښې لاړو، په دروازه یو عسکر ولاړ ؤ، شمس الدین ورته وویل چې موږ باچاخان نزاغلي

یو، هغه دننه لاړو، یو ښکلی ورکوټی قند وړې بزیري والا
سړی راغلی، موږ ته یې ستړي مشي وکړل، او ډېر په مینه
یې دننه بوتلو، ځما جاپي اوخپلې یې وپېژندلې چې څوک
دپښتون نه راغلی دے، ما نه یې تپوس وکړو چې ته څوک
یې؟ ما ورته وویل، چې محسود یم، پښتون کښې سبق والیم
دپښتون ستړو دنیس فیدرشن نه تعلق لرم. نوم مې علي خان
دے او دغه بل ملګرے هم محسود دے خو سبق نه والي
دغه سړے احمد کاکاؤ، ډېر خوشحال شو، موږ یې دانتظار
کوټې ته بوتلو، دے په منډه پاس چت کښې د باچاخان د،
ملاقات کوټې ته، ورځی ډېر بخلک ورته ناست وو، نودځر
وخت نه پس احمد کاکا موږ ته دواړه باچاخان ته بوتلو، زما
زړه درزیدو، ولې په دې چې ځما ارمان په رښتیا کیدو
د باچاخان دومره ډېر په قسما قسم نمونه تصویرونه لیدلي
وو، چې مخ یې راته ناآشنا نه وُ، خو بیا هم تصویر، تصویر
وي، چې په رښتیا مې ولیدو، بابا راپورته شو، زه یې ورښکته
کړم، او دغسې شمس الدین خو ورخطائي هلته راغله، چې
دهرکلي نه پس باچاخان دځه وخت دپاڅ چې اوغلی کښناستو
خوبیا یې تپوسونه شروع کړل، د(P.S.F) متعلق اونورې
ډېرې خبرې یې موږ ته وکړې، دخدای خدمتګارانو نه تردپاکستان
جوړیدو پورې، او بیا دوه یونټ پورې خبرې یې راته وکړې.

موږ ورته غوږ نیولے ؤ. یوځل زه به جذباتو کښې راغلم، ما ورته وویل چې دوئ که موږ ته حکومت نه راکوي، نو جنګ ورسره کوو، باچاخان زما لاس ونیولو، ویې ویل، هو، جنګ ورسره کوو، خو دتوپک نه د سیاست جنګ ورسره کوو موږ خو د عدم تشدد والا یو، بیا یې زما نه پوښتنه وکړه چې هلکان څه وائي بیا ما ورته د بنګال قصه وکړه. چې هلکان داسې وایي باچاخان ډېر خوشحال شو، موږ ۵، تقریباً پاو باندې یوه کهنته ورسره ناست وو، بیا باچاخان وویل چې بیا به ګورو، اوس لاندې خلک انتظار کوي، باچاخان - مخکښې ؤ، ځالاس یې نیولے ؤ، خو پوړه دومره تنګې وې چې غبرګ زه د باچاخان سره نه شوم تلی، زه روستو پسې روان وم، ما پسې شمس الدین ؤ، بیا احمد کاکاو، باچاخان وویل چې نن دوډۍ له ماسره وخورئ. خو شمس الدین بزغ پرې وکړو، چې موږ ته چامیلمانه کړې یو، نو باچاخان وویل چې بیا د هغوئ حق دے. زما زړه ؤ چې د باچاخان سره دوډۍ وخورم، خو شمس الدین خبره ورانه کړه، ده ورته دروغ وویل. هیڅ نه وو میلمانه کړي، اوس خو ما نه شو ویلے چې دروغ وائ، ما ته ښه یاد دي چې پوړه سره یو فرېج ؤ باچاخان هغه خلاص کړو، دوه منډې یې راوخښتې یوه یې ما ته راکړه او هغه بله یې شمس الدین ته ورکړه، موږ ته

یې دغسې رخصت کړو ، رو ستو شمس الدین راته وویل ، چې لویه غلطی مې وکړه ، کوم کار مې بند ؤ چې دروغ مې ورته وویل. ما وته وویل چې اوس وخت تیر دے ، کار دې خراب کړو ، ما هغه منه دورچاڼه دباندې یوحوره ، شمس الدین د تبارک دپاره دځان سره ساتلې وه ، دغه اوله ورځ وه بیا مې احمد کاکا وپیژنده ده به دپره مینه کوله ، بیا یوه ورځ مې دلته دباچاخان په کور کښې جنرل جیلانی ارباب هایون او برسترظهور ولیدل ، دوئ دپر خوشحال شول ، ماته یې وویل ، چې ته دلته څه کوې ما ځواب ورکړو چې تاسو څه کوئ ، بیا دوئ راته وویل: چې تاسو پریس کلب ته راشئ ، چې افغانان ورته مطبوعاتي کلوب وائي ، موږ هلته معطل یو ، چې یوه ورځ موږ ورغلو ، چې دجنرل صاحب سره د چاینو دمرکولو دربرخه تړپړه وه ، دوز په شو چې مچ به یې په مرکړو ، بیا یې نوکر ته په دوره ښایسته فارسی کښې دچایو فرمائش ورکړو ، شمس الدین ځنې تپوس وکړو ، چې جرنیل صاحب پاکستان کښې خو فارسي نشته داتاسو کوم ځای زده کړې ده ، جرنیل ورته ځواب ورکړو ، زما والد صاحب په مشهد کښې دانګریزانو په وخت کښې کونسلر او که کونسل خانه کښې نوکر ؤ ، دغه اوس ځما په یاد ته دې ورته وویل . نو ما دغه فارسي مشهد ایران کښې په ماشوموالی کښې زده کړې ده .

په دې کال جشن ونه شو ، داځکه چې شمالي افغانستان باندې خوشکه سالی راغلې وه ، چې د برخلکو دلوږې نه مړه شوي وو. او خپل اولاد ونه یې خرچ کړي وو، خلکو به دغه خبره کوله تو بادشاه ځکه جشن ونکړو، خو ترجشن نه زه دپښتونستان دوځې په انتظار وم ، هغه ورځ هم راغله ۳۱ اګست باندې د خوشحال خان او رحمان دکالجي هلکانو باچاخان دیوجلوس په شکل کښې اول پښتونستان چوک ته راوړو ، باچاخان په بیو جیپ کښې سوړ ؤ ، چې پرچمیان ، خلقیان او افغان ملتیان ټول ورسره وو ، یو شور یې جوړ کړے ؤ . زه ظهور الدین رمضاني سره وم . دلته ما داود خان ، نعیم خان او دظاهرشاه زوی احمد شاه شهزاده ولیدل ، چې ولاړ وو ، ما نه پیژندل خوظهور الدین رمضاني راته وویل ، موږ ټول بیاد باچا خان شاته ودریدو ، دکابل بنا روال جهنډه خلاصه کړه ، اویوه مشکله پښتو کښې یې خبرې وکړې ، ټوله پښتو او تقریر یې په passe « vicl » کښې وکړو ، بیا ددې ځائې نه غازي ستیدیم ته د جلوس په شکل کښې روان شو ، ګرمی هم وه دخلکو په وجه داسې دوړه پورته شوه ، موږ د ستیج نه ډېرلرې ولاړو ، اول باچا خان تقریر وکړو ، چې زیات زوریې په بنګال کښې په پاکستاني فوجي ایکشن باندې واچو ، او بیا ورپسې ایوب خان اخکزي وکړو هدغسې دپښتونستان ورځ ولمانځل شوه ، دغرمې دوډۍ په ریاست-

قیائیل کښې وه. چې دلته موږ ته راغلو قمرګله او ذاخیل اونورو سندرغاړو، میوزیک غږولو. دلته مې موسیٰ شفیق ولید وچې دے افغان وزیر خارجه ؤ، دبهتو په خیریې خټې او ږدې پرایښې وې، یا په بله ژبه دهغې وخت مطابق حمګوږ په نمونه، ما ته یې دې حرکت ډېر خوند راکړو، چې باچا خان راغئ دے نه صرف ورتر پورته شو بلکې په منډه مخې ته ورغئ، دباچا خان لاس یې سبکل کړو، خو ما ته شمس الدین وویل چې ته افغاني مکر نه پیژنې، دغه اخلاص نه دی دغه مکر دے. خدائے خبر چې دده اخلاص وو او که مکر، خو ما ته یې ډېر خوند راکړو.

ددې ډوډۍ په دوران کښې مې رشید وزیري وپیژندو چې دے یې د مظاهرې په وجه د جلال آباد میڈیکل کالج نه خارج کړے ؤ، ډېر سخت پرچمي وزه یې ترهغې پورې په ارام نه پرېښودم چې بیرک کارمل ته یې مکرویانو ته بوتلے نه وم، ما ته شمس الدین وویل: چې بیرک کارمل دپرچم حزب صدر دے، چې موږ رشید وزیري وروستو، زما خیال، دے چې دریم منزل کښې یې کور ؤ، ډېر په مینه یې سترې مشې وکړل، اوس ما ته دومره تجربه شوې وه چې تقریباً سیاسي لغاتونه راتلل، بیرک هم دبنګال متعلق ډېر سولونه وکړل، اوبل یې د P.S.F د تنظیم او نظریې متعلق پوښتنې وکړې یوسوال یې دغه وکړو چې ته خټنګې وایې چې نیپ کښې اکثریت دغریبانانو

مزدورانو اوکسانانو دے ؟ نو ما دغه مثال ورکړو چې نه په
دې بنیاد وایم، چې په تولنه صوبه کښې پښتون اومردان بې
صنعتي لحاظ تعلیمي لحاظ او زراعتي لحاظ ترقیاتي ضلعې دي،
نو په دې ضلعو کښې نیپ سل فیصله سیټونه کټلي دي، نو
د دې نه اندازه لګي، چې دغه خو ټول خانان نشي کیدے.
بلکې غریبانان، مزدوران اوکسانیان وو، دغه خبره یې راسره
ومنله، نور یې ټول کمونستي بحث کړ، چې د اکتوبر د انقلاب
نه یې راشروع کړے ؤ، امان الله خان، دویم جنګ عظیم
دغه ټول یې پکښې یاد کړل، شمس الدین عجیب سړے ؤ.
دلته یې دځان نه سور کمونیست ببرک ته جوړ کړو، روسو
بیا چې ببرک خبره کوله مخ به یې شمس الدین ته وراړو، ده
به ورته سرخوځاوه. بهر چې راغلو ما ورته وویل: چې
ته کله نه کمونست شوے یې، ته خو منجاوری کاندهي یې؟
ما ته یې وویل، چې نه کابلیان نه پیژني، دوئ عمل ته نه
ګوري، د خولې خبرې ته ګوري. ما ته ببرک د خپل پارلماني
بیانونو یو پنډ راکړل، چې دغه درسره کوز یوسه، ماسره په
صندق کښې دومره ځائ نه وو، لوګر کښې هم پرېښود، یو دوه
درې نمونې هم دځان سره یوړې هم دغه شان چې تلو، باچاخان
ته ورغلو، ډېر په مینه یې رخصت کړو، ما ته یې دخپل تقریر
اوبلې پمفلټ چې په ون یونټ یې لیکلې وه، راکړه چې ترتن ورځې

پورې خاسه دی، شمس الدین او زما لارې جدا شوې، دے
وزیرستان ته لاړو، زه د خپلو خپلوانو سره څه وخت په لوګر
کلاي بغلا قلعه کښې معطل شوم، بیا وطن ته لاړم چې دې وخت کښې
زموږ دګرمې چهتیا نې تیرې بوې یوې ورستې خلاصه وه، پېښور ته
لاړم، خو کابل ته ټک او د باچا خان سره ملاقات، ما تر سیاسي
ژوند کښې ډېره فایده راورسوله، چې زه یوې ورستې ته
ته راغلم د هندوستان او پاکستان حالات ډېر خراب شوي وو.
په بنګال کښې جماعت اسلامي الشمس او البدر تنظیمونه جوړ کړي
وو، د بنګالیانو د وینو سره یې لوبې کولې، جنرال ټکا خان فوج د یې لاکهه
بنګالیان وژلي وو، پاکستانی فوج هم د ومره بنګالی ښځې او پیغلې یې ناموس کړې وې،
او کلکتې ته په کروړاوو بنګالیان ښتیدلي وو، زموږ یار
مولانا بهاشاني په دهلي کښې چکرې لګولې، او یو طاقت
طور تحریک د بنګالیانو جوړ شوے وُ، مکتی باهنی سرګرم عمل وو.
بنګالي افسران د پاکستان سفارتونه په منډې وو، د اسلام آباد
نه ډېر بنګالیان د خیبر، باجوړ او مومندو په لاره کابل
ته تلل، او بیا به دهلي هند ته تلل، بس هر طرف ترګډوډي وه
خو د دې ټولو باوجود، د پاکستاني واکدارانو سترګې نه خلاصېدې
پېښور یونو رسټی کښې بنګالي (students) وو د دوئ د
جماعت اسلامي نه ډاریدل. موږ ه د PSF والو تسلي ورکړه
چې تاسو ته څوک څه نشي وئیلے، او که چا درسره چیړه وکړو،

نومـوبز ه خبروئ ، دجمعیت طلبا والاموداسې دارولي وو، چې عزیز یې نه شو کولے . چې زموږ صد نثار خان شیښواري به ښکاره شو، نو په دوئ به هیبت راغئ ، نثارخان سره دطمانچې بدرګې کرځیده ، دده سره په اکثره داسلامیه کالج هلکان وو، چې دوئ خود خدائ نه جګړې غوښتې، نوځوئ دسوات هلکان ووچې دجماعت اسلامي هم خیال وو، موږ به ورته وویل چې پاکستان ماتیږي ، دوئ به ویل چې موږ ه او مشرقي پاکستان اسلامی رشته لرو . دغه نه ماتیږي ، موږ به ورته ویل ، چې اسلامي رابطه نه بلکې صرف P.i.A رابطه ده. دخدای قدرت ته ګوره چې کشمیریانو د هندوستان جهاز کنګا وتښتولو، دلاهور په هوائي اډه یې تباکړو، په دې هند غصه شو ،

د P.i.A « Pakistan gntirnation »
پروازونه یې دهکه ته د هند په هوائي بندکړل، په دې وخت کښې بهتو شور جوړ کړے وُ، چې اقتدار ماتر - راکړئ ، خوچا نه ورکولو، نه دده کوشش وُ چې پاکستان مات شي ، پاکستانی فوج بې عزته او وشرمیږي ، ددوئ شته به ماته شي ، نو مغربي پاکستان کښې به بیا اختیار زما په لاس راشي ، ده کوشش کولو، چې دفوج اوجیب ، روغه ونشي، جنګ وشي ، دطیارې په تباکولو کښې دده لاس وُ.

یوځل زما خیال دے اکتوبر ۱۹۷۱ کښې اخبار والو ځنې تپوس کړے وُ، چې که هندوستان حمله وکړي، ددې متعلق ستا څه خیال دے، دده ځواب وُ: اگر هندوستان نے حمله کیا۔ "THAN LET IT DAM MAST"

دمه دم مست قلندر۔ "QALANDER"

دمه دم مست قلندر یې ځکه وئیلو چې دے پوه وُ چې، هند حمله وکړي، په مشرقي پاکستان کښې یې فوج مقابله نشي کولے، نو پاکستان به مات شي، او مغربي پاکستان کښې به ده ته اختیار ملوُ شي،

اکتوبر ۱۹۷۱ - کښې زموږ یار قیوم خان، بې وقوف صدر جنرل یحیٰ خان دے، ته وملسو، چې په N-A-P - باندې پابندي ولګوي، ماته ښه یاد دي چې N-A-P باندې دپابندئ خبر د ریډیو ته خور شو، نو ما جنرل جیلاني ته ټیلفون وکړو چې اوس به څه کیږي؟ ده راته وویل چې دلته یونورسټي ټاون ته راشه، زه په ټیلفون درسره خبرې نشم کولے، زه پوه شوم چې د ده مطلب دادے چې دده ټیلفون ټیپ کیږي، زه ورغلم، دبندش په باره کښې یې خبرې وکړې، دچای نه پس ماورته وویل: چې بنار ته اجمل صاحب ته ځم، هغه وخت به ختک صاحب د نیپ دفتر چې دشهباز دفتر هم وُ، اوسیدوُ، چې -

نذر باغ فلیټه کښې وُ، زه چې ختک صاحب ولیدم بې کچې، خوشحاله شو، ماته یې وویل: چې اوس منم چې ته په ربښتیا په پښتونو معین یې، ما ځنې تپوس وکړو، چې ولې ده، وویل، چې ښه موسم کښې هرڅوک ماته راځي، خو خپل موسم کښې هرڅوک زمانه تښتي، ته په دې خطرناک وخت کښې چې راغلې دغه ددې ثبوت دے، چې ته په ربښتیا قوم پرست یې.

ما دپاره خو ورتک یو عام شئ وُ که ختک څه نه وے ویلے نو ما ته خو ددې ټک هیڅ داهمیت پته نه وه، دلحکه چې موږ ه خو N.A.P او "P.S.F" سره داسې تړلي وُو، چې د چالاکۍ او چلول، موسوچ کولے نه شو، او دومره پاخه او مفاد پرسته شوي سیاستدانان موږ نه نه وو، چې په خوله مو یو او په زړه بله وائي، ماته یاد دي چې د څه مودې نه پس حاجي غلام احمد بلور راغئ، هغه وخت کښې بلور په سیاست نه پوهیدو، د دوئ ټولو نه کشر وروڼو عزیز بلور په سیاست پوهیدو، بس چې حاجي صاحب راغی قیوم او یحیٰ خان ته یې په کنځلو پیل وکړو، نور یې په چل نه پوهیدو، بیا روستو د N.A.P خلق راغلل، چې موږ ه یو ټولے شو، نو ختک صاحب وویل: راځئ قصه خوانه کښې یو چکر ولګوو، د ملګریو زړونه به غټ شي او مخالفینو ته

به وښايو چې موږ ته موجود اوژوندي يو، بس ختک صاحب راته مخکښې ؤ او موږ ورسره وو، د دې سره د ښار خلک د «N.A.P» والا ته ورشول، رو رو پوره جلوس جوړ شو، نو د دې سره د بندش خبر اثر بالکل کم شو، د N.A.P والا مست شول، اجمل صاحب ورته وويل، چې تاسو هيڅ غم مه کوئ، د يحيىٰ خان حکومت په ختميدو دے، د څو ورځو ميله دے،

په دې کال کښې به هره ورځ او مياشت څه نه څه اهم واقيعات کيدل، نومبر او په دسمبر کښې حالات ډېر خراب شول. د ټکا خان جنرال قسمت ښه وو، دے مخکښې مغربي پاکستان ته راغلے ؤ. او غول يې جنرال نيازي ته پريښودلي وو. دسمبر کښې حالات دومره خراب شول چې دهند فوج په مشرقي پاکستان داوبو دغاړې د مزکې دغاړې او د هوا دلارې ورنوته پاکستان فوج دپاره بله لاره پاتې نه شوه بغير د دې نه چې يولاکه فوج هندوستاني فوج ته سلامي شو، هندوستاني جنرال، اروړه بنګال فتح کړو، جنرل نيازي ورته «Hands up» وکړل، چې څه وخت مشرقي پاکستان هندوستان فتح کړو، ډهاکه د دوئ په لاس وراغله، نو موږ ته يونورسټي کښې جلوس وويستو چې جنګ دې نه بند يږي، حکومت مطلب دغه ؤ، چې که يوه هفته نور جنګ وشي، نو نتيجه به يې زموږ په حق کښې وي، دغه کار موږ ته شعوري کولو، مګر لاهور کښې اصغر خان چې اېرمارشل

مارشل پاتے شوے ؤ ، اوبل اِیئر مارشل نور خان ؤ ، دواړو ،
جلوس ایستی ؤ ، دوئ هم دجنګ جاري ساتلو مطالبې کولې
ماته افراسیاب ختک ووئیل ، چې ماته منل چې فوجیان idiot
دي ، خواوس منم ، ماورته ووئیل ، چې ولې ؟ ده جواب راکړو
چې موبزه دجنګ جاري ساتلو مطالبه کوو ، خو دغه کارمونږه
شعوري کاؤ ، چې د دې به څه نتیجې وي ، مګر دغه احمقان
هوائي فوج مشران هم پاتې شوي وو ، دوئ دومره نه پوهیږ
چې جنګ جاري وساتلے شي نتیجه به یې څه وي ، بهرحال ،
دسمبر ۹۷۱ کښې دجناح پاکستان مات شو ، پاکستاني فوج د
بهتو په سازش ، بې عزته اوشرمیدو ، اوهند کښې قید شول ،
اومغربي پاکستان کښې ددوئ نه اختیار لاړو ، بهتوپه UNO
کښې یې غوبل جوړ کړے وو ، هرد رونې کوشش یې سبوتاژ
کولو ، چې نیورک کښې یې پوره تسلي وشوه چې پاکستان مات شو
نو دلته یې دمګرمچه اوبنګې توپولې شروع کړل ، چې باهر
به یې خفګان خو دلو ، اوپه زړه کښې دننه دخوشحالۍ نه یې
ځائ نه کیدو ، هم هغه اوشول ، چې ده غوښتل ، یعنې اِدهرهم
اودهرتم) اودې دپاکستان په تاریخ کښې اول ځل ، دپاڼ یوسول
سړے ، مارشل لاء ایله منتهر نه شو د (NAP) نه یې پابندي
اوچته کړه ، دغه دده مجبوري وه مګر داختیارا تو اوصوبو
کښې حکومت ورکولو کښې یې دتال ممتول نه کارا خیستو .

مئی ۱۹۷۲ کښې د (NAP) صوبايي حکومتونه

او

د باچاخان رانګې

د ۱۹۷۰ د انتخاباتو په بنياد پنجاب سنډه کښې پيپلز پارټی انتخابات ګټلي وو، شرقي پاکستان (بنګله ديش) کښې شيخ مجيب الرحمن ګوند عوامي ليګ ګټلي وو، او په بلوچستان او پښتونخوا کښې نيپ ګټلي وو، چې پاکستان مات شو، نو باقي پاکستان کښې دوه صوبې د بهټو سره وې، او دوه صوبې د نيپ سره وې، خو بهټو د پنجابيانو په حمايت مرکز کښې حکومت جوړ کړو، نول صوبائي ګورنران، يې د خپلې پارټی مقرر کړل، زموږ د صوبې ګورنر حيات محمد خان شيرپاؤ، خو د بهټو اقتدار د جنرل رحيم او جنرل گل حسن مرهون منت وُ، په دوئ باندې يې اعتبار وخوړو، مارچ ۱۹۷۲ کښې يې دواړه د نوکرۍ نه لرې کړل، او خپل يار ټکا خان يې د فوج مشر کړ، ولې خان ورته وويل: چې تاسو ته اولس په دوه صوبو کښې ووټ درکړے دے، موږ نه هم، نو زه هغه خبره درته کوم، چې کومه ته مجيب ته کوله، بلوچستان او صوبه سرحد باندې د N.A.P حق دے، چې حکومت وکړي، خو بهټو سازشونه شروع کړل، قيوم خان يې په کابينه

کښې وزیر داخله واخیستو، ددې دپاره چې دے به نیپ، راته ډبوي، قیوم خان هم ورته وویلي وو، چې ددوئ د چلونو نه زه خبریم، ددې کش مکش نه موږ زه د P.S.F، والا هم بې تعلقه نه شو پاتې کیداے، نو زموږ یونیورسټي کښې پیپلز سټوډنټس فیډریشن، سره مقابلې راتلې، اپریل ۱۹۷۲ کښې قیوم خان وزیر داخله او مولانا کوثر نیازي وزیر اطلاعات او امور مذهبي پښتو یونیورسټي ته راغلل، او کنوینشن هال - کښې، جلسه کوله، موږ زه P.S.F والاو ددې مخالفت کولو، چې پښتو یونیورسټي کښې دے جلسه نه کړي، پوهنتون کښې یې نه پریږدو، خو دوئ راغلل، جلسه خو وه لاس په لاس جنګ ؤ ټولې کرسۍ ماتې شوې، شیشې ماتې شوې، په قیوم او کوثر نیازي باندې هغه لوبې وشوې، چې یا دبه ې ساتي، زما درې ګولې زخمي شوې وې، ویني ځینې تللې، خو ماته هله پته ولګیده چې قیوم دې لاړل جنګ خلاص شو، موږ زه خو کسا پسې حکومت وارنټ، ګرفتاري جاري کړو، موږ زه به پټ پټ، ګرځیدو، دې جنګ په بهتر اش وکړو او ور معلومه شوه چې یونیورسټي کښې دپښتون سټوډنټس فیډریشن زور دے که څه هم قیوم خان او کوثر نیازي دموږ کولې (چې ۱۹٤۷ کښې کا ریفرنډم پاکستان جیت لیا)

موږ زه داسې پټ پټ دپولیس نه ګرځیدو، چې دې کښې

بهټو د N.A.P حق ته غاړه کېښوده ۲ مئ ۱۹۷۲ کښې يې ارباب سکندر خان شهيد، اوغوث بخشي بزنجو مرحوم د صوبه سرحد «پښتونخوا» او بلوچستان گورنران مقرر کړل، موږ د هيرگانو غوندې «UNDER GROUND under» نه راووتو، هم دغسې ۱۹٤٦ نه پس يا په بله معنا په پاکستان کښې اول ځل دپاره د N.A.P صوبائي حکومتونه جوړشول، او گورنران هم د دوئ وو، خو د دې مطلب دغه نه ؤ، چې کښې بهټو او قيوم خان خپل سازشونه بند کړي وو، خو بهټو چې هر څرنګې ؤ، خو بيوقوف نه ؤ، د اقتدار وږی سړے ؤ. د هند سره د روڼې دپاره ورته N.A.P ضرورت ؤ، او بل پاکستان دا سې حالا تو کښې ؤ، چې پنجابيان دا ريدل، چې بول پاکستان وک نه شي. نو دوئ دغه وخت دپاره د N.A.P حق ته غاړه کېښوده او بل بهټو به په ښکاره دقيدي فوجيانو د آزادولو چغې کولې، او تر زمکې لاندې يې اندرا گاندهي، ته ويل، چې ښه يې وغږ او ه چې د دوئ نه د اقتدار نشه وروزي، که دوئ زر را خلاص شي، نو پاکستان کښې بيا ماته مصيبت جوړوي، او هندوستان ته هم خو د دوئ په قيد کښې هند ته هم فايده وه، دوئ دغه قيديان د دباؤ دپاره استعمالول چې هغه کار دوئ په بهټو د کشمير متعلق د شمله معاهدې په شکل کښې وکړو، چې دغه کارونه خلاص شول نو بهټو نيټ ته د اوبو خړول شروع کړل، پدې غير تسلي بخش وخت،

کښې اول باچا خان اوړي کښې راتلو، خوبیا یې خپل راتګ تر ۲۰ - دسمبر ۱۹۷۲ پورې وځنډولو.

ماته ښه یاد دي، چې د باچا خان د راتګ نه مونږ خبر شو، ډېر خوشحال شو. محمد افضل خان چې هغه وخت صوبائي حکومت وزیر اطلاعت او زراعت ؤ، او بل عنایت الله خان کنډاپور هم وزیر ؤ. خو د N.A.P ممبر نه ؤ، دوئ مخکښې جلال آباد ته ورغلي وو، او خدائ خدمتګار دومره خوشحال ؤو چې دوئ د رې ورځې مخکښې طورخم ته ورغلي وو، پدې خوشحالۍ او ورځو کښې یې د خپل مشر د راتلو انتظار کولو، د صوبې او د ټول پاکستان خلق د باچا خان ستړي مشي او هرکلي ته پېښور ته راروان وو، یو بد حال ؤ، مونږ په پېښور یونیورسټي کښې د برغمی لاوډسپیکر په ذریعه اعلان وکړو، چې سبا به باچا خان راځي، ماته حاجي بلور ویل چې دوئ دیولاهوري سړه خبره کړیده، چې هغه به د ستړي مشي فلم جوړوي. خو روستو پته ولګیده چې فلم یې جوړ کړے ؤ، خو لاهور کښې د صفائي یا وینځلو په وخت کښې ځنې خراب شوے ؤ، باهر حال دا سې جشن غوندې سماء وه. د ډېرې مودې نه پس راتلو مونږ «بنګله دیش دې تسلیم شي» په حق کښې یو پمفلیټ لیکلے ؤ په طورخم کښې موتقسیم کړو، افغانانو دا سې حملې په کولې، چې ماته یې راکړه. ماته یې راکړه، ماته نثار خان شینواري د خامته

یوه جوړه راکړې وه، ماته یې ویل: چې نن به دفیشن جامې نه اغوندي، اصلي وردي به اچاوو، نوقیمص پرتوګ دواړه زما په ناپ نه وو، دپاسه مې دخامتې واسکټ هم په اچولے ؤ، ماپورے هلکانو پټوکې کولې، چې د ځان نه دې جواهر لال نهرو جوړ کړیدے.

ماته چې تر څوپورې یاد دي دپره یخنې وه، زه دغازي مرجان محسود سره پټوپټا مونږ کښې وم، دغه دپر تکړه محسود ؤ، که څه هم دے سوداګر ؤ، دویشي یعني تمبرکاروبار یې کولو، اوخپل هیلوکوار پټر یې ایبټ آباد اومانسهره کښې وو، خو چې څه وخت به څه اهم شے ؤ، نو دے به حاضر ؤ، مونږ چې طورخم ته ورسیدو، نو دباچا خان په انتظار وو، د خدائ مخلوق راغلے ؤ، دپر انتظار نه پس باچا خان راښکاره شو، دده دپاره یې یوسپیشل ټرک جوړ کړے ؤ، افضل خان لالا سره د قره قلي ورسره ولاړ ؤ، باچا خان داسې ناست ؤ، چې هرچا به لیدو، دافغانستان دحکومت دخلقو نه علاوه، ټول سیاسي ګوندونو خلق ځوانان اوجینګې راغلې وې، دطورخم پورې یې دپر په درنښت سره رخصت کړو، چې باچا خان لاړ نه په مزې راواوښته، د زنده باد دچغو داسې شور شو، په دواړو غوږو اوریدل مشکل شول، افغانان دشمشاد غرملن ته وختل، ټول غرې په سرو جهنډو تک سور کړو، یو دپر خوندور وخت ؤ، زمونږ دخلکو دغه بد مرض دے، چې

ټول عمر به کان نه کوي، خو ولي خان جلوس یا باچاخان سترې مشي وي هر یو کوشش کوي چې په ولي خان یا باچاخان پسې، دویم موټر دده وي، چې خلک ئې وویني، دغو نمائشي خلکو په دغه ورځ هم دغه حال جوړ کړے ؤ، چې د هرچا کوشش ؤ، چې د باچاخان په ټرک پسې او یا مخکښې ورته دده موټروي. چې خلک ئې وویني چې دغه دے فلانی هم راغلے دے، نو دوئ ټول سړک بلاک کړو، او بل هسې هم د خدای موټرې لاړې اوجیبونه وو، خو د سترې مشي جلوس د میرې په قدم روان شو، موټره یوه گهنټه انتظار وکړو، دومره وخت مو پیدا نه کړو، چې موټر مو سړک ته سم کړو، او قطار کښې روان شو، چې لنډي کوتل ته رسیدو موټر نه دومره کلکې وړې میتا زې راغلې وې، چې تش موخندل، موټره موټر یو غاړې ته ودراوه، تقریباً هر یو لس مینټه کښې خپل خپل بوتل تش نه کړے شول، چې میتیازو نه پس موهیله سترګې وغړیدې، دا سې وزې وو چې بد حال مو ؤ، غاړې مرجان ویګل، چې د خیبر تیکې خوړو، باچاخان چې پېښور ته رسي ماښام به وي، د جلوس لکه د حاجي نادرخان دې په کور وه، چې موټره دښې دمه نه پس راورسیدو، بیا خبر شو، چې د حاجي صاحب کورنۍ باچاخان ته چای کړي وو، چې ټوله لار دغه حال ؤ، خو زه باچاخان ته په فکر کښې وم چې نه یې په سړو چرت خراب ؤ، او نه په دومره

شور او غوبل باندې مازیګر قضا پېښور ته ورسیدو، جناح - پارک کښې لوی سټیج جوړ شوے ؤ. سردار شوکت حیات خان صدارت وکړو، دخدائ د نیا راجمع وه، ملدو مره خلک په یو ځای نه وو لید لي، باچا خان ډېر ستړے ؤ، او یخني هم وه، خو د تقریر بنیادي خبرې یې دغه وې، چې ده بهتو ته ویل چې زه تاسره د نوي پاکستان په جوړولو کښې ملګرتیا کوم، زه د دې دپاره راغلے یم چې د خدای د مخلوق خدمت وکړم، هم دغسې جلسه خلاصه شوه، باچا خان شاهي باغ چارسدے ته لاړو، او بل بچ یې ورته په انتظار وو.

بله ورځ زه نمبر ۱ هاسپټل کښې ماښام ۷-۲ خبرونو ته ناست وم، ما ته ښه یاد دي چې د بهتو نه د کراچۍ په هوائي ډګر اخبار والاو د باچا خان د پیښکش متعلق پوښتنه وکړه، نو خوله یې داسې جوړه کړه لکه چرګه چې غول کوي، د ده خوله او د چرګې د کوني فرق نه ؤ، او ډېر په پالیت شکل سره یې وویل: « نهی چاهے نهی چاهے غفار خان کے مدد نهی چاهے ما ته د دومره قهر راغے، چې نن دې خو وایې، خوله، خوله ته به مې وهلے وائ، خو افسوس چې په کراچۍ کښې ؤ، ما په خپل ژوند کښې داسې پالیته خوله د چا نه وه لیدلې، لکه د بهتو، دے د غې خولې د لاسه پهانسي شو، د ده بل علاج هم نه ؤ، بس مونږ ه پوهه شو چې بهتو د تکرد سیاست فیصله

کړیده هاغه ؤ چې ده په بلوچستان کښې مداخلت شروع کړو، فوج یې هلته د بلوچو خلاف واچو، او ۱۹۷۳ پورې یې حالات دومره خراب کړل، چې د بلوچستان حکومت یې غیرقانونې مات کړو، بلوچ یې په بلوچ ووهلو، او زمونږ په صوبه کښې مولانا مفتي محمود مرحوم حکومت د غیرقانونې او غیرائینی قدم په وجه احتجاجي استعفیٰ ورکړه، دغه هم د بهتو چل ؤ چې بلوچ او پښتانه سره خفه کړي. اکبر بګټي عجیبه شړے ؤ، چې مشرقي پاکستان د جنرل اروړه په وجه لاړو، نو بګټي د خوشحالۍ نه په کوئټه کښې جلوس ایستلے ؤ، دغه نعره به یې کوله چې « اروړه جس نے پاکستان کو مروه »

مګر ۱۹۷۳ کښې د پنجابیانو کډاګائي شو، او بلوچستان یې د بدبختیو سره مخامخ کړو، د بزنجو په ځائ د ګورنر شو، ځمونږ په صوبه کښې ارباب سیکندر شهید خپل ورکوټی سوټ کیس یې واخیستو تهکال ته لاړو، او ځمونږ د صوبې ګورنر اسلم ختک شو، د اسلم نه خو ګیله ځکه نه کیده چې د دوئ ټول خاندان داسې ؤ، د دوئ نه د سرپیتوب طمه لرل بیوقوفي وه، د دوئ پلار قلي خان ختک د پرنګیانو سړے ؤ، او ضد پښتون ؤ، خو اکبر بګټي د بلوچو سره ډېره زیاتي وکړه. روستو بیا بهتو وئیلي وو، چې ماته شهنشاه ایران وئیلي وو چې د N.A.P حکومتونه مات کړه، دا ځکه چې د هغه وخت -

د C.I.A، لوی مرکز ایران تهران و، او شاه یې د ټولونه لوئ ایجنټ و، نو د ده سره خطره وه چې، که جمهوري قومي حکومت په بلوچستان کښې زرغون شي، نو ایراني بلوچو باندې به یې "REFLECTION" وشي، نو ما ته به د دې نه بیا مسئله جوړه شي، نو پکار دي چې پاکستاني بلوچستان کښې هم د بلوچو حکومت نه وي، او بل د ځینو بلوچو مشرانو خولې په قابو کښې نه وي، دوئ به دلوئ بلوچستان خبرې کولې، چې د ټولونه یې لوئ دعوه ګیر اکبر بګټي و، خو چې وخت راغئ، د ګورنرۍ په کرسۍ باندې خرڅ شو. تو دغه بل دار و، د ایران د باچا سره، او بل دوئ دار یدل، چې بلوچ راته سوبټ یونین په لاس کښې وانخلي، نو د امریکې تیلو ته هم خطره وه، بس دغه ټول سره جمع شول، بهټو د بلوچو او فوج جنګ جوړ کړو، فوج یې مشغول کړو، ده په اسلام آباد کښې حکومت کولو، زموږ په صوبه سرحد کښې عنایت الله خان کنډاپور چې څه موده مخکښې د باچا خان سترې مشي د پاره جلال آباد ته تلے و، د صوبه سرحد وزیر اعلیٰ شو، موږ سره یې غداري وکړه په کرسۍ خرڅ شو، بیا روستو نیک محمد وکیل به کابل کښې نه په تنګولم، راته وویل: چې هغه د چرګې پخے والا وزیر موخه شو، عنایت الله خان به په هیڅ یعنې توجه باندې د چرګې پا نه لګوله نو نیک محمد خان وکیله په جلال آباد کښې لیدلے و، نو ځکه به یې په ماپورې ټوکې کولې.

د راولپنډۍ لیاقت باغ مرګ ژوبله

(۲۳-۳-۱۹۷۳ء)

بهتو تازه تازه د نیپ صوبائي حکومتونه مات کړي وو، او بلوچستان کښې پې فوج د بلوچو خلاف لګیا کړے ؤ، زموږ په صوبه کښې مخاذ رائې روانه وه، په قومي اسمبلۍ کښې متحده جمهوري مخاذ جوړ شوے ؤ چې د دې مشر د نیپ صدر خان عبدالولي خان ؤ، نو د بهتو د لاسه د کراچۍ مهاجر هم په عذاب و، د دوئ صوبائي سندهه حکومت سخت ډبولي وو، د دوئ جنګ په اردو ژبه او سندهي ژبه راغلے ؤ، سندهه کښې د پې پې حکومت ؤ، د جماعت اسلامي او بهتو په بنګله دیش تسلیمولو او نه تسلیمولو باندې کبدي روانه وه، او بهتو او پیپلز پارټۍ حرص اخستي وو ؤ دوئ غوښتل چې پاکستان کښې یو کوندي حکومت جوړ کړي، او مخالفین وار په وار ختم کړي مګر د ټولو نه مشکل پښتانه او بلوچ وو، چې د دوئ مشر ګري نیپ کوله، او په طالب علمانو کښې پښتون ستوډنټس فیډریشن او بلوچ ستوډنټس آرګنایزیشن ډېر فعال او مضبوط تنظیمونه وو.

نو دغو نورو وړو وړو پارټو دولي خان سره د بهټو خلاف پناه اخیستې وه، د دوئ ټولو ددې لخاذ نه مقصد دغه وو، چې وطن ته یو جمهوري اسلامي او صوبائي خودمختاري په بنیاد ایښې آئین ورکړي، نو د ې سلسله کښې لخاذ د عوامي رابطې یو پروګرام جوړ کړے ؤ، چې دوئ به ټول پاکستان کښې خلک د بهټو د عزائمو نه خبروي، او هره صوبه کښې به دوئ جسلې کوي، نو دوئ اول شروع د پنجاب راولپنډۍ نه کړې وه، او تاریخ یې ورته ۲۳ مارچ ۱۹۷۳ خوښ کړو، چونکه د بهټو او پیپلز پارټۍ ګړ پنجاب ؤو نو بهټو وداریدو چې زما په مرکز باندې ولي خان قبضه ونه کړي، داځکه چې پنجابي داسې خلک وو، چې د بهټو هم په اعتبار نه ؤ، نو صوبه پنجاب ئې خان ته یو قسم ذاتي شکارګاه ساتل غوښتل چې بل څوک سیاستدان به یې نه پکښې پریښوده.

U·D·F لا د ولي خان ترمشرۍ لاندې دغه فیصله کړې وه چې مونږه به دده په ښکارګاه کښې ښکار کوو، داځکه چې پاکستان کښې د خلکو د پروالئ پنجاب کښې د بهټو پوه ؤ چې پنجاب لا رشي، هرڅه لا رل.

(U·D·F) united Demoeratic Frant.

د (U·D·F) تش نوم ؤ حقیقت کښې پهلواني د

نیپ او پیپلز پارټی ترمنځ وه، نو نیپ والاو پښتون کښې اعلان وکړو، چې لیاقت باغ جلسه به کامیابه وو، پټول به د جلوس په شکل کښې پنجاب ته حئو، د دوئ اعلان وکړو چې هیڅوک به اسلحه له ځان سره نه وړي، که څه هم موږ ته خبر شوي وو، چې د بهتونیت د جلسې ته د پرخیران دے دوئ یې وراندول غواړي، خو زموږ مشرانو دغه خبره دومره، "Serious" وانه خیسته، موږ ته د پښتون سټوډنټس فیډریشن والو، یوبس کرایه کړو، د جلسې دپاره د نیپ په جلوس کښې شامل شوو، تقریباً قضا ماسپښین لیاقت باغ راولپنډۍ ته ورسیدو، چونکه د N.D.F نوم وو، جلسه په حقیقت کښې د N.A.P وه نو ځکه په انتظام باندې یې د دوئ قبضه وه اجمل خټک چونکه د نیپ جنرل سکرټري وو، نو سټیج باندې د ده او پښتون ځلمي قبضه وه، خو کدوډ خبرونه مو اوریدل، چې پیپلز پارټی او خاصکر مصطفیٰ کهرچې د پنجاب وزیراعلیٰ وو، غواړي چې جلسه باندې مسلح حمله وکړي، خپل خلک یې ځای په ځای کښېنولي وو، خو تر دې وخته پورې زما دغه خیال ؤ چې دوئ به نهرې، کوي، پدې طریقه به د N.D.F په جلسه کښې کړ برکوشش کوي، چونکه موږ ته مضبوط وو، نو خیال مو وو، چې دغه

نمونه گډ بر مونږه قابو کولے شو، اول خرابي په بجلی کښې راغله، زه د سټیج لاندې ولاړوم، اجمل صاحب را ته اشاره وکړه چې زه وراغلم نو را ته یې وویل: چې د P.S.F والا دې سټیج سره نږدې راشي، چې څوک وارفی ونه کړي، چې ما هلکان سره راغونډول پدې دوران کښې لرې وزې وشوې، او د U.D.F مشران راروان وو، سټیج ته راورسیدل چې دوئ کښې د محاذ صدر خان عبدالولي خان سردار شوکت حیات، پیر پګاړه چهود هري ظهور الهي او نور ډېر وو، چې زه بیا سټیج ته ورتلم په دې کښې د لیاقت باغ سره نږدې د راجه بازار د اړخه د کورو د چهتو نه د اسټریک په جلسه - وزې وشروع شوې، جلسه لا شروع نه وه، د لته د صوابۍ یو هلک ؤ چې سټیج باندې د اجمل صاحب ؤ، زما نه به دوه درې ګزه لرې ؤ چې کولمې په ولګیده.

نوټ: د هلک نوم حضرت ګل د ترخې ؤ، ما ته ده نوم وزیر ګل وښو ده.

اجمل صاحب او زه بچ شوو، بس څه وو یو قیامت ؤ، پنجابیانو یعنې پیپلز پارټۍ بدمعاشانو په تش لاس پښتنو باندې د ګولیو باران شروع کړو، اوس دومره، ګډوډي شوه، چې زمونږ کوشش ؤ چې ولي خان بچ کړو.

پښتنو اول ردِ عمل کړو و ؤ، چې داخه وشول اوکیږي ،
بس خه وو په تش لاس په پنجابیانو باندې وراغلل ، د دوئ
نه یې دکني چوکې په ذریعه ټوپکې واخیستلې پخپلو ټوپکو
یې مړ کړل ، زمونږ د جلوس ځینې بسونه دوئ وسوځول
ماته یاد دي چې دغه اول پښتون هلک شهادت زه وارخطا
کړم ، خو دغه ډېر لږ وخت ؤ ، ځان مې سنبال کړو ، یو
پنجابی ؤ لوئ لوئ بریت یې وو ، دکني د چوکو په ذریعه
پښتنو ځینې ټوپک وهلے ؤ ، ما چې ولیدو نو ما ډنډه
په راسمه کړه ، مونږه یې وهو ، دے سوالونه کوي ، په
دې دوران کښې ارباب سیف الرحمٰن خان ولیدو ، ارباب
صاحب چې چا لیدلے وي ، لوئ دنګ سړے دے ډېره
مضبوطه بادي یې ده ، ماته یې وویل چې محسوده ماته
یې پرېږده ، ماته ښه یاد دي ، دغټ ربړ خپلې یې وې
دغټ بال غوندې ورته په شا لاړه یو کیګ یې ورکړو
پنجابي دکیګ سره چې څه خوړلي وو ، ټول یې قهئ کړل.
ارباب همایون هم په لګیا شو دغه پټ راغلے ؤ ، دده په ذمه
په سټیج باندې ولي خان او نورو مشرانو قتل کول وو ،
خو مونږه مخکښې ولیدو ګیر موکړو ، کنې ډېره لویه تباهي
به یې کړې وه ، ولې چې ډېل بور چارې دار ټوپک ورسره
ؤ ، بس اوس ډسپلین مات شوے ؤ ، ما دارباب همایون نه

پوښتنه وکړه چې طمانچه نشته درسره، وې نه، دبل چا نه مې تپوس وکړو خو د چا سړ نه وه، زما پروګرام، دغه ؤ چې زه پیر پګاړو په ولسم، چې بهتو ته په سندهه کښې دا سې غوبل جوړ کړم، چې یا د بې وسا تې ولې چې ګلوډې وه، چا ته پته نه لګیده چې څوک چا مړکړو، خو د پیر پګاړو او د بهتو دواړو قسمت ښه ؤ، په دې دوران کښې دغه پنجابي سردار شوکت حیات خان ته په پنجابی کښې منتو نه کوي چې د خدای دپاره پنجابی بهائی هے پتهانوں سے چهړو، ماته ښه یاد دي چې سردار شوکت حیات ورته کنځلې وکړل، او ورته یې وویل چې تا دغه کار کولو نومانه دې تپوس کړے ؤ، په تیر شو، خو دومره وهل یې خوړلي وو، چې ژوندي پاتې کیدل یې مشکل ؤ، بس موږ تن ته اړړ شو چې لیاقت باغ نه ځئ، فوج راځي، موږ تن دولي خان سړ د تپولي په مشکل کښې روان شوو، دلته زموږ ۵ د ۴ ۵ ۰ یو هلک ؤ، په قوم دوړ ؤ، د خیبر میډیکل کالج طالب علم ؤ، نوم یې انورجان ؤ، هغې شور جوړ کړے ؤ چې، ولي خان ته به یې ویل چې د پښتونستان د آزادۍ علان وکړه، زه ورمخکښې شوم ورته ویل، مې چې لیونے یې او که پیرے دغه اوس د پښتونستان د آزادۍ ځائ یا وخت دے. زما خیال دے چې ولي خان د سړ دده په خبره پوه نه شو، ولې

په دے چې زمونږ سړه دده دژوند خطره وه، او انورجان په دآزادۍ اعلان کولو، او س هرچا کوشش کولو چې دفوج او پولیس نه ځانونه سنبال کړئ، مونږه د P.S.F والاسره تار په تار شوي وو، دمړو او زخمیانو پته نه وه، خوما بلال شاه ولیدو، دده نه د P.S.F یو هلک ورک ؤ، چې دغه هلک دانډونشیا ؤ، اسلامیه کالج کښې یې سبق وئیلو، د بلال دوئ ملګرے ؤ. دے هم مونږ سړ پنډۍ ته راغلے ؤ، مونږ سړ غم شو چې شهید شوے نه وي، خوروستو مو پیدا کړو، بس دپاني پت جنګ خلاص شوے ؤ، پښتانه خوګ واپس پېښور ته روان وو، او ځینو چالاکو دخپلوخپلوانو سره اسلام آباد او راولپنډۍ کښې ځانونه ځای کړي وو، زه اول کوهاټ ته راغلم، دکوهاټ نه کاڅ پېښور ته لاړم، چې پته ولګوم چې څومره خلق زمونږه شهیدان شوي دي، زما خیال دے چې پنځه کسان زمونږ شهیدان شوي وو. او یوولس پنجابیان وو.

مونږه P.S.F په S.T.C کښې جلسه وکړه، فیصله مووکړه چې په صوبه کښې به پنجابیان ربوورد دې سړ پېښور په پنجابیانو او مهاجرو باندې هیبت راغئ، خو دنیپ مشرانو مونږه منع کړو، چې ددوئ څه قصور دے دغه خو بهتو او پیپلز پارټه وکړل. پدې منځ کښې اجمل خټک صاحب ورک

شو، ولي خان بيان جاري کړو، چې ختک صاحب بهتو په راولپنډۍ کښې شهيد کړو، دد وئ لاش يې ورک کړو، نو په بهتو باندې تړاو ولګيدو، د N.A.P والا ډېر ګډوډ وو، دا ځکه چې ختک صاحب څه معمولي پښتون نه ؤ،

د اجمل خټک صیب افغانستان ته تګ

په دې وخت کښې اجمل صاحب د نیپ مرکزي جنرل سکرټري ؤ ، جنوري ۱۹۷۳ کښې د نیپ د صوبائي حکومتونو ماتولو په وجه د نیپ او بهتو ترمینځ حالات ورځ په ورځ خرابیدل ، او بهتو دغه کوشش کولو ، چې د N.A.P د سر سړی ورک کړي ، نو څو ځلې په ولي خان باندې قاتلانه حملې شوې وې ، هسې خدای بچ کړے ؤ . په بلوچستان کښې یې فوجي کارروائي روانه کړې وه ، هره ورځ به یې د بلوچو ماشومان په بمونو الوزول . دوئ پښتون عبدالصمد خان شهید اچکزئ یې شهید کړو ، محمد صادق کاني یې شهید کړو ، چې د مرګونو کښې د پاکستان د فوج نه واخله تر ایران خفیه پولیس سوا ک پورې لاس ؤ ، چې دوئ په بلوچستان کښې کړ بې غوښتل چې پښتانه او بلوچ سره خپلو کښې وجنګوي ، او د دې ظلم او زیاتي نه باهر دنیا کمه خبرېده . باچا خان د-

افغانستان نه واپس راغلی ؤ، نو N.A.P ته د باهر دنیا سره د رابطې دپاره یوه کړکۍ پکار وه، چې دخپل مصیبت نه دنیا خبره کړي، چې بهتو کوم ظلمونه راخیستی دي دغه هله ممکن وو، چې یو اعتباري سړے او شخصیت باهر کښیني، د رابطې یو مرکز جوړ کړي، او د بهتو په حکومت به یوقسم دباو پیشر وي، نو دغه ځائ قدرتي خبره ده چې افغانستان ؤ، او بل اجمل صاحب دافغانستان نه ښه خبرؤ د دوئ دطبعیت او سیاست په مینځ کښې یې نتول ساتلے شو: زمونږ د P.S.F دنیپ سره د رابطې دساتلو مشر اجمل صاحب ؤ، یا په بله معنیٰ خټک صاحب د N.A.P دارخه د P.S.F سره د رابطې مشر و، نو ده قدرتي خبره ده، چې د P.S.F کښې یې ځان ته اعتباري کسان لرل، چې په هغوئ کښې زه هم وم، موږ زه ځلور کسان وو چې د خټک صاحب - راباندې باور ؤ، ۱- علي خان محسود (۲) افراسیاب خټک، ۳- عزیز بلور. (٤) مختیار باچا، نو یو ماز یکر یې موږ زه خپل دفتر ته راوغوښتو، او دوطن په سیاست او د بهتو په ارادو یې لوئ تقریر وکړو، او خټک کښې یې راته وویل: چې د دلیاقت باغ دجلسې نه وروسته بره ځم، تر هغې پورے یې له ځان سره وساتئ چې زه رسیدلے نه یم، صباچې دلیاقت باغ په جلسه کښې ډزې وشوې خټک صاحب ورک

شو، او ولي خان به ويل، چې بهټو شهيد کړے او لاش ئې ورک کړے دے، نو ماته به خندا راتله، داځکه چې ما ته پته وه، چې دے چيرته دے، خو موږ چوپ وو، ولي خان ته پته وه، بهټو يې ډېر په عذاب کړے ؤ،

دغه ډرامه ډېر ژر جوته شوه، هغه دا سې چې اجمل صاحب نه غوښتل، چې افغانستان کښې ښکاره شي، صرف ظاهرشاه او د سرحداتو رئيس قبائيل او د حکومت وزير اعظم موسیٰ شفيق په خبرو، نو اجمل صاحب ورته وئيلي وو چې زه ځان پټ ساتل غواړم، چې بهټو باندې پريشرينې باؤوي، خو افغان حکومت دغه ورسره و نه منل، دوئ ورته وويل، چې يا خو پريس کانفرنس وکړه، او يا بيرته ځه، اجمل صاحب د نيپ د مشرانو سره رابطه جوړه کړه، چې څه وکړي، هغوئ ځواب ورکړو، چې نه دې پريږ دي نو بيا ځان ښکاره کړه، راتګ دې خطرناک دے، د افغانستان بادشاه او وزير اعظم موسیٰ شفيق دغه ټول د امريکې خلک وو، او يو بل بدبخت او سپيره پښتون، د رياست قبائيل، رئس ؤ، نوم يې نه راځي، خو ننګرهارے يې ځان ته وئيلو، دغه د پاکستان جاسوس ؤ، ختک صاحب يې ډېر په عذاب کړے ؤ، باهرحال اجمل صاحب پريس کانفرنس وکړو، او د خپل راتګ وجوهات يې بيان کړل، او د دې

سره د ولي خان د پروپیګنډو د غرقي نه هوا ووتله، او هغه پریشر د بهتو نه لرې شو.

اجمل صاحب افغان حکومت د ومره په عذاب کړے ؤ، چې جون ۱۹۷۳ کښې زه پټ د میرانشا او خوست په لاره، ورغلم، دده سره تورلالئ او روزګل د چارسدې هم وو، چې زه یې ولیدم په سترګو کښې یې اوښکې راغلې، خو زر یې ځان سمبال کړو، ده ته یې کابل هوټل کښې یوه کوټه ورکړې وه، او د ساتنې دپاره یې تورلالي، ته یوزور مُردار ټوپک ورکړے ؤ، خو حالات زر بدل شول، یو نوے باب شروع شو، په ۱۷ جولائ ۱۹۷۳ کښې داودخان د ظاهرشاه، موسیٰ شفیق او ننګرهاري بسترې ګول کړې د شاهي حکومت په ځائ یې جمهوریت اعلان کړو، افغانی واک د ځوانانو په لاس ورغئ، لکه فیض محمد محسود وزیر لخه باچا ګل خدران وزیر سرحدات، او د غسې نور، چې دغه ټول یوقسم د اجمل صاحب شاګردان وو، نو د دوئ د راتګ سره د ختګ صاحب ژوند او عزت د سرې ټوب شول، دوئ ته یې یو کور ورکړو، د حفاظت یې ښه بندوبست وکړو، او داودخان د پښتونستان مسله د لسوکالونه پس بیا راګرمه کړه.

د پښتون ستوډنټ فیډریشن د بھتو خلاف

هېلې ځېلې

او د عراق د سفارتخانې د آسلحې د راوړو

که څه هم د کتاب موضوع P.S.F نده مګر بیا هم P.S.F د ملي غورځنګ نه نشي ګوښه کیدای، ۱۹۶۸ کښې د P.S.F د سیاست مرکزي نقطه دون یونټ ماتول وو، او ورسره د ایوب خان لرې کول وو، د سرې په سر ووټ، د طالب علمانو د حقوقو د پاره ټکۍ و دوۍ وو، همدغه وجه وه چې اکتوبر ۱۹۶۸ کښې محمد هاشم خان چې د P.S.F هم خیال طالب علم وو، پېښور کښې دیوې لوې جلسې په دوران کښې په صدر ایوب خان ډزې وکړې چې خطا شوې هم د دې سره د ایوب خان د حکومت رعب او تقدس مات شو، په ټول پاکستان کښې یو شور راپورته شو، او مارچ ۱۹۶۹ کښې یو بل جنرال یحیٰی خان د ایوب خان په ځای راغی، ده د آزادو انتخاباتو کولو دون یونټ ماتولو او صوبې بیرته بحال کولو د سرې په سر ووټ ورکولو وعدې

اوکړے، خو ددې مطلب دا نه ؤ چې موږ ته ښه ناست وے!
جدوجهد نور هم تیز شو د P.S.F سیاست روږو
خپل ملي شکل اختیارولو په لاره روان شو، اول سرکښې
خو ټول پښتانه پکښې وو، مګر روستو قوم پرستو
طالب علمانو په قبضه وکړه، او دغه نور پښتانه چې نسلاً
پښتانه وو، او سیاستاً نه وو، روږو د P.S.F نه لرې
کړل شول ۱۹۶۹ شروع کښې P.S.F په واضح توګه
خپل سیاست غوره کړو، د پښتنو د سیاسي، اقتصادي او
او کلتوري حقوقو د پاره خواري کول، ځمونږ د سیاست
ټکے ؤ، هرهغه سیاسي ګروند یا Stadents organisation
چې ځمونږ د ارمانو سره یې ټکر راتلو، موږ ته یې په سخته
مخالفت کولو، چې اول سرکښې مسلم لیګ اوجماعت اسلامي
او ددوئ د طلباء تنظیمونه وو، دا ځکه چې دوئ د پښتون
نشلزم مخالف و، او د پنجاب مفادات دوئ د پاکستان او
اسلام تر ټکرې لاندې ساتل، او د پښتنو او بلوچو په
ارمانونو یې پښې کېښودلې، که څه هم ځمونږ اوپیپلز-
پارټۍ او ددوئ تنظیم پیپلز سټوډنټس فیډریشن په سیاست
کښې فرق ؤ، خو د ۱۹۷۰ د انتخاباتو پورې، ځمونږه اوددوئ
څه خاص ټکر نه ؤ، خو چې انتخابات وشول، نو درې
قوتونه په پاکستان کښې جوت شول، چې سابقه شرقي پاکستان

«بنګله دیش» کښې عوامي لیګ انتخابات وګټل او داسې وګټل چې د ټول پاکستان په قومي اسمبلۍ یې اکثریت ؤ، پنجاب او سندھ بھټو پارټی P.P.P وګټل او صوبه سرحد «پښتونخوا» او بلوچستان کښې د N.A.P ولي خان ګوند وګټل، خو چې پنجابیانو ولیدل، چې اوس بنګلیان دواړه خاوندان کیږي، چې د دوئ د پاکستان د جوړیدو نه پس په قسما قسم چلونو د ایسارولو هڅې وکړې وې، چې د غلام محمد د کودتا نه تر یحیٰ خان د کودتا پورې دوئ د پاکستان واکدارانو وو، او اوس په دوئ باندې دوه تندرونه راپریوتل، یو خو بلوچ، پښتون او سندھی دون یونټ د هجغ نه حُنې، خلاص شول، او بل دغه تندر په راپریوتو، چې بنګال کښې قوم پرست مجیب عوامي لیګ په اکثریت راغئ، نو پنجابیانو خپل مستقبل په پاکستان کښې تور ولیدو، چونکه دوئ او مهاجر په فوجي او سول نوکر شاهي کښې زورور وو، د پاکستان اصلي واګې د پارلیمنټ سره نه ؤ، بلکې د جنرالانو او سکټریانو سره ؤ، دوئ بیا دون یونټ جوړولو کوشش شروع کړو، خو دې ځل یې شکل بدل ؤ، دوئ دوه منصوبې لرلې، یوه دغه وه، چې د بنګالیانو ټکول پکار دي، چې بیا د حکومت نوم واخلي او که دغه ممکنه نه وي، نو پکار دي چې دوئ د پاکستان

نه دا سې طریقه باندې وشړو، خو په دا سې استاذۍ سره چې په موږ باندې الزام را نه شي، چې دوئ ورکړ شي، نو باقي پاکستان کښې په بیا هغه دون یونټ حالات جوړ شي، سابقه مغربي پاکستان کښې ځمونږه اکثریت ؤ، چې بنګالیان لاړ شي، نو مغربي پاکستان به په پاکستان بدل شي، او د نوي پاکستان قومي اسمبلۍ کښې د پنجابیانو به اکثریت وي، نوکه پښتانه، بلوچ، اوسندهیان تش په نوم صوبې لري، دغه ځمونږ د مفاداتو د پاره خطرناک نه دي، دا ځکه که دوئ دریواړه په جمهوري طریقې سره هم یوځای شي، نو بیا هم پنجاب نه بغیر حکومت نه شي جوړولئ، او مجیب یا بل بنګالے به نه وي چې دوئ ورسره لاس یو کړي، ځمونږ دخواهشاتو خلاف مرکز کښې حکومت جوړ کړي، نو دوئ ته بهتو معلوم ؤ، چې د اقتدار د پاره هرڅه ته تیار دے نو د بهتو د بې حرمئ نه دوئ فایده اوچته کړه، بهتو یې د فرنګ لیدر غوندې دخپلو مفاداتو د پاره د مجیب او عوامي لیګ خلاف استعمال کړو، جمهوري لاړ دغه وه چې پارلیمنټ اجلاس راغوښتے شوے وے، چې دچا اکثریت وے، هغې ګوند حکومت جوړ کړے وے، چونکه دوئ جمهوریت ته نه کتل، پنجابي مفادا تو

ته یې کتل ، دوئ بهټو ته اشاره وکړه ، چې موږ ته
درسره یوو ، بهټو غیر جمهوري او غیر پارلماني
لاره اختیار کړه ، دواک د تقسیم مطالبه یې دمشرقي
او مغربي پاکستان په بنیاد وکړه ، { اِدهرهم اُدهرتم }
نعره یې وکړه چې دغه د پاکستان دماتولو اولنۍ خبنته
وه ، چې څه وخت بهټو شاهي باغ چارسده کښې ولي.
خان سره ولیدل ، نو ولي خان په سازش کښې د شامیلید و
نه صفا انکار وکړو ، صفایې ورته وویل چې داقتدار فیصله
به پارلیمنټ د ننه داکثریت او اقلیت په بنیاد کیږي ، چې
دغه لاره ټوله نړۍ کښې مروجه ده ، نو پکار داسې دي
چې اول دې دقومي اسمبلۍ اجلاس راوغښتے شي ، بیا
دستا او مجیب مرضي ده ، چې اختیارات څرنګې تقسیموئ.
دغه رنګې خبرې بهټو ته چرته قبولې وې ، نو د NAP
اُو بهټو ترمنځ اختلافات رو رو ژور شول ، داځکه چې
N.A.P اُصولي خبره کوله ، بهټو په هره طریقه اقتدار
اخیستو ، چې ولي خان نه یې صفا جواب ومونده ، نو
بهټو چغه پورته کړه ، چې څوک ډهاکه ته دقومي اسمبلۍ
داجلاس دپاره لاړشي ، نو موږ به د دوئ پښې ماتې کړو ،
او ورته یې وویل چې یک طرفه ټکټ واخلئ ، او س ،
مجیب هم پوه شوے و ، یحیٰ خان ته ټکا خان جنرل د پنجابیانو

په نمایندګی دهمکي ورکړه وه ، چې که اختیار دې مجیب ته ورکړو ، دستا خلاف به سخت قدم پورته شي، نوبچیٰ خان دوي مجبور کړو ، چې نتیجه یې هرچا ته معلومه ده چې بنګله دیش جوړ شو ، دوئ ون یونټ په بل شکل بیا بحال کړو ، او نوم یې ورته نوے پاکستان ورکړو ، او بیوقوف او حریص بهټو دوئ استعمال کړو ، نو اوس د بنګالیانو نه پس، ورته پاتې ون یونټ کښې N·A·P وه ، پنجابیانو بهټو د N·A·P خلاف استعمال کړو ، د N·A·P او پي پي پي ئ کبلرې نه پښتون سټوډنټس فیدریشن بې طرف یا غیرجانبدار نه شو پاتې کیدے ، نو چې څومره به د دوئ اختلافات زیاتیدل هم په هماغه پیمانه د P·S·F او پیپلز سټوډنټس فیدریشن سیالي او مقابله په کالجونو او یونیورسټیو کښې سیوا کیده، چې دغه د ۱۹۷۲ نه نوره زیاته شوه ، مګر مئ ۱۹۷۲ کښې یې ته دوه صوبو کښې واک ورکولو په وجه ترڅه حده پورې اختلافات دومره سخت نه وه ، مګر ۱۵ فروري ۱۹۷۳ نه پس اختلافات اخري حد ته ورسیدل ، دا ځکه چې د بهټو حکومت دلاسه زمونږ صوبائ حکومتونه غیرقانوني رنګ کړل شول، او دې دوران کښې په ولي خان باندې څو ځله قاتلانه حملې وشوې چې شاته یې بهټو او د پنجاب د مفادانو ساتونکي فوجي اوسول بیوراکراسي وه ، هسې خو P·S·F په ۱۹۶۸ کښې جوړ شوے ؤ،

مګر اصلي تنظیم یې په ۱۹۷۱ کښې وشو، هغه داسې چې زه د ډیره اسماعیل خان کالج نه پېښور یونورسټۍ ته راغلم افراسیاب خټک د بنوں نه پېښور ته پوهنتون ته راغئ او عزیز بلور، هم یونورسټۍ کښې داخل شو، زموږ نه مخکې نثار خان شینوارے د کوهاټ د کالج نه پېښور یونورسټۍ انجینرنګ کالج کښې داخل شوے ؤ. چې د پښتون فیډریشن صدر ؤ، او جنرل سکرټري یې د بلوچستان پښتون بسم الله جان کاکړ ؤ، چې دوئ د واړه هرڅه وو، خود یوکرېټ نه وو، بلکې نثار د صدارت نه او بسم الله جان د سکرټریتوب نه قبائیلي ملکي جوړه کړې وه، دوئ په خپل ژوند دې ته تیار نه وو، چې دوئ بل چا ته ځائ پریږ دي، هدغه وجه اودار ؤ، چې دوئ به تنظیم او د سپلین ته غاړه نه کېښوده. -

(one man show) به یې جوړه کړې وه، د دې دا مطلب نه دے، چې دوئ د PSF، یا N.A.P ته وفادار نه وو، د ټولو نه دوئ وفادار وو. خو د هرچا څه کمزوري وي د دوي دغه وه، مګر د دې سره ځمونږ نوم ؤ، خو طالب علمانو کښې یې هغه کرنګ نه و، څه د کومې ځمونږه توقع وه، نو زه افراسیاب عزیز، بلور، مختیار باچا سره صلاح شو، چې د دې (Dilemma) نه به PSF څرنګې خلاصوو، چې نه PSF په ډلو تقسیم شي او منظم هم

شي دغه زمونږ دپاره بنيادي سوالونه وو.

نومونږ داسې منصوبه جوړ کړه، چې اول مودصوبې په ټولو کالجونو کښې د P.O.F د څانګو انتخابات وکړل او نثار خان به د هرې غونډې يعنې اجلاس صدارت کولو دا ځکه چې مونږ نه غوښتل چې د دے رانه خفه شي، چې دغه مکمل شول، بيا مويونورسټۍ کښې دننه د مختلفو کالجونو د څانګو انتخابات وکړل، او د ټول ډيپارټمنټس مويومنډ انتخاب کړو، چې هغه اياز وزير وو، دے ډېر بې صبره و، غوښتل يې چې ژر د عهدې خاوند شي، خو ده روستو خمونږه سړ دپښتو کار و نه کړو، د محمود اچکزي سړ لاړو، بيا روستو قبايل ستوډنټس فيډريشن ته لاړو، اخرې دا اسلم ختک ملګرے شو، او هغې پاکستان وزارت خارجه کښې نوکري ورته وکتله.

بيا ۱۹۷۲ کښې مو د ټولې يونورسټۍ انتخابات وکړل، چې زه يعنې علي خان محمود دپښتو ريونورسټۍ د پښتون ستوډنټس فيډريشن صدر شوم، بيا مو د فيډريشن د پاره د آئين جوړلو باندې پيل وکړو، چې آئين موجوړ اوپاس کړو نو دې کنوينشن کښې صوبائي او مرکزي انتخابات مو وکړل، چې دپښتو نخوا صوبې صدر عزيز بلور خوښ شو، اولوی سکرټري يې افراسياب ختک منتخب شو، په

مرکز کښې یعنې د ټول پاکستان صدر نثار خان شینواری او لوئ سکرټري بسم الله جان کاکړ شو، همدغسې مودوئ خوشحال کړل، او اختیارات یې هم دائین مطابق محدود شول، او تنظیم هم روان شو، چې دغه ټوله قیصه خلاصه شوه نو زمانه یوه ورځ جنرل جیلانې پوښتنه وکړه چې تاسو د نثار خان او بسم الله جان سره استاذي وکړه. ما ورته وویل، چې هغه څنګه؟ ده وویل چې یونیورسټۍ باندې قبضه وکړه، صوبه باندې عزیز بلور او افراسیاب خټک قبضه وکړه، ما ورته وویل: دوئ د ټول پاکستان مرکزي مشران دي، جنرل صاحب خندل، ویل یې چې پښتانه " students " خو یا یونیورسټۍ کښې دي، او یا صوبه کښې، پاکستان کښې او مرکز کښې خو پنجابیان دي پښتانه چرته دي، ما ورته ویل، چې جنرل صاحب موږ ته دواړه خوشحال کړي دي، که تاسو ورته دغه خبره وکړه، نو موږ ته به کار وګوري، جرنیل خندل ویل یې چې دوئ ته نه وایم تنش تانه وایم.

بس د دې سره کار ډېر ټوند روان شو، هرچانه خپله لار معلومه شوه، نو اول سرکښې موږ ته فوجي قوت وو، یونیورسټي او صوبه کښې مو رعب داب وو، مګر انتخاباتي قوت نه وُ، موږ ته به چا ووټ نه راکاوه

خوچې زه، افراسیاب او بلور راحخکښې شوو، نو مونږه به تش د نثار خان غونډې طمانچه اِستلې نه ګرځوله، بلکې د مخالفینو سره به مو بحث او مباحثې کولې او تاریخي واقعاتو باندې به مو رڼا اچوله، چې غټ دوه درې الزامونه وو، چې هغه مونږه داسې یاد کړي وو، چې خوکۍ هم راته نشو تهم کیدے یعنې، (۱) غټ اعتراض به دغه وو، چې باچا خان د پاکستان د جوړولو مخالفت کړے دے.

(۲) او بل به دغه و، چې دوئ د هند وا نو ملګري، وو.

(۳) دریم به دغه ؤ، چې تاسو پښتونستان جوړوئ. دغه داسې الزامونه وو چې مونږ به هرځائ او هر وخت ورسره مخامخ کیدو، نو مونږه داسې ښکلي جوابونه ورته جوړ کړي وو، چې جناح اولیاقت علي خان دوئ، راژوندي کړئ وایي، هم مونږه پرکړکولای شول، مونږه ته تجربې راښودلې وه، چې ناخبره پښتانه به د پر ژر زمونږ ملګري شول، دا ځکه چې د باچا خان خلاف یکۍ طرفه پروپیګنډه دوئ اوریدلې وه، او دروغ یه وو، چې مونږ به دوه درې ورځې خبرې او بحث ورسره وکړو. نو دوئ یه بیا سم شول.

خومهاجر، جماعت اسلامي، پنجابیان به نه سمیدل،
دغه کار به بیا مونږه نثارخان ته پریښود، هغه به
دوه درې وتکول، نو سمیدل خو نه خو د ډاره به یې خولې
چپ کړې، یا به ځنې بیرته کراچۍ او پنجاب ته ځانونه
بدل کړل، هم په دې چل ول باندې مونږه یونورستۍ کښې
انتخابي پوزیشن جوړ کړو،.
دپښور یو مقامي اخبار ؤ، چې مشرق یې نوم ؤ
هغه به مونږه او NAP پسې ډېر ناروا ناروا لیکنې کولې
چې ټول به دروغ وو، مونږه ورته د نثارخان ترمشرۍ
لاندې دیو ناڅاپي ډبولو تنظیم جوړ کړو، یومازیګر
د نثارخان ډلې په حمله وکړه، په مینټوسنوکښې یې خپل
کار وکړو، د اخبار هرڅه یې ورته مات کړه، چې ډه به
یعنې صدر صاحب به دغسې OPERATION وکار وکړو، نو
ټوله میاشت به یې طبیعت ویال او ښه ؤ، خو چې چا به
کِله وکړه، مونږ به ورته وو ئیل، چې څه وکړو نثارخان
زورور هلک ؤ دے، زمونږ نه مني.
مونږه د سیاسي زده کړې د پاره جدا جدا ټولې
جوړ کړي وو، چې مونږ به مسله رامنځته کړه، د هغې په
هر اړخ به بحث کیدو، چې آخري بریې نچوړ راووتلو، نو
د دې سره زمونږه سیاسي سوچ ډېر پوخ شو، د جذباتو

په ځای به مود حقیقتو نه کار اخیستو، په عمرکښې کشران وو، خو په سیاسي لارو کښې ډېر پاخه وو، د N.A.P اکثره مشران مونږه روستو پرېښودل، دوه درې کاله وړاندې دوئ مونږ ته لوئ لوئ سیاستدانان معلومیدل، خو روستو مونږ د دوئ حد معلوم کړو، دوئ مونږ ته نوی "Vision" نشو راکولے، صرف ولي خان او اجمل خټک د اسې شخصیتونه وو، چې د دوئ سیاسي حد تر اخره پورې مونږه ښکاره نه کړاے شو، چې کله مونږه ورسره لیدلي دي، د دوئ نه مونږه بیوه بالکل نوې خبره زده کړې یا اوریدلې ده، څه نورو به هغه زړې قیصې بیا بیا کولے څه نوے شے به نه وو، د دوئ د عزت خاوندان وو، او مونږه به یې ډېر عزت کولو، خو زمونږ نوره سیاسي او علمي تنده دوئ نه شوه ماتولے، بلکې مونږ به پټه پټه د دوئ خبرې کولې چې دوئ شاهي باغ ته لاړشي، ولي خان د خبرو نه کیښې ډکې کړي، بیا یې خپلو خپلو حجرو کښې د اسې غږ وي، څه کښې دغه د دوئ خپلې خبرې دي

د دې بحث او مباحثې زه د ته یو لنډ مثال درکوم: ۱۹۷۳-او-۱۹۷٤ د اسې کلونه وو چې بهتو به هره هفته یوه ډرامه د N.A.P خلاف یوه ډراجوړه، ده یوه

ډېره کامیابه ډرامه د عراق د سفارت خانې د اسلحې جوړه کړه دغه داسې وخت ؤ، چې ولي خان بابا د سترګې د علاج د پاره لندن ته تلے ؤ، بزنجو عطا الله منګل او نور بلوچ او پښتانه مشران څوک نظر بند وؤ او څوک قید وو، نو بهتو ته خپلو مشرانو دغه صلاح ورکړې وه - ، اوس ښه وخت دے چې په N.A.P باندې پابندۍ ولګوې، ولي خان د ملک نه بهر دے، د اسې څوک په N.A.P کښې پاتې نه دي، چې د دې ډرامې ځواب وکړی، نو مونږ به دغه د عراق د اسلحې ډرامه په نیپ پورې تړو، چې N.A.P پاکستان ورانولو، دغه دے مونږه جوته کړه. نو څه ګورو یو ماښام مونږه T.V خبرونو ته ناست وو، چې شروع یې د دې نه وکړه، د عراق سفارت خانه کښې اسلحه ونیولے شوه، روس N.A.P نه راليږلې وه، دوئ پاکستان ورانولو، او پښتونستان یې جوړولو، په T.V باندې ټوله دغه پروپیګنډه وه، ریډیو باندې ټوله شپه دغه یوه خبره وه حمونږ P.S.F والا یې ورخطا کړو، د N.A.P عام خلک خو د ومره وارخطا وو، د ځینو خو یقین راغلے وو، ګنې چې ربښتیا دغه کار نیپ کولو، چونکه د بهتو حکومت دغه ټول په منصوبه کول، نو د T.V او ریډیو نه علاوه اخبارونو او مسلم لیګ

او د P.P.P خلقو هم دغه خبره کرمه کړه چې،
په N.A.P دې پابندي ولګي، ځمونږ د
N.A.P مشرتا به د پروپیګنډې نه غلی شول، وارخطا
شول، ولي خان لندن کښې ؤ، بل داسې څوک نه وو،
چې د حکومت ځواب یې کړے وای.

بهتو ته څه علم ؤ، چې دغه ډرامه به ورته پښتون
ستوډنټس فیډریشن ورانه وي. مونږه مشران اول کښې -
وارخطا شو، خو زمونږه عادت جوړ شوے ؤ، چې داسې
ناڅاپي خبره به وشوه، نو هموږه به د مشورې د پاره
سره یوځائ شو، یوڅه به یو وئیل، یو څه به بل، اخر
به د خبرې مطلب ته ورسیدو، او علاج به موپیدا کړو.
مونږه په نمبرا هاسټل ځا کوته کښې کینا ستو، تقریباً
دلسو بجو نو تر دوې بجو پورې موبحث په وکړو، او د دې
پروپیګنډې اصلیت مو معلوم کړو، چې بهتو د خپلې -
پروپیګنډې په وجه تیاره جوړوي، چې د N.A.P والا-
وارخطا کړي، او بیا پابندي په ولګوي، او پارټي Ban
یعنې بند کړي، چونکه ولي خان نه شته نو اوس دغه
کار به مونږ کوو.

مونږه د خپل بحث نه د ځواب د پاره دغه نقطې راوسې
او ومو وئیل چې سبا به صرف په دې خبرې کوو، نورې

به نه کوو:

(۱) اوله خبره به دا کوو چې دغه یوه پرامه ده بهتو ددې دپاره جوړه کړې ده، چې ولي خان د ملک نه بهر دے، چې په N.A.P پابندي ولګوي او خپل سیاسي حریف ورک کړي.

(۲) دویمه خبره به دغه کوو، چې بهتو وایي چې دغه اسلحه د N.A.P دپاره وه، نو دا اسلحې کیمے خو زمونږ نشته. د هر پښتون په کور کښې ټوپک دے، نو مونږ ته د روس د اسلحې ضرورت هم نشته.

(۳) دریمه به دغه خبره کوو چې، که فرض کړو، روس مونږ ته اسلحه راکوله، نو روس مونږ ته روپۍ ولې نه راکولې، دره آدم خیل د هر قسم اسلحې نه ډک دے، او مونږ ته په دوه قدمه کښې ده.

(٤) څلورمه به دغه خبره کوو، چې فرض کړو روس روپۍ نه راکولې نو اسلحه یې کراچۍ ته، بیا د کراچۍ نه اسلام آباد ته، او بیا د اسلام آباد کښې د عراق سفارتخانه کښې شوله، دا سې بیوقوف کار لیوني هم نه کوي، حمزه او افغانستان یوزر میله سرحد دے، چې دغه کښې صرف ۵۰ ګزه طورخم کښې او ۵۰ ګزه چمن کښې ترڅارې لاندې دے، دغه بیافې نور ټول آزاد سرحد دے، نو روس ولې

آسلحه د افغانستان په سرحد مونږ ته نه راکوله.

نو مونږ ه فیصله وکړه، چې هرځاے به دغه خلور نقطې یا بهګه چې سبا اولیونورسټی کښې هلکان پوه کړو پیپلز پارټی والو خپل هلکان تیار کړي وو، چې تاسو به جلوس وباسئ، په N.A.P باندې به د پابندی مطالبې کوئ او وایئ به چې دوئ پاکستان ورانولو.

د دوئ خیال ؤ چې مونږ ه د T.V او ریډیو پروپګنډ نه د دومره ډاریدلي یو، چې سبا به د "Students" د ډاډ راونه وزو، دوئ ته څه پته وه، چې مونږ ه ورته ټوله شپه سکیم جوړ کړے دے، د دوئ د پروپګنډو د غرقې نه به هسوا وباسو، مونږ ه ټوله شپه د P.S.F په هلکانو وګرځیدو او دغه خلور نقطې مو ورته وښودلې، او پوه موکړل، چې دغه بهتو چل جوړ کړے دے چې په N.A.P دولي خان په غیر حاضرۍ کښې پابندې ولګوي، نو دوئ ته مو اخلاقی جرات ورکړو.

سبا چې یونورسټې ته هلکانو راورسیدل شروع کیدل، نو رو رو پیپلز سټوډنټس او مسلم لیګ "Students" د جلوس جوړول شروع کړل مونږ هم په جلوس کښې ورګډ شو، چې مونږ ه یې ولیدو، نو دوئ وار خطا شول، چا پکښې نعره وکړه چې N.A.P او P.S.F هلکانو ډېر زر

ورېولو خوله يې دوينو ډکه شوه ، نو اوس دغه نور وړاريدل ، د انجينرينګ کالج سړ نږدې د اګنانې سره يو زوړ پس ولاړو ، مونږه افراسياب ته اشاره وکړه ، چې د بس بانټ باندې هلکانو ته تقرير وکړه ، افراسياب بانټ ته وختو ، يونورسټۍ هلکانو ته يې دغه څلور نقطې بيان کړې او ورته يې وويل چې د بهتو او قيوم خان د دروغو چل دے دوئ غواړي چې خلک ګډاوړي ، او بيا يې ختم کړي ، او د ولي خان په غير موجودګۍ کښې زمونږ په ګوند باندې پاپندي ولګوي ،

بيا زه ورپورته شوم ، ما په تفصيل سره ورته خبرې وکړې ، چې د دې ډرامې شاته د بهتو کوم عزائم دي د دې سره يونورسټۍ کښې هلکان پوه شول ، دوئ دغه څلور نقطې ټينګې ونيولې ، او هرچا به ويل چې دروغ دي ، اوس چې زه راکوځيدم ، نو د پيپلز سټوډنټس فيډريشن صوبائي صدر حميد الله زاهد کوشش وکړو ، چې دے د بس بانټ ته وخيژي خبرې وکړي ، خو زمونږ هلکانو د بس نه راوغور ځولو ، نو ده چغه جوړه کړه ، چې دغه څرنګې جمهوريت دے ، چې پښتون سټوډنټس والا نورو ته اجازت د خبرو نه ورکوي ، زمونږ يو ملګرے ؤ ، چې سرتاج نوم يې ؤ ، د امان کوټ ؤ ، هغه ورته وويل:

چې زمونږ جمهوریت کښې زمونږ ځای کیږي، د بل چا ځای مشکل دے، حمید الله هلکانو وزغلولو، د دے سره یونورسټۍ کښې مود بهتو منصوبه ناکامه کړه، اوس مونږه فیصله وکړه، چې چوک یادګار ته ټګ پکار دے، چې هلته د N·A·P والاو ته زړه ورکړو، د دې سازش نه یې خبر کړو، هلته مونږه د قیصه خوانۍ د شهیدانو قبرونو ته چې رسیدو، د چوک یادګار لخوا یوسف خټک چې د مسلم لیګ او پیپلز پارټۍ د جلوس قیادت یې کولو، راباندې راغئ، دوئ چوک یادګار کښې جلسه کړې وه، د منصوبې مطابق یې په N·A·P د پاندې مطالبې اوقرار دادونه پاس کړي وو، چې مونږه حمله په وکړه، د دوئ خیال هم نه و، چې د N·A·P والا جرات کولے شي، د دوئ خیال دغه و، چې دټولې شپې T·V او ریډیو د پروپیګنډې، په وجه مودوئ دومره ډارولي دي، چې دوئ به پټ پټ کرځي رښتیا خبره ده چې N·A·P والا ډېر بې جراته شوي وو، خو P·S·F صحیح تجزیې په وجه اول مونږه یونورسټۍ سمه کړه، بیا بنار ته لاړو، نو زمونږه اودوئ په منځ کښې شاه جنګ وشو، چې زمونږ د بنار N·A·P والا خبر شول، چې P·S·F والا راغلي دي. قیصه خوانۍ کښې

دیوسف خټک سره جنګ دے ، نو دوئ هم راغلل، موږ
پیپلیان او مسلم لیګیان وزغلول ، اوچوک یا دکارکنبې مو
جلسه وکړه ، او دغه څلور نقطې مو ورته بیان کړې نو
د N.A.P والا کرم شول، دوئ ته موږ ده " ARGUMENTS "
په لاس وکړل ، نور خوبیا دوئ تکړه وو، بنارکنبې مو
هم ددوئ منصوبه ناکامه کړه ، بیا په دغه ورځ مازیګر
چارسدې ته لاړو ، هلته خلک کرم شول ، بیا صوابی،
نوښار ، کوهاټ او تر ډیرو پورې هلکان لاړل ، اوټول،
پاکستان کښې هم د N.A.P والو په ټیلفون باندې یوبل
ته دغه څلورخبرې کولې ، ورپسې پریس کانفرنسونه وشول
ددې څلورو نقطو نه افغان انټلجن والا خبرشول هغوئ
دکابل ریډیو نه بار بار ، نشر کړه ، هم ددې په وجه
هر دعقل خاوند په دې پوهیده ، چې دغه دبهټوبیو
منصوبه وه ، موږ ته تیاره ورکه کړه ، بهټو مونا کام کړو
که څه هم ده دغه اسلحه په ریل کښې سواره کړې وه ،
دټول پاکستان په سټشنونو یې نمائش کولو، خوهغه اثر
یې لاړو ، چې کوم دوئ اول ماښام جوړ کړې وه ،
ځما خیال دے چې بهټو غلط شو ، دده خیال وُچې ،
ولي خان هسې هم نه شته ، نو راشه اول دغه اسلحه
په ټول ملک وګرځوه ، چې خلک د N.A.P مخالف کی ،

نو بیا بندیز په ولګوه ، خو ده ته څه پته وه ، چې P.S.F
د ده منصوبه ناکامه کوي ، که ده هغه ماښام پا بندي
لګولې وے ، نوګه روستو موږ ډېر څه وئیلای هم
خو ده به اصلي کار کړے وے ، خو دے غلط شو ، ده
انتظار وکړو ، او موږ ده ورته ۱ په هغه ماښام د ډرامې
علاج را پیدا کړو ، نو ځکه روستو بهتو P.S.F ته ډېر
متوجې شو ، ولي خان ته نسیم بي بي روستو وئیلي وو
چې د N.A.P والو نه وارخطا وو ، خو د P.S.F والو
او خاصکر علي خان او افراسیاب د بهتو منصوبه ناکامه
کړه ، نو ولي خان به ما او افراسیاب ته کله نا کله قصداً
قدر را کوو .

روستو موږ ته پته ولګیده چې په رښتیا دغه اسلحه
وه ، خو دغه اسلحه عراقي حکومت دایران خلاف ایراني -
بلوچو دپاره راوړې وه . دا ځکه چې ایران عراق ته کُردان
را پورته کړي وو ، د مُلا مصطفی البرزاني تر مشرګرۍ ،
لاندې دعراق خلاف جنګیدل ، اوبل دایران اوعراق په
شط العرب په اوبو کښې په برید یعنې سرحد باندې
سره وران وو ، نو عراقي حکومت غوښتل چې ایران ته ایراني
بلوچ را پورته کړي ، خو عرب بیوقوف وو ، دوئ اسلحه
د بلوچستان دکوستل په لاره ایراني بلوچو ته نه ورکوله ،

بلکې اسلام آباد کښې يې جمعه کوله، بيا يې دوئ ته ورکوله، چې د بيوقوفۍ حد دے.

نو پاکستان انټلي جنس والو ته پته لګيدلې وه، دوئ قيوم او قيوم بيا بهټو خبرکړے ؤ. دوئ د خپل مقصد حاصلولو دپاره دغه عراقي اسلحه د NAP خلاف استعمالوله خو PSF يې منصوبه ناکامه کړه.

همدغسې مونږه دومره زور پيدا کړو چې ستمبر ۱۹۷۳ - کښې هلکانو زه د LAL کالج يونين صدارتي انتخاباتو ته ودرولم که څه هم زمونږ ملګري ځنې زما د درولو مخالف وو، دوئ وئيل چې ته ناکام شې، زمونږه دپاره بدنامي ده، پکار دي چې يو نامعلوم د PSF ممبر ورته ودروو، خو ځينو وئيل چې نه، ګورو چې مونږه انتخابي قوت يو او که نه، او بل زما مخالف د پيپلز سټوډنټس فيډريشن صوبائي صدر حميد الله زاهد بنوچے ولاړ ؤ، نو زمونږه مقابله ډېره سخته وه، د هغې وخت ټولو صوبائي او مرکزي وزيرانو کوشش کولو، چې زه ناکام شم، او حميد الله زاهد کاميا ب کړي، خو دوئ ته مونږه شکست ورکړو، يو زه کاميا ب نه شوم، بلکې ټوله ډله، د PSF کاميابه شوله نو مونږه په انتخابي او قانوني توګه په خلکو ومنله، چې مونږه فوجي او ورسره انتخابي قوت يو. هم ددې سره

د P.S.F نوم جوړ شو ، هغه بې طرفه او د غوړې کورنۍ هلکان او جینکې هم د P.S.F اړخ ته مائیل شول ، چې اکثره به دوئ د تاپې سر ته کتل ، مونږه لوئ لوئ میوزک او ټنک ټکور پروګرامونه وکړل ، چې هغوئ کښې مشهور هنرمند خیال محمد د ګډونه علاوه د افغانستان مشهور ره سندرغاړې قمرګل او د هغې خاونه ذاخیل هم شرکت کړے وو ، چې قمرګلې ته خلک افغاني لته منګیش کړ وائ ، نور مشهور افغاني هنرمندان راغلي وو ، چې هغوئ کښې - (سپین بادام) ډېر مشهور و . د قمرګلې د قومي سندرو په وجه پښتانه هلکان او جینکې ډېر مست شول ، دهر چا په خوله قمرګله وه ، بلکې د مهاجرو او پنجابیانو پرته فیسرانو خو خپلو مجلسونو کښې دغه خبره کوله چې P.S.F شعوري کوشش کوي ، چې پښتون کلتوري د پاکستان نه لرې کړي ، او افغانستان پورې یې وتړي .

ما ته د جرنیل جیلاني مرمني وئیل ، چې ما د امریکې ، پښتون مقیم کونسل جنرل ته وئیل : چې پښتونستان بس جوړ شو ، یونورسټۍ حال کښې د جناح د تصویرلاندې د پښتونستان د ملي ترانې غږ پورته شو .

زه روستو افغانستان ته تلے وم ، بیا زه د هغې ، وخت افغان وزیر داخله ښاغلے فیض محمد خان محسود ،

سردار داود خان صدر افغانستان ته د ملاقات د پاره بوتلم، سردار صاحب زانه پوښتنه وکړه چې هغه زمونږ جینۍ د رغلې وه، څرنګې د محصیلینو (طالب علمانو) خوښه شوه. د جینۍ نه مطلب قمرګله وه. ما ځواب ورکړ چې د هلکانو او جینکو په پوهنتون (یونیورسټی) کښې د دومره خوښه ده، چې که چیرې تاسو او خان ولي خان د واړه په پوهنتون کښې د قمرګلې خلاف انتخاباتو ته ودریږئ، نو د واړه یې بائیلئ. په دې خبره یې ډېر وخندل.

د قمرګلې راتګ پاکستان دومره "serious" اخستی وو. چې دې شپږ ورځو کښې په لاهور کښې بهمتو د اسلامي کانفرنس د رامه جوړه کړې وه. په دې کښې د لیبیا صدر قذافي هم و، دوئ د قمرګلې اثرات کړلو د پاره پښور یونیورسټی ته قذافي راوستو، چې د هلکانو او جینکو نه قمرګله هیره کړي چې بیا تش د قذافي قذافي خبرې وې، پدې کښې دوئ ناکام شول، د قذافي راتګ هیڅ فایده ورنکړه، مونږ ته اوس د قوم پرستۍ د پاره یوه دریمه او اهمه لاره جوته کړه چې، هغه میوزیک او کلتور وو، چې میوزک په وجه P.S.F پوره پوهنتون باندې قبضه وکړه، اوس مونږ سره د خپل کار د پاره درې لارې وې، سیاسي بحث، کلچر، او

فوجي، خوروستو وختو کښې موږ ته دومره ډېرشوو چې فوجي کار ته ضرورت پاتې نه شو، همدغه وجه وه چې بهتو P.S.F ته متوجې شو، زموږ دختمولو منصوبې يې جوړې کړې.

زما او د افراسیاب خټک نیول

اول سرکښې خو د بهتر د غه خیال وُ چې مونږه هلکان یو، نو ده "Serious" نه اخیستو، خو چې مونږه ورته د عراق د سفارت خانې د اسلحې د رامه ورانه کړه، نو دده پام ځمونږ طرف ته د پرشو، نو ځمونږ د ناستې پاستې نه به ئې ځان خبراوه، مونږه به کله سوات کښې کله د پرو تانک او کله خیبر کښې گرځیدو، هرځای به موجلسې کولې نو د خفیه پولیس والا راپسې وو.

یوځل ما ته بیرسټر دلاور خان د مردان وئیل، چې دے زمونږ لا کالج کښې پروفیسر وُ، او سخت قوم پرست وُ، چې تاسو له کله تهانه ملکنډ کښې کله به صوابی کښې او کله دره آدم خیل کښې وئ پاکستان انټلي جنټس به مونږه خبرولو چې اوس تاسو دلته یئ، اوس دلته یئ، پروفیسر دلاور وو وئیل، چې ما ته پروفیسر نثار علي خان وئیل چې یار عجیبه خبره ده، چې علي خان محسود او افراسیاب خټک ځمونږه شاگردان دي، دوئ چې خوځي، نو بیا حکومت وا رخطاوي،

اومونږ ته خبر راکوي، او مونږه پروفیسرانو یوځوک مو تپوس نه کړي، بیرسټر صاحب وئیل چې ما ورته وئیل، چې پروفیسرې پریږده، ددوئ غوندې د بهټو مخالفت شروع کړه، د ستابه هم پولیس تپوس وکړي، وئیل یې چې نثارخان وخندل، وئیل یې اوس هې په پولیس ډبوې څه؟ هم دغه یومعمولي مثال ؤ، چې دوئ مونږ ه څومره سخت خارلو،

یوځل حمونږه صدر نثار خان شیتوارې راته وویل چې دلته حسینې فوجیان دي، حمونږه سره خبرې کول غواړي دوئ پښتانه وو دپاکستان هوایي فوج کښې افسران وو، مونږه ورسره څوځوځله خبرې وکړې، خو ډېر پرهیز موکولو، ولې په دې چې زمونږ شک وو، چې دوئ، د پاکستان دفوج انټیلی جنس خلق دي، دوئ وئیل، چې، مونږه د بهټو خلاف کودتا کوو، یعنې تختې یې اړوو، مونږه ورته وویل، چې مونږه خو طالب علمان یو، نو زمونږ ددې سره څه کار دے. دوئ راته وویل، چې مونږ قوم پرست پښتانه یو، او تاسو هم قوم پرست یئ، بهټو دافغانستان دپاره او د N.A.P اوبلوچستان دپاره خطره ده، دده مرګ پکار دے، مونږ ورته وویل،

، چې مونږه دستاسو څه خدمتګوئ شو، دوئ راته وئیل، چې څه وخت بهټو پښور ته راځي

نو مونږه یې په جهاز حمله کوو، او جهاز یې بمبارۍ کوو.
او په راکټو یې ولو، دستاسو کار به دغه وی چې څه
وخت دغه کار وکړو، نو تاسو به جلوس وباسئ. وائ
به چې دغه ښه وشول، چې بهتو مړ شو، مونږ تپوس وکړو
چې مونږ به تاسو څرنګې خبروئ، دوئ ووئیل چې څه وخت
مونږه دغه کار وکړو، نو ځمونږ جنګي جهازونه به په لاکالج او
یونو رسته باندې دوه غوټې ووهي، دغه به اشاره وي، چې
کار وشو، مونږه ورته وئیل، چې ټهیک ده، بیا دوئ ووئیل:
چې تاسو یوکس دافغان حکومت سره رابطه جوړه کړې،
که مونږه ناکام شو، مونږ ته بیا سیاسي پناه راکړي.

مونږه داول نه په شک کښې وو، داځکه چې پاکستاني
فوجیان بیا د طالب علمانو سره دومره آزادي څه دچل نه -
خالي نه وه، مونږه ورته ووئیل چې افغان حکومت خپل سیاست
کوي، زمونږ په خوله هغه کار نه کوي، اوبل مونږه ورته
ووئیل چې مونږه بهتو په ټوپک مړکول نه غواړو، په سیاسي
لاره یې ختمه وو. خوکه تاسو یې مړکوئ اوفوجیان ځینې،
حکومت نیسي، نو دغه دستاسو کار دے.

روستو مونږ ته معلومه شوه، چې دغه چل حکومت
جوړ کړے وو، چې مونږه جزبا توکښې را شو، څه غلطي
وکړو، چې دوئ لاس راواچوي، دغه چل نصیرالله خان بابر

جوړ کړے ؤ، په هغې وخت کښې دے د فرینټر کور کمانډر او او میجر جنرل ؤ، دغه کسان هم د نوښار پیر بیا ځوو، او دے د بهتو لو په چمچه روستو جوړ شوه. دوئ په ګډه د افغانستان د پاره، ګلبدین مسعود او ربانی جوړ کړل، چې په دې کښې مونږ ګیر نشوو، نو دوئ نور چالونه جوړ کړل، مونږ یې ډارولو، دیونورسټۍ بهر جلسې نه منے شو، مونږ ه خو ټوله صوبه په مخه کړې وه، خلکو به مونږ خبرې شي او ریدے، داځکه چې مونږ طالب علمان وو، خبرو کښې موچل ول نه کولو، په دې باندې حیات خان شیرپاو وارخطا و، نو دوئ زمونږ دنیولو پلمې لټولې خو مصیبت دغه ؤ، چې زه د لاکالج صدر وم، نو دوئ - د اریدل، چې که لاس وا چاو، یو بنورسټۍ کښې به هړتالونه شروع شي، دوئ انتظار وکړو، چې دګرمۍ وخت راشي د دوئ تعلیمي کال په پوره کیدو دے، بیا لاس وراچوو، یوځل ما او افراسیاب په چوک یادګار کښې تقریرونه وکړل بس څه وو، دوئ راپسې وارنټ ګرفتاري جاري کړو، مونږ یې یوقسم په یونورسټۍ کښې نظر بند کړو، دواړو چانسلر عبدالعلي خان او صوبائي حکومت دغه "understanding" راغلی وو، چې پولیس به یونورسټۍ د ننه دوئ ته لاس نه اچوي که چیرې دوئ بهر لاړ شي، بیا به یې نیسی، چونکه مونږ ه

خو په کرځیدلو عادت وو، نوپوهنورستهی کښې تنګ شو، دهغې اوجون نیاشتې مودینورستهی دننه تیرې کړې، هروخت به د C.I.D والا راپسې وو، ځمونږه هرحرکت به یې نوټ کولو، هاستل کښې ځا یو بیره ؤ چې نوم یې صوفي ؤ، هغه راته وئیل چې C.I.D والا پیسې راکوي چې دعلي خان نه مو خبروه، ما ورته ووئیل، چې اخله یې اخرچې زه تنګ شوم یو شپه دشپې دره آدم خیل ته لاړم، بیا دهغې ځا یه وزیرستان ته لاړم، په دې کښې له ماسره ملګرتیا خیال اکبر-اپریدي کړې وه، دهغه یو زوړ مرسیډیز ؤ، په هغه کښې یې زه دره آدم خیل ته یوړم، هدغه شان زه له دوئ نه خلاص شوم، خو اګست کښې زموږه امتحانونه شروع کیدل، باید چې زه بیاپوهنورستهی ته پټ راشم، خو دې ځل ددوئ په ګوتو ورغلم، هغه داسې:

زه چې وزیرستان ته لاړم، نوځما خیال ؤ چې بس دلته دې حکومت ځار نه شي کولے، ولې په دې چې وزیر-ستان ایجنسي ده، پولیسي علاقه یا ضلع نه ده، اوبل ځما خیال ؤ، چې دومره کلک حکومت نه دے لګیا، چې ځما ځار نه دلته کوئ، خو داسې نه وه دوئ دلته ځار نه دقبائیلي ملکانو په ذریعه کوله، چې په دیکښې اکثره ځمونږ خپلوانو کښې راتلل، خو ملک ته چې پولیټکل ایجینټ حکم-

ورکړي ، دخپلوان خلاف جاسوسي خو پرېږده ، د پلار
يې ورته کوي ، دوئ به په چل ول زه څارلم ، کورته
به راتلل ځما سره به يې همدا دي ښودله ، چې تاسو ډېر دغيرت
کار کوئ ، چې دپښتنو د حقوقو دپاره جنګيږئ ،.

ما دغه ټولې خبرې عاجې خبرې ګڼلې ، ولې پدې چې
دوئ داسې نمونه خبرې اکثره کولې ، خو د دوئ عمل به جدا
ؤ ، يو دغه خبره به ډېره وه ، چې ولي خان څومره
پيسې درکوي ؟ په دې به زه ډېر تنګيدمه اول سرکښې به ما
ورته وئيل چې دغه پروپيګنډه ده ، ولي خان سره پيسې نه
شته ، دے هم پښتون دے او زه هم پښتون يم ، نو زه
خو د ده ذاتي کار نه کوم چې پيسې راکړي ، دغه قومي
کار دے ، بحيث طالب علم ما ته هم پکار دي چې خپله ونډه
پوره کړم ، خو دوئ ، خو داسې خلک وو ، چې بغير پرمټ
او پيسې نه يې تصور نه شو کولے ، چې زه پوه شوم چې دا
خلک ربښتيا نه مني ، نو ما ورته ښه دروغ وويئل .

يوه ورځ بيا يو ملک راغئ ، د ډوډۍ دخوراک نه پس
يې پوښتنې شروع کړې ، زه پوه وم چې اوس به بيا درنه
د روپيو ټپوس کوي ، ډېر په انتظار يې نه کښېنولم ، ژر يې
وويئل ، چې په ايمان چې ولي خان څومره پيسې درکوي ؟
ما ډېر په ساده توب سره ورته وويئل ، چې هره مياشت

"۳۰۰۰۰" دیرش زره روپۍ راکوي، د دې داوریدو سره سره بې ارامه شو، کله به دکټ سر ته شو کله لنګې ته، قوله شپه خوب نه ورتلو، ډډې یې بدلولې، ماته والد صاحب، روستو وئیل، چې دروغ ولې وایې، د دې سړي به زړه فیل کړي، ما ورته ووئیل چې هره ورځ دوئ دغه پټوس کوي، زه ورته وایم دا یوقوهي کار دے، ځما ذمه واري، ده. اوفرض راباندې دي چې قوم ته کار وکړم، زه خو دولي خان دپاره نه کړم، خو دوئ نه مني، چې نه مني نو راشه چې ښه دروغ ورته ووایم، نو دوئ به بیا تحصیلدار خبرولو، هغې به بیا پولیټکل ایجنټ خبرولو، حکومت ته پته وه چې د N.A.P سړ دپوسټرې پیسې نه شته خرګې علي خان ته د میاپشتې دیرش زره روپۍ ورکوي. ماته والد صاحب ووئیل چې ته پېښور ته ځې، تر دره ادم خیل پورې دې زه هم ملګرتیا کوم، زه هلته توپکې کورم، دخیال اکبر اپریدي دوالد صاحب په ذریعه اسلحه اخلم، خو که رستا دینولو خطره وي، نو ماته اوس نه ووایه، ما به دکوروالا نه خبرول. ما ورته ووئیل، ما صرف د پېښور C.i.D والا پیژني نو تر پېښور پورې خطره نشته، خو په زړګنبې زه دهربوقتي نه ویریدم، چې د دې شانه به د C.i.D والا ناست وي. داځکه چې یونورسټۍ کښې به دوئ په بوټو

کښې غلي وو. زمونږ ځار نه به يې کوله، چې مونږه تلو
نو دغه ملکان ټول خبروو، دوئ جاسوسي کړې وه،
مونږ ته پته نه وه، چې حکومت په ايجنسۍ کښې هم ما
ځاري، زه د والد صاحب سره ډېره اسماعيل خان ته لاړم
د ۱۷ جولائی ۱۹۷٤ سخته ګرمي وه، بيا مونږ د ډېره اسماعيل
خان دارلقيام سرائی کښې کوټه کرايه کړه. تر دې وخته پورې
هيڅ ونشول، خو زه بيا هم ډاريدم، خو والد صاحب ته به
مې داسې تصور ورکولو، چې ګڼې هيڅ نشته، مونږ ما زديګر
په ټانګه کښې د دريائي سندهه غاړې ته لاړو، چې سيل وکړو،
ما د بازار نه ډډه کوله،

ماوئيلا چې په بازار کښې دے C.i.D والاې ونه وينې، خو
اباسين په غاړه ځايو ماسټرو چې اتم جماعت کښې دے
د دنيات ماسټرو، قريشي نوم يې و، د جماعت اسلامي
هم خيال و، دغه راباندې پېښ شو، ده راته ووئيل زه يوه
دوه جوړه څپلۍ اخلم د ډېرو ښار کښې پوره واقف نه يم
که نه بازار ته راسره لاړشې بيخ استاد ما انکار نه شو کولے، او خپله
کمزوري مې هم نشوه ورته ښودلئ، چې زه بازار کښې ډاريږم
زه ورسره لاړم، څپلۍ مو واخيستې، شکريه يې، ادا کړه، بيايې
تپوس وکړو، چې کوم ځائے متل يې، چرته ځې؟ ما ورته
ووئيل، چې دارالقيام کښې متل يو، او صبا وختې مونږ پېښور

ته ځو، والد صاحب تر درهآدم خیل پورې ملګرے دے ، د
امتحان دپاره زه ینورستې ته ځم ، بس رخصت یې واخیستو
لاړو ، تردې وخته پورې ، زه په څه پوه نشوم، او
بل په ما باندې یوبل د P.S.F هلک پیرا عظم شاه پېښ،
شو ، زه زه دهغې سړ په چکر لاړم والد صاحب مې په سرای
کښې پاتې شو ، چې موبزه ناوخته د شپې راتلو نو څه
کوو ، چې پولیس والا تر سرای بدل دي ، موبزه رکشه
تیاره کښې ودروله ، عظم شاه ورغئ تپوس یې وکړو، چې
خیر خو دے ، بیا زما والد صاحب ته کوټې ته ورغئ ، زما
والد صاحب ورته وئیلي وو ، چې دوئ دعلي تپوس کوي.
چې څه شو ، ما ځواب ورکړو، چې ما ته یې پته نشته ، خو
دوئ پیره کوي، ما ته عظم شاه وویئل چې راځه شپه به
ځما سړ په کور کښې وکړې ، سحروختې به بیا بس ته راشو
موبزه دپېښور تیکتونه ماښام اخیستي وو ، ما ته د شپې خوب
نه راته ، پولیس داسې چالاکي کړې وه ، چې دوئ دسرائ
ددروازې نه پیره لرې کړې وه ، پلار ته مې یې ویلي وو،
چې علي خان نشته ، نومونبزه د لته څه کوو ، بس ځو ،
ربنتیا دوئ تلي وو ، خومخامخ دکان کښې سول جاموکښې
ناست وو ، سحر عظم شاه زما پلار د خو به وینبن کړو، ورته
وویئل ، یې چې لمونځ او دس وکړه ، ځو به عظم شاه وویئل:

چې ماته پولیس په سترګو را نغلل ، نو خوشحال شوم ، زه په اړه کښې توپونو والا دروازې سړ ورکوتې غونډې جماعت ؤ، په هغه کښې غلئ ناست وم ، او والد صاحب هې بس کښې مخکښې ناست وو ، ما ته عظیم شاه وویل ، چې ته هله بس ته ور شه چې دوئ دپر دپر هرنونه وکړي ، بس ده رخصت واخیستو زه دبس دهرنونو په انتظار شوم ، بس هرنونه شروع کړل، زه لکه غل دجماعت نه وروتم ، بس ته وروختم ، څه ګورم چې سپینو جامو کښې درې څلور سړي را پورته شول ، او یو برګ راباندې وکړو ، چې محسود صاحب له تا سړ ځمونږ ضروري کار دے ، بس زه پوه شوم چې څه کار دے ، ځما والد صاحب ورته وویل : چې تاسو څوک یئ ، څه کار مودے ؟ تهانیدار ورته وویل ، چې کاکا وارخطا کیږه مه ، بس دده نه پوده تپوسونه کوو ، بس نه راکوز شوو .

تهانه ورسړ جوخته وه ما والد صاحب ته وویل : چې زه ګیرشوم ته وزیرستان ته بیرته ځه ، ځما پلار دومره ، وارخطا شو ، چې پښې یې دیوې بلې سړ لګیدې ، تهانیدار تسلي ورکړه چې دستا بچي ته هیڅ خطره نشته ، په سیاست کښې دا نمونه خبرې راځي ، دغه دعزت جیل دے ، تاسو فکر مه کړئ ، دنے به دپر زر بیا خلاص شي ، موږ ته حکم دے ، څه وکړو .

مونږ باندې تهانیدار چای وخښل، بیا زما والد صاحب وزیرستان ته روان، زه ددوئ میله شوم.

ځما والد صاحب پدې کلوړ وو، چې دے خو قبائیلي پښتون ؤ، ددې دپاره جیل او مرګ یو شے ؤ، او دغه کمزوري پرنګیانو ته معلومه وه، چې د محسود دجیل نه زړه چوي نو چې کله نه کله به د محسود وشیطانت ډېر شو، پرنګیانو به په سمه کښې آوازه کړه کړه، چې حکومت محسود نیسي، په دوه دریو ګهنټو کښې به سمه د محسود ونو خلاصه شوه په منډه به وزیرستان ته روان وو.

روستو چې زه خلاص شوم، ما ته پلان وئیل، چې ته ګجیبه هلک یې، چې منډه دې ونه کړه، او جګړه دې ونه کړه ماورته وویئل، چې دغه خوزه په خپله مرضۍ کوم، ګنې چې سیاست نه کوم، نو څوک به بیا ما نه نیسي، خو ده راته وویئل چې که زما ټوپک وے، ما به مقابله کړې وائ، او بل تر نن ورځې پورې، دده شک په دې ماسټر دے، چې قریشي جاسوس دے، دغه جاسوسي ده کړې وه.

دا زه چې دومره زړور وم، ځما دغه اول ځل نه ؤ، چې ګرفتار شوے وم، زه یو ځل اپریل ۱۹۷۳ کښې هم دیوې هفتې دپاره نیولے شوے وم، هغه وخت حکومت - مونږه د P.S.P والا احتیاطاً نیولي وو، دا ځکه چې آئین

باندې قومي اسمبلۍ کښې جګړه وه، چې منظور شو، بیا یې مونږه آزاد کړو، زه اتم نمبر هاسټل کښې ماښام ۷.۳۰ حال کښې ناست وم، چې یو سړے راغے، چې بهر دې خان غواړي زه پوه هم نشوم، چې تهانیدار دے، دا ځکه چې په یونیورسټۍ کښې به بیراګانو هر هلکۍ ته خان وګیلو، نو ځما خیال وو چې چیرته هې ملګرے دے، تیاره وه خوچې زه وروتم، پولیس والا هې ولیدل وار هې خطا شو دلته که زما سره وسلحه وے مابه دپلار غوندې مقابله کړے وائے، دا ځکه چې دغه اول ځل وو، تهانیدار راته وویل، چې تاسو زمونږ کار دے، یونیورسټۍ تهانې ته ځو، بس زه مینځ کښې دوئ رابدل، خو شپه وه ځما دمخ اثرات دوئ نه لیدل، خبرو کښې زه ګډوډ نه وم، په خوله هې غوري کولې، او زړه کښې بنه ګډوډ وم، دهاسټل نمبر ۸ نه تر تهانې پورې تقریباً پنځلس مینټه مزل وو، چې تهانې ته رسیدو، ځما رپیدل او دمخ رنګ په ځائ شوے وو، بس هلته بالکل نارمل وم، بیا یې پیښور صدر تهانې ته بوتلم، چې حوالات او ټهټۍ کښې څه فرق نه وو، دغوا غوجل زرځله ځنې بنه وه، په ژوند کښې ما داسې ګنده ځائ کښې شپه نه وه کړې، څه ګورم چې نثار شینوارے یې هم راوستے، وار خطا وار خطا وو ما ته یې ویل، چې

په څه کښې يې نيولي يو، ماورته ووئيل، چې ۳۰۲ کښې هلک - وارخطا شو، ماورته ووئيل، چې اشنا محمد افريدي دوه درې پنجابيان مړه کړي دي، او پوليس ته يې ويلي دي، چې ما ته نثار خان اوعلي خان وئيلي دي، نو د نثار بد حال شو، خو زرمې ورته ووئيل، چې توکې کوم، ما ته يې وئيل، چې ظالمه، مرکوي مې څه؟

سبا د اخبار په ذريعه خبر شوو، چې عزيز بلور يې هم نيولے دے، يو بل هلک ؤ فرمان نوم يې ؤ، دچارسدې د- کالج د P.S.F مشر وو، هغه يې نيولي وو، افراسياب قسمت بنه ؤ، دے پينډۍ ته تلے ؤ، دپينډۍ ويکنې دشهباز او N.A.P دفتر سره دريدې او روانه دي، چې دے د پنډۍ نه راغلے دے، نو غوښتل يې چې شهباز دفتر ته وخيژي، قريش کل دپارتې دفتر منشي ورته وئيلي ؤ، چې ظالمه متبنته وانتا دے دريې نثار دوئ ټول يې نيولي دي، بس افراسياب منډه کړې ده، پټ وو چې مونږه خلاص شو، نو دے هم را پيدا شو، مونږ يې پيښور جيل کښې "cell" کښې کوشې کوشې وساتلو دلته هم، د کند حدوو.

نو ځکه چې ۱۷ جولای ۱۹۷٤ کښې، دوباره گرفتار کړم، نو ذهناً زه ورته تيار وم، اول جيل نه چې زه را خلاص شوم، نو ديونور ستې د تها نې تها نيدار -

راپورې توکې کولې، چې زمونږ خیال ؤ، چې ته قبائیلې ئې
ته به ښې لتې وتکوې، ما ورته ویئل چې زه ډېر وار خطاوم
خوشپه وه تاسو زما مخ نه لیدو چې رنګونه یې بدلول، ختدل
یې چې نثار خان ډېر بدحال ؤ، ډېر وار خطا ؤ، که څه هم
نثار خان د یوې سیاسي کورنۍ نه راتلو، د نیکه دوخته دوئ
د جیلونو او قیدونو سره د ماشومولي نه اشناوو.
بس مایوه شپه په ډېرو کښې وکړه، بله ورځ یې پېښور
ته ولیږم، چې زه پېښور ته شرقي تهانې ته خپل یار-
جانئ د شاه ته په حواله شوم، نو جاې مې د خولونه دکې
وې، نو دچا په ذریعه یې ځما دهاستل نه ځما جاې راوړلې
او ما ته یې وویئل چې جاې بدلې کړه، پدې وخت کښې
تیلفون ورته راغئ، نو ده په توکه کښې ورته ویئل، چې
سرے مې په لاس راغلئ دے، اوس اشنان کوي «لاهې»
او جاې بدلوي، بس څه زه یې قابو کړم، د څو ورځو
نه پس یې افرا سیاب هم گیرکړو، دوا ره یې پېښور سنټر
جیل کښې واچولو، ځمونږه د تنګولو دپاره سي کلاس کښې
وساتلو، ګنې قانون کښې ځمونږه حق د بې کلاسۍ ؤ، خو
حیات خان شیرپاو، او بهتو غوښتل چې ځمونږ نه نشه
وباسي، پدې بارک کښې د N.A.P ځینې کسان هم وو،
چې دوئ یې په دهاکو کښې نیولي وو، چې ځینې نومونه،

داسې وو: پیرګل، عجب خان، صدر صاحب کچکول او یوبل دچارسدې سپین ږیرے ؤ، نوم یې نه راځي، خو مونږ ه ورته بابا، بابا وئیلو،.

مونږه د جولائ او اګست په ګرمۍ کښې به په ځمکه او مردار و کمبلو کښې پراته ؤو، دلته یو لیونے وو، چې مونږه سړ به یې ګپ لګولو، ګپ څه ؤ ښې دپرې کنځلې به یې وکړې، بیا به یې یوه روپۍ غوښته، ګپ لګو، اول به یې د مور کنځل وکړل، بیا به یې یو روپۍ غښته د ده نوم ګل زار ؤ، بس مونږه کتا بونه راوغوښتل، د امتحان تیارے مو د جیل دننه شروع کړه، بلال شاه، نقیب جان، فواد او رشید مروت به ځمونږ خدمت ته باهر ولاړو دغه د P.S.F مونږ پسې تکړه مشران وو، اسد خان اپریدے هم ؤ،.

یوه ورځ مالاس مخ وینځل، چې بارک ته ننوتم، زما صابون او صابون دانې، دغابنونو برش، او کریم هر څه ورک وو، ما دپر په حیرانۍ سړ افرسیاب ته ووئیل، چې دغه عجیبه خبره ده، چې د جیل دننه ورک شول، افراسیاب و خندل، وئیل یې چې دوئ خو ټول دلته راغلي دي، مطلب یې دغلونه وو، بیا ما و خندل او پوشوم، نو بیا به مونږه دپر احتیاط کولو.

مونږ به د بارک مخکښې چکر لګولو، یو سړے ؤ مونږه

ته به یې ځیرځیر کتل، خو دخبرې جرأت یې نشو کولے ما د ټوکې د پاره افراسیاب ته وئیل چې بچه بازدے، تا ته ډېر کوري، افراسیاب خندل چې هغه وخت په موبزه تېر دے، کیدا ے شي موبزه ورته عجیبه قیدان ښکارو، خو آخر یوه ورځ یې جرات وکړو، سلام یې واچو موبز ته یې وویئل، چې که تاسې یې بد نه منئ نو به هم چکردرسۀ ووهم، موبز ورته وویئل چې بالکل، پدې کښې بدخه دې، نو ددوه درې چکرونو نه پس یې راسره خبرې شروع کړې وئیل یې چې تاسو دحراکتو نه داسې نه ښکاري، چې جوارګر چرسیان او نور نشیان یئ، غله هم راته نه ښکارئ، دجګړې والا هم نه راته ښکارئ، تاسو څه بدکړې دي چې جیل کښې یئ؟ افراسیاب ورته ټوله خبره وکړه، چې موبز څوک یو او جیل ته ولې راغلو، نو ده کلک کلک وخندل، وئیل یې چا تاسو یعنې کانګرسیان د هرچا کوڼې ته کوټې وروړئ، اول پرنګیان وو، بیا جناح، لیاقت، قیوم ؤ، ورپسې سکندر مرزا ایوب خان او یحیٰی خان ؤ، اوس مو بهتو په مخه کړے دے، چې ته به کلاس شئ، او که نه، موبزه ډېر پوه کړو خو ده ته موبز قصور ښکاریدو، او بهتو بې ګناه.

بیا یې جیل ته میرهمک شاه باچا مشهور پښتون، افسانه نګار او سیاسي لیډر راوستو، او داسې یې خان محمد افضل خان -

سپه سالار او پښتون ځلمي والا راوستو، چې موږ ته به ورته خان لالا وئيلو، او د مانکي حاجي صاحب تاج محمد خان سره د لمسي طارق خان چې ځمونږ سره لا کالج کښې وُ، راوستو، موږ ته يې بيا بې کلاس راکړو، موږ به کله هريپور جيل، کښې وُو، کله پېښور کښې D.P.R کښې يې نيولي وو، چې هر درې مياشتې نه پس به يې نورې درې مياشتې راکولې، بيا يې افراسياب د بيمارۍ په وجه خلاص کړو، خو ۸ فروري ۱۹۷۵ کښې پېښور يونورسټۍ کښې د بم دچاودنې په وجه صوبائي وزير داخله او د پيپلز پارټۍ صوبائي صدر جناب - حيات محمد خان شيرپاؤ، چا شهيد کړو، چې د دې سره بهتو په N.A.P الزام ولګولو، چې دغه کار دوئ وکړو، نيپ يې بند کړو، ولي خان يې بندي کړو، باچا خان يې نظر بند کړو، د ۴.ي.P د سر سر هلکان ټول و نيول، د N.A.P نه يې جيلونه ډک کړل، د يونورسټۍ ډېر پښتانه پروفيسران يې بندي کړل، د هريپور، پېښور، ډېرو، بنوں او کوهاټ، جيلونه يې د قوم پرستو نه ډک کړل، او پېښور بې کلاس کښې د ودريدو ځائ نه وُ، موږ ته خپل کټونه او ځايونه مشرانو ته ورکړل.

موږ ته دومره ډېر شوي وو چې داخيال دسړے نه کيدو چې جيل دے، د چوک يادګار فضا وه، ټول مشران راوستي شوي

وو، پروفیسر قلندر مومند مشهور لیکوال او لیلوړ، ډاکټر نظر، عظم جان خان، پروفیسر همریش خان او پروفیسر پریشان خټک جنرل جیلاني، حاجي غلام احمد بلور، دلبرخان آف ټکر. - لال بادشاه وکیل، او نور ډېر خلک وو، ارباب سکندر خان خلیل سابق گورنر هم ؤ، ایوب لالا، یوسف لودهي، عادل خان، ارباب همایون، ارباب جهانگیر، بیرسټر ظهور، شیردل خان آف چارسده خو د ټولونه د باچاخان نه پس په ماچې څوک گران وو، او ځني متاثر وم، هغه عبدالعزیز خان کاکا د زیدي مردان صوابي ؤ په ده کښې د مشر توب قدرتي صفتونه وو، خبرې یې ډېرې لږې کولې، خاموش سړے ؤ، خو یوکشش ؤ پکښې، چې سړے به یې ځان ته کشکولو، سابق وزیر تعلیم میرزاده خان آف مردان هم ؤ، د سوات نه یې ډېر مشران راوستي وو، او بل دوه خدای خدمتگار وو، چې د بیوه نوم ډېره نشه ؤ، هغه بل د اکبر پوري ؤ، د مولانا صاحب په نوم مشهور ؤ، دوئ عجیبه جوړه وه، دوئ به کله جیل کښې وو، کله به خلاص وو بیا به زر جیل ته راغلل، ما ته افراسیاب ټوکې کولې چې دوئ باچاخان جیل ته لیږي، ما ځني ټوس وکړو چې هغه څرنګې ده وویل چې ترڅو پورې باچاخان کابل کښې وو، باچاخان د دوئ نه په آرام ؤ، خو د کله نه چې د افغانستان نه راغلے، دے، ډېره نشه او مولانا روزانه ور خلاص وي، شاهي باغ،

کښې يې باچاخان په عذاب کړے دے ، نو باچاخان ددوئ ، دپاره علاج پيدا کړو ، باچاخان ورته وايي چې ، ځئ د خدائ د مخلوق خدمت وکړئ ، خلق پوه کړئ چې دوئ جلسې جوړې کړي ، په دې کښې ددوئ نه غلط . . . تقرير ونه شي ، پوليس يې په ١٦ ايم . پي . او "M.B.O" دفعه کښې و نيسي ، نو دباچاخان غوږ ونه درې مياشتې دپاره په آرام شي ، چونکه دواړه کُنډان وو ، چې خلاص به شول بيا به ښيخ شاهي باغ ته تلل . کور ته نه تلل او څه ته به تلل ، باچاخان به بيا خبر شو ، چې ډېره نشه او مولانا راغلل ، نو بيا به يې ورته وويل : چې ځئ خدمت وکړئ ، په دې وجه به يې بيا دوئ و نيول ، باچاخان به درې مياشتې ددوئ نه په آرام ؤ ، او بله ټوکه په دوئ پسې مشهوره وه ، دغه مشل خان داکوړي ډېره کوله ، چې حاجي بلور مولانا ته پنځوس روپۍ ورکړې ، نو دخوشحالۍ نه مولانا حاجي بلور نوم په تلاوت کښې ورګډ وی ، دغه خو دجيل ټوکې وې ، مګر په حقيقت کښې دوئ په رښتيا خدائ خدمتګار او د باچاخان پټنګان وو ، او يو بل خدائ خدمتګار اولوی شاعر ، شامحمود ميرئ ؤ ، دے هم ډېر خوږ سړے ؤ ، د پاچاخان لوئ پټنګ ؤ ، او يو مولانا ترخوي صاحب ؤ ، ډېر لوئ عالم او آزاد خياله عالم ؤ .

جيل کښې به ډېرې ټوکې کيدې ، په څه خو به مووخت

تیرولو، یو ځل ما یوسف لودهي او عادل خان یوه منصوبه جوړه کړه، چې راشئ لږ خلک ولوبوو، یوسف لودهي د پر شیطان ؤ، دده سړ تیپ ریکارډ ؤ، ده وویل چې موږ به تیپ کښې دغه خبر تیپ کړو چې بهټو چا په کرا چې کښې په طمانچه وو یشتو او وفات شو، د پاکستان د صدر یو پیغام به دقوم په نوم نشر کړو، چې تاسو په آرام اوسئ، د ملک د آزادۍ یوالي ته نقصان رسولو، عناصرو خلاف یو موبتی شئ. او دغسې نور، یوسف لودهي دغه خبر په انګریزۍ کښې ولیکلو. ما ته یې وئیل، چې ستا د انګریزۍ وینا ډېره ښه ده نو ته به دغه وائې، ما، یوسف لودهي، او عدیل، دې کلاس باتهروم کښې ځما تقریر تیپ کړو، او عدیل، ورپسې تلاوت وکړو، دغه موهم تیپ کړو، ولې په دې چې د خلقو اعتبار راشي، چې بهټو په رښتیا مړ شوے دے، یوسف لودهي وئیل چې د شپې د یوولسو بجو نه پس به دا کار کوو، وئیل یې چې ته «علي خان» به د بهر نه په منډه کوټې ته راشې، کوټه څه وه، پوره بارک وو، نو غږ به وکړې چې ریډیو بندې کړئ خاص خبر دے، نو خلک به دومره اوږد سوچ نه کوي، ریډیو به بند کړي، نه «لودهي» به تیپ چالو کړم، نو خلک به صرف دغه خبر واوري.، همدغسې مو وکړل ما چغه جوړه کړه چې پاکستان کښې څه وشول، ریډیو بندې

کړئ ، لودهي ټيپ په زور کړو ، او دځانه يې وو ئيل: چې
دغه « Voice of Amerka » ريډيو دے ، چې د بهتو د
مرګ خلقو واوريدو ، نو ډېر مشرانو او پروفيسرانو د -
خوشحالۍ نه دا سې حرکتونه وکړل، چې دوئ روستو په
ستومانه وو ، پروفيسر پريشان ختک چيغه کړه ، چې ما ته پته وه،
دغه فوجي انقلاب دګمګرانو رخان د مردان، ريډيو بنده
نه وه، سندرې يې وئيلې ، چا غږ وکړو چې دپښور نه
سندرې دي ، دغه څرنګې خبر دے ؟ دلبرخان آف تګر
غږ په وکړو ، چې پښورته به يا خبر نه وي راغلے ، خولکه پښتانه
وائي ، چې د دروغو مزل لنډ وي ، بس مونږ هم ښکاره شوو
حمونږ سره دوئ سوشل بائيکاټ وکړو ، چاراسره خبرې نه
کولې ، بس مونږه دريواړه به ګوشې ، کوشې ګرځيدو ، خو بيا
دغه سوشل بائيکاټ رو رو ختم شو ، مونږه بيا بحال شو ، چې بهر
به چرته دهماکه وشوه ، مونږه به جيل کښې واوريده ، نو
لودهي به ووئيل ، چې وکئ وکئ دهماکې وکئ ، مونږ داسې
ځاے ته راغلي يو ، چې دچا پلار مونشي ښولے .

دشيرپاو د شهادت نه پس لږ حالات نارمل
شول ، بهتو خپل کار کړے ؤ ، خپل سياسي حريفان يې
ټول جيل ته کړي وو ، نو بيا ئې غيرضروري خلکو په
خوشې کولو باندې پيل وکړو ، خو دصوبائي اسمبلۍ

مرکزي اسمبلي ممبران او د N.A.P لوئ لوئ مشران يې
په جيلو کښې وساتل ، دشير پاو د مرګ نه پس افراسيا ب
بيا - «under ground» شوے وُ خُمارهائ -
تاريخ ۲۱ فروري ۱۹۷۵ ؤ، مګر ۸ فروري ۱۹۷۵ کښې د
شيرپاو د مرګ په وجه تر نامعلوم وخت پورې قيصه لا ړه
نو د پښور جيل نه يې لومړئ ، بتول پروفيسران آزاد کړل، بيا
بيا ورپسې د N.A.P غير ضروري خلک ، موږ يې بيا
هريپور جيل ته بدل کړو ، دغه لوئ جيل ؤ. بي کلاس او اے
کلاس علاقې لوئ لوئ وې ،چمنونه او ډېره صفائي يې وه،
بيا دلته هم ډېر خلک رها شول ، دلته يوه ورځ مشرق
اخبار کښې راغلي وو، چې باچا خان حکومت پاکستان ته ويلي
دي ، چې که حکومت ما خلاص کړي ، نو زه به په صوبه
کښې آرام راولم ، او اجمل خټک به بيرته دکابل نه راولم
خدای خبرچې باچا خان دا خبره کړې وه. اخبارو به
دځانه ډېرې خبرې باچا خان پسې ليکلې ، بهرحال ماتوکه
وکړه چې د باچا خان دکابل انګورو ته تړه شوے دے
غواړي چې په دې بهانه ځان آزاد کړي او کابل ته لاړشي
په دې باندې عبدالعزيز کاکا ، جنرل جيلاني ، افضل خان
او نورو مشرانو وخندل ، ماورته وويل : چې باچاخان -
اجمل خټک راولي ، ما چې خلاص کړي ، زه به نه صرف اجمل-

صاحب راولم، بلکې افرا سیاب خټک به هم ورته راولم، نوددې نه میږئ خبر شو، هغه راته کوته خوځوله، چې باچاخان، ته وایم چې دغه نمونه ټوکې کوي.

په دې شپو ورځوکښې باچاخان دخان پورسپټ هاوس کښې نظربند ؤ، نوحکومت د پاچاخان دخدمت دپاره شاه محمد میږے، دجیل نه ورولیږلو، بیا چې د څه وخت نه پس میږے واپس جیل ته راغلو، نو ماته یې ویل، اوخندل یې، چې باچاخان ته مې ویل، چې محسود دغسې قیصې درپسې کوي، ماځنې تپوس وکړلو، چې خفه شو، خندل یې، چې نه راته ویل یې: چې دغه یې واوریدل خندل یې، میږې ماته ویل چې باچاخان خوخه ماشوم نه دے، چې خفه کیږي.

بس دجیل نه ټول خلاص شول، زه اوجیلانې پاتې شوو، ولي خان اول دسړ دوئ پنجاب کښې بندي کړے ؤ، بیا دوئ جیلانې ځما نه لاهور ته بدل کړو، زه په پوره بارک اوجیلکښې پاتې شوم، خو پدې شپو ورځوکښې بهتو پیښور ته راغلے ؤ، دپیټي کمشنر ورځې تپوس کړے ؤ چې په علي خان باندې څه وکړو، داځکه چې دشیرپاو دمرګ نه پس دبهتو داجازت نه بغیر څوک نه شو آزادیدلے، او خاصکر د P.S.F او زه، بهتو ورته ویلی وو:

«بس اُس بچے کو رها کردیں» مګر قیوم خان وزیر داخله

ورته وئیلي ؤو، چې هغه بچائی نه دے، دپر بد معاش دے خلاص یې کړئ خو پېښور ضلع کښې یې نظربند کړئ، چې افغانستان ته درنه لاړ نه شي حُما دپاره D.C کیانی صاحب دغه کوشش ځکه کړے ؤ، چې دده زوئ زما کلاس فیلو ؤ، نو هغې به هر وخت پلار ته وئیل، او بل ځما دجیل زمه‌وار دپېښور D.C ؤدا ځکه چې ما خلاف وارنټ دپېښور نه ؤ، نو ددې په وجه ده جرات کړے ؤ، د بهتو نه یې تپوس کړے ؤ، ارباب همایون خان زما دپاره کچرو کښې کوښښ کولو، چې ځما د D.P.R وخت اوږدنه شي، دوئ ته پته لګیدلې وه، چې حکومت یې نور جیل کښې نه ساتي، ماته ښه یاد دي، چې ما زدیګر ناوخته ماته دجیل افسرانو وو ئیل، چې ستا رهائي راغلې ده، کتابونه دې سمبال کړه، بهر درته ارباب همایون خان انتظار کوي، چې زه بهر راغلم ارباب همایون خان او ارباب نثار خان دواړه را ته په انتظار وو، زه دوئ په موټر کښې راسورکړم، ماښام تیاره چې په اټک راغلو، نو پولیس والاو لاره بنده کړې وه، ارباب صاحب راپورې ټوکې کولې، چې لکه حکومت دستا په رهائي پښیمانه شوے دے، بیا دې نیسي، هدغه شان زه مئ ۱۹۷۵ کښې رها شوم، په پېښور ضلع کښې نظربند شوم، چې رؤستو دغه هم ختمه شوه.

د حیدرآباد سازش

د نسیم بیبی هلې ځلې

د بهټو سیاسي حرص د ومره زیات ؤ، چې ده د خپلې واکدارۍ د پاره پاکستان مات کړو، په لاکهاؤ بنګالیان فوجیان یې مړه کړل، او د دوئ ناموس یې تباه کړو. بیا دوئ خدائ داسې وشرمول چې دنیا ورته حیرانه وه، په پاتې پاکستان کښې د بهټو په سترګو کښې N·A·P یو خار ؤ، ده غوښتل چې د پاکستان په ګډه یواځې کښینې، خو N·A·P په ارام د خپلو حقوقو نه لاس نه آخیستو، او بهټو ته یې سلامي نه کوله نو بهټو قسما قسم دراجې شروع کړې، چې اول کښې یې په ولي خان خوخوځلې قتلا نه حملې وکړې چې د تخت بهایې سره خو صرف دا نچو فرق ؤ، چې دراتیور دوئ شهید کړو ولي خان مرګ یا دوئ لاس کښې نه ؤ، چې په دې کښې کامیاب نشول، نو یې فوج په بلوچستان ورواچولو، د بلوچیانو په وینو یې د دوئ کورونه سره کړل، او آخر یې حیات خان شیرپاؤ

شهید کړو، او د دې په وجه او ذریعه یې د N.A.P او، ولي خان نه ځان خلاص کړو، (د ده د خیال مطابق) او فروري ۱۹۷۵ کښې یې نیپ بنده کړه. او ټول مشران یې بندیان کړل. باچا خان یې نظر بند کړو. اسفندیار، ولي خان یې په دروغو د شیرپاؤ د شهادت د کیس په وجه جیل ته کړلو، او قید یې کړلو، د N.A.P د سر په مشرانو یې حیدرآباد د سازش کیس جوړ کړو، چې دوئ پاکستان ماتولو، او دوئ غداران دي، او ده کوښښ کولو، چې دوئ پهانسي کړي، او ختم یې کړي، باچا خان نظربندي تیروله، په نیپ کښې داسې څوک پاتې نه وو، چې دغه خواره واره ورکران یې په یو مقام راغونډ کړي وائ، شاهي باغ کښې څوک سړئ پاتې نه ؤ، د نسیم بي بي خاوند، سخي او زوئ ټول قیدیان وو، نو د بي بي په سر په یوه وخت د کور ذمه واري، او د قوم ذمه واري غبرګې راغلې بي بي ژړا و نه کړه، بلکې د زړه غوندې یې دغه ټولوته سینه ورکړه او ملا یې وتړله، او د پښتنو په تاریخ کښې یې د ایلې بي بي روشانې نه پس د ملي کاروان ذمه واري واخیسته د بهټو خلاف یې ټول بلوچ، پښتانه، سندهیان او پنجابیان راګرم کړل، او ځینو معملو کښې خوبې سړئ روستو پریښودل، د بهټو خوب یې حرام کړو، د ده خیال و چې N.A.P بند کړي، د دې مشران بندیان کړي نو د ے به په آرام په پاکستان

حکومت کوي، مګر نسیم بي بي د خیبر نه تر کوئټې، بلوچستان د لاهور نه تر کراچۍ پورې یو طوفان د بهټو خلاف راپورته کړو، او ټول پاکستان کښې داسې محبوبه شوه چې اول کښې به خلکو وئیل، چې دولي خان بیګم ده، روستو به یې وئیل، چې د دې خاوند ولي خان دے.

نو اوس وخت راغلے ؤ، چې د بهټو نه پنجابیان ځانونه خلاص کړي، دا ځکه چې بهټو نور د دوئ په کار نه وو، دوئ اول د عوامي لیګ خلاف استعمال کړو، بیا یې د N.A.P خلاف استعمال کړو، خپل فوجیان یې د هند په راخلاص کړل، اوس دده نور کار نه ؤ، نو دوئ دون یونټ نه پس ډاکټر خانصاب شهید کړو، هم دغه چل یې اوس بهټو ته جوړ کړے ؤ، نو دده شامت راغلے و، د دریې نړۍ د مشرګرۍ دعوې یې شروع کړې، د اسلامي بم خبرې یې کولې، نو د دې سړې یې ځان ته یهودي او مغربي لابۍ هم دښمنه کړه، او د کور دننه یې پښتانه او بلوچ ځان ته دښمنان کړي وو، د افغانستان سړې یې کبدې کوله، نو مارچ ۱۹۷۷ کښې یې د انتخاباتو علان وکړو، او پخپله یې پکښې د هندلي وکړه، چې د دې سړې یې د خپل مرګ په کاغذ پخپله د سخط وکړو، جولائ ۱۹۷۷ پورې دومره حالات خراب شول، چې دده د خپله لا سه جنرال ضیا الحق دده تخته وا ړوله چې روستو یې پسې پهانسي کړو (اپریل ۱۹۷۹ کښې)

یوځل چاورته د جیل د ملاقات په دوران کښې ویلي وو، چې تاولې دغه جنرال C.N.C کولو، چې ورته د دې څلورو جنرالان دې روستو کړل، او دوئ نمبر دې وخوړا او دے دله دې کانډو اچیف کړو، نو بهتو ځواب ورکړے ؤ چې «مجھے کیا پته تھا، که اِسکی مونچھوميں مولوی چھپے ھیں» حقیقت کښې ضاءالحق د امریکې سړے ؤ، او بل د ضاءالحق نه - یهودیان هم ډېر خوشحاله وو، دے په یوه پروګرام په بهتو باندې کانډو اچیف کړے شوے ؤ، د ده سفارش شهزاده طلال ولي عهد دار دن کړے ؤ، د شهزاده - طلال میرمن څوک پاکستاني مهاجر سفیرو، د هغې لور وه چې اکرم نوم یې ؤ، چې څه وخت ۱۹۷۰ «Black septemter» په نوم مشهور پاڅون د شاه حسین خلاف P.L.O کړے ؤ

ډېر خطرناک حالات جوړ شوي وو، نو ضیاءالحق په هغه وخت کښې په اُردن کښې د پاکستاني فوج مشر ؤ نو ده د اردن حکومت مدد وکړو، د فلسطین ګوریلاګ قتل کړل، او د دوئ په وینو یې خپل لاسونه سر کړل، بغاوت یې ختم کړو، او P.L.O والا د ضیاءالحق د ظلم نه لبنان ته وتښتیدل، چونکه شاه حسین د مغرب لوئ ایجنټ دے، او خاصکر د امریکې، او بل که P.L.O د شاه حسین تخته اړولې وائ، نو د دوئ په لاس لوئ ملک ورتلو

او دامریکې بچي اسرائیلو دپاره لویه خطره وه دهغې وخت دسیاست مطابق سویت یونین ته یواهم ځاے په لاس ورتلو، نو دغه خطره دوئ د ضیاء الحق اوپاکستاني دکرایې فوج په ذریعه ختمه کړه، نو په دې وجه دضیاالحق نه د شاه حسین نه علاوه، امریکه سی، اُئی، اے، او یهودي موساد خفیه اداره تول ده نه خوشحاله وو، چې څه وخت پاکستان ته راغئ، او بیا بهتو په قدرت راغئ، نو د تکاخان نه پس دنورو جنرالانو نمبر ؤچې کماندرانچیفان شي، مگر شهزاده ولي عهد طلال اودده میرمني په سفارش په بهتو باندې زور راوړ وچې دے کماندرانچیف کړي، بهتو چالاک ؤ خو دلته خطا شو، نو دضیاء الحق په راتگ، امریکه، اسرائیل یعنې C.I.A اوموساد دواړه، خوشحال وو، ولې په دې چې د بهتو خوله خپله ته وه، دلیونې سپي غوندې ئې هرچا ته اچوله، او د اسلامي بمونو خبرې ئې کولې، نو C.I.A خپل زوړ یار ورته تیار کړو، د بهتو تخته ئې په ورواړوله.

چې ضیاء الحق په قدرت راغلو، نو ده په یوه وخت د دوه قوتونو سره جنگ نه شو کولے، یعنې، د P.P.P، سره او N.A.P سره اوبل دده جگړه خو

د P.P.P سره وه، د دوئ نه يې کرسۍ ښولې وه، او P.P.P او بهتو د N.A.P سره ډېر ظلمونه کړي وو، نو دغه قدرتي خبره ده چې ضياء الحق به د N.A.P سره روغه کوله، چې کرسۍ يې مضبوطه شي، همدغه وجه وه، چې ده د حيدرآباد سازش کيس ختم کړو، د N.A.P مشران بشمول ولي خان آزاد کړل، او بهتو يې دننه کړو، دغه د ضياء الحق د نيپ سره ښېګړه نه وه، بلکې د ده مجبوري وه چې ځان ته محاذ يو کړي، نو د ضياء الحق دغه مجبوري ځينو خلکو د نيپ سره ملګرتيا باندې تعبير کړه، چې دغه قطعاً غلطه خبره وه، ولي خان د جيل نه پس هم د مارشل لا مخالفت کولو، خو د بهتو ظلمونه ورياد وو، اوس ضياء الحق دليوه لکۍ په لاس کښې ويوله، چې لکۍ يې پرېښوده.

ليوه دوئ خوړل، او که نه يې پرېښوده، نو دغه چوکيداري مشکله وه، داځکه چې د بهتو په خوله کښې ډېر پالت ؤ، او مغرور ؤ، د ده خوب او خاطر کښې نه وه، چې دے به پهانسي شي، نو ځکه يې جيل دننه عدالت او هر ځاے جګړې کولې. پنجابيانو دے اوس د فرنچ ليدر غوندې استعمال کړے ؤ، نو ريې پکار نه ؤ، يو ځل چاورته وئيلي وو، چې هلکه په پنجابيانو

باندې اعتبار مه کړه ، دوئ په ډاکټرخانصاحب باندې
ون یونټ جوړ کړو، بیائې قتل کړو، ده ځواب ورکړے ؤ،
چې (مین وه بیوقوف کتا نهیں هوں جو روٹی کے ساتھ
سوئی کهاتا هوں) خوچې دپهانسۍ په تخته یې درولے
ؤ، نو ورياد شوي به وي، چې يوه ستن نه بلکې په سلها
هې وخوړې، چې څه وخت اپریل ۱۹۷۹ کښې حکومت پاکستان
بهټو پهانسي کړو، دجرمن يو اخبار BILD لیکلي وو:
چې دپاکستاني وزیرغظم قیمت پنځه مارکه ؤو، داځکه
چې هغې چوړې ته دوئ ۲۵ روپۍ مزد ورکړے ؤ،
چې بهټو یې پهانسي کړے و. نو ځکه پاکستاني جنرالانو،
دخپلو خارجي استاذانو په اشاره د لیوه نه ځانونه خلاص کړل.
چې نسیم بي.بي. په کامیابۍ سره بهټو او P.P.P ځائے
ته ورسول، ددې نه یوه لیډر جوړه شوه، او په خپل
همت جوړه شوه، نو دلته نیپ کښې ددې خلاف مخالفت
پیدا شو، چې دغه پنځه ده دپنځې دپاره په کورناستے
پکار دے، سیاست د پنځو کار نه دے، او ځینوخو
به داخلاقو نه غورځیدلې خبرې کولې، دغه تنګ
نظرې دله د.بي.بي ځکه مخالفه وه، چې بي.بي.پردوئ
نه کامیاب سیاست وکړو، دوئ to be or not to be
مرض کښې اخته وو، نو ځینوخو به ځانو ته طرقي پسند

وئيل ، د ښځې او نر د برابرو حقوقو خبرې به يې کولې ،
خو په عمل کښې د نسيم .بي بي په حق کښې د دوئ او يوجاهل
د جماعت د مولا ، په خيالاتو کښې فرق نه ؤ ، دوئ وئيل
يوڅه او کول يې بل څه ، په دې پر وپيګنډه کښې تش په نوم
د خدای په قهر کګر کمیونستان په ټولو نه مخکښې مخکښې
وو ، چې د دوې مرکز و نه ، کراچی ، لاهور ، پېښور ، او
کابل ؤ ، نو دوئ کوښښ کولو چې د ولي خان د قيد نه فائده
واخلي ، بي .بي وار خطا کړي ، دوئ به په چلول باندې
په N·A·P قبضه وکړي ، مګر بي .بي د اسې .بي .بي نه وه ،
چې دوئ ويرولای شوای ، .بي .بي دوئ ډېر زر وپيژندل
N·A·P په وخت کښې چې .بي .بي دوئ شړلي وو ، نو
حيني کمونستانو ماته وئيل : چې ولي خان د C·i·A سړے
دے ، او نسيم .بي .بي يې هم ممبره ده ، ما ورته وئيل ،
چې عجيبه کار دے ، چې سي ،آئ ،اے خپل ايجنټ
ولي خان په حيدرآباد جيل کښې ساتي او ته انقلابي د
امريکې د دښمن قصه خوانۍ کښې چکرې لګوې ، دغه
خبره ما مختيار باچا ته کړې وه ، ما ورته وويل ، چې ما
ته تا سو د C·i·A والا ښکار يې ، چې د دوئ په ما دم ونه
چليدو ، نو زه هم بيا د C·i·D سړے شوم ، د دوئ ،
تار به د کابل نه خوځيده ، خو کابل کښې د اسې استادان

وو چې دوئ به ښکاره دغه کار نه کولو، د دې استازانو نه ځنې نن سبا ملي قطار کښې سم شوي دي، اول کښې د دوئ خیال ؤ چې، بس ولي خان به حیدرآباد کښې ختم شي، نو مشرکري به زموږ په لاس راشي، نو ځکه دوئ بي بي بدنامولې، مګر د N.A.P اکثریت خو د دوئ په لاره نه تلل، چې څه وخت افغانستان کښې اپریل ۱۹۷۸ کښې بدلون راغئ، نو دوئ دولي خان او نسیم بي بي پسې خپله پروپیګنډه نوره هم تیزه کړه، او د کابل کمونستانو ورسره کمک کولو.

اول سرکښې د دوئ کوښښ ؤ چې لطف اپریدي را مخکښې کړي، او د نسیم بي بي او افضل خان لالا مخه وینسي، چې په دې کښې کامیاب نه شول، بیا دوئ د افضل خان او نسیم بي بي د جنګولو پروګرام جوړ کړو، دغه ټول تارونه به د کابل نه خوځیدل، چې دې کښې د N.A.P ښه تکړه تکړه خلق وو، (یعنې اِس حمام می سب ننگے هیں) نو دوئ تر دې حده پورې لاړل چې دولي خان او نسیم بي بي، تر منځ یې د راز پیدا کولو کوښښ یې وکړو، خو دوئ ناکام شول، بیا دوئ تر بزنجو راتاؤ شول، دهغه نه یې د ایشیا پلار جوړ کړو، خو هغې زړه دوئ وپېژندل دوئ ته یې وویل چې تښتئ، دغه داسې کمونستان وو،

چې دوئ کښې ډېر د پاکستان د پولیس خلک وو، تش د بې خبره خلکو د پاڅ دوئ د کمونیزم ډهول وهلو، په حقیقت کښې دوئ ټول ایجنټان وو، خاصکر مهاجر او پنجابي کمونستان، . ما ته امین ختک صدر N.A.P کراچۍ والا خبره کوله چې، اول سر کښې موږ ته قوم پرست ډېر ساده وو، دوئ ته مو هرڅه په حواله کړي وُو، دوئ، څو کسان وو، چې مسله به راغله، دوئ کښې به چا آواز وکړو چې (یه کمیټی مېں فیصله کریگا) چې کمیټي ته به راغله نو نیم نه به کمونستان کم وُ، فیصله به د دوئ په مرضي نه کیده نو دوئ به بیا زموږ سره چل وکړو (که نهی یه سب کمیټی میں فیصله کریگا) په سب کمیټي کښې به ټول دوئ وو، نو دغسې به یې چالاکي کولې، آمین ختک وئیل چې ځما د دوئ دے چل ته خیال شو، نو ما به ورته وئیل، چې نهی نواز بټ صاحب، یه کمیټی او سب کمیټي میں فیصله نهی هوگا یهاں پر هوگا دلته خو به موږ ته ډېر وو، فیصله به د قوم پرستو په خوښه وشوه، چې د دوئ چالاکي نوره نه چلیده، بیا ئې ما پسې پروپیګنډه شروع کړه، چې امین د (C.I.D) سړے دے، چې حقیقت کښې د وستو نواز بټ چې ځان ته یې کمونسټ وئیلو، د پاکستان د پولیس سړے وُ، چې N.A.P کښې کامیاب نه شول، نو دوئ زموږ په خواری جوړ کړے

پښتون ستړو ښتن فیدرشن ته مخ واړو ، او پاک او رښتونی
هلکان دوئ گمراه کړل، په غلطو لارو یې سرکړل، چې دے
کښې ځما خوابنه ملگري افراسیاب ختک او مختیار باچا هم
پاک ندي او دکابل سابقه مهاجر گورو هم برابر پکښې ککړ وو
چې چا سره دولئ راوسته .

افغانستان کښې د باچاخان بیا استوګنه

اپریل ۱۹۷۸ خونړی بدلون

چې کوم طوفان ۱۹۶۸ کښې د صدر ایوب خان، خلاف راپورته شوے ؤ، د هغې ډېر دور رس نتائج وختل، - مارچ ۱۹۶۹ کښې دده بسترہ یو بل جنرال یحییٰ خان ګول کړه یحییٰ خان ون یونټ مات کړو، چې د غه N.A.P او P.P.P بنیادي مطالبه وه، بیا یې د سمبر ۱۹۷۰ کښې پاکستان په ټول تاریخ کښې صفا اوغیر جانبدار انتخابات وکړل، او بیا ئې مارچ ۱۹۷۱ کښې د خپلو کړیو انتخابا تو نه انکاري شو، یا مجبور شو، اکثریت ګوند عوامي لیګ ته اختیارات دبهتو او پنجابیانو د سازش په وجه ور نکړل، چې نتیجه یې، خانه جنګي شوه، او د سمبر ۱۹۷۱ کښې جنرل اراره (ARORA) بنګال واخیستو، هم د غسې د جناح پاکستان مات او ختم شو،.

جناح وئیلي وو، چې هند کښې دوه قومونه دي، چې یو هندو دے او بل مسلمان، نو هند دې هم د دوئ په نوم

تقسیم شي، چونکه ددوئ په قول، د هند تقسیم اقتصادي جغرافیائي نه ؤ بلکې، مذهبي وو، هم په دې بنیاد - دوئ پاکستان د هند نه جدا کړو، مګر ۱۹۷۱ کښې پاکستان په اقتصادي قومي او سیاسي بنیادونو مات شو، مذهب ددې قابل نه شو، چې په خپل نوم باندې دپاکستان یوالے وساتي، یعنې دبنګالیانو جنګ د مغرب سړ په دې نه ؤ، چې دوئ ته مذهبي آزادي نشته، بلکې په دې باندې وه، چې دمغربي پاکستان والا د بنګله دیش دولت لوټي، یعنې مسله اقتصادي وه، مذهبي نه، او د هند تقسیم مذهبي ؤ، اقتصادي نه و، نو مذهب ددې قابل نشو چې پاکستان یو وساتي، اقتصاد ترې زورور شو، نو ددې سره، (TWO nations The ory) غلطه ثابته شوه، دهند تقسیم غلط ثابت شو، او باقي پاکستان هیڅ اخلاقي اوقانوني بنیاد نه لرلو، چې پاتې وی،.

مګر ددې باوجود دN.A.P او باچا خان دبهتو سړ د نوي پاکستان، جوړولو کښې هرقسم مدد کو لو پیشکش وکړو، مګر بهتو حرص اخیستے ؤ، د دوو دیه سړ پې ستن واخیسته. دده په ځائے جنرال ضیاء الحق راغئ، نوضیاالحق دخپل ځان دتینګولو دپاړ اسلام ته کوټې واچولې، د خلکو نه یې تپوس کولو، چې تاسو اسلام غواړئ؟ خلکو

ورته وویل، چې هو! بس ده وویل: چې تاسو اسلام ته ووت ورکړ، د دې مطلب دغه شو، چې تاسو ما ته راکړل، هم په دې طرز بې ځان ته جوان پیدا کړو، چونکه باچاخان د بې بوډا شوے ؤ، او بل پښتون قوم د بې اتفاقۍ په مرض ککړ و، د دوئ احسان فراموش وو، د دوئ ولي خان او نسیم بي بي پسې داسې بې بنیاده پروپیګنډې شروع کړے چې د دې سړ دوئ، د باچاخان زړه ته صدمه ورسوله

باچاخان په دې پوه شو، چې د ے وطن کښې ما ته، څوک د خدمت موقع نه راکوي، او پښتانه کور په کور مشران شوي دي، نو ده غوښتل چې څو د ارام وړځې په خپل کور جلال آباد کښې تیرې کړي.

مګر دے ځل حالات داسې نه ؤو، چې څه وخت د ے دسمبر ۱۹۶٤ کښې کابل ته راغلی ؤ، افغانستان کښې شاهي ختمه شوې وه، د سردار داودخان ترمشرګرۍ لاندې صدارتي نظام ؤ. داود خان چې کوچې وعدې د ۱۷ جولای ۱۹۷۳ د کودتې نه پس کړې وې هغه ټولې بې ترشا اچولې وې د پښتونستان نغوبه ګار شوے ؤ، د روس نه بې په چلول ځان خلاصولو، د سعودي عرب، مصر او ایران، چین او امریکه او پاکستان په ډله کښې بې ځان شامل وه. په کور دننه ورته حالات خراب ؤ. لاندې پښتنو کښې بې محبوبیت -

بایللے ؤ ، نو نه یې ولي خان خوښ او ته یې اجمل خټک او نه باچاخان ، بس ده غوښتل چې د پاکستان سره تعلقات جوړ کړي نو جون ۱۹۷۶ کښې پاکستان ته لاړو، مګر چې څه وخت د ۱۹۷۸ په پیل کښې باچاخان خپل کور جلال آباد ته بیا راغلو، نو دده په راتګ داود خان خوشحاله نه و، ما تر د ډاکتر نجیب صدر سابقه - افغانستان والد صاحب اختر محمد کاکا خبره کوله ، چې څه وخت باچاخان جلال آباد ته راغئ ، نو داودخان ډېر په مشکوک ؤ، نو زه یې و بالم ماته یې وویل : چې (باچاخان برای چی آمده) ما ورته ویل چې باچاخان کمزورے شوے او بلړا شوے دے دارام دپاره راغلے دے ، او بل د لاندې پښتنو نه کله من دے ، ویل یې چې سردار صاحب ډېر وار خطا او ویسې ؤ ، حما دلائل یې نه منل ، په اخر کښې یې راته وویل (چې باچاخان برای سیاست امده) نو دغه حال دافغانستان د حکومت ؤ ، چې دوئ د هرڅه نه ډاریدل.

په کور دننه خلقیانو او پرچمیانو ورته اتفاق وکړو ، او مولایانو خو یې داول نه مخالفت کوو ، داودخان چې کومې وعدې د پښتونستان په باره کښې کړې وې ، او د افغانانو د آبادۍ متعلق یې کړې وې ، یوه یې پوره نه کړه ، بلکې د مخالفینو دپاره یې پل چرخي زندان ورته جوړ کړو ، چې افغاني مسائل یې په دې حل کول ، چې څه وخت په دے جیل کار شروع

شو نو ما ته نیک محمد خان وکیل صاحب وویل، چې دغه موږ ته جوړوي، افغانستان ته د کارخانې، بندونو او سړکونو ضرورت دے، مګر محمد زیانو ته د زندانونو ضرورت دے چې خپل مخالفین پکښې واچوي، نو د دوئ د افغانستان د ضرورت نه مخکښې په خپل ضرورت باندې کار کوي نو ځکه یې د سړک نه مخکښې په جیل (زندان) جوړولو باندې پیل وکړو، او بل داود خان د اقتصادي مسائیلو سره مخامخ ؤ خلک په مزدورۍ پسې ایران او د عربو ملکونو ته په منډه وو، د اکتوبر ۱۹۷۳ د عرب اسرائیل جنګ او بیا د تیلو بندش په حقیقت کښې د ریه نړۍ ته لوېر ذیان ورسولو، چې هغه کښې افغانستان هم ؤ، دا ځکه چې تیل قیمتي شول نو عربو ته دولت راروان شو، او شهنشاه ایران یو ناڅاپه د لوېرو پسو خاوند شو، نو ورسره یې د منطقې د ملکو خوبونه ولیدل، مغرب د خپلې مشینرۍ د قیمتونو جګولو، په ذریعه د دې بحران نه ځانونه بچ کړل او عربو او یا په بله معنیٰ د تیلو هیوادونو ویرانی ته لاس کړو، سړک، پل، کور، کارخانه نو پک، جهاز، په اخیستو یې پیل وکړو، دغه شیان د مغرب په کارخانو کښې جوړیدل، د دې په ذریعه دوئ په بې روزګارۍ باندې قابو وساتله، چې څومره د تیلو هیوادونو آبادۍ کولې او اسلحې به یې اخیستې. په هغه،

پیمانه به په مغرب کښې بې روزګاري کمیده، او کارخانې به شپه ورځ روانې وې، چې د تیلو هیوادونو ضرورتونه پوره کړي، مګر د دریمې نړۍ هغه هیوادونه چې نه یې تیل لرل، او نه یې صنعت، نو دوئ ډېل جرمانه شول، یوارخ ته دتیلو قیمت په جګ شو، او بل ارخ ته مغرب دخپلې مشینرۍ قیمت په ډېل کړو، نو دوئ د سختو اقتصادي ستونزو سره مخامخ شول، چونکه ۱۷ جولائ ۱۹۷۳ کښې داودخان راغئ اکتوبر ۱۹۷۳، دعربو اسرائیلو جنګ وشو ورپسې دتیلوقیمتونو جګ شول، اورپسې د مشینرۍ نو داودخان په یووخت ددوه طرفه په اقتصادي، جال کښې، ګیرشو، داځکه چې افغانستان نه تیل لرل، او نه مشین، نو ددې سره خلک پر دیو هیوادو ته په منډې شول، او بل مصیبت د داودخان دغه وُ، چې دده کودتا ملګري کمونستان وو، نودوئ غوښتل چې افغانستان دے د سویت یونین حلقه اثر کښې وي، او په یوه شپه یې افغانستان آبادولو، اوبل ارخ ته داودخان دپښتونستان مسله ګرمه کړه، او دلاندې خلکو یې دپرامید و نه جوړ کړل او د دوئ خیال وُ چې اوس دغه کار کیږي مګر فروري ۱۹۷۵ کښې چې په N.A.P پابندي ولګیده او مشران یې، تول زنداني شول، نو دکابل محمد زیانو رو رو اوپه چل ول باندې د پښتونستان مسله سره کړه چې دوئ کښې د-

تولو نه لوئ مخالف د پښتونستان ، د داود خان کونړ روز
سردار نعیم جان وو، او بل روس داود خان ته وئیلي
وو، چې موږ ته د پاکستان او مغرب سره تعلقات نه خرابوو،
بلکې په بله معنئ د پاتې پاکستان هم ۱۹۷۱ کښې د روس په
وجه پاتې شوے دے، چې روس هند ته وئیلی وو، چې
باقي یعنې مغربي پاکستان نیول به روس ونه مني، نواز راکاندې
باندې پې زور راوړے ؤ، چې یک طرفه جنګ بندي وکړه
دا ځکه چې روس هم نه غوښتل چې هند لوئ شي، او مسلې پې
خلاصې شي، د هغې وختې نقشې مطابق روس بیا د هند
ګاونډي کیدو، چې د هند نه روس ته پخپله خطره جوړیده
او په دې قدم باندې د روس نه امریکه هم خوشحاله وه،
صدر امریکه رچرډ نیکسن د روسي مشر برېژنف شکریه ادا کړې وه،
نو روس نه غوښتل چې پاتې پاکستان مات کړي، او د پاکستان
د ماتیدو نه بغیر د لوئ افغانستان جوړیدل ناممکن وو، روسانو
به په پرائیویټ مجلسونو کښې د پښتونستان خبرې کولې، مګر
چې خبره به حقیقت ته لاړه بیا به دوئ په شاه شول، او بل
۱۹۵۳ نه تر ۱۹۶۳ پورې داود خان وزیر عظم ؤ، نو هغه
وختو کښې سوئټ یونین مشرانو د پښتونستان د همایت خبرې
کړې وې، او دوئ وجې هم د رلودې، یوه دغه وه، چې
سوړ جنګ او د امریکې او سوئټ یونین رقابت تازه تازه ؤ

د سرمایه دارۍ او کمونیزم جګړه ؤ، او بل هغه وخت پاکستان د سینټو او سیټو فوجي تړونونو غړے ؤ، چې دغه ټولې معاهدې د سوېټ یونین او کمونیزم خلاف وې، نوځکه خروشچیف د پښتونستان خبره کوله، چې څه وخت ۱۹۶۳ کښې د داودخان وزیرعظمي ختمه شوه او بیا ۱۹۷۳ کښې په قدرت راغئ، نو دې مینځ کښې لس کاله تیرشوے وو، نوجهاني او منطقي سیاست بدل شوے ؤ، پاکستان مات شوے ؤ، د فوجي معاهدې نه وتلی وو، سابق سوئټ یونین کښې خروشیف په ځائے بریژنیف بې مالګې او مغرور او کم عقل او بیوقوف روسئ راغلے ؤ، د چین او روس په مینځ کښې ناچاقی، وه، روس غوښتل چې د یورپ او امریکې سره تعلقات ښه کړي. چې داودخان د وبا په قدرت راغئ، د ده خیال ؤ چې اوس خو راسره کمونستان هم دي، روس به ارومرو د پښتونستان حمایت کوي خو چې څه وخت مسکو ته په دوره لاړو، نو وې لیدل چې بریژنیف، په دې مسله کښې هیڅ دلچسپي نه لري، بلکې اولټه یې ورته د « ASIANSECURITY PLAN » ورته ښکښې کړه، نو داودخان دپښتونستان خواشینی د روس نه واپس را غلو په روس یې زور نه رسیدو، نو د دوئ کمونست ایجنټان یې وار په وار د حکومت نه وشړل د کموستي بلاک

نه يې خپل تعلقات کمول ، او سرمايه داري بلاک سره يې لاري
جوړولې ، دغه موقعې ته شهنشاه ايران تيار ناست
ؤ ، ده ددا ودخان سره د اقتصادي کمک وعدې وکړې،
همدغه شان سعودي عرب ، او نورو عربي ملکونو د
داودخان دښمني تر دې حده پورې لاړه ، چې اجمل خټک
يې په کابل کښې بې کاره کړو ، د پښتون ځلمي ځوانان
يې ټول په جلال آباد کښې يوکيمپ کښې يوقسم نظربند کړل
داسې واليان او افسران يې مقرر کړل چې هغه ټول د
پاکستان ايجنټان وو . او د پښتونستان د تحريک مخالفين وو.
لکه عبدالله خان وردګ والي يې ننګرهار کړو ، چې دے
ډېر سپک او ضدي پښتون سړے ؤ ، د خپلې نوکرۍ
دپاره د خپل پلار مرګ ته هم تيار ؤ ، کابل کښې رو
رو ضدي پښتونستان ډله ، چې مشر کرې يې سردار نعيم
جان کوله دومره زوروره شوه ، چې دوئ په چل ول ،
باندې ، ټول هغه خلک د اهمو ځايونو نه لرې کړل ، چې د
هغوئ نه دوئ ته خطره وه . دوئ اول سرکښې د سرحدانو
وزير باچاګل خدران لرې کړو ، ليبيا کښې سفير کړو
بيا يې ګلبدين حکمتيار سره دوئ رابطه جوړه کړه
د دوئ په اشاره ګلبدين په پنج شيرکښې بمونه خلاص
کړل ، چې ددې سره ددوئ په لاس لويه بهانه د ميجر-

فیض محمد خان محسود وزیر داخله افغانستان خلاف -
وراغله چې دے افغانستان کښې استحکام نه شي راوستے
د دې سره قدیر پولیس دوئ د افغانستان وزیر داخله
کړو، او فیض محمد خان بې یو.بې کاره ځاے یعنې وزیر-
سرحدات کړو، چې دلږ وخت نه پس بې په انډونیشیا کښې
سفیر کړو، همدغه شان بې نور افسران لرې کړل، نو د دې
سره د داودخان او پرچمیانو، او خلقیانو تعلقات کشیدسول،
اوس د داود خان اړدې ډېرې خطرناکې شوې، پرچمیان
او خلقیانو ورته اتفاق وکړو، که څه هم دغه د مکر اتحاد
ؤ، مګر داودخان د جبر نه دوئ مجبور وو.

نو امریکې نواز خلك د حکومت په اهمو چوکیوو
کیناستل، چې د دې سره روسیان رو رو بې ارامه شول.
او بل هغه ملي پښتونستاني افسران چې دوئ د داودخان
نه ډېر امیدونه وو دوئ افغاني نوکر شاهي کښې ورښوتلي وو،
نو دوئ هم د داودخان خلاف شول.

اوس افغاني بیوکراسۍ داسې کارونه شروع کړل
چې د دې سره د داودخان زوال ډېر کړندے شو، هغه
داسې چې د ده ورور سردار نعیم جان او د دفاع وزیر
روسولي، او د مالیې وزیر وحید الله، او وزیر داخله
قدیر پولیسي، چې دوئ ته به خلکو کیچن کیبینټ وئیلو، نو

دوئ بغیر ددې نه چې افغان فوجي بیوکراسي چاڼ کړي، چې خوک. خوک دي، په نوم شپه کښې یې په مرګ ژوبله پیل وکړو، دوئ اوس دپښتونستان لوئ طرفدار ډاکتر نیاز محمدخان په پکتیا کښې شهید کړو، او دعوئ یې په مولایانو وکړه، چې دوئ دغه کار وکړو، چې دغه بالکل دروغ وو.

بیا دوئ یوبل دپښتونستان طرفدار میجر عطا محمد اپریدے کابل کښې شهید کړو، چې هم دوئ په مولایانو وروا ړو، چې دا هم دروغ وو،.

او اخرې د پرچم دولې مشهور عالم اوسیاستدان، استاد خیبر شهید کړو، ۱۶ - اپریل ۱۹۷۸ دخیبر دمرګ وخ وه، او جنازه ۱۷ - اپریل وه، چې ددې سړ دوئ دپهانسه پرے پخپله خپلو غاړو ته واچولو په دې باندې خلق ګوند وارخطا شو،.

چې څه وخت باچاخان جلال آباد کښې دخیبر دشهادت نه خبرشو نو ده فیصله وکړه چې دے به دده په جنازه کښې ګډون کوي، نو ددې سړ د کابل دګونستانو زړونه غټ شول، چې داود خان هرڅه کوي، خو دغه به هیچرې ونه کړي، چې باچاخان دجنازې جلوس کښې وي، او دے، دزې په وکړي، نو ددې سړ دپرخلق دخیبر په جنازه کښې شامل شول، ګڼې که باچاخان شرکت نه وے کړے، نو-

د دوئ دا پیروکرام وو، چې جنازه باندې یې ډزې کولې
خو د باچا خان د فیصلې په وجه دوئ دغه کار وځنډولو
دحالاتو پته د دې نه لګي، چې ما ته روستو طور لالي وویل
چې د افغان وزیر دفاع رسولي تیلیفون اجمل خټک ته راغلو
او ما واخیستو صفایې راته وویل، چې حالات ښه ندي
نو تاسو زموږ میلمانه یئ او ستاسو د ساتنې ذمه واري زموږ
ده، نو خیال وکړئ چې جنازه کښې شریک نه شئ، بلکې په
صفا او خوږه ژبه کښې یې ورته وئیلي وو، چې مه ورځئ،
چې په دې باندې د اجمل صاحب نه روستو ډېر پرچمیان،
خفه وو، چې باچا خان د خیبر په جنازه کښې شرکت
وکړو، مګر اجمل صاحب ونه کړو، دوئ دې ته نه کتل،
چې د باچا خان او اجمل صاحب په پوزشن کښې ډېر لوئ فرق
ؤ، او خاصکر سلیمان لائق ډېر خفه ؤ، چې روستو
بیا پرچمیان په قدرت راغلل، نو دوئ دغه بدل د اجمل
صاحب نه داسې واخیستو، چې دوئ ورته صوفي جمعه خان
لاس کښې کړو، اجمل صاحب به یې په تنګولو، بلکې صوفي
جمعه خان پخپله هیڅ حیثیت نه وو، د سے د اجمل صاحب
یو عام معمولي شاګرد ؤ، بلکې سلیمان لائق ورته لورهم ورکړ
او زوم یې کړو، او یو بل ابواب خان خان کاکا ..ځنې جوړه
کړو.

باهرحال حالات ډېر خراب و، دجنازې نه پس اوورپسې مناظرې شروع شوې، داودخان دخلق کوند دسرسرې ۲۵ - اپریل ۱۹۷۸ کښې گرفتار کړل، چې هغوئ کښې مشهور نور محمد ترکی، بابرک کارمل، حفیظ الله امین، سلیمان لائق ؤ، په دوئ باندې هیڅ احتجاج ونکړو، مگر د دوئ قسمت ښه ؤ، چې حکومت بې وقوفي وکړه، مابنام حکومت په ریډیو او T - V باندې علان وکړو، چې دخلق کوند دغړیو ټول لستونه او فهرستونه زموږ په لاس راغلي دي، زموږ دپنجې او منگولو نه څوک خلاصیدلے نه شي، چې دغه دوئ صرف دخوف اچولو دپاره دروغ وویل، مگر په عمل کښې ددې، سره فوجي خلقیان وارخطا شول، چې اوس به موږ ته شرموي او په بې عزته مرگ به مرو، نو راځئ چې په نره وجنگیږو، دوئ خپل فوجي ملگري خبر کړل، چې صبا حمله ده، یا په عزت مرگ، او یا کامیابي، ددوئ مشرگري وطن جار، گلاب زوئ او کرنل قادر کوله، دوئ گاڅ وختي ۲۷ اپریل ۱۹۷۸ کښې په داودخان حمله وکړه، چې مابنامه پورې سخت جگړ وشو، او ښه خونړے جگړ شو. وطن جار او ددوئ ملگري کامیاب شول، داودخان دافغانستان نه دهمیشه دپاره ختم شو ددې سره دهمد زیاتو دورهم پاڅے ته ورسیدو، انقلابي فوجیانو خپل خلقي مشران دزندان نه خلاص کړل، اودغه

شان دخلق کوند سیاسي لاتري راوخته، افغانستان کښې دثور انقلاب یا په بله معنیٰ د ثور بدبختي راغله، چې نه صرف یې افغان اولس د بدبختیو سره مخامخ کړو، بلکې ټول جهان کښې یې، دوررس، تبدیلي راوستې، کمونستي سیستم کښې دغه اخري کوښتا وه ددے سره دمغرب او مشرق د Nato او Warsaw Pakt دفوجي پهلوانۍ میدان دافغان خاوره جوړه شوه، هندوکش کښې افغاني وینې روانې شوې، لینین او کمونیزم هرڅه په افغاني بزکشۍ کښې وبائیلل، دکمونیزم مرګ هم په افغانستان کښې پیښ شو۔

دخلقیانو او پرچمیانو بزکشي

تره کي او ببرک کارمل

چې څه وخت ۲۷ اپریل ۱۹۷۸ د ثور بدلون راغئ دغه وخت زه جرمني کښې وم، په یورپ او امریکه کښې لکه څوک اتم بم وچوي، دغسې زوږ او شور جوړ شو، ټوله شپه او ورځ بل څه په ریډیو او T - V کښې نه وو صرف دغه خبره وه، چې کمونیزم په افغانستان کښې راغئ، او قسما قسم تبصرې به کېدې، هرعالم به خپلې دخیالونو اسپې ن غلولې، دافغانستان نه یې یو دیو جوړ کړو، چې دغه به اوس ټوله ایشیا خوري، او ځینو عالمانو خو تر دې حده پورې پیش کوئي وکړې چې سویټ یونین د افغانستان په لاره کړهو او یو ته ځان رسوي دغه یې اول قدم دے، او ځینو به وئیل چې کومه نظریه یا مذهب کابل ته راغلے دے، هغه بیا تر بنګاله پورې تلے دے او ددې بدلون وړانګې به تر انډونیشیاء پورې رسي، دپاسه به افغانستان وي دمشرق دغاړې به ویتنام وي، دوئ به دغه

تولہ اشیاء کښې کمونیزم خور وي، او افغانستان د ایشیا زړه دے، چې زړه باندې کومه نظریه قبضه وکړي، نو ددې اثرات ټول وجود ته رسي.

مګر دهغې وخت سړ المانی عالمانو دغه خیال وو، چې مغرب ته هغه غلطي نده پکار، چې کمه دوئ، دفیدرل کاستروکیو به خلاف وکړه چې دوئ د سویت یونین غیږ ته واچولو، نو دوئ کښې دپرو داخیال وُ، او خپلو سیاسي مشرانو ته یې مشوره ورکوله، چې افغانان پرآزاد خلك دي، دوئ دهیچا لاس نه مني. نو پکار داسې دي چې افغاني کمونستانو سړ رابطه پکار ده، چې دغه انقلابي دورتیر شي، دوئ به رو روګاے ته راشي، که چیري موږ ه دوئ تنګ کړل، نو دوئ به ضرور - ګانونه سویت یونین ته وسپاري، چې دغه به د مغرب د مفاد خلاف وي، مګر د مغرب سیاست د امریکې په لاس کښې وُ، امریکیانو دغه ټولو نه نصیحتونو ته چیرتر غوږ نیولو، کاونډیو هیوادونو کښې لکه ایران او پاکستان کښې یې ورته آډې جوړې کړې، او رو رویې د داود خان دوخت تښتیدلي اخوانیان ورته C.i.A منظم کړل.

« C.i.A » او برطانیه جاسوسي ادارې ټولہ اسلامي او عربي نړۍ کښې بهرتې، وکړه، اخوانیان یې افغانستان ته ولیږل. او بل د دوئ په کور دغه حال وُ چې دتړ کي اوبرک

مثال دهغې کونډې دغوايو يو، چې پښتانه متلکوي چې:
«دکونډې دوه غواڼې وو، چې يو غوجل ته نتوتو نه، هغه بل
دغوجلې نه ونتو نه» نو دغه حال د دوئ ؤ، دوئ دغه کونډ
په ۱۹۶۵ کښې جوړ کړے ؤ، او دلږ وخت نه پس سړه بيل شوې
وو، ديوې ډلې مشرکري نورمحمد تره کي کوله او دبلې ډلې
مشرکري ببرک کارمل کوله، چې د دوئ په کونډي پروګرام
کښې هيڅ څه خاص بنيادي فرق نه ؤ، مګر د دوئ سوشل م
(Background) کښې ډېر لوی فرق ؤ، پرچميان اکثره
ښاري خلک وو، او د شاهي بيوکراسئ اولاد ؤ، دوئ کښې دوه
ډلې خلک وو، ځينې پکښې تاجک پارسي بان وو، او ځينې هغه
پښتانه وو، چې دوئ نږدې پښتانه وو، مګر کابل کښې دوئ
کلتوري، ژبني پارسي بان شوي وو، او بل هغه پښتانه وو چې
دوئ غوړ خلک وو، او نوکر شاهي سړي پې تعلق ؤ، نو
دوئ هم ديرک سړ وو، د دوئ اقتصادي حالات ډېر
ښه وو، او هم د ښاري ژوند په وجه دوئ ډېر چالاک، او
سازشي وو،.

بل اړخ ته خلقيان کليوال خلک وو، او اکثريت يې
پښتانه وو، او ځينې کليوال تاجک او هزاره هم پکښې وو،
مګر د دوئ تعداد په اوړو کښې د مالګې و، نو ځکه باوجود
د سياسي او نظرياتي پروګرام دوئ ديو بل سړ تللئ نه شول.

خلقیان دپروچ کلکۍ کمونستان وو، او نه په حوله کولوجدو-
جهد پې کولو، مګر ددې په مقابله کښې پرچمیان داسې نه وو،
دوئ د هرې موقع نه فائده اخیسته، نو د ښاري افغاني کمونستانو
او کلیوالو افغاني کمونستانو په منځ کښې اختلاف راغلو، چې څه
خو د دوئ خپل قصور و، او څه ورته شاهي حکومت لمن وهله
بس دوئ یوپه بل پسې دپروپیګنډو تو پې خلاصې کړې، دوئ
خپله ټوله انرجي په خپلو منځوکښې خرچ کړه بهر ورته مولا
تماشګیر ؤ، د خلقیانو په نظر ببرک کارمل، د جنرال زوئ
وو، د شاهي کورنۍ ایجینټ ؤ، د پرچمیانو د پاره تره کی د C.I.A
ایجینټ ؤ، دا ځکه چې چیرته تره کي امریکه کښې افغاني
سفارت خانه کښې څو میاشتې نوکري کړې وه، بس دغه د
ده خلاف ثبوت په طور پیش کولو، حقیقت کښې دیوې ډلې
سره هم ثبوت نه ؤ، بس دغه هوائي تورونه وو، چې یو بل
باندې لګول، که چیرې د دوئ پراتفاق وے، نو دوئ لوئ
قوت ؤ.

د ۱۷ جولای ۱۹۷۳ کودتا کښې پرچمیان شامل وو، د داود-
خان په حکومت کښې یې ډېره برخه درلوده، او دوئ په
بیوکراسۍ کښې ډېر ورننوتل، مګر خلقیان بحیث ګوند په
حکومت کښې شامل نه شول، مګر د داود خان د حکومت
د مترقي قدمونو ملاتړ یې کوو، چې څه وخت پرچمیان

حکومت ته ګډ شول، نو دوئ بنه امتحان ورنکړو، دوئ هم
د شاهي مُرداري نوکر شاهي په څیر په (Bribry) یعني رشوت باندے
پیل وکړ ددې سره دد وئ نیک نامي ته ډېر زیان ورسید و چې
څه وخت داود خان د دوئ په شړلو پیل وکړو نو خلقو
کښې د دوئ څوک هېڅ نه ؤ، مګر د داود خان په حکومت
کښې خلقیان پاک پاڼ شول، دا ځکه چې دوئ بحیث ګونډ شامل
نه وو، چې څه وخت داود خان، خپل پر په بدلولو پیل-
وکړو، د سو شلست بلاک نه یې روړو د سرمایه داری بلاک
ته بز دی کولو، او د دې سره په پرچمیانو تبه راغله، یو خو
د دوئ نوکري لاړې، خلقو کښې بې عزته شول، اوبل د
افغانستان خارجه سیاست بل اړخ ته روان شو، نو دوئ-
چلاک خلق وو، سوچ یې وکړو چې څه علاج یې پکار
دے، دوئ دځان وینځلو دپاڼ بیر ته دخلق ګونډ سره
دیو کولو، پروګرام وړاندې کړو، چې د دې دوئ ته دو
فایدې وې، یوه دا چې د داود خان پریښ ته یواځې نه وې
او بل به دوئ د دې په وجه دافغاني خارجه سیاست څخه
ونیسي، نو دوئ باندې زور ؤ، اوبل د C.I.A او د ایرانی سواک
افغاني جاسوسي ادارو ته دغه مشوره وه، چې د دواړو
نه ځانونه خلاص کړي، نو هغه دپښتنو متل و، چې:
«چې بز ے پاهنے شي، نو بیا په له مئینے شي» نو اوس دوئ،

پمن شوي وو، او بل ددوئ استاد K.G.B ته درک لکیلے
ؤ، چې د هوا رخ کومې غاړې ته دے، دوئ پې سره
یوکړل، د مکر او سازش یو اتحاد وشو، چې د هغه اوله نتیجه
دثور و بدلون وو، خو لکه چې متل دے «چې: دغلو خـــه
خـوږه یاري وه، خو په ویش یې تالا شوه» همدغه چل
ددوئ سره وشو، د دوئ اتحاد داول دسره په سازش ؤ،
بد نیستي او مجبوري په بنسټ ولاړ ؤ، او بل پریشر و، چې خه
وخت د محمد زیانو حکومت نسکور شو، نو پریشر په دوئ
کم شو، هغه پخوانے د بدنیتي او دسیسو په بنیاد ولاړ
دشک نه ډک سیاست بیا شروع شو، اوله ورځ ددوئ جنګ
په دے وچې، تره کي نه پس به ببرک هم په ریډیو او
T.V باندې قوم ته خطاب کوي، حقیقت او جهاني روجه
طریقه دغه ده چې، د هیواد مشر تقریر کوي، چې
تره کی دافغانستان صـــدر ؤ، مکر افغانستان کښې دوئ
دمکر داتحاد نه مخکښې کوندي مشرانو په بنیاد تقریرونه
وکړل، چې تره کی صاحب په پښتو وکړو، ببرک
په پارسي وکړو،.

دغه اول بحران خو دوئ حل کړو، خو دغه ډکه
کار دپاره نیک فال نه ؤ، دوئ خپلې پښې ټینګې کړې
نه وې چې د بزکشۍ دپاره، خلقیانو او پرچمیانو یو بل

ته بدې ووهلې، اوبل هر یوه کوښښ کولو، چې خپل طرفدا-
ران زیات کړي، نو ددې سره د ومره دپرخلک ګوندته
راګډ شول، چې داصلي اوکچه درک لګول پکښې ګران شول
که څه هم نوم به د تره کي او ببرک یاد یده، مګر حقیقت
کښې بزکشي د آمین او ببرک ترمینځ وه.

د سیاسي علم په بنیاد تره کی صاحب او ببرک څنې کمزوریانې
لرلې، د مثال په توګه تره کی صاحب یوکلیوال سړے ؤ د سیاسي
علم له نظره، کلیوال سړے رښتونے، وچ کلک وي، دے
پخپلو نظریاتو دپرتینګ وي، د دهوکې اوچپلوسۍ نه پاک وي
مستقل مزاجه وي، چې څه وایي، هغه ئې مطلب وي، خپل
ملګرو ته صادق وي، چې سیاسي ژوند کښې دغه نمونه خوبونه
کافي نه وي، چونکې دے بناري نه ؤ، نوځکه دے چالاک
او چپلوس نه ؤ، اوخپل اړخونه یې زر زر نه شو بدلولای
چې سیاسي ژوند دغه تقضاء کوي، نو تره کی صاحب دنظر-
یاتي جنګ دپاره برابر سړی ؤ، مګر دحکومت کولو
دپاره فیټ نه ؤ،

بل اړخ ته ببرک یو بناري ؤ، او د نوکرشاهي پیداوار
ؤ، نو دے دپر چالاک، زیرک او دحالاتو دبدلولو په
په چل بنه پوهیده، نو ده به مسئله دپره زر پیژندلای
شوه، او دخولې، خبرې اوعمل کښې به یې فرق زرمعلومولے

شو او د استاد خواهشات به ډېر زړه ورمعلوم شول.
نو ده به هغه کول، چې د استاد به خوښ وو، د پردې
شاته د حالاتو د رکڼ ډېر زړه ور معلومیدل، نو ځکه ده
«کارل روسیاد» ترکي په مقابله کښې سم پیژندلي وو، مګر د-
ښاري ژوند په وجه ده څه کمزوري لرلے، چې هغه
مستقل مزاجي، رښتونوالے، پیاوړتوب ؤ، چې دے د
دې نه محرومه ؤ، نو دې نظریاتي ژوند د پاره فیټ نه ؤ.
مګر د حکومت کولو د پاره فیټ وو، هدغه وجه وه چې تره کی
نظریاتي جنګ کښې بریالے شو، مګر حکومتي جنګ کښې یې وبایلله.

مګر آمین صاحب د سیاسي علم په بنسټ د دوئ د واړونه
خطرناک ؤ، هغه ځکه چې ده کلیوال او ښاري بیوکراسي
د واړه خاصیتونه درلودل، یعنې ښاري چالاکي او کلیواله
بد معاشي، اکثره هغه کلي چې لویو لویو ښارونو ته نږدې
وي، نو د دې اوسیدونکي ډېر خطرناک وي، داځکه
چې دوئ په خپل وجود کښې په یوه وخت دوه عادتونه
ځای کوي، د واړه ژوندونه پوره نه وي، بلکې نیم، نیم
یې خپل کړي وي، نو ځکه نه پوره ښاري وي او نه کلیوال
نو د غه دوه ډوله خاصیت یو خطرناک شکل جوړوي، او
اکثر غیر سیاسي خلک بد معاشان وي، چالاک، کندکپان او جیب-
کټ ے وي، داځکه چې دوئ د دواړو وسلحونه برخورد

وي، که دچالاکۍ ځای راشي، نو دوئ دمکراوسازش نه کار اخلي، چې د بدمعاشۍ ځائ راشي، دخپل چاقونه مکر مکمل ښاري یاکلیوال د داسې خاصیتونه خالي وي، یا چالاکي کوي یا بدمعاشي. «کابلیان وایي: یک پغاني صدلغاني».

همدغه وجه وه، چې آمین دپر زیرک، چالاک اوپیاوړے سړے ؤ، چې ده دواړه ژوندونه درلودله چونکه دے د پغمان ؤ، دکابل ښار نه دپر لرے نه ؤ، دافغانستان کلیوال ژوند نه هم خبر ؤ، او ښاري ژوند نه هم، که څه هم ببرک دکلیوالو کورنۍ نه راتلو، خو دوالد صاحب په وجه خپل ژوند یې په ښار کښې تیر شوے ؤ، او تش په نوم کلیوال ؤ، نو ځکه ده کلیوال خوئ دلاسه ورکړے ؤ،

د ببرک د پاڅ د تره کي صاحب ښکیلول څه گران کار نه ؤ، مگر آمین صاحب ورته گران ؤ، نو ځکه دوئ د خپلې پروپیگنډې نشان آمین جوړ کړے و. چې اول سرکښې ببرک په ښزکشۍ کښې کامیاب نه شو، دحکومت داخیستو دلنډ وخت نه پس آمین دوئ وشړل، د پرچمیانو د سرخلکئ یې ټول لرې کړل، د پرچمیانو خلاف دآمین صاحب کودتا کامیابه شوه. د دې مطلب دغه ندے چې آمین په دوئ باندې اعتبار وخوړو، او بد سړے ؤ، ببرک هم فریبنته نه وه، دغه کار ده هم کولو، خو چونکه

دے چالاک ؤ، پیاوړے نه ؤ، نو ځکه یې دغه اوله لوبه و بایلله.

کله چې پرچمیان خلقیانو وشړل نو دښمن ورکړ شو، اوس د پښتنو د متل مطابق، چې، هندو هېڅه کښې لا یا - ناست نو خپلې خوټې تلې، هدغه چل خلقیانو وکړو، اوس، دآمین او تره کي ترمینځ پرے جنګې شروع شوې، ښاري ببرک دآمین نه ماتې وخوړه چې تش چالاک و، اوس ورته - کیلوال تره کي بډې ووهلې، چې تره کی هو انا HAVANA ته لاړو واپسي کښې مسکو کښې یې د خپلو استاذانو سړ دآمین په راځملولو خبرې وکړې، روسانو ورته صلاح ورکړه چې دغه مسله هله حل کیدائے شي، چې ته او ببرک ورته اتفاق وکړئ د دې سرې علاج اسان دے، چونکه تره کی کلیوال سړے ؤ، پیاوړے ؤ خوچل ول باندې نه پوهیدو، نو روسانو او ببرکیانو د بارودؤ «مائنونو» په میدان ورګډ کړو، چې نتیجه یې دده دپاڅ ډېره خطرناکه وخته، ستمبر ۱۹۷۹ کښې د هرڅه نه لا سونه ووینځل، دقبر درک یې معلوم نه شو، د پغماني بد معاش نه افغاني ښاري ببرک او کلیوال تره کي دواړو ماتې وخوړه، داځکه چې آمین د دواړو امیزش ؤ،.

اوس روسانو او ببرکیانو دآمین دختمولو منصوبې -

جوړ يا کړي، چونکه د آمين علاج دچالاکۍ په بنياد مشکل ؤ بلکې د زور او بدمعاشۍ ضرورت و، چې په بدمعاش باندې لوئ بدمعاش پېښ شي، نو هله شکست په لاس مني نو د ستره کي د مرګ نه پس روسانو په آمين باندې فوجي حمله وکړه، چې په نتيجه کښې امين صاحب شهيد شو، د روسانو په زور ببرک د شاه شجاع دوهم خطاب سره د کابل واکدار شو.

د روسیانو په افغانستان باندې یرغل

دغه قیصه د پېره زړه ده چې روسان د افغانستان په لاره کرمو، یعنې تودو اوبو ته ځانونه رسول غواړي د غه خبره د نپولین د وخت نه شروع شوې ده، چې هغه وخت الیستې انډیا کمپنۍ ۱۸۰۹ کښې پېښور کښې، د افغاني ولګدار شاه شجاع سره اول ځل د پاره منظمې خبرې کړې وې، هم ددې نوم لاندې چې روسان راځي، پرنګیانو څوځو ځله افغانستان کښې مداخلت وکړو، او هر وار رنګیدلې پوزه ځنې وو تل، اخر د تجربې نه یې سبق واخیستو، نومبر ۱۸۸۰ کښې جنرال رابرټ د قندهار نه هند ارخ ته کوچ کولو، نو پرنګیانو ته یې یو پیغام ورکړو، او نصیحت یې ورته وکړو چې د خدائ د پاره د افغانانو کورنۍ چارو کښې ګوتې مه وهئ، پرېږدئ چې روسان راشي نو موږ به د افغانانو امداد وکړو، چې په دې طریقه موږ ته د دوئ اعتبار کټلے شو.

"shortly after the Battle of Wali Baba , Lord Roberts left KANDAHAR, and via Quetta went to England on sick leave. Before his departure, he expressed his opinion on Afghan question, which showed that by then British Veteran had become wiser and had gained much in experience. He says: " We have nothing to fear from Afghanistan and the best we can do is to leave it as much as possible to itself. The less the Afghans see of us, the less they would dislike us. Should Russia in future years attempt to conquer Afghanistan, or invade India through it, we would have a better chance in attaching the Afghans to our interests, if we would avoid all interference with them".

ددغه بیان جنرال رابرټ ستمبر ۱۸۸۰ کښې ورکړے ؤ، څو میاشتې کم "۲۷ دسمبر ۱۹۷۹" کښې ټیکۍ سل کاله پس روسانو په افغانستان باندې یرغل وکړو، که څه هم ۱۸۶۵ نه پس دزاري

روس سرحدونه آموسین ته رارسیدلي وو، مګر دوئ
په ښکاره دغه جرات نه ؤ کړے، چې افغانستان باندې
حمله وکړي، د دوئ او پرنګیانو په دې روغه راغلي وه
چې افغانستان به د دوئ په مینځ کښې بفر" هیواد
وي، او افغانستان کښې د روس نه زیات د پرنګیانو لاس ؤ، د ۱۸۸۰
نه پس افغاني خارجه سیاست د پرنګیانو په لاس کښې ؤ،
افغانستان باندې حمله، انګلستان باندې حمله وه، زار روس
دومره قوت نه درلود، چې برطانیه سره یې جنګ کړے وے،
اوبل په ۱۹۰٤ - او ۱۹۰۵ کښې د جاپان د لاسه روسان ډېر سپک
شول. دوئ په سمندري جنګ کښې او مانچوریا کښې د جاپانیانو
نه سخته ماتې وخوړه، نو دوئ ټوله توجه مغرب ته
واړوله، او خاصکر بالکان ته، د یورپ سیاست داسې روان ؤ
چې فرانسویان، روسان او پرنګیان یې مجبور کړل، چې یوه
ډله شي، د اګکه چې جرمني ډېر په تیزۍ روان وو، د
جرمني نه فرانس، برطانیه او روس د دې واړو ته خطر
ؤ، بالکان کښې ترکي مفاد او د استریا مفاد سره یو شول،
دواړه د زربین خلاف سره یو وو، او زربین ملګري او
سرپرست زاروو، عثماني ترکان، استریا او جرمني سره یوه ډله شول، پرنګیان
روسیان، او فرانسویان ورته ډله شول، د دې ملګرتیا په وجه د روس نه
دغه خطره نه وه، چې پرنګي مفاد اتو ته به هند کښې یا -

افغانستان کښې نقصان ورسوي جنګ د پرنګیانو په ګټه تمامه شو، روس کښې زاري لاړه، دلینن ترمشرګرۍ لاندې سوسشلسټي راغله، چې دغه اوس د پرنګیانو اوخاصکرسرما یه دارو دپاره نوے مرض ؤ، که څه هم کمونستانو دغه نه غوښتل، چې د نورو خلکو او اولسونوحق وخوري، مګر د دوئ نه دغه خطره وه چې دغه سوشلسټي نظریه په نورو هیوادونو ته برآمد کړي، او دغلام اولسونو دپاره به هسکو یو مرکز جوړ شي، خواول سرکښې د پرنګیانودغه خیال و، چې لینن مړ شي، دغه هرڅه به سره لاړشي، او بل دوئ روس کښې کورنے جنګ جوړ کړے ؤ، اوس د زاري روس په ځاے لینن دسویټ یونین په جوړیدوو، چې دوئ ضدِ استعمار او سامراج ؤ، نو ددې سره دافغانستان دامو سرحد په آرام شو، او بل دلته افغانستان کښې قوم پرست خلک لګیاو، ځانونه یې منظم کول، ۱۹۱۹ کښې دوئ امیرحبیب الله په لغمان کښې شهید کړو، او دده کشر زوئ غازي امان الله خان یې بادشاه علان کړو، ددوئ دپاره ښه وخت ؤ سویټ یونین کښې لینن و، او دوئ مرکزي ایشیاء کښې دباغیانو سره لاس په ګریوان وو، هند وستان کښې بې آرامي وه قبائلي پښتنو کښې حاجي صاحب ترنګزو، جهاد شروع کړے ؤ، نو دا سې حالاتو کښې افغاني قوم پرستو ګټه وکړه، دپرنګي

دغلامی نه یې افغانستان آزاد کړو، سویټ یونین او برطانیه او نورو هیوادونو روستو دیو آزاد مملکت په حیث تسلیم کړ غازي امان الله خان د روس سره د تعلقاتو ښه کولو، په غرض ۱۹۲۱ کښې لوظنامه لاس لیک کړه، چې د ښه کاونډ یتوب او دیو بل په کورنۍ چارو کښې دګوتو نه وهلو خبرې پکښې وې، روسانو افغانستان ته د ټیکنیکل امداد ورکولو، وعده هم وکړه، افغاني او سویټي تعلقات ډېر خوږه ؤ، افغانستان هیڅ سویت یونین ته تکلیف جوړ نه کړو، ۱۹۲۸ کښې امان الله خان د سویت یونین دوره وکړه، هم دغه شان پرنګیانو د غازي خلاف شورش جوړ کړو، او ده تخت و تاج پریښودل یورپ ته لاړو، دده په ځای نادر خان راغئ، هغې هم دستالن سره ښه تعلق وساتلو دغه معاهده ده نوې لاس لیک کړه، دده د شهادت نه پس د ده زوئ ظاهرشاه هم دغه د دوستۍ معاهده لاس لیک کړه، او د واړو هیوادو ترمینځ ښه روابط ؤو، دویم جنګ عظیم کښې افغانستان بې طرفه او غیرجانبداره پاتې شو، روسانو او پرنګیانو ته یې هیڅ مصیبت جوړ نه کړو، دویم جنګ عظیم پورې سویټ یونین په خپلو داخلي مسلو کښې بوخت وو، نو د دنیا ملکي ځینې پاتې وه، خو دویم جنګ عظیم کښې سور فوج د هټلر فوج ته ماتې ورکړه، او ټول مشرقي یورپ او مشرقي جرمني، د سویت یونین

تر واکۍ لاندې راغلل، او س روس یو بین الاقوامي طاقت شو، نه صرف فوجي بلکې نظریاتي طاقت هم ؤ، نړیوالو مسائلو کښې یې لاس وهنه خپله وظیفه کړله، د دویم جنګ عظیم سره یورپي طاقتونه یعنی فرانس او برطانیه په زوال شول، د دوئ په ځائے امریکه او سویت یونین سر ته راوختل، چې دوئ مختلفې نظریې او دسیاسي او اقتصادي ژوند دپاره، یو دبل ضد پروګرامونه درلودل، چې د دې سړ په ټوله نړۍ کښې، د دوئ سیالي شروع شوه، چې څه وخت اګست ۱۹٤۷ کښې برطانیه هند تقسیم کړو، د پاکستان ترنوم لاندې یې مسلمانانو ته یو وطن په تحفه کښې ورکړ، چې دوئ یې سل کاله خدمت کړے ؤ، په دې وطن کښې پنځه غټ قومونه ځائے شول، چې هغه بنګالیان، پنجابیان، سندهیان، بلوچیان، او پښتانه وو.

پدې دوي وطن کښې د بلوچو او پښتنو پوزشن - بالکل جدا ؤ، دوئ د پرنګیانو د قهر ښکار شول، دا ځکه چې دوئ ضدِ پرنګي وو، نو د دوئ نه د بدل اخیستو دپاره پرنګیانو د اریفرنیدم تر نوم لاندې پې پاکستا نې ترنګېر کښې واچول د پښتونستان، تر نوم لاندې یې دوئ ته د ریفرینډم حق ورنکړ، چونکه افغانستان د افغانانو هیواد ؤ، نو دوئ دغه ظلم او زیاتے برداشت

نه کړو، د لاندې پښتنو هایت یې وکړو. نو د دې سره
د پښتونستان اصطلاح راپیدا شوه، دا ځکه چې د افغانستان حکومت
دغه ځمکه په ۱۸۹۳ کښې تش په نوم کرښې په وجه د اصلي
افغاني وجود نه پریکړې کنله، نو د دوئ د پورنه لاین یوقانوني
کرښه نه منله، او د پښتنو د پاره یې د حق خود ارادیت په
بنیاد د دوئ نه د پوشتنې مطالبه وکړه، او N.O.، لا کښې
یې دغه مسله راپورته کړه، چونکه پاکستان تر ۱۹۵۵ پورې
پوره ازاد نه وُ، او بل برطانیه نه امریکې چارج اخیستې وُ
نو اوس د برطانیه مفادات د امریکې په مفاداتو بدل شول.
برطانوي دښمنان اوس د امریکې دښمنان هم شول.
د برطانیه دوستان اوس د امریکې دوستان هم شول،
یا په بله معنیٰ د برطانیه په میراث باندې اوس امریکه قبضه
وکړه، نو ځکه د برطانیه د تګ نه پس پښتنو ته څه
فایده ونه رسیده، چونکه خدائ خدمتګار د برطانیه
مخالفت کړے و، نو امریکې هم پښتون نشنلزم د خپلو
مفاداتو د پاره خطرناک ګڼلو، یعنې برطانیې او امریکه
کښې هیڅ فرق نه وُ، او پاکستان امریکې د کمونیزم خلاف
په سنیټو او سیټو فوجي تړنونو کښې شامل کړو، د ترکي
نه راواخله تر پاکستان، ایران پورې د دوئ سویټ یونین
خلاف یوه دایره جوړه کړه، چې دغه کښې افغانستان د

شامیلد و نه انکار وکړو ، مګر پاکستان د روس خلاف د بډوبیرې پېښور هوائي اډه ورکړې وه ، چې امریکې به د روس جاسوسي د "یو ټو" ۲ـ ۵ جهاز په ذریعه کوله ، خلکو خبرې کولې چې خروشیف تر پېښور سره لیکه تاوه وه ، او ۱۹۶۰ کښې روس دغه ۲ـ ۵ جهاز په راکیټ وریشتو ، نو سویټ یونین هم په نړۍ کښې ځان نه ملګرې کتل ، او په دې علاقه افغانستان او د پښتو بلوڅو مسله د دوئ د پاره یوه وسیله وه ، خو افغانستان شاهي حکومت د پښتونستان د مسئلې د ګرمولو د وه بنیادي وجې د رلودې ، یوه دغه چې د دې مسلې په نوم د سویټ یونین او امریکې نه امداد ونه اخیستل او بل یې د دې جذباتي او ملي مسئلې په وجه د افغانستان - د اخلي اقتصادي او سیاسي مسائلو نه د خلکو فکر اړولو ، او مشغوله یې جوړه کړې وه ، په حقیقت کښې شاهي حکومت هیڅ کله دا نه غوښتل چې لاندې پښتانه دې د بره سره یو ځاے شي ، نو سردار انو دغه مسئله په خپلو لاسونو کښې اخیستې وه ، چې دوئ سره هیره وه چې بل څوک په قبضه و نه کړي ، او هندوستان به هم د نمائش د پاره د پښتونستان قیصه کوله ، دا به هغه وخت دوئ کوله ، چې پاکستان به د کشمیر مسئله ګرمه کړه .

دغه حالات هغه وخت نور هم خراب شول ، چې څه وخت په ۱۹۵۳ کښې سردار محمد داود خان د افغانستان وزیر اعظم

شو، ده کوښښ شروع کړو، چې افغانستان په اقتصادي توګه په پښو ودروي، ده د پاکستان سره دپښتونستان مسئله ډېره ټینګه و نیوله، چې ددې په وجه حالات دومره خراب شو، چې پاکستان افغانستان پسې ناکه بندي وکړه، ټول سرحدونه يې پسې وتړل، چونکه افغانستان په وچوني پروت هیواد دے، هیڅ سمندري غاړې نه لري، جغرافیائي مجبورتیاوې يې درلودې، او دده ټول کارو-بار په طورخم، چمن ؤ، او دکراچۍ په بندرګاه ؤ، دغه لارې د پاکستان تر واک لاندې وې، دوئ افغانستان پسې بندې کړې، چې ددې سره دافغانستان حالات ډېر خراب شول، مګر داودخان هوښیار سړے ؤ ده د ایران د شهنشاه میانګړیتوب ومنلو، ددوئ په کښې عرضي روغه وشوه، لارې بیرته خلاصې شوې، مګر د دې نه سویت یونین سبق زده کړو، او داودخان ته يې د متبادلې « Alternative » لارې پېشکش وکړو، داودخان لویه جرګه راوغوښتله، او دوئ ته يې مسئله وړاندې کړه، چې تاسو ولیدل چې ما د پښتونستان مسئله راواخیسته، پاکستان راپسې لارې بندې کړې، موږ نه سمندر نه لرو، نو که نه د پاکستان سره د پښتنو او بلوڅو مسئله بیرته ګرموم، پاکستان به بیا راپسې،

سرحدونه تړي، نوکه ستاسې خوښه وي ښه به، متبادلې لارې کودرې ولټوم، لوی جرګې اجازت ورکړ

ده د سویټ یونین سړ، خبرې وکړه، سویټ یونین خو ددې په انتظار وُ، سویټ نه صرف دوئ نه لاړ وکړه بلکې فوجي او اقتصادي کمکونه یې ورسره وکړل، که څه هم په اول سر کښې افغاني واکدارو، امریکې نه فوجي او اقتصادي مدد ونه غوښتي وو، خو امرنکیانو داسې ذلیل شرطونه په لګول چې، هغه ددوئ دپاره د منلو وړ نه وو، د سویټ یونین سړ دګدکار په وجه مغربي نړۍ او خاصکر برطانیه او امریکه وارخطا شول چې دغه به ددوئ د مفادانو دپاره نقصان ده وي،

افغاني فوجي افسران په سویټ یونین فوجي اکیډمو کښې داخل شول، ضروري خبرې وه چې په دوئ باندې د سویټ یونین سسټم او نظرئ اثر کولو، مګر چټپله داود خان او ظاهرشاه دومره کم عقل نه وو، دوئ د مغرب سړ بدي نه کړه، بلکې سویټ یونین ته د نزدیکت په وجه ددوئ سیاست دغه وُ، چې افغانستان کښې د مشرق او مغرب سیالي جوړه کړي، چې یو تربل نه زیات زمونږ سړ کمک وکړي، هم دغه وه چې د شیرخان بندر نه تر کابله پورې سړک او بیا د تورغونډۍ نه تر-

قندهار پورې روس جوړ کړل، د کابل نه تر قندهاره
سپین بولدک د کابل نه تر طورخمه پورې امریکې او مغربي
سرمایه دارو ملکونو ، همدغه شان سردار داود خان
د پښتونستان په مسله باندې د افغانستان دپاڅ اقتصادي
او فوجي کټې وکړې، فوج یې نوے او جدید کړو،
او روس ورته نوې اسلحه او هوائي جهازونه ورکړل
او د ملک دننه یې پخې سرکې جوړ کړې، او پټول،
هیواد کښې یې بندونه وتړل، بلکې هغه ارمان یې پوره
کړو، چې کوم د امان الله خان غازي نه نیمګړے پاتې
شوے ؤ، بلکې داود خان به ویل، چې زه امریکې،
سګریټ په روسي ماچس بلوم.

روسته په پاکستان کښې د ایوب خان د راتګ سره
حالات نور هم خراب شول، د دوئ سفارتي تعلقات
پریکړے شول، پاکستان بیا لارې بندې کړې، مګر اوس
افغانستان د سویټ یونین په وجه هغه مجبوري نه درلوده،
چې حالات ډېر خراب شول، او داود خان د ټوکې نه
رښتیا نه اوړیدو، نو دلته یې ظاهرشاه او محمد زیا نو
لاس ونیولو، او مجبور کړے شو، او په ۱۹۶۳ کښې یې د
حکومت نه لرې کړو، دا ځکه چې محمد زیانو خو د پښتونستان
په مسئله تجارت کولو، مګر اوس افغاني عسکرو او نوکرشاهي

کښې د سويټ يونين همدرد ډېرشوي وو، هغه افسران چې
داود خان سويټ يونين ته د تربيت او سبق دپاڼ ليږلي
وو، دوئ راواپس شوي وو، او افغان بيوکراسۍ کښې
ځاے په ځاے شوي وو، او په دې کښې بنيادي خلک د
رحمن بابا کالج او خوشحال خان کالج ؤ، دوئ تقريباً ټول
پښتانه وو، رحمن بابا کالج کښې د افغانستان د داخلي اطرافي
پښتانه طالب علمان وو، او خوشحال خان کالج کښې د قبائلي
سيمو، طالب علمان وو، چې افغانستان به ورته آزاد پښتو-
نستان وئيلو، د دوئ په رښتيا سړ د پښتونستان د
مسئلې سړ مينه وه، دوئ ټول تقريباً شلې نوکرئ
ته لاړل، لکه فوج او پوليس، او نورې غوړې د ارم نوکرئ
د کابليانو او محمدزيانو د پاره وې، د دوئ داخيال
ؤ، چې افغانستان صرف د دوئ جاګير دے، هيڅ سياسي
آزادي نه وه، ټول د په يې جوړه کړې وه، هيچا
ته د سرپيټوپ په لاره حکومت ته د رسيدلو موقع،
نه وه، افغاني روشنفکران دوئ "Radical" کړل،
د داودخان دتګ نه پس ډېر هرتالونه وشول، حکومت
دې ته مجبور شو چې قانون ومني، وزيرعظم داولس
نه وي، دوئ د نوي قانون مطابق د کوندونو
جوړول قانوني کړل، چې د دې سره په افغانستان کښې

قسما قسم کوندونه مینځ ته راغلل، چې تر مولا نه نیولې ترکمونیست پورې ؤ، نویکم جنوري ۱۹۶۵ کښې د حزب دیموکریټ خلق افغانستان بنیاد کېښودل شو، چې مشرئې نور محمد تره کی، او نائب یې ببرک کارمل شول، ددوئ کوندي پروګرام د اشتراکیت په بنیاد ولاړوو، دسوشلسټ نظام او سیاست په حق کښې وو، د سرمایه داری لاره ورته غلطه او ظالمانه ښکاریدله، مغرب ورته ظالم او سوشلسټي بلاک ورته د مظلوم، ملګرے او قدرتي دوست ښکاریدو، او د پښتنو او بلوچو مسئله یې دخپل سیاست موبنے وګرځولو، هم په دې وجه د رحمٰن بابا او خوشحال بابا کالج پښتانه هلکان او افسران دخلق کوندغړي شول، خوبیا دغه کوند سړ تقسیم شو، چې په خلقي او پرچمي باندې وپیژندل شول، مګر دویش، با وجود د دوئ په پروګرام او سیاست کښې فرق راغئ. دواړو دلودسویټ یونین لاره صحیح اوسمه ګڼله.

د لسوکلونو «۱۹۶۳ - ۱۹۷۳» انتظار نه پس سردار محمد داود خان د خوشحال خان کالج او رحمٰن بابا کالج د افسرانو په زور په قدرت راغئ، د ظاهرشاه تخته یې واړوله چې په دوئ کښې مشهور میجر فیض محمد خان محسود ؤ، چې د خوشحال خان د کالج څخه خلاص شوے ؤ،

بیا یې د سویټ یونین نه فوجي ډګري اخېستې وه، هم
دغه شان بل باچاګل خدرانؤ، چې دے هم د روس
د فوجي اکیډمۍ نه خلاص شوے و، چې روسته د
داود خان په کابینه کښې فیض محمد خان محسود
وزیر داخله شو، او باچاګل وزیر سرحدات،
شو، د هغې وخت مطابق سردار داود خان د قوم-
پرستو او مترقي خلقو امید ؤ، او ده ډېر مقبولیت -
درلوده، نو حکه په اول سر کښې د ده سړ تولو قوم-
پرستو او محب وطن افغانانو کمک وکړو، ده جمهوریت
علان کړو، شاهي یې ختمه کړه، د پښتونستان مسئله
یې بیا ګرمه کړه، او سویټ یونین هم د تیرو لسو
کالو د ریکارډ نه خوشحاله ؤ، مګر د ۱۹۵۳ نه تر ۱۹۶۳
پورې د ده صدرعظمي وخت د سوړ جنګ وخت
ؤ، د روسې او امریکې تازه تازه رقابت شروع-
شوے ؤ، نو د پښتونستان په نوم افغانستان ته
ډېرې ګټې کړې وې، بیا د ۱۹۶۳ نه تر ۱۹۷۳ پورې،
حالات بالکل بدل شوي وو، روس کښې قیادت بدل
شوے ؤ، د روسې او چین بدې جوړه شوې وه،
د جناح پاکستان مات ؤ، د هندوستان دلچسپي که شوې
وه، پاتې پاکستان د سینټو او سیټو فوجي معاهدو نه وتے ؤ،

د بدهابیں پیښور امریکي اډه ختمه شوې وه د کمونیزم او سرمایه داری د غوبل مرکز اوس افریقه او جنوب شرقي اشیا شوې وه، روسي مشران اوس د امریکي او یورپ سره د پټان په چکر کښې وو، د روسانو د پښتونستان مسئلې سره دلچسپي ختمه شوې وه، داود خان چې د مسکو دوره وکړه، نو زر ورمعلومه شوه چې دده شوق نه پوره کیږي، په روس ـ بې وس نه رسید و

افغاني پرچمي ملګریو پسې ـ بې را واخیسته دوئ، بې یو دبل پسې بې واکه کړل، د حکومت نه ـ بې وشړل او د دوئ په مرګ ـ بې لاس پورې کړو، افغاني کمونستانو ورته اتفاق وکړو، ۲۷- اپریل ۱۹۷۸ کښې ـ بې داسې کار وکړو، چې د افغانستان په معلوم تاریخ کښې نه وشوے. دوئ په قدرت راغلل، مګر دوئ هم په یوه خوله نه وو یو دبل وینو ته تیږي ناست وُو سویټ یونین د افغانستان په داخلي مسئلو کښې دومره ورننوتے وُ، چې ـ بې طرفه نه شو پاتې کیدلے. او بل کمونستانو داسې اصلاحاتو او فرمانونو ته لاس واچو، چې افغاني ټولنه ورته تیاره نه وه، دغه د دم او تعویذ ا وکوډې، پیر او مولا په ټولنه کښې دوئ کمونیزم راوستو، چې د ـ بې عقلۍ او بیوقوفۍ حد وُ، چونکه مغرب خو دې ته ناست وُ چې

افغاني کمونستان غلطي وکړي ، چې دوئ بيا ځني فايده واخلي. هغه غلطي دوئ په اوله ورځ وکړه . چې د خلقيانو او پرچميانو په تقرير يو بل سره وږبول ،او بله غلطي دوئ دغه وکړه چې ، دوئ دافغانستان جهنډ بدله کړه ، چې دې باندې خو بيوقوف نه بيوقوف افغان هم په دې پوهيده ، مولياان ، مغرب او پاکستاني پنجابي دکرائي ټټوکانو ورته تيار ناست وو ، د جهنډ دبدلولو سره يې د سور کفر پروپيګنډه شروع کړه او مثال به يې دغه ورکوو ، چې دوئ زمونږه اسلامي افغاني جهنډه په کمونستي سره بدله کړه ، چې دغه د روسيانو نشان دے ، روس خور ، سور نه پيژني ،اوس دوئ نور داسې حرکتونه وکړل چې ، افغان اولس يې پخپله ځان ته باغي کړو ، د ښځو د تعليم دپاره دوئ مرکزونه خلاص کړل ،افغانستان کښې سرو سبق نه وئيلو ، دوئ سرئ په ځاے پريښودل ، ښځو ته يې سبق شروع کړو ، چې ناواده کړيو ماسترانو ددې نه فائده وچته کړه ، د خپلو پيغلو شاګردانو سره چا په مرضۍ اوچا په زور ، ودونه وکړل ، چې ددې سره ټول وطن کښې يو غلط فهمي خوره شوه ، مولايانو پروپيګنډه شروع کړه چې دوئ د سبق په پلمه ښځې ځان ته ګوري ،بس ددې نه

ددوئ خلافه یو عام نفرت پیدا شو، ا مغرب ورته لمن وهله، او بل دوئ کور دننه بزکشی سره شروع کړه، خلقیانو اول سر کښې پرچمیان وشړل، د حکمکو اصلاحات یې شروع کړل، دا سې اصلاحات یې شروع کړل چې د خیر په ځائے شر ځنې جوړ شو، دوئ د حکمکو دویشلو نه زیات دې کښې دلچسپي درلودله، چې د حکمې خاوندان سپک کړي، کنځلې ورته وکړي، د روائیتی کمونستي بیوقوفي ثبوت دوئ هرځائے ورکړو، او بل دوئ بې گناه. خلق نیولو، او مړکولو باندې پیل وکړو، زه په خپله دسمبر ۱۹۷۸ کښې په کابل کښې د اجمل ختک لیدو ته د جرمني نه ورغلے وم، یو ماښام دسپین بولدک اوقندهار دسیمې خلک پښتانه، اخکزي راغلل، د ختک صاحب ته یې د مدد سوال وکړو، چې زمونږه خپلوال حکومت نیولے دے، او کابل کښې بې زندانې کړي دي، تاسو دپښتنو مشر یئ، د خدائ دپاره دوئ بې گناه دې، راخلاص یې کړه، د ختک پوزشن خو ماته معلوم و، چې خلقي حکومت یې یوه خبره هم نه منله، خو دوئ ته یې تسلي ورکړه چې، دے به هرممکن کوښښ کوي، چې دوئ راخلاص کړي، بله ورځ اجمل صاحب وویئل، چې حکومت هغه کسان ټول مړه کړي دي، او زه نه غواړم چې دوئ ځما دخولې نه خبر شي.

دغه شان په کیراله کښې دوئ پوره کلئ میرات کړو، دوئ هرچا ته لاس واچوو، خلک یې په زور ورته پراریان کړل، که په دوئ کښې لږ هم سیاست یا برداشت وے، نو د مغرب دپاره به ډېره ګرانه وے، چې د دوئ خلاف یې په دې پیمانه اولس راپاروے وائ، بیا د تره کي او آمین بزکشي نور هم حالات خراب کړل، او بل په ایران کښې د اسلامي انقلاب په وجه امریکې هرڅه بائیللي وو، نو امریکې غوښتل چې په افغانستان کښې نوې تبدیلۍ د دوئ په حق کښې راشي، روسان وارخطا شول، چې څه وکړي، د دوئ دپاره اخري امید ببرک کارمل وُ، چې دوئ سره په مسکو کښې ناست وُ، چې په حقیقت، کښې د روسانو د اعتماد خلک صرف پرچمیان وُو، خلقیان، دوئ نه منل خو مجبوري وه، دا ځکه چې پرچمیان زیاتره پارسي بان وو، او د ایراني کمونست ګوند تودے سره دوئ ډېرې نږدې رابطې درلودلې، د تودې ګوند کمونستان د مصادق د غوبل نه پس ۱۹۵۳ کښې د شاه ایران د پولیسونه یورپي ملکونو ته ښتېد لې وُ، نو د دوئ په هرملک کښې رابطې جوړې وې، د روس کمونست ګوند سره د دوئ مضبوطې رابطې وې، چې ایراني اذربائ جان او روسي اذربائ جان په وجه ډېرې ژوندۍ وې، او بل کابلي ـ

تاجکو ازبکو او ترکمنو د روسي تاجکو ازبکو او ترکمنو په وجه د دوئ دپاره اسانه وه، چې سویټ یونین کښې ځانونه اعتباري کړي، او بل دوئ K·G·B سره ګډ کار کولو. چې ددې ټولونه خلقیان بې برخې وو، د دوئ اکثریت دپښتنو ؤ، او پارسي بانو یعنې پرچمیانو او ایراني توده بانو سویټ یونین ګوند ته د فاشیستو په نوم ور پیژندلي وو، د دې زه یو ژوند ے مثال درکوم - ۱۹۷۷ "ESSEN" بنار جرمني کښې د جرمن کمونسټ ګوند کانګرس وو، نو د دنیا ټولې، کمونسټ پارټی بې ورته دعوت کړې وې، او هرګوند او ګروپ خپل خپل ستال لګولے ؤ، چې پرچمیانو هم لګولے ؤ. چې څه وخت خلقیان راغلل، نو جرمن کونسټ ګوند ورته دستال لګولو اجازت نه ورکولو، دوئ شور سړ جوړ کړو پدې کښې پرچمیان او ایراني توده یان ورته یوځاے شول، دوئ بې په جرمنیانو وشړل، جرمنیانو ورته ویل چې تاسو موږ نه پیژنو په افغانستان کښې موږ صرف پرچمیان پیژنو، داځکه چې مغربي جرمني کمونسټ ګوند د هغې وخت مطابق د مشرقي - جرمني کمونسټ ګوند ترځکه لاندې یوه څانګه وه، او مشرقي جرمني کښې ایراني کمونستان ناست وو، نو دوئ، پښتانه هرځاے د پرچمیانو په ملګرتیا غلط معارفي کړي وو، د روس په سترګو کښې اصلي خلک پرچمیان وو، د روسانو

اول کوښښ ؤ چې د پرچمیانو په زور خلقیان وباسي، مګر خلقیان په فوجي توګه زورور وو، آمین دوئ وشړل بیا روسانو او کابلیانو د آمین او تره کي په مینځ کښې کوټې وهل شروع کړل، دوئ یې هم ستمبر ۱۹۷۹ کښې سره - وجنګول، مګر د دوئ د ښمن آمین برے وموندہ، اوس یو آمین پاتې ؤ، چې دے بغیر د زور نه به بله لاره نه تلو.

بل دا چې د افغانستان حالات داسې جوړ شوي ؤو، چې خلکو پاکستان او ایران ته منډې شروع کړې وې، امریکې او مغرب ورته پاکستاني جنرالان په کرایه اخیستي وو، او بل په یورپ کښې د سویټ یونین سیاست ډېر کمزورے شوے ؤ، تر دې وخت پورې سپین او پرتګال د NATO ممبران نه وو، امریکې او مغربي یورپ والو کوښښ کولو چې چې دوئ NATO کښې شامل کړي، او روس کوښښ ؤ، چې دوئ د NATO نه بهر وساتي، د سمبر ۱۹۷۹ کښې د هغې وخت سویت یونین وزیر خارجه ګرومیکو د سپین او پرتګال دوره وکړه، خو دے په دې کښې کامیاب نه شو، چې سپین او پرتګال د بیتهو نه بهر وساتي دوئ د "NATO" غړي شول، چې دغه په یورپ کښې د سویټ یونین ښکاره ناکامي وه، ما ته ښه یاد دي، چې ۱۶ د سمبر ۱۹۷۹ کښې د روسي وزیر خارجه بون د مغربي

جرمني پا ئې تخت کښې يو پريس کانفرانس وکړو، ما په خپله په T.V ليدو، ډېر غصه ؤو، مغرب اوخاصکر NATO ته غوږې تړې کولې، چې دغه نمونه خبرې دده دطبيعت، خلاف وي، ګرومیکو ډېر سوړ ډپلوماټ سړے ؤ، جذباتو کښې نه راتلو، مګر په دغه ورځ دی ډېرغصه ؤ، نو جرمن باندې پخپله تړا وګکيده، چې ده ولې؟ ځنې تبصرې کولې، چې اوس به دمشرق او مغرب تعلقات ډېر خراب شي، داځکه چې يوه خبره نه وه، بلکې مغربي يورپ ملکونو دامريکې ايټمي مزائيلو لګولو دروس خلاف اجازت ورکړے ؤ، دجرمنيانوسره دا ؤ، چې روس بيا چيرته د برلن ناکه بندي ونکړي، چې دوئ ۱۹٤۸ کښې يو ځل کړې وه، دګرومیکو د غوږې تړې نه خلکو قسما قسم مطلبونه اخيستل، دغه دچا په خوب وخيال کښې نه وه چې روسان په افغانستان وردانګي نو دغه سپنس ډېر زر ختم شو، روسيانو دامريکې ايراني سفارت خانې کښې ديرغمالو دموقع نه فائده وچته کړه، هغه دجنرال رابرټ وينايټ سل کاله پس ثبوت ته ورسيده، ۲۷ دسمبر ۱۹۷۹ موږ په ربنتيا سره روسان په کابل افغانستان کښې وليدل، دوئ افغانستان ته داخل شول، امين يې شهيدکړو، ببرک يې په اقتدار راوستو، چې ددې سره دمشرق او مغرب تعلقات داسې خراب شول، چې حد يې نه ؤ.

دروسیانو افغانستان ته راتګ په وجه دمشرق او مغرب تعلقات

روسانو په افغانستان کښې پخپله پهانسي ورته لکه کړه، داځکه چې دوئ افغاني تاریخ نه و لوستے، دوئ د سر په سترګو لوستے ؤ، د عقل په سترګو یې نه وو لوستي، دوئ هغه غلطي وکړه، چې سل کاله پخوا د پرنګي جنرال رابرټ ارزو او ارمان ؤ، افغانانو په معلوم تاریخ کښې چا ته هم سر نه دے ټیټ کړے، د سکندر عظم نه تر دریم پرنګي افغاني جنګ پورې دوئ خپله آزادي په خپلو وینو ساتلې وه، او س دروس د راتګ سره د دوئ آزادي په خطره کښې ولویده، که څه هم دوئ بار بار وئیل، چې حالات ښه شي، موږ به بیرته ځو، مګر په دې خبرو چا اعتبار نه کولو، او بل د امریکې غوا لنګه شوه، روسانو پخپله پداسې لومه کښې ځانونه بنخ کړل، چې دغه امریکي د زړه ارزو او ارمان ؤ، چې دوئ د روس نه د ویتنام بدل واخلي نو د بیرګ بي صبري او د روسانو بیوقوفي داسې حالات،

جوړ کړل، چې د مشرق او مغرب تر مینځ دلوئ تکر خطر جوړ شو، د دویم جنګ عظیم نه پس دغه اول ځل وُ، چې روسي فوجونه یو اسلامي او غیرجانبدار هیواد ته داخلیږي.

نو مغربي یورپ باندې ترار ولګیدو او خاصکرپه جرمنیانو، د مغرب پریس او ریډیو او T-V داسې حال جوړ کړے وُ، چې شپه ورځ بل څه نه وو، افغانستان وُ، او تر دې خبرې کیدے چې د "NATO" او وارسا پکټ تر مینځ ایټمي جنګ کیږي، چې هغه زمانه کښې جرمني په مغربي او مشرقي تقسیم وُ. د NATO او وارسا پکټ فوجونه او اسلحې د دوئ په خاوره یو بل ته مخامخ وې، که چیرې ایټمي یا روایتي جنګ کیدے، اول جرمن په کښې دوړه کیده، وړ جرمنیان نیوزیلینډ او استریلیا ته لاړل، هجرت یې وکړو، د دوئ خیال وُ، چې ایټمي جنګ کیږي نو مونږه به لرې پراته یو. دا ځکه چې دوئ د دویم جنګ عظیم تباهي لیدلې وې.

نو مغربي سفارت کاروبه دغه خبره کوله، چې د روس او کمونیزم خلاف مونږ ته اوس century chance په لاس راغلے دے، دغه مونږه نه ضایع کوو.

برسل بیلجم NATO هیډ کوارټر کښې سړ راجمع شول د سویټ یونین خلاف یې منصوبې جوړې کړې، چې د دوئ

جماعت په افغانستان کښې کول پکار دي، دوئ ته دوه خطرې
په یوه وخت کښې پېښې شوې، یو افغانستان ته د روسانو
راتګ، او بل ایران کښې اسلامي انقلاب چې ضد امریکه او
مغرب ؤ، نو دوئ د منافقت نعره پورته کړه، افغانستان
کښې اسلام په خطره کښې شو، ایران کښې د اسلام نه خطره
شوه، نو دوئ دغه دواړه مسئلې چې یوه د بلې ضد وه
په مخ روانې کړې، د ایران د پاره دوئ صدام حسین
په شا وتپولو، ایران او عراق یې په کور کښې سره مشغول
کړل، او د افغانستان او سویت یونین خلاف یې پاکستان
ورته په کرایه واخیستو، پاکستان یې ورته په فوجي اډه
بدل کړو، د ضیاالحق او پاکستاني فوج او سول نوکرشاهي
غوالنګه شوه، نو دوئ I.S.I په ذریعه ورته افغاني
مولاګې دلې، جوړې کړې، بس څه وو د افغانانو کور
د سوشلزم او سرمایه داری د غوبل مرکز جوړ شو، د
نیټو او وارسا پکټ جدید نه جدید آسلحې په افغانانو
استعمال شوې، داسې حال جوړ شو، چې افغانستان په وینو
کښې ډوب شو، د افغانستان ځمکه د بارودي سرنګونه ډکه
شوه، ببرک کابل کښې میلې کولې، او مولا ورته په پښور
کښې مزې کولې، پس کمونستانو پاک افغانان د کمونیزم تر
نوم لاندې اور ته واچول، مولا د اسلام په نوم، یو مولا-

یا مشهور کمونست په دې جنګ کښې مړه نه شول، د مولا یانو دلسو روپو درک نه لګیدو، مګر په افغاني وینو باندې د تجارت نه پس نن کروړ پټې دي، دا سې څټو نه یې وکړل، چې سم په لاره تلاؤ نه شي، دغه حال په کابل کښې د تش په نوم کمونستان وو، چې دوئ په بنګلو او غټو، غټو موټرې سره جنګو نه وو، دافغان اولس خیرخوا نه مولا ؤ او نه کمونست یو دامریکې او هغه بل د سویټ یونین ایجنټ ؤ.

نو " NATO دامریکې په مشرګرۍ ورته صلاح وکړه دوئ څلور " points " پروګرام ورته جوړ کړو.

۱- دوئ به کوښښ کوي چې روس ته افغانستان کښې فوجي ماړې ورکړي، چې په دې باندې پوره باور ددوئ په خپله هم نه و.

۲- باید د روس اقتصادي ملا ماته کړي، ولې پدې چې روس فوجي طاقت ؤ، خو اقتصادي نه ؤ.

۳- په دریمه نړۍ کښې به د کمونیزم او روس خلاف دغه خبره کوو، چې و مولیده، چې تاسې وئیل چې روس د دریمې نړۍ قدرتي دوست دے، وئ ګورئ نن صبا د افغان اولس سره څه کوي.

٤- باید چې مونږ د کمونستي بلاک دننه بے چینی جوړه کړو، او دوئ ته انساني حقوقو په بنیاد ورته مسائل جوړ-

کړو او خلک ورته ولمسوو.

دوئ دغه خلور واړه مقصدونه مخ په وړاندې بوتلل دروس غټه کمزوري دغه وه، چې دوئ دنیا په دې قانع یعنې مطمئنه نه کړے شوه، چې ددوئ ټک افغانستان تر د وخت ضرورت ؤ. دنیا روس ته د سامراج هیواد په سترګه کتل شروع کړل، د روس د سیاسي پلټ تانو خیاله ؤ چې افغان اولس به دومره کلکه مقابله ونه کړي، دمغرب متعلق د دوئ خیال ؤ، چې دوئ د هنګرې ۱۹۵۶- او چیکوسلواکیه - ۱۹۶۸ په خیر شور جوړ کړي، قیصه به دو روسره شي همدغه دواړو ملکونو کښې روس فوجي مداخلت کړے ؤ، او بل دروس سیاسي مشران دومره بوړاګان وو، چې نیم پکښې پرانده وو، دسترګو دیدې نه لګیدو، او نیم پکښې کانه وو، خبرې به یې سمې نه اوریدې، نودافغانستان قسمت دپرندو او کنهو په لاس ورغلو، د روس خلاف چین هم دمغرب ملګرے شو، او بل هندهم د روس په راتګ - خوشحاله نه ؤ، خو سفارتي سطحې باندې یې دروس حمایت کولو، خو د ننه یې ورته وئیل، چې دغه دې ښه کار ندے کړے.

په افغانستان کښې په روسانو هغه چل و شو، چې یو سړي په سین «دریاب» کښې تور دکمبلې غوندې شئ لیدلے

ؤ، نو ده سین ته ور ټوپ کړل، چې کمبله و نیسي، دبدمرغۍ نه هغه یږه وه، یږې سړے ټینګ و نیولو، سړي چغې جوړې کړے، چې زه خو کمبله پریږدم، خو کمبله مانه پریږدے هم دغه چل غربیانو د روسي سړ افغانستان کښې وکړو. دافغانستان په وجه مغربي دنیا د مسکو اولمپیک لوبونه بائیکټ وکړو، افغاني ګوریلا ته یې امدادونه ورسم کړل، دافغانستان په وجه د شرقي او مغربي جرمن تعلقات ډېر خراب شول، دا ځکه چې مشرقي ته روس بیړی اچولې وه. او مغربي ته امریکې.

د افغان اولس په جرات باندې پولینډ یانو هم زړور شول، دوئ په ۱۹۸۰ کښې دکمونیستي حکومت خلاف راپورته شول، د روس او وارسا پکټ دپاره دکور دننه مسئله جوړه شوه، خو پولینډي حکومت ددریمې نړۍ غونډې مارشل لا ولګوله، او س مغرب روس په هر یو ځاے کښې isolate کړو، نو ددې سړ ددوئ اقتصاد او تجارت ځاے په ځاے ودریدو، مغرب خفیه جاسوسي ادارو، مشرقي جرمني چیکوسلواکیه، هنګري، رومانیه او پولینډ کښې ورته ترځمکې لاندې دکمونیزم خلاف ګروپونه منظم کړل، ریډیائي او T.V نشریات یې مشرقي یورپ او سویت یونین ته اوږده کړل، بلکې خپل سویت یونین یعنې روس کښې خلقو دافغانستان

متعلق روسي سیاست غندلو، دپروفیسر سخاروف غوندې خلق په ډګر راځلل.

اوس دبریژنیف او دده مرکزي کمیټې وارخطا وو، ددې سخت وخت متعلق په پریژنیف پورې یوه ټوکه مشهوره وه چې وایي، دبریژنیف یو نائي ؤ، چې دده ویښته به یې جوړول، یوځل نائي دافغانستان دمسئلې تپوس ځنې وکړو، چې په افغانستان څه وشول،؟ بریژنیف په دې غصه شو، خو څه یې ورته ونه وئیل. چې دویم ځل بیا بریژنیف جنرل سکرټري کمونسټ ګوند سویټ یونین راغئ، نو نائي بیا ترې تپوس وکړو، بریژنیف ډېر په قهر شو، خوخا-موش پاتې شو، چې څه کم عقل سړے دے، چې دریم ځل بریژنیف دویښتو جوړولو دپاره راغئ، نوغوږونه یې ډبیدل، چې دغه بې وقوف بیا تپوس ونه کړي، چې ده لا دغه سوچ کولو، ډز شو نائي ځنې تپوس وکړو، بریژنیف خوهسې هم غصه ؤ، نو نائي ته یې په قهر ووئیل، چې نه څوکۍ یې، نه د مرکزي کمیټې غړے یې، نه وزیر یې، او نه د سیاسي دفتر ممبر یې، نو دافغانستان دمسئلې سره دستا څه دي،؟ نا یې ډېر په ساده ژبه ورته ووئیل: چې صاحبه زما نورکار نشته، خو چې څه وخت زه دستاسو ویښته جوړوم، نوکله نه کله د-

ویښتو په جګولو کښې تکلیف وي، نو زه چې د افغانستان نوم واخلم، نو ستاسو ویښته خپل په خپله جګ ودریږي نو زه یې بیا ښه کټ کولای شم».

که څه هم دغه ټوکه ده خو په حقیقت کښې به په بریژنیف باندې ددې نه هم ډېر زور ؤ، یورپ کښې سوشل دیموکریټ ډېر کمزوري شول. او د کمونیزم سخت مخالفې ډلې په قدرت راغلې، د مثال په توګه په مغربي جرمني کښې اکتوبر ۱۹۸۲ کښې سوشل دیموکریټ وزیرعظم هیلموټ شمیت حکومت ختم شو، په ځائې یې د C.D.U. کرسچین دیموکریټ یونین حکومت د هیلموټ کول ترقیادت لاندې جوړ شو، چې دوئ سخت ضد کمونیزم وو، امریکې صدر ریګن انتخابات وګټل، لندن برطانیه کښې ټوري په قدرت راغلل، د دوئ مشره مارګریټ تیچر وه، او فرانس کښې قوم پرست میتران صدر شو، نو مغربي دنیا کښې آزاد خیالو انتخابات وباتلل، او قدامت پسند په اقتدار راغلل، چې د دې سره د افغانستان متعلق د دوئ سیاست بدل شو، دوئ، هرڅه ته تیار وو، دوئ په یورپ کښې انیمی میزائیلو لګولو باندې پیل وکړو، افغاني جنګ یې تیز کړو، د ایران خلاف یې عراق ته جدید نه جدید اسلحې ورکړې،.

د افغانستان جنګ اوس ډائریکټ د C.I.A په لاس

ورغئ، دوئ ٦٠٠ میلونه ډالره هرکال په ښکاره سړ دافغاني جنګ دپاره ورکول، هغه دپټو خو څه حساب نه ؤ، فرانس برطانیه مغربي جرمني، او نور مغربي یورپ امدادونه په دپاسه وو.

عربو شیخانو د ډالرو بوجې یورپې په مولایانو کښې یې تقسیمولې، نو د دې سره افغانانو دافغانستان نه منلې شروع کړې، چې حیثیت ته په رښتیا تکلیف ؤ، اوزیات تعداد په دولت پسې، اسلحې پسې پېښور پښتونخوا ته راکوز شول، لاندې پاکستاني مهاجر کمشنرۍ اوفوجي او سولې بیوکراسۍ، دواړه لاسونه په غوړو کښې وو، دوئ دافغاني مولایانو په شمول او ملګرتیا دافغانانو په وینو تجارت شروع کړو، کابل کښې کمونستانو روسي کاویا خوړله، دپاکستاني افسرانو دشوکې دغه حال ؤ چې یو ځل ارباب دوست محمد په خپله ویل، چې دجرمني صوبه باوریا وزیر علی سټراوس " straus " راغلؤ، نو ده په ناصر باغ کښې افغانانو ته تقریر کولو، او موږ ته د مهاجرو افسران ټول ورسره ناست وو، چې دې کښې یو افغان په جلسه کښې راپورته شو په پښتو لکیا شو " straus " ته یې ویل، چې صاحبه چې تاسو کوم امدادونه موږ ته راکوئ، هغه خو ټول دوئ،

یعنې پاکستانې افسرانو ؤ، خوړل، موږ ته هیڅ نه راکوي ارباب دوست محمد وئیل، چې موږ باندې ټزار ولګیدو، ما ته برکي صاحب وئیل، چې شاپس ترجمه پې وکړه، ارباب صاحب وئیل، چې ما straus ته ترجمه کړه خوغلطه، ماورته وئیل، چې دے وائي چې موږ نه اسلحه پکار ده اسلحه straus په حقیقت پوه نه شو، دوست محمد وئیل چې موږه به بیا داکوښښ کولو چې دافغاني مهاجرو او خارجي میلمتوب مخ ډاټریکټ رابطه رانه شي، تش زموږ ایجنټان افغان مشران به مو ورته مخ ته کول، د ضیاالحق د تړورزوئ ؤ، چې وحید نوم یې ؤ، بُن Boon مغربي جرمني کښې سفیر ؤ، دافغانستان په نوم یې دومره دولت لوټ کړو چې روسته یې دنوکرۍ نه استعفیٰ ورکړه، بیا یې خان ته کامیاب صنعت کار لیکلو، دغه نمونه کامیاب صنعت کار بیا- « Buseness men » دپر وو، په دې ټولو باندې لوئ بابا باچا خان ډپر غمجن ؤ، داځکه چې دے واحد شخصیت ؤ، چې هغه وخت هم په دې لوبه پوهیده، ده به په ډګر وئیل، چې دغه اسلامي جنګ یا جهاد نه دے، بلکې دامریکې او روس خپل جنګ دے، خو زموږ ه په خاوره یې کوي، چې د دوئ په مینځ کښې روغه وشوه نو بیا جهاد نه شته، او نه اسلام. په دې باندې ډپر مفاد پرستو-

دبابا مخالفت کولو، خو وروستو ثابته شوه چې باچاخان، تیزدیدل دپر لیرې لګیدو، نن صبا موبزه وینوچې مولایان خه کوئ، هغه اسلام اوجهاد خه شو، دوئ دکرسۍ او اقتدار دپاره دسپو په خیر دیوبل لاندې وتي دي، کابل یې لوټي لوټي کړو، په مکه کښې یې قسمونه سره وکړل، د مسجدِ نبوي قدري یې وکړه، د زم زم په اوبو یې ولمبول خو چې کابل ته راغلل بیا یې دسره جنګ شروع کړو، نوددې اندازه لګي، چې دوئ اسلام ته خومره عقیده لري، د دوئ اسلام دغه دے چې دوئ د اقتدار او دولت خاوندان وي، نو اسلام هم آباد او افغانستان هم.

او افغاني خاوره د NATO او وارساپکټ د جدید وسلو دآزمائش میدان جوړ شوے ؤ، سویټ یونین مغرب پداسې لومه کښې ګیر کړے ؤ، چې روغ وتل یې ګران ؤو، دافغانستان په سر د مشرق او مغرب هغه پخوانے دسوړ جنګ دوخت د ټکر سیاست روان شو، د امریکې صدر جیمي کارټر د روس کمونسټ ګوند جنرل سکرټري بریژنیف ته یولوئ دروغژن سپے وویلو، د مشرق او مغرب اعتماد ختم شو، په ۱۹۸۲ کښې دوئ اتیمي مزائیل د روس خلاف یورپ کښې لګول شروع کړل، چې د دې سره حالات دومره خراب شول، چې فوجي خلقو په محدوده پیمانه داتیمي جنګ -

خبري شروع کړې، د امریکې نوے صدر ریګن دبرطانیه وزیر عظیمه تهیچر او د مغربي جرمني چانسلر کول، دریواړو د ټکراو تصادم سیاست ته اولیت ورکول شروع کړل، نو په جرمني کښې په ۱۹۸۲ "peocemave ment" شروع شو، نو دوئ به یوه سندره وئیله، چې د هغې اوله مصره یا ټپه دا سې وه:

"Besuchen sie Europa so Lange es noch stet"

ترجمه: "یعنې د یورپ دوره یا کتنه اوس وکړے ترڅو پورې چې سلامت وی".

نو د دې ټولو حالاتو نه پس جرمن اولس دپرپه عذاب وو، هغه که د مشرق او یا مغرب، دا ځکه که چیرې اتیمي یا روایتي جنګ کیدے، نو اول دوئ پکښې دوړه کیدل، حالات دا سې روان وو، چې دیکښې دبریژنیف دافغانستان دمسئلې په وجه زړه نیل شو، او په ستې مرګ مړشو. او دا غول پې اندروپوف ته پرېښودل.

نوے روسي مشر اندروپوف کوښښ کولو، چې دافغانستان مسله او دروس اقتصادي زوال ختمه ونیسي او حل پې کړي، خو دے هم زر مړشو، نو روسانو یو بل زوړکیدلے راټکښې کړو، یعنې چیرنینکو، چې دغه به درې میاشتې ورک ؤ، چیرته به په هسپتال کښې بیمار پروت ؤ، نو مغربي

اخبارو به شور جوړ کړو چې مړ شو، نو عاجز به بیا په زور دري څلور ورځې په دفتر کښې کښېنولے شو، چې دخلقوشک ورک کړي، او ورته جوته یې کړي چې کیدې لا ژوندے دے بیا به روغتون «هسپتال» کښې پروت ؤ، ده هم دېره زرسا ورکړه، دافغانستان جنګ او سویټي اقتصادي مشلې داسې حد ته رسیدلې وې، چې دغه درونده اوکنو دوس خبرې نه وې، د روسي قیادت دغه درنده اوکنو دله ورکه شوه دوئ یو په بل پسې مړ شول. اخر د روس افغانستان بلکې د تولې نړۍ خوش قسمتي وه، چې په ۱۹۸۵ کښې حوان ګورباچوف سویټ یونین کښې په قدرت راغئ، نو یوداسې میراث ورته پاتې ؤ، چې روس خپل اقتصادي بحران کښې ؤ، افغان اولس او روسي حوان عسکر په افغانستان کښې مړ کیدل، د افغانستان دیرغل سړ روس اوکمونیزم هغه اعتبار دلاسه ورکړو، چې کوم دوئ پخوا لرلو، اودافغانستان په وجه روس، فوجي، سیاسي او اقتصادي توګه روان ؤ تباه کیدو، نو اول یې دبریژنیف د وخت افغاني شاه شجاع ببرک کارمل لرې کړو، او افغانستان کښې یې نوے قیادت راوستو، چې هغه ډاکتر نجیب الله ؤ چې حوان پوه او پیاوړے سړے ؤ، نو د دواړو په همت اوخان عبدلولي خان د سیاست په برکت فضا، دې ته تیاره شوه، چې روسي.

عسکر دافغانستان نه وباسي، دوئ ۲۲ فروري ۱۹۸۹ کښې اخيري سپاهي هم ددوستۍ په پُل امو دريا باندې پورېوتو اخيري روسي جنرال ګراموف بيا په څټ ونه کتل.

اوس د مشرق او مغرب تعلقات رو رو ښه کيدل، داځکه چې مغرب خپل کار کړے ؤ، په افغانستان کښې دوئ روسي نظام يعنې سوشلزم بې عزته کړو، ايراني انقلاب يې د عراق په ذريعه وګکولو، چې روستو هم دافغاني جنګ په وجه کمونيزم ختم شو، د سويټ يونين وجود رګک شو، مشرقي يورپ ټول ملکونه دافغاني ماشومانو د وينو په - برکت آزاد شول، د سويټ يونين د جوسې نه يولس نوي ملکونه جوړ شول، (۱) يوکرين (۲) سپين روس (۳) مالدويا (٤) جارجيا (۵) ارمنيا، (٦) اذربائي جان ۷- ترکستان ۸- ازبکستان، (۹) قرغزستان، (۱۰) قازقستان (۱۱) اوروس پخپله.

مګر دغه ټول حالات باچا خان ونه ليدل، د ے ځني ځکښې لاړوکاش چې ده ليدلي وائے.

جولائي ۱۹۸۱ کښې ځمادبې مني دباچاخان سره کابل کښې ملاقات

زه او میرمن مې جولائي ۱۹۸۷ کښې سحر وختي اسلام آباد کښې افغان سفارت خانې ته ورغلو، چې ویزه واخلو دغه داسې سخت وخت ؤ چې افغانستان کښې روسان ناست وو، او پاکستان کښې ورته ټوله مغربي نړۍ ناسته وه، د هغې وخت مطابق پېښور اسلام آباد دبین الاقوامي جاسوسۍ اډې جوړې وې، په ټوله دنیا کښې په یو ښار کښې په هغې وخت کښې دومره جاسوسي ایجنټان نه وو، لکه صرف پېښور کښې چې وو، خو دوئ په قسما قسم نومونو باندې وخت تیرولو، جلال آباد ورته د مشرقي بلاک دجاسوسۍ اډه ؤ، یعنې د پښتونخوا وره د مشرق او مغرب د فوجي لوبې میدان ګرځیدلے ؤ، چې هره ورځ به پاکستان کښې بمونه خلاصیدل، او افغانستان حکومت به په کلیو بمباري کولې، - چې موږ ته سفارت خانې ته ورغلو، دوه درې پرنګیان او یورپیان وو، هغوئ راته وویل، چې موږ ته درې درې -

میاشتي انتظار وکړو، څوک ویزه نه راکوي، بس موږ نه هم ناامیده شو، زما د میرمنې دغه ارمان و چې باچاخان وګوري، نو ما ته چا وویل، چې پېښور کښې کونسلر هم ویزه ورکوي، خو پېښور کښې ډېره سخته وه، د "C.i.D" والو بهر تمبو وهلې ؤ څوک یې دننه نه پریښودل، خو یو تقاینډ وهغه ته ما خبره وکړه، چې زموږ ګډ کابل نه ډېر ضروري دے، نو هغه راته وویل، چې قاضي شمس الدین چې د C.i.D لوئ افسر دے، که هغه اجازت درکړي، نو زموږ څه اعتراض نه شته، دقاضي صاحب زوم قاضي صلاح الدین زما ملګرے و، د هغوئ په ذریعه قاضي شمس الدین زموږ سره ډېر ښه سلوک وکړو، او بل قاضي صاحب په ترکیه کښې څه افسر پاتې شوے ؤ، نو ډېر تنګ نظر افسر نه ؤ، د دنیا یې لیدلې وه، او بل زه په پېښور کښې خبر شوم چې افغان کونسلر موهند دے، سرفراز نوم یې دے، دغه ما پیژندو، ما په کابل کښې ورسره ملاقات شوے و، خو هغه وخت لا ستو ونې ؤ.

سحر چې موږ یونیورسټي تاون پېښور ته لاړو پولیسوالو دننه د تلو اجازت راکړو نو د باړو پولیس والو موږ ته برند برند کتل، داځکه چې دوئ د کونسل خانې سخت حفاظت کولو، چې مجاهدین چیرته کونسلر مړ نه کړي.

موږ د کونسل خاڼې لاندې چهت کښې بابو ته پاسپورټونه ورکړل، هغه زر پاس دویم چهت کښې کونسلر ته یوړل، سرفراز خان مامور ته وئیلي وو، چې دوئ زه پیژنم په منډه یې پاس راوله، پاس چې موږ لاړو سرفراز خان مومند ډېر په عزت او قدر سړ ملګر شو، صرف یوټیپ ریکارډ ورسره پروت ؤ، میوزک یې اوریدو، ماته یې وویل، چې زما نوم د کونسلر دے، خو په حقیقت کښې زه قیدي یم بهر نشم ګرځیدے، بس دلته څوک چې راشي، زه څه ګپ شپ ورسره ولګوم، ګڼې ټوله ورځ بس دغه ټیپ غږوم، یا اخبار یا کتاب لولم، موږ ډېر ورسره معطل شوو، نو بهر د پولیس والا وارخطا وو چې دغه څوک دي، چې کونسلر په خپله ځان ته وغوښتل، دوئ ته څه پته وه چې زه زور ګرو Gulo وم.

بس موږ ته یې ویزې راکړې او زباني یې یوڅو خبرې راته وکړې، چې زه یې په کابل کښې د دوئ په کور کښې وکړم، موږ یې رخصت کړو، بهر د C.i.D والا په منډه لاړو، د پولیس افسر ته یې وویل، چې دے د کونسلر سره پاس ناست ؤ، هغه ورته وویل چې دغه د قاضي صاحب میلمه دے. بس دغه شان موږ ه د قاضي صاحب د زوم په موټر کښې ټیکسلا ته راغلو، دلته موشپه وکړه، د

دتیکسلی میوزیم مو وکتلو، ما خو مخکښې هم خوخوځله لیدلے ؤ، خو زما د میرمنې دپاره نوے شئ ؤ، داځکه چې جرمنیان د پخواني تهذیب ښارونو دکتو ډېر شوقیان وي، ما ته قاضي صاحب وویل، چې که چیرې اسلام آباد هوائي اډه باندې پولیس څه وویل، نو ځما نوم ورته اخله۔

مونږ اوله ورځ د اسلام آباد نه سواره شوو، نو گرمي هم وه، ما ویل، چې شکر دے بخ کابل ته به ورسو مګر چې په تورخم مخواوشاکښې زمونږ جهاز ورسیدو په ختې پې گوډ کړو، ویلي یې چې کابل کښې موسم خراب دے، بیا یې راولپنډۍ ته راوړو، بل سحر چې بیا پورته شوو، نو۔ دعاګانې موکولې، چې دے ځل خو موپه خیر ورسوي، چې په طورخم ورتیر شوو، جهاز مخ په وړاندې روان وو، بس زه پوه شوم چې دے ځل لاړو، دې کښې پائیلټ وویل چې افغاني خاورې ته داخل شوو، د کابل موسم داسې دے چې د کابل په هوائي اډه کوز شوو، نو د پاسپورټ قطار کښې ودریدو، د افغاني پولیسو رو په ډېره ښه وه، د پاکستاني پولیسو متعلق ما ته مې میرمنې وئیل، چې داسې مُردار او خیرن پولیس ما نه دې لیدلي، چې چا هم غاښونه نه وو صفا کړي، خو افغاني پولیس ډېر سمارټ او civilise ؤو، ګڼې پکار خو دغه ؤ، چې زمونږ نه کابل کښې ډېرې،

پوښتنې شوے وے، دا ځکه چې افغانستان کښې جنګ ؤ، مګر ددې باوجود هم دوئ ډېر په سرېتوب وو، ځما د میرمنې سره د باچاخان کتاب ؤ چې "D.G. Tendulkar" دې. جې. تنډلکار په انګریزي لیکلے دے، یو افغاني پولیس جینټي افسر ځینې ولیدو، نو ډېر په حیرانتیا کښې په انګریزۍ کښې ورته وئیل، چې دغه پیژنې؟ دې ورته وویل: چې دغه ځما سخی دے، کابلے وارخطا شو، بیا یې ورته وویل: چې زما خاوند پښتون دے، او باچاخان د ټولو پښتنو بابا دے، نو ځما سخی شو، هغې پولیسې ورته وویل، چې بس ته ځما خور شوې، پاسپورټ نه یې د سړ و نه کتل، عسکرته یې وویل چې ددوئ بکسونه ټیکسي ته یوسه، ما ته یې وویل، چې څه تکلیف پښیږي نو ځما د ټیلفون دے، هو ښه یې شکریه اداکړه.

هو ښه شهرنو کښې معطل شو اول اجمل ختک ته ورغلو بله ورځ سحر باچاخان ته ورغلو، باچاخان وزیر اکبرخان مینه کښې د جنرال عارف خان کور کښې ؤ، ځما سړ MOVI کمره وه خو هغه وخت ۸ "super" کمره وه، ددې فلم وخت صرف څلور مینټه وو، او یل یې آواز نه نیولو، په هغه وخت کښې د ویډیو کیمرې عام نه وې.

نو باچاخان چې زه ولیدم ډېر خوشحاله شو ما معافي ځینې وغوښته، چې ځما میرمن جرمني ده، ددې ډېر-

خواهش وُ چې تاسو وګورې، بیا ما د دوئ په مینځ کښې تر-
جمانې شروع کړه، تقریباً دوه ګهنټې به دوئ د یوبل سره
خبرې کړې وې، باچاخان د پښتو تاریخ د خدائی خدمتګار تحریک بنسټ او
تاریخ ټول ورته بیان کړو دا ځکه چې ځما میرمنې ځینې دغه
ټپوسونه کول، او باچاخان ځنې د جرمني د حالاتو ټپوسونه
وکړل، او دې تفصیلاً ځوابونه ورکړل، یوځل داسې چل،
شو چې باچاخان ته ما په جرمني کښې خبره وکړه او میرمنې ته
مې په پښتو کښې، نو د باچاخان په شونډو مُسکا راغله،
بیا مو د باچاخان فلم جوړ کړو، خو افسوس چې خبرې
یې نشته، تش ژوندے وجود یې دے، دغه فلم په کورکښې
موږ د تبرک په څیر ساتو، خو صرف څلور مینټه دے،
خو ښه په دې دے، چې باچاخان په خپله روان دے، د-
روانی کرسی یا سړی امداد نشته، بیا چې څومره کابل کښې
وُو د بابا دیدن ته به ورتلو،.

یوه ورځ موږ د بابا د باسړ ناستاوو، چې د یکښې
نوراحمد نور راغئ، ورپسې د څه وخت نه پس د اکتر نجیب
راغئ، چې هغه وخت د خاد مشر و، نو ځما د میرمنې نه
یې د باچاخان په مخکښې، پوښتنه وکړه چې جرمنیان د
ثور انقلاب متعلق څه وایي؟ د ې ځواب ورکړو، چې
اول سرکښې چې ترکی او ببرک پخپله راغلي وو، افغانانو ته

په درانه سترګه کتل شول ، چې اوس بیرک دروسانو په ملګرتیا راغئ نو مغرب یې مخالف دے ، نجیب ورته وویل ، چې حالات بنه شي نو روسان به بیا واپس ځي ، زما میرمنې ورته وویل، چې دوئ یوځل میلمانه شي، نو زر نه ځي ، موږ ته تقریباً ددویم جنګ عظیم نه پس مشرقي جرمني کښې ناست دي ، د واپس ګډ نیت یې نشته ، چې داسې نه وي چې افغانستان کښې ددوئ پنډغولی اوږد نه شي ، نور احمد نور د پرډیپلوماټ نه ؤ هغه ورته وویل، چې دمشرقي جرمني جرمنیان بنه خلک دي ، د مغربي والو تربیت امریکنیانو کړے دے ، دغه خبرې کیدې چې دې مینځ کښې باچاخان وویل ، چې دوئ خو په غټو غټو موټرو جنګ دي ، باچا خان وویل چې خلق وایي چې لینن انقلاب وکړو ، نوچا ورته درې کمبلې راوړې وې ده ورته وئیلي وو ، چې دسائبریا خلکو ته کمبلې ملؤ شو ي دي ، هغې ورته وئیلي وو، چې نه ، لینن ورته وئیلي ووچې اول دهغوئ تپوس وکړه ، انقلاب داسې وي ، دلته دوئ په بګلو اوموټرو سړ جنګو نه کوي ، وطن یې لتاړ کړو ، دروس او امریکې دمقابلې میدان یې افغانستان جوړ کړو ، وئیلي یې چې ماخوګ نه پرېږدي ، چې روسانو ته سمه خبره وکړم ، ما نره کي ته هم وئیلي وو ، چې انقلاب مو وکړو ، خو اوس یې اوساتئ هم ، خلکو ته لاړ شئ ، پوه یې کړئ چې دغه انقلاب،

داسلام خلاف نه دے، دا ستاسو دپاره دے، دوئ داسې
ونه کړل، د بنمن ورته اغزي وکړل، نن دغه حال دے، په
دې کښې نجیب هوښیار و غلے ناست ؤ، مګر نوراحمدنور د
ناعلان شوي جنګ خبره وکړه، باچا خان ورته ووئیل چې
تاسو بل څه زده کړي دي، اوکه دغه یوه خبره) په دې جنګ
کښې هم دستاسو ګناه هم شته، چې ترکی دې خلقو ته نه لاړ،
او نن دغه حال دے. چې د بنمن د رته خپل خلق پارولي دي،
نور احمد نور کوښښ وکړو چې څه ووائ، چې ګنې ترکی
خو خلقی وو، او موږ ګنې پرچمیان یو، خو باچا خان ورته
ووئیل چې ټول یو شئ یئ. د خلقو په چل نه پوهیږ ئ،
د خدای خدمتګار و ټول عمر سړ چهنلره وه او سرې جاې
خو پرنګې ماته خلق ملواه نه کړاے شول، دا ځکه چې ما خلک
پوهه کړي وو، او ستاسو د طوطیانو غوندې خبرې زده کړي
دي، خلقو ته د سره لاړ نه یئ، او نه یې په چل پوهیږ ئ، سم
دم افغانستان مو خراب تراب کړو، پس دغه یوه خبره مو
زده کړې ده چې استعمار - استعمار، په دې کار نه کیږي
مولا هم د اسلام دپاره جنګ نه کوي نن د امریکې په وینا
جنګ کوي، او تاسو د روسانو په وینا. چې نجیب پوه
شو چې باچا خان اوس نور غږیږي، ما ته یې سترګه ووهله
لاړو ورپسې نور احمد نور هم لاړو، بیا باچا خان موږ

ته وئيل چې دغه خبره ئې دوئ هره ورځ دلته کوي، خپل قصور
ته نه ګوري، پښتون يې تباه کړو. باچا خان ډېر غمجن
ؤ، ما ته هې ميرمنې ووئيل چې موضوع ځينې بدله کړه، زما
ميرمنې ځينې دعدم تشدد پوښتنه وکړه، نو باچا خان بيا
په تفصيل سره ورته بيان کړه، چې عدم تشدد په تشدد نه
مشکل کار دے، عدم تشدد هيته اوجرأت پيدا کوي، تشدد
نفرت او ويره پيدا کوي، ځما ميرمنې ورته ووئيل، چې نن
صبا جرمني کښې يو ګوند دے، چې شين ګوند ورته وائي،
دوئ دچا پيريال د صفا ساتلو دپاره هلې ځلې کوي، د دوئ
فلسفه هم عدم تشدد ده او ستاسو او ګاندهي جي په لار روان
دی، بيا باچا خان ورته ووئيل، چې که نن صبا ايټمي تشدد
وشي نو دانسان نسل به تباه شي. اتم بم دا نه پيژني چې ته
يهودي يې، که ته مسلمان يې او که هندو يا عيسائي يې، روس
او امريکې ترې په ټولو نه نن صبا ضرورت دے، په دې چې
بني آدم تشدد پريږدي، دعدم تشدد په لاره خپلې مسئلې
حل کوي، ما ټول عمر د عدم تشدد پرچار کړے دے، نن
وينې چې زمونږ په خاوره خوهره تشدد کيږي، دغه په
جرمني کښې خلقو ته وښايه، چې نن په پښتون کوم ظلم
کيږي، بس تر ناوخته پورې ورسره ناست وو، بيا ځينې
رخصت شو، ولې په دې چې سحر وختې جرمني ته پرواز ؤ،

ما ته مې میرمني وو ویل، چې داسې بیدار ې او ژوندی ستر ګې ما دچا نه دي لیدلې په دې عمر کښې هم ډېر خبر د ماغ لري، ګنې د دې د عمر خلق پوزې هم نشي پاکولے، ویل یې چې که چیرې مخ یې پټ کړې صرف ستر ګې یې چا ته بنکاره کړې، نو سړے به هیچرې هم داسې نه وائي، چې دغه د دومره عمر سړے دے، دوئ به وایي چې دغه دیرش کلن سړے دے.

زما میرمني ورته وویل، چې که جرمني ته راغلئ، زه به دې خدمت کوم، باچاخان ډېر خوشحاله شو، د دې په سر یې لاس راښکه.

زما میرمني ځنې پوښتنه وکړه، چې خدای خدمتګار ې کښې ښځې ته هم پام شوے ؟ باچاخان ډېر تفصیلاً ځواب ورکړو، او ورته یې وویل چې ښځه او نر دګا ډې دوه پاڼې دي، چې ژوند په روان دے.

مونږ ته لاندې تورلالی ولاړ ؤ، تورلالی د اجمل صاحب سره کابل ته تلے ؤ، هغه زما میرمني ته ویل چې په جرمنیانو کښې یو نر سړے ؤ، چې هغه هټلر وو، د جرمنیانو نوے نسل د نازیانو نه ډېر نفرت کوي، خو ما پوهه کړې وه، چې زمونږه خلک اوس هم هټلر او جنرال رومیل یاد وي، بیا ما د اجمل صاحب او تورلالي فلم جوړ کړو. د شپې لخوا مونږه

داجمل صاحب میلمانه ؤو. ماښام زما او د صوفي جمعه خان، په مینځ کښې تکرار هم راغئ خبرې مو په دې کړې شوې چې ده وئیل چې بهتو فاشیست نه ؤ، ماورته وویل، چې د بهتو پلار هم فاشیست ؤ، نن چې اجمل صاحب کابل کښې مهاجر دے، دغه خو د بهتو ګکونه دي، او ته چې دلته د افغانانو وریجې خوري دغه هم د بهتو برکت دے، زمونږ د وه صوبائي حکومتونه یې مات کړل، د N.A.P مشران یې په زهرو باندې حیدرآباد کښې ووژل، خو خدای دے مخکښې کړو، نو ته وایې چې فاشیست نه ؤ. نو دیکښې نورلالي راتوپ کړو، چې فاشیست څه شئ وي؟ اجمل صاحب موجود نه ؤ، صوفي جمعه خان په پښور اینجینرنګ کالج کښې د انګریزۍ استاد معلم ؤ، نو چې ببرک راغلئ ؤ، نو دے یې د انګریزۍ ژبې ترجمان ؤ، نو په دې ځنې ځان اوجهان ورکئ وو، د ببرک سره د ده هم زوال ؤ شو.

نیاز مومند زما پره وکړه، صوفي جمعه خان ته یې وویل، چې بهتو غټ فاشیست ؤ.

صوفي یې ځکه صفائي کوله، چې د بهتو زامن شاه نواز او مرتضیٰ او نور پیپلیان د ضیاالحق نه کابل ته راتښتیدلي وو، نو د صوفي نوې یارانې وي.

مونږ ه بیا نیاز مومند چې دے هم ګکوند کښې لوئ افسر

ؤ په خپل موټر کښې د شپې ناوخته شهر نو ته راوړؤ.
سحر په اریانا افغان ائیرلاین کښې موټره تاشقند مسکو په لاره فرانکفورټ مغربي جرمني ته لاړو په جهاز کښې ډېر افغانان وو، تر مسکو پورې بالکل چوپ ناست وو، چې جهاز د مسکو نه پورته شو، نو دلته چا پښتو شروع کړه چا فارسي، یو پښتون هلک ؤ هغې راته وویل چې زه د عسکرۍ نه جرمني ته تښتم، خدای خبر چې رښتیا یې وئل او که دروغ ..

دغه شان زما د میرمنې ارمان پوره شو، باچاخان یې ولیدو، اوس کله نه کله فلم کوري د باچاخان سره څنګ په څنګ روانه ده.

دلوی باباسره په آخري ملاقات

(۱۹۸۷ء)

زه مارچ ۱۹۸۷ کښې دجرمني نه وطن ته لاړم، اوپدې نیت لاړم، چې دباچاخان به ښه ډېر فوټوګان اخلم، ښه ډېر فلمونه مې له ځان سره واخیستل او ښه مزیداره جاپانې کیمره، زه دوزیرستان نه لخکښې اول پېښور ته لاړم، داځکه چې سیاسي وطن خو زما پېښور ؤ، په وزیرستان کښې زما د طبعیت څوک نه وو، زما ټول سیاسي ملګري او مشران په پېښور کښې وو، نو چې زه یه ښه په پېښور کښې وګرځیدم بیا به کلي ته تلم، اوس باچاخان ولي باغ چارسده کښې ؤ، دویزې ضرورت ورته نه ؤ، حما سره خیال اکبر اپریدي او دده کشر ورور ضبیت الله خان هم وو، موږ اول دولي بابا سره ولیدل، ډېر خوشحال شو، باچاخان دجګړې په چمن کښې په کټ ویده ؤ، د سوري دپاړې یوکټ په درولای ؤ، او یو بوډا شان ته سړے ورته ولاړ ؤ. په میز یې دوائې پرته وه، اوکینټې یعنې ټالے هم وه، مایې اول داسې په ویدو فوټوګان وویستل، مګر په دې کښې څوک میلمانه په زور زور

وغږ بدل بابا راویښ شو ، دغه دکراچۍ پښتانه وو، باباچې زه ولیدم ، نو زه ورغلم ورنږدې یې کړم ، ماځینې تپوسونه وکړل ویئل یې چې ښه یم ، بیا دغه دکراچۍ پښتنو ویئل ، چې زمونږه تصویرونه هم د باچاخان سره واخله ، بس دوئ - بشمول ولي خان د باچاخان دکټ شاته ولاړوو ، ما یې تصویرونه اخیستل ، د بابا مې هم ښه ډېر تصویرونه واخیستل ، بیا یې ما ته ویئل ، دغه نور به بیا شي ، بس ما کیمره کښېوده بابا رانه تپوسونه وکړل ، ده په مرغزو کښې تقریر کړے ؤ ، هغه پغلیت یې ما ته راکړو ، ما ورته وویئل چې په یو باندې راته د سخط یعنې اتوګرام راکړه ، نه یې راکولو خو دچا ئ څښلو نه پس به څه سوچ ورغلے وي ، ماته یې وویئل ، چې خلک زما د د سخط نه غلط کار- ونه اخلي ، بیا یې ما ته وویئل ، چې راکړه ته داسې نه راته ښکاري ما ته یې د تقریر په یو پغلیت تش (عبدالغفار) ولیکل ، چې دغه ما سره یواځې د بابا اتوګرم دے ، چې اوس یې هرهفته کنټرول کوم ، چې رانه ورک نه شي ، دا د بابا پتنکان یې رانه پټ نه کړي ، دا ځکه چې زه یې هم خلکو ته وخت په وخت وربښکاره کوم ، چې زه دومره تبارکي شئ لرم ، او ځکه ځنې زما ملګري ، ټوکې کوي ، چې کور دې پسې تلاشي کوو ، نو چې دوئ ، لاړ شي زه اول دغه پغلیت کنټرول کوم .

خو افسوس باچاخان اوس په خپلو پښو نه شو تلے په روانه

«کرځنده» کرسۍ کښې به ؤ، مګر په عقل او خبرو کښې یې یوه زړه فرق نه ؤ، ما ورته د جرمني خبرې وکړې، ده راته غوږ ښولے ؤ. بس اوس زه پښتو ته راغلے وم، که هره ورځ نه ؤ خو دویمه دریمه ورځ به ورتلم یا به هې جلسو کښې لیدو په دې شپو ورځو کښې پښتانه ډېر ګرم وو. باچاخان وویل چې زه د دوئ جوش و خروش ته وګورم نو ما ته ۱۹۳۰ رایاد شي په شبقدر کښې جلسه وه، باچا خان ورته راغلے ؤ، ولي خان، افضل خان او نور مشران هم وو، ما په دې جلسه کښې د باچاخان نه علاوه، جلسه کښې ناستو زړو زړو، خدای خدمتګار وتصویرونه ایستل، چې دیکښې د پښتون ځلمي یو بنګلي هلک راته وو ئیل، چې په دې بودا کانو څه کوي. ځما تصویر ولې نه اخلے ما ځواب ورکړو چې ته خولا ځوان یې دغه خلک روان دي نو د دوئ ریکارډ پکار دے. بیا هې د پښتون ځلمي والو، فوټوګان هم وویستل، د باچاخان یو بل زوړ ملګرے شاعر په سترګو روندؤ مایې ډېر تصویرونه واخیستل، ځما خیال دے چې زیارت کل یې نوم ؤ، د چارسدې ؤ، دلته ما د یاداشت دپاره دا سفند یار ولي خان او سکین ولي خان دواړو ورنو یوګډ تصویر واخیستو، چې ډېر ښایسته راغلے ؤ، نو بیا ما غټ کړو، نسیم بي بي ته هې په تحفه ورکړو، چې د دې بچي وو، دلته په جلسه کښې ډېر وخلق خبرې او تقریرونه وکړل هم بنسټي

خبره د افغانستان جنګ د افغانانو بدبختي، او د پښتونکو د سویټ یونین او امریکې د پهلوانۍ مرکز باندې خبرې وشوې. چې دوئ یې قسما قسم تحویلونه کول، چې جلسه خلاصه شوه، نو باچاخان خپل سوزکي وین کښې سوار شوی و. چې زما نظر په پریوتو خلک ډېر کړ وو، هرچا کوښښ کولو چې باچاخان ته ورنږدې شي ځما هم داخیال ؤ، خوما نخپلې کیمرې په ذریعه په باچاخان فلمي ډزې کولې، سوزکي کښې یې ډېر فوټوګان واخیستل، خوکله مې چې فوټوګان صفا کړل، نو هله ماته پته ولګیده، چې د سوزکي شیشې صفا نه وې، نو دې سره د باچاخان جامې ډېرې خیرنې ښکاري، خو په هغې راغونډ نشته، اول سرګنې چې څوک د فوټوګرافۍ نه خبر نه وي. نو دا سې معلومیږي، چې ګنې باچاخان خیرنې جامې اغوستې دي، مګر چې لږ سړے ورته ځیر شي، بیا پته لګي چې دغه د شیشې خیرنوالی دے، چونکه شیشې د سوزکي نیمې بندې وې نو ځکه داسې شوي دي، خو ځما د پاره اهم شئ دغه ندے ځما د پاره تاریخي شئ دغه دے چې د باچاخان اخري تصویر ما دره په سوزکي کښې اخیستے دے، د جلسې نه پس د نیپ ټول مشران ولي باغ ته لاړل، چې په هغوئ کښې عبدالخالق خان چې مونږ ورته بچ صاحب وئیلو، خاجي غلام محمد بلوڅ، فرید خان طوفان، افضل خان لالا، لطیف اپریدے، او نور ډېر -

دلته دولي خان بابا کور ولي باغ کښې يوه برنده کښې ناست وو.
چې جالي تړې تاوه وه چې څه وخت نوکر چاۍ راوړونو موبز ه
ډېر وو، او زه او فريد طوفان پکښې کشران وو، نو موبز ه هم
د نوکر سړې امداد کولو شروع وکړه، خو زه ولي خان بابا منع
کړم، چې ته خو لا ميلمه يې، روستو جج صاحب ځاسړ ته توکې
کولې، چې جرمني کښې راته واده وکړه، چې پاچې ژوندې په
ارام تيرشي، دغه خو يې توکې کولې مګر ماته پته نه وه چې
دے جج صاحب کينسرنګ دے، خو ډېر توکې سړے ؤ، او
ډېره مطالعه يې درلودله، د هرچا سړې آزادي نه کوله
ډېر بناسته سړے ؤ، د بابو خيلو مردان ؤ.

دلته ما او افضل خان لالا شپه وکړه، افضل خان لالا ما
ته وئيل، چې دغه د کلالۍ کوټه ده، په دې شپو ورځو کښې
کلالۍ انګليند کښې ده، ډاکټرۍ تعليم کوي، باچا خان هم -
زموبز کا و نلري ؤ، ما ته د شپې تشې يعنې وړې ميتيازې راغلې
خو ټوئليټ ته نه تلم، خيال مې وکړو، که ټائليټ ته لاړې، نو
متيازې خوشور نه کړي، مګر اوبه چې راپريږدې نو شور
کوي، باچا خان او خان لالا به ويښ کړي، ما خيال وکړو چې
که جرمني کښې اوسې خو د جرمني خو نه يې، د وزيرستان -
محسود يې، نو زه بهر ته ووتم، د دوئ د جګړې سره يو کچه
ديوال ؤ، هلته مې متيازې وکړې، چې واپس راتلم نو خان لالا

ویښ ؤ ، ما ته یې وویل چې چیر ته تلے وې ؟ ما ورته قیصه وکړه ، صبا خان لالا ولي خان او باچا خان ته قیصه وکړه ، باچا خان وسیدو ، سحر چې زه وختي ویښ شوم نو د دوئ په باغ کښې مې چکر وهلو ، په دې کښې ولي خان بابا هم راغئ ، ما ته یې دقسماقسم کلانو په خاصیتونو تبصره کولې ، او په ټولو کښې یې سپین کلاب خوښ ؤ ، خو بابا د پرغمجن ؤ دغه اول ځل ؤ چې د بابا سړه ما د کورنۍ او ښځې اوخاوند په باره کښې خبرې وکړې ، داځکه چې نسیم بي بي د موټر په حادثه کښې سخته زخمي شوې وه ، یو لاس یې مات ؤ موټر میاں افتخار چلوو ، چې ورسره دلبرخان اف ټکر ، فرید طوفان بشیر یلوروو ، دوئ ټول زخمیان شوي وو ، د نوښار سره نږدې دغه واقعه شوې وه ، ما ته یاد دي زه د خیال اکبر اپریدي سره په حجره کښې وم ، چې ټیلفون راغئ او دده د کرمې ایجنسۍ کوم ملګرے وؤ . چې دوئ سوداګر خلق وو ، دوئ اولني خلق وو ، چې د حادثې په ځائے راغلي وو ، دوئ د هرڅه بندوبست کړے ؤ ، خیال اکبر ته یې په ټیلفون ویل ، چې نسیم بي بي ډېره پیاوړې او په خوښ ټینګه ښځه ده ، د دې لاس مات ؤ هیڅ فریاد یې نه کولو ، او ګلیاوه دغه نور یې د موټر نه راویستل ، او سړي د هر بې خونده وو ، چغې یې جوړې کړې وې ، دوئ ویل ،

چې موږه لیدې ریدینګ روغتون ته رسولې دې، بس زه او خیال اکبر اپریدے هسپتال ته ورغلو، په دې کښې ولي خان بابا هم حاضر ؤ، نسیم بي بي بلټن بلاک کښې وه، او دغه نور جنرل وارډ کښې وو، خو ولي خان بیا دوئ هم بلټن بلاک ته بدل کړل، بشیر بلور معمولي زخمي ؤ د مرهم پټۍ نه پس کور ته تلے ؤ، خو فرید طوفان، میان افتخار او دلبرخان تګر او نسیم بي بي مکمل داخل شوې وو، جج صاحب فرید طوفان پورې ټوکې کولې، چې دومره زخمي نه یې لکه کوکې چې دې کولې، بس څه وخت نه پس د صوبه سرحد وزیر علي ارباب جهانګیر هم پټوس ته راغلو، ځان یې داسې سینګار کړے ؤ، لکه د پښتو مشهور سندرغاړې ماه جبینه قزلباش، بس د نسیم بي بي او دغو نورو خوږ په قسمت ؤ، موږه د پاره میله جوړه شوه، هر سحر او هر ماز دیګر به لیدې ریدینګ هسپتال نه د حضرت جي صاحب عرس جوړ شوے ؤ، چې د ټول پاکستان نه به خلق پوښتنې ته راتلل، او ولي خان بابا به دربار لګولے ؤ، او بهر موږ یوه لویه قالینه غوړولې وه چې ټوله ورځ به سیاسي بحثونه وو، او د نسیم بي بي ورور عظم خان آف هوتي به کله نه کله د پښتو فلمونو د لوبغاړو «ایکټرانو» پېښې هم پکښې کولې، بیا دغه نور رخصت شول

او نسیم بي بي خیبر میډیکل هسپتال جمرود روډ ته بدله کړه ، چې ما او افضل خان لالا به یې هره ورځ بیمار پرسي کوله، ما د بي بي سړ ته وکې کولې چې بیا پیغله شوې، ډېره کمزورې شوې وه، ولي بابا غمجن غمجن ؤ، خو هر چا ته یې حال نه وئیلو ، دغه سحر چې زه او دے - یواځې وو، او کلانو کښې موچکر وهلو ، بابا د بي بي، خبرې وکړه، چې بهر سپرلۍ دے کلان دې، مستي ده غریبه نسیم هسپتال کښې پرته ده ، ما ورته وو ئیل چې بابا په دې عمر کښې دې خدای څوک کونډه نه کړي ، او د خدائے لوئ فضل دے چې بي بي بچ شوه، ګڼې ډېر خطرناک - ایکسیډینټ ؤ ، روستو هلکانو د میاں افتخار سړ ته وکې کولې چې تا چیرته د ضیا الحق نه پیسې اخیستې دي، غوښتل دې چې بي بي مړه کړې ، نو ځکه د بي بي طرف دې د موټر وجنګولو ، هغه خپل لوري دے بچ کړو ، .

راسې ما د ولي بابا سړ چکر وهلو ، چې خان لالا هم را سړ شامل شو ، په دې کښې لطیف اپریدے هم را ځې دا ځکه چې ملکنډ بټ خیله کښې جلسه وه ، د هغې متعلق دوئ سړ خبرې کولې ، چې دې کښې نور خلک هم راغلل چې فرید طوفان ، لطیف اپریدے ، او خان محمد ، افضل خان لالا او بابا خان عبدالولي خان او زه د دوئ دکور نه د-

خان لالا پیجارو جیپ کښې سواره شوو، دولي خان باباجیپ کښې نور خلک سواره شول، موږ ه د ملکنډ غاړې ته روان شوو، چې دولي باغ نه مردان سوات لوئ سړک ته ووتلوو، نو دلته د ریل پاټک سړ د مردان د خلقو دپاره معطل شوو چې په هغوئ کښې جج صاحب عبدالخالق خان راته یاد دے ما بیا د ټولو د خان لالا د نوي "Pijero" جاپاني جیپ سړ تصویرونه وایستل، فرید طوفان په لاړې راپورې توکې کولې چې زموږ ه ټول عمر سیاسي خواري تا په یوه کیمره یوړه، وئیل یې مشران د ستا قدر په دې نه کوي، چې ته علي خان محسود یې، بلکې په دې دې کوي چې کیمره درسره ده،

هغه شان نیک عمل خان سره د خپلې ډلې د سخاکوټ سړ ځموږ جلوس ته راکړل شو، د خان بابا نه مخکښې روستو د پښتون ځلمي بدرګه چیان وو، د غه ډېر خطرناک وخت ؤ، د افغانستان د جنګ په وجه علاقه د اسلحې نه داسې ډکه وه، چې د معمولي ټوپک نه راوا خله تر میزائیلو پورې په قیمت پیدا کیدل، او بل د جماعت اسلامي او A.N.P سیاست هم دیو بل سړ په تکر کښې وو، په دې شپو ورځو کښې. جماعت اسلامي څه وه، پوره یورپ او مغربي دنیا، امریکه جاپان، چین، د غه ټول سړ یو ځاے شوي وو، د افغانستان

خلاف يې افغاني خلک روزل اوجنګول،اوبل جماعت اسلامي
والو دپښتون ستوګو ينتس فيلر رشن يو هلک چې نوم يې
سيدالله اپريدے ؤ، دوئ شهيد کړے ؤ، دجماعت-
اسلامي او A.N.P دفوجي ټکر ډېر سخت خطر ؤ،دملايانو
جنون سرته خټلے ؤ، ددوئ جيبونه دامريکي پالرو
نه ډک ؤ، نو انسان ورته انسان نه ښکاريدو، خو د-
اين، اے، پي نه دوئ ډاريدل، ځکه دولي باباحفاظت
ډېرؤ، دسخاکوټ نه ګوزه دمومن اپريدي سره موټرکښې
سور شوم، موږ ګوزه دجلوس نه ځکښې شو، مابه ځاے
په ځاے دجلوس تصويرونه استل، دولي بابا جلوس
چې بټ خيلې ته رارسيدو، نو زه ددکانونوچهت ته ختلے
وم، دپاسه مې دجلوس ښايسته ښايسته تصويرونه
واخيستل، دلته ډېرلوئ جوش و بيا جلسه شروع شوه
دلته واړه هلکان وو، ډېر ښکلے نظم يې په ډليزشکل
کښې ووئيلو، مايې تصويرواخيستلو، ځماکوښښ جلسه
کښې دغه نه ؤ، چې دمشرانو تقرير واورم، ولې پردې
چې ماته د يوې اندازې پورې درک ؤ، چې دوئ به
څه وايي، زماکوښښ ددوئ تصويرونه اودجلسې عکسونه
وو، ولې په دې چې داسې جلسې اوغونډې دپښتنو
هره ورځ نه وې، دجلسې ميدان نه روستو ورکوټې غونډے

غونډې وه ما د دې ځايه د سوات اوډېر د سيندونو ـ تصويرونه واخيستل ، چې دوئ د مار په شان کاږه واږه درو او ډېره ښايسته منظره جوړوي ، د دې جلسې نه پس په ١٤ـ اپريل ١٩٨٧ تيمرګره ديرکښې جلسه وه خان لالا ، ولي خان بابا ته وويل چې زه او محسود به د دوش خيله ته لاړ شو ، دروش ـ خيله د خان لالا کلئ دے ، چې سوات کښې د سيند په غاړه ډېر ښايسته ځائ دے ، او خان لالا ورته وويل ، چې هسې هم په ديرکښې جلسه ده ، زه او محسود به بيا دستا سو انتظار د چکدرې په پل کوو ، ولي بابا ټوکه پورې وکړه ، چې د سکندر اعظم پېښې کوئ ، هغې هم کمپه د چکدرې د کلي سړ وهلې ؤ . خان لالا ورته وويل : چې ولې زه او محسود د سکندر يوناني نه څه کم يو ؟

بس د جلسې نه پس ولي بابا سړ د نورو مشرانو ولي باغ ته لاړل ، او زه د خان لالا سړ د دوش خيله سوات ته لاړم ، هلته خان لالا يو دوه وړو وړو جلسو ته لاړو ، زه هم ورسره وم ، په رښتيا چې جرمني ښا سته دے ، خو د دولت په زور ، مګر د سوات ښايست قدرتي دے .

د غسې په ١٤ اپريل ، سې خان لالا سړ د سوات د ګرند د مشرانو او پښتون ځلمي د ځوانانو سره د يوجلوس په شکل کښې راروان شو ، ما د دوئ ډېر تصويرونه واخيستل

یو دپښتون ځلمي کمانډر ؤ، ډېر لوئ لوئ اوږده اوږده بریت یې وو، نو هلکانو پورې نوکې کولې، چې دبریتووالا چرې نوره کړې نه ده. ده ورته وئیل چې وخت راشي بیا به ګورو.

همدغه شان موږ چکدرې پل ته راورسیدو، دلږ انتظار نه پس د ولي بابا جلوس را ښکاره شو. بس موږ هم ورسره ګډ شو، ربښتیا خبره ده چې دېر او سوات دواړه ډېرې ښکلې منظرې لري، موږ تیمرګرې ته ورسیدو، دلته زموږ ستړي مشي دکلا شینکوف په ډزو وشول ځوانانو وئیل، چې موږ ته په ککړه وهوو.

دلته ما هم د معمول مطابق خپل کلا شینکوف یعنې کیمره باندې ډزې وکړې، دجلسې او د مشرانو تصویرونه مې ایستل، او د قدرتي منظرو عکسونه مې هم ایستل، دلته د دجلسې د سټیج سکرټري حما دکالج دوخت خوږ ملګرے ایډوکیټ نقیب جان ؤ، ما ته یې سترګه وهله چې دبابا سره هې ډېر فوټوګان وباسه، ما ورته وئیل چې غم مه کوه، د زړه آرمان به دې پوره شي، خو دې جلسه کښې دخبرو نه زیات د دیروالو د اسلحې نمائش وکړو، د دومره ډېر فائر ډروئ وکړو، چې څوک دپښتنو دخوئ نه خبر نه وئ نو خیال به یې کړے وے چې جنګ شروع شوے دے.

د جلسې د ختمېدو نه پس موبزه چکدرې ته لاړو، دلته ولي بابا ته لوډېه شوې وه، ظاهرشاه دچکدرې ډېر تکړه ځوان دے، هغه چې زه ولیدم ډېرخوشحاله شو، موبزه دلته ښه مزیدار ډوډېه وخوړه، ما ته دپښتون ستوګو نښتې یو هلک خبره کوله، چې دغه ډوډېه دواده ډوډېه ده، ویل یې چې واده پخوا شوے دے، دوئ ورته ولي بابا، میلمه کړے دے. خو دوخت دکمي دوجې یې ګډون ونکړے شو، خو د چکدرې خان ورته وویل چې څه وخت دینګرګې جلسې ته ځئ، نو دغرمې ډوډېه به ځما سره خورئ، ولي بابا ورته ویلي وو، چې هو دغه مې درسره لوظ دے، پس موبزه هم پکښې میلمانه شوو، د ډوډېه نه پس خان بابا ولي باغ ته سره د نورو مشرانو واپس شو، زه بیا دخان لالا سره سوات ته لاړم، او پېښور کښې د پښتو عالمي کانفرنس سلیم راز د پښتو نامتو شاعر جوړ کړے ؤ.

موبزه بابا ته وویل، چې څو ورځې پس به موبزه درځو بیا به دستاسو دکور نه ګډ پېښور ته ځو چې سلیم راز په شادي حال پېښور کښې بندوبست کړے ؤ.

د څو ورځو نه پس زه د خان لالا سره ولي باغ ته روان شوم په لاره سخاکوټ ته ورګود شوو د نیک عمل خان د والد صاحب تپوس خان لالا وکړو، ده ټولې جلسې په ویډیو vidio

لیدلي وې، ډېر خوشحاله وو، دے یو لوئ خدای خدمتګار مشر
ؤ، خو اوس بوډا شوے ؤ، بس، موږ ته ما ښام ولي باغ ته
ورسیدو، ولي بابا ویل چې د ډوډۍ وخت دے راځئ،
چې ډوډۍ وخورو، په دې شپو ورځو کښې نسیم بي بي
دهسپتال نه کور ته راغلې وه، خولاس یې لا پلستر ؤ، خو
ولي بابا موږ کښې ؤ، باچاخان هم د ډوډۍ په میز ؤ، یوې
غاړې ته افضل خان لالا او ولي خان په میز ناست وو
ورته مخامخ باچاخان او زه وو، او زما سره کس اړخ ته بي
بي وه، خو بي بي هسې ناسته وه، ډوډۍ یې نه خوړله
باچاخان به ما ته اشاره کوله چې هغه واخله، هغه واخله
خو زه هسې موړ وم، ما ته ولي خان بابا ویل، دسوات
اوبو ته ډوډۍ دتینګې نه ده خوراک کوه، بیا خان لالا
باچاخان ته وویل چې ډېر ستړي معلومیږئ، باچاخان
ومسیدو، خو ولي بابا خبره وکړه چې دخان عبدالعزیز کاکا
د زیدې، میرمن وفات شوې ده زموږ ته کوښښ ؤ چې خبر
یې نه کړو، مګر خبر شو، په هغې وخت صوابۍ ته روان شو
دغه دے اوس د ستاسو ته نیمه ګهنټه مخکښې راورسیدو،
نو ځکه ستړے ستړے دے.

دغه ځما اخري ډوډۍ وه د لوئ بابا باچاخان سره
صبا چې موږ ته پاڅیدو، خبر شو چې باچاخان وختي

په خپل سوزکي کښې د پښتو عالمي کانفرنس ته تلې دے. د-
ناشتې نه پس موږ ه هم روان شوو، په لاري ولي خان-
بابا راپورې ټوکې کولې، چې تاوېئل چې زه د ستاسو لیدو ته
راغلې یم، اخبارونه خولیکې، چې ته د جرمني د پښتنو د پښتو
عالمي کانفرنس کښې نماینده ګی کوې، دغه خبر زما متعلق،
سلیم راز ورکړے ؤ، چې د کانفرنس رعب دب جوړ کړي،
بیا ولي بابا خان لالا ته وویل چې سواتیه، چې خوشحاله به ؤ،
نو خان لالا ته به یې سواتی وئیلو، زه نن ډېر خوشحاله یم، ځکه
چې نن به زه تماشګیر وم، خبرې به نورخلک کوي، چې موږ ه
رسیدو باچاخان ناست ؤ. څوبن یو ملګرے راکتر مطیع الله
ناښاد دستیج سکرټري ؤ، سلیم راز چې یو لوئ عالم، شاعر
او لیکوال دے، د دې کانفرنس مشریعنې چرمین ؤ، دلته هر
چاخبرې نه شوې کولے. خواول برخه د پښتنو، سیاسي ګوندونو
پیغامونه ته ورکړه، چې دوئ لنډ لنډ واورول، ما هم د جرمني
د پښتنو لخوا تو ده تو ده سلامونه ورته ورسول او باچاخان
راته مخاطب ناست ؤ، بیا د پښتو ژبې عالمان وار په وار راغلل
دوئ د پښتو ژبې په زاړښت، بدبختۍ او ورته پښتون قوم
پام نه کولو باندې خبرې وکړې، چې امیر حمزه شینواری
بابا نه تر ورکوټو لیکوالو ته هم نماینده ګي ورکړے شوې وه،
دلته د پاکستان د ټیلی ویژن والا هم راغلي وو، دوئ کانفرنس

فلم کوو،

په اخرکښې دباچا خان وارو، نو دوئ دخپلو نوکرو دپاره دکیمرې خولې دباچاخان په ځائ د تماشګیرو خلقو اړخ ته کړې. وه، یوځل ځما دکالج دوخت زګ راپیدار شو او سخته غصه راغله، ماوئیل چې ورپاځم دغه کیمره ورته ماتوم، بیا مې خیال وکړ چې سلیم راز دوئ به خفه شي، چې ته ځما په کانفرنس کښې جګړې جوړوې، اوبل داردو والا بیا توکې راپورې کوې، چې لیونیانو بیا جنګونه وکړل، اوبل د دې نه ډاریدم چې باچا خان به راته په قهرشي، چې زه خو د T.V شوقي نه یم، نو تا دغه کار ولې وکړو، دغه خبرې راته مخکښې مخکښې شوې، ماغصه وخوړه پته نشته، چې نورو خلقو به داسې محسوس کړې وي، لکه ما خو روستو ما دچا سړ په خبرې ونه کړې، ماښام په T.V خبرونو کښې هم نه دباچا خان نه تصویر او نه خبرې ښکاره شوې.

باچا خان اول لاس، پور ته کړل، چې خدائ پښتون قوم ته اتفاق ورکړې، خدا یه آباد او په سمه لار یې روان کړې. خو بیا یې زړ وویئل چې تش په دعاګانو نه کیږي، باید چې موږ په حرکت هم وکړو، بیا یې یو مدلل تقریر د ژبې په حقله وکړو، وئیل یې چې ژبه لاره نو هرڅه لاړل، ژبه نن زمانه کښې - سیاست دے، اقتصاد دے، او کلچر دے، چې چا ته خپله ژبه سپکه ښکاري، حقیقت کښې هغه په خپله سپک دے، د نړۍ

نورو قومونو ته وګورئ چې څه کوي، او موږ پښتانه دخپلې ژبې سره څه کوو، بس د ده تقریر سره کانفرنس ختم علان شو د سلیم راز خوش قسمتي وه، چې د باچاخان غوندې شخصیت د پښتو عالمي کانفرنس کښې ګډون وکړو، دغه زما اخري د بابا دیدار ؤ، په پېښور شادي حال کښې. زه بیا جرمني ته بیا واپس راغلم، بیا خبر شوم چې باچا خان ډېر ناجوړ دے، د بې هوشۍ په حالات کښې دے. بس ۲۰ جنوري - ۱۹۸۸ کښې مې سحر د جرمني ریډیو نه خبر واورېدو چې باچاخان په حق ورسېدو، د هند وزیر اعظم راجیو ګاندي د خپل جهاز مخ د سویدن په ځائ پېښور غاړې ته کړو، چې د باچاخان اخري دیدار وکړي.

دلوی بابا په نړۍ تېر بدل

(جنوری ۱۹۸۸)

چې دبابا خبر مونږه واورېدو، نو زه اوحمامیرمن ډېر غمجن شو، بس څه وو، د جرمني د پښتنو دیوس نه دبل سر پورې ټیلفونونه وو، د نړۍ دټولو ریډیوسټیشنونو نه دغه خبرخورشو.

مونږ ه دواړو اول داکتانې ته لاړو دولي بابا په نوم مویو یو ټیلی‌گرام ورکړو، دجنازې شرکت ناممکن وو، داځکه‌چې پاکستان ته داسې ناڅاپي تګ گران ؤ، اوبل افغانستان ته هم دایریکټ هوائي سروس، نه ؤ، مغربي دنیا دافغانستان هوائي جهاز ونه «اریانا» بند کړي وو، نو مونږه دجرمني پښتانه یعنې دلرې اوبرې خوا افغانان دجرمني ښار کلن کینې راجمع شو، دغابې جنازې نه علاوه، د باچاخان په وفات مویوپیغام خور کړو چې زه یې دلته ټکي په ټکي لیکم:

د باچاخان دوفات په هکله:

دخدائ بخښلي باچاخان فخر افغان د مرګ خبر دپښتنو

ټولنیز اولسلیز کونډ «پښتون سوشل ډیموکریټ پارټي» لپاره یو آسماني تندر غونډې، ؤ، چې موږ ټول یې غمجن کړو. دباچاخان مرګ نه یواځې دافغان اولس لپاره یو لوی زیان دے بلکې د هغه ټولو انساني قوتونو دپاره هم ډېر لوی تاوان دے خوک چې په آمن او سوله عقیده لري.

په خاصه توګه په ننی نړۍ کښې چې دا تیږې وسلې کودام کرځیدلے دے، د داسې شخصیتونو ډېرلوی ضرورت دے، چې نړۍ او انساني ټول د تباهۍ نه وساتي، خدای بخښلي باچاخان ټول عمر دغریب او مظلوم اولس خدمت ته ملاتړلے وه، دوی د پرنګي استعمار په خلاف نه ستړي کیدونکي او نه پخلا کیدونکي جدوجهد وکړ ترهغه پورې په کراره کښې نه ناستې ترڅو چې یې د استعمار کمبله دهغه اولوی پښتونخوا نه ټوله کړې نه وه،.

باچاخان ټول عمر د پښتون اولس دخدمت لپاره وقف کړے ؤ، چې د ژوندۍ زیاته حصه یې د پرنګي او پاکستاني په جیلونو کښې تیره کړې وه، او چې کله به د جیل نه بهر ؤ، نو بیا به یې د پښتون اولس د اوروروولی، دسوکالی او اتفاق لپاره، کار کاوه، د باچاخان د ژوند میشن دغه ؤ چې لر او بر افغان اولس سره یو کړي، او د دوی په وجود استعمار تش په نوم کرښه د همیشه دپاره ورکه کړي، چې افغان اولس

"یې په دوو برخو تقسیم کړے دے.

زمونږ د ګوند دیو ملګري سره د ملاقات په دوران کښې باچاخان اخري ارمان داسې څرګند کړے ؤ، ,, چې زما یو ارمان دے، چې افغان اولس داموسیند نه تر اباسین پورې سره یو شي، او په افغانستان کښې دلویو قوتونو پهلوانی چې زمونږ په سرونو یې کوي پای ته ورسي ،،.

کاش چې باچاخان دومره ژوندے وے، چې دغه دواړه ارمانونه یې په ژوندیني پوړې شوے واے. مګر حق دے خوبیا هم دباچاخان ژوند مبارزه زمونږ دپاره یو بله پیوه ده، چې مونږ ته دعزم، جرائت، خدمت، تورې، وفاداری ورورولی او نه ستړې کیدونکې مبارزې سبق راکوي. د باچاخان ژوند یو تاریخ دے، چې افغان قوم پرې د نورو قومونو سره، سیالي کولے شي، د باچاخان دلراوبر اولس دیووالي دچغې عملي ثبوت دادے چې لره کښې زبږ یدلئ او په بره کښې د دایمي ارام لپاره یې وصیت کړے ؤ،.

د پښتنو سوشل دیموکریټ ګوند ټول غړي دخدای بخښلي باچاخان په حق کښې دعاکوي، او دخدای نه داسوال کوي چې دغه لوئ انسان ته چې ټول عمر یې دخپلې اولس خدمت کړے دے، په جنت الفردوس کښې ځائ ورکړي، مونږه دخدای بخښلي باچاخان سره داوعده کوو، چې کومه پیوه

ده بله کړې ده، هغه به بله ساتو او خدای پاک نه سوال کوو، چې د باچاخان اولاد ته طاقت ورکړي، چې د دې لوی انسان د ننګ داغم برداشت کړای شي، او د نورو غمونو نه ئې خدای پاک وساتي. اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُونَ ۝

«له طرفه د پښتون سوشل ډیموکریټ پارټي جرمني»

همدارنګه یو بل بیان جرمني او یورپ کښې د پښتنو او بلوچو لخوا خور شوے ؤ، چې زه ئې ټکي په ټکي لیکم:

باچاخان فخر افغان په حق ورسید ؤ:

«اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُون»

باچاخان فخر افغان چې ۱۸۹۰ سنه کښې د اتمانزو په کلي کښې زېږیدلی ؤ، په ۲۰ د جنوري کال ۱۹۸۸ کښې په حق ورسید و. ښکاره خبره ده چې د هر ملک تاریخ د هغې ملک اولس له خوا جوړیږي، خو د ځینو شخصیتونو د بنیادي رول نه چې په تاریخ کښې ئې لري، هم سترګې نه شو پټولے، د غه زموږ د افغان تاریخ کښې هم بل ډول نده، که موږ ته په خپل د آزادۍ تاریخ باندې نظر واچوو، نو راته څرګنده به شي، چې د باچاخان فخر افغان شخصیت او مبارزه زموږ د اولس د تاریخ یوه لویه پاڼه جوړوي، باچاخان نه یوازې د افغان اولس د آزادۍ په حقله، بلکې د هند اولس د آزادۍ د پاره چې... ګاندهي سره اوږه په اوږه مبارزه وکړه چې په نتیجه کښې ئې

انګریزي استعمار په دې مجبوره شو، چې دهندخاوره پریږدي چې دغه وجه ده چې نن په هند کښې دغني افغان د مړینې له کبله پنځه وړځې په هند کښې د (ملي خواشینۍ) په توګه عاملان شوي دي،.

پاچا خان لګول ژوند تر اخرې سلګۍ پورې دخپل، اولس د آزادۍ یوالي، او بیدارۍ په لارکښې قربان کړو او تر نن پورې یې دپښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ لپوه ـ روښانه وساتله هم دا دلیل ؤ، چې دخپل ژوند تقریباً دریمه برخه (۳) کاله یې د انګریزي کلونیالزم او د پاکستان د استعمار دیکتا توري په جیل کښې تیر کړل، سړ د دې چې پاچاخان هر ډول ظلمونه او شکنجې تیرې کړې، خو د اولس د آزادۍ او خدمت نه یې لاس لنډ نه کړو، پاچا خان څنګه چې دخپل، اولس د وحدت او ازادۍ دپاره مبارزه کوله، همدارنګه یې د نړۍ د ټولو مظلمو قومونو نه دفاع کوله او ورته یې په درنه سترګه کتلې.

دافغان په حیث دا زمونږه وظیفه ده چې نه یوازې دده کړنلار ژوندۍ وساتو، بلکې نوره به یې هم پیاوړې کړو، نو د پاچا خان مړینه نه یوازې دافغان اولس دپاره بلکې د نړۍ د ټولو سوله، او آزادۍ غوښتونکو اولسونو دپاره لویه ضایعه ده.

مونږه په جرمني کښې پښتانه او بلوڅ دده رمرینې له کبله دخپل اولس او دفخر افغان دکورنۍ سره په دغه ماتم کښې شریک یو. "آمین"

د باچا خان په وفات باندې د پاکستان سیاسي مشرانو اظهار اخبار جهان کښې لیکي: مرحوم باچا خان کو- ممتاز پاکستانی سیاستدانوں کا خیراج عقیدت (نذیر لغاڑی) مورخه ۲۵ نه ۳۱ جنوري ۱۹۸۸ . . .

سیاستدان خدائ خدمتگار، سرخ پوش رهنما خان - عبدالغفار خان، طویل علالت کے بعد ۹۸ برس کی عمر میں انتقال کر گئے (انا للہ وانا الیہ راجعون) مرحوم کو گذشته سال مئ میں علاج معالجه کی غرض سے بھارت لے جایا گیا تھا، جهاں، وہ پہلے بمبئ اور پھر دهلی کے اِنڈین انسٹیٹیوٹ آف میڈسن، میں زیر علاج رهے، وہ وهاں پر تقریباً تین ماہ تک زیر علاج رهے، بعد از ان انهیں ۱۴- اگست کو وطن واپس لایا گیا، اور پشاور لیڈي ریڈینگ هسپتال میں داخل کردیا گیا.

خان عبدالغفار خان گذشته صدی کے نوی عشرے کے اخری سال یعنی ۱۸۹۰ میں چارسده کے قریب اتمانزئ گاؤں میں جناب بهرام خان کے هاں پیدا هوئے، باچا خان اپنی زندگي کے ابتدائ ایام میں انگریزي دشمن لیڈر حاجي صاحب ترنگ زئ سے متاثر هوئے.

حاجی صاحب ایک بڑے مجاہد آزادی صوفی، مذہبی رہنما اور برطانوی اقتدار سے آزادی کے سچے حامی تھے۔

خان عبدالغفار خان نے کانگرس کے پلیٹ فارم سے انگریزو کے خلاف برصغیر کی آزادی کی جدوجہد میں بھرپور حصہ لیا، انھیں گاندھی کے انتہائی متحد ساتھیوں میں شمار کیا جاتا تھا اور وہ ساری زندگی کانگرس رہنماؤں اور کارکنوں کی نظر میں قابل احترام شخصیت رہے۔

خان عبدالغفار کے انتقال پر ہر تجزیہ نگار کا فوری تاثر تعریفی کلمات پر مشتمل ہوگا لیکن وقت گذرنے کے ساتھ ساتھ یہ سوالات ضرور پیدا ہونگے کہ برصغیر کی تاریخ میں خان عبدالغفار خان کی سیاسی جدوجہد کو کیا مقام اور کیا رتبہ حاصل ہے۔

باچا خان کے سیاسی مخالفین بھی یہ تسلیم کرتے ہیں کہ مرحوم ایک با اصول شخص تھے اور انھوں نے اپنے اصولوں کیلئے کی جانے والی طویل جدوجہد کے دوران قید و بند کی صعوبتیں بھی برداشت کا مقصد حصولِ اقتدار نہیں تھا، وہ ساری زندگی متنازعہ رہے، جہاں اُنھیں بہت سے لوگوں کی محبت ملی، وہاں انھیں بھرپور تنقید کا سامنا بھی کرنا پڑا لیکن انھوں نے تنقید یا قید و بند سے خوفزدہ ہوکر اپنا راستہ تبدیل نہیں کیا۔

خان عبدالغفارخان ایک ایسی شخصیت تھے جن کی مستقیل مزاجی، سادگی اوجذبہ خدمت کے ان کے مخالفین بھی قائل تھے، باچاخان کے انتقال کے بعد جب ان کے قد اور سیاسی مخالف اور جماعت اسلامی کے مقتدر رہنما پروفیسر غفور احمد سے رابطہ کیا گیا توانھوں نے کہا کہ:

"برصغیر کی تحریک آزادی میں ان کا نمایاں رہا ہے، انھوں نے اپنی پوری زندگی لوگوں کی بھلائی کیلئے گذاردی اور خود کو خدمت کیلئے بطور نمونہ پیش کیا اس سلسلے میں المیہ یہ ہے، کہ جب ایسے لوگ اٹھ جاتے ہیں تو ان کا کوئی بدل نہیں ہوتا ہماری ملک میں سیاسی جماعتوں کیلئے کام کرنا انتہائی مشکل ہے، اور لوگوں بڑے دائرے سے نکال کر چھوٹے چھوٹے دائروں میں محدود ہونے پر مجبور کیا جاتا ہے اِس صورت حال کی، ذمہ داری ملک کے حالات پر عائد ہوتے ہے، ہر حالات عوام کی آزادی اور انکے حقوق کے حصول کی جدو جہد میں رُکاوٹ بنے، ہوئے ہیں، خان عبدالغفار خان نے اپنی زندگی عوام کی خدمت میں گذاری انھوں نے عام آدمی کی زندگی بہتر بنانے اور مظلوموں کی مدد کیلئے سادگی اور قربانی کا نمونہ پیش کیا ہم ان کی مغفرت کیلئے دُعاگو ہیں ہماری ہمدردیاں اِنکے خاندان اور اُن لوگو کے ساتھ ہیں ہماری ہمدردیاں انکے خاندان۔

جمعیت علماء پاکستان کے مرکزی نائب صدر شاہ فریدالحق نے خان عبدالغفار خان کے انتقال پر تاثر بیان کرتے ہوئے انا للہ وانا الیہ راجعون پڑھا اور کہا،

"جنگ آزادی میں ان کی خدمات قوم کو یاد رہیں گی، ان کا انتقال ایک سیاسی نقصان ہے، خدائی خدمتگار کی حیثیت سے انہوں نے عوام کیلئے بڑی خدمات انجام دئے ان کے نظریات سے اختلافات ہو سکتا ہے، لیکن یہ ایک حقیقت ہے کہ وہ اصولوں پر پختگی سے قائم رہنے والی شخصیت تھے ان کے انتقال سے ایک سیاسی خلا پیدا ہوا ہے ہر آدمی کیلئے ان کی نظریات سے متفق ہونا ضروری نہیں، لیکن ان کی سیاسی اہمیت مسلمہ تھی، میں خان عبدالولی خان اور انکے اہل خانہ کے دکھ میں برابر کا شریک ہوں، اللہ تعالیٰ انہیں صبر جمیل عطا فرمائے"

ملک کے ممتاز سیاستدان مشرا حمد پیش امام نے خان عبدالغفار خان، کے انتقال پر اپنے تعزیتی کلمات میں کہا کہ:

"ان کے بارے میں ایک چیز برائے وثوق سے کہی جاسکتی ہے، کہ انہوں نے آزادی کی جدوجہد میں اہم کردار ادا کیا، ان کے نظریات سے اختلاف کے باوجود یہ کہنا بالکل درست ہوگا، کہ وہ ایک صاحب کردار شخصیت تھے، انہوں نے ساری زندگی مسلسل جدوجہد میں گزاری، انہوں نے برسہا برس جیلوں میں گزار دیئے، وہ زندگی کے آخری چند ماہ کی علالت

اور مسلسل بے ہوشی کی وجہ سے سیاست سے علیحدہ رہے ورنہ پوری زندگی مسلسل جدوجہد اور سیاسی عمل میں مصروف رہے، انہوں نے مسائل اور مصائب سے اکتا کر زندگی سے کنارہ کشی اختیار نہیں کی، انہوں نے پریشانیوں سے بھاگ کر گوشہ نشین ہونا مناسب نہیں سمجھا، ان کی سیاسی زندگی کا حساب کتاب اب تاریخ کے سپرد ہوچکا ہے، اس مرحلہ پر ان کے بارے میں حتمی اور فیصلہ کن رائے قائم کرنا مشکل ہے، مگر ان کے نظریات اور افکار کے بارے میں تاریخ ضرور فیصلہ کرے گی"۔

مزدور کسان پارٹی کے سربراہ فتحیاب علی خان نے کہا کہ:

"باچا خان تفخر اور تنی ہوئی گردن کے ساتھ ہم سے جدا ہوئے، ان کی موت کے وقت غرور عشق کا بانکپن سلامت تھا، وہ برصغیر کے حریت پسندوں کی اُس نسل کے نمائندہ تھے جس نے انگریزوں سے آزادی حاصل کی، تاریخ انہیں ایک حریت پسند کی شکل میں ہمیشہ محفوظ رکھے گی جو اپنی "cammit ment" کمٹ مینٹ اور نظریات سے وابستگی کی بنا پر دنیا کے اس خطے میں آزادی کی علامت بن گئے تھے، اُن کے مخالفین بھی ہمیشہ یہ تسلیم کریں گے کہ خلوص، قربانی اور اپنے آئیڈیل کیلئے وہ کبھی بھی نہیں جھکے وہ اختلافات

کے باوجود اپنے مخالفین اور حامیوں کا دل جیتنے میں کامیاب رہے اوہ اپنے تصورات اور مقاصد کے لئے ٹوٹ سکتے تھے جُھک نہیں سکتے تھے، ان کی وفات سے ہماری سیاسی زندگی میں ایک بڑا خلا پیدا ہوا ہے جو پُر نہیں ہوسکے گا۔

نیشنل ڈیموکریٹک پارٹی (این۔ڈی۔پی) کی سربراہ سردار شیر باز خان مزاری نے خان عبدالغفار خان کے انتقال پر اپنے رنج وغم کا اظہار کرتے ہوئے کہا، کہ:

باچا خان نے برصغیر کی جنگ ازادی میں نمایاں کردار ادا کیا تھا، انھوں نے نوابادیاتی نظام اور انگریزی اقتدار کے خلاف دلیرانہ جدوجہد اور قربانی کی جو مثال قایم کی تاریخ اسے کبھی بھی فراموش نہیں کر سکے گی۔

اقتصادی اور معاشی مسائل کے حوالے سے سیاسی شعور پیدا کیا، برصغیر کی سیاست پر بالعموم اور سرحد کی سیاست پر بالخصوص، ان کے نظریات کے اثرات چھائے رہیں گے، ان کے انتقال سے جمہوری قوتوں کو نقصان پہنچے، لیکن۔ ہمیں یقین ہے کہ ان کے پیروکار ان کی مثالی جدوجہد کو جاری رکھیں گے، خان عبدالغفار خان سے میرے ذاتی، تعلقات تھے، وہ میرے محترم اور شفیق بزرگ تھے...

ملکی سطح پر ان کی وفات ایک سیاسی نقصان ہے، لیکن میرے لئے یہ ایک ذاتی نقصان ہے میں بیت غمزدہ ہوں،

خان عبدالولي خان ان کے اهل خانه اور ان کے رفقاکے غم میں برابر کا شریک هوں ».

عوامي نشنل پارٹی کے جنرل سکرتري رسول بخش پلیجو۔ نے کہا کہ:

« خان عبدالغفار خان کی شخصیت برصغیر کی تاریخ کا ایک سنگ میل هے ، وہ اس صدی کی ایک قدآور سیاستدان تھے. جنھوں کم وبیش اپنے ایک صدی پر محیط زندگی محروم - انسانوں کو بیدار کرنے اور ان کی خدمت کرنے میں صرف کردی. انھوں نے عوامي سیاست کی نئی روشن روایتي قایم کئے جن کا اجالد بھت، دیر تک اور بھت دور تک پھیلا رهے گا ان کی جدوجھد کی کئی جھتیں هیں ، اور برصغیر کی حالیه تاریخ کے مختلف مراحل پر باچاخان کی شخصیت پوری اب وتاب کے ساتھ موجود رهے ، انھوں نے مظلوم اور محروم طبقات کے رهنما کی حیثیت سے بھر پور سیاسي جدوجھد اور قرباني کی لازوال مثالیں قائم کی هیں ، انھوں نے انتھائی کھٹن حالات میں صبر ازما طرز عمل اختیار کی ، انھوں نے انگریزوں کی جیلوں کو آباد کیا ، اور قیام پاکستان کے بعد رهنے هی ملک کے زندانوں کے قیدی رهے ، وہ ایک قد اور انسان تھے ، اور پوری زندگی میں همیشه قدآور هی رهے لیطف سائین نے کہا کہ تمام انسان خوب صورت نهی هوتے اور

تمام پرندے ہمانہیں ہوتے بہت کم ایسے لوگ ہوتے ہیں، جن سے بہار کی خوشبو آتی ہے خان عبدالغفار خان ان کم لوگوں میں سے تھے، جن سے مل کر بہار کی خوشبو کا احساس ہوتا ہے »۔

پاکستان پیپلز پارٹی سندھ کے سکرٹری جنرل شفیع محمدی ایڈووکیٹ نے باچا خان کے انتقال پر اپنے تاثرات بیان کرتے ہوئے کہا :

"اس میں کوئی شک نہیں، کہ برصغیر کی آزادی میں باچا خان نے شاندار خدمات انجام دیئے وہ ہمیشہ وقت متحرک اور تاریخ کے شعور سے آگاہ سیاستدان تھے، انہوں نے سرحد کے مخصوص سماجی حالات کیلئے زبردست کام کیا، صوبہ سرحد کے مخصوص سماجی حالات اور قبائلی پس منظر میں ایک روشن خیال سیاستدان کا بھرپور سیاسی تحریک کی رہنمائی، کرنا ایک بہت بڑا کارنامہ ہے، باچا خان کے نظریات سے اتفاق کرنا ضروری نہیں مگر ان کے جدوجہد، قربانی اور اصول پر قائم رہنے کے خصوصیت سے کسی کو انکار نہیں ہوسکتا، ہم باچا خان کے پس ماندگان کے دکھ میں برابر کے شریک ہیں، اور ان کی مغفرت، کے لئے دعاگو ہیں »۔

سندھی بلوچ پشتون فرنٹ کے کنوینر مسٹر ممتاز علی بھٹو نے خان عبدالغفار خان کے انتقال پر اپنے دکھ کا اظہار

کرتے ہوئے کہا کہ :۔

«خان عبدالغفار خان ایک انقلابی مجاہد تھے انھوں نے پوری زندگی غریب عوام کی خدمت کے لیئے وقف کردی تھی انھوں نے عوامی حقوق کے لیئے بھر پور جدو جھد کی، میں خان عبدالولی خان کے دُکھ میں برابر کا شریک ہوں، . . .

باچا خان کی مغفرت کے دعاگو ہوں»۔

دغه وو دپاکستان سیاسي مشرانو خیالات چې دوئ د بابا په وفات باندې ځرګند کړي وو.

یو بله رساله چې انګریزي ژبه کښې چاپ شوې ده نوم یې « View Point » دے هغه کښې داسې لیکلي :

JANUARY 28- 1988

A giant goes to rest :

Editorial

Eiditor MAZHAR ALi KHAN.

د B.B.C تبصره

دپښتنو ملي مشر خان عبدالغفار خان د زړه دیوې اوږدې ناروغۍ له امله د ۹۸ کلنۍ په عمر کښې په حق ورسیدو، دې دبرطانوي سامراج او استعمار په خلاف دهند د نیمې وچې د خپلواکۍ غوښتونکي مبارزې له مشرانو څخه ؤ، له همدې امله دهند وزیر اعظم را جیوګاندهي ده ته درناوي څرګندولو په خاطر پېښور ته رسید لے،

خان عبدلغفار خان چې څه نه څه اتر میاشتې دکوما (بې هوشۍ) په حالت کښې تیرې کړې وې، دچهارشنبې په لومړۍ شپې وکښې دپېښور په یوه رغتون کښې وفات شو، له مرګ سره دده اوږده مبارزه هم سرته ورسیده. خان - عبدالغفار خان د پټولنیزو اصلاحاتو ټینګ او کلک ملګرے او طرفدار وو، دبرطانیه څخه د خپلواکۍ د ترلاسه کولو - له پاره یې د پاکستان شمال لویدیځ ایالت نه دمبارزو لارښودنه په غاړه درلوده، ده ان د پاکستان د هیواد دجوړیدو وروسته هم د پښتنو دیوه خپلواک د جوړیدلو له پاره خپلې مبارزې ته

دوام ورکړو، د هند د تقسیم نه،و روستو خان عبدالغفارخان زیاته موده په پاکستان کښې بندي ؤ، او یا افغانستان کښې، اوسیده، د خان عبدالغفار خان وروستۍ هیله داوه، چې دافغانستان په جلال اباد کښې خاورو ته وسپارلے شي.

دده مړئ په یوه تابوت دپېښور کنټیکم پارک کښې ایښودے شي. چې خلک یې اخرې دیدار وکړي، اوخپله درناوی وتر څرګنده کړي، په زرګونو خلک دې ځاے ته راغلي دي هم اهم سیاسي شخصیت چې تراوسه یې خان عبدالغفار خان دویر په مراسمو کښې خپله درناوي کړیده، هغوئ کښې دهندوستان وزیراعظم راجیوګاندهي دے، ده خپل د سویلرن سفر وځنډاوو چې درناوي له پاره پېښور ته لاړشي. دغه اول ځل دے، چې وزیرعظم راجیوګاندهي پاکستان ته لاړو، خو دغه سفر خصوصي دے.

تاکل شوې ده چې د پنجشنبې په ورځ له غرمې وروسته په پېښور کښې د خان عبدالغفارخان د فاتحه اخیستلو مراسم سرتر ورسي، دپاکستان صدر جنرال ضیاءالحق دخان عبدالغفارخان په مړینه خپله خواشینې څرګنده کړه، او دے یې یوداسې شخصیت وباله، چې ټول ژوند یې دخدمت له پاره وقف کړے ؤ، او تر اخره پورې په خپلو اصلو ټینګ ولاړ ؤ.

خان عبدالغفارخان نږدې ټول عمر د مرکزي حکومت د

قدرت خلاف په مبارزه کښې تیر کړ، لومړی د برطانیه د استعماري قدرت خلاف او وروسته د پاکستان خلاف هم له دې امله خوخوځله بندي کړے شو، دے ۱۹۱۹ کښې د اول ځل د پاره د برطانوي حکومت د مخالفت په وجه بندي شو، ده د شمال لویدیځ صوبې څخه د برطانوي استعمار خلاف خپله مبارزه پیل کړه، چې وروسته د هند د کانګرس ګوند سره ملګرے شو، د ده تنظیم خدای خدمتګار د پرنګي د هند نه د لرے کولو د پاره د کانګرس ګوند سره لاس یو کړو، او کانګرس په هند کښې ضد پرنګي یو اعزم ګوند و، د مسلم لیګ ته همیشه د شک په نظر کتل، دے په داسې حال کښې چې یو معتقید مسلمان و، اوله یې د هند د ویش او بیا د پښتنو د پاکستان سره د یوځائ کیدیو هم مخالفت وکړو، ده وئیل چې ځما مبارزه یې هدف د هند آزادي په تیره بیا د پښتنو خلکو آزادي وه.

د دې سیاست په وجه پاکستان ۱۹۴۸ کښې خدائ - خدمتګارې باندې پابندۍ ولګوله، ده خپلې مبارزې ته دوام ورکړو، د خپلو خلکو د آزادۍ د پاره یې هلې ځلې کولې، د ۱۹۶۵ کښې افغانستان ته لاړو، خوځله پاکستان ته ستون شو، خو خپل زیات وخت یې د افغانستان د جلال آباد په ښار کښې تیر کړو.

په پاکستان کښې د پښتنو خلکو د خود مختیارۍ د پاره
خان عبدالغفار خان نه سترې کیدونکي مبارزه کوله، چې
د یو ملي پیژندګلوۍ د ترلاسه کولو له پاره لاره جوړه
کړي دوئ ته خود مختیارۍ وګټي .

د آل اِنډیا ریډیو ماښام په شپږ بجې تبصره

خان عبدالغفار خان (باچاخان) د چهارشنبې د ورځې په سحر په پېښور کښې په حق ورسیدو، د دوئ چې اته نوې (۹۸) کاله عمر پې درلوده، د سختې ناروغۍ په وجه په تکلیف ؤ د څو میاشتو راهیسې په کوما (بې هوشۍ) په حالت کښې ؤ، دغه بندو بست په پام کښې دے، چې د دوئ جلال آباد افغانستان کښې خاورو ته وسپارې.

د هند حکومت د دې له پاره چې خان عبدالغفار خان، (باچاخان) ته خپله درناوی څرګند کړي پنځه (۵) ورځې یعنې د دفن ورځې نه ټول هیواد کښې د وبر (ماتم) وخت اعلان کوي، د هند بیرغ یعنې جهنډه به نیم ځوړند وي، او ټولې حکومتي رسمي خوشحالۍ به بندې وي، د مرکزي حکومت ټولې څانګې به د جمعې په ورځ چې د دوئ خاورو ته د سپارلو ورځ ده بندې وي.

خان عبدالغفار خان (باچا خان) په ۱۸۹۰ کال کښې وزیر ښکلو

په ۱۹۱۹ کال کښې په هغو نا آرامیو کښې چې د ګاندهي جي لخوا د انګلستان پرضد پیل شوے ؤ، ګډون وکړو، او په دې ډولې دهند دملت سړ اړیکې ټینګې کړې، خان عبدالغفارخان دمتحدهٔ برصغیر او اولسي انصاف دپاره کار کاوه، او دهند په ویش - خوا ښښئ ؤ، د خپل ټول ژوند کښې دهند او هندوستانیانو دپاره محبت درلوده. تیرکال دوئ دبهارت رتنا په نامه د هند دهیواد ډېره لوړه جایزه وګټله. د هند صدر اونائب - صدر او دهند وزیراعظم د دوئ په مرګ خپله خواشینې څرګنده کړه، دهند د جمهور رئیس لخوا د تعزیت په پیغام کښې وویل:

{ خان عبدالغفارخان (باچاخان) زموږ دوخت یوستر شخصیت دے دبرصغیر د خپلواکۍ دپاره یې سختې هلې ځلې کړیدې ګے.

دهند نائب صدر وویل: دے به د راتلونکي نسل لپاره اغیزمن وي او هغه به یاد ولري.

بناغلي راجیوګاندهي وویل: هغه ورو ستے تن چې د هند په خپلواکۍ کښې یې ستر رول لوبولے دے، له نړۍ نه لاړو، ددوئ دعدم تشدد پیغام به د همیشه دپاره پاتې وي.

د جمو اوکشمیر وزیر علی ډاکټرفاروق عبدالله هم د خواخوږۍ د پیغام په ترڅ کښې یې باچاخان ستایلے دے.

دهند وزیراعظم سویډن ته خپل سفر وځنډاوه. او

پېښور تر سفر وکړو ، چې دباچا خان احزي دیدار وکړي،
او خپله درناوي ورتر څرګنده کړي . د ده سره درانه درانه
وزیران او د دوئ میرمن هم تر پېښوره پورې ملګري وو.

باچاخان دلویوحلکو
په نظر کښې

(۱) د ترکي نامتو سیاسي مشرۀ او لیکواله محترمه خالدۀ ادیبه خانم چې د هند په دوره راغله نو د باچاخان سره یې هم ملاقات وشو، دې د دې ملاقات تاثرات پخپل کتاب کښې بیان کړي او باچاخان تر یې خراج تحسین ورکړي دی. لیکي: لږ چې د پښتنو دغه قائد او مشر یو جوان مرد لیدل دے، او د دې نه علاوه بیشکه یو آزاد روح او ضمیر مالک هم دے. د دے یو رښتونے او حقیقي مسلمان دے، د باچاخان خدائ خدمتګار غورځنګ په اصولو کښې اسلامي فلسفه دورایه جوته ده، د دوئ اول قسم د الله تعالیٰ لوئ ذات دے، او د خدائ د احکاماتو د تعبیداری تعلیم پکښې موندے شي، بې شکه چې په دې اصولو باندې د باچاخان ټینګ ولاړوالي په وجه د دوئ نه یو لوئ عظیم شخصیت جوړ دے.

کتاب: ژبه اردو «تحریک آزادي اور باچاخان» لیکونکے: «فارغ بخاري».

(۲) مهاتما گاندهی چې د باچاخان متعلق خپله رائې داسې څرګنده وې:

خان عبد الغفار خان یو پوخ مسلمان دے، ماوردها کښې د قیام په دوران کښې ما یو ځلے هم نه دے لیدلے، چې ده لمونځ قضا کړے وي، دے دلوئ زړه اوسترې حوصیلې خاوند دے، خدائ خدمتګاران د ده سره بې کچه مینه او محبت لري، چې ده ته فخر افغان وائي، په دې باندې خدمتګار ډېر خوشحالیږي. «فارغ بخاري کتاب»

(۳) پنډت جواهر لال نهرو وائي:-

صوبه سرحد د باچاخان په شکل کښې یو لوئ انسان پیدا کړے دے، داسې بنیادم چې ټول هند په فخر کوي دوئ سرحد صوبه د پس ماندګۍ نه راوړچاپې کړه، د خپلو قربانو په وجه یې نه صرف صوبه سرحد بلکې د ټول هند سر د فخر نه اوچت کړو، دوئ د خدائ خدمتګارو فوج جوړ کړو، د دې په وجه یې یو عظیمه کارنامه وکړه، عدد تشدد یو لوئ . . . دے چې صرف پیاوړې او بناغلي انسانان یې استعمالولئ شي، د سرحد غیور پښتنو د باچاخان ترمشرۍ لاندې دغه . . . ډېر په بهادرۍ سره خپل کړے دے، (فارغ بخاري کتاب).

(٤) د متحده هندوستان نامتو قوم پرست مشر جناب-

ډاکټر سید محمود داسې فرمائي:

{پښتنو د آزادۍ د پاره ګولۍ خوړلې دي مګر په شا شوي نه دي، دغه جذبه د سرحد په پښتنو کښې د باچاخان په وجه پیدا شوې ده، د سرحد پښتنو د قربانو نتیجه ده، چې نن یې ټول هند او مسلمانان د خپل ځان ساتونکی ګڼي، او د سرحد پښتانه په دې فخر او ویاړ کوي، د دوئ په وجه په هندوستان کښې د قوم پرستۍ غلبه شوه هم دوئ خوره کړه، د دې قوم پرستۍ بانې او تاداو ایښودونکي هم دوئ دي، دغه کار د ټولو نه اول شیرشاه سوري کړے ؤ، شیرشاه د قوم پرستۍ جذبه دومره پیاوړې کړې او خوره کړې وه، چې د دې اعتراف د پرنګیانو مورخین هم کوي.

دغه شیرشاه پښتون ؤ، او د وهم شیرشاه خان عبدالغفار خان دے چې دے به دغه کار سرته رسوي (کتاب فارغ بخاري صاحب).

(۵) مهادیو ویسائي خپل کتاب (خدائي خدمتګار) د باچاخان متعلق داسې لیکي: حما په نیز خان عبدالغفار خان کښې له ټولو نه لوئ شی دده روحانیت دے، او د پښتونې اسلامي جذبه ده، یعنې لوئ خښتن ته سر ټیټول، ما له ژوند کښې د ډیرو مسلمانانو ملګریو د ملګرتیا فخر حاصل شوے دے، خو چې د فولادو په څیر مضبوط او مستقل مزاج دې، چې هندوانو او مسلمانانو د اتحاد د پاره د هرشي قربانۍ ته

چمتو دي، مګر ددې ټولو باوجود تر نن ورځې پورې.
داسې شخص حمًا په نظر نه راغئ،او نه چې ولیدو.

چې غیرمعمولي پاکیزه او سخته زاهدانه ژوند اونازک
جذباتو لحاظ اوکامل ایمان په لحاظ چې دخان عبدالغفارخان نه
دې زیات اویا دده برابر وي.

Hintergrund

AFGHANISTAN.

Blutbad bei Beerdigung Ghaffars

Peschawar (dpa). Zwei Autobomben haben gestern während der Beisetzungsfeierlichkeiten für den indischen Freiheitskämpfer Khan Abdul Ghaffar Khan in der pakistanischen Stadt Jalalabad ein Blutbad mit mindestens 15 Toten und über 40 Verletzten angerichtet. Die Bomben wurden im Abstand von 15 Minuten auf einem Parkplatz gezündet, der extra für die aus Tausenden von Fahrzeugen bestehende Wagenkolonne des Trauerzugs eingerichtet worden war.

Ein schier endloser Zug von Trauergästen hatte zuvor die aus diesem Anlaß eigens geöffnete Grenze am Khyber-Paß zwischen Pakistan und Afghanistan überquert. Viele Personenwagen, Busse und Lastwagen folgten dem blumengeschmückten Sarg Ghaffar Khans, der am vergangenen Mittwoch nach langer Krankheit 98jährig in der pakistanischen Grenzstadt Peschawar verstorben war. Auf eigenen Wunsch wurde der legendäre Held des indischen Unabhängigkeitskampfes im Garten seines Hauses in Jalalabad beigesetzt, wo er fünf Jahre im Exil gelebt hatte.

Durch die Explosionen wurden acht Busse vollständig zerstört, viele andere Fahrzeuge schwer beschädigt. Tausende von Trauergästen flohen in Panik.

د خان عبد الغفار خان په جنازه کې خونړۍ پېښه:

پېښور- دوه موټري بمي چاودنې پرون د هند د آزادۍ د اتل د جنازې د مراسمو په دوران کې وشوې. چې دغه پېښه د جلال آباد په ښار کې را منځ ته شوه، په دې خونړۍ پېښه کې ۱۵ مړه او تقریباً تر ۴۰ کسانو پورې زخمیان شول. دغه بمونه د ۱۵ دقیقو په وقفه د موټرو په تم ځای کې وچاودول شول چې د جنازې د ګډون کونکو لپاره خاص د موټرو درولو لپاره جوړ شوی او په ګوته شوی وو. چې د غمجنو او ویرجنو خلکو په زرګونه موټرونه هلته ولاړ وو.

Persönliches 20.1.1988

Abdul Ghaffar Khan (98/ Foto), in Indien als Held verehrter Freiheitskämpfer und Weggefährte von **Mahatma Gandhi**, ist in der pakistanischen Grenzstadt Peschawar gestorben. Die indische Regierung ordnete fünftägige Staatstrauer an. Premierminister **Rajiv Gandhi** unterbrach eine Schweden-Reise, um dem Toten die Ehre zu erweisen. Damit besuchte zum ersten Mal seit 28 Jahren ein indischer Premier Pakistan.

Ghaffar Khan, der für die Freiheit 28 Jahre im Gefängnis saß, war für viele Inder ein Symbol der indischen Tragödie: Er stritt 27 Jahre lang zusammen mit Gandhi und Nehru gewaltlos für die Unabhängigkeit. Nach der Teilung Indiens 1947 durch die Briten aber zog er sich entsetzt und angewidert von dem Blutbad nach Peschawar zurück, nur um dort von den neuen Moslem-Herrschern als „Hindu-Agent" verfolgt zu werden. Denn der gläubige Moslem lehnte einen Moslem-Staat ab. Die Einheit Indiens war ihm wichtiger.

د یو بل جرمني اخبار تبصره

عبد الغفار خان ۹۸ فوټو:

هندوستان کې ده ته د آزادۍ د یو اتل حیثیت حاصل دی. دی له گاندهي جي سره د آزادۍ د لارې کلک ملگری وو. د پاکستان سرحدي ښار پېښور کې په حق ورسېدو. د هند حکومت د پینځو ورځو ماتم او ویر اعلان کړو. د هند وزیر اعظم راجیو گاندهي سویډن ته خپل سفر وځنډاوه تر څو مرحوم ته عقیدت پېش کړي او احترام ورته وړاندې کړي. چې همدا په ۲۸ کالو کې د هند د وزیر اعظم پاکستان ته لومړنی سفر و.

غفار خان چې د آزادۍ لپاره ۲۸ کاله په جېلونو کې تېر کړل د هند د خلکو لپاره دی د هند د آزادۍ د غیمزې یو علامت او د سمبول په شان و. ده د گاندهي جي او نهرو سره په گډه د آزادۍ

لپاره ۲۷ کاله مبارزه وکړه چې
د عدم تشدد په بنسټ ولاړه وه.
خان صېب د ۱۹۴۷ د خوني
پرنګي هند د پلانیزه تقسیم نه
پس غمجن او پرېشانه پېښور ته
لاړو. هلته د نوو پاکستاني
مسلمانانو لخوا د هندو اېجنټ
له تور سره مخامخ و.
ده د مذهب په بنسټ د مسلمان
ریاست "پاکستان" مخالفت
کولو. ده ته متحده هند په ډېر
ارزښت قایل و.

THE PUNJAB Assembly has set no laudable precedent by being the only legislature not to condole the death of Khan Abdul Ghaffar Khan, the leading freedom-fighter of our times. That it did not offer 'Fateha' for the departed soul must be regretted by every sane inhabitant of the Punjab, particularly since the decision was taken by those who do not tire of exploiting the name of Islam. Nor can one ignore the fact that the MNAs who opposed offering of Fateha in the National Assembly belonged to this province. The odd couple included Mst. Nisar Fatima of the Jamaat-e-Islami, whose founder not only opposed the establishment of Pakistan but also used rude terms for both Pakistan and its Founder. Nevertheless, the death of Khan Abdul Ghaffar Khan was mourned by the people in the Punjab belonging to various walks of life and all age-groups. Hundreds of Punjabis travelled to Peshawar and Jalalabad to pay homage to Bacha Khan, including many who did not agree with his political views. One can recall that the Jamaat Islami's hawks had acted in a similar way after the execution of the late Prime Minister Z.A. Bhutto. The Punjab Assembly members should rectify their mistake and not keep themselves away from condoling the death of the great political leader whose contribution to the freedom struggle cannot be denied even by his worst enemies.

January 28, 1988, VIEWPOINT

د گاندهي جي د مبارزې ملگری وفات شو

باچا خان د هند د غمیزې یو سمبول:

پېښور د جنوري په شلم د براعظم هند د آزادۍ یو لوی مبارز له لاسه ورکړ. د گاندهي جي د مرگ څلوېښت کالنۍ ته څو ورځې لا پاتې وې چې د پاکستان په سرحدي ښار پېښور کې د گاندهي جي ښه تکړه، باوري او پیاوړی ملگري د ۹۸ کالو په عمر کې وفات شو.

دی د هند د آزادۍ پلار گاندهي جي سره اوږه په اوږده د هند د آزادۍ مبارز وو. یو پیاوړی او اعتباري ملگری وو. د مسلمان خان عبد الغفار خان مرگ په هند کې د ویر، ماتم، غم او خفگان فضا جوړه کړه. دا ځکه چې ده د هند د آزادۍ لپاره نه ستړې کېدونکې او نه پخلا کېدونکې مبارزه کړې وه چې د عدم تشدد په بنسټ ولاړه وه. د افغانستان سره د سرحد د لگېدو له کبله دوی ده ته سرحدي گاندهي هم وایه دې لوی پښتون ته ډېره گروهه (عقیده) لرله دوی یې عزت او احترام کولو ده ته یې د هند د آزادۍ په وجه د یو اتل (Hero) په سترگه کتل.

هم دغه وجه وه چې هندي وزیر اعظم راجیوگاندهي د سویډن له ستاک هوم څخه نېغ په نېغه پېښور ته لاړه هلته یې ډېر وخت دده په درناوي کې تېر کړ راجیوگاندهي وروستنی درناوی، مینه او احترام پر ځای کړل چې د وفات شوي اتل وروستنی دیدن وکړي.

دغه په ۲۸ کالو کې د هند د وزیر اعظم پاکستان ته لومړنی سفر او تگ وو.

خان عبد الغفار خان چې د خپل ژوند ۲۸ کاله یې د آزادۍ لپاره په جېل کې تېر کړي وو، یعنې د خپل ژوند درېیمه برخه. هم دغه وجه

ده چې د هند د خلکو لپاره دی یو سمبول او ورسره یوه غمیزه هم وه.
خان عبد الغفار خان ۲۷ کاله ګډ د هند د آزادۍ لپاره د ګاندهي جي او جواهر لعل نهرو سره څنګ په څنګ مبارزه وکړه د دوی مبارزه د عدم تشدد په بنسټ ولاړه وه مګر دغه مبارزه د هند د تقسیم د غم لړلې مرحلې نه تېره شوه تر څو چې هند په ۱۹۴۷ کې ووېشل شو دی خپل سرحدي ښار پېښور ته چې د افغانستان سره جوخت دی لاړو.
د اسلام په نوم جوړ شوی پاکستان د حکمرانانو د زور، ظلم او ناروا چلن سره مخامخ شو دوی هم پسې واخیست. سرحدي ګاندهي ۱۴کاله په پاکستاني جېلونو کې بندي پاتې شو ده حکمران جماعت مسلم لیګ کې د شمولیت نه انکار وکړو. هم دغه وجه وه چې په ۱۹۵۱ کې یې دی تر دې تور لاندې بندي کړ چې خلک لمسوي تر ټولو سخت جېل ته یې واچاوه چې ټول درې کاله وو.
هغه سړی چې ۱۹۳۴ کې د کانګرس ګوند صدارت نه پرې انکاري شوی وو د ده الفاظ یې داسې څرګند کړي: چې زه یو سپاهي یم هم دغسې به مرم مګر پاکستاني حکمرانانو دی غدار او د هندوانو ایجنټ وباله. دی سره له دې چې یو ښه دینداره مسلمان و د مذهب په بنسټ له جوړ ریاست پاکستان څخه مخالف وو. ددې باوجود ۱۹۴۷ نه پس ده د پاکستان تابعیت قبول کړو.
تر ۱۹۶۴ پورې په پاکستاني جېلونو کې پاتې شو چې په پښتنو کې دی د ټینګ عزم او خپلې خبرې نه د نه اوړېدونکي په نوم مشهور شو همدا اراده او عزم و چې دی یې بیا، بیا جېل ته بوتلو.
ددې نه پس افغانستان لاړو چې دغه جلا وطني یې خپل ځان ته خوښه کړې وه چې په ۱۹۷۲ کې سرحدي پښتنو صوبې ته بېرته راغی.

د آزادۍ د هڅو برخه یې داسې را لنډوو:

دده زوی خان عبد الولي خان ددې باوجود چې د حزب مخالف ډلې

مشري په غاړه لري د نیشنل عوامي گوند مشر هم دی. د پاکستان حکمران جنرل ضیاء الحق په دې مېنځ کې خان عبد الغفار خان ته د محب وطن ویلو باوجود یې نورو صوبو ته د هغه په تگ باندې بندیز لگولی دی همدا لامل و چې په ۱۹۷۸ کې بېرته افغانستان ته لاړو او په ۱۹۸۲ کې بیا راغلو او تر پایه په مخالف لوري کې پاتې شو. د خپل وطن حکمرانان دوی ته په ښه سترگه نه گوري او له پامه یې غورځوي. مگر ددې په مقابله کې په هند کې ورته ډېر احترام او درناوی کېږي. په ۱۹۶۹ کې د گاندهي جي د سلم تلین په موقع دوی ته د نهرو د امن انعام ورکړی شو.

دی د کانگرس د سل کلن کېدو په موقع په ۱۹۸۵ کې د مشر مېلمه حیثیت لرلو. چې په بمبۍ ښار کې وو. چې څه وخت تېر کال په ده یوې ناڅاپي ناروغۍ حمله وکړه او په هندوستان روغتون کې د بې هوشۍ په حالت کې پروت وو. هندوستاني مېډیا دده د نارغۍ هره شېبه ډېره په اندېښنه او خفگان سره څار له او هندي وگړي یې خبر ساتل.

په هند کې د آزادۍ اتل خان عبد الغفار خان ته چې هندوان ورته بادشاه خان وایي او د بادشاه درجه ورکوي دوی د گاندهي جي، نهرو، سردار پټیل او یا د چرن سنگھ غوندې کسانو په کتار کې شمېري.

د اونۍ په پینځمه ورځ ځینو کسانو په مات زړه وویل چې اوس صرف له اتلانو نه یو پاتې شو چې هغه د هند سابقه وزیر اعظم ۹۲ کلن موراجي ډیسائي دی.

حواله:

Frankfurt Allgemeine Zeithung: Germany.

Kampfgefährte Gandhis gestorben

Ghaffar Khan – ein Symbol der indischen Tragödie

PESHAWAR, 20. Januar (dpa). Der indische Subkontinent hat einen seiner bedeutendsten Freiheitskämpfer verloren. Nur wenige Tage vor dem 40. Todestag des Mahatma Gandhi starb am Mittwoch in der pakistanischen Grenzstadt Peshawar im hohen Alter von 98 Jahren einer der treuesten Mitstreiter des Vaters der indischen Unabhängigkeit.

Der Tod des Muslims Khan Abdul Ghaffar Khan, der wegen seines unermüdlichen – gewaltlosen – Einsatzes für die Unabhängigkeit eines ungeteilten Subkontinents und seiner Herkunft aus dem Grenzland zu Afghanistan auch „Frontier Gandhi" genannt wurde, löste vor allem in Indien große Trauer aus. Denn hier wurde der riesige Paschtune mit der ungewöhnlich großen Nase als Held verehrt. Ministerpräsident Rajiv Gandhi machte auf dem Weg nach Stockholm am Mittwoch eine mehrstündige Zwischenlandung in Peshawar, um dem Verstorbenen die letzte Ehre zu erweisen. Es war das erste Mal seit 28 Jahren, daß ein indischer Premier das Nachbarland Pakistan besuchte.

Ghaffar Khan, der Mann, der für die Freiheit 28 Jahre – fast ein Drittel seines Lebens – im Gefängnis saß, wurde für viele Inder ein Symbol der indischen Tragödie: Er stritt 27 Jahre lang zusammen mit Gandhi und Nehru gewaltlos für die Unabhängigkeit, zog sich dann – entsetzt und angewidert von dem Blutbad nach der traumatischen Teilung Indiens durch die Briten 1947 – nach Peshawar an der Grenze zu Afghanistan zurück, nur um dort von den neuen Herrschern des neuen Muslim-Staates verfolgt zu werden.

14 Jahre saß „Frontier Gandhi" in pakistanischen Gefängnissen. Er weigerte sich, der regierenden Muslim-Liga beizutreten, und wurde wegen „Volksverhetzung" schon 1951 zu drei Jahren verschärfter Haft verurteilt. Der Mann, der 1934 die Präsidentschaft der Kongreß-Partei mit den Worten abgelehnt hatte: „Ich bin ein Soldat und werde als solcher sterben", wurde von Pakistans Regierenden als „Verräter" und „Hindu-Agent" beschimpft. Denn er, der gläubige Muslim, lehnte einen muslimischen Staat im Grunde ab. Auch wenn er sich nach 1947 dazu bekannte, Staatsbürger Pakistans zu sein. Bis 1964 brachte ihn die bei Paschtunen schon sprichwörtliche Hartnäckigkeit immer wieder ins Gefängnis.

Dann ging er nach Afghanistan ins selbstgewählte Exil. Nach seiner Rückkehr 1972 in die paschtunische Nordwest-Grenzprovinz dauerte die Freiheit nicht lange. Ghaffar Khan, dessen Sohn Wali Khan inzwischen Chef der oppositionellen National Awami Party (Nationale Volkspartei) geworden war, wurde von Staatschef Zia-ul Haq zwar als „Patriot" anerkannt, erhielt jedoch striktes Einreiseverbot für die anderen Provinzen Pakistans. 1978 ging er daraufhin wieder nach Afghanistan, von wo er erst 1982 zurückkehrte, um sich schließlich mehr oder weniger offen der Opposition anzuschließen.

Von den Regierenden des eigenen Landes mißachtet, wurde ihm in Indien nur Verehrung entgegengebracht. 1969,

Abdul Ghaffar KHAN Foto dpa

zum 100. Geburtstag des Mahatma Gandhi, erhielt er den Nehru-Friedenspreis. Er war Ehrengast bei der 100-Jahr-Feier der Kongreß-Partei 1985 in Bombay. Als er im vergangenen Jahr, nach einem schweren Schlaganfall, in einem indischen Krankenhaus im tiefen Koma lag, verfolgten Indiens Medien seinen Krankheitsverlauf mit ängstlicher Anteilnahme. In Indien wird der Name des Freiheitskämpfers Badshar Khan, des „König Khan", gleichgesetzt mit denen Gandhis, Nehrus, Sadar Patels oder Charan Singhs. Jetzt, meinten manche am Mittwoch wehmütig, bleibe nur noch ein großer Name übrig: der des früheren Premierministers Morarji Desai, der in diesem Jahr 92 Jahre alt wird.

Bonn dringt auf Annahme des Delors-Pakets

Genscher vor dem Europäischen Parlament zur deutschen EG-Präsidentschaft

STRASSBURG, 20. Januar. Die Schlüsselrolle zu sagte Genscher. Es

ورته کتلي کتابونه

کتاب	لیکونکے	ژبه	چاپ ځای
۱- د پښتنو تاریخ اول جلد	مرحوم قاضي عطاالله خان	پښتو	د مروتوادبي جرګه سرائے نو رګټ - بنوں
۲- مقصود آل مؤمنین	بایزید روښاني، تبصره د اکتر میر ولي خان "محسود"	انګریزي	خیبر پښتونخوا زسال انسټیټیوټ کوهاټ روډ.
۳- احمد شاه درانی	ډاکټر کندوه سنګه	انګریزي	د افغانستان د علومو اکادیمی ۱۳۴۴
ترجمه	سر محقیق مرستیال نصرالله سوهن "مکمل"	پښتو	
۴- زما ژوند او جد وجهد	عبدالغفار خان (مرحوم باچاخان)	پښتو	کابل دولتي مطبعه ۱۹۸۲
۵- د آزادی تلاش	اکبرشاه میا دبدرشی	پښتو	منظور عام پریس پشاور
۶- وزیرستان	لائق شاه درپه خیل، دور	پښتو	المطبعة العربية ۳ لیک روډ پرانی انارکلی لاهور پاکستان
۷- بنو وزیرستان تاریخ	کل ایوب خان سیفی	پښتو	
۸- INDINA	LUDWIG ALSDORF	جرمني	DEUTSCHER VERL AG. BERLIN ۱۹۶۵
۹- CHINA and RUSSIA The great game.	O. EDMUND CLUBB.	انګریزي	COLUMBIA UNIVERSITY PRESS U.S.A
۱۰- پښتانه د تاریخ پر رڼا کښې	سید بهادر شاه "ظفر کاکاخیل"	پښتو	یونی ورسټی بک ایجنسي پښور

کتاب	لیکونکے	ژبه	چاپ ځای
۱۱- میر "وزیر خواجه" یعنی مومند	EVELYN HOWELL	انګریزي	Karachi oxford university. press دویم ځل 1979 اول چاپ ۱۹۳۱ ء شیمله ګورنمنټ اف اِنډیا پریس.
۱۲- The VICTOR of MAIWAND فاتح میوند	محمد علی Kabul karta e 4 Afghanistan July-27-1970	انګریزي	Printed in pakistn BY. The punjab EDUCATIONAL press Lahore.
۱۳- فقیر ایپي	عبدالحمید ترین	اردو	تاج کمپني لمیټډ کراچي، پاکستان
۱۴- پښتانه اوونیونټ	مرحوم باچا خان	پښتو	پشاور چاپ
۱۵- تحریک آزادی اور باچا خان	فارغ بخاري	اردو	مکشن هاوس ۱۸ دمزنګ روډ لاهور پاکستان

BAYAZID ANSARI (PIR ROWSHAN)

پیر بایزید روښان د روښاني غورځنګ ملي- مذهبي- ادبي او سیاسي مشر خیالي عکس.

همایون مغل کې د ماتې نه پس د شېر شاه سوري د فوج نه پس په تېښته دی.

As turbulent as India's past, the 1,560-mile Ganges churns down a road of history. A canvas (**left**) in the Patna Museum chronicles the flight in 1540 of Humayun, Mogul ruler of northern India. The painting reflects the legend that a faithful water boy ferried the white-turbaned monarch on an air-filled skin across the river to safety, eluding Afghan enemies and a toothy crocodile.

د مغلو شاهان گس اړخ ته همایون جهانگیر ښي اړخ ته بابر-
اکبر باچا.

د مغلو تیموري کورنی اخری بادشاه ظفرشاه په هند کې

د هاتهي نه د جلات کار په خلي د مغلو سزاګانې.

پر کال- ۱۸۵۷ کې ناکام پاڅون نه وروسته پرنګیان د پاڅون پلویانو ته پېښور کې سزاګانې ورکوي او په توپ یې الوزوي.

د بابا یو تصویر پر کال ۱۹۴۲ع کې د جرمني د یو کتاب نه.

ظاهر شاه پغمان کې د شهزاده نادر سره ۱۹۵۰



د امریکې د جاسوسي طیاره چې U-2 پوټو نوم یې وو- اپریل ۱۹۶۰ کې بډه بېره پېښور نه پورته شوه پخواني روس کې را وغورځول شوه.



«Der Schwanz der Geschichte»

Karikatur von Low auf die britischen Weltinteressen, die 1924 von der Pariser Wochenschrift «Lu» übernommen wurde.

د پرنګیانو زمري تر کړې لکۍ راتاو کړې

لارد کرزن وایسرای هند

979

ښاغلی ولي خان د ANP د یو مشر سره د جلسې په اړه خبرې کوي.

خوشال خان ختک

امیر حبیب الله خان ته یو پرنگی جان بول لارښودنه کوي.

The great game.

ستره لوبه

سردار محمد ایوب خان فاتح میوند.

9185

غازي امان الله خان.

پخوانی جمهور رئیس محمد داود خان شهید.



گاندي

لوی احمد شاه بابا.

989



پر کال- ۱۸۵۷ کې ناکام پاڅون نه وروسته پرنګیان د پاڅون پلویانو ته پېښور کې سزاګانې ورکوي او په توپ یې الوزوي.

د انګلستان ملکه- هندوستان کیون ویکټور پخپل دفتر کې. هندي نوکر هم لیدل کېږي.

بادشاه جهانگیر مغل په در باکې

د خان عبد الولي خان يو ښکلی تصوير.

د محترمې نسيم بي بي يو تصوير- ولي باغ.

لیکوال له خان بابا نسیم بي بي او فرید طوفان سره په ولي باغ کې
۱۹۹۵ مارچ.

ماشومان په گډه د بټ خېلې په جلسه کې یوه ښکلې ترانه وایي
۱۹۸۷ مارچ.

995

ليکوال له بابا سره.

ښاغلی خان عبدالولي خان دير تېمرګره کې يوې عامې جلسې ته خبرې کوي.



د خدای بخښلي خان عبدالغفار خان فخر افغان کټ ولي باغ چارسده
۱۹۸۷ مارچ

له بابا سره یو یادگار تصویر ولي باغ

شبقدر کې د ANP د جلسې یوه منظره.

فخر افغان پخپل سوزوکي کې جلسې ته روان دی د سوزوکي خیرنې شیشې په وجه د بابا جامې خیرنې ښکاري.

ښاغلی خان لالا د سوات د پښتون زلمي له یوه کمانډر سره.

د ښاغلي خان عبدالولي خان جيپ.

ليکوال د خان لالا سره چې نور د ANP ګڼ شمېر غړي هم ليدل کېږي سوات مارچ ۱۹۸۷

ښاغلی اجمل ختټک.

ښي اړخ نه- افراسیاب ختټک- علي خان محسود.

1001

ښاغلی باچاخان لیکوال سره په هېواد او نړۍ سیاسي بحث کوي دا هغه وخت وه چې د افغانانو کورنی جنګ تود و شاته خیال اکبر اپریدي هم لیدل کېږي.

د خان بابا ولي خان دوه زامن ښي اړخ ته کشر سنګين خان او مشر اسفنديار خان د عکس ليکوال مارچ ۱۹۸۷

د سوات او دير سيندونه سنګم يوه ښکلي منظره دا عکس ليکوال د بټ خېلې يوې غونډۍ نه اخيستی دی.

1003

خان بابا ولي خان صاحب خان لالا صاحب، لطيف اپريدي صاحب په
ګډ تصوير کې د بټ خېلې جلسه- ملاکنډ.

د بټ خېلې د جلوس بل تصوير.

ښاغلی محمد افضل خان لالا په خپله حجره کې له خپلو ساتونکو او سپي سره لیدل کېږي.

پر کال ۱۹۸۷ د کابل په هوایي ډګر کې نسیم بي بي- جج عبدالخالق خان- بشیر بلور هم لیدل کېږي.

شبقدر جلسه کې یو قوم پرست ماشوم.

شبقدر کې خلک خپل احساسات ښايي.



يو روڼ انقلابي شاعر چې د باچا خان ډېر خوښ ده.



د خدايي خدمتگار تحريک د يو غړي تصوير

بابا جلوس ته خطاب کوي

د بټ خېلي د جلوس يو بل په زړه پوري تصوير

بټ خېله ملاکنډ کې د یو جلسې ننداره.

د بټ خېلې د جلوس یو منظر.

پروفیسور ڈاکٹر جلال الدین خان۔



د کتاب لیکوال له باچا خان سره